د سوات پښتو ادب او ثقافت

ډاکټر محمد علي ديناخېل

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

د سوات پښتو ادب او ثقافت

ډاکټر محمد علي دیناخېل

۱۳۹۹ هـ ل

د دې اثر د پښتي او د ضميمو د تصويرونو لپاره د سواتنامه ويبپاڼې (www.swatnama.com، www.pinterest.com)
او د ډاکټر سلطان روم او محمود خان صاحب مننه کوم!
ډاکټر محمد علی ديناخېل

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: د سوات پښتو ادب او ثقافت
(د Ph.D تيزس)

ليکوال: ډاکټر محمد علي ديناخېل

ايډيټ او اهتمام: رفيع الله نيازی

خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
(Academy of Scincess of Afghanistan)

د چاپ ځای: الهام نبي زاده، کابل - افغانستان

د چاپ کال: ۱۳۹۹هـ. ل. /۲۰۲۰ ز

د چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٤٥-۸۰-٦

بسم الله الرحمن الرحيم

د خپرندوی یادښت

«سوات» د پښتونخوا په شمال ختیځه څنډه کې پرته یوه ښکلې لرغونې او تاریخي سیمه ده او د ختیځ سویزرلېنډ بلل کېږي، چې د پېښور او مردان شمال ته د ملاکنډ له غاښي سره ګډه پوله جوړوي. که یې تاریخي شالید ته وګورو، نو لرغونتیا یې له میلاده څو پېړۍ وړاندې زمانو ته رسي. مقدوني سکندر چې له اوسني کونړ څخه د افغانانو د مقاومت او کلکې مقابلې په نتیجه کې په تېښته د چمرکنډ پر لار له پښتونخوا څخه هند ته روان شو، نو د ۳۲۷ق. م کال شاوخوا د یوروګوس (اوسنۍ پنجکوړې) له سیندګي پورې ووت، د کوز سوات درې ته ننوت او (اساګونا) یا سواتیانو پښتني قبیلې له سختې جګړې او مقابلې سره مخامخ شو، دې سیمې تر سکندر وروسته د کوشانیانو، ساسانیانو او بودایانو، په ځانګړې توګه د هندي راجاګانو د واکمنۍ د دورو بیلابېل یرغلونه او تاړاکونه هم ولیدل.

وایي د هندي راجاګانو وروستی واکمن(راجاګرا) د سوات د بګرام غره لمرخاته ته یوه ټینګه او کلکه کلا جوړه کړې وه، چې په هغه پسې سلطان محمود غزنوي هغه مهال چې هند ته د اسلام د سپېڅلي دین د خپراوي په موخه روانېده نورغازي پیرخوشاب په نوم یو پیاوړی پښتون سرلښکر یې له هندوانو څخه د سوات د نیولو لپاره ولېږه، هندي راجا یې کلابند او لویه سوبه د مسلمانانو په برخه شوه، هندوان وتښتېدل او پر ځای یې د پښتنو (دله زاک) قبیله مېشت شوه، چې بیا وروسته په نهمه هجري پېړۍ کې یوه بله پښتني قبیله (یوسفزي) د مغولي حکمرانانو د زور زیاتي له امله له افغانستان څخه دغې سیمې ته ور کډه شول، له دله زاکو پښتنو یې هغه ونیوله او پخپله پکې مېشت شول، چې تر ننه پکې اوسي. مغولي واکمن بابر چې پر هندوستان یرغل کاوه په سوات کې یې له ملک شاه منصور یوسفزي سره خپلوي وکړه او ددغه ځای د پښتنو لښکرو پر مټ یې په هندوستان کې د لودي پښتنو حکومت رانسکور او پخپله د واک پر ګدۍ کېناست. د انګرېزي ښکېلاک په زمانه کې، په ځانګړې توګه د ډیورنډ د تحمیلي کرښې له تېرېدو وروسته د انګرېزي یرغلګرو تر ولکې لاندې راغی، خو کور دننه خپلواکي یې لرله او پر دوو برخو د هند د لویې نیمې وچې له وېش وروسته هم تر ۱۹۶۹م کال پورې سیدعبدالجبار شاه، میا

عبدالودود او میاګل جهانزیب په ترتیب سره د سیمه ییز حکومت (سوات ریاست) واکمنان وو او بیا دغه حکومتولي په شمال مغربي صوبې(صوبه سرحد) کې مدغم او کور دننه خپلواک حیثیت یې ختم شو.

په هر صورت له دې پورته لنډو یادونو څخه دا څرګندېږي چې له ډېرو لرغونو زمانو د تاریخ د په بهیر کې د پښتونخوا دغه لرغونې ښکلې او سمسوره سیمه د خپل جغرافیوي موقعیت او سیاسي ستراتیژیک اهمیت له مخې د بېلابېلو دورو د مدنیتونو، تهذیبونو، ثقافتونو د راټولېدو او له دې ځایه د خپرېدو او په ټوله کې د علم، ادب او فرهنګ د روزنې، پالنې، ودې او پرمختیا ټاټوبی او مرکز پاتې شوی، نو ځکه د ډېرو لرغونو زمانو د آثارو نښې نښانې پکې اوس هم تر سترګو کېږي. ویلای شو چې د پښتونخوا سیاسي تاریخ او د پښتو ژبې او ادب عمومي تاریخ په دغه سیمه کې د رامنځته شویو ملي، سیاسي او ادبي ـ فرهنګي غورځنګونو د ویاړلو ملي او سیاسي مبارزو او ادبي ـ فرهنګي آثارو او افکارو له مطالعې او یادونې پرته نیمګړي ښکاري. تر کومه چې خبره په پښتو ژبه او ادب پورې اړه لري، د شیخ ملي دفتر، د خان کجو تاریخ، د اخون درویزه مخزن الاسلام او دده د نورو لارویانو او پلویانو ډېر منظوم او منثور آثار او د خوشحال خان خټک سواتنامه او له میانور سره یې ادبي او سیاسي مناظرې ټولې د پښتونخوا په دغه سمسورې او ښکلې سیمې (سوات) کې پنځېدلي او رامنځته شوي دي او پر دې ټولو سربېره د واکمنو حکومتونو په دربار او دفتر کې د پښتو ژبې او پښتنو په ادبي او سیاسي تاریخ کې لومړی ځل د رسمي کېدو او دفتري کېدو ویاړ هم په ټولې لویې پښتونخوا کې دغلته د سیمه ییز حکومت (سوات ریاست) په برخه شوی دی. د سوات دې ټول علمي ـ فرهنګي، تاریخي، سیاسي اهمیت او ارزښت ته په کتو د پښتونخوا ځوان پیاوړي لیکوال او څېړونکي ښاغلي محمدعلي دیناخیل په علامه اقبال اوپن یونیورسټي کې د لوړو زده کړو پر مهال د خپل پي ایچ ډي تیزس لپاره(د سوات پښتو ادب او ثقافت) موضوع د څېړنې لپاره خوښه کړې، د ښاغلي ډاکټر عبدالله جان عابد په لارښوونه یې په ۲۰۱۷م کال بشپړه او له یاد پوهنتون څخه یې پرې د Ph. D لوړ علمي سند ترلاسه کړی دی.

نوموړي خپله دغه څېړنیزه مقاله په دې لاندې ترتیب په اوو څپرکو(بابونو) کې بشپړه کړې ده:

په لومړي باب(پېژندګلو) کې د موضوع په اهمیت، مبرمیت، د څېړنې موخې او هدف، پوښتنو، د بابوبو وېش، څېړندود(مېتود) او ... پر ښودنې سربېره د تهذیب په لغوي اصطلاحي معنا، تمدن او تهذیب، ثقافت یا کلچر او د هغو تر مینځ د اړیکو په باب لنډې، خو جامع ځرګندونې لري. دویم باب د شالید (پس منظر) مطالعه ده چې پکې پر هغو آثارو بحث او کره کتنه شوې چې د اړوندې موضوع په هکله د مخه خپاره شوي دي. درېیم باب د سوات لنډ تاریخ او د جغرافیوي ځرنګوالي پېژندنې ته ځانګړی شوی دی. څلورم باب د پښتنو په زمانه کې د سوات ادب او ثقافت (اول نه تر ۱۹۱۵م کال پورې) په سوات کې پښتو او پښتانه، د پښتو ادب په ودې او پرمختیا او دغلته په رامنځته شویو ادبي او تاریخي آثارو، ادبي غورځنګونو، پښتو پنځیدلي ولسي ادب، دودونو، عنعنو او نورو ډېرو اړوندو موضوعاتو هر اړخیز بحثونه لري.

پنځم باب ته «د سوات په ریاستي دور کې (۱۹۱۵- ۱۹۶۹م) پښتو ادب» سرلیک ورکړل شوی، چې پکې په دغه دوره کې د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا بهیر، د پنځیدلي او رامنځته شوي نوي معاصر ادب، آثارو او افکارو په رڼا کې په تحلیلي بڼه څېړل شوی او د هغه وخت د ټولنیز نظم او نظام، دود، دستور پر ځرنګوالي هم بحثونه شوي دي. په شپږم باب کې چې د (سوات پښتو ادب او ثقافت د ریاست سوات ادغام او ټولنیز بدلون) نومېږي، د پښتونخوا په دغه تاریخي سیمه کې د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو په رڼا کې د پښتو د اوسني ادب او فرهنګي بهیر د ودې او پرمختیا ځرنګوالی او څومره والی، د ادب او فرهنګ او همدارنګه د ټولنیز ژوند په بیلابېلو برخو کې د ترسره شویو څېړنیزو او تخلیقي علمي او عملي کارونو د بېلګو او مثالونو په ښودلو سره په ښه علمي، ادبي اکاډمیکه بڼه تشریح شوي دي. په اووم باب کې د ټولو بابونو لنډیز، نچوړ او نتیجه راغلې. په وړاندیزونو، سپارښتونو، ضمیمو او د اخځلیکونو په عمومي لیکلړ سره دغه څېړنه پای ته رسېدلې ده.

د ښاغلي ډاکټر محمد علي دیناخیل څېړنیز اثر(د سوات د پښتو ادب او ثقافت څېړنه) به نه یوازې دا چې د پښتو ژبې او ادبیاتو څېړونکو، استادانو او زده کړیالانو ته د خپلو لیکنو، څېړنو، زده کړو او ادبي مطالعاتو ترسره کولو لپاره ډېر ګټور مستند معلومات په واک کې ورکړي، بلکې په عام ډول به د سوات د تاریخ، فرهنګ، ثقافت او د خلکو د ټولنیز ژواک د پېژندنې او پرې پوهېدنې لپاره تاریخ لیکونکو، بشر پوهانو، ټولنپوهانو،

لرغونپوهانو، سیاستوالو او د پښتني کلتور او فولکور څېړونکو ته د یوې معتبرې باوري معلوماتي سرچینې په توګه په کار ورشي او د اړوندو موضوعاتو په برخه کې به د خپلو مطالعاتو او څېړنو لپاره به نوې سوژې او غوره لارې چارې هم ومومي.

همدې علمي، ادبي ـ فرهنګي ارزښت او اهمیت ته په کتو د افغانستان د علومو اکاډمي دغه څېړنیز اثر خپروي، نو یې د کتنې او سمون چارې د خپرونو د کمېسیون له خوا د علومو اکاډمي علمي منشي ښاغلي څېړنوال رفیع الله نیازي ته وسپارل شوې.

موږ له ښاغلي ډاکټر دیناخیل، چې دا اثر یې د چاپ لپاره زموږ په واک کې راکړ او له ښاغلي نیازي، چې دا اثر یې په وروستۍ کتنه او چاپ زیار خپرېږي، مننندوی یوو، دواړو څېړونکو ته په علمي ـ فرهنګي چارو کې د لابریالیتوبونو او غوره خدمتونو هیله کوو.

په درنښت

څېړنپوه ډاکټر عبدالظاهر شکېب

د علومو اکاډمۍ رئیس

کابل، د تلې پنځه ویشتمه، ۱۳۹۹لمریز کال

لیکلړ

سرلیک **مخ**

مننه .... أ

د کتاب خلاصه.. ٥

لومړی باب

پېژندګلو

د موضوع اهمیت ١

د څېړنې پوښتنه ٢

د تحقیق مقاصد ٢

د ابواب بندۍ جواز ٣

د بابونو وېش ٣

د تحقیق طریقه ٤

د تحقیق حدونه ٥

د تهذیب لغوي معنی ٦

د تهذیب عناصر ٨

تمدن او تهذیب ٨

ثقافت یا کلچر.. ١٠

د تهذیب او ثقافت اړیکي ١٢

د بحث لنډیز ١٤

حوالې.. ١٥

دویم باب

پسمنظري مطالعه

درېیم باب

د سوات لنډ تاریخ

د سوات مختلف نومونه ٢٩

د سوات محل وقوع او حدونه ٣٢

کوز سوات او بر سوات ٣٥

د سوات رقبه (مساحت).. ۳۹
د سوات ابادي.. ٤١
د سوات خلک، اصل نسل ٤٣
د سوات زوړ تاریخ.. ٤٦
په سوات کې مذهبونه.. ٥١
د نمر اوتار ٥١
بدهـ مت ٥١
هندو مت ٥٣
اسلام.. ٥٥
په سوات کې مختلف تهذیبونه ٥٦
یوناني تهذیب ٥٦
ایرانی تهذیب.. ٥٧
گندهارا تهذیب ٥٧
دله زاک او سوات ٥٨
د یوسفزو سوات ته راتگ ٥٨
د سوات اخون... ٦١
شهزاده عبد الحنان او سوات ٦٣
شهزاده عبد الخالق او سوات ٦٤
په سوات کې لومړنی حکومت ٦٤
دسوات د ریاست تشکیل.. ٦٥
سید عبد الجبار شاه (۱۸۸۰-۱۹٥٦) او سوات.................................. ٦٥
میا گل عبد الودود (۱۹۷۱-۱۸۸۳) او ریاست سوات ٦٦
میا گل محمد عبد الحق جهانزېب ولیعهد منتخب کول ٦۷
د انگریزانو ریاست سوات تسلیمول ٦۷
میا گل محمد عبدالحق جهانزېب د سوات والي کېدل ٦۸
ریاست سوات کې پښتو سرکاري ژبه ٦۸
د ریاست ادغام.. ۷۳

د ریاست سوات د ادغام وجوهات ۷۴
د ادغام اثرات ۷۵
حوالې ۷۶

څلورم باب

د پښتو په زمانه کې د سوات پښتو ادب او ثقافت

د پښتو زمانه ۸۷
پښتو او پښتانه په سوات کې ۸۸
نتیجه ۱۰۲
د پښتو ژبې ترقي ۱۰۲
په سوات کې د پښتو ادب ارتقاء ۱۰۷
صراح ۱۰۸
د شېخ ملي دفتر ۱۰۸
تاریخ خان کجو ۱۱۱
مخزن الاسلام ۱۱۲
صحافت ۱۱۸
په ادب کې د چاپېریال عکس ۱۲۰
ادبي اسلوب او ژبه ۱۲۰
ادبي اصناف ۱۲۰
چار بیته ۱۲۱
بدله ۱۲۱
غزل ۱۲۲
نظم ۱۲۳
مخمس او رباعي ۱۲۳
مرثیه ۱۲۳
نورنامه ۱۲۴
د الف نامو روایت ۱۲۵
د ادب موضوعات ۱۲۶

بيت بازي او معمّې ۱۲۶
روښاني مکتب او د سوات پښتو ادب ۱۳۰
روښاني فکر.. ۱۳۰
سوات ته د روښاني فکر راتګ.. ۱۳۲
د اخوند درويزه له پير روښان سره مخالفت ۱۳۳
له اخوند درويزه وروسته په سوات کې د روښانيانو خلاف رد عمل........ ۱۳۷
په سوات کې د پير روښان په باره کې د سوچ بدلون ۱۴۱
په فوکلور کې د تهذيب او ثقافت عکس ۱۴۱
شاعري او د عوامو عکس العمل ۱۴۶
پر ادب د نورو ژبو اثرات... ۱۴۶
تصوف... ۱۴۷
په سوات کې د تصوف مروجې سلسلې.................................... ۱۴۸
پيران مريدان... ۱۵۰
مليان.. ۱۵۲
خانان ملکان ۱۵۴
قام پرستي (ذات پات) ۱۵۶
کار کسب او پېشې... ۱۵۸
کرکيله ۱۵۸
ځاروي ساتل ۱۶۳
ښکار ۱۶۳
مرجوړا ۱۶۵
دکاندار.. ۱۶۶
حلوائي.. ۱۶۷
کلال ۱۶۷
اينګر، زرګر، جولا... ۱۶۸
شاخېل او خاکروب ۱۶۹
مشکار.. ۱۶۹

سنیار، ډم، میراثي، پاړو ۱۷۰
د نورو کلتورونو ذکر ۱۷۲
زنار ۱۷۲
رسم ستي ۱۷۳
د راجپوت قبر ۱۷٤
جوګي ۱۷٤
توهمات ۱۷٥
تعلیم حاصلول ۱۷۸
علم کیمیا ۱۷۹
علم نجوم ۱۸۰
موسیقي ۱۸۲
مادي فوکلور ۱۸٥
کالي ۱۸٥
وسلې او جنګي سامان ۱۹۰
عام مادي ځیزونه ۱۹۱
تبۍ کاڼۍ ۱۹٥
سیکې یا روپۍ ۱۹٦
جامې ۱۹۷
سالو ۱۹۸
اتلس ۱۹۸
کند ۱۹۸
پګړۍ ۱۹۹
شړۍ ۲۰۰
پیزار ۲۰۱
خوراک ۲۰۲
د استوګنې ځایونه ۲۰٥
د واده رسم و رواج ۲۰٥

ولور.. ۲۰۶
دیني ورور او د سر واک ۲۰۶
د غم رسم ورواج ۲۰۷
قبرونه ۲۱۰
تولنیز ژوند او پښتونولي... ۲۱۳
بیمار پوښتنه ۲۱۳
جرگه... ۲۱۳
مېلمه پالنه ۲۱٤
بدرگه.. ۲۱۵
برمته ۲۱۵
بدل ۲۱٦
ټل او ډله ۲۱۷
پچه یا خسنی ۲۱۷
استسقا... ۲۱۸
گودر... ۲۱۸
د ښځو ژوند.. ۲۱۹
لوبې، تفریح، اخترونه، مېلې ۲۲۰
د شېخ ملي وېش ۲۲۲
د شېخ ملي د وېش طریقه ۲۲۲
د شېخ ملي د وېش نقصانونه ۲۲۳
د شېخ ملي د وېش فایدې ۲۲۵
معاشرتي او اخلاقي خرابیانې او سزاگانې ۲۲۵
سزاگانې ۲۲۷
علاج او دارو درمل ۲۲۹
حکومت.. ۲۳۱
معیشت ۲۳۳
قلنگ.. ۲۳٤

مزد ۲۳۵
د دې دور د ځينو ليکوالانو پېژندګلو ۲۳۶
دوست محمد خان دوستی ۲۳۶
حسين ۲۳۶
ميا کريم داد ۲۴۴
ميا عبدالحليم ۲۴۹
ميا مصطفی محمد ۲۴۹
اخون قاسم پاپين خېل ۲۵۰
حافظ الپوری ۲۵۱
احمد دين طالب ۲۵۲
ابراهيم ۲۵۲
خيری ۲۵۳
د بحث لنډيز ۲۵۴
حوالې ۲۵۶

پينځم باب

په رياستي دور کې د سوات پښتو ادب اوثقافت

د ټولنيز (سماجي) بدلون دور ۲۸۹
د انګرېزانو حکومت او سوات ۲۹۰
خدايي خدمتګار تحريک او سوات ۲۹۱
سوات او متعلقات ۲۹۶
پښتو ژبه،ادب او رياست سوات ۲۹۷
انوار سهيلي ۲۹۹
تاريخ فرشته ۲۹۹
فتاویٰ ودوديه ۲۹۹
ميزان الصرف ۲۹۹
د پښتو ژبې تدريس ۳۰۲
صحافت ۳۰۳

ایلم رساله.. ۳۰۳
خانداني منصوبه بندي رساله.. ۳۰۳
جائزه ریاست سوات.. ۳۰۳
سوات ډائجسټ ۳۰٤
ادبي اصناف.. ۳۰٤
چاربیته ۳۰٤
غزل ۳۰۵
حمد... ۳۰۶
نعت ۳۰۷
مثنوي.. ۳۰۸
رباعي ۳۰۹
مرثیه ۳۰۹
داستان ۳۱۱
منظومې مذهبي قیصي.. ۳۱۳
نثري ادب... ۳۱٤
سوانح عمري ۳۱۵
ناول ۳۱۵
ډرامه ۳۱۵
ادبي تنقید ۳۱۶
ترجمې... ۳۱۶
د سوات قومي ترانه.. ۳۱۷
د سوات جشن او پښتو ادب ۳۱۸
دجشن په ورځ د والي مدح خواني ۳۲۱
سوغات: عبدالحلیم اثر افغاني ۳۲۱
پت: سمندر خان سمندر... ۳۲۱
درویش باچا: رشید علي دهقان ۳۲۲
جهانزېبي مشاعرې ۳۲۲

مذهب ۳۲۵
د ریاست سوات ترقي ۳۲۹
پښتانه... ۳۳۱
ذات پات ۳۳۲
وسله او پښتون ۳۳۳
تهذیب ۳۳۵
مادي فوکلور.. ۳۳۶
د واده رسم و رواج.. ۳۳۶
د غم رسم و رواج ۳۳۸
د غلط رسم و رواج اصلاح ۳۴۰
دښمنۍ او نورې ټولنیزې خامیانې.. ۳۴۴
توهم پرستي.. ۳۴۵
دارو درمل او علاج ۳۴۷
عدالتي نظام ۳۴۷
تعلیمي نظام ۳۴۸
جدیدیت او فېشن ۳۴۹
تفریح او مېلې ۳۵۱
د لوبو میدانونه.. ۳۵۵
د ماشو مانو لوبې ۳۵۶
د ښځو ژوند.. ۳۵۶
د ښځو راهداري.. ۳۵۸
مور او د ماشوم پالنه... ۳۵۸
ټولنیز تعلقات ۳۵۸
حجره.. ۳۵۹
جماعت ۳۶۰
لنگر خانه.. ۳۶۱
توري وران وېش.. ۳۶۱

د توري وران وېش فایدې ۳۶۳
ډله بازي ۳۶۴
خان او ملک ۳۶۷
عشر ۳۶۸
جامه پیزار ۳۶۹
خوراک ۳۷۰
صنعت او د ستکاري ۳۷۰
تجارت ۳۷۱
د پښتو دور او د رياستي دور موازنه ۳۷۱
پښتو او د پښتو دور ۳۷۱
د پښتو د دور تېارې ۳۷۳
د پښتو وختونو کې وسله او د جنګ طريقې ۳۷۷
ميراته کول ۳۷۸
سزاګانې ۳۷۸
د پښتو په زمانه کې تو هم پرستي ۳۷۹
د پښتو دور ځينې خوبيانې ۳۸۰
د سوات خوشنويسان ۳۸۸
د دې دور د ځينې ليکوالانو پېژندګلوي ۳۸۹
تاج محمد خان زېب سر ۳۸۹
حاجي عبدالحنان ۳۸۹
عبداللطيف شاهين ۳۹۰
رحمت الله استاد ۳۹۱
زرګر شاعر ۳۹۸
سيد عثمان طالب ۳۹۸
فضل الرّحمان فيضان ۳۹۹
قاضي دا دا ګل ۳۹۹
قاضي مصطفی جان ۳۹۹

محمد شیرین حافظ ۴۰۰
مولوي مختیارالدّین... ۴۰۰
نور شالي (نور شاه علي) جالوان ۴۰۲
شېر مالک ۴۰۲
ملنګ عبدالغفار.. ۴۰۳
سیف الملوک صدیقي ۴۰۳
حلیم سرحدي.. ۴۰۴
عبدالغني قصاب ۴۰۴
د دې باب خلاصه... ۴۰۵
حوالې... ۴۰۷

شپږم باب

د سوات پښتو ادب او ثقافت

د ریاست سوات ادغام او ټولنیز بدلون.................................... ۴۱۹
د ریاست له ادغام وروسته د بدلون وجوهات................................ ۴۲۰
سوات او پاټا (PATA) ۴۲۱
ادبي تحقیق.. ۴۲۴
تذکره لیکنه.. ۴۲۴
لغت لیکنه... ۴۲۶
ناول لیکنه.. ۴۲۷
سفر نامې... ۴۲۷
ترجمې... ۴۲۷
منظوم تاریخونه ۴۲۷
د ماشومانو ادب.. ۴۲۸
ښځینه لیکوالانې ۴۲۸
ادبي اصناف.. ۴۲۸
غزل ۴۲۸
تضمین... ۴۲۸

ازاد نظم.. ٤٢٩
مرثیه ٤٣٠
چاربیته ٤٣٣
لوبه.. ٤٣٣
رباعي ٤٣٤
سندره ٤٣٤
مناجات ٤٣٤
منظوم خطونه ٤٣٥
زنداني ادب.. ٤٣٥
ولسي ادب... ٤٣٧
په شاعرۍ کې ولسي رنګونه ٤٣٨
داستانونه او قیصې ٤٣٩
د مشاعرو روایت ٤٤١
ادبي ټولنې ٤٤١
صحافت په سوات کې ٤٤٣
فلک سېر ٤٤٣
سراج کوهستانی ٤٤٤
پهول ٤٤٤
بلدیه ٤٤٤
مرغزار ٤٤٤
کوه سجن.. ٤٤٤
سوات ٤٤٤
اسلامي ادب.. ٤٤٥
پیر مرشد... ٤٤٦
تصوف... ٤٤٧
د خیال ازادي او مساوات ٤٤٩
لوښي او کالي پټري ٤٥٠

لرغوني اثار ٤٥٨
د پښتنو نفاق ٤٦٠
دود دستور او توهّمات ٤٦١
نشه يي توكي (منشيات) ٤٦٣
له حكومتي ادارو نه فرياد ٤٦٤
صحت او روغتونونه ٤٦٥
ځېلې بوټې ٤٦٦
مذهب او عقيده ٤٦٦
زيارتونه ٤٦٧
مذهبي تعليم ٤٦٨
انگرېزي ژبه او جديد تعليم او سائنس ٤٦٨
د مغربي تهذيب اثرات ٤٧٠
سياست ٤٧١
ډلې او سياسي پارټيانې ٤٧٣
خانان ملكان ٤٧٣
مليان ٤٧٤
هنر مندان او كسبگر ٤٧٦
مزدور ٤٧٧
دهقان ٤٧٨
اهنگر درزگر ٤٧٨
زميدار ٤٧٨
جولا ٤٧٩
چميار ٤٧٩
پراچه ٤٧٩
كلال ٤٨٠
ځرخه مار ٤٨٠
شاخېل ٤٨٠

دکاندار ٤٨١
زرگر ٤٨١
شپونکی.. ٤٨١
نایي ٤٨٢
ډم ٤٨٢
ډمه ٤٨٢
لوبې.. ٤٨٤
د طالبانو اتڼ ٤٨٦
ټوقماران ٤٨٧
لطیف ټوقمار ٤٨٧
شرب گل ټوقمار.. ٤٨٧
پښتو ژبه ٤٨٧
پښتونولي ٤٩٠
پېغور ٤٩٢
ټولنیز ژوند ژواک ٤٩٣
جرگه او حجره ٤٩٣
د خبر ښېگړې کلیوال تنظیمونه.. ٤٩٤
گودر.. ٤٩٥
په ټولنه کې د ښځو مقام.. ٤٩٥
د واده رسمونه ٤٩٧
سهرې.. ٤٩٨
د غم رسمونه ٤٩٩
خراب رسمونه رواجونه ٥٠٠
اختر.. ٥٠٠
خوراک ٥٠٠
لباس.. ٥٠١
مزدور کسان تحریک.. ٥٠٢

د سوات پر ادب د افغان جنګ اثرات ۵۰۳
د دې باب خلاصه ۵۰۷
حوالې ۵۰۸

اووم باب

په یویشتمه پېړۍ کې د سوات پښتو ادب او ثقافت

یویشتمه پېړۍ او سوات ۵۱۹
پښتو ادب ۵۲۱
پښتو افسانه ۵۲۱
پښتو ناول ۵۲۲
ادبي تذکرې ۵۲۲
د تصوّف تذکرې(Hagiographies) ۵۲۲
نعتیه مجموعې ۵۲۲
د ماشومانو سندرې ۵۲۳
د ماشومانو لوبې ۵۲۶
صحافتي ادب ۵۲۷
ادبي ټولنې ۵۲۸
پښتو ژبه ۵۲۸
د انګرېزۍ ژبې او ادب اثرات ۵۳۰
د سائنس او ټيکنالوجي اثرات ۵۳۱
د نوي دور اثرات او ترقي ۵۳۲
پښتونولي ۵۳۶
د مېلمستیا اداب ۵۳۸
جرګه ۵۳۹
د رواج پابندیانې ۵۳۹
اشر ۵۴۰
د سوات فنکاران ۵۴۰
ګلزار بېګم ۵۴۱

مېرمن نگار سلطان ۵٤۱
د مغربي دنیا او د ۱۱/۹ اثرات.. ۵٤۳
افغان جنگ او د سوات پښتو ادب ۵٤۵
د سوات د امن په بربادۍ ویر وینا.. ۵۵۰
د امن غږ.. ۵۵۸
جنگي وسلې ۵٦۰
سیاست ۵٦۱
توهّمات ۵٦۵
بد نظر.. ۵٦۵
کوډې ۵٦۵
تعویذونه... ۵٦۵
د اظهار پابندي ۵٦۷
د ښځو ژوند... ۵٦۷
د کلي او ښار ژوند ۵۷۳
مېلې ۵۷۳
گودر... ۵۷٤
خان ۵۷٤
کسبگر ۵۷۵
ترقي پسند ادب.. ۵۷٦
واده ۵۷۸
د هلک په پیدائش خوشحالي ۵۷۸
د ماشوم سنت.. ۵۷۹
مړی او جنازه ۵۷۹
جامه پیزار ۵۷۹
خوراک ۵۸۰
د مهیانو ښکار... ۵۸۱
فصلونه ۵۸۱

د دې باب خلاصه.. ۵۸۳

حوالې ۵۸۵

اتم باب

خلاصه

نتيجه... ۶۰۱

وړانديزونه... ۶۰۳

ماخذونه (کتابيات).. ۶۰۵

ضميمې ۶۳۷

مننه

په ۲۰۱۷م کال کې ما ته د علامه اقبال اوپن يونيورسټۍ د پاکستاني ژبو له څانګې څخه د ډاکټرېټ ډګري راکړل شوه. زما د ډاکټرېټ د مقالې (تهيسېس) موضوع "د سوات د پښتو ادب تهذيبي او ثقافتي مطالعه : اول نه تر ۲۰۱۲ پورې" وه. زما دا کتاب هم زما د ډاکټرېټ په دغه مقاله مبني دی. په دې مقاله کې له لږ و ډېر بدلون وروسته د اختصار په خاطر ما د کتاب د نوم لپاره د مقالې هغه سرخط هم بدل کړ او کتاب ته مې نوم "د سوات ادب او ثقافت" غوره کړ. دا يو تحقيقي کار و، چې له ما سره پکې ځينو ادارو او افرادو مرسته کړې، نو لازم ګڼم چې د هغو ادارو او افرادو مننه وکړم.

زه له هائېر ايجوکېشن کمېشن څخه مننه کوم چې ماته يې زما د تحقيق په سلسله کې د جرمني د برلين هومبولډ پوهنتون ته د تللو لپاره سکالرشيپ راکړ. په جرمني کې په هومبولډ يونيورسټۍ کې د خپل استاذ پروفېسر لوټس ژهاک هم مننه کوم، چې هغه ما ته د يو وېزيټېنګ سکالر په حيث د هومبولډ يونيورسټۍ سنټرل ايشين سيمينار ته د راتګ دعوت راکړ او په دغه دوران کې يې زما د مقالې د ځينو حصو ډېره په غور مطالعه او اصلاح وکړه. د هائېر ايجوکېشن کمېشن يو ځل بيا هم مننه کوم چې ما ته يې د پي ايچ ډي په دوران کې د روسيې سېنټ پيټرزبرګ پوهنتون ته په يو بين المللي کانفرنس کې د خپلې مقالې د وړاندې کولو لپاره ټرېول ګرانټ منظور کړ.

د ښاغلي ډاکټر عبدالله جان عابد ډېر شکر ګزار يم، چې د هغوی په نګرانۍ کې ما دا مقاله سر ته ورسوله. د سوات د جهانزېب کالج د تاريخ څانګې پروفيسر ډاکټر سلطانِ روم صېب يو جهان مننه کوم چې زما مقاله يې د کره کتنې په غرض ولوستله او د تحقيق په موادو کې يې هم زما ډېره مرسته وکړه. له دې علاوه چې چا له ما سره د څېړنې په دې کار

کې څه نا څه مرسته کړې، د هغوی نومونه په ډېر درناوي او له ډېرې شکریې سره دلته لیکم، لکه: ډاکټر عطش درانی، ډاکټر عبدالواجد تبسم، ضیا بلوچ، ډاکټر حاکم علي برړو، ډاکټر نورالبصر امن، ډاکټر سید ظفرالله بخشالی، ډاکټر علي خېل دریاب، پروفیسر فضل سبحان (مټه کالج)، نورالبصر بصر، حنیف قیس، فضل ربي راهي، ابراهیم شبنم، نذیر احمد بشیري، ډاکټر شاه خالد شاهي او د سوات د جهانزېب کالج لائبریري اسسټنټ شاه وزیر خان خاکي. له شخصي کتابتونونو(لائبریریانو) علاوه چې له کومو کتابتونونو څخه ما استفاده کړې، هغه دا دي: سټېټ لائبریري برلن جرمني، هومبولډ یونیورسټي برلن لائبرېري، برټش لائبریري لندن، قائد اعظم یونیورسټي لائبریري اسلام اباد، ارکائیوز لائبریري پېښور، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټی لائبریري، پېښور یونیورسټي ایریا سټډي سنټر لائبریري، علامه اقبال اوپن یونیورسټی لائبریري، گورنمنټ ډگري کالج لاهور لائبریري،گورنمنټ پوسټ گریجوېټ جهانزېب کالج سوات لائبریري،گورنمنټ پوسټ گریجوېټ کالج مټه سوات لائبریري، میونسپل کمیټي مینگوره لائبرېري، پبلک لائبرېري سوات او داسې نور. د دغو ټولو کتابتونونو له عملې د زړه له تله مننه کوم، په ځانگړې توگه د سوات د جهانزېب کالج د لائبریرین علي اکبر صاحب ډېره مننه کوم، چې زما لپاره یې د کتابتون دروازې هر وخت پرانستې ساتلې دي. د جهانزېب کالج د لائبرېری د اسسټنټ خواجه سمیع الله عرف طوطا هم ډېره مننه کوم چې هر وخت یې په روڼ تندي مرسته کړې ده. د TARC(ټرایبل ایریاز ریسرچ سیل) ریکارډ کتلو کې د دغې ادارې یو چارواکي لیاقت علي راسره ډېر تعاون کړی دی. د سوات ریکارډ روم او د خوازه خېلې د تحصیل د ریکارډ عملې هم مرسته کړې، مننه ترې کوم. د لندن په برټش لائبرېری کې راسره زما ملگري ډاکټر شاه خالد شاهي او پروفیسر جېمز کېرون مرسته کړې، د هغوی هم مننه کوم او د دې کتاب د ټایټل جوړولو لپاره زه د محمد مجتبی همایون صاحب هم منندوی یم.

له یوې باوري علمي او څېړنیزې ادارې څخه کتاب خپرېدل ډېر لوی اعزاز وي، زه د افغانستان د علومو اکېډمی د رئیس ښاغلي ډاکټر عبدالظاهر شکیب او د دغې اکېډمی د نشراتي کمېشن له ټولو غړو مننه کوم چې زما د کتاب د چاپولو منظوري یې ورکړه. د څېړنوال رفیع الله نیازي هم ډېره مننه کوم چې د کمېشن له منظورۍ وروسته یې د کتاب د خپرولو اهتمام وکړ.

زه خپل مور او پلار ته لاس په نامه په ډېر احترام سره دعا کوم چې الله دې ورته له ښه صحت سره ډېر عمر ورکړي، د هغوی پالنې او روزنې زه د دې جوګه کړم چې زه نن د تعلیم یافته خلکو په شمار کې راځم. سره له دې چې زما مور او پلار دواړه بې تعلیمه دي، خو زه ورته اعلیٰ تعلیم یافته په دې وایم چې ماته یې د تعلیم موقعه راکړه، زما لوړې زدکړې زما د موروپلار یو ارمان و او زه نن ډېر خوشحاله یم چې د هغوی په ژوندانه د هغوی دغه ارمان پوره شو، الله دې زما د موروپلار سېوری همېشه زما پر سر لري. زما مشر ورور محمد عمر او زما کشر ورور خیال محمد هم زما بوج له ما سره واخسته او ما ته یې د مطالعې لپاره زیات وخت راکړ، الله دې یې تل خوشحاله لري. زه د خپلو خویندو او د کورنۍ د لویو وړو منِنه کوم چې په څه نه څه شکل یې له ما سره مرسته کړې ده.

که زما د کوروداڼې یاسمین بي بي مینه او مرسته نه وای، نو زما پوره باور دی چې دا کار د کېدلو نه و، ځکه چې زما د علمي ژوند ډېرې سترې د هغې په مینه او مرسته کمې شوې دي، هر وخت یې زما د مطالعې لپاره یو پر سکون ماحول جوړ کړی او همدغه پر سکون او مینه ناک ماحول زه د دې جوګه کړم چې خپل کار مې سر ته ورساوه، د زړه له تله ترې منِنه کوم.

ډاکټر محمد علي ديناخېل

پېښور پوهنتون

فروري ۲۰۲۰

alidinakhel@gmail.com

د کتاب خلاصه

(Abstract)

په تاریخي دستاویزاتو کې تر ټولو لومړی د سوات ذکر یوه یوناني تاریخپوه اریان (Arrian) کړی دی. سکندر اعظم په ۳۲۷ ق م کې سوات ته راغلی و. د چیني سیلانیانو له سفرنامو پته لګي چې دلته بدهـ مت ښه ترقي کړې وه او بیا وروسته هندومت د دې علاقې مذهب و. په یوولسمه پېړۍ(صدۍ)کې د محمود غزنوي لښکر د سوات زاړه اوسېدونکي (ګوجر او کوهستاني) د سوات غرونو ته په تېښته مجبوره کړل. د محمود غزنوي د لښکر له حملو سره دلته اسلام راغی او په همدغه وخت کې دلته په وړومبي ځل پښتانه راغلل. په شپاړسمه پېړۍ کې دلته یوسفزي پښتانه راغلل، له زړو سواتیانو څخه یې سوات قبضه کړ او قبایلي ژوند یې تېرولو. د یوسفزو له راتګ سره په سوات کې د پښتو ادب په نظر راځي. په۱۹۱۵م کال کې په سوات کې د یو منظم ریاست بنیاد کېښودل شو. د دې ریاست سرکاري ژبه اول فارسي وه او د ۱۹۳۷م په جون کې پښتو د دې ریاست سرکاري او دفتري ژبه وګرځول شوه. د پښتو ادب کتابونه به د ریاست په پیسو چاپېدل او خلکو ته به یې مفت ورکول. دلته به په "جهانزېبي مشاعرو" کې د پښتونخوا شاعرانو برخه اخسته او دا مشاعرې به په کتابي صورت کې چاپېدلې. په ۱۹۶۹م کال کې دا ریاست په پاکستان کې ضم کړی شو، په پاکستان کې د ریاست سوات له ضم کولو وروسته دلته یوه ائیني او انتظامي خلا جوړه شوه چې د هغې او څه نورو عواملو له کبله دلته ډېرې مسئلې او تحریکونه پیدا شول او هر قسمه خلکو ته د اړي ګړي موقعه په لاس ورغله. د پښتنو له راتګ وروسته که په دې تناظر کې مونږ وګورو نو د سوات په تاریخ کې مختلف دورونه په نظر راځي، لکه له ریاست وړاندې د پښتو دور، د ریاست دور، له پاکستان سره له ضم کېدو وروسته دور او بیا د یوویشتمې پېړۍ د اړي ګړي دور او نور.

د سوات د تاريخ په دې ټولو دورونو کې په سوات کې پښتو ادب ښه ترقي کړې او د هر دور د ادب له مطالعې څخه د هغه دور د تهذيبي او ثقافتي ځانګړتياوو او د ټولنيزو (سماجي) بدلونونو پته تر ډېره حده لګي. د سوات د تاريخ په دې مختلفو دورونو کې چې کوم ټولنيز(سماجي)، تهذيبي او ثقافتي بدلونونه راغلي، د هغې اندازه هم د سوات له پښتو ادب څخه لګي، چې په دې کتابکې پرې په تفصيل سره بحث شوی دی.

لومړی باب

پېژندګلو

د موضوع اهمیت

ټول ټولنیز (سماجي) علوم له انسان څخه چاپېره چورلي، په دې علومو کې د یوې ټولنې ادبي، تهذیبي او ثقافتي مطالعه او تجزیه ځکه د اهمیت وړ وي، چې د یوې خاصې علاقې د خلکو د ټولنیز ژوند په اړه مونږ ته ډېر څه په لاس راځي، یعنې مونږ ته دا پته لګي چې دې ټولنې په کوم رفتار ترقي کړې ده. دلته د خیال ارتقاء دربدلې او که جاري پاتې شوې ده، د دې ټولنې د خلکو دود دستور، تاریخ، سیاست، معیشت، مذهب او نور ډېر څیزونه مونږ ته په اسانه په نظر راځي. د سوات د پښتو ادب او ثقافت دا موضوع په ډېرو حوالو د اهمیت وړ ده، په دې کې وړومبۍ خبره د سوات خپل ادبي،کلتوري، تاریخي، جغرافیایي او ټولنیز(سماجي) اهمیت دی. سوات د تاریخ په هر دور کې د دنیا د پرمختللو تهذیبونو یوه زانګو پاتې شوې، ځکه چې په سوات کې د ډېرو زړو تهذیبونو اثار په نظر راځي. د پښتو ادب په حواله که سوات ته وکتل شي، نو د پښتو ادب د ډېرو لرغونو اثارو ذکر د سوات له یادولو پرته نیمګړی ښکاري، لکه د شیخ ملي دفتر او د اخون درویزه مخزن او داسې نور. له دې علاوه سوات ته د پښتو په تاریخ کې دا اعزاز هم حاصل دی، چې په وړومبي ځل پښتو دلته د سرکار او دربار ژبه وګرځول شوه او تر ډېره حده سرکاري خط و کتابت به په پښتو کې کېده[1]، په نژدې کلونو کې په سوات کې مختلف تحریکونه راپورته شوي وو چې د دې تحریکونو اثرات هم په ادب کې جوت ښکارېږي.

له دې وروسته بیا مختلفو دولتي او نا دولتي ادارو په دې خبرو ډېرې څېړنې او لټونونه کړي او د ځینو کارونو د اسبابو د لټولو کوښښ یې کړی دی. په دې حواله بنیادي خبره دا ده چې څوک په یوه خاص علاقه کې خپله څه نوې پالیسي نافذ کول غواړي او یا

---

[1] د برتانوي حکومت او د پاکستان له حکومت سره به خط کتابت په انګرېزۍ کې کېده. د صحت ، تعلیم او په ځینو نورو ادارو (محمکو) کې به خط او کتابت په اردو او انګرېزۍ کې هم کېده.

څه غیر معمولي حالات قابو کول غواړي، نو هغوی غواړي چې د هاغه ځای د خلکو تاریخي او ثقافتي حالات معلوم کړي، له هغې وروسته د خلکو نفسیات، عادات او رسم ورواج معلوم کړي او بیا د دغو خبرو په رڼا کې خپلې پالیسیانې جوړوي، نو بیا دغه پالیسیانې کامیابې وي، خو که کله پالیسي جوړوونکي د دغو خبرو خیال ونه ساتي نو لازمي خبره ده چې دغه پالیسي به په مشکله سره عملي کېږي.

د یو قوم پر نفسیاتو، رسم ورواج، تاریخ، تهذیب او ثقافت باندې د پوهېدلو لپاره د هغوی د ژبې او ادب مطالعه ضروري ده، ځکه چې تهذیب او ثقافت د ارتقاء له مختلفو مرحلو څخه تېرېږي، نو یو اخري حد ته رسي.

د سوات د پښتو ادب او ثقافت څېړنه به نه صرف د پښتو ادبیاتو د پوهانو او طالب علمانو لپاره ګټوره ثابته شي، بلکې د تاریخ، سیاست، بشرپوهنې، لرغونپوهنې او د نورو برخو د پوهانو او زده کوونکو لپاره به یقیناً چې څه نه څه فایدې ولري.پر دې سربېره به د مختلفو پالیسیانو جوړوونکو لپاره هم دا څېړنه ګټوره وي، ځکه چې د دې په رڼا کې به هغوی د سوات د خلکو تاریخ، تهذیب، ثقافت او رسم و رواج ولولي او د هغوی لپاره د ترقۍ او سوکالۍ پالیسانې جوړې کړي.

د څېړنې پوښتنه

د دې څېړنې بنیادي پوښتنه (تحقیقي سوال) دا و، چې د سوات په تهذیب او ثقافت کې د ارتقاء له مخې چې کوم بدلونونه راغلي، دغو بدلونونو پر ادب څنګه اثر کړی او په ادب کې څومره ښکارېږي؟

د تحقیق مقاصد

د دې څېړنې د موضوع د چونړ پر وخت دا لاندینۍ موخې درلودې، چې د تحقیق له سرته رسېدلو سره حاصل شوې هم دي:

۱. د سوات د تهذیب او ثقافت تاریخي ارتقا معلومول.
۲. د سوات په پښتو ادب کې د تهذیب او ثقافت تجزیه کول.
۳. د سوات په تهذیب او ثقافت کې د بدلون د اسبابو جایزه اخستل.

د ابواب بندۍ جواز

د سوات ټولنيز تنظيم ته چې کله وکتل شي، نو پته لګي چې سوات د تاريخ په مختلفو دورونو کې په مختلفو ټولنيزو جوړښتونو کې پاتې شوی، په خصوصي توګه چې له کوم وخت څخه يوسفزي پښتانه سوات ته راغلي، نو له هغه وخت څخه تر دې دمه د سوات ټولنيز او انتظامي تنظيم وخت پر وخت بدل شوی، لکه له شپاړسمې پېړۍ څخه د نولسمې پېړۍ تر لومړۍ نيمايي پورې دلته د پښتنو قبايلي نظام و او هېڅ قسمه منظم حکومتي نظام نه و. په دې دوران کې د مختلفو قبيلو د مشرانو او د مذهبي مشرانو اثر رسوخ و. له دې وروسته د شلمې پېړۍ په وړومبي دور کې دلته يو منظم رياست جوړ شو او خواوشا پنځوس کاله وروسته دا رياست په يو لوی رياست (پاکستان) کې ضم کړی شو، خو د سوات د رياست له ضم کېدلو وروسته بيا هم د څه ايينې مسئلو له وجې سوات ته د پاکستان ټول قوانين و نه غزېدل او د دې ائيني خلا او د څه نورو عواملو له وجې وخت پر وخت په سوات کې مختلف تحريکونه شروع شو ل. په يوويشتمه پېړۍ کې د مقامي او بين الاقوامي سياست او د څه نورو عواملو اثرات پر سوات هم پرېوتل او د سوات په تاريخ کې يو نوی باب شروع شو. په دې تناظر کې چې د سوات تاريخ ته وکتل شي، نو د هر دور خپل ځانګړي خصوصيا ت په نظر راځي او په هر دور کې په ټولنيز ژوند کې څه نه څه بدلون راغلی دی. په دې وجه هر دور يو بېل باب لري، چې تفصيل يې د ابواب بندۍ تر سرخط لاندې ورکړل شوی دی.

د بابونو وېش

دا کتاب په اتو بابونو وېشل شوی دی، په وړومبي باب کې د تهذيب او ثقافت پېژندګلو شوې ده، دويم باب"پس منظري مطالعه" (لټرېچر ريويو) ده،په درېيم باب کې د سوات لنډ تاريخ ليکل شوی، په څلورم باب کې د سوات د پښتو ادب د هغو مطبوعه موادو تهذيبي او ثقافتي تجزيه شوې، د کومو تعلق چې له ابتداء واخله تر ۱۹۱۵م پورې و. په دې دور کې د پښتو ادب له ځينو داسې کتابونو څخه هم توضيحي مرسته اخستل شوې، چې همعصر وو او يا سوات ته په نږدې علاقو کې ليکل شوي وو . دې دور ته په عام طور "د پښتو دور" يا " د پښتو زمانه" ويل شوې ده. په پينځم باب کې د هغو مطبوعه ادبي موادو څېړنه شوې، چې د رياست سوات په دور، يعنې له ۱۹۱۵م څخه تر۱۹۶۹م پورې ليکل شوي وو، چې دا دور د "رياستي دور" په نامه ياد شوی دی. په شپږم باب کې د سوات د

پښتو ادب د هغو موادو تهذيبي او ثقافتي تجزيه شوې، چې د ۱۹٦۹او ۲۰۰۰م کلونو په مينځ کې ليکل شوي وو. په اووم باب کې د سوات د پښتو ادب هغه مواد شامل شوي، چې له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۲م کلونو پورې ليکل شوي وو، دې دور ته "د يوويشتمې پېړۍ د سوات پښتو ادب" ويل شوی دی. داسې مواد چې ښکاره تعلق يې له يو دور سره و، خو چاپ شوي په بل دور کې وو نو هغه په خپل متعلقه دور، يعنې د ليک په دور کې اېښودل شوي دي. اتم باب د دې تحقيق په خلاصه مشتمل دی. په دې کتاب کې د سوات د رياست د زمانې ځينې هغه سرکاري حکمونه، چې په پښتو کې ليکل شوي د ضميمې تر سرليک لاندې شامل کړل شوي دي. په دې کتاب کې ددغو حکمونو د شاملولو ډېر وجوهات دي، په هغې کې يوه خبره دا ده چې دا حکمونه به د خلکو په ذاتي کلېکشن کې وي، خو په سرکاري ارکايېوز(ارشيفونو)کې نشته، نو دلته به په دې کتاب کې محفوظ شي. دويم دا کتاب د سوات د پښتو ادب او ثقافت په باره کې دی او دا حکمونه هم د پښتو ژبې، ادب او د سوات له ثقافت سره تعلق لري.

د تحقيق طريقه

په دې تحقيق کې په اساسي ډول دستاويزي طريقه استعمال شوې او انټرويوګانې هم پکې شوې دي. په لومړۍ مرحله کې د سوات د پښتو ادب تقريباً ټول چاپ مواد راجمع کړی شول، له دې وروسته د هر دور جلا جلا مواد تجزيه شول او په دغو موادو کې تهذيبي او ثقافتي عناصر ولټول شول. د هر دور په پښتو ادب کې د دغه دور خاص او منفرد تهذيبي او ثقافتي عناصر هم په ګوته کړی شول. له دې څخه د سوات د تهذيب او ثقافت ارتقا په ډاګه شوه او دا پته هم ولګېده چې د سوات په پښتو ادب کې د سوات تهذيب او ثقافت څومره په نظر راځي. په ځينو بابونو کې د ولسي ادب حوالې نقل کړی شوې دي، چونکې د ځينو ولسي ادبي اصنافو د زمانې تعين ګران وي، خو په دې حواله دا خبره مخې ته اېښودل شوې، چې دغه ولسي ادبيات په کوم دور کې چاپ شوي دي، نو له هغه دور سره په تړلي باب کې يې حوالې ورکړل شوې دي؛ خو بيا هم يوائې د چاپ کېدلو په زمانه ټوله خبره مبني نه وه، بلکې دا هم کتل شوي، چې په دغو ولسي ادبياتو کې چې کوم تهذيبي او ثقافتي عناصر ذکر شوي، هغه په دغه متعلقه دور کې اوس هم موجود دي که، نه؟

د دې څېړنې لپاره د سوات د پښتو ادب مطبوع مواد ابتدايي مواد ګڼل شوي دي. دغه رنګ د سوات د تاريخ کتابونه، مقالې او نور مواد د ثانوي موادو په حيث کتل شوي دي. د مرکو (انټرويوګانو) په ذريعه هم څه مواد لاس ته راغلي دي. له کتابونو علاوه په ډايريانو کې د رياست سوات ريکارډ او د مختلفو ارکاييوز(ارشيفونو)له ريکارډ څخه هم کافي مدد اخستل شوی او له مختلفو رسالو، تحقيقي مجلو او اخبارونو څخه هم کافي مواد لاس ته راغلي دي.

د پښتو له زړو کتابونو يا قلمي نسخو څخه چې کومې نمونې اخستل شوي، د هغو رسم الخط زوړ نه دی ساتلی شوی، بلکې په نوي رسم الخط کې ليکل شوي، خو په کوم ځای کې چې خامخا د هغه زوړ رسم الخط نمونه ورکول پکار وو، نو هلته زوړ رسم الخط ليکل شوی دی.

په دې کتاب کې به په يو څو ځايونو کې پوره نظم يا غزل رانقل شوی وي، د دې مهمه وجه دا وه چې اکثر دا ډول ادبي نمونې په نايابه نسخو کې وې، چې تر اوسه يې چا په ادبي حواله ذکر نه دی کړی، لکه له تفسير تېسير څخه د پښتو شاعرۍ نمونې نقل کول يا له فتاوي ودوديه څخه د پښتو شاعرۍ نمونې نقل کول.

په دې کتاب کې د سوات د پښتو ادب په هر دور کې د ليکل شوي ادب تهذيبي او ثقافتي تجزيه شوې، نو د تهذيب او ثقافت ډېر عناصر داسې دي چې په هر دور کې پکې څه بدلون راغلی؛ خو نوم يې هم هغه دی نو ځکه په هر باب کې ځينې څنګزن (ذيلي) سرليکونه يو شان دي، که څه هم تر دغو څنګزنو (ذيلي) عنوانونو لاندې هغه بدلونونه ذکر شوي، چې دغه ثقافتي عناصر يې له بل دور څخه مختلف کړي دي. د ثقافت په ځينو څنګزنو عنوانونو کې که په يو باب کې لږ بحث شوی وي او په بل کې ډېر، نو وجه به يې دا وي چې د دغه مخصوص دور په ادب کې به پرې بحث لږ شوی وي. کله کله د يوې خاصې موضوع په اړه پرله پسې د شعرونو حوالې را نقل شوي، خو له طوالت څخه د بچ کېدلو په خاطر پرې بحث نه دی شوی.

د تحقيق حدونه

د دې څېړنې حدونه او بريدونه بالکل په ډاګه دي، دا تحقيق د موجوده (۲۰۱۲م) سوات ضلعې په زمکنيو حدونو کې دننه د پښتو ادب په چاپو موادو اړانه لري. زماني حدونه يې له پيل څخه تر ۲۰۱۲م کال پورې دی، يعنې په دې تحقيق کې د موجوده

سوات ضلعې په حدونو کې دننه د پښتو ادب د چاپو موادو تهذيبي او ثقافتي مطالعه شوې ده. هغه کتابونه چې په سوات کې ليکل شوي وي يا يې ترتيب او تدوين په سوات کې د سوات ليکوالانو کړی وي په دې څېړنه کې شامل دي. د نورو سيمو داسې ليکوالان چې په سوات کې مېشت وي او دلته يې تخليق کړی وي، د هغوی کتابونه هم په دې مقاله (کتاب)کې شامل دي. دا خبره هم امکان لري چې د سوات د تهذيب او ثقافت په باره کې نورې ډېرې داسې خبرې وي چې په دې څېړنه کې به نه وي ذکر شوې، نو د هغې وجه دا ده چې دا څېړنه د سوات د تهذيب او ثقافت ټوله احاطه نه کوي، بلکې په دې څېړنه کې د هغو تهذيبي او ثقافتي عناصرو ذکر شوی، چې د سوات په پښتو ادب کې په نظر راتلل.

د دې اثر سرليک"د سوات پښتو ادب او ثقافت" دی، نو د دې کتاب له سرليک څخه ښکاري چې په دې اثر کې به د سوات د پښتو ادب او ثقافت تجزيه کېږي، نو دا خبره ضروري ده چې پر اصلي موضوع له بحث کولو وړاندې د موضوع ځينې مهم اصطلاحات تر بحث لاندې راوستی شي، نو په دې باره کې دوه مهم اصطلاحات تهذيب او ثقافت دي.

د تهذيب لغوي معنی

په مختلفو لغتونو کې د تهذيب مختلفې معنې ورکړل شوې دي، دلته د يو څو لغتونو په حواله د تهذيب لغوي معنې څېړل شوې دي.

وارث سرهندي په "قاموس مترادف"کې د تهذيب دا معٰنې ورکړې دي:

۱. اصلاح، درستی، آراستگی، شاخ تراشی

۲. شايستگی، ثقافت، خوش اخلاقی، تمدن، آدميت، پاکيزگی، صفائی، اہليت، لياقت[۱]

مولوي سيد احمد دهلوي په "فرهنگ آصفيه"کې د تهذيب تر اصطلاح لاندې داسې ليکي: تهذيب : ع ـ اسم مونث

۱. آراستگی، صفائی، پاکی، درستی

۲. شائستگی، خوش اخلاقی، اہليت، لياقت، آدميت، تربيت، انسانيت، شرافت[۲]

د پښتو په قاموس "درياب"کې يې د تهذيب تر سر ليک لاندې دا ډول الفاظ ليکلي دي: (اسم) تمدن، ښه اخلاق، سړيتوب ، شائستګي، انسانيت، د يوې معاشرې د ژوند تېرولو مروجه لارې چارې ، مادي ترقي (م ـ عربي) [۳]

له پورتنيو تعريفونو او معنو څخه چې کومې خبرې مخې ته راغلې هغه دا دي: تهذيب د عربۍ لفظ دی او د لفظ په قسمونو کې اسم دی او د جنس په لحاظ په عربۍ

کې مونث دی. په دې تعریفونو کې تهذیب د سرېتوب او شائستګۍ په معنو هم اخستل شوی دی. له دې علاوه وارث سرهندي د تهذیب په مترادفاتو کې د ثقافت او تمدن لفظونه هم لیکلي دي. په انګرېزۍ کې د تهذیب لپاره د سیویلایزېشن لفظ استعمال شوی دی. دسیویلایزېشن لفظ په لومړي ځل په ۱۷۵۲م کې یو فرانسوي لیکوال استعمال کړی دی.[٤] د تهذیب اصطلاح په اردو تصنیفاتو کې په وړومبي ځل د" تذکره ګلشن هند" په ۱۲۹مخ کې په۱۸۰۱ م کې لیدل کېږي.[٥] اشفاق احمد او محمد اکبر چغتائي په "فرهنګ اصطلاحات"کې د Civilization معنا مدنیت او تمدن لیکلې ده.[٦] محمداحمد سبزواري په "اصطلاحات عمرانیات"کې د سیویلایزېشن معنی تمدن، تهذیب و تمدن لیکلې ده.[٧] د سیویلایزېشن په باره کې J.B. Sykes وایي چې په سماجي ترقۍ کې لوړ مقام ته رسېدل تهذیب دی.[٨] د سیویلایزېشن تعریف "اکسفورډ اېډوانسډ لرنرز" ډکشنرۍ داسې کړی دی:

> Civilization (۱) A state of human society that is very developed and organized. (۲) a society, its culture and its way of life during a particular period of time or in a particular part of the world.[٩]

ترجمه: سیویلاېزېشن (۱) د انساني ټولنې ترقي یافته او منظم حالت. (۲) په یو خاص وخت کې د دنیا په یوه خاصه برخه کې یوه ټولنه او د هغې کلتور.

په حقیقت کې د ښار له جوړېدو سره تهذیب پیداکېږي.Fernand Brandel[١٠]په دې باره کې مخکې لیکي چې کله د ښار د ژوند ذکر کېږي، نو هلته سیویلایزېشن ټکی استعمالول پکار دي او چې کوم ځای د کلیوال ژوند بحث کېږي، نو هلته د کلچر ټکی استعمالول پکار دي. د هغه په خیال سیویلایزېشن د ترقي یافته کلچر یو ډول دی یا د کلچر یو پرمختللی پړاو دی.[١١]

د تهذیب او ثقافت له یو بل سره د ډېر نژدېوالي او د تهذیب د وسعت له وجې د تهذیب داسې تعریف کول چې هر څه راګېر کړي، ډېر ګران کار دی ځکه خو لوی فلسفي Arnold Toynbee په خپل دولس جلده کتاب (۱۹۳٤-۱۹٦۱) A Study of History کې د تهذیب هېڅ تعریف نه دی کړی.[١٢] د تهذیب هر اړخیز او مختصر تعریف ځکه نه کېږي چې تهذیب ډېره پراخه لمن لري.[١٣]او همدا وجه ده چې چا په دې مېدان کې کار کړی، نو هر چا تهذیب ته خپل تعریف ورکړی دی.[١٤] د دې پر ځای چې د تهذیب مختلف تعریفونه راجمع کړو دا به ډېره ښه وي چې د تهذیب عناصر وپېژندل شي.

د تهذيب عناصر

Ruan Wei د تهذيب دا عناصر بيان کړي دي: د تحرير باقاعده نظام، ادب، فنون، موسيقي، عدالتي نظام، باقاعده سماجي او سياسي اداري، فوځي نظام.[۱۵] سبط حسن د تهذيب مختلف مظاهر دا بيان کړي دي: ژبه، الات او اوزار، د پيداوار طريقې، ټولنيزې رشتې، استوګنه، فنون لطيفه، علم او ادب، فلسفه او حکمت، عقيدې او وهمونه، اخلاق او عادتونه، رسم و رواج، د عشق او د محبت سلوک او خانداني تعلقات او نور.[۱۶] او په بل ځای کې سبط حسن ليکي چې د دنيا هر يو نوی يا زوړ تهذيب له څلورو څيزونو څخه جوړ دی: طبيعي حالات، الات او اوزار، د فکر او د احساس نظاماو سماجي اقدار.[۱۷] د ټولنيزو (سماجي) اقدارو په باره کې سبطِ حسن وايي په يوه ټولنه کې چې د ټولنيز تړون، اخلاقو او عادتونو، د اوسېدلو د طور طريقو، د رسم او رواج، د حسن او جمال او د فن د اظهار لپاره چې کوم معيار عام وي هغې ته سماجي اقدار وايي.[۱۸] ځينې سماجي اقدار خپل دور ته نژدې نژدې په ټولو تهذيبونو کې يو شان وي، لکه په کومو ورځو کې چې د غلامۍ رواج نه و، نو جنګي قيديان به خلکو وژل او دا به هېڅ ناکاره کار نه ښکارېده، ځکه چې هغوی به دوی ته ډوډۍ او جامې نه شوای ورکولی او بيا هم غلامي په ټولو تهذيبونو کې يو شان وه؛ تر دې چې د اخلاقياتو لويو استاذانو اپلاتون او ارسطو ته هم په دې کې څه عيب نه ښکارېده. د سماجي رشتو ځينې غير پېداواري اقدار هم په ټولو تهذيبونو کې تقريباً يو شان وي، لکه مېلمه پالنه، رحم دلي، انصاف، رښتيا ويل، له مظلوم سره همدردي، د عالمانو، فاضلانو او شاعرانو قدرکول، د سندرو اورېدلو شوق لرل، په واده ښادۍ کې خوشحالي کول او په غم باندې افسوس کول او نور. همدا راز ځينې اقدار د هرې ټولنې انفرادي وي، لکه ځينې قومونه، چيندخان، ماران او خنزيران خوري او ځينې نور دغو ځناورو ته لاس وړاندې کول هم ښه نه ګڼي. همدا شان د جامو او د ښايست معيار هم بېل بېل وي. سماجي اقدار په يو ځای ولاړ نه وي، بلکې بدلون هم پکې راځي، د ټولنيز ماحول د بدلون اثر پر سماجي اقدارو باندې هم کېږي.[۱۹]

تمدن او تهذيب

لکه څنګه چې مخکې وويل شول چې وارث سرهندي د تهذيب په مترادفاتو کې د تمدن او ثقافت لفظونه هم ځای کړي، خو په همدغه لغت کې هغه د تمدن تر لفظ لاندې داسې ليکي:

تمدن: مدنیت، معاشرت، طرز معاشرت، شهری زندگی، شائستگی، تهذیب.[۲۰] د تمدن په اړه مولوي محمد نیر الحسن نیر په "نور اللغات"کې لیکي: تمدن! (ع) (مذکر)، بروزن تفعل، شهر میں بودو باش کرنا، شهر کا انتظام کرنا، طرز معاشرت رهنیسهنیی کا انداز.[۲۱]

په پښتو لغت دریاب کې د تمدن په باره کې داسې لیکلی شوي دي: تمدن : (اسم) ۱- د یو ځای د اوسېدو طریقه، په ښار کې اوسېدنه، د معاشرت طریقه ،۲ـ یو علم چې پکې د معاشرت اداب او طریقې ښودلی شي.[۲۲]

سید انوار الحق په "اردو پشتو لغت"کې د تمدن تر لفظ لاندې داسې لیکي:

تمدن: (ع ـ مذ) په یو ځایکېله یو بل سره د اوسېدو طریقه، د معاشرت طرز (ع) مدن: په ښهر کې اوسېدل یا ښهر ته راتلل)، یو علم چې پکې د معاشرت (د اوسېدو) اداب او دود دستورښېیلی شي، شهریت (سوکس).[۲۳]

د تهذیب او تمدن له دې بحث څخه دا نتیجه راوځي چې تهذیب انسانیت او شایستګۍ ته وایي او تمدن په یو ځایله یو بل سره د اوسېدو طورطریقې ته وایي.

لکه څنګه چې په دې لغتوتو کې ذکرشو چې تهذیب او تمدن دواړه په اصل کې عربي الفاظ دي، نو ځکه دا خبره ډېره ضروري ده چې د دې لفظونو اصلي او صحیح معنې د عربۍ د لغت او اصولو په رڼا کې معلومې کړل شي. په دې باره کې به لومړی تهذیب ته راشو: تهذیب مصدر دی. د دې ماضي فعل هذّبدی اومضارع فعل ترېنه یهذب دی او مهذب ترېنه فاعل جوړېږي. هذّب په عربي کې د ښاخ تراشۍ لپاره استعمالېږي، لکه په عربی کې وایي: هذب فلان شجره. هغه د ونې ښاخ تراشي وکړه او د ښاخ تراشیده ونې لپاره په عربۍ کې داسې ویلی شي: هذه شجرة مهذبة. دا رنګه له ونې څخه د بې ضرورته ښانګو او ښاخونو لرې کولو عمل ته د تهذیب عمل وایي.

لکه څنګه چې له ونې څخه بې ضرورته ښاخونه لرې کولو سره په ونه کې ښکلا او تازګي پیدا کېږي او ډېر زر وده کوي، همدغه رنګ له انساني معاشرې څخه خرابې خبرې او خرابو رسمونو او رواجونو لرې کولو سره په انساني ژوند او ټولنه کې ښکلا پیدا کېږي. دغه وجه ده چې د ونې ښاخ تراشۍ او د انساني ټولنې ښاخ تراشۍ دواړو ته تهذیب ویل کېږي. اوس که مونږ د عربي ژبې د اصولو په تناظر کې تمدن ته وګورو نو تمدن باب تفعّل دی، یعنې تمدن د تفعل په وزن دی. په عربي کې د هر باب خپل خصوصیات وي، لکه د

باب مفاعله مثالونه مقابله، مناظره، مقاتله او نور دي او د باب مفاعله خصوصیت دا دی چې شرکت د جانبینو به پکې وي، یعنې لږ تر لږه به په دې کې له دواړو طرفونو څخه دوه ارکان خامخا وي. دغه شان باب افعال لکه انکار او اصرار کې به لږ تر لږه یو کس وي او د باب تفعّل خصوصیت دا دی چې په دې کې به تصنّع وي. د تصنع معنی یو څیز په تکلیف سره حاصلول، نو ځکه تمدن، تفعل او تکلف یو وزن یو باب او یو شان خصوصیات لري او د تمدن لفظي معنی ده په خپل کوښښ ځان په اجتماعي ژوند کې شاملول. باب تفعّل د فعیلة نه دی او د فعیلة هموزن مدینة دی چې وروسته ترې مدینه جوړه شوې او معنی یې ښار یا مدني یا شهري ژوند دی، نو ځکه مونږ ویلی شو چې له فعیلة څخه تفعّل شو، له مدینه څخه تمدن شو او د تمدن مطلب شو د ښار زندگي.

د دې بحث په نچوړ کې مونږ د تهذیب او تمدن فرق دا معلومولی شو چې کله شایستګي، انسانیت او سړیتوب په یو کس کې ذاتي طور موجود وي، نو دې ته تهذیب وایي او چې کله دا خصوصیات په اجتماعي توګه موجود وي نو هغې ته تمدن وایي. د تهذیب، تمدن او ثقافت اصطلاحات هغه وخت ډېر کړکېچ پیدا کړي کله چې د اردو، پښتو او انګرېزۍ اصطلاحاتو د مترادفاتو لټولو کوښښ وکړی شي. په انګرېزۍ کې کله Culture د تهذیب په معنٰی راشي او کله د ثقافت په معنی او دا رنګ Civilization کله د تمدن په معنی راشي او کله د تهذیب په معنی. ژبپوهانو او د لغاتو ماهرینو عام طور Civilization د تهذیب او تمدن په معنو کې اخستی او د ثقافت لپاره یې دCulture لفظ استعمال کړی دی. په دې تحقیق کې به هم د سیویلایزېشن لپاره تهذیب او د کلچر لپاره د ثقافت لفظونه کارول کېږي.

ثقافت یا کلچر

د کلچر وړومبی ښکاره او واضحه تعریف Sir Edward Tylor په ۱۸۷۱م کې داسې کړی دی:

> [Culture is] that complex whole which includes knowledge, belief, art, law, morals, custom, and any other capabilities and habits acquired by man as a member of society.[۲٤]

ترجمه:کلتور هغه جامع یو والی دی چې په هغې کې علم، عقیده، فن، قانون، اخلاقیات، رواج او نور ټول هغه صلاحیتونه او عادتونه شامل وي، چې انسان د ټولنې د یوه غړي په حیث ترلاسه کړي وي.

د کلچر خصوصیات Haviland او د هغه ملګرو دا بیان کړي دي. کلچر زده کېږي، شریکېږي، دا په علاماتو اړانه لري او متحرک وي.[۲۵] اردو انسایکلو پیډیا د ثقافت (Culture)په باره کې لیکي چې دا عربي لفظ دی او د دې مطلب د یو قوم یا طبقې تهذیب دی، ماهرینو د دې دا تعریف مقرر کړی دی:" ثقافت د اکتسابي، ارادي یا د شعوري طرز عمل نوم دی"په اکتسابي طرز عمل کې زمونږ هغه ټول عادتونه، کارونه، سوچونه، رسمونه او قدرونه شامل دي، چې مونږ د یوې منظمې ټولنې یا د یو خاندان د یو فرد په توګه غوره ګڼو، یا هغه په عمل کې راولو یا په هغوی د عمل کولو غوښتنه لرو. د یادونې وړ ده چې د ثقافت یو جامع او آخري تعریف تر ننه نه دی شوی.[۲۶] په "فرهنګ اصطلاحات"کې یې د Culture معنٰی تهذیب، ثقافت او کلچر لیکلې ده.[۲۷] په "قاموس مترادفات" کې وارث سر هندي د ثقافت معنی تهذیب، کلچر، عقل مندي او خرد مندي لیکلې ده.[۲۸] په "پښتو لغت دریاب"کې د ثقافت په باره کې داسې لیکلي دي، ثقافت : اسم، واحد، مذکر، کلچر، کلتور، تهذیب او تمدن. [۲۹] "فېروز اللغات عربي اردو"کې د ثقافة معنٰی عقل و سمج، تعلیم و تربیت او کلچر لیکلې ده.[۳۰] "مصباح اللغات" د ثقافة معنٰی زیرک و سبک و چالاک کېدل لیکلې ده.[۳۱]

T.S. Eliot د کلچر د تعریف په باره کې وایي چې له کلچر څخه زما مراد هم هغه دی کوم چې ترې د بشرپوهنې پوهان اخلي، یعنې د خلکو د یوې خاصې ډلې په یو ځای د ژوند تېرولو طریقې ته کلچر وایي.[۳۲] محمد احمد سبزوازي په "اصطلاحات عمرانیات"کې د انګرېزي لفظ Culture د لاندې ثقافت، تهذیب، تمدن او کلچر الفاظ لیکلي دي.[۳۳] "اکسفورډ ایډوانسډ لرنرز ډکشنری" د کلچر تعریف داسې کړی دی: د یو خاص ګروپ یا د یو ملک دود دستور، عقیدې، فنون، د ژوند طریقې او سماجي جوړښت ته کلچر وایي.[۳٤] په کلچر کې د انساني اعمالو هغه ټولې بنیادي ادارې لکه مذهب، سیاست، معیشت، فنون، ساینس، تعلیم، ژبه او نور شامل دي.[۳۵] یو فرد که په ټولنه کې په انفرادي توګه یو کار کوي یا یو عادت لري، دې ته کلچر نه شي ویلی تر څو چې دا په ټولنه کې عام نه وي.[۳٦] ځینې کارونه، عادتونه او خبرې داسې دي چې هغه زمونږ په ټولنه کې یو شان

وي، خو تعلق يې زمونږ د حسياتو يا جبلّت سره وي نو دغه هم په کلچر کې نه راځي، لکه په کنځلو غصه کول او په وږي کېدلو خوراک خوړل او نور.[۳۷] په وږي کېدلو خوراک ضرورت دی. د ضرورت يا need په باره کې Haviland وايي چې ضرورت زده کېږي نه، خو هغه طريقې زده کېږي په کومو چې مونږه ضرورت دفع کولی شو.[۳۸]لوږه د خوراک ضرورت دی او پخپله پيدا کېږي، خو د خوراک مختلفې طريقې او د پخلي مختلفې طريقې کلچر دی.[۳۹]د کلچر په خصوصياتو کې يو خصوصيت دا دی چې کلچر په ټولنه کې زده کېږي، يعنې Culture is learned خو هر زده کړی کار هم کلچر نه وي، يعنې کوم کار چې په مسلسل تربيت زده شي په هغه کار او enculturation کې فرق دی.[۴۰]

ډاکټر جميل جالبي وايي چې کلچر د هغه ذهني، مادي او خارجي طرز عمل د اظهار نوم دی چې په باضابطه طريقه د يوې ټولنې په ټولو غړو کې يو شان موجود وي. په طرز عمل کې دا با ضابطگي د يوې ټولنې کلچر ظاهروي او همدا څيز مونږ ته د يوې ټولنې او د بلې ټولنې توپير ښيي.[۴۱] په ژوندي کلچر کې به د خيال ارتقا وي[۴۲] او په مړ يا ساکت کلچر کې به د خيال ارتقا نه وي.[۴۳] د کلچر د زوال اسباب هم دا دي چې د خيال ارتقا ودرېږي او د کلچر نظام صرف په ظاهري رسم ورواج پورې محدود يو عادت او رسم پاتې شي، بيا يو عابد تسبيح په لاس کې شراب خانې او دگډا نڅا محفل ته روان وي خو دا احساس ورته نه کېږي.[۴۴]

د تهذيب او ثقافت اړيکي

سبط حسن وايي چې د تهذيب تعلق له ظاهري څيزونو سره دی[۴۵] او د ثقافت تعلق له هغو څيزونو سره دی، چې زمونږ له ذهن سره اړيکه لري.[۴۶] تهذيب او ثقافت له يو بل سره ډېر ژور تعلق لري او دغه وجه ده چې د تهذيب په تعريف کې د ثقافت او د ثقافت په تعريف کې د تهذيب ټکی استعمال شوی دی. تهذيب او ثقافت په معنوي او تاريخي اعتبار په يو بل کې دومره گډ وډ شوي، چې جدا کول يې ډېر گران کار دی.[۴۷]تهذيب او ثقافت اکثرو پوهانو په يوه معنی کې اخستي دي او د دويتر مينځ توپير يې مهم نه دی گڼلی.[۴۸]د لوېديز اکثرو پوهانو چې کله د زوړ ټولنيز ژوند ذکر کړی هلته يې د کلچر لفظ استعمال کړی او چې کله يې د نوي ټولنيز ژوند ذکر کړی، نو هلته يې د سيويلايزېشن لفظ استعمال کړی دی.[۴۹]که مونږ د تهذيب او ثقافت د مقام او مرتبې تعين کوو، نو تهذيب له ثقافت څخه په لوړ مقام پروت دی او مونږ دا هم ويلی شو چې ثقافت د تهذيب

بنیاد دی او ثقافت د تهذیب لپاره خام مواد پیدا کوي او تهذیب د ثقافت ترقي یافته شکل دی. Christopher Dawson[50] وایي چې کله مونږ د یو ملک خبره کوو نو مونږ کلچر لفظ استعمالوو، لکه د فرانس کلچر، د جرمني کلچر او د برتانیې کلچر، خو کله چې خبره د تهذیب شي نو دې ټولو ته بیا مونږ مغربي تهذیب وایو او دغه شان دا ښکاره خبره ده چې تهذیب له ثقافت، یعنې کلچر څخه په لوړ مقام پروت دی.[51]

کلچر(ثقافت) په بنیادي طور د جرمني ژبې له لفظ Kultur څخه اخستل شوی او تهذیب (سیویلایزېشن) د فرانسیي ژبې له لفظ Civilization څخه جوړ دی. د کلچر او د سیویلایزېشن د بحث دا مسئله له هغه وخت څخه شروع شوه کله چې په اتلسمه عیسوي پېړۍ کې د جرمني په ټولو ریاستونو کې سرکاري او د عزت ژبه فرانسیي وه او جرمني ژبه د متوسطې طبقې ژبه وه او سرکاري سرپرستي ورته نه وه حاصله، خو کله چې په جرمني ژبه کې د Geothe, Kant او Schiller تخلیقات مخې ته راغلل نو هغه وخت په جرمني کې فرانسیي ژبه او د هغې اصطلاحات د طنز ښکار شول او له همدغه وخت څخه Culture او Civilization جدا جدا اصطلاحات رامنځته شول.[52] په انګرېزي ژبه کې چې کله د جرمن فنپارو ترجمې شوي، نو په هغو کې د جرمن لفظ Kulture ترجمه Civilization شوې ده، لکه د فرایډ Freud کتاب Unbehagen in der Kultur انګرېزي ترجمه د Civilization and its Discontents په نوم شوې ده او دارنګه د Samuel Huntington کتاب The Clash of Civilizations ترجمه په جرمن ژبه کې د Der Kampf der Kulturen په نامه شوې ده. Huntington پخپله هم په خپل کتاب کېCulture او Civilization په یوه معنٰی کې استعمال کړي دي.[53]

د تهذیب او ثقافت حدونه له یو بل څخه پورې راپورې وتلي او دغه وجه ده چې د دوی په مینځ کې واضحه کرښه راښکل ډېر ګران کار دی.[54]ډاکټر جمیل جالبي وایي چې د "تهذیب" زور په خارجي څیزونو او د طرزعمل په هغه اظهار دی چې په هغې کې خوش اخلاقي، اطوار، ګفتار او کردار شامل دي او د "ثقافت" د لفظ زور په ذهني صفتونو باندې دی په کومو کې چې په علومو او فنونو کې مهارت حاصلول او د ترقۍ صفات شامل دي.[55] ډاکټر جمیل جالبي د تهذیب او ثقافت معنې یوځای کړي او د دوی لپاره یې د "کلچر" لفظ استعمال کړی دی.[56] ډېر ماهرین او پوهان پر سیویلایزېشن یا تهذیب باندې ډېرې نیوکې کوي او وایي چې د تهذیب له راتلو سره ثقافت ختمېږي.[57]

د بحث لنډیز

په تېرو مخونو کې چې د تهذیب او ثقافت په حواله کوم بحث وشو له هغې څخه مونږ دا څو خبرې راویستلی شو:

۱. د تهذیب او تمدن دواړو لپاره د انګرېزی ژبې لفظ Civilization استعمالېږي، تمدّن د لفظ تهذیب مترادف هم استعمالېږي، چې په اصطلاح کې د ښار له ژوند سره متعلق خبرو اترو ته وایي.

۲. د ثقافت لپاره د انګرېزی لفظ Culture استعمال شوی، خو ځینو لیکوالانو د تهذیب لپاره د کلچر لفظ استعمال کړی دی.

۳. تهذیب او ثقافت په یو بل کې دومره ننوتي، چې له یو بل څخه یې جلا کول ګران دي، خو د دواړو تعلق له انساني ژوند او ټولنې سره دی.

٤. د تهذیب او ثقافت تعریف د یو بل له ذکر پرته نه کېږي، ځکه پوهانو د تهذیب او ثقافت په تعریف کې دواړه اصطلاح ګانې استعمال کړي دي.

۵. اکثر پوهان په دې متفق دي چې د ثقافت پرمختللې بڼه تهذیب دی.

٦. د تهذیب او ثقافت ترکیبي توکي تقریباً یو شان دي، کله چې دا ترکیبي اجزاء د ارتقاء په لومړنیو مرحلو کې وي، نو دا ثقافت دی او کله چې په پرمختللې بڼه کې راشي نو بیا تهذیب شي.

۷. د ثقافت ترکیبي توکي په دا ډول دي: ټولنیز نظام، رسمونه رواجونه، مذهب، ژبه، فنون او ادب، طرز حکومت، معاشي نظام.

۸. د تهذیب ترکیبي توکي په دې ډول دي:کرکیله، تحریري نظام، د پېشو وېش، فنون او تعمیرات ، ښار، ټولنیزه ګروه بندي او نور. د تهذیب په ذیلي اجزاوو کې دا اجزا شامل دي: سکه، مواصلات، تحریري ژبه، عدالتي نظام، لرغوني آثار، ادب او د بیان انداز، د پیمایش نظام، فلکیات او نور.

حوالې

۱-سرہندی، وارث. (مولف)، قاموس مترادفات، لاہور، اردو سائنس بورڈ، طبع اول، اگست ۱۹۸٦، ۴۲۷ مخ.

[۲]- دہلوی، مولوی سید احمد. (مرتب)، فرہنگ آصفیہ (جلد اول، دوم)، لاہور، سنگ میل پبلیکیشنز، بار اول ۱۹۸٦، ٦۴۴ مخ.

[۳]- قلندر مومند، فرید صحرايي. (مولفين)، پښتو لغت درياب، پېښور، اېن - ډبليو - اېف - پي ټېکسټ بک بورډ، اول ایډیشن ۱۹۹۴، ۳۹۳ مخ.

[٤]-Ruan, Wei, Civilization and Culture, International Review of Social Sciences and Humanities, Vol. ١, No. ١ (٢٠١١), p.٤.available at www.irssh.com retrieved on ٥/٥/٢٠١٤.

[٥]-حسن،سبط. پاکستان میں تہذیب کا ارتقا، کراچی، مکتبہ دانیال، تیرہواں ایڈیشن ۲۰۰۹/۱۹۷۵، ۱۸ مخ.

[٦]-احمد،اشفاقاور محمد اکرم چغتائی.(مرتبین) فرہنگ اصطلاحات، (جلد اول) (اے تا ڈی) لاہور، اردو سائنس بورڈ، طبع اول مئی ۱۹۸۴، ۴۸۵ مخ.

[۷]-سبزواری، احمد. اصطلاحات عمرانیات، اسلام آباد، مقتدرہ قومی زبان، ۱۹۹۵، ۳۲ مخ.

[٨]-The Concise Oxford Dictionary of Current English Edited by J. B. Sykes, Oxford at the Clarendon Press, ١٩١١/١٩٨٥, p.١٧٠.

[٩]-Oxford Advanced Learner's Dictionary, ٢٠٠٢, p.٢١١.

[١٠]-Ruan, Wei, Civilization and Culture, International Review of Social Sciences and Humanities, Vol. ١, No. ١ (٢٠١١), .available at www.irssh.com retrieved on ٥/٥/٢٠١٤.٨p.

[١١]-Ibid., p.٨.

[١٢]-Ibid., p.٨.

[١٣]-Ibid., p.٩.

[١٤]-Ibid., p.١١.

[١٥]-Ibid., p.٢.

[١٦]-حسن،سبط. پاکستان میں تہذیب کا ارتقا، کراچی، مکتبہ دانیال، تیرہواں ایڈیشن ۲۰۰۹/۱۹۷۵، ۱۷ مخ.

[۱۷]-همدغه اثر، ۲۵ مخ.

[۱۸]-همدغه اثر، ۴۰ مخ.

[۱۹]-همدغه اثر، ۴۰-۴۴ مخونه.

[۲۰]-سرہندی، وارث. (مولف)، قاموس مترادفات، لاہور، اردو سائنس بورڈ، طبع اول، اگست ۱۹۸٦، ۴۱۴ مخ.

[۲۱]-نیر،مولوی محمد نیرالحسن.(مولف)، نوراللغات،(حصہ دوم)، مقبول اکیڈمی، ۱۹۸۸، ۲۲۹ مخ.

[۲۲]-قلندر مومند، فرید صحرايي. (مولفین)، پښتو لغت دریاب، پېښور، اېن ـ ډبلیو ـ اېف ـ پي ټېکسټ بک بورډ، اول ایډیشن ۱۹۹۴، ۳۷۲ مخ.

[۲۳]-انوارالحق، سید. اردو پشتو لغت، (جلد اول)، لاہور، مرکزی اردو بورڈ، مئی ۱۹۷۰، ٦۲۰ مخ.

[٢٤]-Haviland, William A., Harald E. L. Prins, Dana Walrath, Bunny Mcbride, Introduction to Anthropology, New Delhi, Cengage Learning Private Limited, ٢٠٠٧, p. ٢٧٧

[٢٥]-Ibi., p.٢٧٨

[۲٦]-فیروز سنز اردو انسائیکلوپیڈیا، لاہور، فیروز سنز لمیٹڈ، ۱۹٦۲/۱۹۸۴، ۳۵٦ مخ.

[۲۷]-احمد، اشفاق اور محمد اکرم چغتائی. (مرتبین) فرہنگ اصطلاحات، (جلد اول) (اے تا ڈی) لاہور، اردو سائنس بورڈ، طبع اول مئی ۱۹۸۴، ۴۸۵ مخ.

[۲۸]-سرہندی، وارث. (مولف)، قاموس مترادفات، لاہور، اردو سائنس بورڈ، طبع اول، اگست ۱۹۸٦، X مخ.

[۲۹]-قلندر مومند، فرید صحرايي. (مولفین)، پښتو لغت دریاب، پېښور، اېن ـ ډبلیو ـ اېف ـ پي ټېکسټ بک بورډ، اول ایډیشن ۱۹۹۴، ۴۳۱ مخ.

[۳۰]-فیروز اللّغات عربی اردو، لاہور، فیروز سنز لمیٹڈ، س ن، ٦۹مخ.

[۳۱]-بلیاوی، ابوالفضل مولانا عبدالحفیظ. مصباح اللغات مکمل عربی اردو ڈکشنری، کراچی، مدینہ پبلشنگ کمپنی، مارچ ۱۹۸۲، ۹۴مخ.

[٣٢]-Paul Geyer, Prof. Dr., On the Dialectics of Culture and Civilization in Critical Cultural Studies, p.٤, downloaded from www. Retrieved on ٥/٥/٢٠١٤

[۳۳]-سبزواری، احمد. اصطلاحات عمرانیات، اسلام آباد، مقتدره قومی زبان، ۱۹۹۵، ۴۲مخ.

[٣٤]-Oxford Advanced Learner’s Dictionary, ٢٠٠٢, p.٣٠٦

[۳۵]-جالبی، ډاکټر جمیل. پاکستانی کلچر، کراچی، نیشنل بک فاونډیشن، طبع ششم ۱۹۸۱/۱۹۹۷، ۴۴مخ.

[۳۶]-همدغه اثر، ۴۵مخ.

[۳۷]-همدغه اثر، ۴۵مخ.

[۳۸]-Haviland, William A., Harald E. L. Prins, Dana Walrath, Bunny Mcbride, Introduction to Anthropology, New Delhi, Cengage Learning Private Limited, ۲۰۰۷, p.۲۷۸

[۳۹]-جالبی، ډاکټر جمیل. پاکستانی کلچر، کراچی، نیشنل بک فاونډیشن، طبع ششم ۱۹۸۱/۱۹۹۷، ۴۶مخ.

[۴۰]-Haviland, William A., Harald E. L. Prins, Dana Walrath, Bunny Mcbride, Introduction to Anthropology, New Delhi, Cengage Learning Private Limited, ۲۰۰۷, p.۲۷۸

[۴۱]-جالبی، ډاکټر جمیل، پاکستانی کلچر، کراچی، نیشنل بک فاونډیشن، طبع ششم ۱۹۸۱/۱۹۹۷، ۴۷مخ.

[۴۲]-همدغه اثر، ۴۶مخ.

[۴۳]-همدغه اثر، ۴۷مخ.

[۴۴]-همدغه اثر، ۴۹مخ.

[۴۵]-همدغه اثر، ۴۱مخ.

[۴۶]-همدغه اثر، ۴۲مخ.

[۴۷]-Ruan, Wei, Civilization and Culture, International Review of Social Sciences and Humanities, Vol. ۱, No. ۱ (۲۰۱۱), .available at www.irssh.com retrieved on ۵/۵/۲۰۱۴.۱p.

[۴۸]-Ibid., p.۴

[۴۹]-Ibid., p.۵

[۵۰]-Ibid., p.۵

[۵۱]-Ibid., pp. ۵،۶

[۵۲]-Ibid., p.۶

[۵۳]-Paul Geyer, Prof. Dr., On the Dialectics of Culture and Civilization in Critical Cultural Studies, p.۴, downloaded from www.romanistik.uni-bonn.de Retrieved on ۵/۵/۲۰۱۴

[۵۴]-Ibid., p.۳

[۵۵]-جالبی، ڈاکٹر جمیل. پاکستانی کلچر، کراچی، نیشنل بک فاونڈیشن، طبع ششم ۱۹۹۷/۱۹۸۱، ۴۲مخ.

[۵۶]-همدغه اثر، ۴۲مخ.

[۵۷]-Ruan, Wei, Civilization and Culture, International Review of Social Sciences and Humanities, Vol. ۱, No. ۱ (۲۰۱۱), p.۷.available at www.irssh.com retrieved on ۵/۵/۲۰۱٤.

دویم باب

پسمنظري مطالعه (Literature Review)

په مجموعي توګه د سوات پر پښتو ادب او ثقافت هېڅ ډول تحقیقي کار موجود نه دی، خو د موضوع په ځینو اړخونو، یعنې د موضوع په جزیاتو په اردو، پښتو، انګرېزي او نورو ژبو کې څه نه څه لیکل شوي دي. دا موضوع که مونږ په جزیاتو ووېشو، نو دوه لویې برخې به په نظر راشي، یعنې د سوات پښتو ادب او د سوات ثقافت.

دلته به اوس د هغو موادو جائزه اخلو چې د سوات د پښتو ادب په باره یا د سوات د تهذیب او ثقافت په باره کې وي. دا مواد هم دوه قسمه دي، یو د سوات ادبي تاریخونه او تذکرې یا د سوات له ادب سره تړلې مقالې دي او دویم قسمه کتابونه او مواد د تاریخي نوعیت دي. له دې دویم قسم موادو څخه د سوات تاریخ، تهذیب او ثقافت په ډاګه کېږي. اوس به لومړی دلته د سوات د ادبي تاریخونو، تذکرو، تحریري مشاعرو او له دې سره د تړلو مقالو جایزه واخلو او بیا به د سوات د تاریخي کتابونو تجزیه وکړو.

د سوات د زړو شاعرانو د ژوند او کلام په باره کې معلومات مونږ ته د رحیم شاه رحیم له یوې تذکرې "غټه خزانه" څخه په لاس راځي. دا تذکره اول ناچاپ وه او په ۲۰۱۵م کال کې چاپ شوې ده. د سوات په ادبي تذکرو کې "واورینې څوکې" یوه مهمه تذکره ده، دا تذکره هم رحیم شاه رحیم لیکلې او په ۱۹۸۶م کال کې چاپ شوې ده. په دې تذکره کې اکثر د هغو شاعرانو او لیکوالانو ذکر موندل کېږي، چې په هغه وخت کې ژوندي وو. د یو څو داسې شاعرانو ذکر پکې هم شته چې په هغه وخت کې وفات شوي وو، خو ډېر شاعران او لیکوالان داسې هم وو چې په هغه وخت کې ژوندي وو، خو د هغوی ذکر پکې نشته. په

۱۹۹۹م کې اختر ملک او رحیم سید خان د "لعلونه" په نوم یوه لنډه شان تذکره چاپ کړې، چې د بر سوات د اکثرو شاعرانو پېژندګلو او د کلام نمونې پکې مو جودې دي. د بریکوټ ادبي ټولنې "د ایلم ګلونه" په نوم یوه تذکره چاپ کړې، چې د سوات د بریکوټ تحصیل د اکثرو لیکوالانو لنډه پېژندګلو او د کلام نمونې پکې شاملې دي. دا تذکره په ۲۰۰۴م کال کې چاپ شوې ده. په ۲۰۱۰م کې "د یوسفزو ګلونه" په نوم یوه مختصره تذکره د "یوسفزی پښتو ادبي ټولنه" دېولی له خوا چاپ شوې ده. په دې تذکره کې له دېولی سیمې او له دغې ټولنې سره د تعلق لرونکو شاعرانو پېژندګلو او د کلام نمونې راغلې دي. له دې علاوه په خلیجي ملکونو کې هم د پښتو ځینې تذکرې لیکل شوي، چې ځینې پکې د سوات لیکوالانو مرتّب کړي دي، دا ډول تذکرې هم د سوات د شاعرانو او لیکوالانو ذکر لري. په دې قسم تذکرو کې د سوات د مهرونېش خان صدیقي تذکره "د صحرا کاروان" او د سوات د محمد ګل منصور مرتّب کړې تذکره "زما د لرې وطن یاره" او د پښتو ادبي غورځنګ سعودي عرب الرّیاض تذکره "د صحرا ونه" شاملې دي. د قاضي عبدالحلیم اثر افغاني په تذکره "تېر هېر شاعران" کې هم د سوات د محمد شریف، حسین، خیري، حمیدالله او ځینو نورو شاعرانو ذکر را غلی دی.

په ریاستي دور کې چې په سوات کې کومې مشاعرې کېدلې هغوی ته به یې جهانزیبي مشاعرې ویلې. دا مشاعرې به د جون پر پینځم او د دسمبر پر دولسم کېدلې. د جون پینځمه د سوات د والي میاګل محمد عبدالحق جهانزېب د زېږېدو ورځ وه او د ۱۹۴۹م کال د دسمبر پر دولسمه نېټه د هغه تاجپوشي شوې وه. دا مشاعرې به چاپېدې او د هغه وخت د ډېرو شاعرانو د کلامونو نمونې مونږ ته له دغو جهانزیبي مشاعرو څخه په لاس راځي. په دغو مشاعرو کې یو څو مشاعرې دا دي: "جهانزیبي مشاعره ۱۲ دسمبر ۱۹۵۴"، "جهانزیبي مشاعره ۵ جون ۱۹٦۵" ، "جهانزیبي مشاعره ۵ جون ۱۹٦۸ " او نورې. په جهانزیبي مشاعرو کې د شاعرانو د کلام رنګ سره له دې چې درباري دی او د حکمران صفتونه یې کړي، خو له دې پرته دا ډېر مهم او تاریخي دستاویزي حیثیت هم لري، ځکه چې د ډېرو شاعرانو ذکر مونږ ته صرف په دغو مشاعرو کې په لاس راځي. له جهانزیبي مشاعرو علاوه ځینې نورې داسې مهمې مشاعرې هم چاپ شوي، چې د سوات د ادبي تاریخ پوره حصه یې خوندي کړې ده. په دا ډول مشاعرو کې اهمه مشاعره د حافظ الپوری د مزار مشاعره ده. دا مشاعره د سوات پښتو ادبي ټولنې تر سبوري لاندې د حافظ

الپوري پر مزار د ۱۹۷٦م کال د مې پر ۲۴مه نېټه شوې وه او د سوات د ګڼو شاعرانو د کلام نمونې پکې موندل کېږي. له دې علاوه حلیم سرحدي او فیضان سوات د سوات پښتو ادبي ټولنې تر سېوري لاندې وړې وړې مشاعرې چاپ کړي، لکه د شاه فیصل مشاعره، د واده مشاعره او نورې. په دې وړو وړو مشاعرو کې هم د داسې شاعرانو ذکر او د کلام نمونې خوندي دي، چې بل هېڅ ځای کې په لاس نه راځي.

له دې ادبي تاریخونو، تذکرو او مشاعرو څخه علاوه، د سوات د پښتو ادب متعلق، د مختلفو لیکوالانو مقالې او مضمونونه هم په مختلفو کتابونو او رسالو کې چاپ شوي دي. سحر یوسفزي د جهانزېب کالج په "ایلم" رساله کې یو مضمون "د سوات د شاعرۍ روایت" تر سرلیک لاندې لیکلی دی. دا مضمون د ایلم د ۱۹۵۹م کال د دسمبر په ګڼه کې چاپ شوی دی. د سوات د پښتو ادب په اړه له ټولو ډېر تحقیقي کار رحیم شاه رحیم کړی دی. هغه وخت په وخت د پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ په "پښتو" رساله کې د سوات د ګڼ شمېر زړو شاعرانو او لیکوالانو په باره کې تحقیقي مضمونونه او مقالې چاپ کړي دي. د رحیم شاه رحیم په دغو مقالو کې یو څو مهمې مقالې چې د پېښور یونیورسټۍ د پښتو اکېډمۍ په "پښتو" رساله کې چاپ شوي، دا دي:

د سوات ورک شاعران (دویم ټوک)، جلد:۱۲، شماره: ۵(جولایی: ۱۹۸۰) په دې مقاله کې د سوات د یو عوامي شاعر خیري ذکر شوی دی، د خېري ذکر عبدالحلیم اثر افغاني په "تېر هېر شاعران" کې هم کړی دی.له ده علاوه په دې مقاله کې د عبدالصّمد حافظ الپوري پر ژوند او شاعرۍ هم بحث شوی دی. د سوات ورک شاعران (درېیم ټوک) جلد:۱۲،شماره:٦(جولایی: ۱۹۸۰)، په دې مقاله کې د سوات پر یو مشهور شاعر احمد دین طالب باندې تفصیلي او ډېر معلوماتي لیکل شوي دي. د سوات ورک شاعران (څلورم ټوک) جلد: ۱۲،شماره:۷ (اګست:۱۹۸۰) په دې مقله کې د میاکریم داد، میا عبدالحلیم او مصطفٰی محمد پر ژوند او شاعرۍ خبرې شوي دي. د سوات ورک شاعران (پینځم ټوک) جلد: ۱۲،شماره: ۹(اکتوبر: ۱۹۸۰) په دې مقاله کې د اخون درویزه د مکتب له درېو شاعرانو میا عبدالسّلام، میا عبدل، میا قاسم علاوه په دوه نورو شاعرانو میرا او قلندر باندې هم تحقیقي لیک شوی دی. د سوات ورک شاعران (شپږم ټوک) جلد:۱۲، شماره:۱۱ (دسمبر:۱۹۸۰) په دې مقاله کې د سوات د شلمې پېړۍ د ورومبي دور د یو صاحب کتاب شاعر دوست محمد خان دوستي پر ژوند او فن خبرې شوي دي. د سوات ورک

شاعران (اووم ټوک)، جلد: ۱۲،شماره:۱۲(جنوري: ۱۹۸۰) د سید عثمان طالب، قاضي دا دا ګل او قاضي مصطفٰی جان د ژوند او شاعرۍ په اړه ذکر په دې مقاله کې شوی دی. د سوات ورک شاعران (اووم ټوک) جلد:۱۳،شماره:۹(اکتوبر: ۱۹۸۱) دا مقاله د سوات د دوو مهمو شاعرانو قاضي مصطفٰی جان او محمد اکبر ذکر لري. محمد اکبر صاحب دیوان شاعر دی چې د ده دیوان په وړومبي ځل محمد نواز طائر په برټش میوزیم کې لیدلی دی. د ده زمانه د ۱۸٦۲-۱۷۸۹م خوا و شا ده. د محمد اکبر پر ژوند رحیم شاه رحیم یوه بله مقاله "محمد اکبر څوک وو؟"تر سرلیک لاندې لیکلې، چې په پښتو رساله کې په جلد: ۹، شماره:۸ (ستمبر: ۱۹۷۷)کې چاپ شوې ده. د سوات د پښتو ادب په اړه د رحیم شاه رحیم یو څو نورې مقالې دا دي: سید حسین، جلد: ۱۸،شماره:۸ (ستمبر: ۱۹۸٦)، شفاهـي قیصې، جلد:۱۰، ږشماره:۱ (فروري:۱۹۷۸)، شفاهـي قیصې، جلد:۱۰، شماره:٦ (مئ:۱۹۷۸)، د کانجو میاکریم داد، جلد: ۱۰،شماره: ۴(مئ:۱۹۷۸) ، د سوات ادیب تاج محمد خان زېب سر، جلد: ۱۰،شماره:۱۱،۱۰ (نومبر،دسمبر: ۱۹۷۸)، د سیدو غوث په وخت کې د سوات معاشرتي او سیاسي حالات،جلد: ۱۳،شماره:۲،۱(فروري، مارچ ۱۹۸۲). لکه څنګه چې مخکې ذکر شو چې محمد نواز طائر د محمد اکبر دیوان په برټش میوزیم کې موندلی دی، هغه پر دیوان اکبر باندې یوه مقاله لیکلې چې د "پښتو" په جلد: ۹،شماره:۲،۱، (فروري، مارچ: ۱۹۷۷)کې چاپ شوې ده. له دې علاوه د سوات د پښتو ادب په باره کې په "پښتو" او نورو رسالو کې محمد پروېش شاهین، فضل الرّحمان فیضان، عزیز سهېل، نذیر سواتي، عجب دین خټک، محمد نواز خټک او ځینو نورو خلکو هم په څه نه څه حواله لیکل کړي دي. دلته د سوات د پښتو ادب په حواله د شوي کار مختصر ذکر وشو، اوس به د سوات د تاریخ متعلق د کتابو نو لنډه جایزه اخلو؛ ځکه چې په دغو کتابو نو کې د سوات د تهذیب او ثقافت په حواله ډېر څه موندل کېدای شي.په دې کې به لومړی د هغو کتابونو جایزه واخلو، چې په پښتو ژبه لیکل شوي دي."سوات نامه": خوشحال خان خټک، خوشحال خان خټک په ۱۰۸٦ هجري (۱٦۷۵ء) کې سوات ته راغلی و، نو هغه د سوات د هغه وخت تاریخي، ټولنیز، مذهبي او ثقافتي حالات په خپله منظومه سفرنامه کې بیان کړي دي. دا د هغه وخت د سوات پر حالاتو یو مهم کتاب دی، خو چونکې هغه د سوات له خلکو څخ خفه تلی و، نو ځینې خبرې بې مبالغه لري؛ ځکه خو رحیم شاه رحیم

د خوشحال خان خټک د سوات نامې په جواب کې "سوات نامه جواب نامه" وليکله او په ډېر وضاحت سره يې د هغو مبالغو او مغالطو جواب او رڼاوی وکړ.

"تواريخ حافظ رحمت خاني" چې پير معظم شاه ليکلی دی، په دې کتاب کې سوات ته د يوسفزو د راتگ او په هغه وخت کې د هغوی د ژوند ژواک متعلق ډېر معلومات دي. له دې امله چې دا کتاب هغه وخت ته نژدې ليکل شوی، نو ځکه يې ډېر معلومات داسې دي چې په نورو کتابونو کې نه پيداکېږي. دا کتاب په فارسي او پښتو کې گډوډ ليکل شوی دی. د دې کتاب اولنی مصنف خواجو مليزی دی او د دې کتاب اولنی نوم"تواريخ افاغنه" دی. خواجو مليزی د خان کجو مصاحب و او د هغه له مرگ وروسته يې دا کتاب د هغه په نوم منسوب کړ. بيا وروسته حافظ رحمت خان ته دا کتاب د شاه جهان پور د نواب خان بهادر خان غوريا خېل داودزي له کتاب خانې نه مېلاو شو او د پير سباک، پيرمعظم شاه په ۱۱۸۱ هـ (۱۷٦۷ء)کې د دې کتاب تاليف او تلخيص وکړ.

"تاريخِ رياستِ سوات" د سيد عبدالغفور قاسمي، د رياست سوات پر تاريخ باندې په پښتو کې دا وړومبی کتاب دی. دا کتاب په ۱۹۳۹م کال کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د سوات او د پښتنو له تاريخ علاوه د سوات د خلکو د ژوند ژواک ځينې خبرې موندل کېدای شي؛ تر ۱۹۳۹م پورې د رياست سوات په حواله پکې هم کافي معلومات درج دي. "عروج افغان "دوه جلدونه د تاج محمد خان زېب سر، دا دواړه جلدونه د سوات او د پښتنو منظوم تاريخ دی. پر وړومبي جلد يې۱۳٦۰م کال ليکل شوی او پر دويم جلد باندې يې ۱۳٦۱هجري کال ليکل شوی، چې له۱۹۴۱ عيسوي کال سره برابر دی. "تاريخ رياست سوات و سوانح حيات بانی رياست سوات حضرت مياگل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب "د محمد اصف خان، دا کتاب په۱۹۵۸ م کال کې چاپ شوی او لکه ښنگه چې يې له نوم نه ظاهره ده، دا د ميا گل عبدالودود سوانح دي چې محمد اصف خان ته يې ويلي دي. د رياست سوات پر تاريخ په پښتو کې دا هم ډېر اهم کتاب دی. په دې کتاب کې هم د سوات د خلکو د ژوند د دود دستور په حواله ډېر معلومات دي، خو چونکې د بادشاه خپل سوانح دي، نو په ځينو خبرو کې پکې مبالغې شوې دي. "نوی سوات او شاه جهانزېب" څلور جلدونه د تاج محمد خان زېب سر ليکلی کتاب دی. د دې کتاب وړومبی جلد په ۱۳۷۵ هجري کې تاليف شوی او د کتابت تاريخ پرې ۱۹۷۴-۵-۱٦ ليکل شوی دی. پر دويم جلد باندې د تاليف تاريخ هم ۱۳۷۵هجري ليکل شوی او د

کتابت تاریخ پرې ۱۹۷۴-۵-۱۷درج دی. د دریېیم جلد نوم "نوی سوات او د شاه جهانزېب زمانه" دی. د کتاب پر تندي يې مخامخ ۱۹۵۷ ليکلي، خو په اخر کې يې د کتاب د مکمل کېدو تاريخ ۱۳۸۰ هجري ليکلی، چې له۱۹٦۰ عيسوي سره برابر دی. پر څلورم جلد له پاسه دا ليکل شوي دي " نوی سوات څلورم جلد د رياست د انضمام اعلان ۲۸ جولائي ۱۹٦۹". د دې کتاب کتابت فضل الرحمان فيضان کړی دی، د کتابت تاريخ پرې ۱۴ اپرېل ۱۹۷۹ ليکل شوی دی."سوات د تاريخ په رڼا کې": عبدالحليم اثر افغاني، دا کتاب د ۱۹٦۱م کال په دسمبر کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې دسوات پر وجه تسميه، په سوات کې د مختلفو تهذيبونو او د سوات پر اثار قديمه بحث شوی دی. "سوات "د نصرالله خان نصر، دا کتاب په ۱۹٦۳م کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د سوات په محل وقوع، قدرتي تقسيم، د چيني سيلانيانو سوات ته راتګ، پښتانه او محمود غزنوي، د شيخ ملي وېش، بايزيد انصاري، د سيدو غوث او د سوات پر نورو مذهبي او سياسي شخصياتو او د رياست پر ترقۍ بحث شوی دی. "د رياست سوات تاريخي او ترقياتي جائزه": ډاکټر عنايت الله. دا ورکوټی کتاب دی چې په ۱۹٦۷م کې چاپ دی. په دې کتاب کې د سوات له لنډ تاريخ علاوه د رياست سوات د مختلفو محکمو د ترقۍ اعداد و شمار ورکړی شوي دي. "تاريخ رياست سوات" سرنزېب خان سواتي، دا کتاب په ۱۹۸۴م کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د سوات د رياستي دور او د زوړ سوات تاريخ او نور معلومات شته،لکه د رياست سوات رقبه او ابادي، د يوسفزو تاريخ، د سوات د مذهبي او قبايلي مشرانو ذکر او نور پکې شوی دی."اخون صاحب سوات" : نصرالله خان نصر، دا کتاب د سيدو بابا د ژوند په اړه زيات معلومات لري، د هغه وخت د سوات ټولنيزحالات، د سيدو بابا د جنګونو او د دغو جنګونو په باره کې ليکل شوې چاربېټې او داسې نور معلومات له دې کتاب څخه په لاس راځي. په وړومبي ځل دا کتاب په ۱۹۵۰م کې چاپ شوی دی."ميلينئېم او کرزما د سوات په پښتنو کې": ليک د ډاکټر اکبر اېس احمد، پښتو ترجمه د سيد تقويم الحق کاکا خېل. په دې کتاب کې د سوات پر تاريخ، په سوات کې د يوسفزو پر تاريخ او د سوات د خلکو د ژوند ژواک په ډېرو اړخونو رڼا اچول شوې ده. دا پښتو ترجمه په ۱۹۷۸م کال کې چاپ شوې ده. له دې علاوه "مياشتينۍ مجلّه پښتو" د سوات بابا جي نمبر: فروري، مارچ: ۱۹۸۲، دا خصو صي ګڼه د اخون عبدالغفور سيدو بابا متعلق ده. په دغه تناظر کې په دې ګڼه کې له ډېرو مقالو څخه د سيدو بابا د زمانې حالات او د خلکو د ژوند ژواک پته لګي.

مولوي نور محمد شاه عرف غوبه جان يو لنډ "منظوم تاریخ سوات" په ۱۹۹۴م کې ليکلی دی. "د سوات گلونه": محمد پروېش شاهين، په وړومبي ځل دا کتاب د۱۹۸۸ م کال په جولايي کې چاپ شوی دی. په دې کې مختلفې مقالې شاملې دي، لکه د سوات سين، سکندر اعظم په سوات کې، سکندر او روښانه، محمود غزنوي په سوات کې، شيخ ملي اعظم، د بي بي مبارکې واده، ببربل په سوات کې، خوشحال او سوات نامه او نور. په تاريخي لحاظ دا کتاب تېروتنې لري خو له ادبي حيثيت څخه يې انکار نه شي کېدی. "سوات د سردرو وطن": محمد پروېش شاهين، دا کتاب په ۱۹۹۳م کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې پر دغو سرليکونو بحث شوی دی، سوات ـ پرون: اريا، ايرانيان، يونانيان، هندوان، بدهيان، يهوديان، مسلمانان، يوسفزي، خوشحال خان، سر اورل ستائن، اب و هوا، د سوات سين پيرزونه، د سوات پوزيشن، له سوات نه بهر پوزيشن، غزاگانې، سوات او اسلام، د سوات علمي مقام، صحافتي او ادبي مقام، سرکاري ژبه، وړومبی باچاهي، د سوات قبيلې، وېش، خوراکونه، ارت، ثقافتي مېلې، لوبې، ابادياني او طرز تعمير، بين الاقوامي حيثيت،کانونه، سوما وطن، شات، ډنډونه، دودونه دستورونه، چرگ اگی او ځاوري، ځنگلي ځناور او مرغی، ځېلې بوټي، خاص لرگي او پيداوار، اثار قديمه، ډېرليکونه ـسوات ـ نن : سين، اورونه او ښکارونه، د سوات ښارونه، سړکونه، زړې ابادی، د کلو نومونه، سيلانيان او د سيل ځايونه، ولسي ورثه، فن او فنکار، اثار قديمه ـسوات ـ سبا : سيلانيان، سوانه، چرند پرند، ښکار، سين، يادگارونه، سوئي گېس، پوهنتون وغېره. دا کتاب د سوات په تهذيب او ثقافت کافي معلومات لري. "گل ورينې څوکې": محمد پروېش شاهين، دا کتاب په ۱۹۸۹م کې چاپ شوی دی. د سوات د تهذيب او ثقافت په حواله لږ ډېر معلومات لري او دا مقالې پکې شاملې دي: پښتو، بدهـ مت او پښتونخوا، ايلم د تاريخ په رڼا کې، جونو سر، د سوات وړومبی جماعت، ملاکنډ، د امبېلی غزا، د رېښمو لار، صحافت په سوات کې. د دې کتاب وروستی مقاله "صحافت په سوات کې" د سوات د ادبي صحافت په حواله کافي معلومات لري.

په اردو کې چې د سوات پر تاريخ، تهذيب او ثقافت کوم کتابونه ليکل شوي اوس به د هغوی مختصره جايزه واخلو: "ہدیہ ودودیہ": سيد عبدالغفور قاسمي، دا کتاب په ۱۹۳۶م کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د يوسفزو د تاريخ او د رياست سوات د تعمير او ترقی ذکر شوی دی. "رواجنامہ سوات": غلام حبيب خان، دا کتاب په اصل کې د رياست

سوات د قوانینو مجموعه ده. دا کتاب د غلام حبیب خان سپرنټنډنټ دفتر ډپټي کمشنر سوات تالیف دی. په وړومبي ځل د دې کتاب کتابت فضل الرّحمان فیضان کړی دی. د کتابت تاریخ پرې د۱۹۷۳م کال د د سمبر ۳مه درج ده."ریاست سوات اور اس کا حکمران میری ماضی اور حال کی آئینہ میں: شاکر بونیري، پر دې کتاب اگر چې د اشاعت تاریخ نه دی لیکل شوی، خو د کتاب له متن او واقعاتو څخه پته لګي چې دا کتاب د ریاست سوات په دور کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې له ریاستي دور څخه مخکې د پښتو د دور او د ریاستي دور لنډه شان موازنه شوې ده. سوات سماجی جغرافیہ قبایلیت اور جدیدیت کی درمیان: مصنفین: ډاکټر انعام الرّحیم، ایلن ویارو، ترجمه فضل معبود، دا کتاب هم د سوات د تاریخ او سماج متعلق معلومات لري. په ۲۰۰۵ م کې دا کتاب په اردو کې له انګرېزۍ څخه ترجمه شوی دی. انسانی حقوق اور ریاست سوات کا حکمران: اختر علي، دا کتاب په ۱۹٦۳م کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د سوات د مهمو ځایونو له ذکر علاوه د ریاست سوات د مختلفو محکمو د ترقۍ ذکر شوی دی. تعارف سوات: شېر افضل خان بریکوټي، دا کتاب په ۱۹۵۵م کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د سوات له تاریخ علاوه د ریاست سوات د کارکردګۍ ستاینه شوې ده.له دغو کتابونو علاوه د سوات ذکر په نورو کتابونو کې هم شوی، لکه مشرق کا سویټزرلینډ وادی سوات د محمد پروېش شاهین، سیر صوات د حکیم حاجي محمد یوسف،کافرستان د محمود دانشور او نور.

د سوات د تاریخ، تهذیب او ثقافت په حواله په انګرېزۍ ژبه کې هم ډېر کتابونه او مقالې لیکل شوي، چې ځینې مهم کتابونه او مقالې پکې دا دي:

Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger په دې کتاب کې د سوات له تاریخ علاوه یو باب د Socio-Cultural Dimensions په نوم شامل دی. په دې باب کې د سوات د تهذیب او ثقافت په اړه په زړه پورې معلومات موجود دي ـSocial Organization of Yusufzai Swat دا کتاب مخدوم تصدّق احمد لیکلی او په ۱۹٦۲م کې چاپ شوی دی. د سوات پر تهذیب او ثقافت باندې دا بهترین کتاب دی. د نورو کتابونو په نسبت د دې کتاب یو خصوصیت دا دی چې په دې کتاب کې د ریاستي دور او د پښتو د زمانې د سوات د حالاتو موازنه شوې او په دې دواړو دورونو کې چې د سوات د ټولنې او د خلکو د ژوند په کوم اړخ کې هم څه بدلون راغلی، هغه یې په ډاګه

کړې دی. ـA General Report on the Yusufzais دا کتـاب بيليـو ليکلـی او پـه وړومبـي ځل په ۱۸٦۴م کې چاپ شوی دی. له رياستي دور وړاندې د سوات پـه تـاريخ وغيـره ډېـر کم کتابونه ليکل شوي دي. په دې وجه په کومو کتابونو کې چې د هغه وخت حالات ليکل شوي وي، نو هغه کتابونه د ډېر اهميت وړ دي، په دغه وجه دا کتاب هم يو مهم کتاب دی. د دې کتاب په پيـنځم بـاب Government and Customs کـې د يوسـفزو پـر ثقافـت ډېـر معلومات موجـود دي. د ای. ايـچ ميـک مـوهن اوای.ډي. جـی رمزيکتـاب ,Tribes of Dir Swat and Bajour together with UtmanKhel and Sam Ranizai هم ډېر مهم کتـاب دی. د دې کتاب پښتو ترجمه ډاکټر خالق زيار د "دا خاوره او دا خلک" په نامه کړې ده. د سـوات د تهـذيب او ثقافـت پـه اړه د ډاکټـر اکـبر ايـس احمـد کتـاب Millinium and Charisma among Swat Pathans هم کافي مواد لري. دا کتاب هم په پښتو کې ترجمـه شـوی دی. فريـډرک بارتهـPolitical Leadership among Swat Pathans نـومې کتـاب ليکلی دی، چې د سوات پر تاريخ، تهذيب او ثقافت دا هم يو ښـه کتـاب دی. دا کتـاب پـه وړومبـي ځـل پـه ۱۹۵۹م کـې چاپ شـوی دی ـMonograph on Swat state دا کتـاب W.R.Hay پـه ۱۹۳۴م کـې چـاپ کـړی دی. دا کتـاب د رياسـت سـوات پـه حوالـه کـافي معلومات لري. An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸٦۲) د مېجر راورټي دا مقاله په ۱۸٦۲م کې چاپ شوې ده . لکه څنګه چـې مخکـې وويـل شـول، چې په دغه دور کې د سوات متعلق مواد لږ په لاس راځي همدغه وجه ده چې دا مقاله ډېر د قدر وړ معلومات لري په دې. د مېجر راورټي په دې مقالـه کـې زيـات معلومـات او خـبرې داسې دي چې په نورو ماخذونو کې نشته نو ځکـه دا مقالـه ډېـر اهميـت لـري ـ The Last Wali of Swat د والي سوات سوانح دي، چې فرېډرک بارتهـ تـه يـې ويلـی او هغـه لـيکلي دي. د رياست سوات په باره کـې تـرې ډېـر معلومـات حاصـلېدی شي ـ The North-West Frontier (KhyberPakhtunkhwa)Essays on Historyدا کتـاب ډاکټـر سـلطان روم ليکلی دی. د دې کتاب په درېـيم بـاب کـې پـه پښـتو او پښـتونولی تفصـيلي بحـث شـوی دی.له دې څخه د سوات د تهذيب او ثقافت په باره کې هم ډېر څه په لاس راځي.

له دې علاوه د سوات په باره کې په نورو ډېرو کتابونو او مقالو کې هم څه نه څه معلومات شته، خو د سوات پر تاریخ، تهذیب او ثقافت باندې مهم کتابونه همدا وو، چې دلته یې ذکر وشو. د پورتنیو ذکر شوو موادو له تجزیې وروسته دا خبره معلومه شوه چې په مجموعي توګه "د سوات د پښتو ادب تهذیبي او ثقافتي تجزیه " تر اوسه چا نه ده کړې او دا بالکل یوه نوې موضوع ده چې څېړلو ته اړتیا لري.

دریم باب

د سوات لنډ تاریخ

د سوات مختلف نومونه

د تاریخ په کتابونو کې سوات په مختلفو وختونو کې په بېلا بېلو نومونو یاد شوی او د هـر نوم څه نه څه معنٰی هم ښودل شوې ده. په تاریخي دستاویزاتو کې له ټولو لومړی د سوات ذکر یو یوناني تاریخپوه آریان [۲](Arrian) کړی دی.[۱] فاهیان په خپله سفرنامه کې سوات د Su-hu-to په نوم یاد کړی دی.[۲] د چین یو بل سیلاني سوات د u-changna او udyana په نوم یاد کړی دی.[۳]د ادهیانه معنی باغ ده او سوات ته د سوات د ښایست په وجه باغ ویل شوي دي. مغلي تاریخپوهانو دا سیمه د سواد په نوم یاده کړې ده، لکه په ائین اکبري او تزک بابري کې ورته سواد ویل شوي دي.[٤] په رګ وېد کې د سوات سیند د سواستو[٥] سوتي[٦] او سویتي[٧] په نوم ذکر شوی دی.[٨] د هندوستان ځینو تاریخپوهانو سوات، صوات لیکلی دی.[۹]په عام طور سره په انګرېزیکېSwat لیکل کېږي، خو مېجر راورټي Suwat لیکلی دی.[۱۰] کله چې په ۱۹۱۵م کې د سوات ریاست رامنځته شو، نو دغه وخت دا ریاست په سرکاري توګه په مختلفو نومونو یاد شوی، لکه یوسفزی ریاست سوات[۱۱] او حکومت خداداد یوسفزی سوات.[۱۲] چونکې په دې ریاست کې یوسفزي ډېر اباد وو، نو ځکه ریاست ته د دوی په نوم نوم ورکړل شو،[۱۳] خو دا خبره هم امکان لري چې باچا صیب به د خپلو سیاسي مصلحتونو پر بنیاد دا نوم اینښی وي. په ریاست کې د کوهستان هغه سیمې هم شاملې وې، چې اوسېدونکي یې پښتانه، نه وو، نو ځکه د ریاست نوم ریاست سوات و

[۲]-Arrian of Nicomedia (c. ۸٦/۸۹ – c. after ۱٤٦/۱٦۰ AD. He is considered the best source on the campaigns of Alexander the Great.

متعلقات کېښودل شو.[١٤]له پورتنیو نومونو علاوه دا سیمه د سوات په نوم یاده او مشهوره ده. د دې نوم په باره کې مختلفو پوهانو خپلې رایې ورکړې دي. نواز طائر وایي چې سوات په سنسکرت ژبه کې یو نېکمرغه ستوري ته وایي او دا په هندي علم نجوم کې په دیارلسم او پینځلسم برج پورې منسوب دی.[١٥] کله چې برتانوي حکومت د ۱۹۲۶م کال د مې پر۳مه سوات د یو ازاد ریاست په حیث ومنلو، نو د دې ریاست سرکاري نوم ریاست سوات شو.[١٦]کله چې په سوات کې بدهـ مت په عروج باندې و، نو هغه وخت د سوات نوم ادهیانه و او لکه څنګه چې مخکې وویل شول چې د ادهیانه معنی باغ ده او دا نوم په صحیح توګه د هغه معنی عکاسي کوي، همدغه وجه ده چې د سوات تشبیهه اکثر له سویټزرلېنډ سره شوې ده.[١٧]د سکندراعظم د دور تاریخپوهانو سوات د سوات د سیند، یعنې سواستو په نوم یاد کړی دی. سواستو لفظ له سویټا څخه وتلی، چې معنی یې "سپین" ده. د دې وجه دا کېدی شي چې سوات ته دا نوم د سوات د سیند د سپینو اوبو په وجه ورکړل شوی وي.[١٨] څوک وایي چې سوات ته دا نوم د سواتیانو د قبایلي نوم په نسبت ورکړل شوی دی،[١٩]خو دا رایه صحیح ځکه نه ښکاري چې د تاریخ په اوږدو کې سواتي پښتانه د سواتیانو په نوم نه، بلکې په نورو مختلفو نومونو لکه دهګان وغیره باندې یاد شوي او چې کله سوات ته راغلي دي نو بیا په سواتیانو مشهور شوي دي. عبدالحلیم اثر افغاني لیکلي،چې سوات له دوو لفظونو، یعنې "سو" او "ات" څخه مرکب دی. "سو" د سریانی ژبې لفظ دی چې معنی یې لمر ده او "ات" زمکې ته وا یي، نو د سوات معنی شوه د لمر زمکه، یعنې هغه زمکه چې لمر ته یې نسبت کېږي. د دې دوه توضیحات کېدای شي، یو دا چې په هغه زمانه کې دلته د سورج دیوي عبادت کېده او یا د سوات زمکه د نورو کوهستاني علاقو په نسبت پراخه او کهولاو وه او د لمر رڼا پرې ښه لګېدلی شوه.[٢٠] د سوات د سیند د سواستو نوم په اړه اثر افغاني لیکي چې دا سیند په پخوانیو تاریخونو کې د Svati په نامه یاد شوی او میګاستس نومې مورخ په ۳۲۱ قبل المیلادکې دا سیند د سواتس په نوم یاد کړی دی او بطلیموس په ۱۵۰ قبل المیلاد کې دا سیند د سواستوس په نوم یاد کړی دی.[٢١] وکیل حکیمزی د سوات د نوم او معنی په اړه وایي چې د تاریخ په لنډو کې د سوات نوم سواد یا صواد راغلی دی. په دې حواله که وکتل شي نو سواد د زړې هندی ژبې لفظ دی او معنی یې ذایقه، خوشحالي او خوند رنګ ده، مطلب دا چې د خوندونو او د خوشحالو وطن. د ژبو د بدلون د اصولو پر بنسټ دال پر ت بدلېږي، چې له دې سرهله سواد څخه سوات جوړ

شوی دی.[۲۲] د سوات د وجې تسمیې په باره کې دا خبره هم کېږي چې سوات له اسود څخه دی او اسود په عربۍ کې تور ته وایي او د سوات شین، ګڼ او ګور ځنګل له لرې څخه د ډېر شین والي له وجې تور ښکارېږي، نو ځکه ورته اسود ویل کېږي.له دې علاوه دا هم ویل کېږي، چې سوات یا صوات د عربۍ له لفظ صوت څخه وتلی دی، چې معنی یې اواز ده ځکه چې دلته له غرونو څخه اوازونه راتمبېږي او یا د شپې په وخت په خاموشۍ کې د سوات د سیند اواز اورېدل کېږي. د سوات د نوم رېښې له عربي ژبې سره د لګولو دا توضیحات صحیح نه ښکاري، ځکه چې پر سوات مسلمانان حمله کوونکي عرب نه وو او نه هغوی په خپل روزمره ژوند کې عربي استعمالوله، بلکې هغه افغانان وو او خپله ژبه یې لرله،[۲۳] خو دلته دا خبره هم د پام وړ ده چې د محمود غزنوي په دور کې چې دلته کوم جماعت جوړ شوی و، نو د هغه جماعت تختۍ په عربي ژبه کې لیکل شوې ده.[۲٤] اګر چې د محمود غزنوي دغه لښکریان عربان نه، بلکې افغانان وو. محمد اختر هم وایي چې د لفظِ سوات ځېلې له عربي څخه راوتلي دي. هغه وایي چې د سواتي قبیلې خلک د سکندر ذوالقرنېن نسل دی او دا زاړه ایرانیان دي چې تاجک ورته ویل شوي دي.له اسلام وړاندې دا خلک زرتشت (ګبري) وو. له ساسانیانو وروسته په زابلستان د دوی حکو مت و او عربانو د سیستان او خراسان له فتح کولو وروسته دلته د ساساني دور د مالګزارۍ نظام خپل کړ او دغه وجه وه چې دا ګبري دهقانان او بادشاهان د عربي په اصطلاحاتو ښه پوه وو. د سامانیانو په دور کې دا خلک د بلخ، بدخشان او کونړ په علاقو کې اوسېدل او مسلمانان شوي وو. سلطان پکهل او سلطان بهرام چې کله لغمان، کونړ، ننګرهار، باجوړ، سوات، بونېر، اشنغر او د پکهلۍ په علاقو خور د ګبر په نامه یو مملکت جوړ کړ، نو د سوات د زرخېزۍ او قدرتي اوبه خور په وجه یې د دې علاقې لپاره د سواد اصطلاح استعمال کړه.[۲۵] په پخوانیو آثارو کې د سوات دوه نومونه ادهیانه او سواستو په نظر راځي. په یو نوي تحقیق کې ډاکټر عبد الرحمان د ادهیانه له معنی، یعنې باغ سره اختلاف لري. هغه وایي چې ادهیانه له Odis څخه وتلی لفظ دی او اوډېس د ګندهارا یوه شاهي قبیله وه، چې په Ora (اوډیګرام) کې اوسېدله. داسې معلومېږي چې دا د سوات یوه مهمه قبیله وه نو ځکه د سوات ټوله وادي د دوی په نوم، یعنې ادهیانه سره یاده شوې ده.[۲٦] ډاکټر محمد فاروق سواتی هم دا وایي چې پوهان اوس دا خبره کوي چې د ادهیانه معنی هغه ځای دی چرته چې ادهیان (Udiyan) اوسېدل.[۲۷]

د سوات محل وقوع او حدونه

د سوات پر محل وقوع او حدونو باندې له بحث کولو مخکې دا خبره په ډاګه کول ضروري دي چې د سوات په حدونو کې په انتظامي ډول اکثر بدلونونه راغلي دي. په انتظامي او سياسي وجوهاتو د سوات په حد بندۍ کې د بدلون په وجه مونږ سوات په دريوو دورونو کې وېشلی شو:

لومړی دور: د رياست له جوړېدو مخکې،

دويم دور: رياستي دور،

درېيم دور: د رياست سوات په پاکستان کې له ضم کېدو وروسته دور،

رياست سوات چې نه و جوړ شوی، نو د سوات خپل طبيعي زمکني حدونه وو او کله چې رياست جوړ شو، نو په ځينو علاقو د سوات او د ګاونډيو رياستونو جنجال جوړ شو، نو له دې وجې ځينې هغه علاقې چې د سوات طبيعي حصې وې له سوات څخه بېلې کړای شوې او نورو رياستونو ته حواله کړل شوې، نو ځکه له دغو برخو څخه د سوات نوم ختم کړی شو. بل طرف ته د رياست سوات حکمرانانو د رياست حدونه ځينو نورو داسې علاقو ته وغزول چې اول د وادي سوات حصې نه وې او له قبضه کولو وروسته پرې د رياست سوات نوم ولګېده. په دې حواله چې وکتل شي نو له طبيعي سوات څخه شمال طرف ته د اډينزۍ علاقه او مغرب طرف ته له لنډاکي څخه تر قلنګۍ پورې دا علاقې جدا کړل شوي دي. د اډينزۍ علاقه په ۱۹۲۲م کې د يوې معاهدې پر بنياد په دير رياست کې شامله شوه.[28] او له لنډاکي څخه تر قلنګۍ پورې دا علاقې د انګرېزانو تر کنټرول لاندې په مالاکنډ پروټېکټډ ايريا (مالاکنډ ايجنسي) کې راغلې،[29] خو بل طرف ته په رياست سوات کې د بونېر، کاناا، غوربند او د اباسين کوهستان علاقې شاملې کړل شوې چې د رياست حدونه ورسره ډېر پراخ کړل شول.[30] همدا ډول کله چې په ۱۹۶۹م کې د سوات رياست په پاکستان کې ضم کړی شو[31] نو په رياست سوات کې شاملو ټولو علاقو ته د يوې ضلعې درجه ورکړل شوه، چې بيا وروسته ترې په ۱۹۷٦م کې د اباسين کوهستان حصه جدا کړی شوه[32] او کوهستان ځانله جدا ضلع جوړه کړی شوه. په ۱۹۹۱م کې د بونېر علاقې له ضلع سوات څخه جدا کړل شوې او د بونېر په نوم يوه ضلع جوړه شوه.[33] او اخر ترېنه په ۱۹۹۵م کې د کاناا غوربند علاقې هم جدا کړل شوې او د شانګله په نوم يوه ضلع ترې جوړه شوه.[34] اوس هغه سيمې کومې چې د رياست له جوړېدو وړاندې د سوات په نوم

یادېدي د سوات په نوم په یوه ضلع مشتمل پاتې شوې، خو په دې ضلع سوات کې د وادي سوات هغه علاقې شاملې نه دي کومې چې د دیر ریاست او مالا کنډ ایجنسۍ ته ورکړل شوې وې، لکه څنګه چې ذکر شو چې د سوات په طبیعي حدونو او بریدونو کې وخت پر وخت بدلون راغلی، نو ځکه مونږ د سوات له نوم سره درې قسمه لاحقې لګولی شو، یعنې وادي سوات، ریاست سوات او ضلع سوات. وادي سوات د ریاست سوات له جوړېدو مخکې د سوات قدرتي حد بندي ته ویل کېږي. په ریاست سوات کې د ریاست ټولې علاقې راځي په کومو کې چې له وادي سوات سره هغه علاقې هم شاملې دي چې د ریاست حکمرانانو قبضه کړې وې او د ضلع سوات حدونه هم درې ځله بدل کړل شوي، یعنې اول ترې کوهستان بیا بونېر او بیا شانګله ضلعې جدا شوي او له ۱۹۹۵م څخه راپه دېخوا بیا د سوات په حدونو کې څه بدلون نه دی راغلی. اوس چې مونږ د سوات پر حد بندۍ بحث کوو، نو لومړی به د وادي سوات حدونه معلوموو.له چیني سېلانیانو وروسته چې کوم مهم سړی سوات ته راغلی او د سوات پر حدونو یې بحث کړی، نو هغه خوشحال خان خټک دی. هغه د سوات د سرحدونو په باره کې داسې ویلي دي:

و شـــــمال و تــــــه یـــــــی غـــــــر بلورســــــتان دی
شرق کشـــــمیر، غـــــرب یـــــی کابـــــل او بدخشـــــان دی[۳۵]
د چــــــترال سر حــــــد د ســــــوات سره قریــــــب دی
غـــــر او ســـــم یـــــې ابـــــادان جریـــــب جریـــــب دی[۳۶]
و چــــــترال و تــــــه یـــــــی لار د کوهســـــتان ځـــــي
تـــــر چترالـــــه پـــــه پینځـــــه ورځـــــې کـــــاروان ځـــــي[۳۷]
بلــــــه لار چـــــې د پــــــټن ځـــــي تـــــر کاشــــغره
بلــــــه لار کـــــه پـــــه مورنـــــګ ځـــــي لـــــره بـــــره[۳۸]

چترال ته له سوات څخه دوه لارې تلې دي، یوه د دیر په طرف ده او بله د سوات کوهستان (کالام) په طرف تلې ده. د اکوړي او سوات تر مینځ خوشحال خان خټک دېرش کروه فاصله ښودلې ده:

سرائـــــی لـــــه ســــــواته فاصـــــله لـــــري دېـــــرش کـــــروهَ
چـــــې ورکـــــوز شي تـــــر دریـــــا د ســــــوات تـــــر کـــــوهَ [۳۹]

خوشحال د وادي سوات اوږدوالی دېرش کروهَ خوا و شا بیانوي:

طـــــولاني دره تــــــر دېرشــــــو کروهـــــو ډېـــــره
عـــرض يــــې دوه کــــروهَ يـــا يـــو يـــا تېـــرو بېـــره [٤٠]

مېجر راورټي د وادي سوات اخري کلی پيا ښيي او له دې وړاندې د کوهستان د حد د شروع کېدو ذکر کوي.[٤١]چوړړۍ [مدين] او تيرات د اخوند کريم داد په وخت کې په سوات کې شامل شوي دي .[٤٢] تواريخ حافظ رحمت خاني قبلې طرف ته سوات د مالا کنډ تر غاښي پورې ښيي او جنوب طرف ته تر مورې کنډاو پورې. په يو ځای کې داسې ليکي 'درست سوات تر تور واله تر تيراته تر پنجکوړې تر نياکه.[٤٣]Mc Mohan د سوات کوهستان د بريد په باره کې داسې ليکي:

The upper portion of its valley and the drainage area of its affluents as far as down as the village of Ain, near Baranial [Bahrin], is known by general term of Swat Kohistan. The inhabitants of Swat خohistan are Torwals and Garhwis, who are non Pathan races.[٤٤]

ترجمه: د دې وادۍ پاسنۍ حصه او د دې ابو د نکاسۍ علاقه برانيال (بحرين) ته نژدې لاندې د ائين تر کلي پورې، دې ته سوات کوهستان وايي. د سوات کوهستان اوسېدونکي توروالي او ګاوري دي چې پښتانه نه دي.

د سوات حدونه لمر پرېواته اړخ ته له مالا کنډ سره لګېدلي دي. بټ خېله او ګېر چاپېره علاقې چې په رياست سوات کې هم نه وې شاملې او اوس په ضلع سوات کې هم نه دي شاملې، خو بټ خېله او مضافات يو وخت د وادي سوات حصه وه لکه څنګه چې د پښتو يو شاعر عبدالعظيم صواتي (سواتي) ويلي دي. هغه په ١١٦٧ هـ کې په ښار (بټ خېله) کې پېدا شوی و او په قبيله رانېزی و.

زه صـــــــواتی عظــــــيم لــــــه اصـــــله رانېــــــزی يــــــم
دروغ نشـــــــته دی پــــــه دې کــــــې وايــــــم ســــــچ [٤٥]

مطلب دا شو چې دی په قام رانېزی و، خو صواتی يې ځان ته ځکه وايه، چې دغه علاقې د سوات په نوم يادېدې او د وادي سوات په حدونو کې شمار وې.

کوز سوات او بر سوات

سوات په طبیعي ډول په دوو حصو کې تقسیم دی، یعنې کوز سوات او بر سوات. مېجر راورټي د سوات په لروبر دوه حصو کې د قدرتي تقسیم په باره کې وایي چې له مانیار څخه تر توته کان پورې کوز سوات دی او له مانیار څخه تر پیا پورې بر سوات دی.[٤٦] د سوات د مختلفو حصو او طبیعي تقسیم په باره کې د NWFP په امپیرئیل ګزیټیئر کې داسې لیکل شوي دي:

> Swat is divided into two distinct tracts: one, the Swat Kohistan, or mountain country on the upper reaches of the Swat river and its affluents as far south as Ain; and the other, Swat proper, which is further subdivided into Bar (Upper) and Kuz (Lower) Swat, the later extending from Landakai to Kalangai, a few miles above the junction of the Swat and Panjkora rivers.[٤٧]

ترجمه: سوات په دوه بېلو بېلو برخو وېشل شوی دی. د سوات د سیند او له دې سره د نورو خوړونو اخري حصه د جنوب په طرف تر ائین پورې، دې غرنۍ سیمې ته سوات کوهستان وایي او دویمه حصه خاص سوات دی چې دا بیا هم په دوه حصو کې تقسیمېږي،چې بر سوات او کوز سوات ورته وایي. په دې کې دا موخرالذکر د سوات او د پنجکوړې له سیندونو څخه یو څو میله لپاسه له لنډاکي څخه تر قلنګۍ پورې خور شوی دی.

مېک موهن هم په خپل رپورټ کې د کوز سوات حدونه تر قلنګي پورې ښودلي دي:

> From the village of Ain commences Swat proper. The upper portion from there down to the Landakai spur, five miles above Chakdara, is known as Bar (Upper) Swat, while the lower portion from Landakai downwards as far as the village of Kalangai is called Kuz (Lower) Swat.[٤٨]

ترجمه: له آئین کلي څخه خاص سوات شروع کېږي، بره حصه له دغه ځای څخه تر لنډاکي پورې ده چې له چکدرې څخه پینځه میله بره دی، دې حصې ته بر سوات ویل کېږي او له لنډاکي څخه تر قلنګۍ پورې لاندینۍ حصې ته کوز سوات وایي.

ادينزۍ علاقه چې تر تالاش دَرې پورې رسېدلې ده، دا هم د وادي سوات حصه وه.[٤٩] د سوات سيند ښي اړخ ته د سوات حدونه تر برنګولې پورې رسېدلي ښودل شوي دي.[٥٠] لکه څنګه چې مخکې وويل شول چې د وادي سوات حدونه تر طوطه کان پورې رسېدلي او له طوطه کان مخکې، اتمان خېل علاقه ده چې دا په وادي سوات کې حساب شوې نه ده.[٥١] بونېر د رياستِ سوات حصه وه خو د رياست له جوړېدو وړاندې بونېر د وادي سوات حصه نه وه. دغه وجه ده چې راوړتې بونېر له سوات څخه جدا يوه علاقه ذکر کړې ده.[٥٢] مالاکنډ ته فرنګيانو په ۱۸۹۵م کې د ايجنسۍ (Protected Area) حيثيت ورکړ. له دې مخکې د مالاکنډ ځينې سيمې په وادي سوات کې شاملې وې، دغه وجه ده چې د سوات او مالاکنډ يو تهذيبي پسمنظر دی.[٥٣] بيليو د وادي سوات د حدونو په اړه داسې ليکي:

> The Swat valley is a rich and fertile strip of land between the Ilam range and its extension westwards, as far as Hazarnao on the south, and the Laram mountains, with its western and eastern prolongations, the Kamrani and Munjai mountains, on the north. Its eastern limit is at the ghorband peak and towards the west at the Hatmankhail [utmankhail] hills and Bajawar.[٥٤]

ترجمه: د سوات وادي مغرب طرف ته د ايلم د سلسلې جنوب طرف ته د هزارنو او د لړم غرونو په مينځ کې د زمکې يوه زرخېزه ټکړه ده، مغرب او مشرق طرف ته د کامرانۍ او منجۍ غرنۍ سلسلې دي، مشرقي حد يې د غوربند څوکه ده او مغرب طرف ته يې اتمان خېل غرونه او د باجوړ علاقه پرته ده.

د وادي سوات د پلنوالي او اوږدوالي په باره کې بيليو وايي چې له يو سر څخه تر بل سر پورې د سوات اوږدوالی تقريباً اويا ميله دی او په مينځ يا په کولاو ځای کې يې پلنوالی تقريباً لس ميله دی.[٥٥] لکه څنګه چې مخکې ويل شوي چې د سوات په طبيعي سرحدونو کې وخت په وخت د انتظامي او سياسي حالاتو په وجه بدلونونه راوستل شوي؛ ځينې علاقې په سوات کې شامل کړای شوي او ځينې له سوات څخه لرې کړی شوي دي. کله چې په ۱۹۱۵م کې سوات يو باقاعده رياست جوړ شو، نو د بونېر، کاڼا، غوربند او اباسين کوهستان علاقې هم په سوات کې شاملې شوې. دغه رنګ په ۱۹۲۲م کې د ادينزۍ علاقه

برتانوي حکومت د یوې معاهدې پر بنیادله سوات څخه جدا کړه او د دیر نواب ته یې حواله کړه.[٥٦] په یو بل رپورټ کې د ریاست سوات حدونه داسې ذکر شوي دي:

> Swat State is bounded in the north by Gilgit Agency, in the east by Mardan district and in the south by Dir State and Malakand Protected area.[٥٧]

ترجمه: د سوات ریاست د شمال له لوري د ګلګت ایجنسۍ له مشرق څخه د مردان ضلعې له جنوب څخه د دیر ریاست او د مالاکنډ محفوظې علاقې راګېر کړی دی.

سید عبدالغفور قاسمي لیکي چې د ریاست سوات په مشرق کې اباسین، په مغرب کې تهاڼه او د ادینزو علاقه، شمال کې د دیر ریاست او په جنوب کې د مردان ضلع او د دربند ریاست واقع دي.[٥٨]په یوه زمانه کې د قلنګۍ له ترۍ څخه واخله تر مدین (چوړړۍ) پورې او د سهیلي غرونو تر مینځ ټوله علاقه سوات ګڼل کېده، خو کله چې میاګل ګل شهزاده عبدالودود ریاست جوړ کړ، نو علاقایي حد بندي بدله شوه او بایېزی راڼېزی مالاکنډ ایجنسي شوه. ادینزی د دیر په ریاست کې شامل کړل شو او د ګوړې د غونډ او لنډاکي له ګودر څخه په پورته سوات پاتې شو.[٥٩] د ریاست سوات د حدونو بریدونو په باره کېGeorgr Getley داسې لیکي:

> It is bordered on the North by Chitral State and Gilgit, on the North ـwest by Dir state, on the South by the District of Mardan on the east by the District of Hazara and on the West by Malakand Tribal Area of Pakistan. It runs ١٠٠ miles fromNorth to South and ٥٠ miles from East to West at its longest and widest points, with a total area of ٤٠٠ square miles.[٦٠]

ترجمه: د دې په شمال کې د چترال علاقه او ګلګت سره بریدونه لګېدلي دي. په شمال مغرب کې یې د دیر ریاست دی. جنوب ته یې د مردان ضلع ده. مشرق ته یې د هزارې ضلع ده او مغرب طرف ته یې د مالاکنډ قبایلي علاقه ده. دا له شمال څخه جنوب ته سل میله او په پراخو ځایونو کې له مشرق څخه مغرب ته پنځوس میله پراختیا لري او ټوله رقبه یې څلور سوه مربع میله ده.

ایرانی سپلاني محمود دانشور د ریاست سوات د رقبې او حدونو په باره کې لیکي چې د سوات رقبه څلور زره مربع میله ده. د سوات یو طرف ته دیر او چترال بل طرف ته د هزارې علاقه درېیم طرف ته اباسین او څلورم طرف ته مردان او مالاکنډ ایجنسي دي.[٦١] د ریاست سوات د جغرافیایي حدونو او محل و قوع په باره کې مخدوم تصدق احمد داسې لیکي:

Swat is situated almost in the extreme north of west Pakistan (۳۵-۰N.Lat. and ۷۲-۳۵ E.lng.). it is a little over one hundred miles to the north east of the ancient city of Peshawar, and about two hundred miles south of the border of the U.S.S.R. The river Indus forms its eastern boundary. The Agency of Gilgit is situated to its north, and the State of Dir is situated to its west; to its south lie the Malakand Pass and the District of Mardan.[٦٢]

ترجمه: سوات د پاکستان مشرق طرف ته اخري په ۳۵ -۰ درجه عرض البلد او۷۲ -۳۵ درجي طول البلد باندې پروت دی. دا شمال مشرق طرف ته د پېښور له زوړ ښار څخه سل میله لرې پروت دی او د روس له سرحد څخه دوه سوه میله جنوب طرف ته پروت دی. مشرقي سرحد یې له اباسین سره لګېدلی، شمال طرف ته یې د ګلګت ایجنسي ده، مغرب طرف ته یې د دیر ریاست دی، جنوب طرف ته یې د مالاکنډ غاښی او د مردان ضلع پراته دي.

په ریاست سوات کې چې کومې علاقې شاملې دي د هغې په باره کې مخدوم تصدق احمد داسې لیکي:

The actual position today is that the area lying south of Landakai is not referred to as Swat. What is called Swat today consists of (I) the valleys lying between Landakai and Kalam and certain adjacent areas, (II) the valleys of Chamla and Buner which are separated from the Swat valley by Mount Ilam, (III) the mountainous region known as the Indus Kohistan which is bounded by the river Indus on the one hand,

and the high hills situated to the east of Kalam on the other hand, (IV) Kalam valley which territorially is not a part of Swat State but is administered by the ruler (Wali) on behalf of the Government of Pakistan.[٦٣]

ترجمه: نن سبا صحیح پوزیشن دا دی چې له لنډاکي څخه جنوب لور ته علاقې په سوات کې نه شمېرل کېږي، کوم ته چې نن سبا سوات ویل کېږي، هغه په دې علاقو مشتمل دی (۱) د لنډاکي او کالام په مینځ کې پرته وادي او ورسره تړلې علاقې. (۲) د چملې او د بونېر وادیانې چې دا د سوات له درې څخه د ایلم غر بېلې کړې دي. (۳) د اباسین کوهستان غرنۍ علاقه چې یو طرف ته ترې اباسین دی او بل طرف ته ترې د کالام لوړ غرونه دي. (۴) د کالام وادي چې دا علاقه د سوات د ریاست حصه نه ده، خو د پاکستاني حکومت له طرف څخه دا د والي د انتظام لاندې علاقه ده.

د سوات رقبه (مساحت)

د سوات د رقبې، محل وقوع، حد بندۍ او قدرتي تقسیم په باره کې نصرالله خان نصر لیکلي، چې د سوات رقبه څلور زره مربع میله ده. قطب طرف ته ترې چترال، سوېل طرف ته مردان، قبلې ته د دیر ریاست او لمرخاته ته اباسین او د امب ریاست پروت دی. په قدرتي طور باندې سوات په درېو حصو کې تقسیم دی،کوهستان، بر سوات او کوز سوات.[٦٤] د سوات د رقبې او انتظامي یونټو په باره کې محمد عالم داسې لیکي:

Swat valley consists of ٥٧٣٧ Km^2 (estimated). Politically it is the part of Malakand Division in NWFP [now called Khyber Pakhtunkhwa], comprises of district Swat (Swat Tehsil and Matta Tehsil), a part of Swat Ranizai (a subdivision of Malakand Protected Area) and small portion of Adinzai (district Lower Dir).[٦٥]

ترجمه: د سوات وادي په ۵۷۳۷ مربع کلومیټره مشتمله ده. په سیاسي لحاظ دا د شمالي مغربي سرحدي صوبې (خیبر پښتونخوا) یوه حصه ده. دا په ضلع سوات (سوات تحصیل او مټه تحصیل)، د سوات رانیزۍ یوه حصه (د مالاکنډ د محفوظې علاقې یو سب ډویژن) او لږه حصه د ادینزۍ (ضلع کوز دیر) باندې مشتمله ده.

د رياست سوات د رقبې په باره کې ډاکټر سلطان روم داسې ليکي:

> Swat State covered on area of approximately ٤٠٠٠ square miles, but according to the population census of Pakistan ١٩٧٢, it was ٤٧١٥ square miles. The census of Pakistan ١٩٥١, states the area of Swat state as ٢٩٣٤ square miles and that of Kalam—the tract of Swat Kohistan which was recognized as a tribal area by the Swat ruler in ١٩٥٤, included in the federation of Pakistan—٨٢٢ square miles. Thus the total area of both the recognized area of the State and that of Kalam totals ٣٧٥٦ square miles.[٦٦]

ترجمه: د سوات رياست تقريباً په څلور زره مربع ميله علاقه باندې خور و، خو د پاکستان د ۱۹۷۲م کال د سرشمېرنې مطابق دا رقبه ۴۷۱۵ مربع ميل وه. د پاکستان د ۱۹۵۱م کال د سرشمېرنې مطابق د سوات رياست رقبه ۲۹۳۴ مربع ميله ده او کالام چې د سوات کوهستاني علاقه ده کومه چې د سوات والي په ۱۹۵۴م کې قبايلي علاقه تسليم کړې وه او د پاکستان په وفاق کې شامله وه ، د دې رقبه ۸۲۲ مربع ميل دهاو په دې ډول د رياست سوات د منل شوې علاقې او د کالام ټوله رقبه ۳۷۵٦ مربع ميل جوړېږي.

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې کالام د رياست سوات حصه نه وه او د پاکستان له جوړېدو وروسته پاکستاني حکومت کالام يوه قبايلي علاقه وګرځوله. د کالام په مسئله د پاکستان د حکومت او د سوات رياست د تعلقاتو په باره کې ډاکټر سلطان روم ليکي، چې کله د سوات رياست، کالام د ۱۹۴۷م کال د اګست مياشتې د څوارلسم او پينځلسم په شپه قبضه کړ، نو د دې له وجې د پاکستان د حکومت او د سوات د رياست په مينځ کې تعلقات خراب شول او دا مسئله تر۱۹۵۴م کال پورې وه کله چې د۱۹۵۴م کال د فرورۍ پر دولسمه نېټه د سوات حکمران له پاکستاني حکومت سره د سوات وړومبی ائين لاسليک کړ او د سوات کوهسستان (کالام، اشو، اتروړ) د انتظام په باره کې يې يوه معاهده هم لاسليک کړه.[٦٧]

خو کله چې د سوات رياست په پاکستان کې ضم شو او سوات يوه ضلع شوه، نو کالام بيا په ضلع سوات کې شامل کړی شو.[٦٨]

د سوات ابادي

د سوات ابادي د یوسفزو له راتګ وړاندې هم ډېره وه او واړه واړه کلي پکې ډېر وو. خوشحال خان یې داسې ذکر کوي:

جـــــې و هـــــر ســــــړي تــــــه اوګــــــورې نظـــــر کــــــړې
چــــــې تــــــر واړو پښـــــــتنو یـــــــې دي ډېــــــر کـــــــلي
درې څلــــــور تکبــــــیره ووایـــــــه تــــــرې تېــــــر شــــــه
د مــــــــرده ؤ هـــــــــدیرې دي دســـــــــوات کـــــــــلي[٦٩]

د ۱۸۵۸م کال له یو دستاویز څخه پته لګي چې هغه وخت د سوات ابادي څلور لکه او څلوېښت زره وه. په دې شمېره کې هندوان، پراچګان، سواتیان او نور نه وو شامل[٧٠] ایچ. ډبلیو بیلیو په خپل کتاب (مطبوعه ۱۸٦۴) کې د سوات د ابادۍ په باره کې لیکي چې دا وادي له کلیو څخه ډکه ده. [٧١] په امپیریل ګزیټیر نارت ویسټ فرنټیر پراونس(۱۹۰۱) کې په مالاکنډ، دیر، سوات او چترال کې د ابادۍ شمېر ۸۱۲۸ ورکړی او بیا یې ورسره دا نوټ لیکلی دی:

The figures given are those of the troops in garrison, camp-followers, civil establishments, and bazzar population at different posts. No enumeration of tribal population was attempted.[٧٢]

میک موهن په ۱۹۰۱م کې د کوز سوات او بر سوات ابادي یو نیم لک لیکلې ده.[٧٣]په تاریخ ریاست سوات (مطبوعه ۱۹۳۹) کې د ریاست سوات ابادي تقریباً درې لکه لیکل شوې ده.[٧٤] تاج محمد خان زېب سر د خپل کتاب "عروج افغان"په لومړي جلد (مطبوعه ۱۹۴۱) کې د سوات د ابادۍ په باره کې داسې لیکي:

د هجـــــرت چـــــې دیـــــارلس ســـــوه شـــــپېته کالـــــه
وو پــــــوره زیــــــات و کــــــم نــــــه وو زمــــــا لالــــــه
نـــــور پــــــه حکـــــم د ســــــلطان بلنـــــد همـــــت
وشــــــــه شـــــــمار د نفـــــــري د ریاســـــــت
پینځــــــه لکــــــه شــــــوه د ملـــــک نفـــــري شــــمار
دا صـــــحیح تعـــــداد مـــــې تـــــا تـــــه کـــــړه اظهـــــار

او يـــــو لـــــــک هــــــم د کورونـــــــو ابـــــــادي ده
غـــــم د يـــــو ســــــړي اوس نشــــــته دی ښــــــادي ده[۷۵]

يو کتاب[۳] چې په ۱۹۴۹م خوا و شا کې ليکل شوی، د هغه په څلوېښتم مخ کې د رياست سوات د ابادۍ په باره کې داسې راغلي دي:

هغه نفوس چې د سوات د والي تر اداري لاندې دی دوه نيم لکو ته رسېږي. د سوات والي په هغه کتاب کې چې د سوات په باره کې يې ليکلی د سوات نفوس د تخمين له رويه درې لکه تنه ښودلی، خو وليم بارتن دوه نيم لکه ليکلي دي، خو د کومو طايفو شمېر چې معلوم دی، هغه دا دي:[۷٦]

نيکپي خېل: ۲۴۰۰۰ تنه

شموزي : ۴۰۰۰ تنه

سيبوجني يا شاميزي : ۱۲۰۰۰ تنه

بابوزي : ۲۴۰۰۰ تنه

موسی خېل: ۳۰۰۰ تنه

عزيخېل: ۳۰۰۰ تنه

جنکي خېل: ۳۰۰۰ تنه

گوجر: ۳۰۰۰ تنه

اجړ: ۲۰۰۰ تنه

د سوات د غرونو خلک: ۲۰۰۰ تنه

د اباسين د غرونو خلک: ۲۰۰۰۰ تنه

د بونېر يوسفزي او مندڼ: ۲۰۰۰۰ تنه

د چکېسر پښتانه:۱۰۰۰۰تنه [۷۷]

د ۱۹۵۱م د سرشمېرنې مطابق د رياست سوات ابادي ۵،۵۲،۰۰۰ ده.[۷۸] فريډرک بارتهـ په ۱۹۵٦ م کال کې په يوه مقاله کې په رياست سوات کې د پښتنو شمېر څلور نيم

[۳] د دې کتاب وړومبي دېرش مخونه نشته نو له دې وجې يې د ليکوال او د ليک د زمانې پته نه لگي. له اخري سر څخه هم دا کتاب نيمگړی دی او په اخر کې چې کومه پاڼه موجود ده په هغې د صفحې نمبر ۴۱۱ دی. د کتاب د موادو او د متن له ځينو معلوماتو څخه پته لگي چې دا کتاب د۱۹۴۹ په خواوشا کې په افغانستان کې ليکل شوی دی.

لکه او د کوهستانيانو تقريباً دېرش زره ښودلی او بيا مخکې دا ليکي چې په دې علاقه کې د گوجرو د تعداد اندازه لګول ګران دي.[٧٩]د مياګل عبدالودود د سوانح په انګرېزۍ ترجمه کې دلته د سني حنفي مسلمانانو شمېره شپږ لکه ښودل شوې او په سوات او متعلقاتو کې يې دوه سوه سيکهان او هندوان هم ښودل شوي دي.[٨٠] د سوات د رياست ابادي محمد نواز طائر شپږ لکه ښودلې ده.[٨١] ډاکټر عنايت الله په خپل کتاب (مطبوعه ۱۹۶۷م) کې د رياست سوات ابادي تقريباً اووه لکه ښودلې ده.[٨٢]د ۱۹۷۲م کال د سرشمېرنې د رپورټ مطابق د ضلع سوات ابادي ۹۳۵۴۴۴.[٨٣] د ۱۹۹۸م کال د سرشمېرنې مطابق د سوات ضلعې ابادي ۱،۲۴ ميليونه ده.[٨٤]

د يادونې وړ ده چې کله د سوات د ابادۍ ارتقائي ذکر کېږي، نو چې وخت په وخت د سوات په حدونو او بريدونو کې کوم بدلونونه راغلي، هغه بايد په نظر کې وساتل شي. د سوات د حدونو او بريدونو بحث په دې باب کې په تېرو مخونو کې په تفصيل سر شوی دی.

د سوات خلک، اصل نسل

په سوات کې اکثريت يوسفزي پښتانه اوسېږي، پر دوی سربېره دلته ګوجر او کوهستاني قومونه هم آباد دي.[٨٥] بدرالحکيم حکيمزی د سوات د ګوجر قوم په باره کې ليکي چې دوی د غرونو په لمنو کې اوسېږي او د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي. دوی د راجاګيرا رعايا وو او ژبه يې ګوجري [ګوجرو] ده، نن سبا ټول پښتو وايې او له اکثرو ګوجرو هېره شوې ده.[٨٦] هغه ګوجر چې ګډې بيزې ساتي او لا تر اوسه کډې ګرځوي هغه اجړ يا شپونکي بلل کېږي.[٨٧]

په سوات کې دګوجر قوم په اړه بډلف داسې ليکي:

> A great number inhabit the upper part of the Dir and Swat valleys, and few have found their way in to the Gilgit valley. They all speak the dialect of Punjabi, peculiar to their caste.[٨٨]

ترجمه: دوی په ګڼ شمېر د دير او سوات د واديانو په اوچتو علاقو کې اوسېږي او په دوی کې څه خلک ګلګت وادۍ پلو ته تللي دي. دوی ټول د پنجابۍ هغه يوه لهجه وايي چې د دوی په نسل پورې مخصوص ده.

د سوات د ګوجر قوم په باره کې ډاکټر سلطان روم ليکي:

A large numbers of Gujars are found through the [Swat] State areas. However, instead of their pervious nomadic life, they are now settled and are to be found in almost all the villages and towns, owning land and property. They have become mainly cultivators but can be found in all walks of life. A section of them, the Ajars, are still nomads.[۸۹]

ترجمه: ګوجر په زيات تعداد کې د رياست په علاقو کې موندل کېږي، خو د پخواني خانه بدوشۍ ژوند په نسبت اوس دوی مقيم شوي او تقريباً په هر کلي او قصبه کې موندل کېږي، زمکې او جايدادونه لري. دوی زياتره کروندګر دي خو د ژوند په هره شعبه کې مېلاويږي، د دوی يوه ډله اجړ اوس هم خانه بدوش دي.

د يوسفزو له راتلو څخه وړاندې د سوات پر خاوره د ګوجرو قبضه وه. په دې اړه بيليو داسې ليکي:

Gujars are a fine, healthy and athletic race, and in many points resemble the Afghans amongst whom they dwell. They are supposed to be the descendants of the possessors of the country [Swat] previous to the arrival of the Afghans.[۹۰]

ترجمه: ګوجر يو ښه، صحت مند او تکړه نسل دی او په ډېرو خبرو کې دوی له افغانانو سره يو شان دي د چا تر مينځ چې دوی اوسېږي. د دوی په باره کې دا خيال دی چې دوی د هغو خلکو اولاد دی کوم چې د افغانانو له راتلو وړاندې د دې ملک واکداران وو.

په دې باره کې مېجر راورټي داسې ليکي:

They [Gujjars] probably, are the remains of the aboriginal people of these districts, who were conquered by the Afghans when they first made their appearance.[۹۱]

ترجمه: غالباً دوی د دې علاقو د اصلي خلکو اولاد دی، کوم چې افغانانو هغه وخت فتح کړي وو کله چې دوی اول ښکاره شو.

په سوات کوهستان کې اوسېدونکي کوهستاني په توروالي کوهستانو او ګاوري کوهستانو باندې هم ياد شوي دي.[۹۲] له دې علاوه په سوات کې د هندو او سکهـ برادرۍ

خلک، سواتي پښتانه، خټک، ترکاڼي، سيدان، مياګان، صاحب زادګان او نور هم شته.[۹۳] مېجر راورټي له مينګورې سره نژدې په شاميلي نومې کلي کې د ډېرو هندوانو ذکر کړی دی.[۹٤] لکه څنګه چې مخکې ذکر شو چې ډېر پوهان وايي چې ګوجر د سوات زاړه خلک دي، دغه رنګ ځينې پوهان دا خيال لري چې کوهستاني خلک د سوات زاړه او اصلي اوسيدونکي دي. فريډرک بارتهـ وايي چې کوهستاني بدهايان دي[۹٥] کله چې يوسفزو سوات قبضه کړ، نو کوهستاني يې په مشرقي سوات کې ځکه پرېښودل چې دا د اوسېدو ځای نه و، يعنې غرونه وو. په سوات کې د پښتنو او د کوهستانو د Culture Area او Natural Area باره کې فريډرک بارتهـ داسې ليکي:

From the purely synchronic point of view, the present Pathan-Kohistani distribution presents a simple and static picture of two ethnic groups representing two discrete culture areas, and with a clear correspondence between these culture areas and natural areas. Pathans in broad valleys with a hot climate and scrub vegetation as against Kohistanis in high mountains with a severe climate and coniferous forest cover. [۹٦]

پروفيسر محمد اختر د مېجر راورټي له يو بيان څخه اندازه لګوي او وايي:

کوہستان سوات کی توروال (تور-آل) اور گاوری قبائل جو بحرین سی (گبری، متراوی، ممیالی) میں سی کسی ایک سی تعلق رکھتی ہیں۔ اور ان تینوں تاجک قبیلوں کو صفت نسبتی کی اعتبار سی سواتی (سوادی) کہا گیا۔ کیونکہ ان کی اکثریت مملکت سوات سی تعلق رکھتی تھی۔[۹۷]

ترجمه: د سوات کوهستان توروالي او ګاوري قبيلې چې له ګبري، متراوي او مميالي قبيلو څخه له يوې قبيلې سره تعلق لري، د نسبتي صفت په اعتبار سره دې درې واړو تاجک قبيلو ته سواتي ويل شوي دي، ځکه چې د دوی اکثريت له سوات سره تعلق لري.

په سوات کې د مختلفو خلکو په باره کې خوشحال خان داسې وايي:

خبردار کله په ننګ افغاني دي
کشميري او پکلي وال او لغماني دي[۹۸]

له دې حوالو څخه دا پته لګي، په سوات کې چې په موجوده وخت کې په اکثریت کې کوم خلک اباد دي دا له دریو نسلي ډلو سره تعلق لري. دغه درې نسلي ډلې پښتانه، کوهستاني او ګوجر دي. د سوات د ابادۍ تر سرلیک لاندې چې په تېرو مخونو کې کوم بحث وشو، نو مونږ ته صرف په دوو حوالو کې په سوات کې له پښتنو علاوه د سوات د ګوجر قوم او کوهستاني قوم شمېره په لاس راغله. فریډرک بارتهـ (۱۹۵٦) د کوهستانو شمېره دېرش زره ښودلې او د ګوجر قوم د شمېرې په باره کې یې لیکلي چې د دې اندازه لګول ګران دي.[99] زما په خیال په سوات کې د ګوجر قوم اندازه لګول ګران به ځکه وو چې ګوجر په سوات کې په هر کلي، غر یا باندہ کې موجود دي او د دوی په مقابله کې د کوهستاني قوم اندازه لګول ځکه اسان دي چې هغوی په یوه خاص دره، یعنې سوات کوهستان کې اباد دي. له فریډرک بارتهـ علاوه یو بل کتاب[100] (تقریباً ۱۹۴۹مکې) د ګوجرو او اجړو شمېره پینځه زره ښودلې ده؛ یو خو دا شمېره ډېره زړه ده او بل دا په اندازو ولاړه ده، نو سړی پرې باور نه شي کولای، ترکومې چې د صحیح شمېرې تعلق دی، نو دا به هغه وخت مخې ته راځي چې کله په نسلي بنیادونو باندې سرشمېرنه وشي.

د سوات زوړ تاریخ

سره له دې چې سوات ډېر زوړ تاریخ لري خو د زوړ تاریخ په اړه معلومات ډېر کم په لاس راځي. په تاریخي دستاویزاتو کې چې د سوات ذکر موندل کېږي، نو په وړومبي ځل یوناني تاریخپوه اریان (Arrian) د سوات ذکر کړی دی.[101]له سکندر وړاندې راجه ارنس په په ۳۳۳ قبل المیلاد کې د سوات حاکم و؛ تر اټک پورې په ټوله سرحدي سیمه د هغه حکومت و. دې راجه په سوات کې یوه زبردسته قلا جوړه کړې وه چې هغه د سلطان سکندر په لاس فتح شوې ده. سکندر د کونړ پر لار سوات ته داخل شو او د برې باندۍ په ګودر له سینده پورېوت او بیا د منګلور پر لار پنجاب ته لاړه. د سکندر د زمانې یادګار څیزونه مشهور ماهر آثار قدیمه سر اوریل سټائین په ۱۹۲٦م کې له منګلور مخکې په "سر پټی" نومې یوه غر کې موندلي دي.[102] په ۳۲۷ ق ـ م کې سکندر اعظم پر سوات حمله کړې وه. پر سوات د حملې لپاره هغه د پنجکوړې پر سیند پورېوتلی و.[103] وایي چې دی په سرکاڼیو، چمرکنډ او ناوګۍ تېر شو او د پنجکوړې له لارې چکدرې او د سوات ناوې ته ورسېد.[104]له دې وروسته پر سوات چې د کوم خاندان د حکومت ذکر راځي هغه موریه خاندان دی. په ۳۲۱ ق ـ م کې چندر ګپت موریه د حکومت واګې په لاس کې

واخستې.[105] گزیټئر کې داسې لیکل شوي دي:

> The first historical mention of these countries is made by Arrian, who records that in ۳۲۰ B.C. Alexander lead his army through Kunar, Bajaur, Swat and Buner; but his successor, Seleucus, twenty years later made over these territories to Chandragupta. The inhabitants were in those days of Indian origin, Buddhism being the prevailing religion, and they remained thus almost undisturbed under their own kings until the fifteenth century. They were the ancestors of the non ـPathan tribes, e.g. Gujars, Torwals, Garhwis &c., who are now confined to Bashkar of Dir and Swat kohistan.[106]

ترجمه: د دې علاقو وړومبی ذکر اریان کړی دی، هغه لیکلي چې په ۳۲۰ ق- م کې د سکندر اعظم په مشرۍ کې د هغه فوځ د کونړ، باجوړ، سوات او بونېر پر لار راغی، خو له هغه وروسته راتلونکي حکمران سیلیو کس شل کاله وروسته دا علاقې چندرگپتا ته ورکړې. په هغه دور کې د دې علاقو اوسېدونکي هندوستاني اصل نسل والا وو. بدمت د دې علاقو مروج مذهب و او دا خلک د خپلو بادشاهانو ما تحت تر پینځلسمې پېړۍ پورې په ارام اوسېدل. دا د ناپښتنو قبیلو، لکه گوجرو، توروالیانو او گاوریانو پلار نیکه وو. دا قامونه اوس د دیر په بشکار علاقې او د سوات په کوهستان پورې محدود دي.

په موریه خاندان کې اشوک هم پر سوات حکومت کړی دی. اشوک د چندر گپت لمسی و. اگر چې د ده د حکومت په باره کې ډېر لږ معلومات په لاس راځي، خو د تاریخ کتابونو دا دور د اشوک په نوم یاد کړی دی. د اشوک دور د سوات په تاریخ کې یو مهم موړ دی ځکه چې هغه بدهـ مذهب نه صرف اختیار کړ، بلکې په سوات کې یې دې مذهب ته ډېره ترقي هم ورکړه.[107] دا زمکه د بدهـ مذهب د ودې او ترقۍ لپاره ډېره زرخېزه ثابته شوه او بدهـ مت نه یواځې په سوات، بلکې له سوات څخه بهر هم ښه ترقي وکړه. په پینځمه میلادي پېړۍ (۴۰۳ ء)کې یو چیني سیلانی فاهیان سوات ته راغلی و، هغه دلته د بدهـ مت د خانقاگانو ذکر کړی دی.[108] فاهیان په سوات کې د پینځه سوه عبادت خانو ذکر کړی دی.[109] دغه رنگ تقریباً یو سل پینځلس کاله وروسته یو بل چیني سیلاني سنگ یون

هم دلته د بدهـ مت د زور شور ذکر کوي او وايي چې د دې ځای باچا د بدهـ مت په اصولو په سختۍ سره عمل درامد کوي، نو ځکه په هر طرف د بدهـ مذهب زور شور دی.[۱۱۰] سنگ یون په ۵۱۹ م کې د کافرستان پر لار سوات ته راغلی دی. ده په خپله سفرنامه کې لیکلي چې په سوات کې بدهـ مذهب په عروج دی، په عبادت خانو کې دومره زيات ناقوس غږېږي چې اسمان یې په سر اخستی وي. دی وايي چې د سو ټو پو ټو سیند په غاړه ډېرې عبادت خانې دي. سوات سرسبز او اباد ملک دی او د اوسېدونکو گزاره یې په مالدارۍ او کرکیلې ده.[۱۱۱] پروفیسر ټوچي سوات ته د بدهـ مذهب د راتگ او ترقۍ په باره کې داسې لیکي:

With the progressive advance of Buddhism towards the North -west, the law spread so widely in Uddiyana, and the monasteries there were so prosperous that the Bhaisagyavastu of the vinaya of the Mulasarvastivadins includes several Swat localities in the peregrination to the North -west made by the Buddha who flew there in the company of Vajrapani.[۱۱۲]

له دې وروسته په ٦٣٠ م کې هیون سانگ دې علاقې ته راغلی دی. په هغه وخت کې بدهـ مت دلته په زوال و، هغه د دې ځای د خلکو په باره کې داسې لیکي:

The people are soft and effeminate in disposition are somewhat sly and crafty. They love learning yet have no application. They practice the art of using charms (religious sentences as charms) their clothing is white cotton, and they wear little else. Their language, though different in some points, yet greatly resembles that of India. Their written characters and their rules of etiquette are also of a mixed character as before. They greatly reverence the law of Buddha and are believers in the Great Vehicle.[۱۱۳]

ترجمه: خلک یې د نرم مزاج او طبیعیت مالکان دي، خو بیا هم چالاک او مکار دي. دوی د زدکړې شوق لري خو عمل پرې نه کوي. دوی کوډې او جادو هم کوي. دوی د کاټن سپینې جامې اغوندي او له دې علاوه نورې جامې ډېرې کمې اغوندي. د دوی ژبه

اګرچې په ځینو خبرو کې بدله ده خو تر ډېره حده د انډیا له ژبې سره سمون خوري. د دوی لیکدود او عادات او اداب هم ګډوډ خصوصیات لري. دوی د بدهـا د قوانینو ډېر احترام کوي او د لوی وهیکل منونکي دي.

په سوات کې د بدهـ مت د زوال په باره کې هیون سانګ داسې لیکي:

On both sides of the river Su -po -fa -su -tu, there are some ١٤٠٠ old Sangharamas [Monasteries]. They are now generally waste and desolate; formerly there were some ١٨٠٠٠ priests in them, but now gradually they have become less, till now there are very few.[١١٤]

ترجمه: د سوپو پا سوتو سیند په دواړه طرفونو تقریباً څوارلس سوه زړې خانقاګانې دي، اوس په عمومي توګه دا شړې او خوشې پرتې دي، خو مخکې په دې کې تقریباً اتلس زره پادریان وو او اوس دا ورو ورو کم شوي او په موجوده وخت کې صرف یو څو پاتې دي.

د بدهـ مت له زوال وروسته دې راهبانو جادو طرف ته توجه وکړه او د وخت له تېرېدو سره په پوره علاقه کې جادو عام شو.[١١٥] په سوات کې چې د هند یونان او هند توران کومې سیکې په لاس راغلي دي له هغې دا پته لګي چې دا علاقه یا خو نېغ په نېغه د هند یوناني حکمرانانو په قبضه کې وه او یا یې له هغوی سره څه کلتوري او اقتصادي تعلقات پاتې شوي دي. د یادونې وړ ده چې هند یوناني هغو یوناني حکمرانانو ته ویل کېږي، چې د موریه خاندان له زوال وروسته یې په مختلفو ځایونو کې خپل حکومت قایم کړی و. د سوات وادي یو وخت د هندي یوناني میننډر په قبضه کې هم راغلې ده، بیا وروسته دا سیمه یو بل ذیلي حاکم لینټي مېکسس دویم ته حواله کړل شوه. د مېننډر له مرګ وروسته د هغه ښځه اګا تهوکلیا د دې علاقې حکمرانه شوه، بیا هغې خپل ځوی هم له ځان سره په اقتدار کې شریک کړ، چې د اینټي مېکسس دویم طاقت ختم کړي چا چې غزني ته نږدې په اراکوشیا کې د خپلې ازادۍ اعلان کړی و. د ډائیو ډوټس نور خپلوان هم وو ځکه خو هغه د خپلې کورنۍ یو کس اول زایي لس د سوات ذیلي باچا مقرر کړ. هغه تر ډېرې لړې مودې پورې دلته حکومت وکړ، خو ډېر زر د دویم اینټي مېکس له مرګ وروسته په اراکوشیا دوباره د قبضې لپاره هلته ولېږل شو. له اول زایي لس وروسته د سوات په ذیلي بادشا هانو کې له ټولو څخه مشهور اپالوډوټس دی چا چې د ساکا سردار مایوس بې دخله

کړی و. د ایلي بالا یوې بلې توراني قبیلې سایي هم پر سوات او چاپېره علاقو قبضه کړې وه. له ۱۰۰ ق.م څخه فوراً وروسته د هندوستان مشهور ساکا بادشاه مایوس په وادي سوات او گندهارا کې د هند یوناني بادشاهانو پېروي وکړه او اپالوډوټس یېله حکومته بې دخله کړ. د منځنۍ اسیا د یو کډوال نسل کُشان مشر کډ پیس اول د کابل تر سیند پورې په ډېرو سیمو قبضه وکړه او خپل حکومت یې پرې جوړ کړ. دلته د دې خبرې صحیح اندازه لگول گران دي چې ایا سوات هم د دې کُشان سلطنت حصه وه او یا دوی د خپل ازاد حیثیت په ځای ساتلو کې کامیاب شوي وو، خو داسې معلومېږي چې د دې ځای کمزورو بادشاهانو هم د کُشان اطاعت قبول کړی و.[۱۱٦] په ۴۵م کې راجه کنشک یو مشهور راجه تېر شوی، د دې راجه پر سوات، بونېر، کابل او بخارا قبضه وه، د ده پلازمېنه (پایتخت) پېښور و. دویم رام راجه دی، خدوخېل کې راني گټ د رام راجه پلازمېنه وه. بل راجه وراټهر دی، د ده دارالحکومت تخت بهایي و او پر سوات یې هم حکومت و. بل راجه بیټې دی، له سوات څخه تر اټک پورې د دې راجه قبضه وه. د ده د حکومت زمانه ۲۰۰م وه. د راجه بیټې له مرگ وروسته د ده ځوی راجه هوډي حاکم شو. د دې راجه په نوم په سوات کې اوډیگرام نومې کلی اوس هم اباد دی او اخري راجه گیرا کافر دی، د ده صدر مقام د اوډیگرام په خوا کې په غره کې و. په دې غره کې ده یوه کلا جوړه کړې وه، چې هغه د پیر خوشحال (خوشاب) په لاس فتح شوه. د پیر خوشحال زیارت د دغه غره په بېخ کې اوس هم شته،[۱۱۷] خو په دې خبرو کې اکثر مورخین دا وایي چې په هندو شاهیه کې د راجه گیرا نوم نشته، تقریباً په ۷۴۵ م کې کله چې په کابل کې د ترکي شاهي حکومت سرحدونه د سیستان له سرحد څخه تر شمالي پنجاب پورې وغځول شول، نو په دې عمل کې سوات هم د دې یوه حصه جوړه شوه. په ۸۷۰ م کې یعقوب بن لیث د ترکي حکومت ختم کړ. له دې وروسته د هندو شاهي خاندان حکومت جوړ شو او د وخت په تېرېدو سره د دې سلطنت حدونه غځېدل شروع شول. په دې دور کې د سوات په باره کې معلومات ډېر کم دي، خو بیا هم د بریکوټ (سوات) په شمال کې په یوه غره کې د یو ډېرلیک تعلق د جی پال دیو له حکومتي دور سره دی. له دې ډېرلیک څخه دا اندازه لگي چې د سوات علاقه په څه نه څه شان د دې هندو شاهي حکومت د لاندې ضرور وه. کله چې دا هندو شاهي حکومت د محمود غزنوي د لښکریانو له لاسه ختم شو، نو سوات هم د دوی له حملې څخه بچ پاتې نه شو او راجه جی پال ته یې ماتې ورکړه. مسلمانانو تقریباً په ۱۰۰۱-

۱۰۰۲م کې پر سوات حمله وکړه او په اوډيگرام کې يې د هغه وخت د حکمران قلا محاصره کړه.[۱۱۸]

په سوات کې مذهبونه

سوات ډېر لرغونی تاريخ لري، دلته مختلف تهذيبونه راغلي دي، دغه وجه ده چې مونږ په سوات کې مختلف مذهبونه وينو. دلته به په سوات کې په مختلفو مذهبونو لنډ بحث وکړو.

د نمر اوتار

د سيتهېن قوم له ساکا قبيلې وروسته هم د دې قوم د يو چې قبيلې يو خاندان کُشن يا کُشان اقتدار حاصل کړ. دغه کُشان قبيلې په وړومبي سر کې د نمر (سورج ديوي) عبادت کاوه، خو کله چې دې ملکونو ته راغلل او بدهـ مذهب يې قبول کړ، نو د مهاتما بدها داسې نمونه بتان يې جوړ کړل چې په هغو کې د دوی د پخواني معبود (نمر) علامت هم مو جود و. همدغه وجه ده چې نن ورځ په ټولو هغو سيمو کې چې په زړو تاريخي يادښتونو کې د گندهارا په نوم يادېږي، صرف په همدې علاقو کې د مهاتما بدها چې څومره بتان دي له هر يو بت د سر شا ته د مېچنې د پل په شان يوه غونډه هاله جوړه کړل شوي وي او دغه دې خبرې ته اشاره کوي چې دې خلکو مهاتما بدها د لمر اوتار گڼلو.[۱۱۹]

بدهـ مت

د سوات په معلوم تاريخ کې چې دلته د کوم وړومبي مذهب ډېر اثار په نظر راځي هغه بدهـ مت دی. په پينځمه عيسوي پېړۍ کې يو چيني سيلاني گر فاهيان د دې سيمې د سيل لپاره راغلی و او هغه وخت کې دلته بدهـ مذهب ښه په ترقۍ کې و[۱۲۰] بيليو سوات ته د بدهـ مت د راتگ په حواله داسې ليکي:

> From the religious emblems found on these coins, it would appear that Budhism [Buddhism] was not known in the time of the Greeks; but during that of their successors, the Bactrians and Scythians, it was in high favor, and flourished with wonderful success, to judge from the multitude of their

religious establishments and idols the ruins of which still exist.[۱۲۱]

ترجمه: پر سېکو باندې له موجودو مذهبي علامتونو څخه دا پته لګي چې د یونانیانو په وخت کې دلته بدهـ مت نه، خو د دوی د پېشروانو بیکټرینز او سکیتهیانز په وخت کې یې دلته حیرانونکې ترقي وکړه، چې د دوی له مذهبي عمارتونو، بتانو او کنډراتو څخه یې پته لګي کوم چې اوس هم موجود دي.

بدهـ مت په سوات کې د اشوک په وخت کې وده ومونده.[۱۲۲]وایي چې اشوکا د خپل هېواد په شمال کې څلور لویې ستوپې ودانې کړې چې یوه یې د بالاحصار پر غونډۍ پرته وه.[۱۲۳]پروفیسر ټوچي سوات ته د بدهـ مذهب د راتګ او ترقۍ په باره کې داسې لیکي:

With the progressive advance of Buddhism towards the North-west, the law spread so widely in Uddiyana, and the monasteries there were so prosperous that the Bhaisagyavastu of the vinaya of the Mulasarvastivadins includes several Swat localities in the peregrination to the North-west made by the Buddha who flew there in the company of Vajrapani.[۱۲٤]

او دغه رنګ تقریباً په ٦۳۰ عیسوي کې یو چیني سیلاني هیون سانګ په دې علاقه کې د بدهـ مت مذهب د زوال ذکر کوي.[۱۲۵] په سوات کې د بدهـ مت د زوال په باره کې هیون سانګ داسې لیکي:

On both sides of the river Su-po-fa-su-tu, there are some ۱٤۰۰ old Sangharamas [Monasteries]. They are now generally waste and desolate; formerly there were some ۱۸۰۰۰ priests in them, but now gradually they have become less, till now there are very few.[۱۲٦]

ترجمه: د سوات د سیند په دواړه طرفونو تر څوارلس سوو پورې خانقاګانې وې. دا اوس په عمومي توګه بېکاره او شړې دي، پخوا په دې کې تقریباً اتلس زره راهبان وو خو اوس ورو ورو کم شوي او په موجوده وخت کې د شمار یو څو تنه پاتې دي.

بدهـ مت په سوات کې په شپاړسمه صدۍ کې د یوسفزو تر راتګ پورې موجود و[۱۲۷]

د وخت له تېرېدلو سره د بدها له اقوالو څخه دوه لوی مذهبونه جوړ شول، اولنی مهايانه يعنې لوی مذهب و. دا مذهب د هند په شمال، تبت، چين او تر جاپانه پورې خپور شو، چونکې دا په ډېره پراخه علاقه کې په مختلفو قومونو کې خپور شو، نو ځکه پکې ډېر بدلون هم راغی. د دې مذهب منونکو تبليغ ډېر غوره ګڼلو او دا يې ويل چې هر فرد د کل جز وي چې هغه انسان نومېږي او بيا دغه انسان د هغه لوی کل جز وي، نو څوک چې له شر څخه بچ کېدل غواړي ورته پکار دي چې له نورو بېل نه شي او کار په شريکه وکړي. د بدهـ مت دويم قسم هينه يانا دی، د دې معنٰی ده وړوکی مذهب. د دې منونکي په سوېلي هند کې دي، دوی په انفرادي زيار تکيه کوي. د دوی کتابونه زياتره په پالي ژبو کې ليکل شوي او د مهايانه، يعنې لوی مذهب کتابونه په سنسکرت ژبه کې ليکل شوي دي.[۱۲۸]

هندو مت

د بدهـ مت له زوال وروسته سوات ته هندومت راغی. پروفيسر ټوچي ليکي چې په سوات کې د هندو يزم موجودګي يقيني ده.[۱۲۹] هيون سانګ دلته د هندوانو د لسو مندرونو ذکر په دې الفاظو کوي:

> There are about ten temples of Devas [Hindus], and a mixed number of unbelievers who dwell in them. There are four or five strong towns. The kings mostly reign at Mungali (Mung-kie-li) as their capital.[۱۳۰]

ترجمه:دلته د هندوانو تقريباً لس مندرونه دي او له له دوی سره ډېر خلک بې دينه هم اوسي، دلته څلور پينځه مظبوطې قصبې دي، باچا زياتره په مونګالي کې اوسي، چې د دوی دارالخلافه ده.

پر دې سيمه د۸۷۰ عيسوي خواوشا هندو شاهي خاندان خپله بادشاهي جوړه کړه. دوی د اباسين پر غاړه په هنډ کې خپل پايتخت جوړ کړ او هندو يزم د دې علاقې اوچت مذهب شو. هندو شاهانو لوی لوی مندرونه جوړ کړل او هغه يې له بتانو څخه ډک کړل. د دوی بادشاهي په افغانستان کې له جلال اباد نه واخله تر ملتان او کشمير پورې خوره شوې وه. جی پال د پنجاب حکمران و او هغه په نهمه عيسوي پېړۍ کې له ترک شاهي خاندان څخه د کابل سيند او د ګندهارا علاقې په زور واخستې.[۱۳۱]د سوات په بريکوټ کې کې په ۱۸۹۷م کې يو ډېرليک چې په سنسکرت او ديوناګري خط کې ليکل شوی، موندل

شوی دی. دا ډبرلیک اوس د لاهور په میوزیم کې دی، په دې ډبرلیک یې داسې لیکلي دي:"د ستر حکمدار او تر گردو شاهانو غټ لوی باچا سري جیه پاله[٤] دیوه په باچاهۍ کې." [١٣٢] راجه جیه پاله له گوجر قبیلې سره تعلق لرلو.[١٣٣]په سوات کې د هندومت له نورو نخو نښانو علاوه د ایلم غر هم دی. په هندو یزم کې د دې غره د اهمیت په باره کې ډاکټر سلطان روم داسې لیکي:

> After the Amar Nath Cave in Kashmir, Ram Takht in Jogyanu Sar in Mount Ilam is considered the second sacred place for the Hindus due to Rama's spending some of his ban-bas time here. Swat, therefore, possesses a sacred place of the Hindus.[١٣٤]

ترجمه: په کشمیر کې له امرناتهـ غار څخه بعد، د ایلم غر په جوگیانو سر کې رام تخت د هندوانو لپاره دویم مقدس ځای دی، ځکه چې دلته راما د خپل بن باس څه موده تېره کړې ده، دغه وجه ده چې سوات د هندوانو لپاره یو تقدس لري.

له اسلام څخه مخکې په دې سیمه کې براهمنیزم (هندومت) له دې علاقې څخه بدهـ مت په تېزۍ سره ختم کړ. په دې اړه بیلیو داسې لیکي:

> Brahminism continued steadily to increase, and soon after entirely superseded Budhism [Buddhism], and flourished unchecked for several centuries, till at length it was suddenly swept away by the flood of Islam, under Mahmud and his fanatic hordes, who rolled over this country in irresistible waves of destruction on their way to the conquest and conversion of India.[١٣٥]

---

[٤] حبیبي لیکي چې دا جیه پال یا جېپال هغه کابلشاه دی، چې د پلار نوم یې بهیم دیوه و او د ۳۰۰ هجري په شاو خوا کې یې باچاهي کوله. جېپال په ۳۴۹ هجري بمطابق ۹٦۰ م کال کې باچا شو او د العتبي په قول په ۳۹۳ ق یې ځان وسوځوه. دغې کورنۍ د غزني له باچا امیر سبکتگین سره ډېرې ووهلې او کله چې له کابل نه بې کوره شو نو بیا یې د اباسین په غاړه په هنډ کې دویم پایتخت جوړ کړ او له لغمانه تر پکلۍ پورې د سوات په شمول د دوی حکومت و (حبیبي، د سواتنامې سریزه، ۴ مخ)

ترجمه: براهمنیزم په کرار کرار خوربده او بیا یې ډېر زر په مکمله توګه بد مت ختم کړ او تر څو پېړیو پورې یې دلته ترقي وکړه، تر هغه پورې کله چې د محمود او د هغه د فوځ له لاسه دی د اسلام سېلاب په تېزۍ سره جارو کړ، چا چې د خپلو فتوحاتو او د هندوستان د مذهب بدلولو په وخت کې دا علاقې د مزاحمت په سختو چپو کې راټولې کړې او دلته تقریباً په ۱۰۰۴ عیسوي کې د اسلام له لاسه هندو مت ختم شو. [۱۳٦]

اسلام

کله چې د محمود غزنوي لښکر پر سوات حمله وکړه، نو له دې علاقې څخه یې د هندو شاهي حکومت ختم کړ او په وړومبي ځل دلته د اسلام بېرغ ودرولی شو[۱۳۷] د سبکتګین له مرګ (۹۹۷م) وروسته محمود غزنوي پر تخت کېناست، فتوحات یې شروع کړل او د هغه فوځونه تر سوات پورې راورسېدل، نو د دوی له را تګ سره دلته د اسلام رڼا خوره شوه. د سوات په اوډیګرام کې د راجه ګیرا پر کلا جنګ وشو او دا کلا د محمود غزنوي فوځیانو قبضه کړه.[۱۳۸] د محمود غزنوي فوځیان په ۱۰۰۱-۱۰۰۲م کې سوات ته راغلي، خو محمود غزنوي پخپله سوات ته نه دی راغلی.[۱۳۹] د اوډیګرام د راجه ګیرا د کلا په بېخ کې د غره په لمن کې د یو جومات نخښې موندل شوي دي. دا جومات په ۴۹-۱۰۴۸ م کې جوړ شوی و.[۱۴۰] دا په سوات کې وړومبی جومات دی. د سوات خلک ټول سنیان وو، لکه خوشحال خان چې ویلي دي:

دا دوه نشــته پــه ســوات کــې څــوک وایــي یــا عــلي
الصـــــالحون للـــــــه والصـــــــلحون لي[۱۴۱]

د سوات د ریاست په وخت کې د سوات د خلکو د مذهب په اړه عبدالغفور قاسمي په خپل کتاب "هدیه ودودیه" (مطبوعه ۱۹۳٦) کې لیکي چې د ریاست ټول خلک مسلمانان دي. دوی اهل سنت والجماعت دي او د حنفي مسلک پیروان دي.[۱۴۲] تاج محمد خان زېب سر د خپل کتاب عروج افغان په لومړی ټوک (مطبوعه ۱۹۴۱) کې د سوات د خلکو د مذهب په باره کې داسې لیکي:

خپلـــــه ژبـــــه پښـــــتو وایـــــي افغانـــــان
پـــه ټـــول ملـــک کـــې دي ســـني مســـلمانان
دلتـــــه نشـــــته دی فرقـــــې جماعتونـــــه
د مـــــذهب د جنـــــګ جـــــدل حکاېتونـــــه

د امـــــــير المـــــــومنين حکــــــم دی صــــــاف
مـــــذهبي چــــې پيـــــدا ني کـــــړي ځـــوک خــــلاف
د شـــــــيعه او احمـــــــدي څـــــــه لـــــــرې بــــــرې
دلتـــــــه نشــــــته د خــــــلاف هغــــــه خــــــبرې[۱۴۳]

په سوات رياست کې اکثريت مسلمانان وو البته دلته هندوان او سيکهان هم وو. د مياګل عبدالودود د سوانح په انګرېزي ترجمه کې دلته د سني حنفي مسلمانانو شمېر شپږ لکه ښودل شوی او په سوات او متعلقاتو کې يې دوه سوه سيکهان او هندوان هم ښودل شوي دي.[۱۴۴] په رياست سوات کې د خلکو د مذهب په باره کې د باچا صيب په سوانح حيات کې محمد اصف خان داسې ليکي:

دا فخر سوات ته حاصل دی، چې د رياست سوات زمکه د فرقو نه پاکه ده. د رياست شپږ لکه خلک ټول سني مذهب دي. سوات کې د سوات صاحب د مقدس خاندان دا برکت دی چې دا وطن او ورسره شامل نزدې وطنونه د فرقه بندۍ د لعنت نه خلاص دي.[۱۴۵]

لکه څنګه چې مخکې وويل شول چې د سوات خلک سنيان دي او د حنفي مسلک پيروان دي. د رياست له ادغام وروسته دلته شيعه ګان هم له نورو علاقو څخه راغلي دي، هندوان او سيکهان دلته له پخوا نه اباد دي او عيسايان (بنګيان) دلته د رياست له ادغام وروسته راغلي دي.[۵]

په سوات کې مختلف تهذيبونه

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې مختلفو خلکو په مختلفو وختونو کې پر سوات حملې او حکومتونه کړي دي، نو دغه وجه ده چې په سوات کې د مختلفو تهذيبونو اثرات موندل کېږي.

يوناني تهذيب

په ۳۲۷ ق م کې چې رومي سکندر د نورستان، لغمان، کونړ او باجوړ په لار سوات ته رانوت، نو د سوات په مختلفو درو، غرونو او ميداني سيمو کې يې په جنګ جګړو ورځې

[۵] ډاکټر سلطان روم زباني معلومات ـ نېټه: ۲۰ دسمبر ۲۰۱۶

تېرې کړې. په دغه دوران کې هغه یو ځو ورځې د سوات په منګلور کلي کې هم پړاو نیولی و. د سوات د هغې زمانې راجه د دېرش زره پیاده او دوه زره سوَرو لښکر سره د سکندر مقابله کړې وه، خو ماته یې وخوړه او بیا په دغه جنګ کې مړ هم شو. د دې راجه نوم ارنس یاد شوی، چې په ۳۳۳ ق م کې حکمران شوی و. یوناني تاریخپوه Megasthenes د اباسین په غاړه د څلورو قبیلو ذکر کوي چې په هغې کې د اسا کینوئي قبیلې نه مراد د هغې زمانې د سوات خلک دي.[١٤٦] شېر افضل خان بریکوټی لیکي چې یونانیانو په خپلو کتابونو کې د سوات نوم اساکینوئي لیکلی دی. اسا کینوئي د سنسکرت له اسوا لفظ نه اخستل شوې، چې معنی یې شهسوار ده. بیا وروسته په قدیم سنسکرت کې دا لفظ اسواکا یا اسادکا ویل شوی، خو یونانیانو دا لفظ بدل کړ او له اسواکا نه یې اساکاني جوړ کړ.له دې لفظ نه ددې علاقې د زړو اوسېدونکو د شهسوارۍ پته لګي.[١٤٧] د یونانیانو او اساکیني (Assakeuien)دا جنګ د Massaga [منګلور] د مضبوطې کلا مخې ته شوی و. دا د سکندر په سوات کې وړومبی جنګ و.[١٤٨]له دې وروسته هغه د سوات په ریاست بازیره او اورا کې نور جنګونه وکړل.[١٤٩]

ایراني تهذیب

کله چې په ٦٠٠ ق م کې په وادي سوات کې د اشوري خاندان حکومت پای ته ورسېد، نو ورپسې سمدستي په دې علاقه د ایران د میدین قوم حکومت راغی. په دې زمکه د خسرو د زمانې(۴۸۰ ق م) کتیبې (ډېرلیکونه) موندل شوي دي. پانیني په ۴۳۷ ق م کې دلته د میدین قوم وجود ښيي. داسې ښکاري چې د یونانیانو تر راتلو (۳۲۷ ق م) پورې تقریباً درې سوه کاله په دې علاقو د ایرانیا نو اقتدار پاتې شوی دی.[١٥٠] دارایوش اعظم په ۵۲۱ ق م کې د ایران واګې په خپل لاس کې وا خستې. د ده په دور کې د منځنۍ او مغربي اسیا ټولې صوبې په ایران کې د توري په زور شاملې کړل شوې. په دې دورِ حکومت کې په وړومبي ځل په تاریخ کې د سوات نوم راځي. دې ایراني بادشاه سرحدي علاقې فتح کړې او په دوه حصو کې یې تقسیم کړې، یوه حصه هغه ده چې اوس ورته سوات وایي.[١٥١]

ګندهارا تهذیب

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې اشوک او له هغه وروسته د کنشک په دورِ حکومت کې بدهـ مت په سوات کې په تېزۍ خپور شو، د سوات سیند په دواړه طرفونو

تقریباً۱۴۰۰ عبادتخانې وې. د بدهـ مذهب ځینې کلاګانې او ستوپې اوس هم دلته موجودې دي، لکه د بریکوټ په سیمه کې د شنګر دار او املوک دَرې ستوپې. د بریکوټ جنوب طرف ته د یوه غره په لمن کې دوه ستوپې دي. له نجیګرام سره خوا کې هم د ستوپو او عبادت خانو نخښې پیداکېږي. د تیرات په مقام په یو ګټ کې د مهاتما بدهـ د پښو نخښې هم دي، دا دواړه ګټې د بدهـ مت منونکو لپاره ډېرې مهمې دي.[۱۵۲]

دله زاک او سوات

کله چې سوات ته د محمود غزنوي فوځیان راغلل، نو له هغوی سره دلته نورې ډېرې قبیلې هم راغلې او ابادې شوې، چې په هغو کې یوه قبیله دله زاک هم ده. دغه رنګ یوه بله قبیله دهګان هم سوات ته راغلل چې بیا وروسته په سواتیانو یاد شول. سواتي او دله زاک قبایل له یو بل سره وران شول او دله زاک یې له سوات نه پېښور طرف ته وشړل. اصف خان وایي چې تر څلور سوه هجري سنې (۱۰۰۹ م) پورې دا دواړه قبیلې په ارام اوسېدې خو څه وخت وروسته پکې اختلاف پیدا شو او سواتیانو دله زاک له سوات نه وشړل.[۱۵۳] عبدالغفور قاسمي وایي چې د ۴۰۲ هـ (۱۰۱۱م) نه تر ۹۰٦ هـ (۱۵۰۰م) پورې پر سوات بونېر او نورو سیمو باندې دله زاکو حکومت وکړ، خو پر دوی باندې اوله حمله خلیل مهمندو وکړه او دویمه حمله پرې یوسفزو وکړه او دوی یې چچ هزارې ته وزغلول. په چچ هزاره کې دوی تالان طوفان ګډ کړ اخر دا چې سلطان جهانګیر په ۱۰۱۴ هـ (۱٦۰۵م) په دوی تباهي ګډه کړه او اکثر یې له کډو سره دکن ته جلا و طن کړل. په دوی کې یحی نومې ډېر بهادر سړی تېر شوی دی، دی له خپل دوه زره لښکر سره د سلطان محمود غزنوي د سومنات په حمله کې شریک و.[۱٥٤] الله بخش یوسفي وایي چې مغلو به دوی ته افغانان ویل خو نورو پښتنو قبیلو دوی پښتانه نه ګڼل.[۱٥٥] د دوی د اصل نسل باره کې H.W Bellew لیکي، دا خبره واضحه نه ده چې دله زاک څوک دي، څوک دوی ته ترکلاني پښتانه وایي، خو پښتانه دوی له هندي نسل څخه ګڼي.[۱٥٦] د محمود غزنوي له فوځي حملې سره په سوات کې د هندو شاهي سلسله ختمه شوه او دلته اسلام راغی.

د یوسفزو سوات ته راتګ

د یوسفزو سوات ته راتګ په باره کې مېجر راورټي داسې لیکي:

At length Shaykh Mali who was, by all accounts, the

> chief of the tribe, and another of their great men, Malik Ahmad, having consulted together, determined to effect the conquest of Suwat, then held by a dynasty of kings who claiming descent from Alexander of Macedon himself, had for many centuries past, ruled over the regions lying between the Kabul river and the mountain of Hindu Kush, as far east as the Indus; together with the whole northern alpine Punjab, as far east as the river Jehlum, the Hydaspes of the ancients.The Yusufzis, accordingly, taking with them their wives and families, invaded Suwat by the Malakand Pass, the scene of the terrible defeat sustained by the troops of the emperor Akbar, under his favourite, Raja Bir ـbal at the hands of the Yusufzis in after years, and soon overran the whole of that pleasant valley, which they finally subdued, together with the surrounding districts of Buner, Bajawrr, and Panjkorah.[۱۵۷]

یوسفزي چې له افغانستان نه راغلل نو زیات په پېښور، اشنغر او د بګیاړې د رود پر غاړه دېره وو.[۱۵۸] چونکې یوسفزي له افغانستان نه ډېر په بد حال راغلي وو، نو دلته به دوی سوات ته مالګې او انډېري راوړل او په غله به يې بدلول. په دې دوران کې د ملک احمد او د سلطان اویس تعلق جوړ شو او سلطان اویس د ملک احمد له خور سره واده وکړ.[۱۵۹]له دې وروسته د یوسفزو سوات طرف ته راغزېدل شروع شول او چې کله مهورې ته راورسېدل نو له سلطان اویس سره وېره پیدا شوه او دا يې وویل چې یوسفزي د سوات د زوال سبب جوړېدی شي،[۱۶۰]نو مشاورینو يې ورته دا مشوره ورکړه چې له یوسفزو سره رشته ختمول غواړي چې دوی نور نه راځي،[۱۶۱] نو سلطان اویس خپله بي بي په چاړه ووهله او په منګلور کې يې دفن کړه.[۱۶۲] ملک احمد خبر شو، خو له حکمته يې کار وا خست او سره د سلو غوایانو لاسنیوي ته راغی.[۱۶۳] له ملک احمد سره چې کوم ملګري لاسنیوې ته راغلي وو د هغوی او د میر هنده (د سلطان اویس د فوځ مشر) په مینځ کې تاو تریخوالی پیدا شو او میر هنده د هغوی ډېره بې عزتي وکړه[۱۶٤] او دغو مېلمنو ته يې غله پر زمکه وغورزوله او چې

کله ملک احمد بهر راووت او له دې قيصې خبر شو نو ملګرو ته يې ډاډ ورکړ او ورته يې وويل چې دوی کبر وکړ، د سوات وريژې يې وغورځولې او مونږ راټولې کړې، انشاءالله سوات له دوی لاړ، ځکه چې دوی خپله کاسه پخپله واړوله.[١٦٥] دوی واپس شو او په سوات د حملې بندوبست يې جوړ کړ. سوات ته د راتلو دوه لارې وې يوه د مهورې پرغاښې وه چې په هغې د مير هنده چوکۍ ناسته وه او بله لار د مالاکنډ پر غاښي وه چې په هغې د بادشاه اويس او فرخ زاد تاڼه ناسته وه.[١٦٦] يوسفزو د مالاکنډ پر لار حمله وکړه او چې ښهر (بټ خېله) يې لاندې کړه او د سوات درېيمه حصه د دوی په تصرف کې راغله، نو چا چې به اطاعت قبلولو هغه ته به يې امن ورکولو او دغه رنګ نور يوسفزي به پسې په کډو راتلل او مېشت کېدل به.[١٦٧] دا شان په هر کلي کې يو څو کورونه به د يوسفزو وو نور به ورسره سواتي اوسېدل او بيا په تاڼه کې د سلطان اويس د لښکر او د يوسفزو جنګ شو، په دې جنګ کې سلطان اويس ماتې وخوړه او لښکر يې وتښتېده. د يوسفزو لښکر ورپسې روان شو، له ډېر هيبته سلطان اويس لار غلطه کړه او راپورې له لنډاکيه چې مقابل د ترهنګ کلی دی، له لښکره جدا شو، په ترهنګ ورغی، له هغه ځای څخه سوې ګلۍ په غاښي ورغی، له هغه دمغار ته ورغی او بيا له هغه ځای څخه منګلور ته ورغی.[١٦٨] په دې جنګ کې د سوات ډېر لوی لوی اميران مړه شول[١٦٩] سلطان اويس په دې تېښته کې له وېرې خپلې د سرو زرو حلقې هم وغورځولې چې څوک يې ونه پېژني ځکه چې هغه وخت به صرف بادشاه د سرو زرو حلقې اچولې.[١٧٠]له دې وروسته چې د يوسفزو او د سلطان د لښکر کوم جنګ وشو، نو په هغې کې له يوسفزو څخه صرف يو کس کريمداد دَ مير هنده په مقابله کې مړ شو او دوه برخې سوات د دوی په قبضه کې راغی او دغه شان په هر کلي کې څو څو کډې د يوسفزو پرتې وې.[١٧١] درېيمه برخه سوات چې له سلطان او ملک حسن متراوي سره و، هغه د سوېګلۍ له غاښي نه تر منګلوره پورې دا ملک د سلطان اويس و او د شامېلې له غاښي نه تر لنډاکي او مهورې پورې دا ښېرازه او د اوبو د لاندې علاقې له حسن متراوي سره وې او د يوسفزو ټول لښکر ورته ګېرچاپېره په ښار، تاڼه، چکدره او راموړه کې پروت و.[١٧٢]له دې وروسته يوسفزو پر منګلور او ګېرچاپېره کلو باندې حملې وکړې او سلطان اويس د منګلور په کلا کې بند و. دې دوران کې د يوسفزو ځينو هلکانو په تالاش حمله وکړه او تالاش او درست سوات د دوی په قبضه کې راغی.[١٧٣] د يوسفزو پر سوات له قبضې نه وروسته سواتيان له دې ځای نه پکهلۍ، الائي او ننده‌هياړ علاقو ته لاړل.[١٧٤] يوسفزو په

دولس کاله کې پوره سوات قبضه کړی دی.[۱۷۵] کله چې يوسفزو دا علاقه قبضه کړه نو د شيخ ملي په مشوره په مفتوحه علاقو کې تقسيم شو.[۱۷۶] له يوسفزو مخکې چې کوم خلک دلته اوسېدل هغوی ته زاړه سواتيان ويل کېږي. د سواتيانو قوم اگر چې په نسب کې په پښتنو نه ورگډېږي خو کله چې دوی پښتو وايي او ټول رواجونه يې د پښتنو دي او له پښتنو سره ډېرگډ راگډ دي نو ځکه په پښتنو حساب دي.[۱۷۷] دا سواتي د يوسفزو له قبضې نه بېرته وتښتېدل.[۱۷۸] په اتمه پېړۍ کې دغو سواتيانو د سيد جلال الدين په مشرۍ کې پر پکهلۍ حمله وکړه،[۱۷۹] په پکهلۍ کې د سلطان او دهگان تميز ختم شو.[۱۸۰] سوات ته د يوسفزو د راتگ د نېټې په باره کې H.W. Bellew داسې ليکي:

> In ۱۵۱۹ A.D, when Babur journeyed this way, their limit included the lower half of Swat, and it was subsequent to this that they spread into their present limits.[۱۸۱]

ترجمه: په ۱۵۱۹م کې چې کله بابر په دې لار سفر وکړ، هغه د کوز سوات تر نيمايي پورې محدود پاتې شو او له دې وروسته بيا هغه خپل موجوده حدونو پورې وغزېدو.

الله بخش يوسفي وايي چې دا اندازه لگولی شي چې تر ۱۵۱۵ پورې يوسفزو پر مردان، دير او سوات خپل اقتدار قائم کړی و.[۱۸۲] په Imperial Gazetteer کې ليکلي چې په شپاړسمه پېړۍ کې بونېر، کوز سوات او پنجکوړه د يوسفزو په قبضه کې وو.[۱۸۳] ډاکټر اکبر ايس احمد پر سوات د يوسفزو د قبضې نېټه ۱۵۲۰ ښيي.[۱۸٤] ډاکټر سلطان روم پر سوات د يوسفزو د حملې نېټه د شپاړسمې پېړۍ اولنۍ نيمايي ښيي.[۱۸۵] عبدالاکبر خان اکبر وايي چې پر سوات يوسفزو قبضه په ۱۵۱۸کې کړې او بندوبست وېش په ۳۱-۱۵۳۰کې شوی دی.[۱۸٦] له دې ټولو خبرو وروسته مونږ دا ويلای شو چې يوسفزي سوات ته د ۱۵۱۵ او ۱۵۳۰ عيسوي په مينځ کې راغلي دي.

د سوات اخون

په سوات کې چې له پير بابا او اخون درويزه بابا وروسته د کوم اهم او مقبول شخصيت ذکر راځي هغه د سوات اخون دی، چې د سيدو بابا په نوم مشهور دی. سيدو بابا(عبدالغفور) د سوات شاميزو په علاقه جبړۍ نومې کلي کې په ۱۷۹۴م کې پيدا شو، د پلار نوم يې عبدالواحد و، پښتون قام کې له صافي مومندو قبيلې سره تعلق لري.[۱۸۷] سيدو بابا په مختلفو نومونو مشهور دی، لکه سوات صاحب، اخون صاحب سوات، د سيدو غوث،

اخون بیکي او نور[188] H.W. Bellewد سیدو بابا د حسب نسب په باره کې داسې لیکي:

Abdul Ghafur, now known as Akhun Sahib, was born at jabrai, a small shepherd's hamlet in Bar Swat, about the year ١٧٩٤. His parents, of whome nothing certain appears to be known, were poor and obscure people of the Gujar caste, but according to some accounts, of the Tsapi caste, who are a branch of the Mian fraternity, according to the saying of his disciples and followers. The former would appear to be the correct account, for all admit that Abdul Ghafur in his youth was employed to tend cattle at graze.[189]

ترجمه: عبدالغفور چې اوس د سوات د اخون په نوم یادېږي په ۱۷۹۴م کال کې په بر سوات کې په جبړۍ نومې کلي کې د شپونکو په یوه وړه جونګړه کې پیدا شو. د هغه مور و پلار چې د هغوی په باره کې څه صحیح معلومات نشته د ګوجر قبیلې غریبانان او بې نومه خلک وو، خو د هغه د شاګردانو او مریدانو د ځینو روایتونو پر بنیاد دا صافیان وو چې دا د میاګانو له شجرې سره تعلق لري. دا وړومبنۍ خبره زیاته صحیح ښکاري ځکه ټول دا مني چې عبدالغفور به په خپل هلکوالي کې څاروي څرول.

د سید احمد بریلوي له مرګ وروسته د سوات اخون اهمیت نور هم ډېر شو، په دې باره کې ایمپیریل ګزیټیر داسې لیکي:

The primacy then passed to Abdul Ghafur, the famous Akhund, who established himself in ١٨٣٥ at Saidu in Upper Swat, where he lived until his death in ١٨٧٧, the most powerful man in the country.[190]

ترجمه: مشري بزرګي بیا اخوند عبدالغفور ته پاتې شوه چا چې ځان په ۱۸۳۵ کې په بر سوات کې د سیدو په مقام مقیم کړی و او همدلته دی تر وفات یعنې تر ۱۸۷۷م پورې اوسېده. دی د دې علاقې له ټولو څخه ډېر با اختیاره سړیو.

د سیدو بابا طبیعت له وړوکوالي نه پرهیزګارۍ طرف ته مایل و. د کومې غوا پۍ به یې چې څښلې، نو هغه به یې هم له پړي نیولې په دې خیال څروله چې هسې نه د بل چا

د پټې فصل یا وابنه وخوري.[۱۹۱] مېجر راورټي د سیدو بابا په باره کې داسې لیکي:

He is learned in the whole of the usual sciences studied by Muhammadans, to the necessary degree that his position in religious matters demands, and has no concern in, or control what soever, over the government of the valley, which is entirely held by the different petty chieftains.[۱۹۲]

ترجمه: هغه په هغو ټولو علومو باندې تر دومره حده پوهه لرله څومره چې په مذهبي معاملاتو کې پکارېږي او کوم چې مسلمانان لولي او زده کوي یې. دی د علاقې د حکومت په معاملاتو کې ګوتې نه وهي او نه پرې څه قابو لري دا اختیارات په مکمله توګه له وړو وړو ملکانو سره دي. د سیدو بابا هم دا کرزماتي شخصیت و، چې بیا وروسته په سوات کې د هغه لمسو د باچاهۍ په جوړولو کې لوی کردار ادا کړی دی.

په ۱۸۷۷م کې سیدو بابا وفات شو،له دوی څخه دوه ځامن پاتې شول د یوه نوم عبد الحنان میاګل او د بل عبد الخالق میاګل و، دا دواړه ورونه په میا ګلانو مشهور شول.[۱۹۳]

شهزاده عبد الحنان او سوات

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې د سیدو بابا دوه ځامن وو، د یوه نوم عبدالحنان و او د بل نوم عبدالخالق. عبدالحنان په مشر میاګل مشهور و، د تورو ټوپکو، د اسونو او د ښکارونو شوقي و، د ده دا خیال و چې د پلار له وفات وروسته په وطن کې د امن قایمولو لپاره فوځي طاقت ضروري دی. د دې غرض لپاره یې ډېر کوښښونه وکړل، خو کامیاب نه شو. دی په ۱۸۸۷م کې وفات شو. ده دوه ځامن عبدالرزاق المعروف سید بادشاه او عبدالواحد المعروف امیر بادشاه خپل یادګار پرېښودل.[۱۹۴] ایمپیریل ګزیټیر لیکلي چې د اخون سوات له وفات وروسته د ده ځوی د اقتدار ډېر کوښښ وکړ، خو خوند یې ونکړ او د دیر نواب یې سخت مخالفت وکړ.[۱۹۵] ډاکټر سلطان روم لیکي چې په ۱۸۷۱م او ۱۸۷۵م کې سیدو بابا د خپل مشر ځوی میا ګل عبد الحنان لپاره د سوات د باچاهۍ د منصب حاصولو کوښښونه کړي وو، خو ناکام شوی و. هغه مخکې لیکي چې میا ګل عبدالحنان ټول عمر د سوات د حکمرانۍ لپاره کوښښونه وکړل، خو د هغه دا خوب د پلار له مرګ وروسته هم پوره نه شو.[۱۹۶]

شهزاده عبد الخالق او سوات

عبدالخالق د دنياوي جاه و جلال پرواه نه لرله او له اول نه يې د سيدو بابا د ولايت او خلافت منصب سنبال کړ. د سيدو بابا خليفه ګان او مريدان يو ځل بيا سيدو شريف ته راروان شول. دی په ۱۸۹۲م کې وفات شو. دوه ځامن شهزاده عبدالودود او شهزاده عبدالمنان عرف شيرين صاحب ترې پاتې شول.[۱۹۷]

په سوات کې لومړنی حکومت

سيدو بابا د سوات د خلکو په صلاح د پير بابا په اولاد کې د ستهانې د سيد زمان شاه لمسي سيد اکبرشاه ته دعوت ورکړ او په ۱۸۴۹م کې يې د سوات باچا کړ. د سوات په تاريخ کې د يو حکومت جوړېدل يوه مهمه واقعه ده. د سوات خانان ملکان په خپله ازادۍ وېرېدلي وو ځکه چې انګرېزان د هغوی دروازې ته رارسېدلي وو، ځکه هغوی جرګه وکړه او سيد اکبر شاه يې خپل بادشاه ومانه. دی تر خپل وفات يعنې د۱۸۵۷م کال د مې تر ۱۱مې نېټې پورې د سوات باچا و.[۱۹۸] سيد اکبر شاه سوات بونېر کې امن قائم کړ، شرعي نظام يې جاري کړ، بيت المال يې جوړ کړ او حضرت اخون صاحب سوات يې شيخ الاسلام مقرر کړ.[۱۹۹]

دسوات د ریاست تشکیل

سید عبد الجبار شاه (۱۸۸۰-۱۹۵٦) او سوات

په ۱۹۱۵م کې د سوات خلک چې د دیر د نواب له ظلمونو نه ډېر تنگ شول، نو د سنډاکۍ ملا تر ببرغ لاندې راجمع شول. اول دوی غوښتل چې په میاگلانو کې یو کس خپل مشر کړي خو هغوی له یو بل سره په حسد کې دومره ډوب وو چې دوی ته خپله د نجات لار په هغوی کې نه ښکارېده او سم له واره یې سید عبدالجبار شاه را اوغوښت.[۲۰۰] سید عبدالجبار شاه د سوات له باچا کېدو وروسته د سواتیانو د مشرانو یوه لویه جرگه سیدو شریف ته راوبلله. د دغې جرگې په صلاح مشوره یې د سوات لپاره یوه نظام نامه جوړه کړه.له دې وروسته یې سنډاکۍ ملا صاحب د سوات قاضي القضاة مقرر کړ.[۲۰۱] دی د ۱۹۱۵م کال د اپریل پر ۲۴مه باچا شو.[۲۰۲] میاگل عبد الودود په خپل سوانح کې لیکي چې کوم وخت سید عبد الجبار شاه باچا شو، نو په هغه وخت کې زما او زما د ورور میا گل شیرین جان له یو بل سره تعلقات ډېر خراب وو. زمونږ د دواړو جدا جدا ډلې وې، اصل کې عبد الجبار شاه د شمالي سوات خلک، یعنې د سیند ښي طرف خلکو بادشاه کړی و، نو د بابوزي علاقې او نورو خلکو چې دا تماشه ولیده نو دوی هم تگ راتگ شروع کړل، حتٰی چې زما شیرین هم ورسره ملاقات وکړ، نو په دې دوران کې ما د میا گل عبدالودود او شیرین خپلو کې صلح وکړه او د خپلو ډلو خلکو ته یې وویل چې له یو بل سره جوړ شئ.په دې خبره خلک له دوی نه خفه شول او څه کسان د عبد الجبار شاه څنگ ته لاړل، نو میا گلانو پر هغوی حمله وکړه او بیا عبد الجبار شاه د هغوی په مرسته پر میا گلانو حمله وکړه او دوی یې له سوات څخه وویستل. دوی په دیر کې دلبار نومې کلي ته لاړل چرته چې د میاگلانو خپل دو ترونه وو.[۲۰۳] سید عبد الغفور قاسمي د عبد الجبار شاه په باره کې لیکي چې د هغه په لاس کې له ښه تقریر او صفا تحریر نه علاوه نور هېڅ هم نه وو، خو د سوات قوم له ده سره ډېره مرسته وکړه او په خپلو ټوپکو کارتوسو ورسره نوکران شول[۲۰٤] اگر چې سید عبد الجبار شاه بادشاه و، خو د ریاست حقیقي بانیان مولوي احمد جان عرف سنډاکۍ ملا ، ماسم خان او د هغه ورور حبیب خان شامیزی وو.[۲۰۵] په ۱۹۱۷م کې سید عبد الجبار شاه له حکومت څخه معزول کړل شو. په دې باره کې ډاکټر محمود احمد غازي د سید عبدالجبار شاه د پسمرگي چاپ شوي کتاب "کتاب العبرة" په دیباچه کې لیکي

چې د انګرېزانو سازشونو او د خپلوانو دوکو هغه کار ته نه پرېښوده.[۲۰۶] سید عبد الغفور قاسمي لیکي چې د هغه حکومت ځکه ختم شو، چې هغه خپل خپلوان په سوات کې په اعلٰی عهدو مقرر کړي وو او نه یواځې دا چې هغه قادیانی و، بلکې د قادیاني مشن یو سرګرم کارکن و.[۲۰۷] تاج محمد خان زېب سر وایي چې د هغه د معزول کولو وجه هم د هغه دغه د قادیانیت نظریات وه، په دې اړه هغه داسې لیکي:

یـــــــو مــــــــلا شـــــــــولو وارد د هندوســـــــــتانه
دا مــــــــلا د مـــــــا مـــــــــدېرۍ وه واوره مانـــــــــه
چــــــې ای خلقــــــو ستاســــــو شــــــاه خـــــو قادیــــــانی دی
دا احـــــوال معلـــــوم ټـــــول مـــــا تـــــه پخـــــوانی دی
چــــــې مــــــلا د ســــــنډاکۍ پــــــرې خــــــبردار شــــــه
مخــــــالف هغــــــه د شــــــاه عبــــــد الجبــــــار شــــــه[۲۰۸]

بهر حال لکه څنګه چې مخکې وویل شول د عبدالجبار شاه په بادشاه کېدو او معزول کېدو دواړو کې د سنډاکۍ ملا لوی کردار و. سنډاکۍ ملا له هغه سره تعلق ځکه خراب شو، چې هغه د انګرېزانو طرفداري کوله. سید عبدالجبار شاه د سوات د ټولو کورنیو او بېروني مسئلو حل په دې یوه خبره کې لیده، چې سوات دې انګرېزانو ته حواله شي. د دې حالاتو په رڼا کې د بر سوات د خلکو یوه جرګه د نلو په قلا کې د ۱۹۱۷م کال د ستمبر میاشتې پر دویمه نېټه د اتوار پر ورځ راوبلل شوه چې د سوات د مستقبل د بادشاه په باره کې فیصله وکړي او همدغې جرګې سید عبدالجبار شاه ته دا پېغام ولېږه، چې د سوات خلکو ته نور د هغه د خدمت ضرورت نشته.[۲۰۹]

میا ګل عبد الودود (۱۸۸۳-۱۹۷۱) او ریاست سوات

د عبدالجبار شاه له معزول کولو وروسته میا ګل عبدالودود ته په خپلو مقاصدو کې کامیابي حاصلول اسان شول، یعنې هغه دا غوښتل چې د سوات یو روحاني او سیاسي مشر جوړ شي. دغه وخت کې ده ته میدان خالي و او صرف د ده یو معارض و د دیر نواب، خو هغه هم په جندول کې په خپلو نورو مسلو کې نښتی و او دارنګ د ۱۹۱۷م کال د ستمبر میاشتې په دویمه هفته کې میاګل عبدالودود ته د کبل په ګراونډ کې د بادشاهۍ پګړۍ پر سر شوه.[۲۱۰]

میاګل عبدالودود (عرف باچا صاحب) چې د سوات حکمران شو، نو سمدستي ورته په ۱۹۱۸م کې د دیر نواب پر سوات حمله وکړه. هغه د دیر د نواب د فوځ د مقابلې لپاره خپل کشر ورور شیرین شهزاده ولېږه، هغه ډېر په نره وجنګېده، خو اخر وفات شو. په ۱۹۱۹م کې د دیر نواب ته بادشاه صاحب سخت شکست ورکړ او د ادینزئ علاقه یې قبضه کړه، چې بیا وروسته فرنګیانو په ۱۹۲۲م کې د میاګل عبدالودود او د دیر نواب تر مینځ صلحه وکړه او دا علاقه یې د دیر نواب ته ورکړه. د دیر له خطرو چې میا ګل عبدالودود فارغ شو، نو اباسین کوهستان علاقي یې فتحه کړې او په ۱۹۲۲م کې یې بونېر هم قبضه کړ.[۲۱۱] W.R. Hay لیکلي، چې بونېر یې د ۱۹۲۳م کال په می کې قبضه کړی دی.[۲۱۲]

میا ګل محمد عبد الحق جهانزېب ولیعهد منتخب کول

د میاګل محمد عبدالحق د ولیعهد منتخب کولو په باره کېW.R Hay لیکي چې د بونېر له فتح کولو فوراً بعد هغه د ۱۹۲۳م کال په مئي کې په سیدوشریف کې یو دربار راوبللو او خپل مشر ځوی میاګل جهانزېب بې خپل ولیعهد خوښ کړ. په دغه وخت کې هغه له برتانوي حکومت سره د خپلې وفادارئ او له بالشویزم څخه د بېزارئ اظهار هم وکړ او پولیټیکل ایجنټ ته یې ولیکل چې هغه د "فرمانرواء یوسفزي" لقب اختیار کړی[۲۱۳]او د ۱۹۳۳م په مئي کې برتانوي حکومت جهانزېب ولیعهد تسلیم کړ.[۲۱۴]

د انګریزانو ریاست سوات تسلیمول

برتانوي حکومت په ۱۹۲٦م کې ریاست سوات تسلیم کړ.په دې باره کې W.R. Hay لیکي چې اخر کار دا تجویز وړاندې کړل شو، چې عبدالودود دې بادشاه تسلیم کړی شي او همدغسې وشوه او د هغه لپاره یې د کال لس زره روپئ معاوضه هم مقرر کړه. دا معاوضه د هغې معاهدې په بدل کې وه په کومه کې چې له نورو خبرو نه علاوه دا خبره هم وه چې دی به د برتانوي حکومت وفادار وي او په اخره کې په دې خبره هم فیصله وشوه چې د ده لقب به بادشاه نه وي، یا به والي او یا به حکمران وي ځکه چې د بادشاه لقب صرف د برتانیې د حکمران لپاره خاص دی.[۲۱۵]جیمز ـ ډبلیو سپېن لیکي چې د ریاست په تسلیمولو کې یو شرط دا و چې والي به د قانون مفرورانو ته په خپل ریاست کې پنا نه ورکوي.[۲۱٦] میاګل عبد الودود یو وهبي قائد Charismatic leader تعریف ته دومره نزدې و،

ځومره چې کېدی شوه او په دې کې کامیاب شو چې په ۱۹۲٦م کې انګرېزانو د سوات والي ومنلو.[۲۱۷]

میا ګل محمد عبدالحق جهانزېب د سوات والي کېدل

لکه څنګه چې مخکې ویل شوي چې میاګل عبدالودود د ۱۹۲۳م کال د مې پر ۲۱مه یو دربار منعقد کړ او میاګل جهانزېب یې ولیعهد مقرر کړ او د ۱۹۳۳م کال د مې پر ۱۵ مه انګرېز حکومت میاګل جهانزېب په سرکاري توګه ولیعهد ومنلو. څه ورځې وروسته باچا صیب له ولیعهد نه بد ظنه شو او په ۱۹۳۵م کې یې له هغه نه اختیارات واخستل او پینځه کاله بعد یې د صوبایي ګورنر په مفاهمتي کوښښ بیا بحال کړ. میاګل جهانزېب د دې کشیدګۍ وجه د وزیرانو سازش بیانوي. وزیران چې کله د خپلو مفاداتو په تحفظ کې ناکام شول، نو د۱۹۴۳م کال په اکتوبر کې له سوات نه ووتل. د ۱۹۴۹م کال د دسمبر پر ۱۲مه میاګل عبدالودود د خپل ځوی په حق کې له تاج و تخت نه لاس په سر شو او میاګل جهانزېب نوی والي شو.[۲۱۸]میاګل عبدالودودله حکومت څخه د دستبردارۍ دوه وجې ښیي، هغه وایي چې زما د علم حاصلولو شوق و او دویم ما غوښتل چې د سوات د خلکو اخلاقي اصلاح وکړم.[۲۱۹] میاګل جهانزېب وایي چې له ما سره د پلار محبت و، نو ځکه یې زه والي کړم او دا یې ویل چې ما ته یې حکومت په ۱۹۳۵م کې راکاوه، خو حالات ښه نه وو.[۲۲۰]

ریاست سوات کې پښتو سرکاري ژبه

د پښتو په تاریخ کې سوات هغه ریاست و چرته چې پښتو ته سرکاري سرپرستي مېلاو شوه او پښتو سرکاري ژبه وګرځول شوه. په دې باره کې میاګل عبدالودود داسې وایي:

> "زه چې د سوات حکمران شوم نو بیا څه موده پس زه په دې نتېجه ورسېدم چې هرې علاقې او هر قام لپاره خپله ژبه خپلول ښه وي. خپلې ژبې او خپل تهذیب ته په سپک نظر کتل د پرېوتي غلام ذهن کار دی او له خپل قومي وقار او قومي غیرت سره دښمني کول دي، نو ما د خپل ریاست دفتري او عدالتي ژبه پښتو مقرر کړه، سرکاري فارمونه، اسټامونه، رجسټرونه، کتابونه دا هر څه مې پښتو کې چاپ کړل"[۲۲۱]

میاګل عبدالودود په۱۹۱۷م کې د سوات حکمران منتخب شوی و او پښتو د سرکاري او دفتري ژبې په حیثیت په ۱۹۳۷م کې په نظر راځي. په دې حواله چې کله د ریاست سوات سرکاري ریکارډ ولټول شو، نو رجسټر نمبر۱: بیع نامه جات، رهن نامه جات، نکاح نامه جات، اقرار نامه جات: از مورخه ۲۱جنوري ۱۹۳۰ تا ۲۹-۰۲-۱۹۳۲ د دې رجسټر ټولې انټریانې په فارسی کې دي.[۲۲۲] کتاب نمبر: ۳ بیعه نامه ، نکاح نامه تحصیل خوازه خېله از ۱۹۳۴-۰۵-۰۳ تا ۱۹۳۶-۰۴-۱۴په دې کتاب کې هم ټول اندراجات په فارسی کې شوي دي .[۲۲۳] رجسټر نمبر ۱۰۱: رجسټر اندراج فیصله جات تحصیل مټه از ۱-٦-۱۹۳۵ تا ۱-۵ -۱۹۴۴په دې رجسټر کې له ۰۵-۰٦-۱۹۳۷پورې ۹۹ فیصلې په فارسی کې لیک دي او سلم نمبر فیصله چې په ۲۱-۰٦-۱۹۳۷لیک ده دا او له دې نه تر ۲۷-۵-۱۹۴۴پورې ټولې فیصلې په پښتو کې لیک دي.[۲۲٤] خوازه خېله تحصیل رجسټر نمبر ۱: فیصله جات از ۰۸-۰٦-۱۹۳۵په دې رجسټر کې تر ۲۹- ۰۵- ۱۹۳۷پورې فارسي ده.له ۱٦- ۰٦- ۳۷ نه بعد فیصلي په پښتو کې لیکل شوې دي. په دې رجسټر کې وروستی فیصله په ۲۸- ۰۴- ۴۲ په پښتو کې لیکل شوې ده.[۲۲۵] رجسټر نمبر ۳ فیصله جات فتح پور از ۹- ۷- ۴۴- تا ٦- ۴- ۴٦ دا ټولې فیصلې په پښتو ژبه کې لیکل شوې دي.[۲۲٦] رجسټر نمبر ۹ کتاب اندراج رهن نامه از ۲۳- ۴- ۰٦ تا ۲۱- ۳-٦۲ په پښتو کې دي.[۲۲۷] کتاب اقرارنامه، نکاح نامه تحصیل خوازه خېله له ۲۹- ۳- ٦۲ تر ۱۲- ٦- ۷۴ دا په پښتو کې لیکل شوې دي.[۲۲۸] کتاب نمبر ۱۷ کتاب فیصله جات نائب مشیر بابوزي مورخه ۲۳- ٦- ٦۹ تر ۱۳- ٦ ۷۰ دا فېصلې هم پښتو کې لیکل شوې دي.[۲۲۹] رجسټر نمبر ۱۱ رهن نامه خوازه خېله ۲۷- ۵- ٦۹ تر ۲۰-۴- ۷۰ دې رجسټر کې هم پښتو لیک ده.[۲۳۰] رجسټر نمبر ۳۳ فیصله جات بابوزي محکمه قضا له ٦-۸-۷۰ څخه تر ۲۸-۲-۷۴ پورې دا هم په پښتو کې لیکل شوي دي.[۲۳۱] رهن نامه تحصیل خوازه خېله له ۱- ٦- ۷۱ څخه تر ۲۹- ۴- ۷۲ ص ۱٦۰۰۱ تر ۱٦۱۹۹ پورې په پښتو کې لیکل شوي دي.[۲۳۲] فېصله جات تحصیل بابوزي له ۱۳-٦- ۷۲ تر ۱۵-۸- ۷۲ پورې په پښتو کې لیک دي.[۲۳۳] رجسټر نمبر ۱: رجسټر بیع نامه فتح پور له ۲۸-۴-۷۳ څخه تر ۱-٦-۷۴ پورې. رجسټر نمبر ۱۹: رجسټر بیع نامه تحصیل خوازه خېله له ۲۳- ۵- ۷۴ څخه تر ۲۵- ٦- ۷۴ رجسټرتمسکات له ۲۳-۵- ۷۴ څخه تر ۱۱- ٦- ۷۴، رجسټر رهن نامه تحصیل خوازه خېله له ۲۳- ۵- ۷۴ څخه تر ۱۲- ٦- ۷۴ پورې دا ټول په پښتو کې لیکل شوي دي.[۲۳٤] رجسټر نمبر ۱: اقرار نامه فتح

پور له ٦-٥-٧٠ څخه تر ۴-٦-٧۴ له ۳۸۸۰۱ مخ څخه تر ۳۸۹۹۹ پورې په دې کې تر ۳- ٦-٧۴پورې پښتو ده او په ۳۸۹۹۹نمبر صفحه، یعنې اخري مخ تمسک نمبر ۸۷ تاریخ ۴-٦-٧۴ په اردو کې دی.[۲۳۵] بهي نمبر ۱ جلد نمبر ۱ خوازه خېله رجسټر خوازه خېله ضلع سوات له ۳۱- ۵- ٧۵ څخه تر ۲٧- ۸ -٧٧ پورې دا رجسټر ټول په اردو کې لیکل شوی دی.[۲۳٦]

په دې رجسټرو کې په یو رجسټر کې په وړمبي ځل ۱٦/ ٠٦/ ۱۹۳٧ پښتو په نظر راځي دغه رنګ په بل رجسټر کې په ۱۹۳٧/٠٦/۲۱ کې په وړمبي ځل پښتو لیکل شوې او له دې مخکې ټوله فارسي ده، نو پته لګي چې پښتو د ۱۹۳٧م کال له جون څخه په ریاست کې د سرکاري ژبې په حیث شروع شوې وه. دغه رنګ کله چې د پښتو د سرکاري ژبې حیثیت ختمېږي او اردو شروع کېږي، نو مونږ په یو رجسټر کې په ٠۴- ٠٦ - ۱۹٧۴ کې اردو وینو، دغه رنګ بل رجسټر چې د ۳۱- ٠۵- ۱۹٧۵ څخه تر ۲٧- ٠۸- ۱۹٧٧ پورېدی دا ټول په اردو کې دی، نو پته لګي چې د ۱۹٧۴ تر جون پورې پښتو سرکاري ژبه وه او بیا اردو شروع شوې ده.

په سوات کې پښتو ته د سرکاري ژبې حیثیت په ورکولو کې د چا تحریک کېدې شي، په دې حواله دا ویل کېږي، چې دا مشوره باچا صیب ته د سوات د دېولۍ کلي ذولفقار ملک ورکړې وه. ذوالفقار ملک د باچا صیب نزدې ملګری او خفیه خبر رسان و، هغه باچا صیب ته دا خبر ورکړ، چې په افغانستان کې پښتو سرکاري ژبه ګرځول شوې ده.[۲۳٧]

په ریاست سوات کې پښتو ته د سرکاري او دفتري ژبې مقام ورکولو تجویز د سوات والي ته په ۱۹۲٦م کې مولانا عبدالقادر هم ورکړی و. مولانا عبدالقادر لیکي چې که میاګل عبدالودود د تعلیم ښه خدمت کول غواړي، نو پښتو به خپله قانوني او تعلیمي ژبه مقرر کړي او د خپلو مدرسو نصاب به د پښتو په ژبه کې منظور کړي. دی بیا وړاندې لیکي چې که میاګل عبدالودود داسې وکړي نو امید دی چې چرته په اخبار یا رساله کې د هز مجسټي امیر امان الله خان غازي محض په دې تعریف کېږي او نوم یې اخستی شي، نو هلته به د دوی نوم ورسره ځلېږي.(سرحد اکتوبر ۱۹۲٦م) [۲۳۸] په دې حواله عبدالرحمن شباب "د فکر یون" په دیباچه کې لیکي چې دې خبرې ته خو بنده حیران پاتې شي چې دومره کم عمرۍ کې او د کالج په مست او نا تجربه کار ماحول کې یو طالب علم دومره رسا او په صدو مخکې نظر لرونکی ذهن او نظر لري چې د سوات تعلیمي سرګرمۍ ستایي او د سوات والي صاحب ته دا تجویز وړاندې کوي چې سوات به هله ترقي وکړې او والي صاحب

به په اصلي معنو کې د خپل ملک ښې ورځې ولیدی شي چې د ملک تعلیمي او دفتري ژبه خپله مورنۍ ژبه پښتو وګرځوي. بیا وړاندې عبدالرحمان شباب لیکي چې په سوات کې تعلیمي او دفتري ژبه پښتو ګرځېدل هم د دغه نوخېزه هلک د فکر نتېجه ده.[۲۳۹]

او کله چې په سوات کې پښتو ته سرکاري سر پرستي حاصل شوه او دلته د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ انګازې جوړې شوې، نو مولانا عبدالقادر د سوات والي ته په یو خط کې لیکلي، چې دا امتیاز او افتخار الله تعالی د سوات د ریاست د چلوونکي خاندان په برخه کې لیکلی و، چې پښتو په حیثیت د سرکاري ژبې هم په سوات کې ده... [۲۴۰] په افغانستان کې پښتو په لومړي ځل په ۱۹۳۶م کې سرکاري ژبه وګرځولې شوه.[۲۴۱] پښتو ته د سرکاري ژبې حیثیت ورکولو امتیاز د ریاست سوات دی ځکه چې دلته یواځې پښتو دفتري ژبه وه او په افغانستان کې ورسره دري ژبه هم شامله وه.[۲۴۲]پښتو چې کله په سوات کې سرکاري ژبه شوه، نو په اردو سکرپټ کې به لیکل کېده او ساده او د اسانې ژبې د استعمالولو حکم باچا کړی و، لکه د باچا صیب د سوانح په انګرېزۍ ترجمه کې چې لیکل شوي دي:

> On coming into authority, I declared Pashto to be the official language of the State and adopted the Urdu script as the style of writing. Special forms and registers were prepared in Pashto for use in offices and courts. Both officials and the public were directed to employ simple, every day language in all their writings, and express themselves briefly and to the point, especially avoiding lengthy salutations and adulatory phrases. [۲۴۳]

ترجمه: چې کله زه د اختیار خاوند شوم نو ما پښتو د سوات سرکاري ژبه وګرځوله او د لیکدود لپاره مې د اردو رسم الخط اختیار کړ. په دفترونو او په عدالتونو کې د استعمال لپاره خصوصي فارمونه او رجسټرې مې په پښتو کې تیارې کړې، دواړو عوامو او خواصو ته هدایات ورکړ شو، چې په خپلو لیکونو کې دې ساده د روزمرې مطابق ژبه استعمالوي، خپله مدعا دې په لنډو ټکو کې بیانوي او په خصوصي توګه دې ځان له اوږدو القابو او ادابو څخه وساتي.

په خط يا درخواست کې د مختصر القاب او اداب ليکلو په باره کې مياګل جهانزېب په ۱۹۶۰/۱۰/۴م کې يو حکم جاري کړی و "چې هر څوک په خط يا په درخواست کې سرنامه ليکي نو هغه به هيچا ته (قبله و کعبه، قبله دو عالم) الفاظ نه ليکي، خواه که هغه پلار ته ليکي يا بل لوی افسر ته، د هر مسلمان لپاره قبله او کعبه شته، هغه کافي دي، صرف جناب پوره دی، لکه (جناب وزير صاحب) يا (جناب مشير صاحب). [۲۴۴] د سوات په رواجنامه کې هم دا حکم ليکل شوی دی. [۲۴۵] دغه رنګ په يو بل حکم کې يې ليکلي، چې هر سرکاري نوکر به اخبار يا رسالي ته د خوشامدانه تعريف، توصيف، مضمون نه ورکوي، البته شاعر خپل نظم يا شعرونه اخبار ته ورکولی شي. [۲۴۶] دا حکم په رواجنامه سوات کې هم چاپ دی.[۲۴۷] د پښتو د ځينو لفظونو د املا په باره کې يې دا حکم کړی دی:

لاندې الفاظ چې څوک ليکي، نو صحيح به ليکي،غلط به نه ليکي:

صحيح	غلط
صاحب	صېب
معصوم	ماشوم [۲۴۸]

دا پاسني حکمونه د دې کتاب په ضميمو کې هم موجود دي.

پوهاند صديق الله رشتين ليکلي، چې هغه کله سوات ته تلی و، نو والي ورته ووې چې " زمونږ د رياست د کاروبار ژبه پښتو ده، خو پخوا فارسي وه. دلته مونږ د پښتو ځينې کتابونه هم چاپ کړي دي لکه د سوات د رياست تاريخ، فتاویٰ ودوديه، د انوار سهيلي او د فرشتې د تاريخ پښتو ترجمې. هغه وړاندې ليکلي، چې ماته وويل شول چې په سوات کې د سوات تاريخ او فتاویٰ ودوديه اول په اردو ليکلي وو، خو د خان عبدالغفار خان په وينا دغه کتابونه په پښتو نشر شول. وايي چې د سوات تاريخ اول تاج محمد زېب سر په اردو برابر کړی و، سيد عبدالغفور قاسمي په پښتو واړوه. [۲۴۹] نصرالله خان نصر د رياست سوات د حکمرانانو د ادب نوازۍ او د پښتو ژبې د خدمت په باره کې ليکي، لکه څنګه چې په برصغير هند کې د دکن واليانو د اردو د اديبانو او شاعرانو حوصله افزايي کوله او اردو ژبه يې په دغه حکمت عملۍ سره صرف پنځه سوه کالو کې د ترقۍ معراج ته رسولې وه، دغه رنګ والي صاحب هم د هغو په نقش قدم قدم ايښی دی. بيا وړاندې ليکي چې د دکن د واليانو توجه صرف د اردو ژبې طرف ته وه او د سوات والي له اردو ژبې سره سره پښتو ژبې ته هم ترويج ورکوي. د والي په دغه اقدام نه يواځې په رياست کې ښه ښه شاعران او

ادیبان د پښتو د ادب په اسمان لکه د ستورو وځلېدل، بلکې له سوات بهر هم ځینې شاعران او ادیبان د گمنامۍ له وریځو ځخه لکه لمر ځرگند شول. د سوات والي به د خپلې سالگرې په ورځ یعنې د جون پر ۵ مه نېټه به هر کال چراغان او خوشحالۍ کولې، په دغه تقریب کې د صحافیانو، شاعرانو او ادیبانو ډېر خاطر تواضع په دې غرض کېده، چې نور خلک ترې عبرت واخلي او د شاعر او ادیب د قدر او منزلت مقام وپېژني. [۲۵۰] دغه رنگ د دسمبر پر ۱۲ مه نېټه به هم د سوات والي مشاعرې کولې، دغه د هغه د تاج پوشۍ ورځ وه او په دغو پروگرامونو کې به د ټولې پښتو نخوا شاعرانو برخه اخستله[۲۵۱] او والي سوات به د لیکوالانو حوصله افزایي کوله[۲۵۲] ځکه چې هغه یو ادب دوست انسان و.[۲۵۳] د سوات باچا نه صرف پښتو سرکاري ژبه گرځولې وه، بلکې د پښتو کتابونه یې هم ډېر په ښکلي ډول چاپول او خلکو ته به یې مفت ورکول. په دې باره کې میاگل عبدالودود لیکلي، چې په هغه زمانه کې د فیرنگي پاچاهي وه، نو د پښتو خوارې تپوس چا کوه. هغه وړاندې دا هم لیکلي، چې له پښتو ځخه د تعلیم یافته پښتنو د بېزارۍ وجه هم دا ده چې یو خو پښتو له سرکاري سر پرستۍ محرومه ده، بله دا چې د پښتو کتابونه او لټریچر په داسې بد رنگې طریقې سره چاپېږي چې هېڅ زړه راښکون نه لري. په هغې زمانې کې به اکثر هندوانو او سکهانو دوکاندارانو د تجارت لپاره په خراب او کمزوري کاغذ د پښتو کتابونه چاپول. میاگل عبدالودود وایي دا ضروري وي چې په پښتو کې یو ځو ښکلي او معیاري کتابونه چاپ شي او بیا خلکو ته مفت ورکړل شي، چې له پښتو سره د خلکو دلچسپي پیدا شي او ذ هني فایده هم ترې حاصله شي. [۲۵۴]

د ریاست ادغام

د هند له وېش مخکې په براعظم گوټي کې درې قسمه علاقې شاملې وې (i) برتانوي هند (ii) قبایلي علاقې (iii) شاهي ریاستونه. [۲۵۵] کله چې د ۱۹۴۷م کال د اکست پر ۱۴ مه نېټه پاکستان جوړ شو، نو د هغه وخت د سوات والي میاگل عبدالودود د پاکستان له حکومت سره په یوه معاهده دستخط وکړ او د خارجه پالیسۍ دفاع او د مواصلاتو په محکمو کې یې اختیارات پاکستان ته ورکړل،[۲۵۶] له دې وروسته د پاکستان وفاقي حکومت د ریاستونو په حکمرانانو دباو راوست، چې مرکزي حکومت ته نور اختیارات ورکړي. په دغه تناظر کې د سوات والي میاگل جهان زېب په ۱۹۵۴م کې په ضمني ضابطه الحاق دستخط وکړ او دغه رنگې د پاکستان قانون سازې اسمبلۍ ته نور اختیارات

حاصل شول.[۲۵۷] د ۱۹۶۲م کال د آئین د ۲۲۳ نمبر دفعه په ۳ کلاز کې یې لیکلي دي:

The President may, at any time, by order, direct that the whole or any part of a Trible Area shall cease to be a Tribal Area and any such order may contain such incidental and consequential provisions as may appear to the president to be necessary and proper. Provided that before making any order under clause, the president shall ascertain in such manner as he considers approiate, the views of the people of the area concerned, as represented in Jarga. [۲۵۸]

د ۱۹۶۲م په دې آئین کې له ۲۴۲ دفعه لاندې د امب، چترال، دیر او سوات ریاستونه په قبایلي علاقو کې شامل کړی شوي دي. چیف مارشل لاء ایډمنسټریټر یحیٰي خان د ۱۹۶۲م د آئین د ۲۳۳ دفعه کلاز نمبر ۳ لاندې صدارتي اختیارات استعمال کړل او د ۱۹۶۹م کال د جولای پر ۲۸ مه نېټه یې په ریاست سوات کې د انتظامي بدلونونو اعلان وکړ، چې باقاعده نوټیفکیشن یې د ۱۹۶۹ م د اګست پر ۱۵ مه نېټه وشو.[۲۵۹]

د ادغام د دې ریګولیشن د سیکشن B مطابق د ملاکنډ ډویژن د وړمبي کمشنر تقرري د ۱۹۶۹م د اګست پر ۱٦مه نېټه وشوه، [۲۶۰] د ده نوم سید منیرحسین و. [۲۶۱] د مغربي پاکستان ګورنر د ملاکنډ ډویژن کمشنر ته د والي اختیارات ورکړل.[۲۶۲] د ۱۹۶۹م کال د اګست پر ۱۸مه نېټه محمد همایون خان د سوات وړومبی ډپټي کمشنر مقرر شو[۲۶۳] په دغه وخت کې چې کومې علاقې په سوات ضلع کې شاملې وې په هغې کې موجوده بونېر، شانګله او له آباسین راپورې د کوهستان حصې هم شاملې وې. په ۱۹۷٦م کې د اباسین ښي طرف ته د کوهستان حصې له سوات څخه جدا کړی شوې او د کوهستان په نامه ځانته یوه ضلع جوړه شوه.[۲٦٤] دغه رنګ په ۱۹۹۱م کې د بونېر علاقې هم جدا کړل شوې او ځانله بونېر ضلع جوړه کړی شوه [۲٦٥] او په ۱۹۹۵م کې د شانګلې علاقې جدا کړل شوې او د شانګله په نوم یوه ضلع جوړه کړل شوه.[۲٦٦]

د ریاست سوات د ادغام وجوهات

په پاکستان کې د ریاست سوات د مدغم کولو لویې لویې وجې دا دي:

مطلق العنانیت، د ذمه وار نمایندہ حکومت نشتوالی، د معاشرې د سرمایه دارو

خلکو ناراضيتوب، د اصلاحاتو مطالبه، د جماعت اسلامي کردار، سماجي او معاشرتي عوامل، د سياستوالو کردار، د پاکستان په سياست کې د بدلون کردار او ځيني نور عوامل.

د ادغام اثرات

د ادغام څه فايدې او څه نقصانونه مخې ته راغلل، لکه له ادغام سره چې څنګه د امريت خاتمه وشوه، نو خلکو ته د اظهار راى ازادي حاصل شوه، له دې مخکې د اظهار او سياسي سرګرميو ازادي نه وه. له ادغام وروسته ملازمتونه د اهليت پر بنياد مېلاويږي او د رياست په وخت کې دا ټولې خبرې د حکمران په خوښه وې. کله چې د ۱۹۶۹م کال د جولاى پر ۲۸ مه نېټه د ادغام اعلان وشو او والي خپل کار بند کړ، خو نوره انتظاميه نه وه او باقاعده نوټيفيکشن د ۱۹۶۹م کال د اګست پر ۱۵ مه نېټه وشو، نو په دې مينځ کې د انتشار او بې يقينۍ صورتحال پيدا و. د رياستي ملازمينو د نوکرو په مسئله کې ډېر مشکلات راپېښ شول، نوې انتظاميه د خلکو د مسائلو په حل کولو کې ناکام راغله ځکه چې د هغوى اختيارات هم محدود وو او وسائل هم نه وو. غير سواتي خلک په سوات کې اباد شول، چې دې هم ډېرې مسئلې جوړې شوې. د زمکو او د جايدادونو مسئلې او تنازعې ډېرې راپيدا شوې چې د دې د حل کولو لپاره د شمال مغربي سرحدي صوبې حکومت د ۱۹۷۰م په اکتوبر کې يو کمېشن مقرر کړ، چې د دې جګړو حالت معلوم کړي[۲۶۷] د ځنګلونو بې دريغه پرېکول شروع شول، د انتظامې لپاره هم مشکلات پيدا شول، د تعليم معيار راوغورځېد، د ميلونو او کارخانو له بندېدو سره معاشي حالت خراب شو، په عدالتي فيصلو کې مشکلات رامخې ته شول. د رياست سوات له ادغام سره ځينې حالات داسې هم رامخې ته شول، چې د هغې ډېرې خرابې نتېجې بيا وروسته د سوات خلکو د ترهګرۍ په شکل کې وليدلې.

حوالې

١ Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢١.

٢ - حبيبي، عبدالحی. تاريخ افغانستان بعد از اسلام، تهران (ايران)، دنياي کتاب، ١٣٦٧ل، م (١٩٨٨)، ٢٠ مخ.

٣ [Hiuen Tsiang], Chinese Accounts of India translated from the Chinese of Hiuen Tsiang, translated and annotated by Samuel Beal, Vol. ٢, new edn.(Calcutta: Susil Gupta (India) Limited, ١٩٥٨), p.١٦٦.

۴ حيدر، مرزا نصيرالدين(مترجم). بابر نامه، تزک بابري، مصنف محمد ظهيرالدين بابر، لاهور،الفيصل ناشران و تاجران کتب، ٢٠٠٦، ٢٧٣ مخ.

٥ Griffth, Ralph T.H., (Translater), The Hymns of the Regveda, ٢nd Edn., ١٨٩٦, o. ٣١٤. Also available on www.sacred-texts.com retrieved on ٠٩-٠٥-٢٠١٤.

٦ ارشاد، اورنگزېب، (ژباړن). افغانستان د تاريخ په رڼا کې، مصنف احمد علي کهزاد، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ٢٠٠١، ٣١ مخ.

٧ حبيبي، پوهاند عبدلحی. د افغانستان لنډ تاريخ (ژباړن محمد داود وفا)، پېښور، دانش کتابتون، ١٩٩٩، ١١مخ.

٨ Griffth, Ralph T.H., (Translater), The Hymns of the Regveda, ٢nd Edn., ١٨٩٦, o. ٣١٤. Also available on www.sacred-texts.com retrieved on ٠٩-٠٥-٢٠١٤.

٩ حضروي، حکيم حاجي محمد يوسف. سيرصوات، (حصه اول)، کلکته، منيجر آکثيرات هند دواخانه، ١٩۴۴، سر ورق.

١٠ Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ٣١ (No. ٣, ١٨٦٢)

١١ دانشور، محمود. کافرستان اور چترال، دير، سوات کی سياحت، لاهورالفيصل ناشران و تاجران کتب، ٢٠٠٦/[١٩٥٣]، ١٩٠ مخ.

١٢ خان، روشن خان. يوسفزئ قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اينڈ کمپنی، ١٩٨٦، ٣٣٨ مخ.

١٣ قاسمي، سيد عبد الغفور. تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پريس، [١٩٣٩]

١٤ خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [١٩٥٨] ، ٢٣مخ.

١٥ طائر، محمد نواز. درديال ناليدلے سوات، پېښور، منظور عام کتب خانه، ١٩٦٥، ٦مخ.

١٦ خان، روشن خان. يوسفزئ قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اينڈ کمپنی، ١٩٨٦، ٣٣٩ مخ.

١٧ Malakand ١٩٥٨-٦٨: A Decade of Progress. Foreword by Muhammad Humayun Khan, Political Agent malakand, n.p., n.d., p.٤

١٨ Ibid., p.٤

١٩ خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [١٩٥٨] ، ٣٧مخ.

٢٠ افغاني، عبدالحليم اثر. سوات د تاريخ په رڼا کښې، باجوړ، دارالاشاعت، [١٩٦١] ، ١٨مخ.

٢١ همدغه اثر، ٩ مخ.

٢٢ حکيمزے، وکيل. د بر سوات تاريخ نسلي سياسي او سماجي جوړښت، لاهور، عکاظ پرنټرز، ٢٠٠٧ ، ١٩ مخ.

٢٣ Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ١٤.

[24] Ibid., p. ۱٥۳.

[25] محمد اختر، پروفیسر. تاجک سواتي و مملکت گبر تاریخ کے آئینه میں،ایبٹ آباد، سرحد اردو اکیډمي اردو نگر قلندر آباد، ۲۰۰۲، ۱۴۱مخ.

[26]Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p. ۱٤.

[27] Ibid., p. ۳۰.

[28] Ibid., p. ۱٥.

[29] Ibid., p. ۱٥.

[30] قاسمي، سید عبدالغفور. هدیه ودودیه، بریلي، مطبوعه سوداګر پریس، ۱۹۳٦، ٥٦ مخ.

[31]Extraordinary issue Registered No. L۷۳۳۲, The Gazette of West Pakistan, Lahore, Friday, August ۱٥, ۱۹٦۹. No. ۱۷ (٤) ٦۹. (The Dir, Chitral and Swat (Administration) Regulation, ۱۹٦۹) West Pakistan Regulation No. ۱ ۰f ۱۹٦۹.

[32]Constitution (Sixth Ammendment) Act, ۱۹۷٦ (Act LXXXIV of ۱۹۷٦)__recieved assent of the president on ۳۱ December ۱۹۷٦ and issued on ٤th January ۱۹۷۷. " Right bank Indus Kohistan swparated from Swat District and Kohistan District created, with effect from ۱st)ctober ۱۹۷٦."

[33] Govt: of NWFP, Revenue Deoartment Notification No. ۲۳٥۰۱/ Rev-VI Dated ۱۰-۱۲-۱۹۹۰.

[34] Sultan-i-Rome, Forest Governance in Transition: From the Princely State of Swat, and Kalam to the State of Pakistan. WP۲/IP٦ working Paper No.۹, ۲۰۰۸, p.٤۸.

[35] خټک، خوشحال خان. سوات نامه، مقدمه، تحقیق او سمون: همېش خلیل، اکوړه خټک، مرکزي خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه، ۱۹۸٦ ، ۴۸مخ.

[36] همدغه اثر، ۵۱ مخ.

[37] همدغه اثر، ۵۱ مخ.

[38] همدغه اثر، ۵۲ مخ.

[39] همدغه اثر، ۴۷مخ.

[40] همدغه اثر،۴۸مخ.

[41] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸٦۲)p.۲٥۱.

[42] Ibid., p.۲٥۱.

[43] معظم شاه، پیر. تواریخ حافظ رحمت خاني، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۷۱ /۱۹۸۷، ۱۸۵مخ.

[44] Mc Mahon, A.H., and Lt. D.G. Ramsay, Report on the tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utmankhel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, pp.۳،٤.

[45] عبدالعظیم. دیوان عبدالعظیم، پېښور، اداره اشاعت سرحد، ۱۹۵۹، ۲۰مخ.

[46] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸٦۲), p.۲٦۳.

[47] Imperial Gazetteer Provincial series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۲, pp. ۲۱٦, ۲۱۷.

[48] Mc Mahon, A.H., and Lt. D.G. Ramsay, Report on the tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utmankhel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank,

۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۳.
[٤٩] Ibid., p.۳.
[٥٠] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸٦۲), p.۲٦۷.
[٥١] Ibid., p.۲۷۰.
[٥٢] Ibid., p.۲۷۰.
[٥٣] Malakand ۱۹٥۸-٦۸: A Decade of Progress. Foreword by Muhammad Humayun Khan, Political Agent Malakand, n.p., n.d., p.۲.
[٥٤] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۱/۱۸٦٤, pp.۳۷،۳۸.
[٥٥] Ibid.,۳۸

[٥٦] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p. ۱٥.
[٥٧] Malakand ۱۹٥۸-٦۸: A Decade of Progress. Foreword by Muhammad Humayun Khan, Political Agent Malakand, n.p., n.d., pp.٤،٥.
[۵۸] قاسمي، سید عبد الغفور. تاریخ ریاست سوات، پشاور، حمیدیه پرېس، [۱۹۳۹]، ۱۵۹-۱٦۰ مخونه.
[٥٩] طائر، محمد نواز. دردیال نالیدلے سوات، پېښور، منظور عام کتب خانه، ۱۹٦۵، ۷مخ.
[٦٠] Getley, George, Swat: Switzerland of the East, ۱۹٦۳, p.۱٥.
[٦١] دانشور، محمود. کافرستان اور چترال، دیر، سوات کی سیاحت، لاهور، الفیصل ناشران و تاجران کتب، ۲۰۰٦ [۱۹۵۳] ۱۹۲ مخ.
[٦٢] Ahmad, Makhdum Tasadduq, Social Organization of Yusufzai Swat, Lahore, Punjab University Press, ۱۹٦۲, p.۳.
[٦٣] Ibid., p.۳.
[٦٤] نصر، نصرالله خان. سوات، پېښور، عظیم پبلشنګ هاوس، ۱۹٦۳ ، ۵ مخ.
[٦٥] Alam, Muhammad, Swat Valley, Mingora, Shoaib Sons Publishers, ۲۰۰٥, p.۱٦.
[٦٦] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p. ۱٦.
[٦٧] Ibid., p. ۱٥۹.
[٦٨] Sultan-i-Rome, Crises and Reconciliation in Swat, Pakistaniaat: A Journal of Pakistan Studies, American Association of Pakistan Studies, Vol. ۳, No. ۱ (۲۰۱۱), pp ٥٤،٥٥.
[٦٩] خټک، خوشحال خان. کلیاتِ خوسحال خان خټک مقدمه او شرح له دوست محمد خان کامل نه، پېښور، اداره اشاعتِ سرحد، دویم ځل ۱۹٦۰ ، ۹۲۵مخ.
[۷۰] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸٦۲), p.۲٦۹
[۷۱] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۱/۱۸٦٤, p.۳۹
[۷۲] Imperial Gazetteer Provincial series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۲/۱۹۰۱, p. ۸٤
[۷۳] Mc Mahon, A.H., and Lt. D.G. Ramsay, Report on the tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utmankhel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, pp.٤،٥

[٧٤] قاسمي، سید عبد الغفور. تاریخ ریاست سوات، پشاور، حمیدیه پریس، [١٩٣٩]، ١٦٠مخ.

[٧٥] زیب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول) ، ١٩۴١، ٣٧٢ مخ.

[٧٦] یو کتاب چې اولني دېرش مخونه نه لري او اخري مخ یې ۴١١ دی، خو پته لګي چې له دې وروسته به نورې پاڼې هم وې. اندازه ترې معلومېږي چې دا کتاب د ١٩۴٩ په خواوشا کې په افغانستان کې چاپ شوی دی.

[٧٧] یو کتاب چې اولني دېرش مخونه نه لري او اخري مخ یې ۴١١ دی، خو پته لګي چې له دې وروسته به نورې پاڼې هم وې. اندازه ترې معلومېږي چې دا کتاب د ١٩۴٩ خواوشا په افغانستان کې چاپ شوی دی.

[٧٨] مظفر حسین ماسټر، ارمغانِ سوات، مینګوره، سټوډنټس بکډپو، ١٩٥١، ٦٦ مخ.

[٧٩] Barth, Fredrik, *Ecologic Relationships of Ethnic Groups in Swat, North Pakistan*, American Anthropologist, New Series. Vol: ٥٨, No: ٦ (December: ١٩٥٦), p.١٠٧٩

[٨٠] Hussain, Ashruf Altaf (Translator), The Story of Swat as told by the Founder Miangul Abdul Wadud Badshah Sahib to Muhammad Asif Khan, ١٩٦٢, 'Appendices, p. XXVI

[٨١] طائر، محمد نواز. دردیال نالیدلے سوات، پېښور، منظور عام کتب خانه، ١٩٦٥، ٣-۴ مخونه.

[٨٢] عنایت الله، ډاکټر. د ریاست سوات تاریخي او ترقیاتي جائزه، سوات، د سوات د وېښ زلمو له خوا، ١٩٦٧، ٧مخ.

[٨٣] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford ١University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢

[٨٤] Alam, Muhammad, Swat Valley, Mingora, Shoaib Sons Publishers, ٢٠٠٥, p.١٢٨

[٨٥] برق، سید وہاب،انجینئر. (مترجم) پختون سر زمین، مصنف جیمز۔ڈبلیو۔ سپین، پشاور، نیو دارالکتاب، ٣٣٣ مخ.

[٨٦] حکیمزے، وکیل، د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، لاهور، عکاظ پرنټرز، ٢٠٠٧ ، ٣٠مخ.

[٨٧] همدغه اثر ،۴٢مخ.

[٨٨] Biddulph, Major J., Tribes of Hindookoosh, Lahore, Ali Kamran Publishers, ١٩٧١/١٨٨٠, p.٤٠.

[٨٩] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p.٢٠.

[٩٠] Bellew, H.W., A General report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١/١٨٦٤, p.١٨٢

[٩١] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ٣١ (No. ٣, ١٨٦٢), p٢٧٤.

[٩٢] حکیمزے، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، لاهور، عکاظ پرنټرز، ٢٠٠٧ ، ٢٦-٢٧ مخونه.

[٩٣] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p.٢٠.

[٩٤] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ٣١ (No. ٣, ١٨٦٢), p٢٤٧.

[٩٥] Barth, Fredrik, Political Leadership Among Swati Pathans, London, The Athlone Press, ١٩٥٩, p. ٨

[٩٦] Barth, Fredrik, Ecologic Relationships of Ethnic Groups in Swat, North Pakistan, American Anthropologist, New Series, Vol. ٥٨, No.٦, (Dec. ١٩٥٦) p.١٠٨٢.

[٩٧] محمد اختر، پروفیسر. تاجک سواتی و مملکت گبر تاریخ کے آیینے میں، ٢٠٠٢، ٣٨٣ مخ.

[٩٨] خټک، خوشحال خان. سوات نامه، مقدمه، تحقیق او سمون: همېش خلیل، اکوړه خټک، مرکزي خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه، ١٩٨٦، ۴٨ مخ.

[٩٩] Barth, Fredrik, *Ecologic Relationships of Ethnic Groups in Swat, North Pakistan*,

American Anthropologist, New Series. Vol: ٥٨, No: ٦ (December: ١٩٥٦), p.١٠٧٩

[١٠٠] يو کتاب چې اولني دېرش مخونه نه لري او اخري مخ يې ۴۱۱ دی، خو پته لګي چې له دې وروسته به نورې پاڼې هم وې. اندازه ترې معلومېږي چې دا کتاب د ۱۹۴۹ خواوشا په افغانستان کې چاپ شوی دی.

[١٠١] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢١.

[١٠٢] قاسمي، سيد عبد الغفور. تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پرېس، [۱۹۳۹]، ۱۷ مخ.

[١٠٣] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢١.

[١٠٤] حبيبي، عبدلحی. د افغانستان لنډ تاريخ (ژباړن محمد داود وفا)، پېښور، دانش کتابتون، ۱۹۹۹، ۴۷مخ.

[١٠٥] Ibid., p. ٢٢.

[١٠٦] Imperial Gazetteer Provincial series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠٢/١٩٠١, pp. ٢١٧.

[١٠٧] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢٢.

[١٠٨] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١/١٨٦٤, p. ٥٧.

[١٠٩] نصر، نصرالله خان، سوات، پېښور، عظيم پبلشنګ هاوس، ۱۹۶۳ ، ٦مخ.

[١١٠] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢٢.

[١١١] نصر، نصرالله خان، سوات، پېښور، عظيم پبلشنګ هاوس، ۱۹۶۳ ، ۷مخ.

[١١٢] Tucci, Giuseppe, On Swat: Historical and Archaeological notes, Islamabad, Quaid-i-Azam University, ٢٠١٣, p.٦٧.

[١١٣] [Hiuen Tsiang], Chinese Accounts of India translated from the Chinese of Hiuen Tsiang, translated and annotated by Samuel Beal, Vol. ٢, new edn.(Calcutta: Susil Gupta (India) Limited, ١٩٥٨), p.١٦٧.

[١١٤] Ibid., p.١٦٧.

[١١٥] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢٣.

[١١٦] Ibid., pp. ٢٢،٢٣.

[١١٧] قاسمي، سيد عبد الغفور. تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پرېس، [۱۹۳۹]، ۱۸-۱۹ مخونه.

[١١٨] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, pp. ٢٣،٢٤.

[١١٩] افغاني، عبدالحليم اثر. سوات د تاريخ په رڼا کښې، باجوړ، دارالاشاعت، [١٩٦١] ٣٥مخ.

[١٢٠] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١, p.٥٧

[١٢١] Bellew, H.W., *A General Report on the Yusufzais*, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١, p. ٥٧

[١٢٢] Sultan-i-Rome, *Religious Perspective of Pre-Muslim Swat, Pakistan*, Islamabad, Quaid-i-Azam University, Journal of Asian Civilizations, Vol. ٣٥, No. ٢ (December, ٢٠١٢), p. ١٢٠

[١٢٣] حبيبي، عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ (ژباړن محمد داود وفا)، پېښور، دانش کتابتون، ۱۹۹۹، ۵۲ مخ.

[١٢٤] Tucci, Giuseppe, On Swat: Historical and Archaeological notes, Islamabad, Quaid-i-Azam University, ٢٠١٣, p.٦٧.

[١٢٥] [Hiuen Tsiang], Chinese Accounts of India translated from the Chinese of Hiuen

Tsiang, translated and annotated by Samuel Beal, Vol. ٢, new edn.(Calcutta: Susil Gupta (India) Limited, ١٩٥٨), p.١٦٧

[126] [Hiuen Tsiang], Chinese Accounts of India translated from the Chinese of Hiuen Tsiang, translated and annotated by Samuel Beal, Vol. ٢, new edn.(Calcutta: Susil Gupta (India) Limited, ١٩٥٨), p.١٦٧.

[127] Sultan-i-Rome, *Religious Perspective of Pre-Muslim Swat, Pakistan*, Islamabad, Quaid-i-Azam University, Journal of Asian Civilizations, Vol. ٣٥, No. ٢ (December, ١١٧٢٠١٢), p.

[128] حبيبي، عبدالحی، د افغانستان لنډ تاريخ (ژباړن محمد داود وفا)، پېښور، دانش کتابتون، ۱۹۹۹، ۵۴-۵۵ مخونه.

[129] Sultan-i-Rome, *Religious Perspective of Pre-Muslim Swat, Pakistan*, Islamabad, Quaid-i-Azam University, Journal of Asian Civilizations, Vol. ٣٥, No. ٢ (December, ١١٧٢٠١٢), p.

[130] [Hiuen Tsiang], *Chinese Accounts of India* translated from the Chinese of Hiuen Tsiang, translated and annotated by Samuel Beal, Vol. ٢, new edn.(Calcutta: Susil Gupta (India) Limited, ١٩٥٨), pp. ١٦٧-١٦٨

[131] فضل معبود (مترجم) سوات سماجی جغرافیہ قبائیلیت اور جدیدیت کے درمیان، مصنفین: ڈاکٹر انعام الرّحیم، ایلن ویارو، سوات، حجره، ٢٠٠٥، ٨٦ مخ.

[132] حبيبي، عبدالحی، د سوات نامي سريزه، مخ:
www.alamahabibi.com/pdfs/A_Book_da٪٢٠swatbamee٪٢٠sareza.pdf٤, retrieved on ١٣-١١-٢٠١٦

[133] Vidya Prakash Tyagi, Martial Races of Undivided India, Delhi, Kalpaz Publications, ٢٠٠٩, p. ٢٣٢.

[134] Sultan-i-Rome, *Religious Perspective of Pre-Muslim Swat, Pakistan*, Islamabad, Quaid-i-Azam University, Journal of Asian Civilizations, Vol. ٣٥, No. ٢ (December, ٩١١٢٠١٢), p.

[135] Bellew, H.W., *A General Report on the Yusufzais*, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١, p. ٥٩

[136] Bellew, H.W., *A General Report on the Yusufzais*, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١, p. ٥٩

[137] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, ٢٠٠٩, p.٢٤

[138] شهباز محمد، سواستو، مینګوره، EPS ، ۲۰۱۱ ، ٦٦-٦٧ مخونه.

[139] Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p. ٢٤.

[140] Khan, Muhammad Nazir, A Ghaznavid Historical Inscription from Udigram, Swat, East in West, Vol. ٣٥, No. ١/٣ (September ١٩٨٥), p. ١٥٣.

[141] خټک، خوشحال خان. کليات خوشحال خان خټک، مقدمه او شرحه له دوست محمد خان کامل نه، پېښور، اداره اشاعت سرحد، دوېم ځل، ۱۹٦۰، ۹۲۵مخ.

[142] اسمی، سید عبدالغفور. *ہدیہ ودودیہ*، بریلی، سوداگر پریس پیش گلی، ۱۹۳٦، ۹۲ مخ.

[143] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول) ، ۱۹۴۱، ۳۷۲ مخ.

[144] Hussain, Ashruf Altaf (Translator), The Story of Swat as told by the Founder Miangul Abdul Wadud Badshah Sahib to Muhammad Asif Khan, ١٩٦٢, 'Appendices, p. XXVI

[145] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياګل ګل شهزاده باچا

صاحب، ۱۹۵۸، ۵۰۹ مخ.

[۱۴۶] افغاني، عبدالحليم اثر. سوات د تاريخ په رڼا کښې، باجوړ، دارالاشاعت، [۱۹۶۱] ، ۲۹-۳۰ مخونه.

[۱۴۷] بريکوټی، شېر افضل خان. تعارفِ سوات، کراچي، ليگ ها وس، ۱۹۵۵، ٦۰، ٦۱ مخونه.

[۱٤۸] يوسفي، الله بخش، يوسف زئے. کراچي، محمد علي ايجوکيشنل سوسائټي، ۱۹٦۰، ۱٦۹مخ.

[۱٤۹] همدغه اثر، ۱۷۱ مخ.

[۱۵۰] افغاني، عبدالحليم اثر. سوات د تاريخ په رڼا کښې، باجوړ، دارالاشاعت، [۱۹٦۱] ، ۳۳ مخ.

[۱۵۱] بريکو ټي، شير افضل خان. تعارفِ سوات، کراچي، ليگ ها وس، ۱۹۵۵، ٦۰ مخ.

[۱۵۲] همدغه اثر، ٦۱، ٦۲ مخونه.

[۱۵۳] خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ، ۳۲مخ.

[۱۵٤] قاسمي، سيد عبد الغفور. تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پرېس، [۱۹۳۹]، ۲۱-۲۲ مخونه.

[۱۵۵] يوسفي، الله بخش، يوسف زئے. کراچي، محمد علي ايجوکيشنل سوسائټی، ۱۹٦۰، ۷۷ مخ.

[۱۵٦] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۱/۱۸٦٤, p. ٦٥.

[۱۵۷] Ibid., pp.۲٦٦،۲٦۷.

[۱۵۸] معظم شاه، پير. تواريخ حافظ رحمت خاني، پېښور، پښتو اکېډمي،۱۹۷۱/ ۱۹۸۷، ٦۳مخ.

[۱۵۹] خان، روشن خان. ملکه سوات، کراچی، روشن خان اينڈ کمپنی، ۱۹۸۳، ۱۴مخ.

[۱٦۰] معظم شاه، پير. تواريخ حافظ رحمت خاني، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۷۱،۱۹۸۷، ٦۵مخ.

[۱٦۱] همدغه اثر، ٦۳مخ.

[۱٦۲] همدغه اثر، ٦۴مخ.

[۱٦۳] همدغه اثر، ٦۴مخ.

[۱٦٤] همدغه اثر، ٦۸مخ.

[۱٦۵] همدغه اثر، ٦۹مخ.

[۱٦٦] همدغه اثر، ۷۰ مخ.

[۱٦۷] همدغه اثر، ۷۱مخ.

[۱٦۸] همدغه اثر ۷۲مخ.

[۱٦۹] همدغه اثر،۷۴ مخ.

[۱۷۰] همدغه اثر، ۷۴مخ.

[۱۷۱] همدغه اثر، مخ: ۷٦

[۱۷۲] همدغه اثر، ۷٦-۷۷ مخونه.

[۱۷۳] همدغه اثر، ۸۱ مخ.

[۱۷٤] قاسمي، سيد عبدالغفور. هديه ودوديه، بريلي، مطبوعه سوداگر پريس، ۱۹۳٦، ۱۴ مخ.

[۱۷۵] خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ، ۴۱مخ.

[۱۷٦] قاسمي، سېد عبد الغفور. تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پرېس، [۱۹۳۹]، ۲۹مخ.

[۱۷۷] خان، حافظ رحمت. خلا صة الانساب ، پېښور، پښتو اکېډ مي، ۱۹۷۳، ۱۴۷مخ.

[178] Barth, Fredrik, Political Leadership among Swat Pathans, London, University of London The Athlone Press, ۱۹۵۹, p.۷.

[179] ستهانوي، سيد عبدالجبار شاه. کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، ۲۰۱۱، ۲۰٦ مخ.

[180] محمد اختر، پروفيسر. تاجک سواتي و مملکت گبر تاريخ کے آئينه ميں، ايبٹ آباد، سرحد اردو اکيڈمي اردو نگر قلندر آباد، ۲۰۰۲، ٦٦ مخ.

[181] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۱/۱۸٦٤, p.٦٥.

[182] يوسفي، الله بخش. يوسف زئے، کراچي، محمد علي ايجوکيشنل سوسائٹی، ۱۹٦۰، ۲۲٦ مخ.

[183] Imperial Gazetteer Provincial series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۲, p. ۲۱٦.

[184] کاکا خېل، محمد تقويم الحق، (مترجم). ميلينيم او کرزما د سوات په پښتنو کښې، مصنف ډاکټر اکبر اېس احمد، پېښور، پشتو اکېډمي، ۱۹۷۸ ، ٦٦مخ.

[185] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford .۱University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p.

[186] اکبر، عبدالاکبر خان. روښانيان د مغلو تاريکيان، پېښور، اداره اشاعت سر حد، [۱۹٦٦]، ۳۸مخ.

[187] خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ، ۷٦مخ.

[188] قاسمي، سيد عبد الغفور. تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پرېس، [۱۹۳۹]، ۴۵مخ.

[189] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel .۱۰۲Publications, ۲۰۰۱/۱۸٦٤, p.

[190] Imperial Gazetteer Provincial series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-e-۲۱۸Meel Publications, ۲۰۰۲, p.

[191] نصر، نصرالله خان. اخون صاحب سوات، پشاور، تعليمي اداره کريمپوره، ۱۹۵۰/ ۱۹۷۸، ۵مخ.

[192] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal .۲٤۱،۲٤۲of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸٦۲), pp.

[193] نصر، نصرالله خان. سوات، پېښور، عظيم پبلشنگ هاوس، ۱۹٦۳، ۲۸مخ.

[194] قاسمي، سيد عبد الغفور. تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پرېس، [۱۹۳۹]، ٦۵مخ.

[195] Imperial Gazetteer Provincial series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-e-۲۱۹Meel Publications, ۲۰۰۲, p.

[196] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford .۲University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p.

[197] قاسمي، سيد عبدالغفور. هديه ودوديه، بريلي، مطبوعه سوداگر پريس، ۱۹۳٦، ۳۰، ۳۱ مخونه.

[198] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford .۲٥University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p.

[199] نصر، نصرالله خان. اخون صاحب سوات، پشاور، تعليمي اداره کريمپوره، ۱۹۵۰/ ۱۹۷۸، ۲۸مخ.

[200] Hay, Major, W.R., Monograph on Swat State, Simla, Government of India Press, ۱۹۳۳, p.٤.

[201] نصر، نصرالله خان. سوات، پېښور، عظيم پبلشنگ هاوس، ۱۹٦ ، ۳۱مخ.

[202] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford

University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p. ٥٦.

[۲۰۳] خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ، ۲۲-۲۲۴ مخونه.

[۲۰٤] قاسمي، سيد عبد الغفور، تاريخ رياست سوات، پشاور، حميديه پرېس، [۱۹۳۹]، ٨٦-۸۷ مخونه.

[۲۰٥] خان، روشن خان. يوسفزئ قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اينڈ کمپنی، ۱۹۸٦، ۳۳۷ مخ.

[۲۰٦] غازي، محمود احمد، ڈاکٹر. پیش لفظ (مشمولہ) کتاب العبرة، مصنف سيد عبدالجبار شاه ستهانوی، اسلام اباد، پورب اکادمی، ۲۰۱۱، ۱۰ مخ.

[۲۰۷] قاسمي، سيد عبدالغفور. هديه ودوديه، بريلي، مطبوعه سوداگر پريس، ۱۹۳٦، ۴۲،۴۳ مخونه.

[۲۰۸] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان جلد اول، ۱۳٦۰ هـ ، ۱۹۴،۱۹۵ مخونه.

[۲۰۹]Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford ۸۰University Press, Second Impression ۲۰۰۹, pp.

[۲۱۰]Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ۲۰۰۹, pp. ۸۷،۸۸.

[۲۱۱] نصر، نصرالله خان. سوات، پېښور، عظيم پبلشنگ هاوس، ۳۱۹٦ ، ۳۴،۳۵ مخونه.

[۲۱۲]Hay, Major, W.R., Monograph on Swat State, Simla, Government of India Press, ۱۹۳۳, p.۱٤.

[۲۱۳]Ibid., p.۱٤.

[۲۱٤]Ibid., p.۱۸.

[۲۱٥]Ibid., p.۱٤.

[۲۱٦] برق، سيد وهاب،انجينئر.(مترجم) پختون سر زمين، مصنف جيمز-ڈبليو- سپين، پشاور، نيو دارالکتاب،۲۴۵ مخ.

[۲۱۷]کاکا خېل، محمد تقويم الحق. (مترجم)، ميلينيم او کرزما د سوات په پښتنو کښې، پېښور، پلتو اکېډمي، ۱۹۷۸، ۴۰مخ.

[۲۱۸]Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱٥-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford .۱۰۰،۱۰۱University Press, Second Impression ۲۰۰۹, pp.

[۲۱۹] خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ، ۳۷۹مخ.

[۲۲۰]Barth, Fredrik, The Last Wali of Swat: An Autobiography as told to Fredrik Barth, London, ۱۹۸٥, reprint, Bangkok: White Orchid Press, ۱۹۹٥, p. ۱۰٦.

[۲۲۱]خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ، ۳۵۷مخ.

[۲۲۲] ډسټرکټ ريکارډ روم سوات

[۲۲۳] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۲٤] ډسټرکټ ريکارډ روم سوات

[۲۲٥] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۲٦] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۲۷] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۲۸] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۲۹] ډسټرکټ ريکارډ روم سوات

[۲۳۰] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۳۱] ډسټرکټ ريکارډ روم سوات

[۲۳۲] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۳۳] ډسټرکټ ريکارډ روم سوات

[۲۳۴] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۳۵] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۳۶] سوات سټېټ ريکارډ، تحصيل خوازه خېله

[۲۳۷] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p.۲۲۳.

[۲۳۸] عبدالقادر، مولانا، د فکر يون: د مولانا عبدالقادر د مضمونونو مجموعه، راغونډوونکی عبدالرحمٰن شباب، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹٦۴/ ۱۹۹۷، ۲۸مخ.

[۲۳۹] شباب، عبدالرحمٰن. (ديباچه)، د فکر يون: د مولانا عبدالقادر د مضمونونو مجموعه، راغونډونکے عبدالرحمٰن شباب، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹٦۴/ ۱۹۹۷، ۷،۸ مخونه.

[۲۴۰] خټک، پردل. (مولف)، د مولانا عبدالقادر خطونه، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۸۳، ۲۱۸مخ.

[۲۴۱] خټک، راجولي شاه، ډاکټر، روهالوجي، پېښور، پښتو اکيډمي، ۲۰۱۲، ۳۰مخ.

[۲۴۲] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ۲۰۰۹, p.۲۲۳.

[۲۴۳] Hussain, Ashruf Altaf, The Story of Swat as told by the Founder: Miangul Abdul Wadud Badshah Sahib to Muhammad Asaf Khan, n.p., ۱۹٦۲, p.۱۱۷.

[۲۴۴] حکمنامه، حکمران رياست سوات، تاريخ: ۴/ ۱۰/ ۱۹٦۰.

[۲۴۵] خان، غلام حبيب. (مرتب)، رواجنامہ سوات، سوات پرنټنګ پريس، ۲۰۳ مخ.

[۲۴٦] حکمنامه، حکمران رياست سوات، تاريخ: ۱۸/ ۱۲/ ۱۹٦۰.

[۲۴۷] خان، غلام حبيب، (مرتب)، رواجنامہ سوات، سوات پرنټنګ پريس، ۲۵۸ مخ.

[۲۴۸] حکمنامه، حکمران رياست سوات، تاريخ: ۳۰/ ۱۲/ ۱۹٦۰. ۱

[۲۴۹] رښتين، صديق الله. د پښتو تاريکي سيمينار، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۸۷، ۸۲،۸۳ مخونه.

[۲۵۰] نصر، نصرالله خان، سوات، پېښور، عظيم پبلشنګ هاوس، ۱۹٦۳، ۴۴مخ.

[۲۵۱] دهقان، رشيد علي او اشرف دراني، درويش باچا، پېښور، منظور عام پريس، س ن، ۴۸مخ.

[۲۵۲] همدغه اثر ،۴۹مخ.

[۲۵۳] همدغه اثر ،۵۹ مخ.

[۲۵۴] خان، محمد آصف، تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ،۲۵۷،۲۵۸ مخونه.

[۲۵۵] سلطان روم، ڈاکٹر. پاٹا کی آئینی حیثیت کا قضیه، روزنامه آذادی، سوات، جنوری ٦، ۲۰۱۱.

[۲۵٦] Copy of the Instrument of Accession executed by the ruler of Swat, on ۳ November ۱۹۴۷, and accepted by M.A Jinnah, Governor-General, Pakistan, on ۲۴ November ۱۹۴۷, TARC, S.No. ۱۴/Swat, F.No. ۱۰۷-Swat State.

[۲۵۷] Supplementary Instrument of Accession, Schedule, Part-I, in TARC, Book No. ۱۵, p. ۴.

[۲۵۸] The Constitution of Islamic Republic of Pakistan(as modified upto the ۲۸th February

١٩٦٥), Government of Pakistan, Ministry of Law and Parliamentary Affairs (Law Division) p. ١١١

[٢٥٩]Extraordinary issue Registered No. L٧٣٣٢, The Gazette of West Pakistan, Lahore, Friday, August ١٥, ١٩٦٩. No. ١٧ (٤) ٦٩. (The Dir, Chitral and Swat (Administration) Regulation, ١٩٦٩) West Pakistan Regulation No. ١ ٠f ١٩٦٩.

[٢٦٠] Notification No. SO/VII-٩-٧٤/٦٩ Dated: ١٦ August ١٩٦٩.

[٢٦١] فواد احمد (مترجم). رياست سوات: ١٩١٥ تا ١٩٦٩ ،مصنف ڈاکٹر سلطان روم، مينگوره، شعيب سنز پبلشرز، ٢٠١٣، ٢٥٠ مخ.

[٢٦٢]Notification No. SO/VII-٩-٧٤/٦٩ Dated: ١٦ August ١٩٦٩.

[٢٦٣]Honour Board in the DCO [DC] office Swat, (Seen on ١٩ May ٢٠١١) recieved —[٢٦٤]Constitution (Sixth Ammendment) Act, ١٩٧٦ (Act LXXXIV of ١٩٧٦) assent of the president on ٣١ December ١٩٧٦ and issued on ٤th January ١٩٧٧. " Right bank Indus Kohistan separated from Swat District and Kohistan District created, with effect from ١st)ctober ١٩٧٦."

[٢٦٥]Govt: of NWFP, Revenue Deoartment Notification No. ٢٣٥٠١/ Rev-VI Dated ١٠-١٢-١٩٩٠.

[٢٦٦] Sultan-i-Rome, Forest Governance in Transition: From the Princely State of Swat, and Kalam to the State of Pakistan. WP٢/IP٦ working Paper No.٩, ٢٠٠٨, p.٤٨.

[٢٦٧]Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression ٢٠٠٩, p.٣٠٥

څلورم باب

د پښتو په زمانه کې د سوات پښتو ادب او ثقافت

(له پيله تر۱۹۱۵پورې)

د پښتو زمانه

له کله نه چې يوسفزي سوات ته راغلل، نو تر ۱۹۱۵م پورې دوی دلته يو منظم حکومت جوړ نه کړ، د قبايلي رواياتو لاندې يې ژوند تېروه، چې بيا په ۱۹۱۵م کې يو باقاعده حکومت او رياست جوړ شو. د يوسفزو سوات ته له راتګ وروسته او له ۱۹۱۵م څخه مخکې دا دور د تاريخ په کتابونو کې"د پښتو دور"او"د پښتو زمانه" په نوم ياد شوی دی. د پښتو دور مطلب دا دی چې دلته څه حکومتي قوانين نه وو، خو خلکو به د پښتونولۍ د قانون لاندې ژوند تېروه. د مياګل عبدالودود په سوانح حيات کې محمد آصف خان په دې باره کې ليکي چې له ۱۹۱۵م څخه مخکې چې د سوات په قبايلي وطن کې منظم حکومت او نور څه تنظيم نه و، نو دغې زماني ته به د پښتو زمانه ويل کېده. دا زمانه يو ډول د خود سرۍ زمانه وه، د سوات پښتانه له تعليم سره هم نااشنا وو او له نورې پښتونخوا څخه ګوښې لرې اوسېدل، نو په دې وجه دلته د پښتو زمانه څه داسې وه چې له پښتو سره يې ډېر مطابقت نه و. [1]دلته د پښتو زمانه يو منفي مفهوم لري، يعنې ضد او دښمني. پر سوات له رياستي دور نه مخکې به سواتيانو هم په يو بل پسې همېشه تورې راويستلې وې.[2]

په سوات کې د پښتو زمانې په اړه وکيل حکيمزی ليکي، چې له ۱۹۱۵م نه مخکې

دور ته د پښتو زمانه ویل کېږي. د پښتو زمانه داسې وه چې هېڅ قانون نه و، په هره سیمه په هر کلي او محلت کې بېلې بېلې خانۍ ملکۍ وې. د هرې سیمې او د خانانو ملکانو د خپل طبیعت سره سم قانون و، عام ولس د خپل مال او ځان واک نه لرلو، د کمزوري مال او عزت ورسره د ملا خوله او فتوه به هم د زورور په لاس کې وه".[۳] دلته دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې دا قسمه حالات ټول په ټوله نه وو خو په ځینو ځایونو او علاقو کې به دا قسمه حالات موجود و.

پښتو او پښتانه په سوات کې

د سوات د پښتو ادب له تهذیبي او ثقافتي تجزیې مخکې دا لازمي ده چې معلومه کړل شي دلته پښتو ژبه له کوم وخت راهیسې شروع شوې ده، نو ځکه اول به سوات ته د پښتنو په راتګ او دلته د پښتو ژبې په ارتقاء بحث وکړل شي.

که د نړۍ تاریخ ته و کتل شي، نو د څه نه څه وجوهاتو په وجه قامونه له یو ملک یا یوې علاقې نه بل ملک یا بلې علاقې ته منتقل شوي او بیا د هغه ځای پاخه اوسېدونکي شوي دي، لکه اریا قومونه له منځنۍ اسیا څخه جنوبي اسیا ته راغلي او په جنوبي اسیا کې هم مختلف قومونه په داخلي طور له یوې سیمې څخه بلې ته منتقل شوي دي. په دې تناظر کې که مونږ سوات ته وګورو نو دلته هم د تاریخ په مختلفو دورونو کې مختلف قومونه تلي راغلي دي. د هر قوم خپل دود دستور، رسم و رواج او خپله ژبه وه. د ځینو قومونو دلته د مېشت کېدو پته مونږ ته یا د تاریخ له پاڼو او یا دلته له موجودو ډېرلیکونو یا نورو لرغونو اثارو څخه لګي. د تاریخ په پاڼو کې چې پر سوات د حملې یا قبضې کوم وړومبی معلوم ذکر راځي هغه د سکندراعظم دی، کوم چې په ۳۲۷ ق م کې سوات ته راغلی و.[٤] د یونانیانو له زوال او په ۳۲۱ قبل مسیح کې د چندرګپت موریه په اقتدار کې له راتلو سره په دې علاقه کې د موریه خاندان عروج شروع شو[٥] په پینځمه عیسوي پېړۍ کې یو چیني سیلاني فاهیان د دې علاقې د سیل لپاره راغلی و او هغه وخت کې دلته بدهـ مذهب ښه په ترقۍ کې و [٦] او دغه رنګ تقریباً په ٦۴۰ میلادي کې یو بل چیني سیلاني هیون سانګ په دې علاقه کې د بدهـ مت مذهب د زوال ذکر کوي.[٧] د بدهـ مت له زوال وروسته دلته هندومت زور وموند او اخر کار د محمود غزنوي لښکر پر سوات حمله وکړه، له دې علاقې یې د هندو شاهي حکومت ختم کړ او په وړومبي ځل دلته د اسلام بیرغ ودرول شو[٨]

په اوډیګرام کې د محمود غزنوي د وخت یو زوړ جومات هم معلوم شوی او د دغه

جومات يو ډېرليک هم په لاس راغلی دی،[۹] له دې ډېرليک څخه د دې جومات د لرغونتوب پته لګي. پر دې کتيبه باندې ۴۴۰ هجري ليکل شوي دي.[۱۰] لکه څنګه چې مخکې ذکر شو چې د دې خبرې څه واضحه ثبوتونه په لاس نه دي راغلي چې محمود غزنوي د سوات د حملې پر وخت له لښکر سره پخپله موجود و او که نه؟ همدغه وجه ده چې مونږ هم دا په يقين سره نه شو ويلی چې محمود غزنوي پخپله سوات ته راغلی دی. د محمود غزنوي د لښکر له حملې مخکې مونږ ته په سوات کې د پښتو ژبې صحيح ثبوتونه په لاس نه راځي، خو محمود غزنوي هم نيم ترک او نيم پښتون يادېږي.[۱۱] اګر چې د پښتو يوه ټپه خلک د سند په توګه وړاندې کوي او له هغې نه دا ثابتوي چې په سوات کې د بدهـ مذهب په وخت کې هم پښتو ژبه ويل کېده، خو د دې خبرې څه قوي ثبوتونه او دليلونه نشته، ټپه دا ده :

سپوږمبه کـــــــــــږنګ وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې ريبينه[۱۲]

دا ټپه داسې هم ويل شوې ده:

يه سپوږمۍ! سره وهـــــــــه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې ريبينه[۱۳]

په سوات کې د جونو سر په نامه يوه څوکه ده، د هغې په باره کې دا روايت مشهور دی چې دلته به د سوما بوټي کېدل او د ارياو په زمانه کې به د شپې جينکو د دغو بوټو لو کولو او بيا به ترې خاص قسمه مشروب جوړول او بيا به يې د خپلو دېوتاګانو عبادت کولو او داسې وايي چې په دې ټپه کې هم دغه بوټي او دغه رسم (عبادت) طرف ته اشاره شوې ده. په پښتنو کې خو اوس دا روايت نشته نو ځکه ماهرين وايي چې دا د بدهـ مت د زمانې روايت و، چې بيا وروسته پښتنو د اسلام له قبلولو سره هغه هر څه بالکل هېر کړل. [۱۴] د دې ټپې په تناظر کې که په غور وکتل شي نو د پښتنو د رسم ورواج او دود دستور ډېرې خبرې له آرياپانو سره سمون خوري.[۱۵]محمد نواز طائر د سوما يا د هوما د بوټي د رس په باره کې ليکي چې دا شربت له ابشېدلو وريژو نه جوړېده. د اصل سوم رس د تيارولو لپاره به دا اهتمام کېده، چې د سپوږمۍ په رڼا کې به د ښه سيرت پېغلو دا بوټی راټول کړ او د قربانۍ ځای ته به يې په بره په ګډانو راوړ، بيا به يې په روانو اوبو کې ووينځه او په سوچه پيو کې به يې غوپه کړ، له دې نه پس به کوتره کړی شو او چې رس يا اوبه به ترې رااوويستل شوې نو شات به يې ورسره ګډ کړل او بامبړانو به د يو خاص رسم په ذريعه دې ته تبرّک و

بخښلو او بيا به دېوتاګانو ته د اور په وساطت د نذر په دود پېش کړی شو.[١٦]محمد نواز طائر د سوما د رس تړون له سوات سره څه دا رنګې بيانوي:

> د سوما، شاتو يا ګبين او د وريږو د هغه سرسري يا رس چې عامو خلکو به په هغه زما نه کې استعمالولو، تړون د سوات له علاقې سره ډېر کلک او پخوانی دی. وريژې او ګبين اوس هم په ډېر زيات مقدار کې دلته پيدا کيږي او اومه، سوما، څربولی، برړه، موه، هوما يا د دې نوم دغه بوټی کېدی شي چې په پخوانۍ زمانه کې په ټول سوات کې عموماً او د تيرات په خواوشا او جونو سر کې خصوصاً ډېر عام و او اوس هم موندل کېږي. په دې سبب د جونو سر د پېغلو ګډا ممکنه ده چې د رګ ويدا له زمانې راسي د دې ځای دستور و او دغه لوړ سر ته هم د دې کبله د جونو سره نوم ورکړل شوی و "ـ[١٧]

په دې ټپه کې سره له دې چې د آريايانو يا د بدهـ مذهب څه اثار ښکاري خو دلته د بدهـ مذهب چې کوم ډېرليکونه يا نور تحريري اثار په لاس راغلي، په هغو کې د پښتو هېڅ نخښې نښانې نشته. په باقاعده توګه چې په سوات کې د پښتنو ذکر د تاريخ په پاڼو کې په نظر راځي نو هغه د يوسفزو دور دی.

لکه څنګه چې مخکې ويل شوي، چې د محمود غزنوي لښکرو د يوولسمې عيسوي صدۍ په شروع کې پر سوات حمله کړې وه او په همدغه وخت کې نورې افغان قبيلې هم سوات ته راغلي وې او دلته مېشتې شوي وې چې د سواتي پښتنو په نوم پېژندې شي.[١٨]فرېډرک بارتهـ وايي چې پښتانه سوات ته له ١٠٠٠ عيسوي واخله تر ١٦٠٠ عيسوي پورې په مختلفو دورونو کې راغلي دي.[١٩]د يوسفزو له راتګ نه مخکې چې سوات کې د کومو پښتنو قبيلو ذکر کېږي هغه دله زاک او سواتي دي، دا خبره به روښانه کېږي، چې دا خلک په رښتيا هم پښتانه وو که، نه؟ ځکه چې مختلفو مورخينو دوی ناپښتانه حساب کړي دي. له دې سپيناوي نه به دا خبره ډېره په ډاګه شي چې سوات ته د پښتنو راتګ کله شوی او دلته په باقاعده توګه د پښتو ژبې اغاز کله شوی دی. اول مونږ ګورو چې دله زاک څوک دي ـ م ـ ج "سيال" مومند د دله زاکو په باره کې ليکي چې دله زاک لومړني پښتانه دي چې دوی پېښور ته راغلي او د پېښور په علاقه د اباسيند تر غاړې استوګن وو. ويل کېږي، چې دوی دې علاقې ته د هندو شاهانو په زمانه کې راغلي وو او

قبضه یې کړې وه. له سلطان محمود غزنوي سره پر هند د حملو په وخت کې د هغه په فوځ او لښکر کې هم دوی ګډون کړی دی.[۲۰] په تزک بابري کې هم دوی ته دله زاک افغان ویلی شوي دي.[۲۱] له دې پته ولګېده چې دله زاک نسلاً پښتانه دي. اوس به دا ګورو چې دوی سوات ته کله راغلي دي، په دې اړه سید عبدالغفور قاسمي لیکي چې له ۹۰۶ هجري، یعنې تر ۱۵۰۰ م پورې په دې علاقو د دله زاکو قبضه وه.

په سوات کې د دله زاکو د آبادېدو او بیا له سوات څخه د شړلو په هکله محمد اصف خان لیکي چې له محمود غزنوي وروسته په سوات کې دله زاک او سواتي اباد شول. تر څلور سوه هجري پورې خو دا دواړه قبیلې په قلاره اوسېدې خو اخر پکې اختلاف پیدا شو، سواتیانو دله زاک له سوات نه وشړل او هغوی د پېښور او مردان په علاقو کې اباد شول.[۲۲] سید عبدالغفور قاسمي په تاریخ ریاست سوات کې پر سوات د دله زاکو د حکومت په باره کې لیکي چې له ۴۰۲هـ نه تر ۹۰۶ هـ پورې پر سوات، بونېر او نورو سیمو باندې د دله زاکو حکومت و.[۲۳] یوسفزو پر دله زاکو حمله وکړه او د سیمې ټوله علاقه یې له دوي نه واخسته او دوی چچ هزارې ته پورې وتل.[۲۴] یوسفزي چې له افغانستان نه پېښور ته راغلل، نو دله زاکو له دوی سره ډېر ښه سلوک وکړ او دوی ته یې د ګوزارې لپاره زمکې هم ورکړې، خو څه وخت وروسته دله زاکو د یوسفزیو تنګول شروع کړل، نو ملک احمد د خپل مدد لپاره له محمد زیو سره صلاح وکړه او پر دله زاکو یې حمله وکړه او دا رنګ دله زاکو شکست وخوړ او په سوات کې یې له سلطان اویس سره پناه واخسته.[۲۵] له دې نه وروسته د دله زاکو پښې نه دي ټینګې شوي او د دوی اکثر کډې هندوستان ته هم تلي دي.[۲۶] په سوات کې له دله زاکو نه وروسته چې کوم خلک په تاریخي لحاظ د ذکر وړ دي هغه سواتیان دي. په یوولسمه عیسوي صدۍ کې د دې علاقې خلک په اسلام مشرف شول، د یوسفزي قام له راتلو نه مخکې دلته د الائي سواتیان آباد وو،[۲۷] د دوی اصل نسل او د ژبې په باره کې به د مختلفو پوهانو نظریات وړاندې کړل شي. د سواتیانو د اصل نسل په باره کې سید عبدالجبار شاه په کتاب العبره کې لیکي چې دوی هم د بني اسرائیلو په شان رسمونه او عادتونه لري کوم چې د پښتنو هم دي، نو پته لګي چې دا پښتانه دي.[۲۸] د سواتیانو په باره کې پروفیسر محمد اختر داسې لیکي:

قبیلہ سواتي کی لوگ اسکندر ذوالقرنین (کورش کبیر= سائرس) کی نسل سی ہونی کی سبب قدیم ایرانی ہیں جن کو تاجک لکھا گیا ہی۔مدنیت کی اعتبار سی قبل از اسلام یہ لوگ زردشتی (گبری) تھی۔ ساسانیوں کی دور میں زابلستان (سجستان) پر ان کی حکومت تھی۔۔۔۔ چونکہ عربوں نی سیستان اور خراسان کی فتح کی بعد ساسانی دور کی نظام مالگزاری کو اپنایا تھا اس لئی یہ گبری دہاقین وسلاطین عربی اصطلاحات کی استعمال سی بھی خوب واقف تھی۔ سامانیوں کی دور میں یہ لوگ بلخ، بدخشاں اور کنڑ کی علاقوں میں آباد تھی اور مسلمان ہوچکی تھی۔ سلطان پکھل اور سلطان بہرم نی جب لغمان، کنڑ، ننگرہار، باجوڑ، سوات، بنیر، اشنغر، اور پکھلی کی علاقوں پر مشتمل مملکت گبر کا قیام کیا تو گو یا سوات کو اس کی زرخیزی اور قدرتی آبپاشی کی لحاظ سی عربی اصطلاح سواد کا نام دیاگیا۔[۲۹]

ترجمه: د سواتي قبیلې خلک د سکندر ذوالقرنین له نسل سره تعلق لري او په دې وجه دا زاړه ایرانیان دي، چې په تاریخي کتابونو کې د تاجک په نوم یاد شوي دي. په ټولنیزه توگه له اسلام نه وړاندې دا خلک زرتشت وو، په ساساني دور کې پر زابلستان د دوی حکومت و، عربو د سیستان او خراسان له فتح کولو نه بعد د ساساني دور د مالگزارۍ نظام خپل کړی و او دغه وجه وه چې دا گبري دهقانان او بادشاهان د عربۍ په اصطلاحاتو ښه پوهېدل. په ساساني دور کې دا خلک په بلخ ، کونړ او د بدخشان په علاقو کې اباد وو او مسلمانان شوي وو. سلطان پکهل او سلطان بهرام چې کله د لغمان، کونړ، ننگرهار، باجوړ، سوات، بونېر، اشنغر او د پکهلۍ په علاقو باندې مشتمل د گبر مملکت جوړ کړ، نو سوات ته د دې ځای د قدرتي زرخېزۍ او اوبه خور په وجه د عربۍ نوم سواد ورکړ. د سواتیانو په باره کې ملز داسې لیکي:

The Swatis are not pure Pathan tribe, but are believed to be of Indian origin. They originally occupied the territory between the Hydaspes and Jallalabad; but were gradually driven out by Afghan tribes, and the Yusufzais deprived them of Swat and Buner; they accordingly crossed the Indus and settled at Alahi, Nandihar, Tikri, &c., during the sixteenth century.[۳۰]

ترجمه: سواتیان اصلي پښتانه نه دي، دا یقین کېږي چې د دوی اصل له هندوستان څخه دی. په بنیادي توګه باندې دوی د هیډاسپس او جلال اباد ترمنځ علاقه قبضه کړې وه، خو ورو ورو پښتنو قبیلو دوی وشړل او یوسفزیو دوی له سوات او بونېر نه محروم کړل. په دې طریقه دوی له اباسین پورې وتل او په شپاړسمه صدۍ کې په الایي، نندیاړ او ټیکرۍ او نورو سیمو کې اباد شول.

تواریخ حافظ رحمت خاني دهګان او سواتي په یو نوم په دې لفظونو یادوي: "میرهنده مذکور چې امیر نامي د ده وه د مهوری پر غاښي تاڼه کړې وه او شاه اویس او فرخ زاد چې دا دواړه یې هم نامدار امیران وو او په ذات دهګان سواتي وو، د ملاکنډ په غاښې کې تاڼه کړې وه.[۳۱] تواریخ حافظ رحمت خاني لیکي چې د یوسفزیو پر سوات د حملې په وخت کې په تالاش کې دهګان کافران وو.[۳۲]

تواریخ حافظ رحمت خاني لیکي چې متراوي ځان یوسفزي ګڼي حالانکې دوی سواتي دي."او معلومه دې وي چې متراوي په سواتیو کې یو لوی تومن دی، په امالت په شجاعت تر سواتیو ځان بهتر ګڼي او د متراویو تاریخ دانان وایي چې متراوي په ذات یوسفزي دي.[۳۳]ډاکټر محمد حنیف د متراویو او دهګان وغیره په باره کې د تواریخ حافظ رحمت خاني د له پاسني بیان په شرح کې لیکي چې ممکنه ده چې متراوي د نورو سواتیانو په نسبت زیات بهادر وي، خو تر کومې چې د اصالت (اصل نسل) تعلق دی، نو په دې کې څه حقیقت نه ښکاري، ځکه چې په اصل خو دوی یو خلک دي او د جهانګیري له سلطانانو سره تړون لري، ځکه که "دودال" د سلطان پکهل د لمسي داود سلطان اولاد دینو متراوي هم د دغه سلطان پکهل (د دویمي ښځې مسماة بي بي بیګم) د مشر زوی "مترا" اولاد دی او په دغه نسبت د متراوو په نوم شهرت لري. غالباً دغه وجه ده چې پروفیسر نصیرالدین هم سواتیان او متراوي دوه جدا جدا قبیلې ګڼلې دي.[۳٤]

پروفیسر نصیرالدین سواتي (دهګان) او جهانګیري سلطانان هم بېل بېل ولسونه ګڼي او وایي چې په دوی کې یو رعایا او بل بالایي طبقه وه. تاریخ د دې خیال تردید کوي ځکه چې ټول سواتیان (دهګان) د سلطان پکهل بن سلطان جهانګیر بن سلطان کهجامن نسل دی او د دوی ټولې قبیلې یعني متراوي، ممیالي، ګبري، دشیارزي، دیشرایي، ارغشالي، ملکال، رنالي، پنجول، پنجمیرالي، دودال، منداریي، کاندرایي، سیرایي، بیګال، علي شیري، خان خېل، اشلور، دیشوار، باجوړي، رباطي او نور له یو نسل سره تعلق لري.[۳۵]

دهګان په مختلفو وختونو کې د تاريخ په پاڼو کې د ديګان، دهګان، دهکان، دهقان، ديهقان او د هوار په نومونو ذکر شوي دي، دغه نومونه يا خو د تلفظ او مخارجو د ردوبدل نتيجه ده او يا د سکونت د ځايونو په اعتبار سره مشهور دي او همدغه وجه ده چې په پښتونخوا کې د دوی څه خلک که په ګبرو مشهور دي، نو څه په "لغمانو" يادېږي، څه ورته که "رباطي" وايي، نو څه د باجوړو، شلمانو او سواتو په نوم شهرت لري. د مثال په توګه کوم دهګان چې د کرمې د سيند په غاړه د تيراه په مضافاتو کې په شلمان نومې ځای کې اوسېدل او بيا وروسته په اشنغر کې آباد شول، نو خلکو به ورته شلماني ويل او په تاريخ کې هم په دغه نوم ياد پاتې دي.[٣٦] پير معظم شاه هم د اشنغر شلماني دهګان حسابوي، په دې اړه هغه داسې وايي:

> ګويند چې په دغه وخت کې اشنغر د دله زاکو نه و، په کې شلمان وو او شلماني په ذات از جمله قوم دهګان دي، له شلمانه له کرمانه چې له توابعه د تيراه دي راغلي دي. اصل وطن يې شلمان کرمان دی ځکه دوی په شلمانو منسوب دي القصه اشنغر په هغه وخت د شلمانو وو، شلمانو خوړ او سلطان پکهل چې د سوات سلطان و د هغه رعيت وو.[٣٧]

د سواتيانو د مختلفو قبيلو په باره کې محمد اختر داسې ليکي:

> سواتی دراصل تين شاخوں پر مشتمل ہيں، گبری، متراوی اور ممیالی اور یہ تينوں شاخيں تاجک ہيں۔ ان ميں گبری حکمران طبقہ تھا جبکہ متراوی ممیالی دہگان تھی ديگان اور دھگان کی کم از کم حيثيت رئيس کی ہوتی تھی اور حکمران طبقہ کی بعد یہ دوسری درجہ کا با اختيار اور رئيس طبقہ تھا ان کی حيثيت بی زمين کا شتکاروں جيسی نہ تھی جيسا کہ بعض لوگوں نی تصور کيا ہی۔[٣٨]

ترجمه: سواتي په اصل کې په دريو ښاخونو مشتمل دي. دا درې ښاخونه ګبري، متراوي او ممیالي دي او دا درې واړه تاجک دي. په دوی کې ګبري حکمرانه طبقه وه او متراوي او ممیالي ديګان وو، د ديګان لږ تر لږه حيثيت به د رئيس برابر و او په حکمرانې طبقې پسې دوی با اختياره او مالداره طبقه وه، د دوی حيثيت د بې زمکو دهقانانو په شان نه و، کوم چې د عامو خلکو خيال دی.

محمداصف خان وايي هغه سواتيان چې نن سبا د اباسين پورې غاړې د الايي په علاقه کې اباد دي او اکثر تورې جامې اغوندي او يوسفزو له سوات نه شړلي، دوی پښتانه دي، ژبه يې هم پښتو ده، په تهذيبي لحاظ سره هم پښتانه دي، نو د دې لپاره دا خبره غلطه ده چې دا تاجک دي.[39] راج ولي شاه خټک په خپل کتاب روهالوجي کې د پښتنو د مشهورو قبيلو نومونه ورکړي دي، په دوی کې سواتي قبيله هم شامله ده.[40]د سواتيانو په باره کې حافظ رحمت خان په خلاصة الانصاب کې ليکي چې د سواتيانو قوم اگر چې په نسب کې په پښتنو نه ورگډېږي، خو له دې امله چې دوی پښتو وايي او ټول رواجونه يې د پښتنو دي او له پښتنو سره ډېر گډ را گډ دي ځکه په پښتنو حساب دي او د دوی په ذېل کې راوړل کېږي. وايي چې سواتي قوم له ډېر پخوا راهيسي په سوات او باجوړ کې اباد وو، خو کله چې د يوسفزو غلبه شوه او ټوله سيمه يې واخيسته، نو بيا يې سوات ته مخه شوه او له سواتيانو سره يې ډېر جنگونه وشول او هغوی يې له هغه ملک نه پاځول او ويې شړل او پخپله پر سوات قابض شول. سواتيان له هغه ځايه پکلی ته پورې وتل دا علاقه د يوسفزو د وطن او د کشمير تر مينځ پرته ده، دا قوم اوس هم په دغه سيمه اباد دی. دوی درې ډلې دي، يو گبري خلک د سلطان اويس په اولاد کې دي او سلطان اوېس، سلطان بهرام ،سلطان پکهل او سلطان جهانگير ټول په وار وار د سوات سلطانان تېر شوي او دوی ته جهانگيري سلطانان هم ويل کېږي. دوي د اصل نه تاجک دي او پاتې نور گډوډ قومونه. گبري ولس په دې وجه په گبري نوم مشهور شوی، چې په باجوړ کې گبرنومې يوه ودانۍ ده چې دوی به پکې اوسېدل،نو د دغه ځای په مناسبت دوی ته يوسفزي گبري وايي، خو هغه څوک چې ځان ته متراوي وايي د هغوی دا دعویٰ ده چې د دوی نيکونه د يوې واقعې له کبله له يوسفزو نه په هغه وخت کې بېل شوي، کله چې يوسفزي لا په گاړه نو شکي کې اباد وو. دوی له هغه ځايه سوات ته راغلي وو او په سوات کې ټيکاو شوي وو او متراويان د هغوی اولاد دی، خو د دوی دا قول تحقيق طلب دی او موميال چې ظاهراً يو خېل حسابېږي په اصل کې د دهگانو او نورو د ډېرو خېلو نو مجموعه ده، خو کله چې د دوی لږ لږ کورونو سره يو ځای شوي، له دې کبله په يو خېل حسابېږي او دوی په خپلو کې هم گڼ خېلونه دي.[41] گريرسن هم وايي چې دا پښتانه نه دي:

The original inhabitants of Swat, who were dispossessed by the Yusufzais, and who are now, under the name of Swatis, settled in the British District of Hazara, speak Pashto, although they are

not of Afghan origin, and have none of the distinctive marks of the race.[٤٢]

ترجمه: د سوات اصلي اوسېدونکي د چا نه چې يوسفزو د سوات قبضه اخستې وه، نن سبا د برتانوي حکومت تر انتظام لاندې په هزاره ضلع کې اوسېږي، پښتو ژبه وايي او د سواتيانو په نوم يادېږي، خو دوی نه د افغان له نسل نه دي او نه د افغان نسل څه نخښې نخانې لري.

لکه څنګه چې بره ذکر شول حافظ رحمت خان وايي چې دا تاجک دي. اوس ګورو چې تاجک څوک دي، د تاجکو په باره کې محمد اختر خان د مېجر بيليو د کتاب Races of Afganistan په حواله ليکي:

تاجک جسی عام طور پر فارسی وان بھی کہا جاتاہی کافی تعداد میں افغانستان کی (مختلف علاقوں) میں پھیلی ہوئی باشندی ہیں۔ اور یہ دیگر افغانوں سی زبان، داخل نظام، عادات اور رسم ورواج میں مختلف ہیں۔ یہ افغانستان کی قدیم ایرانی باشندوں کی نمائندی (پس ماندگان) ہیں جس طرح کہ افغان قدیم ہندوستانی باشندوں کی نمائندگان ہیں۔ [٤٣]

ترجمه: تاجک، چا ته چې په عمومي توګه فارسي بان هم ويلي شي په ګڼ شمېر کې د افغانستان په مختلفو علاقو کې اوسېږي او دا له نورو افغانانو نه په ژبه او رسم و رواج کې مختلف دي. دا د افغانستان د زړو ايراني اوسيدونکو نمايندګان دي، لکه څنګه چې افغانان د زړو هندوستاني اوسېدونکو نمايندګان دي. مېجر راورټي چې په سوات کې د اخونخېل ذکر کوي نو وايي چې دا د اخوند درويزه اولاد دی او دا تاجک دي افغان نه دي. په دې اړه راورټي داسې وايي:

Beyond the bounds of Upper Suwat are the Akhund-Khels, the descendants of Akhund Darwezah, who are Tajiks, that is to say, are not Afghans.[٤٤]

ترجمه: د بر سوات له بريدونو نه اخوا اخوند خېل اوسېږي، چې د اخوند درويزه اولاد دی او تاجک دي او مونږ دا ويلي شو چې دا افغانان، يعنې پښتانه نه دي:
ډاکټر سلطان روم د سواتيانو په باره کې داسي ليکي:

The Swatis are those Pukhtuns who had occupied and inhabited the Swat valley for centuries, prior to their expulsion and the subsequent occupation of Swat by the Yusufzai in the sixteenth century. However, it is noteworthy that in a recent study Muhammad Akhtar has questioned the ethnicity of these Swatis as Pukhtuns. He is of the opinion that these Swatis were Gabris by religion and Tajak by origin. He has been successful by proving his hypothesis to the extent that these Swatis were Gabris by religion prior to their conversion to Islam. But, as for his contention about their Tajak origin is concerned, he fails to prove his claim.[٤٥]

ترجمه: سواتیان هغه پښتانه دي چا چې سوات قبضه کړی و او په شپاړسمه صدۍ کې د دوی د ویستلو او بیا د یوسفزو پر سوات له قبضې نه وړاندې دوی دلته له پېړو راهیسي اوسېدل. دا خبره د یادونې وړ ده چې په یوه اوسنۍ څېړنه کې محمد اختر د دوی د پښتون نسل نه د کېدو په باره کې سوال راپورته کړی دی. د هغه دا رایه ده چې دا سواتیان د مذهب له مخې گبریان او نسلاً تاجک دي. پخپله په دې مفروضه ثابتولو کې هغه کامیاب شوی هم دی چې دا سواتیان د اسلام له قبلولو نه وړاندې گبریان وو، خو تر کومې پورې چې د دوی د تاجک نسل سره د تعلق خبره ده، نو د دې په ثابتولو کې ناکام شوی دی. ډاکټر سلطان روم په خپل بل کتاب کې هم دا خلک د سواتي پښتنو په نوم یاد کړي دي، هغه وایي:

After the occupation of the valley by the Muslims, people from different Afghan tribes also settled in Swat and came to be known as Swati Pukhtuns.[٤٦]

ترجمه: پر وادي سوات د مسلمانانو له قبضې نه وروسته د مختلفو افغانو قبیلو خلک په سوات کې مېشت شول او د سواتي پښتنو په نوم وپېژندل شول.

تر دې ځایه خو مونږ د سواتیانو د نسل په باره کې خبرې وکړې، اوس دا گورو چې یوسفزي سوات ته کله راغلي او زاړه سواتیان له سوات نه کله او ولې تللي دي؟ سوات ته د یوسفزو د راتگ څه صحیح نېټه نه ده معلومه، مختلفو محققینو مختلفې خبرې کړي دي،

مېجر راورټي داسې وايي:

When the Yusufzi tribe had effected the conquest of the Samah or plain of the Yusufzis, as it is now termed, lying along the northern bank of the Kabul river, from its junction with the united-rivers of Panjkora ad Suwat, until it empties itself into the Indus near Attak,—from the Dilazak tribe, about the year H. ٨١٦, (A.D ١٤١٣), they remained quiet for some time.[٤٧]

عبدالاکبر خان اکبر لیکي چې پر سوات باندې یوسفزو قبضه په ۱۵۱۸م کې کړې وه او ۳۱- ۱۵۳۰ کې د وېش بندوبست شوی و.[٤٨] محمد نواز طائر لیکي چې د خوارلسمې صدۍ په خوا و شا کې یوسفزي دلته اباد شوي دي.[٤٩] ډاکټر سلطان روم سوات ته د یوسفزو د راتګ په اړه داسې لیکي:

They failed the defensive meassures of the Swatis and occupied Lower Swat by the first quarter of the sixteenth century.[٥٠]

ترجمه: هغوی د سواتیانو د مدافعت اقدامات ناکام کړل او د شپاړسمې صدۍ په وړومبۍ څلورمه کې یې کوز سوات قبضه کړ.

فریډرک بارتهـ وايي چې پښتانه سوات ته له ۱۰۰۱میلادي کال نه تر ۱۶۰۰ میلادي پورې راغلي دي.[٥١] بیلیو سوات ته د یوسفزو د راتګ نېټه دا رنګ بیانوي:

In the time of Babur, who first came to Kabul in ١٥٠٤ A.D., the whole of the Peshawar district had already been colonized by different Afghan tribes; and, on his second visit, fourteen years later, he found the Yusufzais had spread well into Swat.[٥٢]

ترجمه: د بابر په زمانه کې څوک چې په وړومبي ځل په ۱۵۰۴ کې کابل ته راغی، نو د پېښور ټوله ضلع له مخکې نه مختلفو پښتنو قبیلو خپله کالونۍ جوړه کړې وه او پینځلس کاله وروسته هغه په خپل دویم سفر کې ولیدل چې یوسفزي په ټول سوات کې خواره شوي وو.

له دې ټولو خبرو نه پته لګي یوسفزي چې اول له افغانستان نه راغلل، نو په پېښور

او خواو شا علاقو کې اباد شول او بیا د شپاړسمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې سوات ته راغلي دي. یوسفزو سوات ته د راتگ په وخت کې چونکې دلته سواتیان اباد وو، نو د یوسفزو او سواتیانو په مینځ کې جنگونه شروع شول. په دې باره کې محمد اختر داسې لیکي:

> بابر بادشاه نی باجوڑ کی گبری سلطان حیدرعلی سی قلعہ گبر فتح کیا اور یوسف زئیوں نی سوات کی آخری حکمران سلطان اویس (جو گبری سواتی تھا) سی سوات کا علاقہ فتح کیا ۔سلطان اویس فرار ہوکر نیاگ درہ میں چلاگیا جب کہ دیگر تاجک سواتی جن میں (گبری، متراوی، ممیالی،) شامل تھی اور ان کو دہگان بھی کھا جاتاتھا ان مفتوح علاقوں سی نکل گئی۔ یہ سواتی سوات کی شمال مشرقی دروں میں اپنی ہم نسبوں کی پاس جاکر مقیم ہوگئی تھی کیونکہ یوسف زئیوں نی پہاڑی دروں کی رہنی والی سوایتوں سی کوئی تعرض نہیں کیا تھا مگر کچھ عرصہ بعد آبادی کی اضافی اور علاقی کی تنگی نی ان سواتیوں کونئی مسکن کی تلاش پر مجبور کردیا۔ جن کی باعث دریائی سندھ کوتھا کوٹ کی قریب عبور کرکی انہوں نی پکھلی پر قبضہ کرلیا۔[۵۳]

ترجمه: بابر بادشاه د باجوړ له گبري سلطان حیدر علي نه د گبر قلعه فتح کړه او یوسفزو د سوات له اخري بادشاه سلطان اویس نه د سوات علاقه فتح کړه. سلطان اویس نیاک درې ته وتښتېد او نور تاجک سواتي چې په هغوی کې گبري، متراوي او ممیالي شامل وو او دوی ته دهگان هم وایي، دوی له دې فتحه شوو علاقو څخه ووتل. دا سواتیان د سوات په شمال مشرقي درو کې له خپلو نسبیانو سره مقیم شول، ځکه چې یوسفزو د سوات په غرنیو درو کې اوسیدونکیو سواتیانو ته هېڅ هم نه ویل، خو څه وخت وروسته د ابادۍ د زیاتوالي او د اوسېدو د ځای د تنگوالي له وجې دا سواتیان د نوي مسکن په تلاش کولو مجبور شول او په دې وجه دوی له تهاکوټ سره نزدې په اباسین پورې وتل او په پکهلۍ یې قبضه وکړه. له سوات نه تر شړل کېدو وروسته هم ډېر سواتي د سوات په غرونو کې اباد وو، په دې باره کې محمد اختر داسې لیکي:

سوات سی حکومت کی خاتمہ کی بعد تقریباً ایک سوبیس سال تک سواتی سوات کی پہاڑي دروں‌میں بی سروسامانی کی حالت میں زندگی بسر کرتی رہی ۔اس دوران سلطان اویس اور اس کی اولاد درہ نہاگ میں کفاروں کی درمیان پھر سی صاحب اقتدار حکمران رہی۔ الائی بالا کی سواتی بھی ازاد حیثیت میں رہتی تھی مگر سواتیوں کی اکثریت ابھی تک سوات میں رعیت کی طور پر موجود تھی۔[٥٤]

کله چې یوسفزي سوات ته اول راتلل، نو دوی په کلیو کې له سواتیانو سره یو ځای اوسېدل، ځکه د دوی ژبه او ناسته پاسته یو شان شوه. په دې باره کې پیر معظم شاه داسې لیکي:

گویند چې یوسف زي چې ښهر لاندې کړ، دریمه بخره د سوات په تصرف راغی، نور یوسف زي ورپسې په کډو راتلل. ځای په ځای په دریمه بخره سوات مېشتېدل اور رعایا د سوات خلقو ته دلاسه ورکوله. واړه راتلل پخپلو مواضعو له دوی سره ابادېدل، په دا شان سره په هر کلي کې به یو څو کوره یوسفزي وو، نور به ورسره سواتي اوسېدل." [٥٥]

داسې معلومېږي چې بابر باچا ته به له سواتیانو نه څه خطره وه، نو هغه یوسفزیو ته وویل چې سوات ته به د الایي خلک نه راځي. دا خبره تزک بابري داسې لیکي:

تیئویں تاریخ کو یوسف زئیوں کا سردار ملک شاہ منصور، چند دوسری سرداروں کی ساتھ حاضر خدمت ہوا۔ ان میں سی ہر ایک کو خلعت ہائی فاخرہ سی نوازا اور بڑی احترام کی ساتھ رخصت کیا اور انہیں سمجھایا کہ الوہیہ بالا [٦] کا کوئی آدمی سوات کی معاملات میں دخیل نہ ہو۔[٥٦]

---

[٦] د رشید اختر ندوي د تزک بابري ترجمه کې ډېرې غلطیانې دي او بیا محمد اختر چې په خپل کتاب کې د دې ترجمې حوالې له نور وضاحت سره بیان کړي، نو هغه پکې نوره هم غلطي کړې ده. الوهیه بالا په اصل کې د سوات ابوهه کلی دی، چې ترجمه کوونکیو ترې الایي بالا جوړه کړې ده، په اصل کې په دغه وخت کې د بابر تعلقات له سواتیانو سره ډېر ښه وو او هم په دغه وجه یې له یوسفزو سره په معاهده کې دا شرط کېښود، چې یوسفزي به له ابوهې نه په بره سوات باندې څه تعرض نه کوي، ځکه چې تر دغه وخت پورې یوسفزو صرف د هغه وخت کوز سوات اخستی و او له ابوهې نه په بره د زړو سواتیانو سلطان اوېس او سلطان جهانگیر حکومت و. (په مننه د ډاکټر سلطان روم)

ترجمه: په دېرشم تاريخ د يوسفزو سردار ملک شاه منصور له څو نورو سردارانو سره په خدمت کې حاضر شو. دوی ټولو ته شاهي لباس ورکړل شو او په ډېر قدر او عزت سره رخصت کړل شول او هغوی په دې خبره پوهه کړل شول چې د الوهيه بالا هېڅ يو تن ته به د سوات په معاملاتو کې د دخل اجازت نه وي.

کوم خلک چې زړو سواتيانو ته پښتانه نه وايي، نو هغوی د ثبوت په طور د تواريخ حافظ رحمت خاني دا بيان وړاندې کوي:

در آن وقت سلاطين سوات وغيره مردم جهانگير به زبان گبری
می گفتند ورعا يائی سوات زبان يا دری می گفتند و درآن وقت اہل
سوات به ہمیں دو زبان تکلم می کردند۔"[۵۷]

ترجمه: په هغه وخت کې د سوات سلطانانو او نورو جهانګيري خلکو په ګبري ژبه کې خبرې کولې او عامو خلکو به په دري ژبه خبرې کولې او په هغه وخت کې د سوات خلک په دوه ژبو پوهېدل.

خو کله چې يوسفزو پر سوات حمله وکړه او کريمداد ابن عثمان الياس زي ابازي ميرهندا د سلطان په صف کې وليد، نو په فارسي يې ورته نعره وکړه، چې "ای مير هندا! اگر مرد هستي وخيال جنگ داري بيا که من حاضرم" او تواريخ حافظ رحمت خاني مخکې ليکي ـ "ودرآن وقت مردم يوسف زي از کابل تازه امد بودند۔ فارسي خوب مي گفتند ـ"[۵۸]

نو له دې نه پته لګي چې د دغو زړو سواتيانو دري يا فارسي ژبه ويل څه نا اشنا خبره نه وه، ځکه چې دوی له افغانستان څخه راغلي وو چرته چې له پښتو سره سره دري ژبه هم ويل کېده. لکه څنګه چې د تواريخ حافظ رحمت خاني له پاسني بيان څخه ښکاره ده، چې يوسفزي چې اول اول له کابل نه راغلي وو، نو فارسي به يې ويله. مېجر راورټي زړو سواتيانو (ګبري، متراوي، ممیالي) ته تاجک وايي او د دوي د ژبو په باره کې داسې ليکي:

These Tajiks spoke two languages or dialects, the Gibari and the Dari, the former being spoken by the tribe of that name and the latter by the other two tribes of Mutrawi and Mumiali.[۵۹]

ترجمه: دې تاجکو به دوه ژبې ويلې، ګبري او دري. په دې کې به ګبري ژبه ګبريانو ويله او دري ژبه به متراويو او ممياليو ويله، لکه څنګه چې مخکې ذکر شو چې زړو سواتيانو به يا دري (دري) او ګبري ژبې ويلې. د ګبري ژبې په باره کې محمد اختر داسې ليکي:

گبری لہجہ گبر کو بھی کہتی ہیں اور یہ او ستا اور ژند کی زبان ہی۔ ژند پہلوی میں لکھی گئی تھی چونکہ سواتی ذوالقرنین کی اولاد سی ہونی کی ساتھ ساتھ زردشت کی مذہب کی بھی قائل تھی اس لئی انہوں نی اپنی مدنیت کی ساتھ ساتھ اپنی زبان کو بھی برقرار رکھا ۔جو قدیم بولیاں (Dialects) بدخشان، واخان، کنٹر وغیرہ میں بولی جاتی ہیں جن کو بیلبو (Bellew) نی پہلوی زبان سی مشتق قرار دیا ہی دراصل یہی گبری لہجہ ہی جس کی ترقی یافتہ شکل دری ہی۔[٦٠]

ترجمه: گبري لهجه گبر ته هم وايي او دا د اوستا او ژند ژبه ده. ژند په پهلوي کې هم ليکل شوې وه، چونکې سواتيان د ذوالقرنين له اولاد سره سره د زرتشت د اولاد کېدو هم قاېل وو، نو دغه وجه ده چې دوی له خپل ټولنيز ژوند سره سره خپله ژبه هم باقي وساتله. کومې زړې ژبې يا لهجې چې په بدخشان، واخان، کونړ او نورو سيمو کې ويل کېدې، کومې چې د بيليو د خيال مطابق له پهلوي ژبې څخه راوتي په اصل کې دا گبري لهجه ده چې د هغې ترقي يافته شکل دري دی.

نتيجه

د دې بحث نچوړ دا دی چې د محمود غزنوي له لښکر سره چې کومې قبيلې راغلې وې د هغوی تعلق که له هر نسل سره و، خو کله چې دوی پښتو ژبه ويله او ټول رواجونه يې د پښتنو په شان دي او له پښتنو سره ډېر گډراگډ دي، نو ځکه په پښتنو حساب دي[٦١] او له دې نه دا پته ولگېده چې د يوولسمې عيسوي صدۍ په شروع کې سوات ته پښتانه راغلي او دلته د پښتو ژبې شروع شوې ده.

د پښتو ژبې ترقي

د سوات د پښتو ادب د وړومبي دور تاريخي شاليد ته که مونږ وگورو، نو صرف سوات د مغلو له مستقيمې قبضې نه ازاد و او د براعظم گوټې او نورې پښتونخوا په زياتو برخو مغل قابض وو او د هغوی ټوله توجه فارسۍ طرف ته وه او دغه وجه وه چې د فارسۍ اثرات په سوات هم ډېر زور شوي وو، خو بيا هم د دې سيمې ليکوالو له پښتو ژبې سره مينه لرلې او له پښتو ژبې سره د هغوی د مينې دا اظهار د هغوی په کتابونو کې په نظر راځي او لوی

ثبوت يې دا دی چې هغوی مونږ ته د پښتو دا قيمتي ادبي سرمايه پرېښې ده. له دې نه پته لګي چې د هغه وخت ليکوالانو د پښتو ژبې ضرورت او اهميت محسوس کړی و او د دې ژبې د ترقۍ لپاره يې شعوري کوښښونه کول. د دې ليکوالانو له کتابونو نه دا ښکاره ده، چې هغوی پښتو ژبې ته څومره ارزښت ورکړی دی. په دې اړه به اول مونږ له مخزن نه هغه حوالې واخلو په کومو کې چې د پښتو ژبې د ضرورت، اهميت او له دې ژبې سره د مينې ذکر شوی دی.

١. په خوږوه افغاني ژبه هم د نظم په جوړونه.[٦٢]
٢. امالي کتاب يې روغ کړ- ته په دا بيان باور کړه چې په لفظ د افغاني دی.[٦٣]
٣. اوس د زړه په غوږو واوره دا بيان چې افغانې دی- عربي يې په پښتو کړ.[٦٤]
٤. دا کتاب مې عربي و- رحم اوکړه ای څښتنه په هغه کس چې يې پښتو کړ.[٦٥]
٥. دروېزه چې اجتهاد په علم اوکړه ـ عربي يې پښتنو لره پښتو کړه ـ نور غم غرض يې نه وه مګر دا چې په نېکانو کې ياديږي.[٦٦]
٦. دا کتاب مې عربي وه ـ د نبي صفت کړی محمد بوصيري دی ـ فقير څني پښتو کړ.[٦٧]
٧. دروېزه چې عقائد په پښتو ووې شفقت يې وه په لوئی په هلک په ازاد په بنده و پښتنو.[٦٨]
٨. عقيده د امام محمد شامي په عربۍ وه ـ دروېزه بنده پښتو کړه ـ بل هر مومن دې ايزده کړي چې ايمان يې پرې قوي شي له کماله.[٦٩]
٩. دروېزه بيان پښتو کړه له کتابه له حديثه بل هر چې مومنان دي په سينه او په ټټريې کيږدينه.[٧٠]
١٠. دروېزه کتاب پښتو کړ- بل واړه افغانان دې يې هم ياد کا چې فرقې د ګمراهانو دوي زده کا هم ايمان له دوي وژغوري.[٧١]
١١. دا بيان که افغانې دی په دغه رنګ وئېلی عبدالله يافعي دی ـ په رساله مکيه کې يې وغواړه که باور دې په پښتو ژبه نه کيږي.[٧٢]
١٢. دروېزه بيان پښتو کړ، په فارس په عرب کې عالمان دي خپل قام وته په خپله ژبه وائي- ولې کم څوک پېدا شوي له افغانانو.[٧٣]
١٣. دروېزه چې عربي پښتو کوينه دا يې واړه شفقت پر افغانان دی ـ هر چې دا بيان په ياد کا افغانانو لره دا بيان تمام دی.[٧٤]
١٤. دا بيان يې دی په شرح مختصر کې په فارسۍ ژبه وئيلی ـ دي فقير څنې پښتو کړه ـ

بله غاړه شي د دې عام افغانانو ـ خدائی په هره ژبه بوله عربي وي که فارسي وي که هندي که افغاني ـ په هغه ژبه يې بوله چې دې زده وي دا اقوال د امامانوـ اوس اکثر عالم دا وايي چې قرآن په عربي دی په ناحقه فرض واجب څوک پښتو کوينه، دوي په دا وينا لغزيږي نه پوهيږي ـ دغه خوي د جاهلانو ـ درويزه چې په پښتو ژبه بيان کا غم يې د بوهله و افغانان دی ـ هر چې فرض او واجب زده کا دوي به نه شي د منکرو کافرانو ـ دا فقير څه له پيرانو منکر نه دی ـ ده دی لاس ورلگولی که ازاد وي که بنده وي چې سني وي پر جمله مسلمانانو.[٧٥]

۱۵. درويزه چې څه بيان کا واړه دين د پاک نبي بيانوينه ـ پښتانه په بله ژبه نه پوهيږي ـ ځکه دی يې په پښتو ژبه وروښيينه ـ واړه دين د پاک نبي بيانومه ـ و پوهيږئ مومنانو، د دې پاک نبي له دينه په دا خپله ژبه پوهه شئ افغانانو.[٧٦]

د اخون درويزه له مخزن نه چې کومې بره ذکر شوې حوالې اخستل شوي، د دې بار بار ذکر نه د پښتو ژبې په هغه وخت کې د اهميت او ضرورت او ترقۍ اندازه لگېدلی شي. هغه پښتو ژبه کله کله په افغاني نوم هم ياده کړې ده. پښتانه په عربي يا فارسي نه پوهېدل ځکه هغوی ته له عربي او فارسي نه د عقايدو او د ايمانياتو بنيادي خبرې پښتو ته ترجمه کول ضروري وو. د اخون درويزه له پښتنو سره ډېره مينه وه چې هغه د فارسي او عربي کتابونه د دوی لپاره ترجمه کړل او د دې ميني برملا اظهار يې کړی دی. يوه خبره دا هم په ډاگه شوه چې په هغه وخت کې په پښتو کې په کتابونه د خلکو اعتبار کم و، ځکه خو اخون درويزه وايي چې که په پښتو دې اعتبار نه وي، نو په بله ژبه کې يې وگوره او اصل ماخذ طرف ته رجوع وکړه. له دې خبرې نه د اخون درويزه د ترجمې د فن او مهارت اندازه هم لگي ځکه خو هغه دومره په اعتماد سره وايي چې که څه شک دې وي، نو اصل ماخذ ته رجوع کولی شې.

اخون درويزه ته دا احساس و لکه څنگ چې د فارسي او عربي عالمان خپلو خلکو ته په خپله ژبه تعليم ورکوي دغه شان مونږ ته هم پښتنو ته په پښتو کې تعليم ورکول پکار دي.

اخون کريمداد[٧] هم په خپله الف نامه کې ځای پر ځای د پښتو ژبې ذکر کړی دی:

[٧] ميا کريم داد د اخون درويزه مشر زوی دی. ميا کريم داد د تاريخ او ادب په کتابونو کې په مختلفو نومونو ياد شوی، لکه اخون کريم داد، کريم داد شهيد، عبدالکريم او شهيد بابا. (رحيم، رحيم شاه، د کانجو ميا کريم داد، مشموله، مياشتيزه پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ۱۰، شماره: ۴، (مئي ۱۹۷۸)، مخ: ۲۲) ـ خلاصة البحر نومې کتاب کې ورته "محقق افغان" ويلي شوي دي ـ (حبيبي، عبدالحی، پښتانهٔ شعراء (اوله حصه)، پېښور،

د پیری شرطونه ډېر دي
په دا افغاني گفتار کې نه ځائیږي[77]

کریمداده ته څه بې باطنو نه یې
چې په پښتو ژبه دې پوهه خلقه کا
هر څوک فاتحه پسې و کاڼۍ د هغې ساعت دپاره
که په ورستې ساه وم قبوله غږه کا[78]

او عبدالحلیم هم د پښتو ژبې ذکر کوي:

واورئ یارانو دا بیان یې په فارسۍ وه
په پښتو ژبه د حلیم د خلې گفتار شي[79]

په فوائد شریعت کې اخون قاسم پاپین خېل د پیربابا، اخون درویزه بابا او اخون کریم داد په باره کې داسې لیکي:"څه کامل یې برکت شه ـ عالم زیات اهل سنت شه ـ په پښتو یې دین بیان کړه ـ گوښې گوښې یې عیان کړه ـ د پښتون عذر یې ورک کۀ."[80]

دوست محمد خان دوستی هم له فارسۍ نه د پښتو د ترجمې په باره کې داسې لیکي:

دا رنگ نقل په فارسۍ و ای صاحبه
دوست محمد ترې رابهر کړه عجائبه
که څوک وکاندي په دا رنگه پوښتنه
څه غرض و چې بهردې کړه ښادمنه
زه دوستي ورکوم دا ځواب ای دله
چې خبر ترې افغانان شي د حاصله[81]

بل ځای کې داسې وایي :

اوس شروع په حدیثونو ښه کره هم
په پښتو ژبه کوم معنو سره هم

یونیورستي بک ایجنسي، مخ: ۵۸) ـ کریم داد د بونېر په علاقه سلارزي کې پېدا شوی دی.(رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (ناچاپه)، مخ: ۴) ـ د ده د پېدایش نېټه ۹٦۵ هـ بمطابق ۱۵۵۷ عیسوي ښودل شوې ده. (رحیم، رحیم شاه، د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۰، شماره: ۴، (مئي ۱۹۷۸)، مخ: ۲۲) رحیم شاه رحیم په خپل ناچاپه کتاب "غټه خزانه" کښې د ده د پېدایش نېټه ۹۷۰ هـ بمطابق ۱۵٦۲ عیسوي لیکلې ده.(رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (ناچاپه)، مخ: ۴)

معنـــــــــي وي د دې حـــــــــديثو فـــــــارسي ژبــــــه
افغانــــــان نــــــه وو خـــــبردار هــــېڅ لــــه مطلبــــه
زه پښـــــــتو ورتــــــه ليكــــــــــم دا رنـــــگ بيــــــان
چـــې خــــبر شي پــــه كـــل حـــال يـــې افغانـــــان[82]

دا حـــــــــــديث ويلـــــــــــى دى دوســـــــــــت د ودود
زه بيـــــان درتــــــه پښـــــتو كـــــــــــوم فــــزود[83]

در خلاصـــــــــــة الحقـــــــــائق كـــــــــــې دي راوړي
مــــا پــــه دا رنگـــه دي تاتــــه پښـــــتو كــــــړي[84]

چـــې ســـودا مـــې ځـــان لــــه جـــوړه كـــړه كاملـــه
فــــــارسي معنـــــا مــــــې زر پښـــــتوته راوســــــتله
لــــه فـــــارسى نـــــه پــــه پښـــتو شولــــــه اســـانه
كــه پــرې عمــل كــړئ پــه اخــر بــه شــئ شــادانه[85]
لــــه اســـــتاد مـــــې اور ېـــدل دى بـــــل تقريــــــر
پــــــه پښـــــتو ژبـــــه مــــــې كــــــړى دى تحريــــــر[86]

پېغمـــــــبر دا هســــــې شــــــان دي فـــــــــــــرمايلي
غـــوږ پـــرې كيـــږدئ مـــا پښـــتو درتـــــه لــيكلي[87]

دا بيـــــان پــــــه فــــــــــــارسى ژبــــــه و مشـــــــكل
هـــــر افغـــــان پـــــه دې كـــــې و بـــــې قـــــال وقيــــل
چـــې دوســـــتي بيـــا مونـــد توفيـــق لـــــه پاكـــه ربــــه
لـــه فارســـى نـــه يـــې كـــــړه بهـــر پــــه پښـــتو ژبــــه
لــــه فارســـى نـــه يـــې پـــه پښـــتو كـــــړ ډېـــر اســـان
كـــړي بـــه عمـــل پـــرې چـــې څـــوك وي ښـــه مســـلمان[88]

د دوست محمد خان دوستي له دې شعرونو نه هم د پښتو ژبې ضرورت او اهمیت په ډاګه شو او پته ولګېده چې له فارسي او عربي نه ترجمې څکه کېدې، چې پښتانه په نورو ژبو نه پوهېدل، خو لکه څنګه چې وړاندې د تواریخ حافظ رحمت خاني په حواله ذکر شول، چې یوسفزي چې اول اول له کابل نه راغلي وو، نو فارسي به یې ویله، نو دلته سوال دا پیدا کېږي چې دوی په فارسي پوهېدل، نو بیا له فارسي نه پښتو ته د ترجمو ضرورت ولې پېښ شو؟ دلته دوه خبرې امکان لري، یو دا چې کېدی شي دوی د علمي خبرو صحیح وضاحت باندې په فارسی کې نه پوهېدل، دویمه دا خبره هم کېدی شي چې ټول یوسفزي به په فارسي نه پوهېدل، خو لږ لږ به پوهېدل، نو څکه له فارسي نه کتابونه پښتو ته ترجمه کېدل.

په سوات کې د پښتو ادب ارتقاء

سوات ته د پښتو او پښتنو د راتګ له بحث نه پته ولګېده چې سوات ته پښتو ژبه د یوولسمې صدۍ په شروع کې د پښتنو له راتګ سره راغلې ده. اوس به دا وګورو چې د پښتو تحریري ادب په سوات کې له کوم وخت نه په نظر راځي، په مجموعي توګه خو د سوات علمي او ادبي روایت دلته له موجودو ډبرلیکونو او لرغونو تاریخونونه څخه معلومېږي. په دې حواله "د سوات نامې سریزه" کې علامه عبدالحی حبیبي لیکلي، چې د سوات په بریکوټ کې په ۱۸۹۷م کې یو ډبرلیک په سنسکرت او دیوناګري خط کې لیکلی په لاس راغلی دی. دا ډبرلیک اوس د لاهور په میوزیم کې دی. په دې ډبرلیک یې داسې لیکلي دي:"د ستر حکمدار او تر ګردو شاهانو غټ لوی باچا سري جیه پاله[8] دیوه په باچاهۍ کې." [89] په سوات کې د دې ډول ډبرلیکونو په باره کې محمد پرویش شاهین لیکي چې:"دغه ډبرلیکونه د سرحد انګرېز ګورنر ډین فیرنګي په منظم ډول په ډېر قیمت د عبدالمنان نومي سړي په پوهه او مشرۍ کې له دې ځایونونه وویستل او په ډېر لوی شمېر کې یې د فیرنګیانو وطن ته یوړل."[90] په زړو تاریخونو کې د دې خاورې د علمي او ادبي

[8] حبیبي لیکي چې دا جیه پال یا جېپال هغه کابلشاه دی، چې د پلار نوم یې بهیم دیوه و او د ۳۰۰۰ هجري په شاو خوا کې یې باچاهي کوله. جېپال په ۳۴۹ هجري بمطابق ۹۶۰م کال کې باچا شو او د العتبي په قول په ۳۹۳ ق یې ځان وسوځوه. دغې کورنۍ د غزني له باچا امیر سبکتګین سره ډغرې ووهلې او کله چې له کابل نه بې کوره شول، نو بیا یې د اباسین په غاړه په هند کې دویم پایتخت جوړ کړ او له لغمانه تر پکلۍ پورې د سوات په شمول د دوی حکومت و. (حبیبي، د سواتنامې سریزه، مخ: ۴)

اهمیت په باره کې پروېش شاهین وایي چې"د دې خاورې علمي او تعلیمي حیثیت د تبت او چین د زایرینو له سفرنامو نه په اسانه ظاهرېږي"[٩١]

صراح

کله چې مونږ په سوات کې د سوات علمي، تحریري او ادبي روایت ګورو، نو اول چې د کوم کتاب ذکر د سوات او یوسفزو پښتنو په حواله راځي هغه "صراح" دی. مېجر راورټي د خپلې پښتو ډکشنرۍ په دیباچه کې چې کله په ۱۴۱۷م کې د شېخ ملي د کتاب ذکر کوي نو بیا ورپسې داسې لیکي:

> It must not for a moment be inferred that previous to this there was no Pushto Literature. On the contrary, Akhund Darwezah mentions in his work entitled "Tazkirat-ul-Abrar",[Tazkirat-ul-Abrar wal Ashrar] written in Persian, that in his time there was a celebrated book entitled صراح "the pure" which had been in the possession of the yusufzis for some centuries past and was ever held in great veneration by the tribe.[٩٢]

افضل خان خټک په تاریخ مرصع کې د اخون دروېزه په حواله وایي چې 'اکبر باچا د هندوستان نه کشمیر روان شه د یوسفزي ملاحظه یې په خاطر کې وه ـ په دې وخت کې میا عیسي[٩] د یوسفزو سردارانو ته ولیکل چې که تاسو ما له د ملا شاه خاني د کتب خانې نه صراح کتاب راواستوئ نو زه به ستاسو دا ملک د اکبر باچا نه خلاص کړم.[٩٣]

بل اهم کتاب د شېخ ملي دفتر دی.

د شېخ ملي دفتر

له صراح نه علاوه چې د کوم کتاب ذکر د سوات په حواله ټولو تاریخونو کړی دی هغه "د شېخ ملي دفتر" دی. د شېخ ملي دفتر او د پښتو د ادبي روایت په باره کېرابرټ پېنزل داسې لیکي:

[٩] شاه عیسي (میا عیسي) د سند د بکوله ساداتو څخه یو زاهد و، چې په اټک کې اوسېده. (د خوشحال بابا کلیات، سمونه، مقدمه، حاشیې،تشریحات او فرهنګ د پروفېسر ډاکټر یارمحمد مغموم خټک، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۲۰۱٦، مخ: ۱۳۴۳

The first use of Pashto as a literary language is believed to have been in the fifteenth century when Shekh [Shaikh] Mali wrote his account of the conquest of Swat.[٩٤]

خوشحال خان خټک چې کله سوات ته راغلی و، نو هغه هم د دې کتاب ذکر کړی دی، ځکه هغه په خپل کلیات کې یو ځای کې داسې وایي:

دوه کـــاره دي پـــه ســـوات کـــې کـــه خفـــي دي کـــه جـــلي
مخـــــــزن د درویـــــزه دی یـــــا دفـــــتر د شـــــېخ مـــــلي[٩٥]

د خوشحال خان خټک دا شعر په Confidential, Gazetteer of North-West Frontier, from Bajaur and Indus Kohistan on the North to the Mari hills on the South په څلورم جلد ۱۸٦۰ مخ کې داسې لیکل شوی دی:

پـــه ســـوات کـــې دي دادوه کفـــــــــــره جـــلي
یـــو مخـــزن د درویـــزه دی بـــل دفـــتر د شـــېخ مـــلي

په جرمني کې د پښتو د شاعرانو د کلام د مجمع الاشعار[١٠] په نوم یوه قلمي نسخه ده د هغې د دویم جلد په ۲۳۲ مخ کې د "شعر معاند" تر سرخط لاندې دا شعر ورکړی دی:

پـه صـوات کـې دي دوه کفـره یـو خفـي دی بـل جـلي
یـــو مخـــزن د درویـــزه دی بـــل دفـــتر د شـــېخ مـــلي

له دې شعر نه وروسته یې په ۲۳۳ مخ ای "رد از اکبر اخوند زاده" تر سر خط لاندې یو کلام ورکړی دی چې اولني دوه شعرونه یې دا دي:

پـــه ســـوات کـــې دوه کتابـــه دي یـــو فـــرع بـــل اصـــلي
یـــو مخـــزن د درویـــزه دی بـــل قـــران نـــور جـــلي
څـــوک چـــې لـــه دې دواړو مخـــالف ځـــي پـــه دنیـــا کـــې
د قـــارون پـــه دود پـــرې ډک شـــو د دوزخ جـــور تـــلي

په همدغه مخ کې د اکبر اخوند زاده د یو بل کلام دا دوه شعرونه هم له دې موضوع سره تعلق لري:

[١٠] دیناخېل، ډاکټر محمد علي. په جرمني کې د پښتو یوه قلمي نسخه"مجمع الاشعار، مقاله مشموله شپږمیاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون، جلد: ۴۵، شمېره: ٦۵۱ (جنوري، جون۲۰۱٦)

په سوات کې دي دوه کفره يو خفي دی بل جلي
يو رسوم باطله دي بل دفتر شيخ ملي
څوک چې مخالف ځي له قرانه تري توبه شه
ليس لمن اعلم الخلف و لا لي
پير خو مې قران دی له رسومو مې توبه شه
مثل د لوی حوض دی چې تور تن که صيقلي
دين له خدايه راغی په قران کې رابيان شۀ
دا له حقه دينه نه جزي دي نه کلي

"دفتر شيخ ملي" د گريرسن په خيال د سوات د پښتو وړومبی کتاب دی، خو هغه وايي چې په لاس نه دی راغلی، په دې اړه د هغه الفاظ دا دي:

Pashto has a fairly copious literature, partly original and partly translated. The first book written in the language is said to be a history of the conquests of Swat by the Yusufzais, but no copy of it is known to exist.[٩٦]

ترجمه: په پښتو کې ښه ډېر ادب موجود دی، په دې کې څه ترجمه شوی او څه اصلي دی. په دې ژبه کې ويلی شي چې وړومبی کتاب د يوسفزو د سوات د فتح کولو په باره کې دی، خو د دې کتاب يو نقل هم موجود نه دی. مېجر راورټي په ١٨٥٨م کې سوات ته يو قندهاری د "دفتر شيخ ملي" په لټون پسې رالېږلی و، هغه ټول سوات وکتلو، خو دا کتاب ورته په لاس ورنغی، خو په واپسۍ کې ورته چا دومره خبره وکړه چې دا کتاب د شاکوټ له مياغلام محمد سره دی، خو د دغه کلي د امن و امان د خرابو حالاتو له وجې دی دغه کلي ته لاړ نه شو.[٩٧] د مېجر راورټي د ١٨٥٨م له ليکل شوې مقالې خو دا پته ولگېده چې دا کتاب هغه په هغه وخت کې نه و موندلی، خو بيا وروسته د هغه د پښتو ډکشنرۍ د ديباچې له بيان نه داسې پته لگي چې دا کتاب هغه وروسته موندلی دی. د خپلې پښتو ډکشنرۍ په ديباچه کې په دې اړه هغه داسې ليکي:

Shaykh Mali, Yusufzi, in A.D ١٤١٧, wrote the "History of his tribe and their conquests in the Peshawar valley, and in the Samah or plain on the northern bank of the Landdaey sind or Kabul River." This is the earliest work I have been able to discover.[٩٨]

ترجمه: شېخ ملي يوسفزي په ۱۴۱۷م کې د خپلې قبيلې تاريخ او د هغوی په ذريعه د پېښور د وادۍ او د لنډي سيند يا د کابل سيند شمال طرف ته د سمې يا ميداني علاقې د فتح کولو تاريخ وليکله، دا په اولنو کتابونو کې دی د کوم چې زه د مونډلو جوګه شوم.

نصرالله خان نصر وايي چې د "شېخ ملي دفتر نوموړي مستشرق مېجر راورټي مونډلی او په ۱۸۵۵م کې يې د پښتو ګرامر په ديباچه کې د دې کتاب د کتابت تاريخ ۱۴۱۷م ليکلی دی.[۹۹] عبدالاکبر خان د شېخ ملي د وېش او بندوبست تاريخ ۱۵۳۰م ليکلی دی.[۱۰۰] د دفتر شېخ ملي د ليکلو کوم تاريخونه چې دې بره ليکوالانو ذکر کړي، نو له هغې نه دا پته لګي چې که دا يو داسې کتاب وي چې په هغه کې د قبضه کړی شوو زمکو د وېش او د حساب کتاب ذکر وي، نو دا کتاب به له ليکل شوي کال يا وخت نه وروسته ليکل شوی وي، ځکه چې په دې وخت کې يوسفزي په جنګونو او فتوحاتو کې لګيا وو او وېش لا نه و شوی.

تاريخ خان کجو

يو بل مهم کتاب چې د هغه ذکر د سوات په حواله راځي هغه "تاريخ خان کجو" دی. د دې کتاب په باره کې مېجر راورټي ليکي چې دا کتاب خان کجو رانېزي[۱۱] په ۱۴۹۴م کې ليکلی دی.[۱۰۱] د دې کتاب په باره کې مېجر راورټي نور تفصيل داسې بيان کړی دی:

The history of the Yusufzis and the account of the conquest of Suwat, I have found in work in the Library of the India House; written however in a most strange manner in Pashto and Persian. The author was an Afghan; and he goes on to relate in Persian and then all at once breaks into Pushto and vice versa.[۱۰۲]

[۱۱] د کجو خان اصلي نوم خان احمد خان و. دی د خپل وخت د ټولو نه لوی ملک و، د سوات په خواو شا کې اوس هم رانيزي نومې يو قوم اباد دی. کجو خان د رانيزي له مشهور خېل ازي خېلو سره تعلق لري. وېيلی شي چې د دې کورنۍ په دغه علاقه کې ډېر نوم خور و. کجو خان له شېخ ملي نه پس په پښتنو کې ډېر ياد سړی و. د حيات افغاني مصنف ليکي چې خان کجو د شېر شاه معاصر و. (رضا، محمد افضل، د پښتو د نثر تاريخ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۹٦، مخ: ۱۱۸)

ترجمه: ما د یوسفزو او د سوات د فتح کولو تاریخ په انډیا هاوس کتابتون کې بیاموند. دا په یو عجیبه انداز کې په پښتو او فارسي کې لیکل شوی دی، د دې کتاب لیکوال یو افغان و او هغه په فارسي کې بیان کوي او بیا ناڅاپي پښتو ته واوړي او دغه رنګ بیا فارسی ته.

دا کتاب چې په فارسي او پښتو ګډوډ لیکل شوی، په اصل کې د "تاریخ افاغنه" تلخیص دی چې د "تاریخ خان کجو" په نوم یادېږي. په دې باره کې محمد نواز طائر لیکي چې"د اصل مسودې، یعنې تواریخ آفاغنه د مصنف نوم خواجو ملیزی و. دغه مسوده لکه چې د تواریخ خان کجو په نوم هم شهرت لري. خواجو مورخ د خان کجو په مصاحبینو کې و او پخپله یوسفزی و، چې د خان کجو له وفات وروسته هم ژوندی و او دا کتاب چې د خان کجو د وفات ذکر هم لري داسې ښکاري لکه چې د هغه له وفات نه پس د هغه د یادګار په طور لیکل شوی او هغه ته منسوب کړی شوی وي. [۱۰۳]موجوده وخت کې دا کتاب د تواریخ حافظ رحمت خاني په نوم د پیر سباک کلي پیر معظم شاه مرتب کړی دی. هغه لیکي چې حافظ رحمت خان ته دا کتاب د شاه جهان پور د نواب خان بهادر خان غوریاخېل داودزي له کتب خانې نه راستولی شوی و.[۱۰۴] ددې کتاب وړومبی مولّف خواجو ملیزی دی او هغه دا کتاب د تواریخ آفاغنه په نوم تقریباً په ۱٦۲۳م کې لیکلی دی.[۱۰۵]

مخزن الاسلام

د سوات په پښتو ادب کې وړومبی معلوم او موجود کتاب مخزن الاسلام دی. د مخزن دوباره ترتیب او تدوین د اخون درویزه اولاد په سوات کې کړی دی، دغه وجه ده چې د سوات پر پښتو ادب د دې کتاب ډېر ژور اثرات مرتّب شوي دي، ځکه د سوات په پښتو ادب کې دې کتاب ته ډېر اهمیت حاصل دی. د دې وجوهاتو په بنا د هغه وخت نقادانو او مورّخینو مخزن ته د سوات کتاب ویلی دی، لکه خوشحال خان خټک چې وايي:

که ژوندی شي افلاطون ... سوات کې اونیسي سکون
اکوزیو ته بیان کا ... کتابونه د فنون
هدایه کفایه دواړه ... په پښتو کاندي موزون
دوي به وايي چې دا څه دي ... مخزن ښځ دی د اخون[۱۰٦]

خوشحال خان خټک په يو بل ځای کې داسې وايي:

مخــــــزن د درويــــــزه د ميــــــانور شــــــيخي پــــــيري
الثالــــــث بــــــالخير د حمــــــــــــزه خــــــانې مــــــيري
دا درې تــــو کــــه ډېــــر قــــدر ډېــــر عــــزت لــــري پــــه ســــوات کــــې
و خــــدای وتــــه ښــــکاره دي ويــــل نــــه شــــــــي پــــه ځــــيري [١٠٧]

او د مخزن ذکر بل ځای داسې کوي:

دوه کــــاره دي پــــه ســــوات کــــې کــــه خفــــي دي جــــلي
مخــــــــــزن د درويــــــزه دی يــــا دفــــتر د شــــېخ مــــلي [١٠٨]

د اخون درويزه د مخزن په باره کې مېجر راورټي داسې ليکي:

Akhund Darwezah, wrote his "Makhzan Pushto", in refutation of the tenets of the Roshanian sect of schismatics, promulgated by its founder Bayzid Ansari.[١٠٩]

ترجمه: اخون درويزه خپل د پښتو مخزن د روښاني فرقې د عقيدې په رد کې وليکه، کومه عقيده چې د دې ډلې باني بايزيد خوروله.

د مخزن الاسلام په باره کې گيئرسن داسې ليکي:

Most renowned work, an unparalleled treasury of invective, is the Makhzan-e-Islam, in which he attacked the heresies of Bayazed.[١١٠]

ترجمه: مخزن اسلام ډېر زيات مشهور کتاب دی چې د بدو ردو يوه بې مثاله خزانه ده په کوم کې چې د بايزيد انصاري په بدعت او الحاد حملې شوي دي.

خوشحال خان خټک په "سوات نامه" کې د مخزن په باره کې داسې وايي:

يــــو کتــــاب دی درويــــزه سره جــــوړ کــــــــــړی
چــــې د ســــوات خلــــق يــــې لــــه علمــــه دی مــــوړ کــــړی
نــــا معقــــول مجهــــول بيــــان پکــــې بــــې ځايــــه
پکــــې بــــد د ســــيد وايــــه يزيــــد ســــــتا يــــه
دا احــــوال بــــه پــــه بــــل فصــــل کــــې ښــــکاره شي
پــــه مطلــــب نظــــر لــــــــرم چــــې دربښــــکاره شي
نــــا گهانــــه چــــې زمــــــا پــــه نظــــر کېــــوت

پــــه دا حـــــرف پـــــه دا ويـــــل مـــــې نظـــــر پرېـــــوت
چـــــې لعنـــــت بـــــه پـــــه يزيـــــد هغـــــــــه واينـــــه
چـــــې پـــــه رفـــــض کـــــې غـــــره بـــــې حـــــده وينـــــه[١١١]

چـــا بــــه وي چـــــې دا اخـــــون زمـــــونږ امـــــــــام دی
درســـــت مخـــــزن پـــــرې نـــــازل شـــــوی پـــــه الهـــــام دی
پـــــه مخـــــزن بانـــــدې چـــــې بـــــد وايـــــي کـــــافردی
د کافـــــــــــر قتـــــل پـــــه شرعـــــه معتـــــبر دی[١١٢]

درويـــــزه چـــــې بيـــــان کـــــړی خپـــــل کتـــــاب دی
نـــــوم ئـــــی مخـــــزن الا سرار کـــــړی جنـــــاب دی
هـــــر بيـــــان يـــــې نـــــاموزون، مجهـــــول، بېرنگـــــه
خـــــالي يـــــا تولـــــــه دانشـــــه لـــــه فـــــــــرهنگه[١١٣]

د اخون درويزه او د هغه د کتاب مخزن په سوات کې د مقبوليت په باره کې خوشحال يو بل ځای کې داسې وايي:

د درســـــت ســـــوات د مـــــلايانو دا رضـــــا ده
چـــــې قبـــــول دې کـــــه دا کـــــار فايـــــده هـــــم دا ده[١١٤]
يوســـــفزيه چـــــې نيـــــولی ملـــــک د ســـــوات دی
دا همـــــه د درويـــــزه دعـــــــــا دعـــــوات دی[١١٥]

د مخزن د موضوعاتو (Contents) باره کې خوشحال داسې وايي:

قصـــــيده د بوصـــــيري ترجمـــــــــه کـــــــړې
عـــــربي يـــــې تـــــر پښـــــتو مضـــــحکه کـــــړې
هـــــر هـــــر بېـــــت د قصـــــيدې چـــــې در مرجـــــان دی
پـــــه پښـــــتو کـــــې تـــــر ور بشـــــولا ارزان دی
معـــــــــماد ازري ترجمـــــــــــه کـــــــــــړې
تصـــــوّف يـــــې و عـــــالم وتـــــه نـــــو مـــــړې
ترجمـــــه د شـــــاه نـــــاصر يـــــو خـــــوا شـــــكاله

و عـــالم تـــه جـــوړه کـــــــړې لـــه مقالـــه
مســـئلې يـــې نظـــــم کـــړې پـــه پښـــتو دي
درتـــه څـــه وايـــم چـــې څـــه دي؟ د لوســـتو دي؟
پـــه دا هســـــې شـــان کتـــاب يـــې مباهـــات دی
د جـــامي ترهفـــت اورنـــګ ورتـــه ناويـــات دی[116]

هـــر ســـړی چـــې پـــه مخـــزن بانـــدې څـــه وائي
پـــه دنيـــا کـــې ترســـاعته بـــه څـــوک پـــائي[117]

درويـــزه نـــه مجتهـــــد دی نـــه امـــــام دی
دی هـــم خـــام تاســـو هـــم خـــام مخـــزن هـــم خـــام دی[118]

د مخزن ترتيب او تدوين چې په اخري ځل مصطفیٰ محمد کړی دی، نو په دې کې د کريم داد شهيد، ميامصطفی محمد او عبدالحليم الف نامې او د کلام نورې نمونې ورکړل شوې دي. له دې نه وړاندې د مخزن ترتيب او تدوين په سوات کې د اخون درويزه زوی عبدالکريم کړی و. په دې باره کې سيدتقويم الحق کاکا خېل ليکلي، چې د هغه درې ډېر مشهور کتابونه مخزن الاسلام، ارشاد الطالبين او تذکرة الابرار والاشرار د ۱۰۱۲هـ (۱۶۰۳م) کال او ۱۰۲۱هـ (۱۶۱۲م) کال تر مينځ ليکل شوي دي. د ارشاد المريدين متعلق هم دغه اندازه ده. دا ټول کتابونه د هغه مشر زوی عبدالکريم چې په کريمداد هم پېژندی شي دوباره مرتب کړي او عام کړي او په هر يوه کې يې څه نه څه اضافه هم کړې ده.[119] ډورن په خپل انتخاب کې د اخون درويزه د "مخزن" څه حصه ورکړې او هغه دا هم ويلي، چې له هغه سره چې د مخزن کومه قلمي نسخه ده هغه د اخوند درويزه زوی عبدالکريم په ۱۰۴۱هـ (۱۶۰۵م) کې ليکلې ده".[120] مخزن په ټوله پښتونخوا په ځانګړې ډول د سوات په سيمه کې اهميت حاصل کړی و.[121] تقويم الحق کاکا خېل بل ځای د کريم داد په باره کې ليکي چې عبدالکريم (کريم داد) د اخوند صاحب مشر ځوی و او د هغه ټول کتابونه يې مرتب کړي او خواره کړي دي.[122] مخزن الاسلام اخري ځل مصطفي محمد د۱۱۱۲هـ د محرم په ۱۲مه (۱۷۰۰م) کال کې مرتب کړی او د کريم داد او عبدالحليم الف نامې او څه عبارتونه يې ور زيات کړي دي. وروسته همدغه نسخه خلکو

نقل کړې او طباعت ته راغلې ده. مصطفی محمد د میا نور محمد زوی او د کريم داد لمسی و[۱۲۳] د مخزن الاسلام اخري ځل کتابت او ترتيب په اسلام پور (سوات) کې شوی دی[۱۲٤] د مخزن دوه حصې دي، يوه علمي او بله ادبي، دا رنګ د ده علمي مقام جدا دی او ادبي مقام جدا.[۱۲۵]د مخزن د اسلوب او موضوعاتو په باره کې سيد تقويم الحق کاکاخېل ليکي چې مخزن الاسلام د پښتو يو او يوائينی درسي کتاب دی. تر ډېرې مودې غر په سمه د پښتونخوا په هر کور او هر جماعت کې دا کتاب لوستل کېده. د دې الف نامې به ملايانو په خطبو، مشرانو په وظيفو او ځوانانو په حجرو کې ويلې او د دې په مسئلو به قاضيانو فيصلې ورکولې. د مخزن ژبه درنه ده او مضامين يې ګران دي. وروسته په پښتو کې ډېر اسان او خواږه علمي کتابونه وليکل شول خو کوم قبوليت چې خدای پاک مخزن ته ورکړی و هغوی ته نصيب نه شو او کوم اعتبار چې پښتنو په مخزن کړی و، په هغو کتابونو يې ونکړی شو[۱۲٦]مخزن په مسجع او مقفٰي نثر کې ليکل شوی دی.

د هغه وخت يو بل مهم کتاب فوائدالشريعت و. مخزن او فوائدالشريعت دواړه درسي کتابونه وو. [۱۲۷] اخون قاسم پاپين خېل (پيدائش۱٦۳۰م) خپل کتاب فوائد شريعت په ۱۰۷٦ هـ کې ليکلی دی.[۱۲۸]د مخزن الاسلام په شان فوائد شريعت هم په مسجع او مقفٰي نثر کې ليکل شوی دی.

د دغه وخت په مهمو شخصياتو کې يو پير بابا هم و. پير بابا هم يو کتاب ليکلی و، خو په لاس نه دی راغلی. په دې باره کې سيد عبدالجبار شاه ستهانوي داسې ليکي:

> میں نے غالباً ۱۸۹٤ء میں آپ کی ماذون اخوند جی صاحب کی اولاد اخوند خیلان تر بیلہ میں سے ایک ۸۰سالہ معمر بزرگ عالم کو عمداً جاکر دیکھتا تھا جن کا نام اصحاب الدین بابا تھا۔ میں نے اس سے اپنے اس مقصد کا ذکر کیا کہ آیا حضرت سید علی ترمذی قدس سرہ کی کوئی اپنی تصنیف آپ کی نظر سے گذری ہیبا نہیں اور آپ نے کسی سے سنا بھی ہے یا نہیں کہ حضرت کی کوئی اپنی تصنیف کتاب ہے یا نہیں ۔تو اس نے مجھ کو جواباً کہا کہ جب میں نو عمری میں طالب علم تھا اور پشاور کی مساجد میں جا بجا درسوں میں تعلیم حاصل کررہاتھا ان دنوں شہر پشاور کی نزدیک موضع چمکنی میں ایک متمول سوداگر رہتاتھا۔ اس کی پاس ایک کتاب سیدعلی ترمذی

علیہ الرحمتہ کی تصنیف اور آپ کی اپنی لکھی ہوئی میں نی دیکھی
تھی جو اس کی نزدیک تمام دولت ہی اور جائیداد سی زیادہ محبوب
متاع تھی وہ بطور تبرک اس کو اپنی سینی پر رکھ رات کو سویا کرتاتھا
اور کسی کو ہاتھ لگنی نہ دیا کرتاتھا۔[۱۲۹]

د دې ادبې روایت په لړۍ کې د اخوند میاداد (۱۵۹۰-۱٦٦۸) دیوان هم شامل دی.[۱۳۰] د اخوند عبدالغفور (سیدو بابا) په ادارت کې به له سوات نه د اسلام /الجهاد په نوم یو اخبار[۱۲] هم شائع کېده، چې د پښتو ادبي صفحات به پکې هم وو او د سیدو بابا د خپل یو تصنیف ذکر هم ځینو تاریخپوهانو کړی دی. وایي چې سیدو بابا په پښتو کې د مثنوي په څېر د مناجات یو کتاب لیکلی دی.[۱۳۱]نصر الله خان نصر لیکلي، چې دا کتاب لاچاپ شوی نه دی او د لندن په عجائب خانه کې یې قلمي نسخه پرته ده.[۱۳۲] د برټش میوزیم د چاپ کتابونو په یو فهرست کې د "مناجات صاحب صوات" تر سر خط لاندې په اتم مخ د یو چاپ کتاب ذکر موجود دی، چې په انګرېزۍ کې یې ورته لیکلي، چې دا یو نظم دی د صاحب سوات په مدح کې. د دې د چاپ کال یې ۱۸۸۳م لیکلی دی. په اتلسم مخ هم د "مناجات صاحب صوات" تر سرخط لاندې د یو چاپ کتاب ذکر موجود دی چې د چاپ کال یې ۱۸۸۴م لیک دی. دې کتاب ته یې هم لیکلي چې دا د عبدالغفور په مدح کې یو نظم دی.[۱۳۳] له دې نه دا پته لګي چې دا کتاب سیدو بابا نه دی لیکلی، بلکې د هغه په صفت او ستاینه کې مناجات لیکل شوی دی. د محمد اکبر (ملابابا) (۱۸٦۲- ۱۷۸۰) قلمي دیوان په برټش میوزیم لندن کې د مشرقي څانګي په کېټلاګ نمبر ۴۲۳۰ باندې محفوظ پروت دی. دا دیوان په ۱۸۸٦م کې یو مشهور مستشرق ډارمستېټر په مینګوره کې د محمد اکبر د یو لمسي ډاک قاضي صیب نه وړی و او د ۱۸۹۱م کال د اپریل پر ۱۱مه له ډارمستېټر نه د برټش میوزیم د کتاب خانې لپاره اخستل شوی دی.[۱۳٤] مېجر راورټي په ۱۸۵۸م کې یو قندهاری سوات ته د "دفتر شېخ ملي" په لټون پسي رالېږلی و، هغه چې له تاڼې نه د مانیار او اوډیګرام تر کلیو پورې کوم کتابونه لیدلي دي، د هغې په باره کې یې داسې لیکلي دي:

---

[۱۲] د دې اخبار مختلف نومونه ذکر شوي، لکه الجهاد، الاسلام، اسلام او نور. نور تفصیل په دې باب کې د صحافت د سر خط لاندې موجود دی.

> I examined the whole of the Pashto books of the villages between this and Tarrnah [Thana], which were chiefly on theology; but at Waddigram I found three others—the poem of Yusuf and Zalikha by Abd-ul-kadir [Qadir] khan and the poems of Shahai Dali, and Adam and Durkhanai, by Sadar Khan his brother.[١٣٥]

ترجمه: ما د دې کلي او د تاڼې په مینځ کې د پښتو ټول کتابونه وکتل. دا کتابونه زیاتره له مذهبي موضوعاتو سره متعلق وو، خو په اوډيګرام کې ما درې نور کتابونه پیدا کړل، په دې کې يو د عبدالقادر خان ليکلی د يوسف زليخا منظوم داستان و او د شهی دلي قيصه وه او بل د عبدالقادر خان د ورور ليکلې د ادم خان درخانۍ قيصه وه.

په منګلور کلي کې چې هغه د پښتو کوم کتابونه وليدل د هغې په باره کې داسې وايي:

> I examined all the Pashto books in this village [Minglawar] which I could get hold of, but they were all on divinity, and not one with which you are not acquainted; such as Makhzan-ul-Islam,Fawa'id-ush-Sharri'ah, Jannat-i-Fardous, Durr-i-Majlais etc.[١٣٦]

ترجمه: ما په دې کلي کې د پښتو د ټولو کتابونو جايزه واخسته، دا ما اخستای شول، خو دا ټول له مذهب سره متعلق وو او داسې يو کتاب پکې نه و، چې ته ورسره واقف نه وې، لکه مخزن الاسلام، فوايد شريعت، جنت فردوس، درمجالس او نور.

مېجر راورټي چې د سوات په مختلفو کليو کې د پښتو روماني داستانونه، ادبي کتابونه او نور مذهبي کتابونه ذکر کړي، نو له دې نه دا پته لګي چې دسوات خلک له پښتو ادب سره له اول نه ډېره مينه لري او د پښتو ادب په ترقۍ کې د سوات ډېر لاس دی.

صحافت

په دې دور کې د باقاعده صحافت پوره پته نه لګي، البته په دې دور کې صرف د يو اخبار ذکر موجود دی او دا اخبار په مختلفو نومونو ياد شوی دی، په دې نومونو کې اسلام، الاسلام، الجهاد او نور نومونه شامل دي. وايي چې د دې اخبار بنيادي مقصد خلک د فيرنګيانو له ناکاره ارادو نه خبرول او هغوی جهاد ته تيارول وو. عمر عامر په خپل کتاب A History of Press in N.W.F.Pکې د دې اخبار په باره کې ليکي، چې الحاج غلام غوث

صحرايي له ۱۸۵۷کال نه مخکې د پښتو د يو اخبار حواله ورکړې ده، د دې اخبار نوم هغه "اسلام" ياد کړی دی. وايي چې دا اخبار ستر روحاني لارښود اخوند عبدالغفور(سيدو بابا) په ۱۸۵۴م کې شروع کړی و او د دې اخبار ايډيټر د هغه مريد عبدالغفار پشاوري و.[۱۳۷] اجمل ملک ليکلي، چې په پښتونخوا کې د پښتو صحافت شروع له الجهاد اخبار نه شوې، چې د سوات د عبدالغفور په ادارت کې به چاپ کېده.[۱۳۸] همايون هما ليکي چې دا يوه نيم ادبي جريده د "اسلام" په نوم په ۱۸۵۴م کې سيدو بابا شروع کړې وه.[۱۳۹] د دې جريدې اشاعت به په خفيه طريقه کېده او د دې ټول خرچ به سيدو بابا پخپله کولو.[۱۴۰] وايي چې دا اخبار سيدو بابا د فرنگيانو خلاف جاري کړی و.[۱۴۱] شمس الرّحمان شمس په خپل کتاب پوئټس اف مالاکنډ کې د دې اخبار په باره کې داسې ليکي:

> Al-Jihad, a Pashto daily which was to be supervised by Abdul Ghafoor, Wali of Swat, and edited by Abdul Ghaffar Peshawari of Toroo, Mardan district was the beginning of journalism in the area before partition. The paper was being printed on a spices called Halwa Press. The paper had great journalistic value.[۱۴۲]

عثمان شاه ليکي چې د سيد احمد شهيد د جهاد د تحريک په دوران کې به د "الجهاد" په نوم د پښتو د يو مخ اخبار شائع کېدلو. د ضلع مردان د طورو کلي عبدالغفار پشاوري به دا اخبار مرتب کولو او د سوات عبدالغفور عرف سيدو بابا به د دې اخبار ادارت کولو.[۱۴۳] عبدالله جان عابد په خپل کتاب کې ليکي چې په ۱۸۵۴م کې حضرت عبدالغفور سيدو بابا يوه مياشتينۍ ديني او نيم ادبي رساله د "اسلام" په نوم ويستله.[۱۴۴] محمد پروېش شاهين ليکي چې په ۱۸٦۳م کې به له سيدو شريف نه د عبدالغفور په ادارت کې د الجهاد په نوم اخبار چاپ کېده.[۱۴۵]

له دې ټولو حوالو نه دا پته لگي چې دا اخبار په مختلفو نومونو ياد شوی دی، په دې نومونو کې الجهاد، اسلام، الاسلام نومونه مشهور دي. د دې اخبار د شروع کېدلو په نېټه کې هم اختلاف موجود دی، خو زياتو کتابونو ۱۸۵۴م ليکلی دی. د ژبې په باره کې هم مختلفې رايې دي څوک وايې چې دا د فارسۍ اخبار و، خو د پښتو صفحه پکې موجوده وه او څوک وايي چې دا د پښتو اخبار و. په ورکړل شوو حوالو کې دا خبره هم مخې ته راغله چې دا ورځپانه وه که هفته وار يا مياشتينی اخبار و. په دې ټولو خبرو کې اختلاف موجود دی او که د هغه وخت د خلکو تعليمي

شرح مونږ وګورو نو بيا به هم يو سوال پيدا کېږي چې ايا په هغه وخت کې دومره لوستونکي وو چې د هغوی لپاره د اخبار ضرورت پېښ شو؟ له دې ټولو متضادو بيانونو او پوښتنو نه اهمه خبره دا ده چې کومې حوالې په لاس راځي په هغوی کې يوه حواله هم داسې معتبره نشته چې دا اخبار چا ليدلی وي. د سوات پر صحافت باندې کار کوونکی يو څېړنکار ليکي چې ما د دې اخبار په لټون کې ډېرې کتاب خانې او د ارکائېوز ريکارډونه او فائلونه وکتل خو دا اخبار په لاس رانغی،[۱۴۶] خو د دې ټولو خبرو باوجود چې دومره ذکر يې شوی او حوالې پرې موجودې دي، نو د دې اخبار د وجود نه انکار نه شي کېدی او دا امکان شته چې چرته نه چرته به يوه کاپي په لاس راشي.

په ادب کې د چاپېريال عکس

د دې دور ځينې کتابونه داسې دي چې د چاپېريال پوره عکس پکې ښکاري او ځينې کتابونه د چاپېريال عکس ډېر تت تت لري. په دې اړه بدرالحکيم حکيمزی وايي چې :" د چاپېريال او ټولنې د څېرې را پېژندلو لپاره د درويزه او کريم داد کلامونه په پوره معلوماتو سمبال دي او د ميا داد هغه بيخي تشباڼی دی."[۱۴۷] او بل ځای کې داسې ليکي:"درويزه او کريم داد د خپلو شعري زېرونو په جولۍ کې ګڼ شمېر موضوع ګانې را نغښتي دي، ولې له بلې خوا ميا داد د عرفان او معرفت د حال او قال له تذکرو نه علاوه په کومه بله موضوع نه دی غړېدلی."[۱۴۸]

ادبي اسلوب او ژبه

په ادبي ژبه د نورو ژبو اثرات ډېر واضح او صفا ښکاري. په خصوصي توګه په پښتو کې د فارسي او عربي امېزش ډېر شوی دی. د اخوند درويزه او د کريم داد الف نامې د هغه وخت د ادب غوره نمونې دي. د کريم داد الف نامه په علمي اعتبار سره ډېره درنه او ادبې اعتبار سره ډېره خوږه ده. د علم او ادب داسې مناسب او متناسب امېزش ډېر کم مونده شي. د دې اکثر اشعار د پښتو په ادبيات عاليه کې د شمېرلو قابل دي، خصوصاً کومو اشعارو کې چې د مينې او سوز د جذبې شدت او د خفيف بحر ترنم سره يو ځای شوی دی. [۱۴۹]

ادبي اصناف

په دې دور کې مهم ادبې اصناف چاربيته، بدله، غزل، مرثيه، قصيده، مناجات او نور د ذکر وړ دي.

چار بيته

د سوات د پښتو ادب په اولني دور کې د چاربېتې صنف ډېره ترقي کړې وه او دا ترقي د شلمې پېړۍ تر اولو شلو کلونو پورې وه. رحيم شاه رحيم د دې دور د شاعر احمد دين طالب د چاربيتو په باره کې ليکي چې احمد دين چې څه وخت په سوات کې داخل شو هغه وخت په سوات کې د چار بيتې دور دوره وه او غزل ته چا خاص توجه نه ورکوله. احمد دين هم په لړه موده کې په دې فن کې دومره نوم پيدا کړ، چې د خپل وخت لوی استاذ وګڼل شو. [۱۵۰] د ديوان اکبر د اصنافو په باره کې محمد نواز طائر ليکي چې په دې کې غزلونه، قصيدې، چاربيتې، مناجات او معمې شاملي دي.[۱۵۱] د سوات شاعران دوه قسمونو کې وېشل شوي دي، يو د عوامي چاربيتي شاعران دي او بل کلاسيکي شاعران. [۱۵۲]

بدله

دا هم د پښتو ادب يو زوړ او ولسي صنف دی. حسين په خپل ديوان کې د بدلې ذکر داسې کوي:

چې مې واوريده په غوږ د عشق بدله
په هېبت مې څهره واوښته په بله[۱۵۳]
اخون نفل د اشراق په مينه هېر کړه
لاس پۀ غوږو دي ولاړ وائي بدلې [۱۵۴]

د محمد اکبر په دې شعر کې هم د "بدلې" لفظ راوړل شوی دی:

مطرب بدلې په سرود وايي سرود غږ وي
رسول د مينې پرې مېلمه وس يې غمژن له بولي[۱۵۵]

په مخزن کې د بدلې ذکر په دې لاندې جملو کې راغلی دی:

۱. دا بدلې دي برحقې چې قران د طريقت دی.
۲. دوی عمر په بدلو هم په کفر ګمراهۍ کې تيروينه.
۳. دوی د ګمراهانو شعر د قرآن په ځای نيولی ـ دوی عمر په دا بيهوده خبرو په بدلو تېروينه.[۱۵۶]
۴. هم له بې هوده خبرو چې نور څوک به پرې وخاندي يا بهتان وي يا پېغور وي يا بدلې چې له زلفو وي له خاله.[۱۵۷]

د پښتو ادبپوهان بدله د مثنوي بدل شکل ګڼي، خو په مثنوي کې له عشقيه

مضامينو نه علاوه مذهبي موضوعات ډېر زيات دي، بلکي د مثنوي شروع هم له مذهبي موضوعاتو څخه شوې او بيا پکې وروسته د عشق و محبت رومانوي داستانونه هم ليکل شوي دي، خو دا خبره چې بدله د مثنوي بدل شکل دی، يا بدله او مثنوي يوشی دی، صحيح نه ده. د بدلې او د مثنوي هيئت که يو وي خو د موضوعاتو په لحاظ په بدله کې صرف او صرف عشقيه مضامين بيان شوي وي، لکه اخوند درويزه چې وايي: "يا بدلې چې له زلفو وي له خاله". له دې نه پته لگي چې دا يو داسې صنف و، چې صرف د عشق و محبت مجازي خبرې پکې کېدلې شوې، ځکه د هغه وخت مذهبي خلکو لکه اخوند درويزه او نورو ډېرو خلکو دې صنف ته په ښه نظر نه دي کتلي. د بدلې په باره کې له پورتنيو او نورو شعرونو نه هم دا پته لگي چې بدله صرف د عشقيه مضامينو يو صنف و.

غزل

بدله او چاربيته د دغه وخت د ولسي شاعرۍ مهم توکي وو، خو لوستو شاعرانو د غزل په ترقۍ کې هم کردار لوبولی دی. اخون میاداد ځای پر ځای په خپل ديوان کې د غزل ذکر داسې کوي:

ماسـتاله مينـې محبتـه غزلونـه وويـل
هغـه بلبلـه د سـحر شـيرين زبانـه نـه ده[158]

پـه زړه مـې سـتا د مينـې اور بليـږي چغـې وهـم
او غزلونـه سـتا لـه مينـې محبـت کومـه[159]

غزلـونه د سلـوک پـه پښـتو در پئـيلي
د ميـاداد گـوهر پـه خلقـو کـې پريشـانه شـوي[160]

او ميـاداد چـې دا غـزل کـړه د سـاقي لـه پيـالې وڅښـه
کـه د عشـق لـه پيـالې وڅښـې د سـلوک پـه لار بـه ښـيوزې[161]
غزلونـه مـې د عشـق پـه خلقـو خـواره شـول
نـا بـالغ بانـدې د عشـق قـدر قيمـت چـرې دی[162]

حسين د خپل غزل تعريف داسې کوي:

د خـتن نـافې خوشـبو يـه شـوې حسـېنه
پـه دا لارې سـتا غـزل لا چـې لـونگ لاړ[163]

نظم

د دې دور په پښتو ادب کې له نورو اصنافو سره سره د نظم صنف هم ډېر موندل کېږي. د دوست محمد خان دوستي د کتاب "گنجة الگوهري" د اصنافو په باره کې بدرالحکیم حکیمزی لیکي چې گنجة الگوهري سر تر پایه د نظم په اډانه ولاړ دی. د ده موضوع ګانې هغه که دیني ښوونې مناجات، نورنامه یا حکایتونه دي، ټول د نظم په بڼه لیکل شوي دي. د یو ښه نظم لپاره ټول لوازمات په ټول کتاب کې په نظر راځي. د قصیدې، مثنوي او نورو توکو جوړښت یې له روایت سره سم پاللی او سنجولی دی."[۱۶۴]

مخمس او رباعي

له نورو ادبي اصنافو نه علاوه د دې دور په شاعرۍ کې مخمس او رباعي هم په نظر راځي، لکه د حسین په دیوان کې دوه مخمسات او یو څو رباعیانې هم شاملې دي، نورې غزلې دي.

مرثیه

د سوات د پښتو ادب په موضوعي اصنافو کې مرثیې یا د ویر سندرې هم ډېرې لیدل کېږي. په مخزن کې هم ځای پر ځای د ویر د سندرو ذکر شوی دی، لکه دا شعرونه:

عزیـــــــزان بـــــه دی د ویـــــــر ســـــــندرې وایـــــــي
کفـــن لـــره بـــه دې زیرمـــه د بېســـتي یـــا د چوتـــار کـــا[۱۶۵]

ای کمبختـــــانو تاســـــــــو ویـــــر کـــــانۍ د خپســـــــر
چـــې هیڅـــوک بـــه پـــاتې نـــه شي پـــه دې فـــاني نـــړۍ
یـــو پنـــد بـــه درتـــه وایـــم کـــــــه یـــې نغـــــــوږۍ
دا دوه چـــارې مـــه کـــانۍ یـــو د ویـــر بـــل د مشرـــکۍ
پـــــــه دا دوه اوازه خـــــــدای لعنـــــــت ویلـــــــی
یـــــو د سرود بـــــل د ویـــــر پـــــه خوشـــــحالۍ[۱۶۶]
سکـــــــه تـــا بـــه د لـــــــرګي د پاســـــــــــه وړینـــه
او عـــورتې خوینـــدې مینـــدې بـــه دې ویـــر کـــا پـــۀ سرتـــورې[۱۶۷]

د حافظ الپوري په دیوان کې هم مرثیې موجود دي، د میاکریم داد شهید په مرګ هغه داسې وایي:

يـــو عـــالم وې بـــل شـــهيد شـــوې
عجيبـــه در فـــريد شـــوې
د كـــانجو ميـــا كـــريم داده
مـــانيولى لمـــن ســـتا ده[168]

د مرثيې روايت په سوات كې ډېر مضبوط دى. په راتلونكو بابونو كې به هم د سوات د پښتو ادبي روايت په نورو دورونو كې يادونه وشي.

نورنامه

د سوات د پښتو ادب په اول دور كې نورنامې هم ليكل شوي دي. دوست محمد خان دوستي د نورنامې فضيلتونه داسې بيانوي:

چـــې شروع مـــې نـــور نامـــه كـــړه اى يـــارانو
سر تـــر پايـــه مـــې پټـــې كـــړله يودمـــه
هســـې شـــانته زه خوشـــحاله شـــوم كثـــير
لكـــه گـــل چـــې وي تـــازه پـــر لـــه شـــبنمه
اوس پـــه دا رنـــگ خاصـــيت پـــه ښـــه ترتيـــب
پـــه تصـــديق سره د دې كتـــاب ليكمـــه
اول دا چـــې څـــوک د مـــرگ پـــه تبـــه پريـــوځي
نـــور نامـــه وركـــره وي پرتـــه محكمـــه
چـــې ملائېكـــه وركـــره ځـــي قـــبض دپـــاره
رڼـــا وي د نـــور اسمـــانه سره سمـــه
ملائېكـــه بـــه وائي چـــې زه نـــه پـــوهېږم خدايـــه
چـــې دا څـــه شـــغلې راخېـــژي لـــه دې چمـــه
چـــې ســـتا نـــور دى كـــه نـــه بلـــه رڼـــا ســـپينه
مـــا خـــبر كـــړه اى د كـــل اشـــياء حكيمـــه
رب بـــه وايـــي زمـــا نـــور نـــه دى ملكـــه
دا رڼـــا د نـــور نـــامې ده مكـــرمه
دا ســـړى كـــه اوس هـــر څـــو دى گنـــاه گـــار
نـــور د دې پـــه مـــخ گنـــاه يـــې ټـــول بخښـــمه

بـل دويـم داســـــې شـان دی خـــــــــاصيت
چـې نورنامــه سـاتي څـوک ځـان لـه ښـه همدمـه
کــه پــه لښــکر بانــدې روان شي جنــګ دپــاره
ســلامت بــه راشي کــــــور تــه روغ بــې غمــه
کـه پـه شــيبو ګــــــولۍ وريــږي بــې حســابه
خــدائی بــه ئــې واږه جوســه وســاتي لــه خمــه
بــــل دريـــم خاصــيت وايـــم داســـــې وروره
کــه څـــوک وايـــي نورنامـــه لـــه خپلــه فمــه
نــور د دغــه کــس پــه کـــور کــې تــر قيامتــه
هــيڅ جوســه بــه خــاورې نــه شي زيــات وکمــه[۱۶۹]

پـه دې شـعرونو کـې چـې د نورنـامې کـوم فضـيلتونه بيـان شـوي، لـه دې نـه د نورنـامو د مضـبوط روايـت پتـه لګـي. د دې فضـيلتونو پـه وجـه پـه سـوات کـې نورنـامې ليکلو ډېره ترقي کړې وه او په هر کور کې مختلف قسمه نورنامې به موجود وې.

د الف نامو روايت

د سوات د اولني دور په پښتو ادب کې د الف نامو هم يو مظبوط روايت پاتې شوی دی. د دې روايت شروع د اخوند درويزه له الف نامې څخه شوې ده، بيا وروسته د اخوند کريم داد الف نامه هم ډېره مشهوره ده. د اخوند درويزه خپل کلام الف نامه ده ځکه مخزن د اکثرو نورو کتابونو ترجمه ده. دا الف نامه په نظم کې ليکل شوې ده. د هر حرف قطعه د بل نه جدا ده، داسې معلومېږي چې په بيت کې د يو شعر کمی يا زياتی په هغه زمانه کې څه عيب نه ګڼل کېده، که دا عيب ترې وباسو نو د الف نامې اشعار د ښو ښو اشعارو سره څنګ په څنګ کېښوی شي. په دې الف نامه کې اخون درويزه خپل صوفيانه مسلک ته اشارې کړې او ګڼې نازکې مسئلې يې چېړلې دي.[۱۷۰] د کريم داد الف نامه په علمي اعتبار سره ډېره درنه او ادبي اعتبار سره ډېره خوږه ده. د علم او ادب داسې مناسب او متناسب امېزش ډېر کم مونډلی شي. د دې اکثر اشعار د پښتو په عالي ادبياتو کې د شمېرلو قابل دي، خصوصاً کومو اشعارو کې چې د مينې سوز او د جذبې شدت او د خفيف بحر ترنم سره يو ځای شوی دی.[۱۷۱]

د ادب موضوعات

په اصل کې ادب د ټولنې عکاسي کوي. د خلکو ټولنیز ژوند ژواک په ادب کې په نظر راځي او دغه رنګ کومو خبرو ته چې په ټولنیز ژوند کې ډېر ارزښت ورکولی شي هغه په ادب کې هم بار بار راځي. په دې حواله که مونږ وګورو نو د سوات د پښتو ادب په دې دور کې د سماج له عکس سره سره غالبې موضوع ګانې مذهبي خبرې دي، ځکه مونږ د دې دور په ادب کې د پیغمبرانو او صحابه کرامو قیصې او نورې دینې مسئلې او موضوعات زیات وینو. مخزن او فوائدالشریعت خو په فضائلو او مسائلو ډېر بحثونه کړي دي. دغه رنګ ګنجة الګوهري او دیوان احمد دین طالب کې د پېغمبر پاک او د صحابه کرامو د ژوند واقعات بیان شوي، چې په هغې کې اکثر واقعات د حدیث یا د اسلامي تاریخ په کتابونو کې نشته. تصوف هم د دې دور په ادب کې خپلې ځېلې مظبوطې کړې دي. د اخون درویزه او اخون کریم داد په الف نامو کې د تصوف باریکې مسئلې څېړل شوې دي،د اخون میاداد دیوان هم له تصوف نه ډک دی.

بیت بازي او معمّې

د دې دور د پښتو ادب له مطالعې او تجزیې نه پته لګي چې په دغه وخت کې به زیاتره ولسي شاعرانو له یو بل سره د شعر و شاعرۍ مقابلې هم کولې. رحیم شاه رحیم لیکي چې د بیت بازۍ او د شعر و شاعرۍ مقابلې به زیاتره ولسي شاعرانو کولې.[۱۷۲] د دې بیت بازۍلپاره به اکثر عوامي شاعرانو د یو بل چاربېتې هم پټولې او په خپل کسر به یې ویلې. ولسي شاعر احمد دین طالب په یو شعر کې دې ادبي غلا ته داسې اشاره کړې ده:

احمـــــد دینـــــه ســــتا اشـــعار بـــه خلقـــو پـــټ کـــړه
خـــو پټیـــږي نـــه اوبنـــان د چـــــــا پـــه بـــډه[۱۷۳]

او د بیت بازۍ دې مقابلو ته احمد دین طالب د شعر جنګ ویلی او د شاعرانه تعلي اظهار یې په دې شعر کې کړی دی:

چـــې لـــــــرمه حـــــربه د شـــعر جنـــګ کـــې
بـــل څـــوک نـــه یـــم احمـــد دیـــن طالـــب منیـــب یـــم[۱۷۴]

او بیا چا به چې پردي اشعار پټول هغوی ته یې داسې چېلنج هم ورکړی دی:

پـــه پـــردو چـــــــار بېتـــو کسرــــ وایـــې چـــوره

گــــپ شــــــپيانو تــــــه د پکـــــې کــــــوې چــــــې شــــــېريم
پــــه مجلــــس کـــــې بــــه ســــم نــــه شــــې ســـوال جـــواب کـــې
راشــــه ســـــپينه بشـــــــــــــره اونيســـه افـــــــــتاب تـــه
کــــــه پـــــــه غــــــور دې د طالـــــــب د خلـــــــې لغـــــات شي
چــــــې خجــــــل پــــــرې صومعــــــــــه د ســــــــومنات شي[۱۷۵]

عبدالعظيم صواتی اگر چې ولسي شاعر نه دی، خو هغه هم له شاعرانو سره د شعر و شاعرۍ د مقابلې په باره کې داسې وايي:

کـــــه ژونـــــدی شـــــوم د هجـــــــــــــــــران داوره بـــــــچ
پـــرې بــــه نــــه ږدم شاعــــــــــران پــــه صــــوات پــــه چــــچ
خــــــدای دې ورک هغـــــــه اشــــــعار کانــــــدې بــــــې يمنــــــه
چـــــې بـــــه کانـــــدي مطـــــــــــــــــربان وربانــــدې نــــچ[۱۷٦]

او دغه رنگ د شاعرانو د لاجوابه کولو لپاره به دوی معمې هم ويلې. د محمد اکبر يوه معمه دلته وړاندې کوو:

ماليــــــده لـــــــــې د چنـــــــدڼ ونــــــه درازه
د بــــــاغوان پــــــه بــــــاغ ولاړه ده ښــــــېرازه
د دې ونـــــې څلـــــور ښاښـــــه گـــــورې څـــــانگې
د دې بـــــاغ پـــــه همـــــــه ونـــــو کـــــې ممتـــــازه
د دې بـــاغ يـــې تيرســـو ديـــارلس خـــدمت گـــار وي
زيـــات وکـــــــــم ورپکـــــې شـــته دی لـــه اغـــازه
پـــه دا بـــاغ کـــې يـــو صـــندوق د دې بـــاغوان دی
دا قـــــدرت ديـــــه قـــــــــــــادره بـــــې نيـــــازه
د دې بـــاغ باغـــــــوان خـــبر پـــه دا صـــندوق دی
چـــې درســـت ډک دی لـــه څـــو خاصـــه لـــه څـــورازه
و خاصـــــانو تـــــه يـــــې حـــــال د صـــــندوق اووې
در مرجـــان ورپکـــې شـــته هـــوره لـــه پيـــازه
هـــر يـــو تـــو کـــي يـــې خـــالي لـــه نفعـــې نـــه دی
تمــــــامـــــې يـــــوه غنچـــــه ده ســـــپړدې بـــــازه

د چنـــدڼ پـــه خوشـــبو يـــې تمـــامي پـــردې
د صـــورت نقشـــه يـــې ده نـــادره ســـازه
د چنـــدڼ هغـــه ښـــاخونه څلـــور واړه
پـــه څلـــور جـــو يـــه لـــوئيږي پـــر طنـــازه
بـــاز همائـــی شـــهباز كـــه ناســـته پـــه دا ونـــه
نـــه خفـــاش كارغـــه ټـــپس لـــــه غليـــوازه
ښـــاماران تـــرې جـــــارو تـــلي پـــېچ در پـــېچ دي
ځـــای پـــرې نشـــته د سوســـمار غونـــدې بـــېلمازه
دغـــه درې جويـــه ولـــې پـــه درې طـــرف دي
څلـــــورم دی لـــــوی دريـــــاب در و درازه
دا دريـــاب د غـــره لـــه وېخـــه دی وتلـــی
دا خـــبره خالـــــي نـــه ده لـــه مجـــــازه
دا تحقيـــــق زده د رېښـــــتونو سر پرېكـــــړو
سر پـــه دا دريـــاب غوټـــه لـــــره ســـــربازه
چـــې پـــه تشـــه دعـــــوه سر وهـــــې لـــه كـــاڼو
لـــه نيـــاز منـــودې غـــرض نشـــته بـــې نيـــازه
كـــه د سر پـــه لېكـــه نـــه يـــې جـــان لـــه ورشـــه
پـــه كـــــوتره بانـــدې سربائېلـــه شـــهبازه
دا بيـــان مشـــكله چـــــــار ده يـــو گـــــــرانه
درســـت جهـــان يـــې سر ســـين دی لـــه انگـــازه
كـــه معنٰـــي يـــې واكـــبرو تـــه چـــــــــــا اووې
سرفـــراز دي شي دا يـــم د شـــاه لـــــــه رازه[177]

غالباً چې په دې معمه كې د ځينو الفاظو مطالب دا كېدی شي باغوان الله تعالیٰ، باغ دين اسلام ، د چندڼ ونه حضرت محمد، څلور ښاخونه څلور خليفه گان، خدمتگار د غزوه بدر۳۱۳ مجاهدين، او نور صحابه كرام، صندوق قرآن كريم ـ څلور جويه د فقهې څلور مسلكونه، ښاماران علمائی دين او اهل شريعت ، رښتونې سر پرېكړې عاشقان د دين متين شهدائی عظام. [178]

د سوات يو بل شاعر خيري په يوه موقعه دا معمه ويلې وه:

ځلـــور مـــې خالـــه ایښـــي پینځـــه ټیکـــي ګرځـــوم
شـــپږ بـــه ګلونـــه بـــه وربـــل ورتـــه قطـــار کـــړمه
مـــــــوذي بـــــــه خـــــــوار کړمـــــــه [179]

وایي چې خیري وړاندې لا نور شعرونه ویلي نه وو، چې په هغه محفل کې ناست یو مولانا پرې اعتراض وکړ، ورته یې وویل چې دا څه په خرافاتو اخته یې. د دې په ځای د خدای رسول صفت او ثنا ولې نه وایې. خیري په جواب کې ورته وویل چې په دې کې یوه خبره هم د شرعې خلاف نشته دا خو ما دین بیان کړ، خو ته پرې نه پوهېږې. خیري وضاحت وکړ چې د څلور خاله نه مراد څلور مذهبونه دي. پینځه ټیکي پینځه مونځونه دي. شپږ ګلونه شپږ کلمو ته اشاره ده او د موذي نه مراد شیطان دی.[180] د احمد دین طالب معمې هم ډېرې مشهورې دي، خو جواب معلومول یې کافي ګران دي،لکه دا معمې:

درســـته ورځـــې بـــې لفظـــي کلمـــــــي وائي
کـــه شاعـــر یـــې نـــوم یـــې او ښـــایه فـــي الحـــال
راتـــه دوو کســـانو اووې دلـــــــــــربا یـــې
زمـــونږ دوه ښـــځې راضـــې کـــړه اوکـــړه خیـــال
ښـــځو و وې مـــونږ یـــې میانـــدې یـــو نېـــک رائـــې
دغـــه دواړه دي ځـــامـــــن زمـــــونږه خیـــال
تاســـــف د احمـــــد دیـــــن طالـــب ســـــبق دی
د ګبـــــین نـــــه دې شـــــیرین د مـــــخ عـــــرق دی
د ســـــپلم پـــــه پـــــاړو پرېوتـــــل ګردونـــــه
د نباتونـــــه دې عـــــدم کـــــړل قندونـــــه[181]

او په یوې بلې چاربیته کې داسې وایي:

طالب احمد دین وایي جواب راکړه که شاعر یې

خبره ده باریکـــــه

ځامن دوه خاوندان د خپلې مور شو مسافر یې

په توره شپه تاریکه. [182]

د معمو یا اړونو فوکلوري روایت هم ډېر زوړ دی. په پښتنه ټولنه کې ماشومان هم دا شان منظوم او منثور اړونه یا معمې وایي.

روښاني مکتب او د سوات پښتو ادب

روښاني فکر

بايزيد انصاري چې په پيرروښان مشهور و د روښاني تحريک مشر و. له کاڼي ګرم نه تر سوات باجوړ پورې د هغه مريدان موجود وو.[183] بايزيد انصاري د وحدت الوجود د نظريې قايل و. د پير روښان سوچ او فکر او د هغه د تصوف فلسفه يو بېل مکتب دی چې په روښاني مکتب يادېږي. په دې مکتب کې ډېر د اوچتې پايې شاعران او اديبان تېر شوي، لکه مرزا خان انصاري، ارزاني خويشکی، دولت لواڼی او نور. پير روښان په دې خبره زور ورکولو چې بيعت صرف له کامل پير نه پکار دی. د کامل پير په لاس د بيعت تاکيد د پير روښان مريد ارزاني هم کړی دی، لکه چې وايي:

راشـــه فهـــم پـــر مـــولا کـــړه
کـــه مـــيري وړې لـــه امـــيره
نـــن مقصـــود پـــر تـــا حـــرام دی
څـــو ور نـــه يشـــې تـــر پـــيره
دا کامــــل د حــــق وزيــــر دی
بـــاد شـــاه نـــه وي بـــې وزيـــره[184]

او بيا په بل ځای کې داسې ليکي:

تـــه کامـــــل لـــــره وردرومــــه
د کامــــل مونـــــده ده کمـــــه
د کامـــل پـــه صـــحبت اوســـه
تـــا بـــه خـــلاص کانـــدي لـــه غمـــه
ده څخــــــه اب حيــــــات دی
هـــم دی جـــام لـــري لـــه جمـــه
د ده دل لـــــوح محفـــــوظ دی
خولـــه يـــې نـــون دی لـــه قلمـــه[185]

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول چې پير روښان د وحدت الوجود د نظريې قايل و او همدغه وجه ده، پر ده چې کوم اعتراضات شوي، يو پکې دا هم دی. په دې باره کې

عبدالقدوس قاسمي ليکي چې:

بايزيد د خپل مسلک ووم مقام وحدت بيانوي او دا هاغه مقام يادوي چې بنده خپله هستي ورکه کړي او د خدای په هستئ کې مدغم شي. دا خبره د بايزيد څه نوې نه ده، د وحدت الوجود قايل متصوفين په اسلام کې د پخوا راسي موجود وو.[١٨٦]

بيا مخکې حافظ عبدالقدوس قاسمي د پير روښان د وحدت الوجود په باره کې داسې ليکي:

په کوم دور کې چې بايزيد وخت تېر کړی و، په دې دور کې په هند کې د وحدت الوجود فلسفه د هند په مسلمانانو صوفيانو کې ډېره مقبوله وه، خو د دې فلسفې تميز د هندوانو د ويدانت فلسفې نه کول مشکل وو او حقيقت دا دی چې دا فلسفه د اسلام خپله فلسفه نۀ ده؛ ځکه د بايزيد نه څه موده پس د جهانګير په دور کې مجدد الف ثاني شيخ احمد سرهندي د دې فلسفې ترديد وکړ او په کلکه سره يې ووې چې دا فلسفه له اسلام سره سمون نه خوري. مجدد صاحب د وحدت الوجود په مقابله کې د وحدت الشهود فلسفه بيان کړه.[١٨٧]

د پير روښان د تصوف د سلسلې مطابق که يو طرف ته کامل پير وي نو بل طرف ته ناقص پير وي. د پير روښان په مسلک کې له ناقص پير نه د بېعت نه اخستلو سخت تاکيد شوی دی. ارزاني هم په خپله شاعرئ کې له ناقص پير نه د ځان ساتلو وينا کړې ده.

ای زمـــــــا د ديـــــــــن شـــــــــجاعه
نــــــن ګټــــــه د ديــــــــن متاعــــــــه
د نـــــــاقص پـــــــس روي مـــــــه کــــــړه
د کامــــــل شـــــــه پــــــه اطاعــــــه[١٨٨]

او بيا بل ځای کې داسې وايي:

دا ويـنــــــا ده لـــــــــه مخلصـــــــــه
پرهېـــــــز اوکـــــــړه لـــــــه حرصـــــــه
د کامـــــــل پـــــــه امـــــــر چـــــــار کــــــړه
لــــــــري اوســـــــه لـــــــه ناقصـــــــه
نــــــاقص د ديــــــــن غلګـــــــــی دی
څـــــه فايـــــده د ديـــــن لــــــه لصـــــه[١٨٩]

د ځينو تصوفي، مذهبي، سياسي او نظرياتي اختلافونو له وجې د بايزيد مخالفين را مينځ ته شول او د بايزيد د تحريک په مقابله کې يو بل تحريک هم شروع شو.

سوات ته د روښاني فکر راتګ

د بايزيد د حلقه اثر په باره کې نصرالله خان ليکي چې د اکبر بادشاه د حکومت په زمانه کې بايزيد انصاري چې په پير روښان او پير تاريک مشهور و، په وزيرستان، تيراه، پېښور، دير، باجوړ او سوات کې په مذهبي او سياسي رنګ کې اقتدار حاصل کړ او د خپلو مريدانو او عقيدت مندانو يې باقاعده مسلح لښکر جوړ کړ.[۱۹۰] دا هم ويل کېږي چې بايزيد او اخوند درويزه په سوات کې هم مناظرې کړې دي، لکه عبدالغفور قاسمي چې ليکلي، چې يو وخت کې اخوند درويزه له سوات نه بهر و، نو بايزيد سوات ته راغی او اخونددرويزه هم په ده پسې سوات ته راغی. بايزيد وويل چې ما ته خپل کرامات ظاهر کړه او دا يې ورته وويل چې صبا د کاټيلی [مينګورې سره خوا کې د يو ځای نوم دی] په خوا کې د اوبو چينه به يا ته راوباسې او يا زه او بيا يې د شپې په شګو کې مشکونه پټ کړل او چې صبا يې هغه مشکونه په يو شل ووهل او اوبه ترې راووتې، نو د بايزيد مريدان ډېر زيات خوشحال شول. اخون درويزه خلک د ده له مکر نه خبر کړل او بيا يې دوه رکعته نفل وکړل او د صفا اوبو يوه چينه الله پاک پيدا کړه. د بايزيد د مکر نه چې خلک خبر شول نو دی بيا د سوات نه پيښور ته راغی.[۱۹۱]

سوات ته د پير روښان د اثراتو راخورېدو په باره کې محمد اصف خان ليکي چې کله په ۱۵۸۵م کې د اکبر فوځ د راجه مان سنګ په مشرۍ کې کابل ته روان وو، نو په دې فوج له يو طرف نه يوسفزو او له بل طرف نه د پير روښان لښکرو حمله وکړه او د شاهي فوځ اته زره فوځيان مړه شول. په دغه وخت کې اکبر باچا د پير روښان خلاف د کاروايۍ فيصله وکړه. په همدغه زمانه کې د سوات او بونېر علاقې د پير روښان تر اثر لاندې وې، نو ځکه اکبر دا اراده وکړه چې اوس د تورې په زور دا علاقې اخستل پکار دي.[۱۹۲] امپيريل ګزيټير هم په يوسفزو کې د روښانيانو له لاسه د اړې ګړې ذکر کړی دی. يوسفزو چې سوات قبضه کړ، نو بيا دلته امن و امان راغی او ټولو خلکو د امن او خوشحالۍ ژوند تېرولو، خو يو ځل بيا هغه وخت شخړې او مسئلې پېښې شوې کله چې روښاني تحريک دلته اثر پيدا کړ. په دې باره کېImperial Gazetteerداسې ليکي:

> Such degree of peace as obtains amongst independent pathan tribes was enjoyed by the Yusfazai and their neighbours, until a fruitful cause of dissension arose in Dir in the person of a religious reformer named Bazid, Called by his adherents the Pir-i-Roshan, Whose chief opponent was Akhund Darweza Baba, the historian of the Yusfazai.[۱۹۳]

ډاکټر سلطان روم په دې حواله د عبدلالاکبرخان اکبر، نصرالله خان نصر، عبدالغفور قاسمي، محمد اصف خان او د امپیریل ګزیټیر له وینا سره اتفاق نه کوي او دا نه مني چې په سوات کې د روښانیانو دومره ډېر اثرات وو چې د هغوی د اثر ختمولو لپاره مغلو پر سوات لښکرې وکړې. هغه خپل دریځ داسې وړاندې کوي:

> The contention and belief that Akbar's forces proceeded to Swat against the Roshniyahs seems to have no relevance. Neither Bayazid Ansari nor, afterwards, the Roshniyahs, gained support in Swat.[۱۹٤]

ترجمه: دا خیال چې د اکبر باچا فوځ د روښانیانو خلاف سوات ته راغلی و، له یو بل سره څه تعلق نه لري. بایزید انصاري او له هغه پس نورو روښانیانو په سوات کې هېڅ قسمه حمایت حاصل نه کړی شو.

کله چې مونږ د دې ټولو حوالو جایزه واخلو نو مونږ دا قیاس کولای شو چې که په سوات کې د روښانیانو اثرات دومره زیات نه وو چې مغلو د هغې له وجې دلته خپل لښکر راولېږه، خو د روښانیانو لوی مخالفین چې د سوات او خواو شا نه وو، نو ضرور به دلته د هغه څه نه څه اثر و.

د اخوند درویزه له پیر روښان سره مخالفت

د پیر روښان زیات مخالفت به له سوات نه کېده. د ده لوی معارض او مخالف اخون درویزه و. اخوند درویزه له سوات نه د پیر روښان خلاف تحریک شروع کړ او په دې سلسله کې یې د پیر روښان د خیرالبیان د اثر ختمولو لپاره مخزن الاسلام ولیکلو او په دې طریقه یې د سوات خلک متاثره کړل.[۱۹۵] په هغه وخت کې په سوات او ګېر چاپېره نورو علاقو کې د مختلفو خلکو د اثراتو په باره کې محمد عبدالقدوس قاسمي د خیر البیان په مقدمه کې داسې لیکي:

داسې معلومېږي چې پير بابا په بونېر کې و او اخوند درویزه صاحب به خپل اثر په سوات کې قايم کړی و. د شيخ عمر اثر رسوخ په سمه و، حمزه خان که د تاڼې د خانانو نيکه وي نو دی به ځکه د يوسفزو سره نه وي ملگری شوی چې هم به يې خپل زور ليدو او هم به د اخوند درويزه صاحب د تبليغ په وجه د روشانيانو د گمراهی قابل و.[۱۹٦]

محمد اصف خان په سوات کې د اخوند درويزه د اثراتو په باره کې ليکي چې د يو مذهبي عالم په حيث اخوند درويزه په سوات کې ډېر کار کړی دی. د ديني مدرسو طالبانو ته چې په سوات او نورو علاقو کې خلک ډوډۍ ورکوي دا طريقه اخوند درويزه متعارف کړې وه.[۱۹۷] اخون درويزه د سيد علي ترمذي (پير بابا) شاگرد و، په تذکرة الابرار و الاشرار او په مخزن الاسلام کې يې بايزيد انصاري د پير روښان پر ځای په پير تاريک ياد کړی دی. د درويزه استاد حاجي ملا محمد زنگي د پير روښان نوم په پير تاريک بدل کړ. [۱۹۸] په دې باره کې زيب سر داسې وايي:

ده تـــــه پـــــير تاريـــــک ويلـــــی پښـــــتنو وه
پښـــــتانه ده ډېـــــر وژلي پـــــه کينـــــو وو
دی اکـــــبر او پښـــــتنو لـــــره افـــــت وه
دهـــــر يـــــو علتـــــه جـــــوړ د ده صـــــورت وه[۱۹۹]

سيف الرحمان مسعود ليکي چې په بايزيد انصاري باندې د پير تاريک نوم په شهباز گړه کې اېښودل شوی و، خو تر اگرې پورې يې انگازې وکړې.[۲۰۰] اخوند درويزه د پير پير روښان په باره کې دومره زيات نفرت لرلو چې د دوی قتل کولو ته يې هم روا ويلي وو، لکه چې وايي:

اوس زمونږ په زمانه کې لکه دا کوک تاريک پېدا شۀ. دا خبرې يې انشاء کړې ولې ډېر افغانان يې وياسته له دينه. د دوي خون دی مباح شوی. نبي هسې دي وئېلي چې په مرگ يې سرفه مه کاښۍ امته هر چې زما دين بدلوينه.[۲۰۱]

اخوند درويزه دا هم وايي چې په دې زمانه کې هر قسمه گمراهان پيدا شوي، خو پير تاريک په دې ټولو کې زيات دی[۲۰۲] او دا ورته هم وايي چې دی له خدايي د لارې غل دی.[۲۰۳] وايي چې ده ځان ته پير روښان لقب کېښودو او ما د خپل استاذ په حکم ده ته پير تاريک نوم ورکړو. وايي چې د ده د لاسه ډېر خلق دوزخيان شو چې زيات پکې افغانان

دي.[۲۰۴] د اخون درویزه او پیر بابا په هشتنگر کې د پیر روښان سره یوه مناظره اوشوه.[۲۰۵] د اخوند درویزه او پیر روښان شخړې ته چا سیاسي شخړه ویلي ده او چا ورته مذهبي. په دې اړه سیف الرحمان مسعود دا خیال لري چې دا په مکمله توګه یوه سیاسي مسئله وه او اخوند درویزه د مغلو په سازش د پیر روښان خلاف لګیا و. په دې اړه نور هغه داسې لیکي:

لنډه دا چې څه چې مغولو لیکلي دي اخوند درویزه وئیلي دي او څه چې اخوند درویزه وئیلي دي مغولو لیکلي دي دغه ځکه چې اخوند درویزه د پیر بابا او پیر بابا د مغولو ترجماني کوله او بایده هم داسې وو ځکه چې اکبر باچا د تیمور نمسی او پیر بابا یې خوریې وۀ چې دا دواړه تیموریان کیږي او دا دواړه د یوې ګوتې غمي وو.[۲۰۶]

سیف الرحمان مسعود لیکي چې بایزید یو سیاسي عمل ته لاس اچولی و، کوم چې د ازادۍ انقلاب و او د سیاسي عمل عکس العمل هم سیاسي وي. له دې نه هغه دا ثابتول غواړي چې له بایزید سره د اخوند درویزه جنګ مذهبي نه، بلکې سیاسي و او دی دا هم وایي چې د پیر بابا او اخوند درویزه بابا د عکس العمل منطقي نتېجه هم دا وه چې د مغولو د حکومت د قائمولو لپاره یې کار او انتظار کولو او دا کوښښ یې کولو چې روهستان او په خصوصي توګه سوات او بونېر د مغولو په لاس کېږدي ځکه چې د مخکې نه دلته کې د بابر درې واړه حملې بې اثره شوې وې.[۲۰۷] تقویم الحق کاکا خېل د مخزن په مقدمه کې لیکلي، چې د اخوند درویزه له مغلو سره څه تعلق نه و، ځکه چې کله مغلو پر سوات او بونېر حملې کولې، نو هغوی اخوند درویزه نه پېژنده. د دې خبرې په جواب کې سېف الرحمان مسعود داسې لیکي:

حقیقت دا دی چې هر کله چې نوبت دې ته راورسېدلو چې د اکبر لښکرې دلته راشي او سوات او بونېر په زور او د فوځ په درنو تلفاتو لاندې کړي نو اخوند درویزه به خود هم مغولو نۀ پېژندۀ ځکه چې دۀ او پیر یې د دري څلوېښتو کالو په موده کې دلته د مغولو د حکومت د قیام د پاره لاره هواره نۀ کړی شوه خو که اخوند درویزه یې پېژندلو هم نو په ده یې هم لکه د زېن خان کوکه او حکیم ابوالفتح په شان سترګې پټې کړې.[۲۰۸]

کوم وخت کې چې اخوند درویزه له سوات نه بهر و، نو په دغه وخت کې پیر روښان سوات ته راغی. [۲۰۹] لکه زېب سر چې وایي:

د اخونـــــه بازيــــــد تنـــــگ شـــــو بـــــې حســـــابه
پـــــه تېښـــــته ســـــوات تـــــه راغـــــى اى احبابـــــه
دلتـــــه هـــــم بازيـــــد پېـــــدا شـــــهرت عظـــــيم كـــــړه
پښـــــتنو د بازيـــــد ډېـــــر ادب تعظـــــيم كـــــړه
د هـــــر ځـــــاى خلـــــق راتلـــــه د بازيـــــد لـــــور تـــــه
د بازيـــــد نـــــوم مشـــــهور شـــــه ښـــــكته پورتـــــه
ده پـــــه ســـــوات كـــــې هـــــم ښـــــكاره كـــــړې خپلـــــې نخښـــــې
د بـــــدعت نخښـــــې يـــــې خلقـــــو كړلـــــې خوښـــــې
اخونـــــد خـــــبر د ده پـــــه دې احـــــوال شـــــئ
چـــــې ســـــوات د تـــــاريكي پـــــه لاس پـــــاېمال شـــــه
اخونـــــد هـــــم پـــــه ســـــوات كـــــې كېښـــــوده قـــــدم
شـــــه اخونـــــد د بازيـــــد د پـــــاره غـــــم
د ســـــوات خلـــــق دوه فرقـــــې شـــــو سر تـــــر سره
يـــــو اخونـــــد او بـــــل بازيـــــد اى بـــــرادره[٢١٠]

له اخوند درويزه نه علاوه د هغه ورور ملا اصغر هم د پير روښان خلاف مبارزه کې پيش پيش و. په دې اړه هغه داسې ليکي:

واورئ يـــــارانو نبـــــي ناســـــت پـــــر جماعـــــت وه
جبرائيـــــل وه پـــــرې راغلـــــى لـــــه ښـــــه خدايـــــه پـــــرې رحمـــــت وه
ده وې دا دى جبرايېـــــل راغـــــى يـــــارانو لـــــه خدايـــــه
چـــې زمـــا پونســـو كالـــه تېـــر شي امـــت مـــې بـــه شي دري اويـــا ځايـــه
گمراهـــان پـــه رنگـــا رنـــگ دي دا تاريـــک پـــه گمراهـــۍ كـــې ډېـــر قـــوي دى
خپـــل دليـــل يـــې جبرايېـــل كـــړ عكـــس مـــن هغـــه د نبـــي دى
اى د ښـــــه خـــــداى بنـــــدگانو د نبـــــي د ديـــــن رهـــــبرو
دا تاريـــک قلپـــه ټنگـــه شـــوه پـــرې د پاســـه چـــاپ يـــې وواهـــه د زرو
دا تاريـــــک چـــــې مـــــونځ كـــــا اودس نـــــه كـــــا
دغـــه بـــه يـــې هـــم نـــه كـــړ ځكـــه دا خلـــق پـــرې بـــاور نـــه كـــا
تاريكـــــه چـــــار دې شـــــيطاني ده

لـــوی نقصـــان دې دغـــه چـــې لـــه عالمـــانو دې دښـــمني ده
ای خوکـــه ملعونـــه لـــه عالمـــانو دښـــمني مـــه کـــړه
جلـب د عالمـانو اونیسـه عالمـان بـه دې پـه روغـه لار رسـیده کـا
دا تاریـــــــک یــــــو لعنتــــــــي دی او ملعـــــــون دی
لـــه دیـــداره یـــې منکـــر دی پـــه ناحقـــه یـــې ژوبـــدون دی
خـــود روي کـــړې مـــه کـــړه پـــه غضـــب بـــه گرفتـــار شـــې
ای تاریکـــــــه نـــــــا تمامـــــــه ملعونـــــــــه
غــوچ څــه ســحر دې وکــړ چــې مریــدي دې کــړي نجونــه[۲۱۱]

پروفیسر ډاکټر یار محمد مغموم د بایزید انصاري او د اخون درویزه د اختلافاتو په باره کې لیکي چې اخون درویزه د بایزید انصاري معاصر او د هغه سخت مخالف و. که څه هم بایزید (پیر روښان) د خپلې غیر معمولي صوفیانه عقیدې په وجه له مخکې نه نوم خور کړی و، خو د اخون درویزه د مخالفت په وجه د هغه په ادبي ، مذهبي او سیاسي شهرت کې نوره هم اضافه وشوه. پیر روښان چې د خپل غیر معمولي شخصیت او عقایدو په بنیاد په معاشره کې کوم اثر خور کړی وه اخون درویزه د دغه اثر د ختمولو د پاره خپلې ټولې مذهبي او سیاسي تجربې وازمایلې ـ اخون درویزه د اسلامي فقهې په حقله د علم لرلو او د خپل غېر متنازعه شخصیت په وجه د راسخې عقیدې لرونکیو تر مینځه د عزت مقام لرلو ـ نو ځکه د بایزید د عقایدو د غندلو د پاره دۀ یوه ډله پیدا کړې وه .[۲۱۲]

له اخوند درویزه وروسته په سوات کې د روښانیانو خلاف رد عمل

لکه څنګه چې پښتو ادب ته په مجموعي توګه د روښاني او درویزه مکتب شخړې فایده رسولې ده دغه رنګې په سوات کې د پښتو ادب په وده کې د دې تحریک هم لاس دی. اخون درویزه چې کله د خیرالبیان په جواب کې مخزن الاسلام ولیکه، نو دې کتاب په ټوله پښتونخوا او په خصوصي توګه په سوات کې د یو معتبر علمي او درسي کتاب ځای بیاموند او د سوات خلکو له دې کتاب سره ډېره مینه لرله او د درویزه مکتب په نوم باندې دلته ډېر لیکوالان او شاعران پیدا شول. په درویزه مکتب کې د اخوند درویزه اولاد او اخوند قاسم پاپین خېل او نور شامل وو. له مخزن الاسلام سره چې د خلکو کومه مینه وه هغه د خوشحال خان خټک له دې شعرونو څخه څرګندېږي:

کـــــــه ژونـــــــدی شي افلاطــــــون
ســــوات کـــــې اونیسيــــــ ســــکون
اکوزيــــــو تـــــه بيـــــان کــــا
کتابونــــــــــــــه د فنـــــــــــــون
هدايـــــــــــــه کفايـــــــــــــه دواړه
پــــــه پښـــــتو کانـــــــدي مــــــوزون
دوی بــــــه وايــــــي چـــــې دا څــــه دي
مخــــــزن ښــــــۀ دی د اخــــــون[213]

او په يو بل ځای کې خوشحال خان خټک داسې وايي:

مخـــــرن د درويـــــزه د ميـــــا نـــــور شــــيخي پــــيري
الثالـــــث بـــــا الخبـــــر د حمــــزه خـــــاني مــــيري
دا درې توکـــــه ډېــــر قـــــدر ډېــــر عـــــزت لـــــري پـــــه ســــوات کـــــې
و خــــداي وتـــــه ښــــکاره دي ويـــــل نـــــه شي پـــــه ځــــيري[214]

او په بل ځای کې داسې وايي:

دوه کــــاره دي پـــه ســـوات کـــې کـــه خفـــي دي کـــه جـــلي
مخــــزن د درويـــــزه دی يـــــا دفـــــتر د شــــيخ مـــــلي [215]

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول، چې د بايزيد روښان مخالفت له سوات نه شروع شوی و، نو همدغه وجه ده چې د اخوند درويزه او د هغه له اولاد وروسته هم د سوات په تاريخ کې پير روښان په ښه نوم نه دی ياد شوی. عبدالغفور قاسمي په تاريخ رياست سوات کې د پير روښان په باره کې ليکلي چې د کانې ګرم په ارمړو کې عبدالله نومې يو سړی و. د هغه ځوی بازيد چې بيا په تاريکي مشهور شو يو ځل د اسونو د سوداګری لپاره سمرقند ته تلی و، اسونه يې واخستل او بيا هندوستان ته راغی او له ملا سليمان کالنجري نه يې طريقه وکړه او د هغه د تناسخ د عقايدو قايل شو او بيا يې د هغه د فاسدې عقيدې تبليغ شروع کړ.[216]

قاسمي په بل ځای کې د ده په باره کې داسې ليکي:

غرض دا چې د شريعت په مخالفت او د اسلام د احکامو په توهين کې د پوره حصه اخستې وه. مريدان يې هم ښه ازاد شو او اعلانيه فسق و فجور د ده په

مريدانو کې شروع شو.[۲۱۷]

يو بل ځای کې داسې ليکي:

حضرت اخوند درويزه چې په دغه زمانه کې يو زبردست عالم باعمل وه. مېدان ته راغی پير تاريک پر شه، اخوند درويزه ورته ډېر نصيحت وکړ لېکن په دي مردود باندې هيڅ اثر او نه شه. ده ځانله د شوکمارو، لونډانو او بدمعاشانو يوه زبردسته ډله پيدا کړه او د هشتنګر نه سوات ته راغی.[۲۱۸]

بل ځای داسې ليکي:

د ده نه پس د ده ځامنو هم څه بلوې کړې وې، ليکن هغوی هم د پښتنو د لاسه تباه شو. د اخوند درويزه برکت وه چې دا ناپاک جماعت تباه شو او د هغوی عقايد اخوند صاحب د خلکو د زړونو نه وويستل.[۲۱۹]

د پير روښان د ځامنو په باره کې اخوند درويزه ليکي چې:" د تاريک پينځه ځامن وو شېخ عمر، نورالدين، خيرالدين، کمال الدين، جلال الدين او بيا مخکې ليکي چې کله پير تاريک په دوزخ شو يعنې مړ شو، نو شيخ عمر په جهان غر وکړ چې زه بادشاه شوم.[۲۲۰] احمد دين طالب چې پينځه دېرش کاله يې په سوات کې تېر کړي وو او د شاعرۍ زياته برخه يې له سوات سره تعلق لري هغه پير تاريک او د هغه مريدان په يو شعر کې داسې يادوي:

پـــه دا څـــه کـــه پـــه خلـــه نـــرم لکـــه مـــوم وي
پـــــه زړه ســـــخت وي هـــــر مريـــــد د تـــــاريکي[۲۲۱]

د پير روښان (بايزيد انصاري) په باره کې حليم سرحدي ليکي چې د هغه مذهبي عقيده د وخت علماء حق له شرعې خلاف ګڼله او بيا وړاندې ليکي چې بايزيد که په حقه وی، نو دوی به کامياب شوي وو، ځکه چې حق چرته هم نه ناکامه کېږي. پير بابا او د هغه مريد اخون درويزه د تاريکي خلاف ملا وتړله او د مناظرو او معارضو نه خبره تر تورې ورسېده. بايزيد شکست وخوړه او د يوسفزو د سيمې نه د روښاني تحريک ځېلې اوختې.[۲۲۲]په موزير نامه کې زېب سر د پير تاريک په باره کې ليکي چې ابتداء کې هغه برزګي ديانت او امانت اختيار کړه او همېشه به په مزکه رو رو او پياده ګرځېده، چې ميږی ازار نه شي او بيا چې د دولت او طاقت خاوند شه نو د مسلمانو په سينو او سرونو ئی اسونه زغلول شروع کړه.[۲۲۳]بايزيد سوات ته راغلی و او دلته يې هم ډېر مقبوليت حاصل کړی و،

خو بیا چې اخون خبر شو، نو له دې ځای نه بیا هغه لاړه، لکه چې زېب سر وايي:

او اخون اوکړه اعلان چې زه ګواه یم
د بایزید په حال خبر زه خوا مخواه یم
بایزید ته به هر چاروشن ضمیر وې
جاهلانو به هم ده ته پیر کبیر وې
اخون خوښ کړه تاریکي[۱۳] د بایزید نام
د دې نوم وشه شهرت په خاص و عام
له اخونه بایزید تنګ شه بې حسابه
او په تېخته سوات ته راغی ای احبابه
دلته هم بایزید پېدا شهرت عظیم کړۀ
پښتنو د بایزید ډېر ادب تعظیم کړه
له هر ځایی خلق راتله د بایزید کور ته
د بایزید نوم مشهور شه ښکته پورته
ده په سوات کې هم ښکاره کړې خپلې نخښې
دبدعت نخښې یې خلقو کړلې خوښې
اخون خبر دده په دې احوال شه
چې سوات د تاریکي په لاس پایمال شه
اخون هم په سوات کې کېښوده قدم
شه اخون هم دبایز ید د پاره غم[۲۲۴]

د سوات د پښتو ادبي تاریخ د نولسمې او شلمې پېړۍ له دې حوالو نه پته لګي چې تر دغه وخت پورې د بایزید خلاف د خلکو او لیکوالانو په زړه کې نفرت موجود و. که په دې مونږه قیاس وکړو نو پته لګي چې د اخوند درویزه او بایزید انصاري په ژوندانه به د سوات د خلکو د بایزید په باره کې ډېر نفرت و.

[۱۳] د اخوند درویزه استاذ حاجي الحرمېن ملا محمد چې په ملا زنګي پاپیني مشهور و، د پیر روښان نوم پیر تاریک کېښودو ـ(قاسمي، محمد عبدالقدوس، (مقدمه) خېر البیان تصنیف د بایزید انصاري، پېښور، پښتو اکیډمي، ۱۹۶۷، مخ: ۲۷)

په سوات کې د پیر روښان په باره کې د سوچ بدلون

له دې تاریخي حوالو پته لګي چې د اخوند درویزه له زمانې راواخله او د ریاست سوات تر دور پورې په تاریخونو کې د پیر روښان په باره کې سپکې سپورې لیکل شوي، خو د وخت له تېرېدو سره بیا د سوات د خلکو په سوچ کې هم بدلون راغلی دی، لکه د سوات یو شاعر د "پیر روښان" د سرخط لاندې په یو نظم کې داسې لیکي:

د شر پـــــه لاره کـــــې چـــــې مـــــړ شي دا شـــــهید وي د دوی
چـــــې ورونیـــــه وژني نـــــو هغـــــوي تـــــه یـــــې غازیـــــان وویـــــل
د محنـــــت کشـــــو هنرمنـــــدو نـــــوم پـــــه بـــــده اخـــــلي
دوي د وطـــــن دې غاصـــــبانو تـــــه نېکـــــان وویـــــل
خلقـــــه د کفـــــر د فتـــــوو بـــــاران پـــــرې اوورویٔ
روغـــــاني ځـــــان تـــــه د نـــــن دور پـــــیر روښـــــان وویـــــل[۲۲۵]

او یو بل ځای کې د "بایزید" د سرخط لاندې په یو نظم کې داسې لیکي:

دوی بـــــه ســـــبا د بایزیـــــد شـــــان قایـــــدان یـــــادېږي
نـــــن چـــــې پـــــرې مـــــونږه د الحـــــاد، کفـــــر حکمونـــــه کـــــوو
همـــــېش مـــــو کـــــړی دی افســـــوس د حـــــق شـــــناس پـــــه کـــــردار
وروســـــتو پـــــه هغـــــه افسوســـــونو افسوســـــونه کـــــوو
چـــــې نظـــــام نـــــه وي روغانیـــــه انتظـــــام بـــــه وي خـــــام
نـــــوې دنیـــــا تـــــه بـــــه زاړه حکایتونـــــه کـــــوو[۲۲۶]

د دې ټولو خبرو نتېجه دا راووته چې د روښاني مکتب خلاف تحریک له سوات نه اخوند درویزه شروع کړی و، نو همدغه وجه ده چې د شلمې پېړۍ تر اخره دغه د مخالفت جذبه د سوات په پښتو ادب او تاریخ کې په نظر راځي، البته په یویشتمه پېړۍ کې لږې ډېرې داسي حوالې په لاس راځي چې د پیر روښان په باره کې د خلکو سوچ او فکر کې بدلون راغلی دی.

په فوکلور کې د تهذیب او ثقافت عکس

فوکلور یا ولسي ادب خو په حقیقت کې د زمان او د مکان له قید نه ازاد وي، خو بیا

هم په فوکلور کې د هر دور او هرې علاقې خپله برخه وي. په پښتو فوکلور کې له ټولو مشهور صنف پښتو ټپه ده. ډېرې ټپې داسې موجود دي چې په هغې کې د سوات د مخصوص تهذيب او ثقافت ذکر شوی دی. دلته د بېلګې په توګه يو څو ټپې ذکر کېږي، په کومو کې چې د سوات ذکر شوی يا د سوات د يوه کلي ذکر پکې شوی او يا له سوات سره د تعلق لرونکي يو بل څيز ذکر لري، لکه په سوات کې د پښتو په دور کې به ډېر قبايلي جنګونه کېدل، د دې جنګونو ذکر په دې ټپو کې شوی دی:

د پچي ګرام په پورې کس کې
په وينو سره شول د جوارو بمبلونه[۲۲۷]
د پچي ګرام ملک ته وايه
ډېرې دې کونډې کړې نور مه اخله ازارونه[۲۲۸]

د سوات خلک به د پيرانو، وليانو او بابا ګانو قبرونو ته تلل، په دې کې به زيات خلک د پير بابا قبر ته تلل او د خپلو مرادونو د ترسره کولو دعاګانې به يې ترې غوښتلې، لکه په دې ټپو کې يې چې ذکر شوی دی:

پورته زيارته رارسېږې
د سوات د سره په غرض راغلی يمه[۲۲۹]
د پير با با لارې دې سختې
د ګلو لختې زه پرې ستا د پاره ځمه[۲۳۰]
راځه چې پير بابا ته لاړ شو
ډېر زورور دی سوال په لارې قبلوينه[۲۳۱]
راځه چې پير بابا ته لاړ شو
سوال به پرې دواړه سره کړو چې قبول شينه[۲۳۲]
جانانه ستا د زړه د پاره
پړی په غاړه د بونېر بابا له ځمه[۲۳۳]

اصل کې خو سوګند يا قسم د الله پاک په نوم سره کېږي، خو له پير بابا سره خلکو دومره عقيدت لره، چې د هغه په نوم به يې سوګندونه هم کول، لکه په دې ټپه کې:

خال خو دې ما وران کړی نه دی
په پير بابا به درته اوخورم سوګندونه[۲۳۴]

او په پیرانو کې د پیر بابا یو خپل مقام و. د پیر بابا په مقابله کې بل بابا یا پیر چا برداشت کولی هم نه شو، لکه چې وایي:

پیره بابا په ډاګ یې وله
په تا تېرېږي دېوانه بابا له ځینه[۲۳۵]

زیارتونو ته به چې کله خلک تلل نو پراټې، ډوډۍ یا نور څه څیزونه به یې په قبر کېښودل، لکه په دې ټپه کې چې ذکر شوي دي:

خلک زیارت له پراټې وړي
زه د اشنا د پاره غونډه ډوډۍ وړمه[۲۳۶]

چې څوک به بیمار و، نو هغه به د خپل صحت د سوال کولو لپاره هم پیر بابا ته ته، لکه چې وایي:

ویشتلی ما ېې روغ به نه شي
که د بونېره پورې وکړې زیارتونه[۲۳۷]

د سوات او د بونېر د خلکو حسن هم مشهور دی، لکه خوشحال خان خټک چې وایي:

د خوشحال خټک خو ښکلی مخ پکار دی
که د سوات که د پکلۍ که د بونېر وي

دغه شان په یوه ټپه کې راغلي دي:

د حسن ساری یې څوک نشته
که سوات بونېر ورپسې دواړه وغواړمه[۲۳۸]

او یا لکه دا ټپه:

دا سوات د سرو ګلو چمن دی
نه ترې وتی شم نه مې زړه صبر کوینه[۲۳۹]

او یا لکه دا ټپه:

د سوات بونېر ممانې راوړه
نورې ممانې ماله خوند نه راکوینه[۲۴۰]

د سوات په لوړو دنګو غرونو کې داسې باندې دي، چې هلته د ګرمۍ په موسم کې مال ساتونکي خلک ځي. د دغو خلکو د ښایست او د دې باندو ذکر هم په پښتو ټپو کې موندل کېږي، لکه د سپین سر، درال او د سېدګۍ د باندو ذکر چې په دې ټپو کې شوی دی:

یار مې په لوړو غرونو خیژي
د سر شمله یې د سپین سر شمال وهینه[۲۴۱]
دیدن د ګټې په سر کېږده
زه د درال سپدګۍ له ځم در وا به یې خلمه[۲۴۲]
د یار مې څه خوږې قیصې دي
چې د درال د لارې مل مې وې مئېنه[۲۴۳]

له ټپو علاوه د ولسي ادب په نورو اصنافو کې هم د سوات د تهذیب او ثقافت عکس موندل کېږي، لکه څنګه چې په دې باب کې د تصوف تر سر خط لاندې په تفصیل سره لیکل شوي، چې په سوات کې د تصوف یو مضبوط روایت موجود و. دا دومره مضبوط روایت و چې په ولسي ادب کې هم د دې اثرات ښکارېږي، لکه عنایت الرحمان "د سوات پخوانۍ قیصې" نومې کتاب کې د سوات د مختلفو صوفیانو یعنې پیر بابا، اخوند درویزه بابا او سیدو بابا د پیرۍ او کراماتو متعلق ولسي قیصې لیکلي دي. "د یو ناڅاپه مېلمه" تر سرلیک لاندې په یوه قیصه کې لیکي چې د شپې یو نا اشنا سړی سوات سیدو شریف ته د سیدو بابا کوټګۍ کې په خپل یو مخصوص کیفیت کې حاضر شو او بیا غائب شو. د مریدانو په تپوس سیدو بابا وویل چې دا د سهوان شریف شهباز قلندر و او هم په دغه وخت چې کله مریدانو له هغه سره د ملاقات او له هغه نه د دعا غوښتلو خواهش ظاهر کړ، نو سیدو بابا سترګې پټې کړې او ویې ویل چې هغه د اټک سره د اباسین نه پورې وتی دی.[۲۴۴] د پیر بابا د یوه لمسي میا افضل بابا متعلق په یوه بله قیصه کې لیکي چې هغه په هندوستان کې د یو توپ مخې ته په دې یقین سره ودرېده چې الله به زما حفاظت کوي او چې کله توپ وډزولی شه نو هغه د ګولو په ځای اوبه وشیندلې او په دې خبره د هغه مرید وویل چې زما پیر ته د غسل ضرورت و.[۲۴۵] او د پیر بابا او اخوند درویزه بابا په یو روایت کې لیکي چې اخوند درویزه بابا د پیر بابا نه د غوا په ښکر کې پټ شوی و او دغه رنګ پیر بابا د هغه نه د زمکې په ترخ کې پټ شوی و.[۲۴۶]

له ټپو او ولسي کیسو علاوه ځینې متلونه داسې شته چې د سوات ذکر په څه نه څه حواله لري او دغه رنګ مونږ ترې د سوات د تهذیب او ثقافت اندازه لګولی شو، لکه د نمونې په توګه دلته یو څو متلونه وړاندې کوو:

ادۍ په سمه پرتوګ یې په سوات[۲۴۷]

بر سواتي ته چې خان ووی او بونېروال ته پاچا نو نیم مرض یې ښه شي.[248]

چې د سوات یې خوړ لکه شات یې[249]

چې د سوات یې ډک له فسات یې[250]

چې سوات خوري نو بد یې مه وایه[251]

د سوات اوبه په لارې ځي او خلک یې بې لارې ځي[252]

د سوات تبي کاڼی د سوات په پېټې کې غورځنگ وهي[253]

د سوات خلک پردو غمونو وخوړل[254]

د سوات خلک په جر مست دي[255]

د سوات خلک زاړه شو خو په وریژو ماړه نه شو[256]

د سوات ژرندې او د بونېر کندې[257]

له سوات نه خو لېونی سپی هم نه وځي[258]

سوات تور دی خو موړ دی[259]

سوات دی د مزو، راځئ پرې ملېزو[260]

سوات موړ دی خو سپور دی، بونېر وړی دی خو غوړ دی[261]

یو څو نور متلونه هم دي چې د سوات په ټولنه کې ډېر مشهور دي، اگر که په هغو کې نېغ په نېغه د سوات ذکر نه دی شوی، خو د دې ټولنې خصوصیات پکې بیان شوي دي، لکه د نمونې په توگه دا متلونه:

چرگ خو یو مارغه دی چې چا ونیو د هغه دی[262]

خدای خبر دی چې تره کافر دی[263]

چې نن سپک شي سبا ورک شي[264]

غر ننگ وخوړ دامان قلنگ وخوړ[265]

نیستي پاکه بادشاهي ده، خو شته من یې له خونده خبر نه دي[266]

پیر نه الوځي مریدان یې الوځوي[267]

د ولسي ادب د مختلفو صنفونو له دې حوالو نه په اسانه اندازه لگېدلی شي چې د سوات په ولسي ادب کې د سوات تهذیب او ثقافت څومره خوندي او محفوظ پروت دی او دا په مختلفو اړخونو څېړنو ته اړتیا لري.

شاعري او د عوامو عکس العمل

په شاعرۍ کې دوه قسمه جذبات زیات غالب وي، یا د حقیقي مینې جذبات وي او یا د مجازي. د مجازي مینې شاعري به عموماً ډمانو له ټنګ ټکور سره ویله، له دې وجې نه شاعري یو قسم ته ډمتوب ګڼل کېده او چونکې ډم ته په پښتنه معاشره کې په سپک نظر کتل کېږي، نو له دغې وجې نه به شاعرۍ ته هم په درونډ نظر نه شو کتلی او ځکه به اکثرو شاعرانو پټه شاعري کوله. تواریخ حافظ رحمت خاني کې هم ذکر دي چې ډمانو به شاعري د سرود سره ویله.[۲۶۸] احمد دین طالب هم په خپلو شعرونو شرم محسوسوي:

قــــدردان کــــه مــــې هــــر څــــو د عشــــق ډېــــر دي
خــــو لــــرم زه احمــــد دیــــن پــــه خپــــل اشــــعار عــــار[۲۶۹]

عبدالعظیم صواتی هم دا خبره داسې کوي:

څــــوک بــــه څــــه زمــــا لــــه حالــــه خــــبر مــــومي
چــــې پــــه غــــلا لــــیکم لــــه خلقــــو خپــــل اشــــعار پــــټ
چــــې اګــــاه دې څــــوک پــــه ځــــان نــــه کــــړه هیڅکلــــه
افــــــرین شــــه ای عظیمــــه ســــتا پــــه کارپــــټ[۲۷۰]

او په بل ځای کې داسې وايي:

پــــه نامــــه د شاعــــرۍ زه شرمېدلــــم
ځــــان مــــې نــــه ښــــکاره کــــا وه پــــه ســــپین میــــدان[۲۷۱]

مخدوم تصدق احمد لیکي چې د غټو کورنو خلکو به په ګډا او موسیقۍ کې برخه نه اخسته .[۲۷۲]مطلب دا شو چې موسیقي یا ګډا نڅا د هر چا خوښه وه، خو د څه خاصو ټولنیزو قدغنونو له وجې به ځینو خلکو په دې کې نېغ په نېغه حصه نه اخسته.

پر ادب د نورو ژبو اثرات

د سوات پر پښتو ادب زیات اثرات د فارسۍ او عربۍ دي. له دې علاوه د هندۍ او ګوجري [ګوجرو] ژبې اثرات هم لږ لږ شته. د دې دور په پښتو ادب د عربۍ او فارسۍ اثرات ډېر واضح دي. د فوائد شریعت متن سره له دې چې په پښتو کې دی خو د نولسو بابونو نومونه یې په فارسۍ کې ورکړي دي. د دې دور شاعرانو د فارسۍ عربۍ او پښتو ژبو په شریکه شاعري هم کړې ده. محمد اکبر یو غزل په پینځو ژبو کې لیکلی دی، د هغې په

باره کې محمد نواز طائر داسې ليکي:

> غالبا چې د سوات اکبر وړومبی پښتون شاعر دی چې هم په يو غزل کې يې د پينځو ژبو يعنې پښتو، عربي، فارسي، هندي او گوجري ژبو لغات ډېر په بې تکلفۍ سره استعمال کړي دي او نه يواځې دا چې په عربۍ او فارسۍ ژبه د عالمانه قدرت لرلو ثبوت يې ورکړی دی، بلکې دا يې هم ښکاره کړې ده چې په دغه سيمه د هندۍ او گوجرو ژبو کوم عام رواج وه د هغوی د زدکړې نه يې هم ځان غافل کړی نه وه . دغه شان يې هم د خپلې قادارالکلامۍ او عالمانه تبحر ثبوت پريښی دی او هم يې د ژبو په حقله د پښتون وگړي روايتي روادرۍ مثال قايم کړی دی."[۲۷۳]

د سوات د پښتو ادب په وړومبي دور کې لکه څنگه چې وړاندې ذکر شو په پښتو ژبه او ادب د فارسۍ، عربۍ، هندۍ او يا د گوجرو ژبې اثرات وو، خو بيا په وروستنو دورونو کې د فارسۍ، عربۍ، هندۍ او گوجرو اثرات ډېر کم شوي يا ختم شوي دي او د دې پر ځای د انگرېزۍ او اردو اثرات په نظر راځي چې په دغه اثراتو به په خپلو متعلقه بابونو کې بحث کولی شي.

تصوف

په پښتو ادب کې تصوف يوه زړه موضوع ده. په پښتو ژبه کې روښانيانو د تصوف لويه ذخيره پرېښودې ده،[۲۷٤] خو له روښانيانو علاوه د دروېزه مکتب صوفيان او وليان هم موجود دي. د سوات په معلوم پښتو ادب کې د تصوف باريکې مسئلې او نکتې اخون دروېزه په مخزن الاسلام کې چېړلي دي. اخون دروېزه چې د سلوک په لار روان شه او پيربابا ورته د شرايطو د تلقين نه پس د ذکر تلقين شروع کړ، نو د کامل پير په وجه يې په ډېر لږ وخت کې ډېر څه وموندل، نو بيا ورته پير بابا وويل چې اوس د تصوف په علم کې هم کوښښ وکړه چې خپل ايمان او د ډېرو نورو مسلمانانو ايمانونه له زوال نه وساتې او کمزوري مسلمانان د تشبيهـ او تعطيل نه بچ کړې او دا يې ورته هم وويل چې نن صبا ډېر اهل هوا په دې علم کې فکر کوي.د دې علم په اشاراتو او عباراتو نه پوهېږي، نو د خدای په پېژندو کې غلط شي.[۲۷۵] ابراهيم[۱٤] د تصوف رازونو طرف ته داسې اشارې کړې دي:

---

[۱٤] ابراهيم د سوات د مشهور بزرگ پير پرنده صيب په اولاد کې تېر شوی دی .د اخون دروېزه د سبک په پيروکارانو کې ښکلی ليکونکی دی .(افضل رضا، پټ ستوري، مخ: ۴۹۲)

چـــــې خـــــبر پـــــه اسرار نـــــه شي د هـــــو هـــــو
پـــــه هغـــــو ړيـــــرو د هـــــر چـــــا شـــــه تـــــو تـــــو
بـــــې افتابـــــه زره چـــــا ليـــــدلې نـــــه ده
ښـــــکاره وي د نمـــــر پـــــه مـــــخ سر يـــــو يـــــو[۲۷۶]

په مخزن الاسلام کې د اخون درويزه د صوفيانه مسلک مسئلې څېړل شوې دي، دا خبرې هغه زيات تر په خپلې الف نامه کې بيان کړې دي. هغه د طريقت لپاره شريعت ډېر لازم ګڼي. هغه د تصوف لپاره شريعت او د سلسلې تسلسل لازمي ګڼي، لکه چې وايي:

هـــر چـــې بـــې پـــيره پـــيري کـــا هـــم مريـــد مســـتقيم نـــه کـــا
د ايمـــان ســـپينکی کـــاروان يـــې شـــياطينو دی وهلـــی
هغـــه پـــيردې پـــيري کانـــدي چـــې پـــه شرع مســـتقيم وي
هـــــم يـــې اذن لاس پـــه لاس لـــه نبـــي رخـــه راوړی[۲۷۷]

لـه اخونـد درويـزه وروسـته پـه سـوات کـې د تصـوف د مختلفـو سلسـلو منـونکي موجود وو او د خپلو پيرانو په سلسله به روان وو.

په سوات کې د تصوف مروجې سلسلې

له چشتيه سلسلې علاوه دلته يوه بله سلسله نقشبنديه هم موجوده وه. د ميا کريم داد زوی او د اخوند درويزه بابا نمسی ميا نور محمد د خپل پير شېخ ادم بنوري نه په لاهور کې په سلسله نقشبنديه کې بيعت کړی و.[۲۷۸] مصطفی محمد چې د ميا کريم داد نمسی او د ميا نور محمد زوی وه هم د نقشبنديه طريقې يو کامل پير و.[۲۷۹] د مصطفی محمد د تصوف د عارفانه کلام څه نمونه دلته وړاندې کولی شي:

هـــ هـــر دم واصـــل مسرـــور شـــه | د خپـــل تـــن ځينـــي مســـتور شـــه
تـــه دايـــم ورتـــه حضـــور شـــه | لـــۀ هـــر جملـــه غفلتـــه دور شـــه
تـــــه دايـــــم شريعتـــــي شـــــه | په هر وخت کـې يـې محصـور شـه
کـــه طلـــب کـــړې د مـــولا کـــړه | پـه طلـب کـې يـې چـور چـور شـه
طالبـــــان بـــــارداري ونـــــي | پـــه دا ونـــو کـــې کجهـــور شـــه
د عمـــــل ونـــــه کـــــړه نهالـــــه | د عمـــل پـــه پـــاڼو ګـــور شـــه
د حـــــق يـــــاد درزۀ صـــــيقل دی | د اثبـــات پـــه مېـــوه پـــور شـــه[۲۸۰]

میا محمد قاسم چې د میا عبدل کشر ورور و او د میامصطفٰی ابن پیر بابا ځوی و، د چشتیه مسلک یو کامل بزرگ لوی عالم او پیاوړی شاعر و، د میا کریم داد په خاصو مریدانو کې شامل وه، د تیرات په جنګ کې چې کله میا کریم داد ووژل شو نو میا قاسم[15] د هغه په جدایۍ کې د غم درد د ا شعرونه وویل:

میـــا قاســـم چـــې پـــه خپـــل پـــیر پســـې ژړا کـــا
د زړه وینـــــې یـــــې بهیـــــږي د چشمـــــــانو
د ده وینـــــې دې و حـــــورو تـــــه حنـــــا شي
مبـــــارک شـــــه شـــــهادت د شهـــــــیدانو[281]

د سوات اخوند چې په سیدو بابا مشهور و او خپل نوم یې عبدالغفور وه، د قادریه او نقشبندیه سلسلې پیروکار و،[282] په طریقه قادریه کې د هغه استاذ حضرت صاحبزاده حافظ محمد شعیب وه. دی د صوابۍ ضلعې تور ډېري کلي اوسېدونکی و او دغه رنګ په طریقه نقشبندیه کې هم د هغه پیر صاحبزاده حافظ محمد شعیب و[283] د بشونۍ باباجي چې خپل نوم یې حافظ محمد صدیق صیب و په ۱۱۹۸ هجري کې د بونېر په بشونۍ نومي ځای کې په حق رسېدلی او مزار یې هم هلته دی. دی د تصوف د څلورو واړو طریقو قادریه، چشتیه، نقشبندیه، سهروردیه، خلیفه مجاز او پیر طریقت و. مولانا اخوند محمد صیب د عمرزو د ده خلیفه اکبر و، د چا په واسطه چې د سیدو غوث ته هم د قادري سلسلې فیوضات رارسېدلي وو، لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوي، چې سیدو بابا د تور ډېري د حافظ محمد شعیب نه فیض حاصل کړی و او حافظ محمد شعیب د عمرزو د اخوند محمد خلیفه اکبر و سیدو بابا د تور ډېري د حافظ شعیب خاص ماذون او خلیفه اکبر و. د سیدو بابا د کوشش او همت په وجه سلسله عالیه قادریه په غفوریه باندې هم شهرت لري.[284]

---

[15] میا محمد قاسم د میا عبدالوهاب کشر ورور، د میا مصطفي محمد زوی او د پیر بابا نمسی و. دی د کال ۹۸۷ هجري خواو شا په بونېر پاچا کلي کې پیدا شوی و. د میا کریم داد له شهادت نه پس میا قاسم د کافرو خلاف د جهاد جاري ساتلو په غرض د سوات کوهستان په شاګرام او پکهلۍ کلیو کې میشته شو ـ میا قاسم د کال ۱۰۷۸ هجري خواوشا د توروال په مقام په یوه غزا کې شهید شوـ (رحیم شاه رحیم، غټه خزانه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز، ۲۰۱۵، مخ: ۳۶،۳۵)

پیران مریدان

په سوات کې د پیرانو د زور شور هم یو دور تېر شوی دی. د دې علاقې د خلکو نفسیات داسې وو چې پیري مریدي دلته ډېره په کامیابۍ سره چلېده، ځکه د سوات په پښتو ادب د پیرۍ مریدۍ ډېر اثرات ښکاري. دلته رنګارنګ پیران پیدا شوي او مختلفي خبرې یې خورې کړې دي، په دوی کې ځه ښه او ځه ناکاره پیران وو. وایي چې پیربابا ترمذ ته د تللو اراده وکړه نو مریدانو او عقیدت مندو ورته وویل چې په یوسفزو کې دوه پیران پیدا شوي، چې خلک د پیغمبر د دین نه اړوي، یو د غلجو پیر طیب دی او بل پیر ولي. دوی ټنګ ټکور او سرود حلال ګڼي او پیرولي خو ځان ته خدای وایي نو پیربابا ته یې وویل که تاسو د یوسفزو علاقې ته لاړشئ نو دا خلق به د ګمراهۍ نه بچ شي.[285] اخون درویزه چې د هندوستان نه واپس شو نو خپل استاد ملا سنجر د پیربابا استانې ته ورسولو. له ملاقات نه پس یې ورته د خپل زهدو هدایت او کشف وکرامت حال بیان کړه. وایي چې پیر بابا په دې مسکی شه او ویې فرمایل چې د پښتنو کامل پیر شوی یې خو ښه دې نه دي کړي، ځکه چې بې د شېخ فاني في الله د اجازت نه په ریاضت کولو سړی ګمراهۍ ته رسي.[286] د پیربابا د دې خبرې نه هم د پښتنو د پیر پرستۍ پته لګي. په سوات کې د پیربابا او اخون درویزه د پیرۍ مریدۍ یوه مضبوطه رشته پاتې شوې او دغه سلسله بیا د اخون درویزه اولاد جاري ساتلي ده. د پیربابا او اخون درویزه مخالفت له پیر روښان سره و، نو ځکه د سوات په پښتو ادب کې د ښو او بدو پیرانو ذکر راځي. خوشحال بابا وایي:

هغــــه وخــــت چـــې پیرروښـــــان فســـــاد بنیــــاد کــــــــړ
پښــــتنو ورســــــــــــــــــره ټینــــګ کــــار د ارشـــــاد کــــړ
پښــــتانه پــــه هغــــــــــــــــــــه دور پــــیر پرســــت وو
څــــوک مریــــد د شــــاه عیسٰیـــ څــــوک د سرمســــت وو [287]

احمد دین طالب د پیر تاریک او د هغه مریدان په یو شعر کې داسې یادوي:

پــــه دا څــــه کــــه پــــه خلــــه نــــرم لکــــه مــــوم وي
پــــــه زړه ســــــخت وي هـــــر مریــــــد د تــــــاریکي[288]

حافظ الپورۍ د جاهل پیر په باره کې وایي:

جاهــــــــــل پــــیر پــــه پــــیرۍ مــــه نیســــه نادانــــه
نابینــــــا بــــــه پــــــېش رهــــــــــــــــبر د بینانــــــه شي

لــــه نـــــاقص بـــــه مريـــــد څـــــه مـــــــــراد حاصـــل کـــــه
منکـــــو حـــــې لـــــه د بـــــار ســـــود لـــــه صـــغير نـــــه شي
شرعـــــــه ورعـــــــه تينگـــــــوه بـــــاور محکـــــــــــم کـــــــړه
د جنـــــت يافـــــت پـــــه پرهېـــــز دی پـــــه پـــــير نـــــه شي[289]

سوات کې د پيری مريدی په باره کې خوشحال خان وايي:

مبـــــتلا پـــــه څـــــو څـــــو رنگـــــــــــه پليـــــدي دي
مريـــــــــدي[16] دي، عنيـــــــــدي[17] دي، نديـــــــــدي[18] دي[290]

د پير شاگرد ته مريد وايي او د ده کار ته مريدي وايي، لکه خوشحال په سوات نامه کې يو بل ځای کې وايي:

مريـــــــدي يـــــــې پـــــــه کـــــــلاه پـــــــه شـــــــجره ده
کـــــــه پـــــــيري مريـــــــدي دا ده مســـــــــخره ده[291]

په سوات کې د پيری مريدی ډېر اثرات وو او دغه اثرات په ادب کې ښه صفا ښکارېږي:

---

[16] مريد معنٰی په درياب لغت کې داسې شوې ده: خواهش مند، ارزومند، ارزو لرونکی، منونکی، شاگرد، مرشد، فرمانبردار (قلندر مومند، درياب لغت: مخ: ۱۱۸۸) لکه خوشحال چې په دي شعر کښې د مريد لفظ استعمال کړے دے ـ

پښتانه په هغه دور پير پرست وو   څوک مريد د شاه عيسي څوک د سرمست وو (سوات نامه شعر نمبر ۴۴۰)

همېش خليل د سوات نامه په نوټونو کښې د مريدي معنٰي نافرمان، ملعون او مردود کړې ده (سوات نامه مقدمه تحقيق او سمون د همېش خليل مخ: ۱۱۳)

[17] همېش خليل په سوات نامه کې د عنيدي معنٰي سرکش او جنگيالي کړې ده (سوات نامه مخ : ۱۱۳). له دې سره يو بل نزدې لفظ عنادي هم دی چې معنٰي يې ده عناد لرونکی، مخالف، دشمن (قلندر مومند، درياب لغت، مخ: ۹۳۹).د خوشحال خان په يو بل شعر کې هم د عنيدي لفظ استعمال شوی دی.

د روښان بخره ورکزي او افريدي شول   هغه خوښ په رهزنی په عنيدي شول (سوات نامه شعر نمبر ۴۴۱)

په دي شعر کې د عنيدي د لفظ معنٰي همېش خليل سرکشي او جنگجويي کړې ده ـ (سوات نامه مخ نمبر ۱۳۱)

[18] نديدي ناديده ته وايي. د ناديده معنٰي ده: ناليدلی، وږ سترگی، اروا وږی، لالچي، کم اصل، رذيل (قلندر مومند، درياب لغت، مخ: ۱۲۷۲) سوات نامه کې يو بل ځای خوشحال په يو شعر کښې درې ځايه د ناديده لفظ استعمال کړی دی.

په هر کار کې نا هموار نا فهميده دي نا ديده دي، نا ديده دي، نا ديده دي (سوات نامه شعر نمبر: ۱۴۶)

مليان

په سوات کې له پير سره سره دويم اهم کردار د ملا دی. دغه وجه ده چې د سوات په پښتو ادب کې د ملا د ژوند او کردار ذکر هم په نظر راځي او دا صحيح کردار هغه وخت مخې ته راشي چې کله ملا او پير د يو بل مخالف شي او يا مليان په مختلفو ډلو کې تقسيم شي (لکه څنګه چې عموماً وي) او بيا عوامو ته د يو بل حقيقت ښکاره کړي، نو اديب، شاعر او قلمکار ته موقعه په لاس ورشي او دا حقيقتونه د قلم په ژبه کاغذ ته وسپاري او دراتلونکو خلکو لپاره يې سنبال او خوندي کړي. اوس ګورو چې د سوات په پښتو ادب کې د ملا ژوند او کردار څنګه پېش کړی شوی دی. محمد اکبر (ملا بابا) خو تر هغه وخته ملا ته ملا نه وايي چې تر څو يې د عشق په مدرسه کې سبق نه وي ويلی:

څـــو دې ســـبق زمـــا د عشـــق لـــه مدرســـې او نـــه شي
کـــه نـــور هـــزار علمـــه خپـــل يـــاد کـــړې مـــلا بـــه نـــه شـــې
تـــه چـــې د ځـــــان سره دابـــم خـــوږونکی ســـپی ګرځـــوې
زمـــا پـــه در کـــې بـــه دې ځـــای نـــه وي اشـــنا بـــه نـــه شـــې
کـــه معـــــــرفت دې زمـــا بيـــا مونـــد بيـــا وځـــان تـــه ګـــوره
ترتـــورو خـــــاورو بـــه خائســـته شـــې خاتمـــا پـــه نـــه شـــې
څـــو پـــه شمشـــير د لاالـــه الا اللـــه دې غلـــيم قتـــل نـــه کـــړې
دا تـــه اکبر بـــه مـــــــدام لــــــــر اوســـې بـــالا بـــه نـــه شـــې[۲۹۲]

چې په يو کلي محله کې به څوک مړ شو، نو ملا به ورته غسل ورکړ او بيا د مړي جامې، پټکی او نور شيان به يې ځان ته يوړل. اخون کريم داد په يو شعر کې دې طرف ته داسې اشاره کړې ده:

هغـــه مـــــــــــــــــــــرده شـــوی چـــې بـــه تـــاوينځي
زړه بـــه ښـــه ســـتا پـــه کمـــيس [قمـــيص] يـــا پـــه دســـتارکا[۲۹۳]

ملا ته به خلکو د هغه د امامت او نورو ذمه وارو په بدل کې زکٰوة ورکاوه، لکه احمد دين طالب چې وايي:

ميـــــا ملالـــــــره خـــــيرات زکـــــــوة عـــــــزت دی
پـــــه ســـــــودا د ســـــوداګر هټيـــــــوال خـــــوښ وي[۲۹۴]

خوشحال خټک هم داسې وايي:

ملايـــــان د ســـــوات همـــــه زکــــــوة خـــــواره دي
پـــه دانـــش، پـــه ديـــن، پـــه علـــم خـــبر نـــه دي[۲۹۵]

خوشحال خان وايي، چې شيخ او ملا د سوات د خلکو مال په چل ول خوري:

يـــا يـــې شـــيخ مـــلا پـــه مکـــــر پـــه افســـون خـــوري
يـــا يـــې مـــال پـــه خپـــل پـــردي مگـــر خـــاتون خـــوري[۲۹۶]

خوشحال وايي چې هر ملا د يوسفزو صفت کوي اگر که هغه غل هم وي:

هـــــر مـــــلا پـــــه دا صـــــحبت ورسره مـــــل وي
پـــه ثنـــا د يوســـــفزيه وي کـــــــه غـــــل وي[۲۹۷]

او بل ځای داسې وايي:

عالمـــــــــان يـــــــې همگـــــــې واړه سفيهـــــــــ دي
نـــه عـــالم او نـــه فاضـــل دي، نـــه فقيهـــــ دي[۲۹۸]
پـــه مسجـــــــد راځـــي پينځـــه وختـــه آذان کـــــا
چـــې زکٰـــوة سرســـايه نـــه وي مســـجد وران کـــا[۲۹۹]
د مـــــيراث مالونـــــه خـــــوري لــــه ظالمــــــــانو
نـــوم پـــه ځـــان بانـــدې کېـــږدي د عالمـــانو[۳۰۰]
نـــه يـــې خـــط وي نـــه يـــې لوســـت همـــه ټگـــي کـــا
تعويذونـــــه بـــــه کـــــــــوي دروغ داري کـــــا[۳۰۱]

خوشحال خان خټک ته په سوات کې د ملا له لاسه مشکلات پېښ شوي وو، نو ځکه هغه په ملا زيات بحث کړی دی. په سوات کې به ميا، ملا او ستانه دارو ته پښتنو سبرۍ ورکولې، په دې باره کې خوشحال خان وايي:

کـــوم مـــلا چـــې د ميـــا نـــور پـــه حکـــــم درومـــي
هـــم هغـــه د ســـوات پـــه ملـــک کـــې ســـبرۍ مـــومي[۳۰۲]

عبدالعظيم صواتی وايي چې که ملا ته فيصله لاړه شي، نو هغه هم په بډو رشوتونو فيصله کوي، لکه چې وايي:

مومنـــــانو زړونـــــه صـــــاف کـــــړئ لـــــــه نفاقـــــه
پـــه اخـــلاص اوکـــړئ د خـــدای پـــه رضـــا صـــلح

کـــه تـــه پرېـــې تـــا بـــه وړکـــړه کـــه څـــه ورکـــړې
ملايـــان کـــا پـــه يـــو چـــرگ پـــه حلـــوا صـــلح[۳۰۳]

د ملا د کار او د هغه د اړې (معاوضه) په باره کې مخدوم تصدق احمد ليکي چې د ملا کار مذهبي تعليم حاصلول او د هغې تشريح کول دي. هغه د ورځې پينځه وخته بانگ وايي، د امامتۍ مونځ ورکوي، نکاح او جنازه کوي.د دې په بدل کې هغه ته نقدې روپۍ يا په هاړ مني غله دانه ورکولی شي.[۳۰٤] مخدوم تصدق احمد وايي هر سړی ملا، پير، اخوند يا ستانه دار جوړيدی شي که هغه ډيره پرېږدي لږ علم حاصل کړي او يو څو کاله مسلسل په پابندۍ د مذهب په اصولو عمل وکړي.[۳۰۵]

خانان ملکان

د سوات په معاشره کې له مذهبي خلکو، يعنې پيرانو او مليانو نه علاوه بل اهم کردار د خانانو ملکانو پاتې شوی دی. دغه وجه ده چې د سوات په ادبياتو کې د خانانو ملکانو د کړو وړو ډېرې حوالې موندل کېږي، په ځانگړي ډول د پښتو په زمانه کې د خان ملک کردار ډېر اهم پاتې شوی دی. د سوات په ټولنه کې د خان د ټولنيز مقام اندازه د ميا کريم داد له دې شعر نه لگي:

ســــــاه نائـــــــب ارواح ئـــــــــی خـــــــان دی
پـــــــــاک اللـــــــــه د دوی بادشـــــــــاه دی[۳۰٦]

د سوات د يو بل شاعر خيري له دې شعر نه هم د خان د حيثيت اندازه کېږي:

خـــيری د هغـــه چـــا نـــوکر دی چـــې زوال نـــه لـــري
د نيمـــې ورځـــې نـــوکري د خـــان نـــواب څـــه کـــووم[۳۰۷]

د خان ملک يا د قبيلې د سردار او مشر به يو توغ و " د سردارۍ توغ" اصطلاح په مخزن کې هم راغلې ده .[۳۰۸]دوست محمد خان دوستي هم توغ په دې شعر کې استعمال کړی دی:

ابـــراهيم تـــه يـــې ويـــل څـــوک يـــې هلکـــه
تـــه چـــې وائي بـــت خانـــه بـــه کـــړم کســـکر
داســـتا تـــوغ لـــه کومـــه وخـــوت د اســـمانه
تـــه زمالـــه زور قـــــــوت نـــه يـــې خـــبر[۳۰۹]

محمد اکبر هم د خپل وخت له خانانو نه په دې الفاظو سره ټکوي:

چــــې خـــاني مـــيري د غلـــو شــــوه غـــاړه اوشـــــوه
لارمـــــې ټپـــه د درتلـــو شـــوه غــــــــاړه اوشــــوه
هغــــه لاره چــــې خــــالي لــــه خريـــز و خـــار وه
اوس بردمــــه لـــه ازغـــو شــــوه غـــاړه اوشــــوه[310]

او دوست محمد خان دوستی خاناتو ته نصيحت کوي چې ډېر ناز او غرور مه کوئ:

مـــــــــه نـــازيږئ پـــه خـــانی پـــه بادشـــاهت
خـــلاص بـــه نـــه شـــئ پـــه دې بانـــدې پـــه قيامـــت[311]

خوشحال خان خټک د سوات د خانانو ملکانو په باره کې دا شعرونه ويلي دي :

ملکــــان شــــېخان همـــــــــــه واړه سره شــــول
د خپـــل لـــوري ننـــګ يـــې واخســـت مســـخره شـــول[312]

ملکــــان پـــــه ننـــګ د خپـــــل لــــوري ولاړ وو
عالمـــــان شــــېخان پــــه نـــور عضـــو ولاړ وو[313]

ملکان د خلکو تر مينځ روغې جوړې هم کوي او مسئلې حل کوي:

چـــې دعـــوٰی د چـــا پـــه ميـــنځ کـــې شي بنيـــاده
ملکــــان يـــې سره ژغـــوري لـــــــــــه فســـاده[314]

خو خوشحال وايي، چې ملک انصاف نه کوي، خو فيصلې په لالچ کوي:

کـــــه مظلـــوم چـــرې ملـــک وتـــــه داد خـــواه شي
چــــــــې يـــوه روپـــی بـــل ورکـــا روســـياشي[315]

له چا سره چې به ډله مضبوطه وه او ملګري به يې ډېر وو هغه به ملک جوړېده:

کـــــار يـــــې ځکـــــه مســــخره حبطـــه ســـپک دی
څـــوک چـــې زيـــات دی پـــه تپـــه هغـــه ملـــک دی[316]

د خوشحال د تنقيد غشي د سوات په ملکانو هم تېز ورېدلې دي، لکه چې وايي:

ملکـــــان د يوســـــفزيه لکـــــــــه خرونـــــه
پــــه ګنـــــدګی سره لــــړلي خلـــــــې سرونـــــه
نـــه يـــې علـــــم نـــه دانـــش نـــه فهـــم پوهـــه

خـــــو دوســـــــتۍ د دروېـــــــزه بانـــــــدې انبوهـــــــه[۳۱۷]
ملكـــــان خانـــــان يـــــې كـــــل واړه خـــــران دي
عالمـــــان شـــــېخان يـــــې واړه جـــــاهلان دي[۳۱۸]

ايچ ـ ډبليو ـ بيليو ليكي چې ملك د قبيلې د مشر يا خان ماتحت وي، خاني او ملكي په وراثت كې مېلاوېږي،خو په هغه صورت كې دا له وراثت نه ووځي چې كله د خانۍ ملكۍ وارث ذهني يا جسماني مريض وي يا د هغه كردار په ټولنه كې داغدار وي، خو د لوړې حوصلې او قابليت واله كس څوک هم دې مقام ته له رسېدو نه، نه شي منع كولی. دوی به د خپلې قبيلې يا ډلې د ښيګړې لپاره كار كوي او د عام ولس د خواهشاتو خلاف څه فيصلې نه شي كولی.[۳۱۹]ځينو خانانو ملكانو له خلكو سره ډېر زياتي هم كول او له دوی نه به يې په زور هر څه اخستل. په دې اړه د مېجر راورټي رالېږلی قندهاري د سوات د درشخېلې كلي د يو خان په باره كې ليكلي، چې دغه ملك له ما نه زما كپړې په زور اخستل غوښتل او ملا دا غوښتل چې زما په لاس كې موجود كاغذونه وګوري.[۳۲۰]

قام پرستي (ذات پات)

په سوات كې اكثريت پښتانه اوسېږي چې په ختهٔ يوسفزي دي، چې بيا لاندې ګڼ شمېر خېلونه لري. له دوی علاوه دلته كوهستاني، ګوجر، مياګان، سيدان، او نور هم ډېر قامونه اوسېږي چې د هغوی ذكر په درېيم باب (د سوات لنډ تاريخ) كې شوی دی. دلته به مونږ د سوات په پښتو ادب كې د دې نسلونو او ذات پات په باره كې بحث كوو او دا به ګورو چې په ادب كې يې دوی ته په كوم نظر كتلي دي.

اخون دروېزه په مخزن الاسلام كې د قيامت د ورځې د بيان په سلسله كې ليكي چې په هغه ورځ به د نسب پوښتنه نه وي او نه به دا تپوس كوي چې ته زوی د چا يې او لور د چايې. په دغه ورځ به د عمل پوښتنه كېږي د هر چانه كه څوک سيد وي كه عالم وي.[۳۲۱] همدغه خيال اخوند قاسم پاپين خېل وړاندې كړی دی، هغه وايي چې په قيامت به بې عمله يو سړی په نسب نه خلاصېږي او دلته د قرآن كريم يو آيت هم راوړي چې ترجمه يې داده: "چې اسرافيل شپېلۍ پوک وهي نو بيا به د نسب پوښتنه نه وي." او په حديث كې راغلي چې يو سړی په خپل عمل خلاص نه شي نو په نسب به نه خلاسيږي،كه سيدان شريف زاده ګان وي خو هغه به هم بغېر له عمله نه خلاسيږي.[۳۲۲] حافظ الپوری وايي چې د چا اولاد بد كرداره وي، نو د هغه مور وپلار هم خلک په بدو يادوي:

د نـــــا اهـــــــــل مـــــور و پـــــلار پـــــه بـــــدیادیږي
چـــې والـــد یـــې پـــه نېـــک نـــام ملقـــب نـــه دی[۳۲۳]

پښتانه د قام پرستۍ قایل دي او په خپل ذات او حسب نسب ډېر فخر کوي.[۳۲٤] د قام پرستۍ دا نخښې د عبدالعظیم صواتي په دې اشعارو کې لیدل کېږي:

د دنیـــا نـــاوې بـــه بیـــا پـــه نکـــاح نـــه کـــــــړم
کـــه پښـــتون عبـــدالعظیم یـــم پـــه نســـب کـــې[۳۲۵]
پـــه گفتـــه بـــه یـــې هـــر گـــز بـــاور اونـــه کـــړم
کـــــه رښـــــتیا یـــــم چـــرې ځـــوی د پښـــــتانه[۳۲٦]

خو عبدالعظیم صواتی دا هم وایي:

مـــا چـــې کـــړی خپـــل نســـب تـــه اشـــارت دی
هســـې نـــه چـــې مـــې غـــرض د عـــلویت دی
هـــر چـــې فخـــر پـــه خپـــل اب پـــه خپـــل نســـب کـــا
محـــــض دا د ســـــفیهانو سفـــــــــاهت دی
شرافـــت حـــــرمت پـــه مـــال پـــه نســـب نـــه دی
پـــه ایمـــــــان د مومنـــــانو شرافـــت دی
چـــې تغـــیر تبـــدیل کـــوي پـــه خپـــل نســـب کـــې
دغـــه کـــس پـــه نـــزد د شرعـــې مـــــلامت دی
مجهـــــول والـــی د نســـب چـــې بـــد شـــنیع دی
ځکـــه کـــړی ځـــای پـــه ځـــای مـــې دلالـــت دی
اعتبـــار څـــــوک پـــه مجهـــول نســـب نـــه کـــا
ډېرناکـــــاره د نســـــب مجهـــــــــولیت دی
خـــدای مـــې اوســـاته لـــــه کبرلـــه لـــویۍ نـــه
پـــه اظهـــــار کـــې مـــې بیـــان د حقیقـــت دی[۳۲۷]

احمد دین طالب د پښتون قام پرستۍ په اړه داسې وایي:

هـــر ســـړی بـــه پښـــتون ووائي خپـــل ځـــان تـــه
لکـــه چتـــی بـــه پښـــي اونیسيــــ اسمـــــان تـــه
مگـــر کـــــچ کلـــه د تشـــو شـــو ملـــــوخیژي

کـــه ورگـــډ يـــې منـــداڼو کـــــــړي درميـــان تـــه
پـــه دا څـــه شـــول کـــه يـــې مـــخ د منـــزري دی
منـــــزری نـــــه شاکـــــــوي د جنـــــگ مېـــدان تـــــه[۳۲۸]

د ذات پات په باره کې احمد دين طالب داسې وايي:

ديـــاری وعـــده کـــــــوي وفـــا پـــرې نـــه کـــړي
کـــــه پښـــتون وي پـــه صـــفت د ســـامري شي[۳۲۹]
کـــه لقمــــان د زمـــانې وي پـــوخ بـــه نـــه کـــړي
د کــــــــــــــــم ذاتــــو د يـــاری پېونـــد کچـــــه[۳۳۰]
پـــه دولـــت پـــه محبـــت کلـــــــــــه خپليـــــږي
چـــې پـــه ذات نـــۀ وي اصـــل د پـــلار و مـــوره[۳۳۱]

خو دلته بيا يو دم له نسب نه واوړي او خبره عمل ته راولي:

د عمـــــل تعـــــــــريف دې وايـــــه نســـب څـــــه دی
د دې بـــې مطلـــــب لبـــاس نـــه مطلـــب څـــه دی
چـــــې تصـــــديق د چـــــا د شرعـــــې مخـــــالف وي
بـــې اســـلامه عجـــــم څـــــۀ دی عـــــرب څـــــه دی[۳۳۲]

کار کسب او پېشي

د کر کرونديې لپاره د سوات زمکه ډېره زرخېزه ده، نو ځکه دلته له ټولو نه لويه پېشه کرکيله ده. له دې علاوه څاروي ساتل، دکانداري او تجارت کول، کولالي، صرافي، (زرگري)، اينگري (اهنگري)، پراچه توب، طبابت او نور کسبونه هم خلک کوي. ډمان هم دلته شته چې د هغوی خپله يوه پېشه ده، چونکې کرکيله له ټولو لويه پېشه ده ځکه د سوات په پښتو ادب کې د دې ذکر ډېر راځي:

کرکيله

د سوات د اتلسمې پېړۍ يو شاعر محمد اکبر په خپل يو کلام کې د کرکيلې پوره نقشه راښکلې ده:

چې میشته په کوکارۍ وي قرار نه وي
همېشه له اتڼو ستړووزګار نه وي
په موسم د شالیزارو سرګشته وي
هر روزګار یې په ترا د روز ګار نه وي
په ورځ وار د ابوکه په چغهر وي
په شپه څوک وي چې به غم پرې انبار نه وي
شوګیرې د شپې کوي په ملک به ګرځي
هیڅ یې پوهه په خریزونو په خار نه وي
له خواره اشنایې سترګې نااشنا وي
د ابو په وار یې پوهه په یارنه وي
یوله بله سره غلا د ابو کاندي
هیڅ باور یې په خپل زوي او په پلار نه وي
که اشراف یې غلا کولې د ابو شي
دغه غلاور ته په فکر کې عار نه وي
په حساب چې لاندې باندې شي له بله
خوي خصلت یې د اشراف د سردار نه وي
صبر نه کا په ویلو په کنځلو
د عزیز سره رټل کا راهدار نه وي
زر ازاره زر ښېرې په ورځ کې اخلي
پیر ملا یې په وربشه په کار نه وي
په قبرونو حلاله کوي د پسونو
ته ګمان پرې مه کوه چې مردار نه وي
چغهر به د ګوجرو په قلنګ کا
بې حرامو یې بل رنګه وپارنه وي
د کوټې قلنګ یې بیل د مزکې بیل وي
بې له وبشه یې بل رنګ سریکار نه وي
له هغو خلقو په تېښت ووځه اکبره

چـــــــــــــې پـــرواه يـــې پـــه غضـــب د جبـــار نـــهٔ وي[۳۳۳]

د اوړي پـه موسـم کـې پـه اوبـو شرونـه کـول هـم يـوه داسـې مسـئله ده، چـې شاعر ورته اشاره کړې ده. رحمان بابا هم په دې په باره کې دا شعرونه ويلي د:

د ابـــــو پـــــه غـــــلا چـــــې ورشي نـــــه جـــــاروونځي
کـــــــه ســـــــاکن د خانقـــــــاه او د محـــــــراب وي
د ابـــــو پـــــه ويـــــش چـــــې ورشي انصـــــاف نـــــه کـــــا
کـــــه پـــــه لاس يـــــې ورقونـــــه د کتـــــاب وي[۳۳٤]

د سـوات پـه ټولنـه کـې د اوبـو پـه وار او تقسـيم اکـثر جنگونـه کېـږي او دا سلسله له پخوانۍ زمانې راهيسې راروانه ده، چې تر دې دمه دوام لري.

ايـچ ـ ډبليـو ـ بيليـو هـم وايـي چـې د يوسـفزو ټـول دارومـدار پـه ځـاورو سـاتلو او کرکيله باندې دی [۳۳۵] او بيا مخکې داسې ليکي :

Since their arrival in these parts they have been a fixed population, wholly devoted to the culture of the soil and the tending of their cattle.[۳۳٦]

ترجمه:دې علاقو ته د دوی له راتگ نه راپه دېخوا، د دوی د ابادۍ يو خاص تعداد دی چې کرکيلې او ځاروو ساتلو ته يې ځان وقف کړی دی.

خوشحال خان خټک په سوات کې د کرکيلې په باره کې داسې وايي:

پـــه هـــر کلـــي پـــه هـــر کـــور کـــې يـــې ولـــې ځـــي
هـــم يـــې خـــوري هـــم يـــې هرلـــوري تـــه غلـــې ځـــي
نـــه پـــرې لار شـــته نـــه بـــل کـــار شـــته نـــه بـــل ســـود دی
خـــو يـــو کـــنج گوښـــه لـــه خلقـــــــــو غلـــه بـــود دی[۳۳۷]

او په بل ځای کې داسې وايي:

پـــه درســـت کـــال يـــې گـــوتې نـــه خيـــژي لـــه کـــاره
بـــو تيمـــــــــــــــار دي د ابـــــو پـــــه شـــــاليزاره
يـــا د ســـوات خـــاورې گنـــده پـــه کـــار دکشـــت دي
يالـــه ځايـــه يوسفـــــــــــــزيه بـــد سرشـــت دي[۳۳۸]

د اخون کريم داد وراره عبدالحليم په خپله الف نامه کې هم د کرکيلې اصطلاحات

استعمال کړي دي هغه وايي:

د شيطان قلبه ده ګډه
د زړه پر ملک دغه کور خوړي
د دنيا وراسته تخمونه
د زړه پټې لره راوړي
څوک بې رنګه دهقاني کا
څوک سوال کاندي څوک لوړي[٣٣٩]

احمد دين طالب هم زميدار ته وايي چې د فصل په وخت کې ناراستي نه ده په کار:

چې د فکر په غلبېل خبره چاڼ کړم
د مطلب په نخښه هله کړم ګزارست
سستي ښه ده خو تر خپله وخته ښائې
نه چې فصل نه غافل شي زميدارست[٣٤٠]

او د دهقان د سستۍ ذکر محمد اکبر داسې کوي:

هغه کشت به نه د لاس نه دلاره وي
چې دهقان شي په موسم د پشکال سست[٣٤١]

حافظ الپورۍ هم ځای پر ځای د کرکيلې اصطلاحات استعمال کړي دي، لکه دا شعرونه:

جوړه شي رشه لکه ښه ناوې سهم داره
ګډ پرې د قسمت اوړی سمسار د بيلتانه کا[٣٤٢]
ای په خدای قبولو ملول بال ځما خوشحال کړئ
پروت لکه خو شه يم د غمونو و دياس ته[٣٤٣]

په دې پاسني شعر کې، خو شه د فصل د دانو وړي او دياس غوبل ته وايي:

کر چې دهقان او که خرمن ډک له غلې واخلي
نه دی چا اغستی خرمن بې له جرثه کشته[٣٤٤]

عبدالعظيم صواتي هم په دې شعر کې د رشې لفظ استعمال کړی دی :

که په زړه زما د غم رشې پرتې وي
له ضروره مې ريبار ته وخندل بيا[٣٤٥]

عبدالعظیم صواتی د دهقان د سخت ژوند په باره کې داسې وايي:

دهقـــــان چـــې رشـــــې پورتـــــه کـــــړي اوزګـــــار شي
هالـــــــه دوي د ديــــــــن وکـــــــارو تــــــه بېــــــدار شي
غوايـــــان مېښـــې چـــې پـــه شـــنو کـــه پـــه پسرــــلي کـــې
څـــه بـــه مـــونځ کـــــا چـــې لـــه ســـوتو يـــې روزګـــار شي
دهقانــــــان کـــــه سرګــــــــــــــــردان وي تمـــــام عمـــــر
خــــو دادرې مياشــــــتې بـــې حـــــــده ناقــــــــرار شي
کـــه دې ډېـــر يـــــارو اشـــــنايا کــــــــــه دې خپـــــل وي
دې ايــــام کـــې نـــه بـــه خپـــل نـــه بـــه دې يـــار شي
ډېـــر ســـتومان يـــې پـــه دفـــــــــــن پـــه ښـــخول وي
کـــه يـــې مـــړه پـــه دې ايـــام کـــې مـــور و پـــلار شي
کـــه فـــرض نمـــــونځ يـــې شي قضـــا پـــروا يـــې نـــه وي
زړه يـــې چـــــــوي چـــې يـــې قضـــا د دنيـــا کـــار شي
مصـــيبت لـــــــــــــه عبـــادت نـــه څـــه کـــم نـــه دی
خـــداى شي يــــاد د ســـړي هلـــــــه چـــې بـــيمار شي
چـــــې موصـــــوف پـــــه دې صفــــــــاتو دی عظيمـــــه
زمينـــــدار ســـړی بـــه کلــــــــــــه دنيـــا دار شي[٣٤٦]

مخدوم تصدق احمد په سوات کې د کرکيلې د حصه دار ، يعنې دهقان، برخې خور او نورو په باره کې داسې ليکي:

Some of the Pakhtuns having small holdings cultivated the land themselves. This was known as pakhpala karal. Others with large holdings gave them to the dehqans and fakirs for cultivation.[٣٤٧]

ترجمه: ځينې پښتانه چې لږ جايداد لري هغه زمکې پخپله کري، دې ته پخپله کرل وايي او نور هغه پښتانه د چا چې زمکې ډېرې وي هغوی زمکې د کروندې لپاره دهقانانو او فقيرانو ته ورکوي.

چې قلبه، تخم او نور د زمکې د مالک وي او صرف په فصل (غله) کې پينځمه حصه دهقان ته مېلاويږي دې ته دهقاني وايي او چې قلبه د دهقان وي او تخم نيم په دهقان

وي او محنت ټول دهقان کوي، نو په غله کې به نيمه اخلي، دي ته بيا برخط خور وايي، يعنې زمکه په برخه يا په نيمه ورکول. دغه رنګ د زمکې په عوض کې يو خاص مقدار د غلې د زمکې مالک ته ورکول دې ته اجاره وايي. که د زمکې مالک ته چې کومې نقدې پېسې ورکړل شي هغې ته هم اجاره وايي، خو په عمومي توګه د زمکې په عوض کې د فصل په حساب نغدو پېسو ورکولو ته قلنګ وايي.

خاروي ساتل

دلته خلک ګډې بيزې او غوا مېښې ساتي. ګډو بيزو ساتونکو ته شپونکی وايي. اخون کريم داد په مړي د ژړا په ضمن کې په يو شعر کې شپۀ (شپون) او غوبه داسې يادوي:

دی بـــــه پـــــه خرســـــور شـــــوی نـــــه وي
دوی بـــــه هســـــې وائي فلانکـــــی ســـــور وه د نيلـــــی
دی بـــــه شـــــپه يـــــا بـــــه غـــــو بـــــه وي
دوی يـــــې ســـــتا يـــــې پـــــر ملکـــــی[۳۴۸]

حافظ الپوری په يو شعر کې شپون داسې يادوي:

زيـــان لـــه ديـــن د چـــارو ابلـــيس کانـــدي لـــه سســـت کـــارو
شـــپون چـــې تهـــاون کـــا شرمـــخ وړي تـــرې رمـــې بـــزي[۳۴۹]

محمد اکبر د بيزو کنډک په يو شعر کې داسې يادوي:

دا ســـــتا لـــــه دره بـــــه پانـــــه ثمـــــه د سر پـــــه خطـــــر
کـــــه شـــــاه جهـــــان ورسره راشي امرګـــــان ورسره
د غـــير اللـــه مينـــه بـــه ســـتا لـــه مينـــې يـــو کلـــه شي
چـــا بـــه کنـــډک د بـــزو ليـــدلی وي ګرګـــان ورسره[۳۵۰]

احمد دين طالب څه دا رنګ ګويا دی:

او چـــه مېخـــه بـــه شـــوده چـــرې درنـــه کـــړي
خلاصـــــوې پـــــرې خلـــــه بـــــار د پنـــــدانې[۳۵۱]

ښکار

په سوات کې قدرتي ځنګلونه، خوړونه او د سوات مشهور سيند موجود دي. د دغو

قدرتي جغرافيايي عواملو په وجه سوات د ښکار لپاره په هر دور کې مشهور پاتې شوی دی. دلته له هر قسمه مارغانو نه واخله تر ځنګلي ځناورو او مهيانو پورې ښکار خلک کوي. خوشحال خټک وايي:

درې ځيزونـــــه مـــــې د ســـــوات د زړه پـــــه يـــــاد وو
نـــور يـــې هـــر څـــه پـــه حســـاب وماتـــه بـــاد وو
يـــو ســـخران چـــې پـــه حضـــور د واده کـــار دی
بـــل هـــوا تـــر نـــرګس زار درېـــم يـــې ښـــکار دی[٣٥٢]

د ښکار لپاره ښکاري داسې جامې اغوندي، چې د ښکار د ځناورو د رنګ په شان وي چې د ښکار ځناور ترې تبنتي نه. د ښکار دې لباس طرف ته د کريم داد په دې شعر کې اشاره شوې ده:

عاشـــــق صـــــيدوه شـــــاه صـــــياد وه
دګـــر ګـــون لبـــاس يـــې واغوســـت ورپســـې شـــۀ[٣٥٣]

ښکاريان د ښکار لپاره ښکاري سپيان هم ساتي. احمد دين طالب په يو شعر کې د ښکاري سپي ذکر داسې کوي:

د بـــې مهربـــې وفـــا کـــم اصـــل يـــار
دی مثـــال د هغـــه ســـپي چـــې کـــوي ښـــکار
کـــه د ښـــکار صـــفت يـــې وي خلـــق يـــې ســـتائي
چـــې کوتـــه شي نـــه يـــې مـــرګ وي نـــه يـــې مـــار[٣٥٤]

د سوات د ښکار په باره کې بل ځای خوشحال خان داسې وايي:

کـــه بـــل ښـــکار د ســـوات پـــه ملـــک کـــې پـــه مقـــدار دی
پـــه هـــر لـــوري يـــې تـــل دل د زرکـــو ښـــکار دی
مرغـــاو يـــه يـــې د ســـيند تـــرسرو پاشـــته
د نـــا اهلـــو د ټوپکـــو پـــري غوغـــا شـــته
هـــم ګـــاوزې، بيـــزې، سرڅې هـــم کوتـــاه پـــائ
امـــا ورکـــې کـــړې تـــو پچيـــانو څـــه بـــه وائـــې[٣٥٥]

مرجونړا

د سمندر غوطه خور یا غواص ته مرجونړا وایي، دی په سمندر کې غوپې وهي او ملغلرې راوباسي . اخون میاداد په دې شعرونو کې د مرجونړا یا دونه کړې ده:

هغــــه زړه دریـــــاب (د درو) عـــــارف یـــــې مرجونړـــــا دی
او هغـــه لـــه دریابـــه در غـــواص راوړه پـــه نـــن ورځ[356]

هغـــه دې طالـــب مرجونړـــا چـــې پـــه دریـــاب غوټـــه کـــړه
ځکـــه لـــه صـــدف یـــې راوښـــکه ســـپینه ملغلـــره[357]

در د دریـــاب دي خونـــدي شـــوي د کامـــل پـــه زړه کـــې
او مرجونړـــا در وکـــاږي لـــه هـــره نفســـه[358]

زه مرجونړـــا د زړه لـــه بحـــردر ولعـــل وکـــاږم
د توحیـــد پـــه دریـــاب ډوب در و گـــوهر وینمـــه[359]

او هغـــه دا زړه دریـــاب او عـــارف یـــې مرجونړـــا دی
لـــه دریابـــه راوکـــاږي مرجونړـــا درونـــه[360]

مرجونړـــا یـــې او د نفـــس پـــه ویاســـته در وکـــاږي
پـــه قیمـــت یـــې د ثـــواب در و گـــوهر نـــه رسي[361]

زه مرجونړـــا د زړه لـــه بحـــره درلعـــل وکـــاږم
او هـــر غـــواص یـــې وښـــکی نـــه شي لـــه بحـــار چـــري[362]

مرجونړـــا چـــې د توحیـــد لـــه بحـــره در وکـــاږي
در لـــه قـــدره بـــه بادشـــا نـــور بـــه اکـــثر نـــه وینـــي[363]

د زړه لـــــه موجــــــه راوکـــــــاږم ســــــپيني ملغلـــــرې
غـــه مرجونـــا بـــه لـــه دريابـــه چــــې راوړې نــــه وي[٣٦٤]

اخون درويزه هم په مخزن کې مرجونا د علامت په طور استعمال کړی دی، وايي چې د درويزه خبرې در دي هغه مرجونا به يې وکاږي چې په حق وي پوهېدلی.[٣٦٥]

دکاندار

دکانداري يا تجارت هم يوه مهمه پېشه ده. دکان ته هټۍ هم ويلی شي او دغه رنګ دکاندار ته هټيوال وايي. د سوات په پښتو ادب کې د دکاندارۍ ذکر هم موندل کېږي. احمد دين طالب وايي چې ياري او دکانداري دواړه نه کېږي:

اول مــــــــه کـــــــــړه د دنيـــــــــا دکانــــــــــداري
او کـــــه کــــړې نــــو د هېڅــــا مـــــه کـــــړه يـــــاري
کـــــــــه يـــــــــاري دکانــــــــــداري دواړه کيـــــــــدلې
د هــــــر چابــــــه شــــــنده مېخـــــــه وه بـــــــــاري[٣٦٦]

او د هټيوال يا دکاندار ذکر داسې کوي:

ميـــــــا مــــــلا لــــــره خــــــيرات زکـــــوٰة عــــــزت دی
پــــــه ســــــودا د ســــــوداګر هټيــــــوال خــــــوښ وي[٣٦٧]

عبدالعظيم صواتی هټ يا هټۍ داسې يادوي:

د نېـــــک خـــــو يـــــو پـــــه دکــــــان عــــــالم رادرومــــــي
پـــــه ځنـــــګ درومــــــي د بــــــدخويو خلـــــق لـــــه هــــــټ[٣٦٨]

خوشحال خټک هم د سوات د تجارت او دکاندارۍ يادونه داسې کړې ده:

پـــــــول پيســـــــه پکـــــــې د واړو ديـــــــن مـــــــذهب ده
انديشـــــــه يـــــــې خـــــــود د ســـــــيم او د ذهـــــــب ده
چــــــې يــــــوه پيسـه پــــــه څــــــه نوعــــــه دوه کيــــــږي
هــــــم هغــــــه کــــــا، هــــــېڅ پــــــه بلــــــه نــــــه پــــــوهيږي[٣٦٩]

بـــــــائيزي ئـــــــې روزګـــــــار کانـــــــدي چــــــې ســـــــيالان دي
خواجـــــــوزي يـــــــې نـــــــور څـــــــه نـــــــه دي بقـــــــالان دي[٣٧٠]

بنيا دکاندار ته وايي خو هغه دکاندار يا هغه کس چې په سود روپۍ ورکوي هغه ته

هم بنیا وايي. د سوات په پښتو ادب کې د بنیا لفظ هم استعمال شوی دی، لکه په دې شعر کې:

کرنېـــــــــل قـــــــــرض روپـــــــــۍ واغســــــــتې لـــــــــس زره
د بنیـــــــــا نـــــــــه پـــــــــه نېټـــــــــه تـــــــــر مـــــــــازیګره[۳۷۱]

له دې حوالو نه په سوات کې د بنیا او د سود د قرضو اندازه لګي.

حلوائي

د سوات په پښتو ادب کې چې د پېشو ذکر کېږي، نو حلوائي پکې هم یاد شوی دی،لکه دا شعر:

زړونـــــــه بـــــــې لـــــــه سرولبـــــــانو پېنـــــــډه نـــــــه کـــــــا
د مچـــــــانو ټولـــــــه تـــــــل پـــــــه حلـــــــوائي وي[۳۷۲]

چوهاړی، حجام او دړوايي هم په دې شعرونو کې یاد شوي دي:

ســـــــتا قبـــــــول بـــــــه کـــــــل شـــــــاهان بـــــــا لا نشـــــــین شي
چوهـــــــاړی وي کـــــــه حجـــــــام کـــــــه دړوایـــــــي[۳۷۳]

پـه شـاعرۍ کـې لـه دې حوالـو نـه د سـوات د تهـذيب يافتـه ټـولنې پتـه لګـي پـه کومه کي چې له هرې پېشې او شعبې سره تړلي خلک موجود وو.

کلال

هغه کاریګر چې له خټو خاورو نه لوښي جوړوي هغه ته کلال وايي. په سوات کې دا پېشه خپل یو زوړ تاریخ او روایت لري، په ځینو کلیو کې خو د دې پېشې خلکو باقاعده د یو نسب شکل اختیار کړی دی. میا داد په دې شعرونو کې د کلال ذکر کړی دی:

کلالــه ده شــهۍ کلالــه ده لــه ځنــې خــوښ پــه چــا ملالــه ده
ځینــې رغیــږي ځینــې مــاتیږي خلــق لوښــي محبوبــه کلالــه ده[۳۷۴]

زړه مـــــې پجـــــه ده د اوم خـــــام لوښـــــو اومـــــه پرتـــــه ده
د عشـــق پـــه اور یـــې پخـــوم اوس یـــې کـــلال زۀ شـــومه[۳۷۵]

کله چې یو کلال له خاورې نه لوښي جوړوي، نو دا له مختلفو مرحلو نه تېرېږي.

دوست محمد خان دوستی د کلال د لوښو جوړولو مختلفې مرحلې داسې بیانوي:

په نــن ورځ کــې بــه خــو شــته شي دغــه خــاوره
ســـــبانۍ ورځ کـــــې بـــــه تـــــرشي تـــــه واوره
پـــــه دربمـــــه ورځ بـــــه جـــــوړه کـــــړم ای ځوانـــــه
بیـــــا بـــــه یـــــي وچـــــه کـــــړم پـــــه ســـــوري واوره مانـــــه
څلورمـــــه ورځ بـــــه یـــــې وچـــــه کـــــړم پـــــه نمـــــر
د هغـــــه پـــــورې چـــــې شي ښـــــه مـــــازیگر
پـــــه پینځمـــــه ورځ بـــــه کـــــړم تـــــرې اور چـــــاپېره
د ماښـــــامه بـــــه پکـــــې وي زمـــــا شـــــېره
چـــــې ښـــــه سره شي پـــــه اتـــــش بانـــــدې احبابـــــه
نـــــور بـــــه ورشـــــمه پجـــــې تـــــه د شـــــتابه
پـــــه تـــــادۍ سره راوابـــــه یـــــې خلـــــم د اوره
پـــــه شـــــپېږم ســـــحر بـــــه یـــــې در وړمـــــه ای وروره[376]

د کلال ذکر د احمد دین طالب په دې شعرونو کې هم شوی دی:

لعـــــل جـــــام یـــــې د سرولبـــــو راپـــــه خلـــــې کـــــړه
منـــــت څـــــه لـــــه د کـــــلال د کنـــــډولي کـــــړم[377]

احمـــــد دینـــــه خلـــــق دې ډېـــــر ناپوهـــــه بـــــولي
ځـــــان ناپوهـــــه ســـــوداگر کـــــړه کـــــلال نـــــه شـــــي[378]

د احمد دین طالب له دې شعر نه پته لگي، چې کلالان په خپل کاروبار کې ډېر پوه وو او دغه شان د خپلو مصنوعاتو په تجارت کې هم ښه هوښیار او چالاک وو.

اینگر، زرگر، جولا

په فوائد شریعت کې هم د یو څو پېشو ذکر شوی دی، لکه صرافي، جوهر کشي[379] جولا[380] او نورې. حافظ الپوری په یو شعر کې د اهنگر (حداد) او صراف (زرگر) ذکر داسې کوي:

در گـــوهر بالـــه شـــوم اوس مـــې قـــدر قيمـــت ورک شـــه
نشـــته جوهريـــان گيلـــه بـــه څـــه کـــړم لـــه حـــداده[381]

په دې لپاسني شعر کې دې متل ته هم اشاره شوې ده "د زرو قدر په زرگرو هسې نه چې په اينگرو دروزگرو" د صراف يا زرگر ذکر احمد دين طالب په يو شعر کې داسې کوي:

د رســـمي پاســـې ښېتـــې پـــه فـــرق پـــوهيږي
صرافـــان چـــې پـــه مخـــک اوينـــي گـــاس[382]

پـه دې شـعر کـې هـم د صرافـانو د قابليـت او پـه خپـل هـنر او کسـب کـې مهارت او قابليت ته اشاره شوې ده چې دوی په معمولي فرق هم پوهېږي.

شاخېل او خاکروب

لکه د نورو پېشو په شان خاکروب او شاخېل پېشې هم په سوات کې موجودې وې، ځکه يې د سوات په پښتو ادب کې حوالې موندل کېږي. احمد دين طالب د شاخېل او د خاکروب يادونه داسې کوي:

بـــې وفـــا معشـــوقې کلـــه واده کيـــږي
د شـــاخېل پښـــتنه اوکـــړه د خـــاکروب[383]

حسېن په خپلو شعرونو کې د شاخېل يادونه داسې کړې ده:

پـــه تـــش خـــوراک يـــې تسـلي زمـــا د زړه نـــه کيـــږي
شـــاخېل د هجـــر ورتـــه پـــروت دی پـــه تســـمو وخکـــو کـــې[384]
ښـــه خصـــلت د شـــاخېل لويـــه مرتبـــه ده
څـــه پکـــار دی رزالـــه عـــالي نســـب [385]

لـه دې اخـري شـعر نـه دا پتـه لگـي چـې مختلفـو پېشـو او کسـبونو تـه هـم پـه سـپک نظـر کتـل کېـږي او خـبره تـر دې حـده رسـېدلې، لکـه څنگـه چـې وړانـدې ذکـر شول، چې ځينې پېشې له يو خاص نسب يا نسل سره تړل شوې دي.

مشکار

څوک چې بازان ساتي هغه ته مشکار وايي. محمد اکبر په يو شعر کې د مشکار لفظ داسې استعمال کړی دی:

د مشـــــکار پـــــه منګولـــــه کلـــــه قـــــرار کانـــــدي
هغـــــه بـــــاز چـــــې وي پـــــه خيـــــال کـــــې وهنـــــدی[386]

سنيار، ډم، ميراثي، پاړو

د سنيار، ډم، ميراثي، پاړو، کسبګر او نورو ذکر په لاندينو شعرونو کې شوی دی:

احمد دين طالب د سنيار ذکر داسې کوي:

چـــــې د عقـــــل يـــــې کنـــــډه پـــــه سر کـــــې نـــــه وي
تخمينـــــــي مـــــــوزون د داســـــــې ســـــــنيار نـــــه شي[387]

احمد دين طالب د ډم، پاړو او کسبګر ذکر داسې کوي:

مـــــاګمان پـــــه تاکـــــاوه چـــــې تـــــه پښـــــتون يـــــې
تـــــه پـــــه مثـــــل مـــــيراثي د تـــــيراه خوســـــت يـــــې[388]

په دې شعرونو کې هم په پښتون کېدلو يو فخر ښکارېږي او نورو پېشو ته په سپک نظر کتل شوي دي. حسېن د ډم ذکر داسې کوي:

ســـــتا د مينـــــې ربـــــاب ډم پـــــه ورانـــــه کېښـــــود
پـــــه نغمـــــو يـــــې چـــــاک ګريبـــــان شوســـــا لکـــــان ګـــــډ[389]

احمد دين طالب د پاړو ذکر داسې کوي:

چـــــې پـــــه ځنـــــګ کـــــې دې پـــــاړو د وصـــــال نشـــــته
د بېلتـــــــون ډنـــــــډارې ځـــــــه لـــــــه پـــــــاروې[390]

لا دې دم د چرمښـــــــــکۍ زده کـــــــــړی نـــــــــه دی
وړانـــــدې لاس نـــــه کـــــړې د مـــــار لـــــړم مســـــکن تـــــه[391]

حسين د پاړو ذکر داسې کوي:

هـــــيڅ ارام يـــــې د پـــــاړو پـــــه منـــــتر نـــــه شي
هـــــپ ځـــــوک ســـــتا د تـــــورو زلفـــــو ښـــــامار کـــــړه[392]

احمد دين طالب د کسبګر ذکر داسې کوي:

کســـــب ګـــــر چـــــې د تمـــــام کـــــلي خـــــدمت کـــــړي
د تمـــــام کـــــلي خـــــادم مـــــه ســـــاته جنـــــګ لـــــه[393]

د ریاست سوات له اول وخت، یعنې له ۱۹۱۵م نه مخکې د کسبگر په باره کې مخدوم تصدق احمد داسې لیکي:

The term Kasabgars may be translated as artisans. However, all artisans were not Kasbgars. This term was applied to the nai (barber), the ainger (blacksmith), the tarkan (carpenter), kakhai(Person who guards the village fields), though the mochi (shoe maker), the teli (oil presser), the jola (weaver) also existed but were not included in the group of kasabgars. The difference between those artisans who were known as Kasabgars, and those who were not known so, lay in their relationship to the Pakhtuns. The kasabgars migrated with the Pakhtuns to their new homes after every wesh, the Pakhtuns on the other hand did not employ any other Kasabgars. Payment for their professional services was not made in cash but either a piece of land was given to them or a fixed share in the harvest per plough was given to them twice a year. The teli, the mochai, the jola did not attach themelves to any group of Pakhtuns and worked independently, though the protection of some Khan or the Malak was a necessity. There were no qasahis (butchers) dhobis (washerman) and darzi (tailor). Women washed and stitched in the homes.[۳۹٤]

ترجمه: د کسبگر ترجمه هنرمند کېدلی شي، خو ټول هنرمندان کسبگر نه وو. د دې اصطلاح اطلاق به په نایي، ترکاڼ، کخي، موچي، تېلي او جولا باندې کېده. کومو هنرمندانو ته چې کسبگر ویلی شي او کومو ته چې نه شي ویلی د دې دواړو فرق له پښتنو سره د دوی د تعلق په بنیاد و. کسبگر به د پښتنو په نوي وېش کې له هغوی سره منتقل کېده او دغه رنگ پښتنو به نوي کسبگر نه نیول. د دوی د خدماتو په صله کې به دوی ته نغدې روپۍ نه شوې ورکولې، یا به د زمکې یوه حصه ورکول کېده او یا به د فصل په حساب په کال کې دوه ځله غله ورکول کېده. تېلي، موچي او جولا به ځان د پښتنو له یوې خاص ډلې سره نه تړه، بلکې ازاد کار به یې کوه. اگرچې د یو خان یا ملک تحفظ به ورله پکار و. قصابان، دهوبیان او درزیان به نه وو، ښځو به جامې وینځلې او گنډلې. یعنې کسبگر هغه

هنرمندان وو چې خپل کار کسب به يې ځان ته ازاد کولو او کومو هنرمندانو چې به ځان په يوې ډلې پورې وتړه، نو هغوی ته به پيسې نه شوې ورکولی او ورته به يې کسبگر وايه.

د نورو کلتورونو ذکر

لکه څنگه چې په درېيم باب کې په سوات کې د نورو کلتورونو او تهذيبونو ذکر شوی دی، نو دا معلومېږي چې اگر که دغه تهذيبونه څه وخت وروسته ختم شوي، خو د هغو اثرات لا اوس هم باقي دي؛ دغه وجه ده چې د سوات د پښتو ادب د وړومبي دور په کتابونو کې د پښتنو له کلتور نه بهر د ځينو نورو کلتورونو هم حوالې موندل کېږي،لکه دا:

زنار

د هندوانو له مرۍ نه چې کوم تار تاو وي هغې ته زنار وايي او د عيسايانو يا د مجوسيانو له ملا نه چې کوم زنځير تړل شوی وي هغې ته هم زنار وايي. په دې شعرونو کې د زنار ذکر شوی دی:

کـــه رقيـــب دی خـــوار هنـــدو زنـــار پـــه غـــاړه
خـــدای زمـــا پـــه ځـــان پښـــتون کـــه الغيـــاث[۳۹۵]
پـــه هـــر ځـــای چـــې عشـــق نغمـــه پـــه رښـــتيا او کـــا
هنـــدوان او شـــلوي لـــه شـــوقه زنـــا رونـــه [۳۹۶]

د ميا داد په دې شعرونو کې زنار ذکر شوی دی:

پـــه خپـــل کـــرم سره مـــې وڅکـــوه خپـــل درگـــاه تـــه
او د ميـــا داد پـــه غـــاړه خپـــل گنـــاه زنـــار مـــه کـــوه[۳۹۷]

دا د ظـــاهر خرقـــه دې عـــېن د دينـــدار وينمـــه
د خرقـــې لانـــدې پـــه غـــاړه دې زنـــار وينمـــه[۳۹۸]

د ميا کريم داد په يو شعر کې زنار داسې ياد شوی دی:

بـــت پرســـت تـــه پـــه بـــت کـــې مـــخ ځرگنـــد کـــا
لـــه هنـــدو سره و پـــار کـــا پـــه زنـــار کـــې[۳۹۹]

او عبدالحليم د زنار ذکر داسې کوي:

دغـــه پســـه دغـــه فربشـــته بـــه و قهريـــږي

چـــــې تـــــه بـــــدي ولـــــې نـــــه ښـــــکوينه
د قيامـــــت چـــــارې دې نـــــه بـــــاور کېدنـــــه
دغــه پســه بــه بــدي وښــکي چــې پــه غــاړه يــې زنــار شي[٤٠٠]

په فوائد شريعت کې اخون قاسم پاپين خبل ليکي، چې که څوک بې ضرورته په ملا زنار تړي، نو کافر کېږي.[٤٠١] احمد دين طالب د زنار ذکر داسې کوي:

يقـــين نـــه دی چـــې اســـلام تـــه غـــاړه کيـــږدي
چـــې تـــر غـــاړه کـــړي زنـــار د دې دنيـــا[٤٠٢]

دوست محمد خان دوستی زنار داسې يادوي :

سر تـــور سر لـــه کـــوره راغلـــه پـــه تلـــوار
د خليـــل پـــه مينـــه يـــې وشـــلاوه زنـــار[٤٠٣]

څـــوک پـــه دنيـــا کـــې زناکـــار وي
بـــاطن پـــه پـــروت ورتـــه زنـــار وي[٤٠٤]

رسم ستي

د ستي رسم د هندوانو يو مشهور رسم و، په کوم کې چې به يوه ښځه د خپل خاوند په مرګ له هغه سره ژوندۍ سوځول کېده. د هندوانو د دې مشهور رسم يادونه مياداد داسې کوي:

د ســـتي اختيـــار وګـــوره وېـــره نـــه کانـــدي لـــه اوره
چـــې لـــه يـــاره سره اوســـوه بـــل څـــه نـــه وينـــي بـــې يـــاره
دې ســـتۍ خېلـــه چـــاره اوکـــړه زړه يـــې و دود تـــه ځـــار کـــړه
کـــل مقصـــود بـــه دې حاصـــل شي کـــه خـــبر شـــې لـــه اسراره[٤٠٥]

او بل ځای داسې وايي:

او هغـــه ســـتۍ پتـــۍ ژونـــدۍ وه لـــه يـــار اوســـوه
او تـــه بـــې پتـــه هنـــدوګی بيرتـــه لـــه نـــارګر ځـــې[٤٠٦]

حسېن د رسم ستي ذکر داسې کوي:

آفـــرین پـــه لـــوی همــــت د ســـــتي بویـــه
غـــورزوي یـــې سرو لمبـــو تـــه د اشــــنا پــــت[٤٠٧]

حافظ الپوری داسې وایي:

بـــد روشـــه ســـتی ځکـــه شـــوه نامـــداره
چـــې ونـــار تـــه نـــازک تـــن د یـــار پـــه پـــت ږدي[٤٠٨]

عبدالعظیم صواتی دا رسم داسې یادوي:

د ســـتی پـــه شـــان بـــه ســـوزم سر تـــر پایـــه
چـــې تـــازه مـــې کـــړه خپـــل ځـــان وتـــه نـــیران بیـــا[٤٠٩]

پـــه رخســـار کـــه تـــورې زلفـــې گـــال گـــوتي کـــړې
عاشـــقان بـــه د ســـتی پـــه دور ســـتي کـــړې[٤١٠]

کـــه صـــورت یـــې د ســـتی پـــه دود ســـتي شي
پـــرې بـــه نـــه ږدي عاشـــقان د عشـــق ســـبق[٤١١]

د راجپوت قبر

د هندو قبر یا د راجپوت قبر خلک په عامو خبرو کې د مثال په توګه کاروي. حافظ الپوری د رجپوات قبر داسې یادوي:

قـــبر د راجپـــوت وي ســـپین اهـــک روښـــانه بریښـــي
لـــړ چـــې یـــې لـــړ سـبر کـرم ایـرې شـوې وي پـه میـان کـې[٤١٢]

مطلب دا چې هندو خو سېزلی شي، خو که د یادگار په توګه ورته چرته قبر جوړ کړي، نو په هغه قبر کې د هغه لاش نه وي. له دې نه دا مطلب هم راوځي چې په ظاهري صورت ښکلی وي، خو دننه پکې څه نه وي.

جوګي

د سحر، جادو او جوګ روایت په سوات کې له زمانې راهیسې موجود دی، چینیانو هم په خپلو سفرنامو کې په سوات کې د جادو ذکر کړی دی. د جوګي ذکر میاداد داسې کوي:

غـــه هـــر چـــې وښ کـــړي ښـــاماران هغـــه بـــه رغيـــږي
زه د جوګيـــانو جـــړۍ خورمـــه چـــې ښـــا مـــار لـــره ځـــم[٤١٣]

جړۍ يو بوټۍ دی چې د تنې رنګ او شکل يې د مار په شان برګ برګ وي، د دغه بوټي په اړه دا ويل کيږي، چې دا بوټۍ څوک وخوري، نو د مار ذهر پرې اثر نه کوي:

احمد دين طالب داسې وايي :

د جوګيـــانو تـــرو يتيـــانو عمـــل سســـت شـــه
عالمـــان يـــې وو ديـــدن پســـې شـــبکور[٤١٤]

دلته که مونږ وګورو، نو په ادب کې که د بل کلتور ذکر راغلی، نو هغه د هندومت دی، دا ځکه چې دلته په بدهـ مت پسې هندو مت راغلی و او په هندو مت پسې اسلام راغلی دی، يعنې اسلامي کلچر ته نزدې که کوم کلچر و، نو هغه هندو مت و، نو ځکه پر ادب د هندو مت اثرات ښکاري.

توهمات

په هغو خبرو يقين ساتل چې د هغې څه حقيقت نه وي دې ته توهمات يا توهم پرستي وايي. د سوات د پښتو ادب په وړومبي دور کې هم د ځينو توهماتو ذکر موندل کيږي، لکه احمد دين طالب وګورئ:

پـــه لســـم پـــه څلـــورم د محـــرم
نـــوی کـــار نـــه کـــړې شروع نـــه راځـــي ســـم
د صـــفر اول دويـــم تـــاريخ ســـپيره دي
د اول ربيـــع دويـــم دريـــم دی خـــم
د ثـــاني ربيـــع اول او پينځلســـم کـــې
پـــه شروع د نـــوي کـــار کـــې جـــوړ شي غـــم
د اول جـــماد لســـم کـــه پينځلســـم دی
ځـــان ســـاته تـــرې کـــړه يقـــين زمـــا پـــه فهـــم
د ثـــاني جـــماد دويـــم پـــه څلـــورم کـــې
نـــوي کـــار وتـــه چـــې وانـــه خلـــې قـــدم
د رجـــب يولســـم دولســـم دواړه

د شـــــعبان پـــــه ځلـــــورم شـــــپږم کــــــې هـــــم
پــــه رمضـــــان کــــې فـــــال کــــوه دریــــم اتــــم نــــه
د شـــــــوال ووم اتـــــــــم نـــــــــه دی پـــــــه نهـــــم
ذوالقعـــــــده کــــې د دویـــــم دریــــم نــــــه خــــوف کــــړه
بــــــې شــــــبهې ورتــــــه ســــــپیره وایــــــې عـــــالم
پــــــه شــــــپږم شـــــلم تـــــاریخ د ذوالحجــــــې کــــــې
منحــــــــوسي ګهړيــــــــال غړيــــــــړي دم پــــــــه دم
دي منحوســـــــې دا څليریشـــــــت ورځـــــــې کـــــال کـــــې
احمـــــد دیـــــن طالـــــب چـــــې لیـــــک کـــــړې پـــــه قلـــــم[٤١٥]

په کال کې له دې څليريشتو ورځو علاوه ځينې خلک په هفته کې هم ځينې ورځې سپيرې ګڼي او په هغه ورځ څه نوی کار شروع کول يا په سفر روانېدل ښه نه ګڼي. د ازار يا نظر او د هغې د علاج په باره کې دوست محمد دوستی داسې ليکي:

او د شــــاه چـــې پـــرې مـــرض شـــولا بـــې شـــانه
دا ازار بــــــه وي يـــــا نظـــــر ديـــــو انســـــانه
چـــې پـــه ازار شي څـــوک مـــريض يـــا پـــه نظـــر
نـــــور پـــــه هغــــه د چــــا دارونــــه کــــړي اثــــر
بـــې لـــه دې نـــه راتـــه نـــور څـــه نـــه ښـــکاریږي
چـــــې مـــــرض د بادشـــــاه دا رنګــــه زيـــــاتیږي
اوس کــــــه خوښــــــه وي کــــــوه دا هســــــې کــــــار
چـــې زيـــارت لـــه يـــې چرتـــه وړلوپـــه تلـــوار
کرامـــــــــت د اولیـــــــاؤ دي ښـــــــه حـــــــق
شـــک تـــه مـــه کـــوه پـــه دا کـــې هـــیڅ مطلـــق[٤١٦]

له دې شعرونو نـه پتـه لګـي چـې کلـه بـه پـه چـا بـد نظر اولګېدلو، نـو د عـلاج يـا د بـد طـهر د اثـر د زايلولـو لپـاره بـه يـې زيـارت تـه وړه. د نظـر د عـلاج لپـاره خلـک سپېلني لوګی کوي. په دې باره کې احمد دين طالب داسې وايي:

ســــــــپېلنی زمــــــــا د صــــــــبر پکــــــــې ســــــــوزي
د مجمـــــر غونـــــدې پـــــه زړه کـــــې انګـــــار ويـــــنم[٤١٧]

حسېن داسې وايي:

شـــــين لـــــــوگی د ســـــــپيلنو راخخـــــــه خيـــــــژي
اچـــــولی يـــــې ډېـــــر ځلـــــه يــــــم مجمـــــر تـــــــه[٤١٨]
ښــــه چـــــې ســــتا پـــــه څېـــر بشرــــ پــــه جهـــان نشـــته
رب دي مــــــا درتـــــــه لـــــــوگی کـــــــړه لکـــــه ســــــپند[٤١٩]

دوست محمد خان دوستی د گبين په باره کې په يو واقعه کې داسې ليکي:

چـــــې دا ســــــترگې زمــــــا و چــــــې شي ښـــــې پـــــاکې
ای زبابــــــه کـــــه د څښـــــو کـــــار کــــې چـــــالاک يــــې
نــــــور مگــــــس لــــــه دې خـــــــبرې کـــــــړو انکـــــــار
زرمچــــــــــی تـــــــــه امـــــــــر وکـــــــــړه کردگـــــــار
د حضرــــــــــت دا اوښـــــــه وختــــــه پـــــــه مينــــــه
زه بــــــه ســـــــتا روزي کـــــړم تــــــل (ښـــــه) لـــــه گبينـــــه
هــــــم بـــــــه ســـــــتا کړمـــــــه خـــــوراک همېشــــــه گــــــل
او د ده بـــــــه کــــــــړم بـــــــې نمـــــــازه پليـــــــت غــــــول
چـــــــې خبرلــــــــه دي احوالـــــــه شــــــه مگــــــس
پـــــه انکــــــار خپــــــل شــــــه پښــــېمانه يــــو پــــه لــــس
اوس منگـــــــــولې همـــــــــېش مـــــــــروړي ترقيامـــــــــت
د حضرـــــــت اوښــــــې پســــــې پـــــــه هـــــــر ســـــــاعت[٤٢٠]

د يوسفزو د توهم پرستی په باره کې بيليو داسې ليکي:

Their superstition is incredulous and has no limits. Miracles, charms and omens are believed in as a matter of course. An inordinate reverence for saints and the religious classes generally is universal, and their absurdly impossible and contradictory dicta are received and acted on with eager credulity. The ziarat or "sacred shrine" is habitually resorted to by all classes and both sexes. At these the devotees confess their Sins and implore forgiveness, unburden their hearts of all manner of secret desires, and beseech favours, all in the full belief of a sure hearing and answer.[٤٢١]

ترجمه: د دوی توهمات د یقین کولو قابل نه دي، په عمومي توګه دوی په معجزو، جادو او فالونو باندې یقین ساتي. له ولیانو او مذهبي ډلې سره عقیدت عام دی او د هغوی بیهوده، ناممکنه او متضاد حکمونه اوري او ډېر په شوق او یقین سره پرې عمل کوي. زیارت ته د هر کلاس خلک نارینه او زنانه په باقاعدګۍ سره ځي. دلته کې عقیدت مندان د خپلو ګناهونو اعتراف کوي او د مغفرت سوالونه کوي. دوی د خپل زړه د پټو رازونو بوج دلته سپک کړي او د رحم طلب کوي او د ټولو دا پخه عقیده وي چې دا سوالونه اورېدل کېږي او جواب یې هم ورکول کېږي.

د توهماتو په سلسله کې ښځې له سړو نه ډېرې وړاندې دي، ښځې ښېرې هم ډېرې کوي او په توهماتو یقین هم ډېر ساتي. ده ښېرو او سپېره والې په باره کې حسېن وایي:

لېــــــدی نـــــــه شي نـــــــام نشـــــــان د هغـــــــو خونـــــــو
چـــــــې وهلـــــــې مظلومـــــــانو پـــــــه ښـــــــېرو دي
بـــــــې غمـــــــې پـــــــه عاشـــــــقانو نـــــــاروا شـــــــوه
نصـــــــیبونه کـــــــاڼه کـــــــېنې د دې ســـــــپېرو دي[٤٢٢]

څومره چې تعلیم او پوهه زیاتیږي، نو دا قسمه توهمات کمېږي. دا قسمه توهمات په کلیوالو او بې تعلیمه خلکو کې نسبتاً د ښار له خلکو نه زیات وي.

تعلیم حاصلول

د دې دور د ادب له مطالعې نه دا معلومېږي چې وړومبۍ زدکړې به خلکو په کور کې له مور و پلار یا نیا نیکه نه کولې، یعنې بنیادي د عقیدې خبرې، کلمه او مونځ به یې په کور کې له مشرانو نه زده کول، په خصوصي توګه مونځ به په کور کې ماشومانو ته د ماسخوتن په وخت نیا زده کولو، کوم طرف ته چې په دې شعر کې خوشحال خان اشاره کړې ده:

الغـــــــرض چـــــــې یـــــــې خـــــــبره کـــــــړه اغـــــــازه
ډېـــــــر یـــــــې وویـــــــل د خپلـــــــې نیالـــــــه نمـــــــازه[٤٢٣]

له دې وروسته به باقاعده زدکړې د جومات له ملا نه کېدلې، لکه څنګه چې اخوند درویزه وایي چې ملا مصراحمد راته په تختۍ حروف تهجي ولیکل،[٤٢٤] چې څوک به تصوف

ته تلل نو هغوی به "جام جهان نمائی" کتاب ویلو.[٤٢٥] بیلیو د یو ماشوم د تعلیم په باره کې داسې لیکي:

> After circumcision, the young yusafzai is taught his creed and the ordinary forms of prayer, and is instructed in the principal tenets and observances of the Mahommdan religion; and this, with but few exceptions, is all the education he receives.[٤٢٦]

ترجمه: له ختنه کولو وروسته یوسفزي ماشوم ته بنیادي عقیده، دعاګانې او مونځونه ښودل کېږي. بنیادي عقیدې او د محمدي مذهب د پابندۍ هدایات ورته کوي او له ډېرو کمو خلکو علاوه د زیاتو لپاره دا ټول تعلیم دی. د علمي تحصیلاتو د لوازماتو ذکر د عبدالحلیم په دې اشعارو کې موندل کېږي:

دغـــــه پســــــه دا مــــــړده ورتــــــه وایــــــي
چـــــې مشــــــوانۍ تــــــوري قلـــــم راخخــــــه نشـــــته
نـــه مـــې ګـــوتې دي پـــه لاس کـــې چـــې یـــې چـــاپ کـــړم
دا مـــــــــړده پکــــــــــې حصـــــــــــار شي[٤٢٧]

د مهر لپاره به د ګوتۍ چاپ استعمالولی شو، هغې طرف پکې هم اشاره شوې ده.

علم کیمیا

د سوات په پښتو ادب کې د مختلفو علومو حوالې او ذکر موندل کېږي، لکه د سوات د پښتو ادب په وړومبي دور کې د علم کیمیا ذکر داسې شوی دی:

دا وصـــــــــــــــال دی د خوبــــــــــــــانو
یــــــــــا دولــــــــــــــت دی د کیمیــــــــــــا[٤٢٨]

د کیمیا ذکر احمد دین طالب داسې کوي:

کـــــه لعـــــاب د لاشـــــوړې راولـــــې خیـــــال کـــــې
د دریــــــاب نــــــه بــــــه آب راوړې پــــــه غربــــــال کــــــې
نشـــــادر سرکـــــه کـــــې بـــــېض خـــــه ورځـــــې کېـــــده
کـــــه یـــــې بیـــــا یـــــې د بوتـــــل پـــــه تنـــــګ جـــــوال کـــــې
پټکـــــــړي نـــــــیلا طوطـــــــا نشـــــــادر خلـــــــط کـــــــړه
کـــــه دې نیـــــت وي د آهـــــن پـــــه خـــــط و خـــــال کـــــې

اول خــــط د مـــــون د مـــــوم پـــــه آهـــــن اوکـــــړه
نـــور آهـــن اوســـاته پـــټ د مـــوم پـــه جـــال کـــې
جلـــوترې کـــې کـــه ســـيماب يـــو ســـاعت لعـــل کـــړې
شي مســـکه بـــه ســـياه رنـــګ پـــه هاغـــه حـــال کـــې
احمـــــد ديـــــن درتـــــه يـــــو ځـــــو خـــــبرې اوکـــــړې
هـــيڅ شـــک نشـــته د طالـــب پـــه قيـــل و قـــال کـــې[۴۲۹]

بل ځای د کيميا ګر ذکر داسې کوي:

هـــــر کســـــبه اســـــباب د کســـــب تـــــه محتـــــاج وي
بادشـــاهان د کيميـــا ګـــر پـــه کـــمال خـــوښ وي[۴۳۰]

دوست محمد خان دوستی د کيميا په باره کې وايي:

کـــــه د دنيـــــا کيميـــــا دې زده شـــــوله دوســـــتيه
د حضرــــت ديــــن تــــل کــــوه دا ســــتا کيميــــا ده[۴۳۱]

حافظ الپوری د علم کيميا ذکر داسې کړی دی:

غـــــوارم نظرستاســـــو چـــــې کيميـــــا ســـــنګ فـــــارس دی
زر بـــــه شي کـــــه اوګـــــورئ و اوســـــپنې رصـــــاص تـــــه[۴۳۲]

پـه دې شـعرونو کـې د مختلفـو کيميـايي اجـزاوو او د کيميـايي مرکبـاتو ذکـر راغلی دی.

علم نجوم

په فوائد شريعتکې د نمر مختلف برجونه، لکه برج سرطان، اسد، سنبله، حمل، ثور، جوزا، ميزان، اقرب، قوس، زحل، زهرا، مريخ وغېره ياد شوي دي. [۴۳۳]

حافظ الپوری هم د مختلفو ستورو خصوصيات ذکر کړي دي:

د ګـــردون ګـــردش مـــې راســـت لـــه زيســـته نـــه شـــه
زر يـــــې اوويســـــتم د وصـــــل لـــــه ايوانـــــه
لـــه قمـــر مـــې مـــروت مـــدام بيانـــه مونـــد
عطـــــارد پـــــه عطانـــــه کړمـــــه شـــــادانه
زهـــرې زهـــر زقـــوم راکـــړل زبـــون حـــال شـــوم

پــــه انــــدوه مــــې چنــــګ بــــربط وهــــي خندانــــه
لــــه خورشــــېدله شــــېده هــــېڅ اســــوده نــــه شــــوم
يــــو خــــردل ســــود يــــې رانــــه کــــړه بــــې لــــه زيانــــه
لــــه مــــريخ لــــه رخــــه نــــه شــــوم فــــراخ دســــته
تنــــګ دســــتي مــــې پــــه هــــر حــــال شــــوه بــــې کرانــــه
مشــــتري پــــه مشــــت کــــې قنــــدتري رانــــه کــــړه
کــــه مــــې طمــــع وه لــــه لطفــــه لــــه احســــانه
راتــــه نــــه کــــړه زحــــل حــــل د فــــرخ غوټــــه
لا يــــې ســــخته کــــړه لــــه بغضــــه لــــه عدوانــــه
پارينــــه زړه مــــې پروينــــو دوختــــه نــــه کــــړهٔ
تلــــو تــــول زمــــا خفيــــف کــــړه لــــه هــــر چانــــه
فرقــــدينو نــــه کــــړم خــــلاص لــــه غــــم لــــه دينــــه
زړه افګــــار پــــه فراقــــت ديــــده ګريانــــه
مظبــــوط مــــزی د تمکــــين مــــې ګســــته شــــهٔ
پيونــــد نــــا خــــلي لــــه عيوقــــه لــــه کيوانــــه
ســــياره مــــې غمګســــارا يــــاران نــــه شــــوه
پــــه وصــــال يــــې سرور نــــه کــــړم لــــه جانانــــه
ثوابــــت مــــې ثابــــت نــــه شــــه پــــه غربــــت کــــې
بــــې فروغــــه يــــې کــــړم لــــه بخــــت د چراغدانــــه
کواکبــــو مکــــب پړمخــــې ارتــــاؤ کــــړم
لکــــه اولــــويږي راکــــب د اس لــــه شــــانهٔ
ســــما ســــم نــــه کــــړه زمــــا ســــهم هــــدف تــــه
پــــه ســــتم يــــې خميــــده کــــړم ترکمانــــه
پــــه مخلــــوق اعتمادمــــه کــــوه حافظــــه
مــــدد غــــواړه لــــه خالقــــه مســــتعانه[٤٣٤]

په دې شعرونو کې حافظ الپوری د دې خبرې کوښښ کړی، چې څوک په ستورو او د ستورو په فال يقين ساتي، نو دا غلط کار کوي او دا ستوري يو مخلوق دی او دا انسان ته

هېڅ ګټه یا تاوان نه شي رسولی، انسان ته صرف له یو الله نه مدد غوښتل پکار دي.
احمد دین طالب هم په یو شعر کې زهره او مریخ داسې یادوي :

وزرونـــــــــه د ایمـــــــــان د مارغـــــــــه دوه دي
د یـــــــو مثـــــــل دی زهـــــــره د بـــــــل مـــــــریخ[٤٣٥]

عبدالعظیم صواتی هم د فالنامې او ستورو ذکر داسې کوي:

فالنامـــــه چـــــې مـــــې د عشـــــق ملاحظـــــه کـــــړه
پـــــه نصـــــیب مـــــې شـــــه مـــــریخ، طـــــالع، زحـــــل بیـــــا[٤٣٦]

بل ځای داسې وایي:

همېشـــــــه یـــــــې بخـــــــت بېـــــــدار لـــــــرې خاونـــــــده
مشـــــتري یـــــې پـــــه مطلـــــع کـــــې د زحـــــل کـــــړې[٤٣٧]

خو د نجومیانو په خبرو د یقین کولو په باره کې اخوند قاسم پاپین خېل وایي که څوک په دې یقین وکړي هغه سړی مطلق کافر دی او بیا وایي که څوک د نجومي نه تپوس کوي او عمل پرې کوي نو څلوېښت ورځې به یې [عبادت] نه قبلیږي. [٤٣٨] په پینځم باب یعنې د سوات د ریاستي دور په پښتو ادب کې هم د ستورو او د علم نجوم حوالې ذکر دي.

موسیقي

موسیقي په څه نه څه شکل کې په هر تهذیب او کلتور کې موندل کېږي او د سوات د پښتو ادب په هر دور کې هم د موسیقۍ ذکر په څه نه څه حواله موندل کېږي. د سوات پښتو ادب په وړومبي دور کې چې د موسیقۍ د کومو الاتو نومونه موندل کېږي هغه دا دي: چنګ، رباب، ډمامه، نفیل، سرنا، شپېلۍ او نور، له دې علاوه د دې دور په کتابونو کې د موسیقۍ او سرود د حرام والي په باره کې هم حوالې موندل کېږي. د موسیقۍ په باره کې په مخزن الاسلام کې د موسیقۍ ذکر داسې شوی دی.

١. لکه سرود وي یا شپېلۍ یا آواز به یې څوک اوري یا به رقص کا په دوی دغه فعل د شېطان. [٤٣٩]
٢. دریم مذهب د شمراخي کا فرانو دي ناروا رواکوینه ـ دوی وایي د هغو چې له ښځ خدایه اشنایي شوه امرنهي څه لره په ځائی کوینه ـ هم هسې هر آواز چې وي د دف یاد شپېلۍ هم له چنګه له ربابه دغه سپي ئې اورېده رواکوینه. [٤٤٠]

اخون کريم داد په يو شعر کې داسې وايي:

هـــم دا بـــد اواز نـــه اورې هـــم د بـــد پـــه لـــوري نـــه ځـــي
لکـــه سرود څـــوک غږوينـــه، لـــوبې يـــا سرود کـــا پـــه واده کـــې[٤٤١]

او په بل ځای کې داسې وايي:"غوږ نگاه کړه له جمله بده آوازه لکه د چنگ ياد رباب ياد شپېلۍ وي" .[٤٤٢] کريم داد په يو شعر کې د سرود په باره کې داسې وايي:

پـــــــه دا دوه اواز خـــــــــدائی لعنـــــــــت وئيلـــــــــی
يـــــــو د سرود بـــــــل د ويـــــــر پـــــــر خوشـــــــحالۍ[٤٤٣]

د سماع يا د موسيقۍ اورېدو په باره کې فوائد شريعت ليکي چې "مشائخ صوفيا که ؤ سماع ته مباح وائي دا به هغه صوفيان وي چې به د نفساني خواهشاتو خالي وي ـ دوی به د تقویٰ په ښائست ښائسته وي اوسماع ته به محتاج وي. د دوی مثال هغه داسې بيانوي لکه يو بيمار چې دارو ته محتاج وي. هغه وړاندې د جنيد بغدادي روايت نقل کړی دی او وايي چې که څوک يو سړیويني چې طالب د سماع وي نو پوهه شئ چې په دې کې به د فساد اثر وي.[٤٤٤]د چنگ، رباب او د موسيقۍ د نورو الاتو نومونه د علامت په طور په دې شعرونو کې موندل کېږي:

د هجـــــران پـــــه شـــــپه ربـــــاب و ځـــــان تـــــه کېـــــږدم
ســـــــتا غمونـــــــه تېـــــــروم پـــــــه ترانـــــــه کـــــــې[٤٤٥]

تـــه مهـــی د دغـــه رود يـــې کـــه شـــينوا پـــه دا سرود يـــې
او د دريـــاب جرجـــوړی اوره چنـــگ چغانـــه مـــه پوښـــتنه[٤٤٦]

زه عاشـــــق چـــــې ســـــتا د عشـــــق شراب اوتـــــاب غـــــواړم
ورسره يـــــې کـــــل سرود چنـــــگ وربـــــاب غـــــواړم[٤٤٧]

هغـــه چنـــگ ربـــاب مجلـــس مـــې پـــه خلـــوت دننـــه
بـــيرون جماعـــت کـــې عبـــادت کـــوم شراب چـــړي[٤٤٨]

دا سرود مجلــــس حـــــرام دی پــــه ځلـــــور مذهبــــه
زه مئـــــېن ســــتا د ربــــاب پــــه دوه تــــاري شــــوی یــــم[449]

غــــه عاشـــــق لکــــه لـــــولی پــــه نځــــا گــــډ د ذکــــر
زه یـــــــې دور ډمامــــــه نفیـــــل ســـــــورنا وینمــــــه[450]

احمد دین طالب په خپل دیوان کې د الات موسیقی ذکر داسې کوي:
د یـــــــار غـــــــم مــــــــې ژړوي لکـــــــه ربــــــاب
نـــــه پـــــه ویخــــه مــــې قـــــرار شـــــته نـــــه پـــــه خـــــواب[451]

تـــــار پـــــه تـــــار کــــړه زړه درمنـــــد ربــــاب پــــه عشـــــق کــــې
فریـــــاد نـــــه کـــــړي چـــــې پـــــه زړه نـــــه وي دردمنـــــد ځـــــوک[452]

د ربــــــــاب د سرینــــــــدې وهـــــــــل یــــــــې زده وي
نـــــــه پـــــــوهیږي د قـــــــرآن پـــــــه پرانســـــــتو
پـــــه ســـــکول د موســـــیقی کــــــې شــــــاگردي کـــــړي
میـــــــا مـــــــلا وتـــــــه ځـــــــوک وایـــــــي نتـــــــو[453]

احمــــــد دینــــــه پــــــرې ناپوهــــــه نــــــه پــــــوهیږي
کــــــه کوټــــــه وي د ربــــــاب د پاســــــه تــــــاریو[454]

چپــــه خولــــه لکــــه المــــاس هــــنر ښــــکاره کــــړه
میــــــنځ خــــــالي ښــــــکاري د ډول پــــــه ډزېــــــدو[455]

چـــــې پـــــه کـــــور کـــــې د دشـــــمن دې غـــــم غږیـــــږي
پـــــه محفـــــل د خوشـــــحالی کـــــې ټنـــــگ او نـــــه کـــــړې[456]

سرودګــــــر چــــــې د سرود مجلــــــس آغــــــاز کــــــړي
ورپســــــې د جماعــــــت نــــــه مــــــونځ ګــــــذار ځــــــي[٤٥٧]

لــه دې نــثري او شــعري حوالــو نــه دا معلومــه شــوه چــې د دې دور ليکــوالان مـذهبي خلـک وو او د هغـوی پـه خيـال موسـيقي جـايزه نـه وه او دا يـې ښـه نـه ګڼلـه، خــو بــاوجود د دې هغــوی پــه خپلــو شــعرونو کــې د مثــالونو او تشــبيهاتو لپــاره د موسيقۍ د ټولو الاتو نومونه کارولي دي.

مادي فوکلور

زمونږ د ثقافت هغه څيزونه چې په مادي شکل کې موندل کېږي د هغوی ذکر هم د سوات د ادب په دې دور کې په نظر راځي. په دې کې زېورات، يعنې کالي پټري، وسلې او نور عام څيزونه شامل دي.

کالي

کله چې يوسفزي سوات ته راغلل نو هغه وخت کې به سړو هم د سرو زرو يا سپينو زرو حلقې په غوږ کولې، په دې باره کې تواريخ حافظ رحمت خاني کې ليکي چې د سوات د ټولو سلطانانو دا دستور و، چې هر څوک به سلطان و، نو د سرو حلقې به يې په غوږ کې پرتې وې او د بل چا دا قدرت نه و چې د سرو زرو حلقې يې په غوږ کولې، نورو نامدارانو به د سپينو زرو حلقې په غوږ کولې. کله چې اول اول کې يوسفزي سوات ته راغلل نو د سرو زرو حلقې به يې په غوږ کولې کومې به چې د کشميريانو په دود ورژلې منقّشې به وې، خصوصاً په مندېو کې به زياتې بهزاد خېلو صدوزو په غوږ کولې او په يوسف نامه زياتې اکوزيو خصوصاً اماخېلو موليزيو به په غوږ کولې.[٤٥٨] تواريخ حافظ رحمت خاني بل ځای ليکي چې محمود بن شاهان يوسفزي د تالاش له يو کس سره په جنګ شۀ او هغه يې مړ کړ او د سپينو زرو دوه حلقې يې په غوږ وې هغه يې ترې وکښلې وائي خستلې.[٤٥٩] د بابر بادشاه څنګ ته چې ملک احمد او يو ښائسته سرودي هلک ادو، آفغانستان ته تلي وو، نو بادشاه ادوله د سرو زرو دوه حلقې د غوږو ورکړې وې.[٤٦٠] له دې نه علاوه د دې دور په ادب کې د زنانو د ډېرو زېوراتو ذکر هم موندل کېږي، لکه مياکريم داد د غاړې هميل (اميل) داسې يادوي:

یو همیل یې کړه په غاړه
رنګار نګ بازې کاندي[٤٦١]
که یو حرف دې ځنې پرېښو
دا همېل ئې ځبله ترمې ترمې تللی[٤٦٢]

محمد اکبر په یو شعر کې د همېل ذکر داسې کوي:

د شاه همېل شه ترمې ترمې د خپل یار له لاسه
اوس یې سپېنسې غبستلي دي بیا یې سفتن له بولي[٤٦٣]

همېل او هار په یوه معنٰی کې راځي. کریم داد په یو بل شعر کې هار داسې استعمالوي:

کل اشیاء د درمني
کریمداد بنده مشکنه ستا په هار کې[٤٦٤]

نته یا نتکۍ د ښځینه وو د پوزې یو کالی دی، د دې ذکر داسې شوی دی:

عاشق د شاه د نتې پیرو ښون دی
چې تل پروت دی پردا سپینو شونډو باندې[٤٦٥]

جانان مې د نتې پیروزه شه
چې مې تل په شونډو اولګیږي[٤٦٦]
هغه د سرونته یې ده زیږ مزری
غه لپاسه په شونډو پروت شیرانه ده[٤٦٧]

تر پلوئې مخ ځرګند کړه عاشقانو وته
او زیړه نته برېښوي ځرګندول لره[٤٦٨]

د دې شاه په پوزه نت ده
پکې پروت سپینکی لاجبر دی[٤٦٩]

له نتې علاوه د پوزې په کالو کې چارګل او پېزوان هم دي. میاداد د چارګل او پېزوان ذکر داسې کوي:

راځـــه لاس د لاســـه ونیســـو خـــدائی رولـــه درومـــو
چارګـــل پېـــزوان یـــې الـــوول خـــوارو خـــوړلی درې لـــه مـــا[470]
د بېسرــــــ تــــر ګلـــه چـــار وتـــــلي سره ازغـــي دي
ځکـــه بلبـــل چغـــار کانـــدي لـــه دغـــه رقیبـــه[471]

پـــه رنـــګ زیـــړې زیـــرې تـــر زیـــړو ګلـــو
ښائیســــــته تـــــر زیړولـــــه پېزوانـــــه ده[472]

پـــــه پینځـــــــه کــــــــــروړې روغ دی
پېـــــــزوان ښائســــــــته تـــــــر واړه[473]

حافظ الپوری پېزوان داسې یادوي:

جهـــان مـــالق دی د ســـپین مخـــو خائســـته هغـــه ده
چـــې لـــه اغیـــاره ســـپینه خلـــه ســـورکی پېـــزوان اوســـاتي[474]

سره لمبـــه مـــې لـــه ګوګلـــه شي چـــاپېره
چـــې ســـورکی پېـــزوان پـــه پـــوزه ســـنیاري کـــا[475]

پـــه حنـــا منګـــولې سرې شـــونډې پـــه پـــانو
پـــه ســـوندر بـــه ســـور پېـــزوان وي مـــونږ بـــه نـــه یـــو[476]

عبدالعظیم صواتی د پېزوان ذکر داسې کوي:

د پېـــزوان د خـــال و خـــط لـــه تصـــوره
مســـتغرق پـــه عبـــادت د ســـبحان خـــوښ یـــم[477]

محمد اکبر د پېزوان او نتې ذکر داسې کوي:

تـــه چـــې پـــه پـــوزه د سرونتـــه کـــړې پېـــزوان ورسره
پـــه ســـبب د زنـــې پســـخول کـــړې زنخـــدان ورسره[478]

کـــه د پېـــزوان د نتـــې لال دې پـــه دبـــلي کـــې نـــه وي
زمـــا بـــازار لـــره راځـــه لـــوی او واړه او پېـــره[٤٧٩]

پسول د ښځو د غاړې يو زېور دی، د هغې ذکر خوشحال خان په سوات نامه کې داسې کوي:

د جهـــان عيبونـــه واړه سره ټـــول کـــړه
هغـــه واړه د همـــزه د غـــاړې پســـول کـــړه[٤٨٠]

او په بل ځای وايي:

نـــه يـــې قـــول نـــه يـــې عهـــد نـــه يـــې بـــول شـــته
خـــو د ديـــو رېـــش وفـــش، د ښـــځو پســـول شـــته[٤٨١]

اخون مياداد هم پسول داسې يادوي:

د ذات مـــخ تـــه يـــې ځـــوک کتلـــی نـــه شي
صـــفت پـــه پســـالۀ خوښـــه لـــه ځانـــه ده[٤٨٢]

مياکريم داد د گوتۍ يا گوتې ذکر داسې کوي:

د ځـــوانۍ گوتـــه مـــې مـــه باســـه لـــه لاســـه پـــرې مئـــېن يـــم
هـــم چرچـــور پـــه ځنکـــدن يـــم[٤٨٣]

يو بل زېور چې ښځې يې پښو ته اچوي هغې ته پانزېب وايي، دې ته خلخال هم وايي. حافظ الپوری يې ذکر داسې کوي:

دوه پنـــډۍ يـــې ســـپين بلـــور يـــا مرمـــردي
دل اوېـــز اواز يـــې خيـــژي لـــه خلخالـــه[٤٨٤]

پېکړي هم د پښو يو زېور دی، محمد اکبر يې ذکر داسې کوي:

زه د اخـــتر پـــه جونـــو راغلمـــه هـــوس راغـــی
ټيکونـــه بريښـــي شـــنه هـــر د پېکـــړو خيـــژي[٤٨٥]

د سرو د ټيک ذکر حافظ الپوری داسې کوي:

د خيـــوې اور بـــل ئـــې چترجبـــين تخـــت دی
پـــرې د پاســـه د سرو ټيـــک قبـــه زري کـــا[٤٨٦]

حافظ الپوری د شهی د ټيک ذکر داسې کوي:

پلوشـــــې مــــې لـــــه جوســــې نــــه پورتــــه درومـــــي
د شــــهي د ســـــپین جبـــین د ټیـــک غمـــی یـــم[487]

احمد دین طالب په دې لاندینو شعرونو کې موران، موندرۍ او درۍ داسې یادوي:

قــــط دې پــــه کـــړۍ د سرو کــــړۍ او سره مـــوران دي
زلفــــې دي جـــوړۍ کــــرۍ غــــړۍ لکــــه مــــاران دي[488]

تېــــرې مونــــدرۍ دې پــــه اوګــــو وهــــې ټالونــــه
د شــــنو طاطیــــانو درپســــې ګرځــــي ســـــپلونه[489]

دیوان حسېن کې په دې شعرونو کې د موندرو ذکر شوی دی:

چــــې یــــې اوســــولو اوچ لام پــــه غرغــــرو کــــې
هســــې اور دی د اشــــنا پــــه سرومنــــدرو کــــې[490]

بــــل زمــــا پــــه دود مټــــاک پــــه جهــــان نشــــته
چــــې جلیــــا پــــه سرو لمبــــو د مندرونــــه شــــوم[491]

چــــې لاشــــه یــــې څــــوک پــــه زړه ســــهلی نــــه شي
لــــه لړمــــه کــــا تېــــرې د یــــار منــــدرۍ[492]

احمددین طالب د درۍ ذکر داسې کوي:

زمــــا درۍ لــــه زرګــــران اصــــلي دراب لټــــوي
د زړه بــــورامې پکــــې هــــر وختــــې ګــــلاب لټــــوي[493]

حافظ الپوری د درۍ یادونه داسې کوي:

ط طلاقــــه کــــړه مکــــاره
دنیــــا نــــه ده وفــــاداره
شــــوهر پریــــږدي پــــه ډاګ
یــــــــــــــــــاره
بــــل تــــه نــــاوي شي نګــــاره
درۍ ســــپینه ســــور میــــزر[494]

لاس وندی چې ورته لاس خوندی هم وايي د ښځو يو کالی دی، چې لاس ته يې اچوي. حسبن يې په دې شعرونو کې داسې ذکر کوي:

هـــلال خوشـــی کـــا نـــور بـــرېښ د غـــره پـــه څوکـــه
ورسره بـــه ســـم د يـــار لاس ونـــدی نـــه کـــړم[۴۹۵]

چـــې هـــلال ورتـــه ولاړ پـــه ټيټـــه مـــلا دی
هســـې بـــرېښ دی ســـتا د مـــټ پـــه لاس ونـــدي کـــې[۴۹۶]

دا اوښـــکلې تـــورې راغلـــې زمـــا مـــرگ لـــه
کـــه بريښـــنا کـــا ســـتا پـــه متـــو لاس ونـــدي[۴۹۷]

وسلې او جنگي سامان

وسله ساتل د پښتنې سيمې د جغرافيايي حالاتو او د پښتنو د قبايلي ژوند لپاره ضروري وو، ځکه د سوات په پښتو ادب کې د هغه وخت د وسلو او جنگي سامانونو ذکر موندلی شي. شاعرانو به اکثر د جنگونو قيصې هم په نظم کې ليکلې، لکه په دې دور کې د مالاکنډ په مقام د انگرېزانو خلاف د سرتور فقير د جنگ منظومه قيصه اجون خان نومې يو شاعر ليکلې وه. اجون خان يو عوامي شاعر و او د سرتور فقير لوی عقيدت مند و.[۴۹۸]

د احمد دين طالب په لاندنيو شعرونو کې د مختلفو جنگي اوزارو نومونه راغلي دي، لکه کرچ، مچوغنه، منجنيق ايرانۍ توره او نور.

ای کاغـــذه کـــړه بادشـــاه خـــبر پـــه حـــال
يـــو اشـــنا رانـــه کـــرچ وړی پـــه ســـوال[۴۹۹]

کـــه د زړو کټـــوري غـــواړم د زانـــو
چـــا وېشـــتلی پـــه مچوغنـــو افتـــاب کـــوم دی[۵۰۰]

د ببلتـــون پـــه شرمخـــانو بـــه دې مـــات کـــړي
نـــه ويريـــږي درنـــده د منجنيـــق[۵۰۱]

پریـــــــوتلي یـــــــې بیانـــــــه دي پورتـــــــه شـــــــوي
ســـــتا د زلفـــــو پـــــه څېرلـــــوړ منجنیـــــق نشـــــته[502]

چـــــې غـــــلاف د ایرانـــــی تـــــورې بـــــدرنګ وي
پـــــه دویمـــــه ورځ یـــــې ګـــــوره چـــــې بـــــه زنـــــګ وي[503]

مېجر راورټي د سوات د خلکو د اهمو وسلو په ذکر کې لینده، غشي، تبرونه او تورې یادې کړي دي.[504] میاداد د لیندې او ناوک (غشي) ذکر داسې کوي:

هغـــــه دا دواړه وروځـــــې یـــــې لینـــــده څکـــــولې
او تـــــور باڼـــــه یـــــې نـــــاوکي نقـــــش یـــــې خـــــال ولیـــــدۀ[505]

وروځـــــې یـــــې لینـــــده کـــــړې تـــــور باڼـــــه یـــــې غشيـــــ
پـــــه ګـــــوزار ولاړه تـــــیرو کمانـــــه ده[506]

پښتون اګر چې هر وخت وسله له ځان سره ګرځوي، خو بې و جې چاته څه نه وایي.

پـــــه منګـــــول کـــــې د پښـــــتون کـــــه تـــــوره ډهـــــال وي
داســـــې وایـــــه د ګـــــدا سره کچکـــــول دی[507]

د دې شـعر مطلـب دا دی چـې کـه څـوک لـه پښـتون سره پـه لاس کـې وسـله وويني، نـو د دې مطلـب دا هرګـز نـه دی چـې ګنـې دی پـه حـالات د جنـګ کـې دی، خـو دا د دوی لـه کلتـور سره دومـره تړلـې شـوې ده، چـې هـر وخـت یـې دوی لـه ځـان سره ګرځوي.

عام مادي څیزونه

له زېوراتو او وسلو علاوه د سوات په پښتو ادب کې د روزمره استعمال نور هم ډېر څیزونه ذکر شوي دي، لکه خوشحال خان خټک په سوات نامه کې تالی او خانک داسې یاد کړي دي:

د طـــــالي کـــــه درتـــــه وایـــــم یـــــو کـــــالی دی
ډک خانـــــک دی د اوګـــــرې کـــــه یاتـــــالی دی[508]

اخون میاداد بتکی داسې یادوي:

او هغـــه دا دو بـــين بـــه يگانـــه واصـــل پـــه څـــه شي
ځوکــــه يـــې سربتکـــــی تــــا لـــره دروړې نـــه ده[۵۰۹]

ميا کريم داد په يو شعر کې تنور داسې يادوي:

کــــــل امکـــــــا د وچ واښـــــــــه کـــــــــړه
تـــــــه د دې وښــــــــو تنـــــــــور شـــــــــه[۵۱۰]

کريم داد په يو شعر کې د ډيوې ذکر داسې کوي:

لکـــــه بلــــه څـــــوک ډيـــــوه کانـــــدي د ورځـــــې
دغـــه نـــــور يـــې نـــور فـــاني کانـــدي پـــر بلــــه[۵۱۱]

احمد دين طالب د تېلو د چراغ يا ډيوې ذکر داسې کوي:

د نـــــادار پـــــه لاس چـــــراغ د تېلـــــو نشـــــته
کـــــافوري شــــمع پـــــه لاس تــــوانګر راغـــــی[۵۱۲]

حسېن د ډيوي ذکر داسې کوي:

څـــو دې مينـــه پـــه گـــاڼی کـــې شرشـــم نـــه کـــا
پـــه ډيـــوه بـــه دې روښـــانه عـــالم نـــه کـــا[۵۱۳]

لکه څنګه چې د احمد دين طالب په دې بره شعر کې ذکر شو چې "د نادار په لاس چراغ د تېلو نشته". د دې متبادل خلکو به ليتکي هم بلولو او له هغې نه به يې رڼا کوله. د سوات د خلکو د ليتکي يا شونټۍ بلولو په باره کې مېجر راورټي داسې ليکي:

> The people of the more open parts of the valley are not well off for fuel, hence the dry dung of cows is used instead; but where the hills are near, and in their small lateral valleys, fuel is plentiful enough. The pine is chiefly used for this purpose; and pine-slip torches are generally used in place of lamps or candles; but shop-keepers, and students, who have to read at night, burn oil. I was rather surprised to see a primitive description of lantern in Suwat, something on the plan of English ones, although, of course, not copied from them.[۵۱۴]

ترجمه: د سوات د وادۍ د پراخو علاقو خلک په خشاک پوره نه دي، دغه وجه ده چې د لرګو يا خشاک پر ځای هغوی وچ غوشان استعمالوي، خو کوم ځای کې چې غرونه

نزدې وي، نو هلته خشاک ډېر زيات وي. د سوځولو لپاره زيات د پيوچ لرگی استعمالېږي او د ډيوو او شمعو پر ځای په عمومي توگه ليتکي استعمالېږي، خو دکانداران او طالب علمان څوک چې د شپې کتابونه لولي هغوی تېل سيزي. زه ډېر حيران شوم چې ما په سوات کې د زوړ قسم يو لاټېن وليده دا د انگرېزي لاټېنونو په شان و، خو په حقيقت کې له هغوی نه، نه وو نقل شوی.

خوشحال خان خټک هم په سوات کې د شونټېو بلول او د هغو لوگي داسې يادکړي دي:

نــــه يــــې خـــــوان نــــه درســـــتخوان نــــه چــــراغ دان شـــــه
درســــــته شــــــپه يـــــې د شــــــونټېو بــــدد خـــــان شـــــته
چــــې پــــه تېــــل پــــه دســــترخوان يــــې څــــه څرخيـــــږي
کــــــه زردادر دي هـــــــم يــــــې غوښــــــې ابــــــه کيـــــــږي[515]

د ډيوې د اېښودلو لپاره چې کوم څيز وي هغې ته ډيوټ وايي. عبدالعظيم صواتي ډيوټ داسې ياد کړی دی:

دا ايمــــــــان دی پــــــــه مثــــــــال د تــــــــن غــــــــوړوالی
تــــــه پــــــرې غــــــوړ لکــــــه چــــــراغ لانــــــدې ډيــــــوټ يــــــې[516]

د لرگي يو خاص قسم صندوق چې په کور کې د غلې دانې د خوندي کولو لپاره استعمالېږي، هغې ته خمبه وايي او دغه رنگ د غلې د ذخيره کولو لپاره کندوان هم استعمالېږي، چې ذکر يې په دې شعرونو کې موندل کېږي:

کــــــه دريــــــاب پــــــه غــــــاړه کېنــــــې اسراف مــــــه کــــــړه
کــــــــه دې ډکــــــــې شي خمبــــــــې دســــــــيم وزرنــــــــه
چــــــې يــــــې گټــــــه د پېســــــې لگاوښــــــت دوه وي
کــــــه بادشــــــاه وي لانــــــدې کيــــــږي د نــــــوکر نــــــه[517]

حسين د کندو ذکر داسې کوي:

د غــــــم کنــــــدو يــــــې مــــــدام ډک وي د پېغــــــور پــــــه دانــــــو
چــــــې مــــــوټې ډکــــــه لکــــــه کونــــــډه کــــــا د عشــــــق لــــــه وټ[518]

د کندوانو ذکر خوشحال خان خټک په سوات نامه کې داسې کوي:

درســــــته خونــــــه يــــــې نيــــــولې پــــــه کنــــــدوانو
پــــــه گنــــــده روزگــــــار بــــــدتر دي تــــــر هنــــــدوانو[519]

په کور کې د استعمالېدونکو لوښو ذکر هم په دې اشعارو کې موندل کېږي.
خاورین بالټې یا پنډه اخون میاداد داسې یادوي:

لکـــه پنـــډه چـــې پـــه ســـور اور پرتـــه وي او وېشـــېږي
پـــه ظـــاهر هغـــه پنـــډه لیـــدی شي پـــه اور ســـوره ده[520]

احمد دین طالب د لرګي کټوی، کنډولی، کناوې او لور (داس) په دې شعرونه کې یادوي:

د بـــاران د ابـــو خـــوړ تـــه ویـــړه نـــه وي
نـــه پخیـــږي د لرګـــي کټـــوی کـــې خیـــز[521]

لعـــل جـــام یـــې د سرو لبـــو را پـــه خلـــې کـــړه
منـــت څـــۀ لـــه د کـــلال د کنـــډولي کـــړم[522]
کناـــاوې پـــه پښـــو کـــې نـــه ګـــرځم پـــه غرونـــو
کـــه ارتـــاو شـــم بیـــا مـــې یـــار تـــه جـــواب کـــوم دی[523]
څـــه فائـــده ده چـــې څـــوک تشـــې شـــوملې شـــاربي
یـــا چـــې لـــو لـــه یـــوسي بـــې دنـــدانو داس[524]

د توغ ذکر دوستی داسې کوي:

دا ســـتا تـــوغ لـــه کومـــه اوخـــوت د اســـمانه
تـــه زمـــا لـــه زور قـــوت نـــۀ یـــې خـــبر[525]

حافظ الپورۍ د بغرۍ ذکر داسې کوي:

پـــه خپـــل ځـــای نمانځنـــه غـــواړم نـــه یـــې مـــومم
لکـــه چـــرګ ټونګـــه مـــار نـــه یـــم پـــه بغـــرۍ کـــې[526]

د جرندې ذکر په دې شعرونو کې موندل کېږي:

هغـــه دانـــه چـــې اورســـېږي د هجـــران تـــر جرنـــدې
د غـــــم د پلـــه لانـــــدې مېـــــده اوړه راشي[527]

د ممکـــــــن ژرنـــــــده دې ګرځـــــــې
د توحیـــــد تـــــر ابـــــو لانـــــدې[528]

دا فلـــــــک لکــــــه آســــــیا سرونـــــــه لــــــــوني
دا د مـــــرگ مـــــېچن دانــــه نـــــه پريـــــږدي لـــــواړه[529]

احمـــــــــد دينـــــــه د دانـــــــو لار ده پـــــــه جرنـــــــــده
پـــــــرې ورځـــــــي کـــــه يـــــې هډونـــــــه د لـــــــوي[530]

د لرگي يو لوښی چې سپو ته پکې خوراک ږدي دگ ورته وايي، حافظ الپوری يې ذکر داسې کوي:

مــــــانج کــــړی جـــام يـــــې اوگـــــنم د بادشــــــاهانو لائـــــق
چــــې يــــې تحقيــــق اوکــــړم د ســـپو د خـــوراک دگ اوخيـــــژي[531]

د سپي د تړلو لپاره يو لرگی استعمالېږي، چې وېښ او سر ته يې لړه شان رسی وي، دې ته کولنډ وايي. وېښ او سر ته يې رسی او مينځ کې لرگی ځکه اچوي چې سپی دا رسی ونه خوري، په دې شعرونو کې د کولنډ ذکر راغلی دی:

پــــــه طلــــــب د خپـــــل مطلــــــوب ســـــــته صـــــــورت
د حســــــېن پــــــه غــــــاړه پــــــروت لکــــــه کولنــــــډ[532]

د دنيـــــا پـــــــه پليتــــــی دې ځـــــان پليـــــت کــــــه
د حـــــرص کولنــــــډ دې نـــــه شــــليږي لـــــه غـــــاړې[533]

تبی کاڼی

تبی کاڼی چې ورته تبي کاڼی هم وايي، دا يو داسې کاڼی وي چې کله څه ننگولی وغېره به پخولی شو، نو دا کاڼی به گرم کړی شو او بيا به يې کټوی ته وغورځولو، نو له دې سره به په کټوی کې هوگه او نرو ځيزونه وسوځېدل او د ننگولي ذائقه به برابر شوه. دا يو متل هم دی چې د سوات تبي کاڼی د سوات په پيتی کې غورځنگ وهي.

په دې شعرونو کې د تبی کاڼي ذکر داسې راغلی دی:

غــــوړ مــــې د صــــورت وربانـــــدې اوســـــو ســــپور کــــو دی شـــــوم
زړه مـــــې تبــــی کــــاڼی شــــه د هجــــر پــــه نغـــــري کــــې[534]
تبـــــــی کــــــاڼی مــــــــې د سر پکـــــــې لـــــــوغيږي
تــــــود دې هـــــر کلــــه دلـــــبره ســـــتا نغـــــری وي[535]

دا يـو کـانړی وي چې اول يې پـه اور کـې ګـرم کـړي او بيـا يـې لـه اور نـه رابهـر کړي او پيټی او بل نګولي ته يې واچوي:

سيکې يا روپۍ

د روپو يا د سيکو لپاره مختلف نومونه استعمال شوي، کوم چې په دې شعرونو کې په نظر راځي:

نـــن خـــو ســـتا ثمـــن رائـــج دی نـــه رد کيـــږي
وېـــره کـــړم صـــبا کاســـد نـــه شي صراف تـــه[٥٣٦]

احمـــد ديـــن طالبـــه هـــر ځـــای خپـــل وطـــن دی
چـــې پـــه لاس کـــې دې هـــنروي يـــا فلـــوس[٥٣٧]

مخزن کې يې د روپو لپاره د "ټنګې" لفظ استعمال کړی دی، لکه دا وګورئ."هسې وايي که بادشاه سړی وبولي ټنګې ورکه ډېرې". [٥٣٨] مخزن کې په يو بېت کې داسې وايي:

ای د ښـــه خـــدای بنـــدګانو د نبـــي د ديـــن رهـــبرو
دا تاريـــک قلپـــه ټنګـــه شـــوه پـــرې د پاســـه چـــاپ يـــې وواهـــه د زرو[٥٣٩]

خوشحال خان په سوات نامه کې ټنګې داسې يادوي:

پـــه کـــم اصـــل پـــه بداصـــل نظـــر نـــه کـــا
د ټنګـــو پـــه لالـــچ خـــور او لـــور واده کـــا[٥٤٠]

د سيکې لپاره کنجکه لفظ هم استعمال شوی دی:

پـــه جـــامو ســـپينو پګـــړو يـــې غلـــط نـــه شـــې
پـــه کنجکـــه نـــه بـــدليږي يـــو لکـــبس دي[٥٤١]

مناســـب دي چـــې تـــرجيح پـــه رقيـــب راکـــړي
چـــــې قيمـــــت د ده فلســـــه زمـــــا درم دی[٥٤٢]

چـــې بـــه يـــې مـــخ د سرې پېســـې نـــه ليدپـــه کـــال کـــې
اوس هغـــــوي لـــــره هـــــزار درم راځـــــي[٥٤٣]

محمد اکبر د دمړي ذکر هم کړی دی:

هغـــه شـــاهان چـــې غرونـــه غرونـــه پـــاس پـــه تخـــت ناســـت وي
خفيـــف کـــړه مينـــې پـــه ميـــزان د دوه د مـــړو خيـــژي[٥٤٤]

جامې

لباس یا جامې د کلتور یوه مهمه برخه ده. د یو قوم له لباس نه مونږ د هغوی د ډېرو خبرو اندازه هم کولای شو. د سوات په پښتو ادب کې د سوات د خلکو د جامو یا لباس ذکر هم ډېر مېلاویږي چې مونږ ترې په هغه وخت کې د مروج لباس اندازه لګولی شو. د یوسفزو د لباس په باره کې ایچ ـ ډبلیو ـ بیلیو داسې لیکي:

> Many wear clothes steeped in indigo to hide the dirt. The ordinary dress consists of a loose frock or kamiz, and wide trowsers, or partog, with a patka to wind round the head. All are of coarse cotton cloth of home manufacture, and are frequently worn, without a change, till in tatters: the dress of the chiefs and well-to-do is of the same kind, but of better material, of English manufacture. The dress of the women only differs from that of the men in the substitution of the oranai or chequered sheet, for the patka. This sheet is of the same material and pattern for the whole tribe.[٥٤٥]

ترجمه: ځینې خلک کپړې اغوندي چې هغه په اسماني رنګ کې رنګ کړل شوې وي چې د دوی خیرې پرې پټ شي. عام لباس په یو ارت کمیس، په یو ارت پرتوګ او له سر نه چاپېره په یو پټکي مشتمل وي. دا ټولې کپړې د کاټن جوړې وي او کورني مصنوعات دي او له بدلولو نه بغېر په مخه اغوستلی شي تر څو چې دا ټکړې ټکړې شوې نه وي. د ملکانو او د مالدارو خلکو لباس هم دا قسم وي، خو د هغوی خام مواد ښه وي، یعنې د انګرېزي مصنوعاتو وي. د ښځو لباس د سړو له لباس نه صرف په دې خبره مختلف وي، چې په هغې کې د پټکي پر ځای څادر یا پړونی وي. دا څادر د ټولې قبیلې په یو ډول او له یو شان موادو نه جوړ وي.

د سوات د وړومبي دور په پښتو ادب کې د لباس د ذکر څه حوالې دا دي:

سالو

د سالو ذکر په لاندیني شعر کې راغلی دی:

چـــې پــــه ســــور ســـــالو کــــې مـــــخ پنـــــاه کــــوي
دا پــــــه څــــــۀ زمـــــــا د مـــــــرگ بنــــــاکوي[٥٤٦]

اتلس

اتلس په دې شعر کې بیان شوی دی:

هـــــــوري بــــــــه پـــــــر بـــــــــدانو ښــــــادي زوړوي
اوس څــه شــوکه ځلورگــاه خوبونــه پرنهــالۍ پــه اتلــس کــا[٥٤٧]

خرقه

خرقه په لاندینو شعرونو کې بیان شوې ده:

کــه طلــب زمــا د خــولې کــړې پــه ژړا بــه ســترگې سري کــړې
د فقــیرۍ خرقــه بــه درکــړم کــه مــرد یــې وایــې غونــده[٥٤٨]

د فقـــــــیرۍ دا خرقـــــــــه یـــــــــې خوښـــــــــه ده
کمینــــــــــۍ پگــــــړي یــــــــې تـــــــر اســــــمانه ده[٥٤٩]

دا د ظـــــاهر خرقـــــه دې عـــــین د دینـــــدار وینمـــــه
تـــر خرقـــې لانـــدې پـــه غـــاړه دې زنـــار وینمـــه[٥٥٠]

کنــــد خرقـــه د ربښــــتونو فقیرانــــو نقــــش نشــــان دی
د عشـــق ترخـــه خـــواږه شراب صـــوفي د کندځښـــلي دي[٥٥١]

کند

د کند ذکر په دې شعرونو کې راغلی دی:

دا فقـــــیري دا کمینـــــــي د کمالـــــــت جامــــــه ده
فقــیري مــې د ابــراهیم آدهــم کنــد بیــا مونــد نــن شــپه[٥٥٢]

دا د عشـــق ده پيالـــه مســـته دا راغلـــې لـــه الســـته
پــه نــور ځــۀ بــه مونــده نــه شي بــې د فقــيرۍ لــه کنــده[553]

او د فقــــيرۍ کنــــد ئــــې بــــې زرو زر کــــې ويــــنم
غــــه شــــها و عاشــــقانو و تــــه موســــېده[554]

او کنــــد خرقــــه کچکــــول د فقيرانــــو نخښــــه
او دا ســــالک پــــه ســــپين نمــــر کــــې فقــــير شــــوی[555]

په مخزن کې په دې شعرونو کې د "کند" لفظ استعمال شوی دی:

د فقيرانــــو سره راز کانــــد پــــه کنــــد کــــې
لــــه بادشــــاهانو سره خــــوښ پــــه محــــال کــــې[556]

عظيم صواتی وايي:

چــــا مونــــدلې ده پــــه زوږ شــــليدلې کنــــد کــــې
چــــا مونــــدلې پــــه لبــــاس زر زري ده[557]

احمد دين طالب يې داسې يادوي:

د ملــــوک پــــه شــــان مــــې واغوســــتل کندونــــه
د نباتونــــه دې عــــدم کــــړل قندونــــه[558]

دوست محمد خان دوستی داسې وايي:

کنــــد کچکــــول او پنــــډيې واخيســــتو فقــــير شــــه
يــــک تنهــــا پــــه لارې تلومــــل يــــې کبــــير شــــۀ[559]

پګړۍ

پګړۍ يا پټکی چې د پښتنو د لباس يو مهم جز و، نن سبا ډېر کم شوی دی.
مياداد يې په لاندينو شعرونو کې ذکر کړی دی:

د فقــــيرۍ دا خرقــــه يــــې خوښــــه ده
کمينــــۍ پګــــړۍ يــــې تــــر اســــمانه ده[560]

اشـــــنا د فقـــــيرۍ پگـــــړۍ مـــــې تـــــا پـــــه سر کـــــړه
اوس بادشـــــاه د ســـــمر قنـــــد بخـــــارې شـــــوی يـــــم[٥٦١]

هغـــــــــه د دل ازارو لار و خـــــــــدائی تـــــــــه نشـــــــــته
څـــــه شـــــو لاس کـــــې يـــــې تســـــبيح مســـــواک دســـــتار وينمـــــه[٥٦٢]

د فقـــــيرۍ پگـــــړۍ پـــــه سر کـــــړه ميخـــــانې لـــــره ځـــــه
لکـــــه زاهـــــد پـــــه جماعـــــت کـــــې ريـــــا کارمـــــه کـــــوه
د پـــــير کاملـــــه تلقـــــين واخلـــــه د زړه زنـــــگ کـــــړه لـــــرې
کـــــه دې د زړه آئينـــــه زنـــــگ ده ســـــپين دســـــتارمه کـــــوه[٥٦٣]

د فقـــــيرۍ د کمينـــــۍ پگـــــړۍ مـــــې تـــــا پـــــه سر کـــــړه
او مـــــا ميـــــاداد پـــــه خپـــــل عمـــــل سره گټلـــــې نـــــه وه[٥٦٤]

د فقـــــيرۍ د کمينـــــۍ پگـــــړۍ مـــــې تـــــا پـــــه سر کـــــړه
او پـــــه بڼـــــو مـــــې د چـــــا لارې جـــــارو کـــــړې نـــــه وې[٥٦٥]

شړۍ

د سوات شړۍ ډېرې مشهورې دي، دا شړۍ ډېر زوړ تاريخ هم لري. پانيني په خپل کتاب کې ليکلي، چې د اودهيانه (سوات) شړۍ ډېرې مشهورې دي. دا شړۍ د Pandu-Kambala په نوم مشهورې دي.[٥٦٦] مېجر راورټي د سوات د شړيو ذکر داسې کړی دی :

Scarfs called shalakai both white and black, are woven here in great mumbers, which are exported for sale to Peshawar and other parts.[٥٦٧]

ترجمه: دلته د سپين او تور رنگ څادرې او شړۍ په زيات تعداد سره جوړېږي او دا د خرڅ لپاره پېښور او نورو علاقو ته لېږل کېږي.

اوس هم په اسلام پور کې مشهورې شړۍ جوړېږي. د شړۍ ذکر محمد اکبر داسې کوي:

اکـــــبره ځـــــان پـــــه شـــــړۍ پـــــټ کـــــړه يـــــار دې بـــــولي ورځـــــه

بـــــاران شـــــيبې دی خړهـــــر د جړجــــــوړو خيـــــــږي[٥٦٨]

حسين د شال، شړۍ او د نمد (نيمسی يا ليمسی) ذکر داسې کوي:

بادشـــــاهي يــــــې شي نصـــــيب پــــــه دواړه کونــــــه
چـــــې يکســـــاں شي ورتـــــه شـــــال، شـــــړۍ، نمـــــد[٥٦٩]

د بخمل د کپړې ذکر احمد دين طالب داسې کوي:

هلـــــه کيـــــــړي اشــــــنائي چــــــې دواړه ســـــيال وي
غريـــــب بدښـــــکاري چــــــې اغونــــــدي بخمـــــل[٥٧٠]

او د شال ذکر داسې کوي:

تـــوره شـــپه شي پـــه قمـــر چـــې نمـــر تـــرې پـــټ شي
پـــټ پـــه شـــال يـــې د مـــخ نمـــر راڅخـــه يـــوړو[٥٧١]

شـــــال شــــــړۍ دواړه پــــــه عقــــــل پيژنــــــدی شي
مگـــــر ړونــــد تــــه څــــه شـــــړۍ او څـــه شـــالونه[٥٧٢]

کلــــــه جـــــــوړيږي د شـــــــړۍ سره شـــــــالونه
د شــــــنوطوطيانو درپــــــــې گرځــــــي ســـــــپلونه[٥٧٣]

لــه دې حوالــو نــه د هغــه وخــت د ســوات د خلکــو د لبــاس پتــه ولگېدلــه چــې خلکــو بــه کــوم قســم لبــاس اغوســتلو. دا پتــه هــم ولگېدلــه چــې مالـدارانو، غريبانـانو او ښځو او سړو به کوم قسم لباس اغوستلو.

پيزار

له جامو يا لباس نه علاوه په ادب کې د هغې زمانې د پيزار ذکر هم موندل کېږي. حافظ الپوری د هغه وخت زرغونه کوښې په دې شعر کې يادې کړې دي. زرغونه کوښې به د اوچتې پايې د خلکو پيزار و، کوم ته چې پنې وايي:

پــــــه خــــــاطر مـــــــې د غـــــــم ونــــــه زرغونـــــــه شي
چـــــې پـــــه خپـــــو زرغـــــونې کوښـــــې ســـــنگاري کـــــه[٥٧٤]

کناوې د لرگي يو قسم پيزار و، چې گرځېدل به پکې ډېر گران وو، خو په ختو کې

به خلکو په پښو کولې. احمد دين طالب د کڼاوو ذکر داسې کوي:

کڼـــــاوې پــــه خپـــو کـــې نــــه گــــرځم پـــه غرونـــــو
کـــه ارتـــاو شـــم بيـــا مـــې يـــار تـــه جـــواب کـــوم دی[575]

د کڼـاوو پـه بـاره کـې دا يـو متـل هـم دی وايـي چـې کڼـاوې پـه خپـو کـړې او پـه فضاګټ ګرځې، نو دا بې اجله مرگ دی.

خوراک

د سوات د پښتو ادب د ورومبي دور له تجزيې نه د هغه وخت د خلکو د خوراک اندازه هم لګي. د سوات د خلکو مشهور خوراک وريژې دي، ځکه خو دا متل مشهور دی چې " د سوات خلک زاړه شو خو په وريژو ماړه نه شو."[576] عنوان الدين کاکا خېل هم په سوات کې د شولو ذکر کړی دی:

وريژې شولې هر قسمه | ســوات کـــې واخســـته زمـــه
هم جوار او هم غنم | مـــاش او مـــونږ ورسره ســـم
په کې نشته دی وربشې | لـــۀ وربشـــو خمبـــې تشـــې[577]

د يوسفزو د خوراک په باره کې ايچ ـ ډبليوـ بيليو داسې ليکي:

Their food is plain and wholesome, and almost entirely the produce of their cattle and lands. Milk in its various forms, the common cereals, vegetables, and meats, together with pot-herbs and edible fruits that grow wild, constitute the diet of the mass of the people. Sugar, and in some parts wild honey, is much used, but spirits are quite unknown. Tea is very little used and only by the rich, but coffee is not even known by name.[578]

ترجمه: د دوی خوراک ساده او صحت بخش دی او تقريباً د دوی ټول خوراک د دوی د ځارويو او د زمکو پيداوار دي. پی او د دې مختلف قسمونه، عامې غلې، غوښه، ساگ او د خوراک مېوې کومې چې په صحرا کېږي دا د ټولو خلکو د خوراک اجزا دي. چيني او په ځينو سيمو کې اصلي گبين زيات استعمالېږي، خو شراب بالکل څوک نه پېژني. چای ډېر کم استعمالېږي، صرف مالداره خلک يې استعمالوي او د کافي خو له سره څوک نوم هم نه پېژني.

خوشحال خان د سوات د خلکو د خوراک په باره کې داسې ویلي دي:

کـــه پـــه کـــور کـــې خزانـــې لـــري د زرو
بیـــا خـــواړه خـــوري پـــه شړشـــمو بـــه ډنـــبرو[٥٧٩]

د سوات خلک اوګره هم ډېره خوښوي چې خوشحال خان خټک ورته اشارې کړي دي:

د طـــالي کـــه درتـــه وایـــم یـــو کـــالی دی
ډک خانـــک دی د اوګـــرې کـــه یـــا تـــالی دی[٥٨٠]
د حـــرص ګېـــډه د ده وي هـــومره لویـــه
چـــې ســـوات پکـــې چمچـــه اوګـــره ده تـــو بـــه[٥٨١]
دروېـــزه د دوریـــزې اوګـــره خـــوړلي
پـــه دا مکریـــې حلـــوه سره لړلـــې[٥٨٢]

د اوګرې په باره کې مېجر راورټي داسې لیکي:

In the morning the Suwatis breakfast on a dish called aogrrah in Pashto, which in made by boiling rice to a dry state, and then mixing buttermilk with it unitill it assumes the consistence of porridge.[٥٨٣]

ترجمه: سحر کې سواتیان په یو قسم خوراک باندې ناشته کوي چې اوګره ورته ویل کېږي. دا داسې جوړېږي، چې د وچېدو تر حده وریژې وخوټکول شي بیا په دې کې کوچ غوړي واچول شي تر دې چې دا د کهیر په شان شکل اختیار کړي. احمد دین طالب هم په دې شعرونو کې مختلف خوراکونه ذکر کړي دي :

اوګـــی خـــوښ وي هـــم د جـــوارو پرنینـــې
نـــه پـــه لعـــل جـــواهر و پشـــمینې
کـــه پـــلاو تـــرې لـــه ورکـــړې ســـود یـــې نـــه شي
بـــې د خویخـــو ابـــو د چـــا چینـــې
پـــه وصـــال د معشـــوقې عاشـــق خوشـــحال وي
خوشـــحال نـــه وي پـــه حلـــوا او پـــه پیرنـــې[٥٨٤]

اخون قاسم پاپین خېل هم په فوائد شریعت کې د حلوا ذکر کړی دی.[٥٨٥] دغه رنګ د شوملو او کوچو ذکر هم په مختلفو شعرونو کې شوی دی، لکه د حافظ الپوری دا شعر:

مـــا خپـــل کـــام بيـــا نـــه مونـــد شـــوملې شـــاربم مســـکه نـــه وي
څـــه کـــړم نـــور وگـــړي کـــه روزي يـــې کـــامراني شـــوه[٥٨٦]

محمد اکبر شوملې، گبين، غوړي او سبزيانې داسې يادوي:

چـــې اثـــر پـــرې د شرابـــو شـــوملې نـــه کـــا
بـــې هـــوده لړلـــې خلـــې مېخـــواران ورک شـــه[٥٨٧]
د دلـــبر تـــر شـــينکي خـــال ځـــار شـــه اکـــبره
مـــوټ، مټـــر، لوبيـــا، چڼـــه لـــه مهـــو مـــو نگـــه[٥٨٨]
اکـــبر زمـــا پـــه در مېلمـــه دی نـــان خـــورش يـــې نشـــته
دلالـــه ورشـــه گبينـــه غـــوړي مـــا ســـته اوپېـــره[٥٨٩]

واړه د نفـــس مـــراد دی او دې نـــه شي پـــه هـــېڅ زمکـــه
بـــرنج دی کـــه حلـــوا کـــه پراټـــې دي کـــه اوچ کـــاک[٥٩٠]

احمد دين طالب په دې شعرونو کې کوچ، شوملې، غوښت، شوتل، مالگه مصاله او نور يادوي:

مگـــر کلـــه کـــچ د تشـــو شـــوملو خيـــژي
کـــه ورگـــډيې منـــډاڼو کـــړې درميـــان تـــه[٥٩١]

غوښـــت غلـــه ده، مگـــر ښـــه زلمـــې يـــې نـــه خـــوري
د ســـړي سره خـــوي نـــه ښـــائي د بيـــز[٥٩٢]
کلـــه کلـــه چـــې بـــه پـــېښ شـــوم مشـــکومی کـــې
راکـــول بـــه يـــې شـــوتل د مـــاهودال[٥٩٣]

زورور کلـــــه خپليـــــرې د کمـــــزوري
مگـــر بـــود کـــړي تـــرې څـــه مالگـــه مصـــاله[٥٩٤]

د سوات گبين هم ډېر مشهور دی ځکه خو دا متل دی. " هغه مچۍ د سوات دي چې غول يې شات دي" مېجر راورټي هم د سوات د گبين ذکر کړی دی. [٥٩٥]

د استوګنې ځايونه

د جامې، پېزار او له خوراک نه علاوه له پښتو ادب نه د هغه وخت د خلکو د کورونو او د استوګنې د ځايونو هم پته لګي. د هغه وخت د سوات د خلکو د کورونو او د اوسېدو د ځايونو په باره کې خوشحال خان وايي:

ولــــې نـــــه دي ډېـــــر چـــــرکين لــــري ځايونــــــه
آلـــــوده، ګنـــــده بـــــدبوی لکـــــه سرايونـــــه
څـــو ســـړي هـــومره يـــې ســـپي پـــه هـــره خونــــه
پـــه انګـــڼ کـــې يـــې چرګـــان ګرځـــې ســـلګونه
درســـــته خـــو نـــــه يـــې نيـــولي پـــه کنـــــدوانو
پـــه ګنـــده روزګـــار بـــدتر دي تـــر هنــــدوانو[596]

د يوسفزو د کورونو او د اوسېدو د ځايونو په باره کې بيليو داسي وايي:

Their dwellings are mean mud and lath cabins, full of vermin and foul air, and surrounded by cesspools and heaps of every kind of filth.[597]

ترجمه: د دوی کورونه له ختې او د لرګي له پټيو نه جوړ وي، چې له ورګو سپګو او بد بوی نه ډک وي او له دې نه ګېر چاپېره د ګنده اوبو ډنډونه او د هر قسمه ګندګۍ ډېري وي:

بل ځای خوشحال وايي چې د سوات په هر کور کې ولې بهېږي:

پـــه هـــر کـــلي پـــه هـــر کـــور کـــې يـــې ولـــې ځـــي
هـــم يـــې خـــوري هـــم يـــې هـــر لـــوري تـــه غلـــې ځـــي[598]

حافظ الپورۍ د وښو د کوټو ذکر هم کړی دی :

پـــــاتې لــــه شــــاهانو محلونـــــه حـــــويلۍ شــــوې
پـــــاتې لــــه خوارانــــو د وښــــو کـــــوټې جــــونګړې[599]

لـه دې حوالـو نـه پتـه لګـي چـې پـه هغـه وخـت کـې د سـوات د خلکـو کورونـه کچه وو او د صفايۍ يې هم څه ښه انتظام نه و.

د واده رسم و رواج

د واده، ښادۍ د رسم و رواج په باره کې معلومات هم د سوات په پښتو ادب کې په نظر راځي:

ولور

په واده کې د جینۍ د سر چې به کوم مال اخستل کېده، هغې ته به یې ولور ویلو. په دې شعرونو کې د ولور ذکر راغلی دی:

او د عاشـــــــقانو سر یـــــــــــې ولـــــــــور دی
پـــــه سرمونـــــــده شي څـــــه رنـــــګ ارزانـــــه ده[600]

دا د رښـــــتوني عاشـــــق سر زمـــــا د خـــــولې ولـــــور دی
هـــــر چـــــې خپـــــل سر پریکـــــوي هغـــــه خریـــــدار لـــــره ځـــــم[601]

دیني ورور او د سر واک

کله چې د یوې جینۍ نکاح کېږي، نو نکاح ته به هغه پخپله نه مخامخ کېده، بلکې د هغې له طرف نه به یو خپلوان د هغې وکالت کاوه. له وکالت کولو نه اول به هغه له ناوې نه د وکالت اجازت اخسته، دې اجازت ته "د سرواک اخستل" وایي او څوک چې د سرواک واخلي هغه ته دیني ورور وایي. دوست محمد خان په دې شعرونو کې دې طرف ته داسې اشاره کړې ده:

د بادشـــــــاه د ښـــــــځې و یـــــــو دینـــــــي ورور
نـــــور هغـــــه تـــــه بادشـــــاه وویـــــل في الفـــــور
ورشـــــه واخلـــــه تـــــه د ښـــــځې نـــــه وس واک
چـــــې نکـــــاح مـــــې دوبـــــاره اوکـــــړي ښـــــه پـــــاک
پـــــس لـــــه هغـــــه دینـــــي ورور لاړ پـــــه لغـــــت
خـــــاص محـــــل تـــــه د بادشـــــاه هغـــــه ســـــاعت
زر بي بي تـــــه یـــــې ویـــــل واک راکـــــړه د خپـــــل لاس
چـــــې نکـــــاح دې کـــــړي وس نـــــوی ســـــم د لاس
چـــــې دې ورور بي بي خـــــبر کـــــړه د دې کـــــار
نـــــور دا هـــــم پښـــــېمانه وه پـــــه خپـــــل ګفتـــــار
دې بي بي ورتـــــه نـــــور وویـــــل زر پـــــه زر
مـــــا واک تالـــــه دې درکـــــړی د خپـــــل سر[602]

دغـه د سر واک چـې بـه چا واخسـت او د یـوې جینـۍ دینـي ورور بـه جـوړ شـو،

نـو ده بـه بیـا ټـول عمـر د دغـې جینـۍ داسـې خیـال سـاته، لکـه د خپلـې خـور او د خوشحالو په موقعه لکـه د اخـتر او شـوقدر بـه یـې دغـې دینـي خـور تـه څـه نـه څـه برخـه ضرور ورکوله.

د غم رسم ورواج

دوست محمد خان دوستی د مړي په کفن او جسم باندې د مختلفو دعاګانو لیکلو په باره کې داسې وايي:

دا د عاکـــــــه چـــــــا ای وروره اولیکلـــــــــه
پـــــه کفــــن د پاســــه وایــــم بـــــې تحملــــه
هـــــم آیـــــات ښــــه ورسره ای زمــــا جانـــــه
زر یــــــې اولیکــــــل یــــــارانو لــــــه ښــــه شــــانه
خــــدای بــــه خــــلاص کــــړي لــــه عــــذاب د ګورســــتان
د دې دعــــا پــــه برکــــت هغــــه زمــــان[۶۰۳]

او بل ځای داسې وايي:

او بـــــل دا د عاکــــه چــــا ای زمــــا یــــاره
پــــه کفــــن ښــــه اولیکلــــه بــــر خــــورداره
لــــه ده ورک بــــه کــــړي عــــذاب لــــه ګورســـتان
پــــه خپــــل فضــــل سره هغــــه دم ســــبحان
یــــا کــــریم العفــــو ذالعــــدل
انـــــت الـــــذي لـــــک عـــــدل کـــــل شـــــئ[۶۰۴]

او د مړي د سینې له پاسه د دعا لیکلو په باره کې داسې وايي:

بـــــل دا زده کـــــړئ یـــــارانو اوس لـــــه مانـــــه
کـــه پـــه ترتیـــب پـــه ســـینه چـــا د مـــړي جانـــه
تســــمیه یــــــې اولیکلــــه پــــه هــــنر
هــــم پــــه وچــــولي یــــې تحریــــر کــــړه برابــــر
خــــدای بــــه دور کانــــدي د ګــــور واړه عــــذاب
لــــه مــــرده نــــه پــــه خپــــل فضــــل پــــه شــــتاب[۶۰۵]

اگر چې دوست محمد خان دوستي د مړي په وجود د دعاګانو د لیکلو فضایل بیان کړي، خو په سوات کې داسې روایت ما پیدا نه کړ، چې خلکو مړو ته په وجود دعاګانې لیکلي وي. مړي پسې د ژړا په باره کې دوستی داسې وایي:

اوس بیـــــــــان کـــــــــړم د ژړا واورئ یـــــــــارانو
کـــــه څـــــوک ژړا کـــــړي پـــــه مـــــرده پســــــې دوســـــتانو
یـــــا مـــــور مـــــړه شي یـــــا پـــــلار یـــــا بـــــرادر
یـــــا څـــــوی یـــــې خلقـــــه مـــــړ شي معتـــــبر
هغـــــه کـــــس چـــــې ژړا کـــــوي پـــــه زوره
نـــــور مخلـــــوق یـــــې پـــــه غـــــوږ اوري لـــــه هـــــر لـــــوره
طعـــــام مـــــه لېـــــږده د دوي کـــــره ای یـــــاره
کـــــه یرېـــــږې لـــــه عذابـــــه د قهـــــاره[۶۰۶]

مړي پسې چې ښځې ژاړي د هغې په باره کې داسې وایي:

پیغمـــــبر دي بیـــــا د هســـــې شـــــان ویـــــلي
مـــــا پخپلـــــه پـــــه کتـــــاب کـــــې دي لیـــــدلي
چـــــې هـــــېڅ ښـــــځې لـــــه روانـــــه دي ای جانـــــه
پـــــه غـــــم کـــــې سر سرتـــــورول واوره زمانـــــه
هـــــم وښـــــکل د سر وېښـــــته ای زمـــــا یـــــاره
روا نـــــه دي پـــــه هـــــېڅ غـــــم کـــــې برخـــــورداره[۶۰۷]

او په بل ځای داسې وایي:

دغـــــه ښـــــځه چـــــې ویـــــر کانـــــدي لـــــه دهانـــــه
شي لـــــه خدایـــــه پـــــه دا ویـــــر دا بـــــې فرمانـــــه
درتـــــه وایـــــم هـــــم لـــــه کـــــل فرښـــــته ګـــــانو
بـــــې فرمانـــــه بـــــه شي دا واورئ یـــــارانو
هـــــم بـــــې فرمانـــــه شي لـــــه کلـــــو پېغمـــــبرو
چـــــې دا پـــــه اوچـــــت اواز کـــــوي ژړا دلـــــبرو
کـــــه پـــــه پټـــــه ښـــــځه زړه کـــــې نـــــور ژړیـــــږي
پټـــــې اوښـــــې پـــــه ګریـــــوان کـــــې تـــــرې بهیـــــږي

په کـــې هـــېڅ نشـــته دی بـــاک ای زمـــا لالــــه
درتـــــه وایـــــم خــــبر شــــه لـــــه دې مقالـــــه[۶۰۸]

اخون کریم داد په غم کې د ښځو د ژړا نقشه داسې راښکلې ده:

څــه بــه درتــه وایــم د عــور تینولــه کــم بختــی
یــو نــامراد ســړی چــې مــړ شي دوی بــه ویلــه وکــاچي راځــئ
فلانکـــــی مـــــړ شـــــه مـــــونږ بــــه ویــــر کـــړو
و تزنــې جــامې وکــاږئ خپسرـ پــه ښــو جــامو بــه جــوړوئ
لکــــــه دوی خپسر ــــــ ښـــــځو کـــــا
پــر لــه پســې بــه شي روانـــې دوی پــه مثــل د لــړی
چــې د مــړده پــه غــولي ورشي خپــل اواز بــه سرنــده کــا
پــه نخــا بــه شي ورگـــډې پــه معنٰــي لکــه لـــولی
دوي شـــین گـــرې شي روانـــې شـــین گـــرې بــه ښــېوه کــا
زیـــات پــــر دنیـــا لـــــه کـــم پــــر پوښـــتی
تېـــرې بـــه یـــو وبلتـــه کانـــدي شـــین گـــرې
چـــــې پــــه ویــــر کومــــه مړنــــی
یـــو بـــه لـــه ژړا رخـــه وي ســـته دوی بـــه وایـــي
چـــې تـــر اوســـه تـــا ژړا نـــه زده کولـــه ای خرگـــی
دا بـــې هـــوده عمـــر دې پـــه چرتـــه تـــیراوۀ
ای یـــــا وې خــــــواري کـــــــوهی
هغـــه ویرژلـــې کـــه هـــر څـــو وي صــــبرناکه
د دوی لـــه شـــامته بـــه شي تـــر خاونـــد پـــورې حصـــی
هغـــه عزیـــزان چـــې بـــه د دوی صـــوتونه اوري
خـــدای پـــر دوی بـــه شي ناراضـــه د اللـــه د نـــا شـــکرتی
دوی بــــه وایــــي ویرژلــــې د ادي وخـــــت دی
کــه بــه ژاړې دا دې وخــت دی هــم برمنــده کــړه څــړی[۶۰۹]

لکه څنګه چې مخکې د دوست محمد دوستي په حواله ذکر شو چې که په غم څوک ژاړي نو هغوی ته د غم روتی وړل نه دي پکار. په دې باره کې اخون قاسم پاپین

خېل وايي چې که په غمجنو کې نوحه ګره ښځه نه وي، نو دوی ته طعام رسول مستحب دي، چې ژړا کاندي په زوره، چې د شرعي حکم نه وي، لکه سرور چې په ورځ د غم کې د امیر حمزه عیال لره طعام وروستولی،که په دوی کې نوحه ګره ښځه وي چې ژړا او ویرونه کوي نو بیا د طعام وراستول ناروا دي چې په ګناه باندې مدد دی.[٦١٠]

قبرونه

د قبر دوه قسمونه دي یو شامي او بل لحد. فوائد شریعت کې لیکلي چې که زمکه نرمه نه وي او لحد پکې جوړېږي نو د شامي نه د لحد کول بهتر دي.[٦١١] کله چې مړی په قبر کې وسپارل شي نو د هغه په قبر یو شین ډکی نهلولی شي. په دې باره کې دوست محمد خان داسې وايي:

بـــــل چــــې څــــوک ډکـــــی پـــــه قـــــبر کـــــړي نهــــــل
د خـــــــالق پـــــــه فضـــــــــل شـــــــین شي مکمـــــــل
دا شــــــــین ډکــــــــی ثنــــــــا وایــــــــي د خاونــــــــد
د قیامـــــــت دورځــــــــې پــــــورې پــــــه ښــــــه خونــــــد
دا ثــــــواب ښــــــه بــــــې حســــــاب د مــــــرده وینــــــه
د اشــــــنا ســــــړي پــــــه شــــــان ملګــــــری وینــــــه
چــــې څــــوک اوکــــاږي لــــه قــــبره ډکــــی شــــین
بیــــــا ثنــــــا نــــــه وایــــــي د رب العــــــالمین
لکــــه ســــړی چــــې پــــه مــــرګ مــــړشي کــــام نــــا کــــام
نــــور کــــولی دی لــــه خلــــې نــــه شي کــــلام
هســــې شــــان تــــه شي دا شــــین ډکــــی مــــمات
حمــــد د خــــدای نــــه شي ویلــــی کــــم و زیــــات
نــــــاروا دي ای مخلوقــــــه دا دې نــــــه کــــــا
کــــه وکــــاږي بدبــــه وکــــا بدبــــه وکــــا[٦١٢]

په سوات کې د ستا نه دارو د مقبرو ډېر احترام کېږي او له هغوی نه ونې هېڅ څوک هم نه پرېکوي. د دې وجه مخدوم تصدق احمد داسې بیانوي:

It was also thought that the stanadars were able to exercise their powers after death. The testimony of this may be seen in

large groves of ancient olive trees here and there which stand in contrast to the barren naked hills. Evidently, the reason why the groves have escaped the ravages of the axe lies in the fact that within them are the graves of saints to which men and women came every Thursday for favours. The trees and shrubs in the vicinity of the groves are not molested lest wrath of the saint should befall the "Sinner".[٦١٣]

ترجمه: دا هم یو خیال و چې ستانه دار له مرګ وروسته هم د خپلو اختیاراتو استعمال کولی شي. د دې په ثبوت کې مونږ د خونانو زړې او غټې ونې لیدلی شو، کومې چې د لغړو غرونو په مقابله کې دلته ولاړې دي. په ظاهري توګه د دې خبرې وجه چې ایا دا ګڼ ځنګلونه له تبر نه څنګه محفوظ پاتې شوي، دا وجه په دې حقیقت کې پرته ده چې دلته د پیرانو او ولیانو قبرونه دي چې د هر زیارت په ورځ سړي او ښځې له هغوی نه د سوال کولو لپاره دلته راځي. د دې قبرونو ونې او بوټي څکه نه شي خرابولی چې هسې نه د دې ولیانو او پیرانو غصه په دې ګناه کوونکو باندې پرېوځي.

مېجر راورټي په سوات کې د عامو مقبرو په باره کې داسې لیکي:

The Afghan tribe, like all Muhammadans, have a great respect for the last resting-plces of their own dead, at least; but the Suwatis seem to feel little compunction or respect on this head. I have already mentioned that the strip of land lying between the villages and the rise of the mountains, is set apart for the cultivation of wheat and barely, and that, in that land also, their burying grounds are situated. After a few years they allow these fields to lie fallow for some time and plough up all the burying grounds, and, in future bury the dead in the fallow land! This may be consequent on the small quanitity of land available for purposes of agriculture; but still, it appears a very horrible custom.[٦١٤]

ترجمه: پښتانه د نورو مسلمانانو په شان د خپلو مړو د مقبرو ډېر خیال ساتي، خو په دې باره کې سواتیان کم درناوی او عزت ورکوي، لکه څنګه چې ما وړاندې ذکر کړي،

چې د زمکې هغه ټکړه چې هغه د دوو کليو يا د غرونو په مينځ کې پرته وي هغه د غنمو او د وربشو دکرکيلې لپاره بيله کړې شوې وي او په دغه زمکه کې د دوی مقبرې هم وي، يو ځو کاله وروسته دوی دا زمکې د څه وخت لپاره شړې پرېږدي او بيا دا ټوله د مقبرې زمکه يوې کړي او بيا په راتلونکي کې مړي په شاړه زمکه کې سپاري. د دې دا وجه هم کېدی شي چې دلته د کروندې زمکه کمه ده، خو بيا هم دا ډېر د وېرې قابل رواج دی.

د دې يوه وجه دا هم کېدي شي چې په سوات کې به د ګرځنده وېش له وجې خلکو د يو بل د مقبرو احترام نه کولو. د وليانو او پيرانو قبرونو ته به خلک تلل او له دې نه علاوه به د اختر، شوقدر او په نورو خاصو موقعو خلک د مړو قبرونو ته تلل. د مړو قبرونو ته د تلو لپاره د خاصو ورځو تذکره دوست محمد خان دوستی داسې کوي:

مردګـــــــانو تـــــــه د تلـــــــو دپـــــــاره وروره
يــــو څـــو ورځـــې مقـــرر دي راشـــه ګـــوره
اول شـــــنبه بلـــــه دويمـــــه دو شــــــنبه ده
هـــــم دريمــــه ښائســــته ښــــکلې پانجشــــنبه ده
د جمعـــــــې ورځ ځلـــــور مـــــه ده افضــــــله
اوس وختونــــــه درتــــــه ښــــايمه ای دلـــــــه
چـــــــې ورځ راشي جمعـــــــه واوره مومنــــــــه
څـــه مـــرده ګـــانو لـــره پـــس لـــه ماســـپخينه
چـــــې ورځ راشي خاصـــــه شـــــنبه زمـــــا جانـــــه
زر دنمـــــر پـــــه ختـــــو څـــــه واوره زمانــــــه
هـــم چــــې ورځ د دوشــــــنبې راشي اظهـــــاره
د غرمـــــې پـــــه وخـــــت دې څـــــې ای زمــــا يــــاره
چـــــې ورځ راشي درتــــه وايـــــم پنجشـــــنبه هـــــم
څـــې دې قـــبر لـــه پـــه خاښـــت وخـــت کـــې کـــره هـــم[٦١٥]

کله چې څوک قبر ته لاړ شي او د هغه قبر په واسطه څه سوال کوي، نو د سوال له کولو نه اول چې کوم لوازمات پوره کول پکار وي د هغې په باره کې دوست محمد خان دوستی داسې وايي:

کــــــه طلـــــب کانـــــدي څـــــوک وروره د زيـــــارت
اول دې وکـــــــړي دوه رکعاتــــــه پــــــه عـــــزت
ثـــــواب دې وبخښـــــي پــــه روح د ولي بانـــــدې
پـــــس لــــه هغـــــه دې ولي تــــه ورتلـــــل کانـــــدي
ثـــــواب وليـــــږي د نفلـــــو پـــــاک ســـــبحان
هغـــــه ولي تــــــه دا ســـــړی چــــــې وي روان[٦١٦]

او بيا چې کله له نفلونو کولو نه پس د هغه ولي يا نېک سړي قبر ته ورشي او څه سوال يا دعا کوي نو داسې به وايي:

زه اوس ســــوال ســــتا پــــه روضــــه کــــوم لــــه خدايــــه
تــــه هــــم ســــوال زمــــونږ دپــــاره کــــړه نېــــک رايــــه
چــــې حاصــــل کــــړي خــــدای زمــــا د زړه مقصــــود
چــــې بيرتــــه ســــتانه ځمــــه کــــور تــــه ښــــه خوشــــنود[٦١٧]

ټولنيز ژوند او پښتونولي

په يوه ټولنه کې يو ځای اوسېدل او له يو بل سره غم ښادي او کلی کلويغي کولو ته ټولنيز ژوند وايي.د پښتنو د ټولنيز ژوند څه اهمې خبرې دا دي:

بيمار پوښتنه

د بيمار پوښتنه کول، هغه ته تسلي ورکول او د هغه ډاډګيرنه کول پښتانه لازمي ګڼي، ځکه چې اسلام هم د دې خبرې تاکيد کوي .[٦١٨]

جرګه

جرګه په پښتني ټولنه (سماج) کې د انتظامې او د عدليې د دواړو کردار ادا کوي. دا د پښتونولۍ يو اهم جز دی ځکه يې په ادب کې ډېرې حوالې موندل کېږي.

حافظ الپورۍ په يو شعر کې جرګه داسې يادوي:

کــــوم يــــوه بــــه د ځــــان برخــــه خوښــــوله
پــــه جرګــــه کــــه هغــــه وېــــش وی عــــالي شــــانه[٦١٩]

احمددين طالب د جرګې ذکر داسې کوي:

کـــــور چـــــې وران شي پـــــه جرګـــــه د کـــــور رغيـــــږي
اغيږلـــــى خـــــلاص د بـــــل پـــــه دنبـــــال نـــــه شي[٦٢٠]

د پښتونولۍ خپل څه خصوصيات دي چې په هغې کې مېلمه دوستي، بدرګه، بدل او نور هم شامل دي. د پښتونولۍ د دې عناصرو ذکر لاندې کولی شي.

مېلمه پالنه

مېلمه پالنه د پښتنو يو ښکاره صفت دی. دغه وجه ده چې دا د پښتو او پښتونولۍ يو اهم جز ګڼل کېږي. پښتانه مېلمه ته همېشه لپاره ښه خوراکونه ورکوي او بيا د مېلمنو په مينځ کې هم توپير موجود وي، چې د يو مېلمه په نسبت د بل قسم مېلمه زيات خيال ساتل کېږي، لکه د لرې ځای مېلمه او د نزدې مېلمه او نور.

د نيـــــازبين مېلمـــــه مـــــدام غوښـــــې خـــــوراک وي
کـــــه ســـــتا غـــــم مـــــې د خـــــوږ زړه بـــــوټۍ خـــــوړلې[٦٢١]

د مېلمه او مېلمه پالنې په حواله د احمد دين طالب يو څو اشعار وړاندې کولی شي:

چـــــې مېلمـــــه درنـــــه ډوډۍ غـــــواړي پتـــــيره
پـــــه مهلـــــت يـــــې يـــــو ســـــاعت نـــــه کـــــړې خمـــــيره[٦٢٢]

چـــــې پـــــه کـــــور کـــــې د چـــــا چـــــرګ پـــــلاو پخيـــــږي
مېلمانـــــه يـــــې نـــــه خـــــورې خـــــس د کبـــــل کـــــر ش[٦٢٣]

ورتـــــه خانـــــده چـــــې مېلمـــــه نـــــه نـــــه خلاصـــــيږي
لـــــه اولـــــه شي رمضـــــان پســـــې اخـــــتر شي[٦٢٤]

دوست محمد خان دوستی د مېلمه پالنې په باره کې په يوه واقعه کې داسې ذکر کوي:

پـــــير ويـــــل چـــــې ورتـــــه نـــــه کـــــړې جبـــــين بـــــوټ
نـــــور پـــــه دا جبـــــين وي بـــــد د غـــــوړو ګـــــوټ
د وربشـــــــو ډوډۍ ورکـــــــړه پـــــــه ټقالـــــــه
تـــــل هغـــــه تـــــه دا نعمـــــت دی زمـــــا لالـــــه
د مېلمـــــــه دی دا تعظـــــــيم ای زمـــــــا وروره

لکـــــه مـــــا چـــــې بيـــــان اوکـــــړه ورتـــــه گـــــوره
ټـــــول عـــــالم کـــــړه پـــــاک خـــــالق تاتـــــه محتـــــاج
پـــــه هـــــر يـــــو ولي د پاســـــه ســـــتا خـــــراج
نـــــور پـــــه څـــــه بـــــه د مېلمـــــه وي مهمانـــــې هـــــم
ځـــــواب راکـــــړه زه د دې يـــــم ارمـــــاني هـــــم
ده ويـــــل تـــــه پـــــرې اول واخلـــــه ســـــلام
پـــــس لـــــه هغـــــه ورسره اوکـــــړه کـــــلام
بيـــــا تـــــه ســـــت اوکـــــړه مېلمـــــه تـــــه د نعمـــــت
نـــــور يـــــې کـــــور تـــــه زر روان کـــــړه پـــــه عـــــزت[٦٢٥]

هر سړی وايي چې ما د مېلمه قدر وکړی، خو په غريب سړي چې کله مېلمه راشي، نو هغه ځکه وارخطاشي چې هغه کماحقه قدر نه شي کولی. قاضي غلام رباني په يو شعر کې دې طرف ته داسې اشاره کړې ده:

رنـــــگ مـــــې زيـــــړ وار مـــــې خطـــــا دی بيلتانـــــه تـــــه
لکـــــه خـــــوار ســـــړی چـــــې گـــــوري ميلمانـــــه تـــــه[٦٢٦]

بدرگه

د قافلې د حفاظت لپاره او يا چا ته د عزت ورکولو لپاره چې کوم کسان ځي، هغې ته بدرگه وايي. مياداد د بدرگې لفظ په دې شعر کې ذکر کړی دی:

بيـــــا هغـــــه څـــــوک بـــــدخواهان بـــــه زمـــــا څـــــه وکانـــــدي
بدرگـــــه راسره تاغونـــــدې اللـــــه لرمـــــه[٦٢٧]

بدرگه په هغه وخت کې ډېره عامه او اهمه وه کله چې به د سفر په دوران کې د ډاکې کولو خطره وه، نو خلکو به خپل مېلمانه د خپل کلي له حدودو نه په امن ويستل غوښتل نو بدرگه به يې ورسره ملگرې کړه.

برمته

کله چې د يو کس په بل کس قرض وي او هغه يې ورکولو ته تيار نه وي، نو د پور خاوند له پوروړي نه څاروي يا سړي په برمته کې بيايي او تر هغه وخته يې نه ورکوي ترڅو چې د ده قرض نه وي ورکړی شوی. له برمتو نه ډېرې جگړې هم پېښېږي خو زياتې برمتې

بیا د جرګو مرکو په ذریعه فیصله کیږي.[۶۲۸] کله کله به پښتنو د حکومتونو نه هم برامتې کولې، په پټه به د حکومت حدونو ته واوړېدل او نر یا ښځه چې څه به یې په لاس راغلل برامته به یې کړل، سبا ته به یې بیا اظهار وکړو او د دې برمتې په ذریعه به یې خپل بندیان خلاسول.[۶۲۹] په ۱۸۷۵ کې په سوات کې د سوات اخوند چې په سیدو بابا مشهور وه هغه د برامتې خلاف فتوه ورکړه او د دې د وجې سواتیانو برامته بنده کړه.[۶۳۰]

بدل

بدل هم د پښتونولۍ یو اهم توکی ګڼل کېږي. بدل دوه معنې لري یوه معنا یې دا ده چې که څوک له چا سره ښېګړه وکړي نو د دغې ښېګړې په جواب کې نېکي کول هم بدل دی او دویم قسم یې د دښمنۍ دی، یعنې که چا له چا سره بد وکړل، نو هغه کس به د خپلو بدو د بدل اخستلو کوښښ کوي. دوستی په اسلامي نقطه نظر سره د بدل ذکر داسې کوي:

نـــــور پـــــه دا رنـــــګ حکـــــم دی د پـــــاک غفـــــور
چـــــې پـــــه حـــــر بانـــــدې بـــــه وژنـــــئ تاســـــو حـــــر
او پـــــه عبـــــد بانـــــدې وژنـــــئ عبـــــد تـــــل
هســـــې نـــــه چـــــې بـــــه قصـــــاص اخلـــــئ د بـــــل
او پـــــه ښـــــځه وژنـــــئ ښـــــځه نـــــور همـــــېش
دا دی امـــــر پـــــه کـــــې مـــــه کـــــړئ کـــــم وبـــــېش
تاســـــو ټـــــول ځـــــئ د دې امـــــر نـــــه پـــــه عکـــــس
هســـــې شـــــان تـــــه ای مخلوقـــــه کړمـــــه بحـــــث
چـــــې یـــــوتن بـــــه پـــــه ټـــــبر کـــــې وي قاتـــــل
د قصـــــاص حکـــــم پـــــرې وي د پـــــاک جلیـــــل
تاســـــو مړیـــــې بـــــې تقصـــــیره کـــــړئ پـــــدر
یـــــا یـــــې ورور بـــــې ګنـــــاه مـــــړ کـــــړئ یـــــا پسر[۶۳۱]

دلته په سوات کې به د قاتل پر ځای بل وژل کېده، لکه خوشحال چې وايي:

لـــــه قاتلـــــه ځـــــان غلـــــط کـــــا پـــــه قصـــــاص کـــــې
د مقتـــــول پـــــه ځـــــای بـــــل ووژني پـــــه خـــــاص کـــــې[۶۳۲]

د یــو د غلطــۍ ســزا بــل تــه ورکــول نــه دي پکــار او ددې لپــاره دې پښــتنو لیکوالانو په هغه زمانه کې کوښښونه کړي دي:

ټل او ډله

د سوات په ټولنیز ژوند کې د ټل او ډلې ډېر اهمیت و. د هر خان، ملک او د ټپې د مشر به ځان ځان ته ډله وه. د سوات په سماجي تنظیم کې د دې ډلو ډېر اهمیت و، په ګرځنده وېش او نورو ټولنیزو معاملاتو کې د ټل او د ډلې خپل اهمیت پاتې شوی دی. احمد دین طالب د ټل او ډلې ذکر په دې شعر کې کوي:

نــــه دې چــــا سره الفــــت نــــه معرفــــت وه
نــــه دې ډلــــه وه نــــه ټــــل پــــه دې دنیــــا[۶۳۳]

ټـل او ډلـه د ریاسـت لـه ختمېدو، یعنـې پـه پاکسـتان کـې لـه ضـم کیـدلو سره بیـا کمـزورې شـوه او د دې اهمیـت هـم ورو ورو خـتم شـو. بیـا د ریاسـت لـه انضـمام نـه بعد د ټل او د ډلې پر ځای سیاسي جماعتونه جوړ شول.

پچه یا خسنۍ

په سوات کې د زمکو د وېش او د نورو مهمو خبرو د فیصلې کولو په موقع به خسنۍ اچول کېده. خسنې ته هسک هم ویلی شي، لکه خوشحال خان چې وایي:

کــال پــه کــال د ملــک پــه هســک کانــدي باختونــه
بــې لښــکرو پــه خپــل ځــان کانــدي تاختونــه[۶۳۴]

د میاداد په دې شعرونو کې "پچه" ذکر شوې ده:

او هغــه ځــوک عالمــان ځــوک دروېشــان لیــده شي
او میــاداد لــه میانــه واچولــه خپلــه پچــه[۶۳۵]

هغــه تــا برخــې د قســمت پــه ارواحــان وېشــلې
او د میــاداد پــه نــام ختلــې د دولــت قرعــه ده[۶۳۶]

کــه زه شــها خپلــه پــه تــا بانــدې مېینــه نــه وی
دا د دولــت پچــه بــه ســتا پــه نــوم ختلــې نــه وه[۶۳۷]

پچه یا خسنۍ اچول په ډېرو موقعو خلک کوي او په خصوصي توګه کله چې څوک یو څیز تقسیموي، نو بیا دا ډېر کارول کېږي. د شېخ ملي د زمکو وېش به هم په خسنې کېدل او خلک هم دې ته تیار وي چې په خسنې څه فیصله وشوه، نو هغه به بیا ټول مني.

استسقا

کله چې ډېر وخت سوکړه شي او باران نه وي، نو خلک له الله تعالی نه دعا غواړي او د باران طلب کوي، دې عمل ته استسقا وایي. محمد اکبر په یو شعر کې استسقا داسې یادوي:

استسقا لره بیرون درومه اکبره
کوکاري شوه اوچه کلکه باران نشته[٦٣٨]

د اوړدې سوکړې له وجې چې کله بارانونه نه کېږي، نو کله کله ماشومان هم خپل یو دود کوي. هغه داسې وي چې مخونه تور کړي په چم محلت کې وګرځي او له خلکو نه غوړي، اوړه،ګوړه، چیني او نور راجمع کړي او بیا تړې حلوه پخه کړي او په خپلو کې یې تقسیم کړي. په دې موقعه کله په مقبره کې په قبرونو اوبه هم واړوي. دې عمل ته تورمخی وایي.

ګودر

په پښتو ادب کې د ګودر له ذکر سره روماني احساسات راڅرګیږي. د ګودر د اهمیت اندازه له ګودر سره تړلې له فوکلوري ادبیاتو نه لګي. له ولسي ادب نه علاوه په تحریري ادب کې هم د ګودر ذکر ډېر موندل کېږي. د سوات یو شاعر خیری په یوه چار بیته کې ګودر داسې یادوي:

د مشغولګی طرف ته وخت د مازیګر ښایه شي
عاشقه نیسه دواړه لارې ورته
هغه درنه ورله ورځي چې پرې ګودر خائسته شي
څه حاجت نشته دریباري ورته
خیرالله خانه که روئیداد یې ورته[٦٣٩]

اګر چې په ګودر د پېغلو جونو ملاقاتونه کېږي، په مختلفو امورو بحثونه

کـوي او زلمــي هــم د گــودر پــه طـرف د ملاقـات لپـاره سـترگې پـه لار ناسـت وي، خـو د دې دومـره رومانيـت بـاوجود د گـودر هــم څـه خپـل اصـول وي چـې ټـول پښـتانه يــې مني.

د ښځو ژوند

د سوات د دې دور په پښتو ادب کې د ښځو د ژوند په باره کې هم کافي معلومات په لاس راځي او له دغو معلوماتو نه د هغه وخت په ټولنه کې د ښځو د مقام، مرتبې او د هغوی د ژوند پته لگي.

خوشحال خټک د سوات دخلکو په باره کې وايي چې دوی د ښځو تابعداري کوي او د ښځو غلامان دي. د دې نه پته لگي چې د هغه دور په ټولنه کې ښځو ته يو ښه مقام حاصل و، لکه دا شعر:

خــــــبردار کلــــــه پــــــه شرم پــــــه کــــــرم دي
همگـــــــي عبدالزوجــــــه عبدالـــــــدر هــــــم دي
هـــم يـــې کـــبر هـــم يـــې حکـــم هـــم يـــې نـــاز وړي
پـــه هـــر څـــه کـــې د عورتـــو ســـاز ناســـاز وړي[٦٤٠]

د هغه وخت د سوات د يوسفزو دا يو رسم هم و، چې د لور خور پر سر به يې پېسې هم اخستې چې ورته د سر مال وايي، لکه خوشحال چې وايي:

ســــېوائي بــــدې د لــــور چـــې لونـــه پلــــوري
پـــه دا څـــو توکـــه کـــې غـــرق دي مـــخ تـــوري
پـــه کـــم اصـــل پـــه بداصـــل نظـــر نـــه کـــا
د ننگـــو پـــه لالـــچ خـــور او لـــور واده کـــا[٦٤١]

دا خبره خو صحيح ده چې د لور يا خور پر سر به يې روپۍ اخستې، خو دا هغه شان خرڅول نه وو لکه چې يې عام طور گڼلی شي ځکه چې دغه اخستی مال به يې بيا د لور يا خور په واده لگوه، ځان ته به يې نه خوړه او دغه شان به د جينۍ واده په موروپلار بوج نه و، بلکې دا به د هلک په کور والا و.

د چا د غم په موقعه به ښځې د غم کور ته تللې او هلته به يې وير وينا کوله. اخون کريم داد د چا د مرگ په موقع د ښځو راجمع کېدل او وير وينا کولو ته ډېر بدگوري او داسې وايي:

رســـول هســـې دي ويـــلي د عورتينـــو فاتحـــه ده مـــا بخښـــلې
ولـــې دا مـــرده او ژونـــدي بـــه مـــې نـــا حـــق شرمـــوئ عـــذابوئ[٦٤٢]

په سوات کې به ښځو ته په ميراث کې حصه نه ورکول کېده، په دې باره کې خوشحال داسې وايي:

د بابـــــا د مـــــال يـــــواځې مـــــيراث خـــــور دي
نـــه پـــه تـــرور دي نـــه پـــه مـــور دي نـــه پـــه خـــور دي[٦٤٣]

دا هم يوه عامه خبره ده چې د ښځو عقل کم وي او له دوی نه مشوره اخستل نه وي پکار او نه د دوی خبره اورېدل پکار دي، لکه حافظ الپوری چې وايي:

د زنـــــانو وينامـــــه اوره کـــــه دانـــــا يـــــې
چـــــې خـــــبره يـــــې بـــــې خبـــــره خسرـــــاني ده[٦٤٤]

پـه مجمـوعي توگـه کـه مـونږ وگـورو نـو د سـوات پـه پښـتنه ټولنـه کـې ښـځو تـه ډېره ازادي وه او ډېر حقونه يې ورته مېلاوېدل.

لوبې، تفريح، اخترونه، مېلې

د سوات د وړومبي دور له ادب نه د دې دور د خلکو د لوبو، تفريح، اخترونو او د مېلو د حالاتو پته لگي. په سوات کې به د مردکو لوبه کېدله، خوشحال خان ورته په دې شعرونو کې اشاره کړې ده:

څـــو ژونـــدی يـــم وابـــه نـــه وړم لـــه دې هـــوډه
مـــرد کـــې پـــه وار وار ورشي عـــن تـــر کـــوډه[٦٤٥]

نـــه مردانـــو غونـــدې مـــوخې شـــهنکي کـــا
ســـپينو ږيـــرو سره ټـــول شي مـــرد کـــې کـــا[٦٤٦]

عبدالعظيم صواتی د غوزانو او د غونډوسکي لوبې په شعر کې يادوي :

خپـــل همزولـــی ورسره نـــه کانـــدي لـــوبې
نـــه غونډوســـکی نـــه غـــوزان د مـــرگ لـــه لاســـه[٦٤٧]

حافظ الپوری په دې شعرونو کې د شطرنج يادونه کړې ده:

د شـــــطرنج لائـــــق بـــــه هلـــــه شـــــې حافظـــــه
کـــــه د گلـــــو هـــــار ســـــالم يوســـــې خوبالـــــه
د شـــــطرنج اشـــــنايې يـــــو دی غـــــوره کـــــړی
پـــــه لبـــــاس د خلـــــې د هـــــر چـــــا دلـــــبري کـــــا[٦٤٨]

اخترونه په کال کې دوه دي يو لوی اختر او بل وړوکی. د دې اخترونو په باره کې ميا کريم داد داسې وايي:

نـــــور عـــــالم پـــــه کـــــال کـــــې دوه ځلـــــه اخـــــتر کـــــا
کـــــريم داد بنـــــده پـــــه هـــــر نفـــــس کـــــې دوه اخـــــتره کانـــــدي[٦٤٩]

د اخترونو په موقعه د جينکو د سيل ذکر محمد اکبر داسې کوي:

زه د اخـــــتر پـــــه جونـــــو را غلمـــــه هـــــوس راغـــــی
ټيکونـــــه بريښـــــي شـــــنهر د پيکـــــړو خيـــــژي[٦٥٠]

د اخـــــتر جونـــــه ســـــپلانۍ د زلمـــــو زړونـــــه راکـــــاږي
پـــــه مشـــــک عنـــــبر ملـــــوث کـــــا چمـــــن کـــــه مرغـــــزاری را[٦٥١]

د اختر په شان د شوقدر موقعه هم د خلکو لپاره د خوشحالۍ يوه موقعه وي. مياداد يې داسې ذکر کوي:

هـــــره شـــــپه پـــــه ماشـــــوقدر هـــــره ورځ پـــــه مـــــا اخـــــتر
هغـــــه چـــــې مـــــې د عشـــــق د ميوجـــــام گـــــوټ کـــــړه پـــــه نـــــن ورځ[٦٥٢]

او په بل ځای کې وايي:

هـــــره شـــــپه پـــــه ماشـــــوقدر
هـــــره ورځ پـــــه مـــــا اخـــــتر دی
ســـــکه ځـــــار لـــــه غـــــافلانو
يـــــې اخـــــتر پـــــه کـــــالو سر دی[٦٥٣]

د دې لويو خوشحاليانو له موقعو نه علاوه په مقامي توگه نورې هم داسې وړې وړې د خوشحاليو موقعې وې په کومو به چې د سوات خلک رايو ځای کېدل او خوشحالياني به يې کولې.

د شېخ ملي وېش

یوسفزي چې کله د پینځلسمې پېړۍ په اخري څلورمه حصه کې له کابل نه راغلل او په مختلفو علاقو یې قبضې وکړې، نو د دوی یو مشر شیخ ملي دا مقبوضه علاقې په مختلفو قبیلو عارضي طور ووېشلې او دا عارضي وېش به پینځه، اووه یا لس کاله بعد بدلېده، ځکه چې دا زمکې بعضې شړې، بعضې فصلدارې، بعضې د اوبو لاندې او بعضې باراني وې، نو چې ټول خلک یو شان مستفید شي ځکه به په خسنې گرځنده وېش کېده. د شیخ ملي دا عارضي وېش د سوات د حکمران میا گل عبد الودود په دور کې ختم شو.

د شېخ ملي د وېش طریقه

د شیخ ملي د وېش د طریقې په باره کې مېجر راورټي لیکلي، چې شیخ ملي د ټول سوات او بونېر یوه سروې وکړه او ټوله علاقه یې د کورنۍ د افرادو په حساب سره د مندڼ او یوسف په اولاد ووېشله، خو څه حصه یې په نورو درېو ډلو د وېشلو لپاره باقي پرېښوده. د دې ډلو نومونه کابلي، لغماني او ننگرهاري وو، خو دا افغانان (پښتانه) نه وو. کومه حصه به چې پښتنو ته ورکړل شوه هغې ته به یې دفتر ویلو او کومه حصه چې به ملیانو، سیدانو یا نورو خلکو ته ورکړل شوه هغې ته به یې سېرۍ ویله. شیخ ملي وړومبی سوات په دوه حصو کې تقسیم کړ. کومه حصه چې د شمال او مغرب د غرونو او د سین د ښي طرف په مینځ کې پرته وه دې ته یې د لمدې نوم ورکړ. کومه زمکه چې د سین گس اړخ او د جنوب او مشرق غرونو په مینځ کې وه دې له یې د وچې نوم ورکړ. لمده حصه د برنگولې نه تر لنډې پورې وه، داپه اوړدوالي شپېته میله ده او وچه حصه د توته کان نه د پیا پورې وه دا دري شپېته میله ده، پلن والی د دواړه حصو ځای په ځای مختلف دی.[٦٥٤] له توته کان نه تر تانې پورې دا علاقه یې رانیزو له ورکړه. د تانې نه د مانیار پورې دا علاقه یې سولیزو له ورکړه، د مانیار نه چارباغ پورې دا علاقه یې بابوزو له ورکړه، د بابوزو نه مخکې متوړیزي دي او د متوړیزو نه مخکې د خونه پورې خازي خېل دي او د خونه نه د پیا پورې جانک خېل دي او دغه رنگ په لمده حصه کې د برانگولې نه د راموړې پورې خادکزي او ابازي دي چې یو ځای اوسیږي. د راموړې نه د اوچ پورې ادینزي دي، د اوچ نه د سوېگلۍ پورې شموزي دي، د سوېگلۍ نه د ننگولۍ پورې نیکپي خېل او د نیکپي خېل نه د لنډې پورې سیبوجني دي.[٦٥٥]

عبدالحی حبیبي لیکي چې د شیخ ملي په دفتر کې ټوله زمکه په شپږو تپو وېشلې

شوې وه. د يوسفزو تپه (د شمالي مردان سمه او سوات)، د محمد زو تپه (اشنغر، چارسده)، د ګګيانړو تپه (دوابه، باجوړ، چارمنګ)، د داودزو تپه (کلپانۍ، بګياړۍ)، د مومندو تپه (د پېښور شمال غربي پلو تر جنوب غربي پورې) ـ دغه شپږ تپې هره يوه په دوتر، برخه، پټې وېشلې کېده او د هر سړي برخه په پټې، يعنې کرونده او زراعتي زمکه کې ونډ بللې کېده او د څاروو د څر ځای به ورشو وه، د کلي جرګې به دغه ونډ او ورشو د خسنې په ذريعه ټاکل. [656]

په دې وېش کې به د يوسفزو برخې ته دفتر يا دوتر ويل کېده او ستانه دارو يا مليانو وغيره ته به يې چې کومه زمکه ورکړه يا به يې خان ملک ته سريزه پاتې کړه هغې ته به يې سېرۍ ويله، خوشحال په دې شعر کې سېرۍ يادوي:

کوم ملا چې د ميا نور په حکم درومي
هم هغه د سوات په ملک کې سېرۍ مومي[657]

حسېن هم د سېرۍ او دوتر يادونه داسې کوي:

د برني فرياد مې ګرځي پکې دوه سوه قلبې
زاهد دې اوکه تماشاز ما د عشق سېرو ته[658]
د تن کېده به حسېن پسې راکاړم
چې وطن ته مې د عشق د زړه دوتر لاړ[659]
اوس به کوم وطن ته کېده د زړه بيا يم
چې دوتر مې شه د مينې شېخ ملي[660]

د سېرۍ په باره کې عبدالحی حبيبي ليکي چې په هره برخه کې به يو څه زراعتي زمکه د سېرۍ په نامه د وېش نه بيله اېښودې کېده، دا برخه به د دغه حصې واله په شريکه کرله او پيداوار به يې د کلي د عامو ګټو په کار کې لګولی شه، لکه د جومات خرچ، د کلي د هلکانو د تعليم کارونه او هم د کلي د ډم د کورنۍ خرڅ چې کار يې ډول وهل، خلق خبرول وو او هم به له دغه سېرۍ څخه د کلي د حجرې او د مېلمنو د خسمانې د پاره خرڅ کېده. [661]

د شېخ ملي د وېش نقصانونه

شيخ ملي د وخت او د حالاتو مطابق ګرځنده وېش غوره کړی و، خو د تهذيب او تمدن د ترقۍ په لار کې دا ګرځنده وېش يو غټ خنډ و او تر څو پورې چې دا نه و ختم شوی، نو په

سوات کې تهذیب او تمدن په صحیح معنو کې ترقي نه شوه کولی. خوشحال خان خټک چې په اوولسمه عیسوي پېړۍ کې سوات ته راغلی و هغه هم د دې وېش نقصانونه او خرابې نتېجې بیان کړې دي. هغه د دې خراب نظام له وجې نه یوسفزو ته په سپک نظر ګوري او وایي چې دوی کال په کال په خسنې له خپل جایداد نه ځان محرومه کوي او دغه رنګ دوی پخپله بغیر د څه طاقت له استعمال نه پر ځان حمله کوي، هغه وایي:

کـــال پــــه کـــال د ملـــک پــــه هســـک کانـــدي باختونـــه
بـــې لښـــکرو پــــه خپـــل ځـــان کانـــدي تاختونـــه[٦٦٢]

د پښتنو د بار بار وېش په باره کې محمد اکبر داسې وایي:

د کـــوټې قلنـــګ یـــې بیـــل د مـــــــــزکې بیـــل وي
بـــې لـــــــه وېشـــه یـــې بـــل رنـــګ سریکـــار نـــه وي[٦٦٣]

عنوان الدین کاکاخېل[١٩] د دې وېش نقصانونه داسې بیانوي:

د سوات زمکه ده زرخېزه خو مخلوق یـې دی دروېزه
دوي مدام کوي وېشـونه یـو د بـل سره جنګونـه
ځکـه ښـۀ نـه ابـادېږي چې سېلونه پکې کیـږي[٦٦٤]

تاج محمد خان زېب سر د شیخ ملي د ګرځنده وېش نقصانونه داسې بیانوي:

دا اولـــــس بـــــه همېشـــــه کــــډه پـــــه سر وه
لـــس پینځـــه کالـــه بـــه وېـــش هـــم مقـــرر وه
دا شریـــــف قــــام د پښـــتون خانـــه بـــدوش وه
د غـــه کـــار کـــه نـــه د عقـــل نـــه د هـــوش وه
کـــال د وېـــش هـــم کـــال د قحـــط د تنګـــۍ وه
هـــر ســـړی پوهـــه پـــه خپلـــه بـــد رنګـــۍ وه
ســـتا نـــه داربـــه وو مقـــیم پـــه خپـــل مکـــان
وو د دوي بـــــه مېلمانـــــــه دا افغانـــــــان

[١٩] د عنوان الدین کاکا خېل دا کلام په "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" کې د " حال د ملک د صوات ابیات د عنوان الدین کاکاخېل واقعه ١٨ ماه مارچ ١٨٨٢ عیسوي" سرخط لاندې درج دي.

په دې قــــام کـــې چـــې تــــر کومـــــه دا غضـــب وه
دا ابــــاد وطـــن بـــر بـــاد پــــه دې ســـبب وه[٦٦٥]

په یو بل ځای کې تاج محمد خان زېب سر د دې وېش د نقصانونو په باره کې لیکي چې د ملک په عام تعمیر او ترقۍ کې لوی بندیز واریز تقسیم و، ولې چې هېڅ چا خپلې مقبوضه زمکې یا د اوسېدو مکان ته خپل قرار گاه وئیلی نه شه او عجیبه خبره دا وه چې د قومي روایاتو په وجه دغه غلط عادت هم د هر چا خوښ وه او هېڅ چا هم د دې خلاف آواز پورته کړی نه وه.[٦٦٦]

د شېخ ملي د وېش فایدې

شیخ ملي ډېر هوښیار سړی و او د پښتنو د جنگونو هغه ته پته وه، نو هغه په دې وجه گرځنده وېش یا واریز وېش خوښ کړ، چې کله چا ته ښه او چا ته خرابه زمکه ورسي، نو د دې خبرې احتمال شته چې دا قبایل په خپلو کې جنگونه شروع کړي.[٦٦٧] د میاگل عبدالودود باچا صیب په وخت کې دا گرځنده وېش په توري وران وېش کې بدل شو چې د هغې تفصیل په پینځم باب کې موجود دی.

معاشرتي او اخلاقي خرابیانې او سزاگانې

د سوات په خلکو کې چې کومې معاشرتي او اخلاقي کمزوریانې موجود وې د هغې ذکر هم د سوات د هغه دور په پښتو ادب کې په نظر راځي، ځینو خرابیانو ته خوشحال خان خټک اشاره کړې ده، لکه د خانه جنگۍ په باره کې وایي:

دا لاځــــــه دي ځنـــــــي نــــــور قباحتونـــــــه
کـــــور پــــه کـــــور سره اختــــه پــــه شـــــدتونه[٦٦٨]

کـــور پـــه کـــور کنـــدي کنـــدي سره بـــــدنیت دي
بـــې هـــوده لـــــه ځایــــه خــــوښ بـــې برکـــت دي[٦٦٩]

کـــه پــــالیز د خټکیــــــو ځــــوک ودان کــــا
پخبـــدو تــــه یــــې پــــرې نــــږدي زریــــې وران کــــا[٦٧٠]

د پښتنو د خانه جنگۍ ذکر عبدالعظیم صواتي هم داسې کړی دی:

اوس زمـــــونږ پـــــه زمانـــــه کـــــې دو رنگـــــي شـــــوه
کـــــور پـــــه کـــــور د پښـــــتنو خانـــــه جنگـــــي شـــــوه[۶۷۱]

په پښتنو کې علم او پوهه نه وه او بې عمله او جاهل وو.[۶۷۲] د هغه وخت د سوات خلکو دهاړې کولې او په مال دولت به يې خپل مخالفين وژل او مال دولت به يې ترې راوړلو. [۶۷۳] کله چې به يې دهاړه کوله نو په دهاړه کې به يې ماشومان هم وژل، دې ته به يې "ميراته کول" ويل. عبدالعظيم صواتی هم په يوه دهاړه کې خپلې نيا له دښمنانو نه بچ کړې و او نور اهل وعيال يې مړه وو، هغه وايي:

خپـــــل زمـــــا د پـــــلار نيکونـــــو وطـــــن صـــــوات دی
دوی پـــــه خپـــــل کـــــې راښيـــــزي وو دلربايـــــه
لـــــه د ښـــــنی د دښـــــمنانو ابـــــی خپلـــــې
ربـــــوده کړمـــــه لـــــه صـــــواته تـــــر دې ځايـــــه
پـــــلار زمـــــا يـــــې کـــــړ شـــــهيد دې مفســـــدانو
دوي ســـــتي شـــــه پـــــه اتـــــش کـــــې سر تـــــر پايـــــه[۶۷۴]

په پښتنو کې ضد هم ډېر دی کله داسې هم وايي له فلانې سره جنت ته هم نه ځم اوکه ته قبله شې تاته نه گورم وغېره. [۶۷۵]دوست محمد خان دوستی يو څو خرابيانې داسې په گوته کوي:

د ډمـــــانو بـــــه عـــــزت کـــــوي کثـــــير
عالمـــــانو نـــــه بـــــه تختـــــي بـــــې تـــــاخير
لواطـــــت بـــــه شي هـــــم ډېـــــر د هلکـــــانو
مينـــــې نـــــه بـــــه کـــــړي هـــــيڅ څـــــوک لـــــه خپـــــل زنـــــانو
بـــــې بـــــاکي بـــــه هـــــم کـــــړي ښـــــځي رابـــــر څېـــــره
پـــــه هـــــر ځـــــای کـــــې بـــــه دوی گرځـــــي د حـــــد تېـــــره[۶۷۶]

او په بل ځای کې داسې وايي:

پـــــه دې دهـــــر کـــــې ای وروره بـــــې عـــــدد
خلـــــق اوليـــــده پـــــه ســـــترگو دوســـــت محمـــــد
يـــــو مـــــرده لـــــه جـــــوړوي بـــــه گورســـــتان
هـــــم بـــــه کـــــړي خنـــــدا هـــــوس پـــــه هغـــــه آن

بیـــــا پـــــه بلــــه ورځ مــــــړی تــــــرې بــــــل کــــــس
زمـــــا وروره چـــــې وي خــــــاص د هغـــــــه مجلـــــس
نــــــور هغـــــه لـــــه قـــــبر کنـــــې وي خوشـــــحاله
دا پــــــروا یــــــې زړه کـــــې نـــــه وي زمــــا لالـــــه
چـــې بــــه درنــــګ ســــاعت لــــه مـــونږ ورپســـې درومـــو
دا پیالــــــه بــــــه د کشــــــش مـــــونږه هـــــم شـــــومو[٦٧٧]

نشه د انساني ټولنې لپاره یو نقصاني څیز دی، خو په پښتنو کې هم ځینې خلک ځینې نشه ییز څیزونه استعمالوي. په دې نشه ییزو څیزونو کې بنګ او چیلم ډېر مشهور دي، چې ذکر یې په ادب کې مېلاویږي، لکه میاداد چیلم داسې یادوي:

زه چـــــې لـــــه تـــــاوده دا تــــاوده آهونـــــه نغـــــرم
دننـــــه زړه مـــــې د چـــــیلم پـــــه دود قــــړا کـــــا[٦٧٨]

دوست محمد خان دوستی د چیلم په باره کې داسې وایي:

کـــــه څـــوک لـــوګی د چـــیلم څښـــې پــــه ښــــه هـــوس
همېشــــــه یـــــې وي عـــــادت دا رنـــــګ نجـــــس
لکـــــه وینـــــې چـــــې څښـــــي وروره د خنزیـــــر
هـــــم یـــــې غوښـــــې ورسره خـــــوري بـــــې تـــــاخیر[٦٧٩]

احمد دین طالب د بنګو د نشې ذکر داسې کوي:

احمـــــد دیـــــن نشـــــې د عشـــــق هـــــواګیر کـــــړه
بـــــدګمان پـــــرې د نشـــــې د بنـــــګ اونـــــه کـــــړې[٦٨٠]

په پښتو ادبیاتو کې د مختلفو نشه یي توکو ذکر راغلی دی، اګر چې دومره پته ترې لګي چې دا څیزونه د سوات په ټولنه کې موجود وو، خو ډېر کله د نشه یي څیزونو نومونه د علاماتو په توګه هم استعمال شوي دي، لکه په شاعرۍ کې د شرابو ذکر او نور.

سزاګانې

په هغه زمانه کې د مختلفو ټولنیزو جرمونو په وجه به مختلف قسمه سزاګانې ورکول کېدې، چې ځینو ته پکې په ادب کې اشارې شوي دي، لکه مخ تورول . میاداد وایي:

زه چــــې یـــم خــــوښ زه یـــم خوشـــحاله لــــه خپـــل یـــاره
چــــې زمــــا د بـــــدخواهانو مخونــــــه تـــــور کـــــړه[٦٨١]

عبدالعظیم وایي:

مـــخ مـــې دی تـــور هـــر دو طـــرف د معصـــیت پـــه تبـــۍ
پـــه خپـــل کـــرم سره یـــې ســـپین مهـــین صـــفا کـــړې ربـــه[٦٨٢]

ربـــــه ســــتا پـــــه در ولاړ یـــــم حـــــیران تـــــور مـــــخ
د گنــــا پـــــه اور اولـــــوی بریـــــان تـــــور مـــــخ[٦٨٣]

لکـــه څـــوک چـــې پـــه خـــره ســـور وي مـــخ یـــې تـــور وي
د وړو د لویـــــــو خلقـــــــو پســــــــې شـــــــور وي[٦٨٤]

احمد دین طالب وایي:

مـــا وې تـــه بـــه مـــخ زمـــا پـــه جهـــان روڼ کـــړې
مختــــــورن دې کــــــړم د غـــــم پـــــه تهمتونـــــو[٦٨٥]

احمـــــد دیـــــن یـــــې یـــــار اشـــــنا تـــــه مختـــــورن کـــــړه
دا بـــــې شرمـــــه بـــــې حیـــــا فرزنـــــد د چـــــا دی[٦٨٦]

مخ تورول د یو خاص جرم سزا وه، یعنې کله چې به څوک په زنا کې ولیدل شول، نو د هغوی لپاره به د مخ د تورولو سزا وه.

د خپلې غلطۍ د معافۍ لپاره به مجرم پړی پر غاړه کړ او معافي غوښتلو ته به تللو. حافظ الپورۍ په دې شعر کې دې خبرې ته اشاره کړې ده:

هـــم شـــفاعت بـــه یـــې نبـــي کـــا پـــه لـــویۍ پـــه تعظـــیم
پـــړی پـــه غـــاړه چـــې هنـــوز یـــې واســـتان تـــه راغـــی[٦٨٧]

او د پړي په غاړه کولو سره د "واښه په خوله کولو" خبره هم کېږي. له دې نه مطلب ډېره زیاته عاجزي ښکاره کول دي، لکه په دې شعر کې چې ورته اشاره شوې ده:

مختـــــورن لاس پـــــه نامـــــه واښـــــه پـــــه خولـــــه یـــــم
درلــــــه درغلــــــم جانانــــــه کــــــه قبلیــــــږم[٦٨٨]

دې ته ننواتې هم وايي. کله چې څوک يو جرم وکړي او بيا د خپل جرم اعتراف کوي او معافي غواړي، نو هغه قران په لاس يا د خپل کور له ښځو سره ننواتې ورځي او بيا د ننواتې اصول هم دا دي چې د دغه مجرم ننواتې به قبلوي.

علاج او دارو درمل

په سوات کې د پښتو په دور کې به د يو بيمار علاج په ځانښتونو تعويذونو، دم درود يا زيارت او پير ته په بوتللو کېده. له دې علاوه به په ځېلو بوټو سره هم علاج کېده. دې ټولو خبرو ته په ادب کې اشارې شوي دي. خوشحال خټک په سوات نامه کې داسې وايي:

نــه يـــې خـــط وي نـــه يـــې لوســـت همـــه ټگـــي کـــا
تعويذونـــــــه بـــــــه کـــــــوي دروغ داري کـــــــا
پـــه نـــاروغ يـــې خـــوشي لا زياتـــه تـــر روغ شي
ځانښـــت تعويـــذ دعـــا هېکـــل کـــې پـــه دروغ شي
لا رنځـــــور غريـــــب صـــــحت نـــــه وي مونـــــدلی
چـــې اخـــون وي اخســـتو تـــه ورنيـــولی
کـــه پـــه ورکـــړه کـــې بـــه درنـــگ او څـــه تعطيـــل وي
پـــه غوغـــا پـــه شـــور و شريـــې قـــال و قيـــل وي
چـــې زمـــا پـــه خلقـــو قـــدر قيمـــت نشـــته
د رنځـــور مـــې بـــې تعويـــذه صـــحت نشـــته
چـــې رنځـــور لـــه رنځـــه روغ شي راتـــه شـــا کـــا
نـــور بـــه بيـــا زمـــا تعويـــذ د چـــا پـــه ملاکـــا[٦٨٩]

او د جعلي طبيبانو ذکر داسې کوي:

کـــه پـــه مکـــر څـــوک خپـــل ځـــان پکـــې طبيـــب کـــا
څـــوک بـــه نـــه وي چـــې ښـــکاره د ده تکـــذيب کـــا[٦٩٠]

د ځينو دارو درملو ذکر په ادب کې موندل کېږي، لکه کورکمان، سونډ، مرچ جرې او نور.

هغـــه دا دردمنـــد مـــې واړه پـــه گوگـــل کـــې زړه دی
او دا کـــورکمان دې ســـيالي نـــه کـــا د ســـونډ مرچـــه[٦٩١]

چــــې د ښــــامار قاتلــــه ذهــــر هــــېڅ اثــــر پــــرې نــــه کــــا
او دې میــــاداد جــــړې خــــوړلې د ایلــــم د غــــره ده[۶۹۲]

غــه هــر چــې وښ کــړي ښــا مــاران هغــه پــه ځــه رغیــږي
زه د جوګیــانو جــړې خورمــه چــې ښــامار لــره ځــم[۶۹۳]

د جړې ذکر عبدالحلیم په مخزن کې هم کړی دی:

لکــــه نیــــل مــــار چــــې ځــــوک وخــــوري
نــــه پــــرې دم کــــار کانــــه جــــړې[۶۹۴]

هــېڅ جــړې افســون او دم پــرې اثرنــه کــا چــې زه روغ شــم
مګــر وویــنم هغــه یــار چــې مــې زړګــی پســې غــوځیږي[۶۹۵]

محمد اکبر د جړې ذکر داسې کوي:

د زلفــو مــار کــه هــزار خشــه پــه مــا اوکــه ځــه شــو
کــه لــب جــړې پــه خولــه کــې راکــړې ســپین دنــدان ورسره[۶۹۶]

مار لړم وغیره چې ځوک وچیچي نو بیا یې هوده کوي. احمد دین طالب د هوده دار ذکر داسې کوي:

کــه هــر ځــو مــې ټــول جهــان ورپســې چــاڼ کــړه
بیــا مــې نــه مونــد هــوده دار د تــورو زلفــو[۶۹۷]

او د پاړو ذکر داسې کوي:

چــې پــه ځنــګ کــې دې پــاړو د وصــال نشــته
د بېلتــون ډنــداري ځــه لــه پــاره وي[۶۹۸]

کلــه چــې د بــدن پــه یــوه حصــه ولګــي او دردمنــده شي، نــو بیــا دغــه دردمنــد ځــای تــه پــه کــاڼي ټکــور ورکــوي. احمــد دیــن طالــب یې داسې یادونه کوي:

تــه چــې کــاڼی اور کــې ږدې د ځــان ټکورلــه
پــه بــدل د هغــه کــاڼي ازار نــه شــې[۶۹۹]

دوست محمد خان دوستی وایي، چې د ازار یا نظر د اثر علاج صرف زیارت ته په

وړلو کې دی:

او د شــــاه چـــې پـــرې مـــرض شـــولو بـــې شـــانه
دا ازار بــــــه وي يـــــا نظـــــــر د يــــــو انســــــانه
چـــې پـــه ازار يـــې څـــوک مـــريض يـــا پـــه نظـــر
نـــــور پـــــه هغـــــه د چـــــا دارونـــــه کـــــړي اثـــــر
بـــې لـــه دي نـــه راتـــه نـــور څـــه نـــه ښـــکاريږي
چـــــې مـــــرض د بادشـــــاه دا رنـــــګ زيـــــاتيږي
اوس کــــه خوښــــه وي کــــوو دا هســــې کــــار
چـــې زيـــارت لـــه يـــې چرتـــه اوړلـــو پـــه تلـــوار
کرامــــــت د اوليــــــاو دي ښــــــه حــــــق
شـــک تـــه مـــه کـــوه پـــه دا کـــې هـــيڅ مطلـــق[۷۰۰]

دوايانې به يې له پنساريانو نه اخستې، لکه حسين چې وايي:

چـــــې اســـــپه د خـــــوږ و زړونـــــو پـــــرې رغيـــــږي
مونـــــــدي نـــــــه شي دا دارو پــــــه پنســــــاري[۷۰۱]

پـه پښـتو ادب کـې د مختلفـو بـيمارو او د هغـوی د عـلاج ذکـر مونـدل کېـږي. لـه دي مثـالونو نـه پتـه ولګېدلـه چـې پـه هغـه زمانـه کـې بـه پـه سـوات کـې د مختلفـو بـيمارو عـلاج يـا پـه دارو درملـو کېـده او يـا بـه پـه دم درود او د بابـا ګـانو د مزارونـو پـه زيارت کولو.

حکومت

د سوات د ادبې روايت په وړومبي دور کې د تاريخ او ادب له پاڼو نه پته لګي، چې دلته يو باقاعده او منظم حکومت نه دی جوړ شوی، لکه دوست محمد خان دوستی چې وايي:

او بـــــل دا کـــــه څـــــوک زمـــــا اوکـــــړي تپـــــوس
ولـــــې د شـــــاه صـــــفت دي رانـــــه وړه لســـــان کـــــې
وجـــــه څـــــه وه کـــــل احـــــوال راتـــــه ووايـــــه
زه د دې خـــــبرې يمـــــه پـــــه ارمـــــان کـــــې

زه ځـــــواب ورلـــــــه ورکومـــــــه پـــــــه دا رنـــــګ
ای ســـــائله چـــــې زمـــــا نـــــه يـــــې پرســـــان کـــــې
چـــــې دا کتـــــاب کـــــړو مـــــا شروع واوره ســـــائله
نـــــه و مســـــلم عـــــادل بادشـــــاه هغـــــه دوران کـــــې
مګـــــر دا چـــــې بادشـــــاهې د نصـــــارا وه
مـــــا د کفـــــر صـــــفت نـــــه راوړ دهـــــان کـــــې
ځکـــــه کتـــــاب کـــــې مـــــې د شـــــاه صـــــفت ونـــــه کـــــړ
چـــــې د کـــــافر صـــــفت عـــــذاب دی هغـــــه جهـــــان کـــــې[۷۰۲]

له دې نه هم پته لګي چې په دغه وخت کې دلته څه حکومت نه و. البته له سوات نه بهر د نصاراو (انګرېزانو) بادشاهي وه. يوسفزو د مغلو حکومت نه منلو ځکه خوشحال وايي:

زه نـــــو کـــــړ ووم يوســـــفز يـــــه روګـــــردان وو
ځکـــــه ورغلـــــه ترســـــواته زمـــــا ګـــــران وو[۷۰۳]

او په بل ځای کې وايي:

هـــــر هـــــر ځـــــای د ســـــوات د ملـــــک ملوکانـــــه دی
بـــــې سرداره بـــــې حاکمـــــه کـــــوه خانـــــه دی[۷۰۴]

چې دلته څه حکومت نه و، نو په دې خلکو څه ټيکس وغيره هم نه وو، ځکه خوشحال وايي:

نـــــه پـــــرې حکـــــم نـــــه و چـــــا څـــــه ورکوينـــــه
واړه ځـــــان لـــــره ګټـــــي پـــــه ځـــــان يـــــې خورينـــــه[۷۰۵]

له دې ټولو خبرو نه پته لګي چې د دير، سوات او بونېر خلکو دهلي يا کابل ته ټيکس نه دی ورکړی او دوی هېڅ کله هم د بهرنۍ عملدارۍ ماتحت نه دي پاتې شوي.[۷۰۶] په سوات کې د سيد اکبر شاه د حکومت د ناکامۍ په وجوهاتو کې يوه وجه دا هم وه چې د سوات خلک د حکومت د پابنديانو نه نا اشنا وو ځکه چې دلته چرې حکومت نه وه پاتې شوی، ځکه دوی د خپلې مرضۍ ازادانه ژوند تېرول غوښتل او د سيداکبر شاه د ځوی مبارک شاه د حکومت د جوړولو هڅه ناکامه شوه.[۷۰۷]

پير بابا چې کله د بايزيد انصاري له مقبوليت نه خبر شه، نو ويې ويل په پښتنو

مضبوطه بلا نازله شوه خيال مې نه شي چې ورکه شي، ځکه چې په دې حدودو کې د اسلام بادشاه نشته. د دين وضاحت علماء کوي او د دين طاقت په اميرانو وي. [۷۰۸] محمد اکبر په يو شعر کې دا وايي چې دلته حکومت او عدالت نشته:

د ظالمـــــانو پـــــه مـــــا بانــــدې انبـــوه پـــــه څـــــه ده
د زمـــــانې ملـــک يـــې مـــل شــــه عـــدالت نـــه لـــري[۷۰۹]

دلته حکومت او باقاعده قوانين نه وو او فيصلې به د رواج مطابق کېدلې.رواج د يوې خبرې عام کېدلو او شهرت موندلو ته وايي، يعنې چې يوه خبره دومره عامه شي او دومره شهرت ومومي چې هر سړی يې بيا بې دليله مني. د عظيم صواتي له دې شعرونو نه د رواج په مفهوم سړی پوهېدی شي:

پـــــــه رواج د اوليـــــــــاو زور کميـــــــــــــړي
د اخفـــــا مرتبـــــه ښـــــه ده لـــــــه شــــــهرته
پـــــه رواج او پـــــــه شــــــهرت چـــــې ضرر مـــــومي
بزرگــــــان دي اکــــــثر پـــــټ لـــــــه دې جهتـــــــه[۷۱۰]

او په بل ځای کې وايي:

پـــــــه رواج پســـــــــــې روان واړه عـــــــــــالم دی
فـــــرق کـــــــولی شي هـــــــيڅ دتـــــــور و ســــــپين[۷۱۱]

اخون قاسم پاپين خېل هغه رسم ورواج ته ډېر بدګوري کوم چې د اسلامي شريعت مخالف وي.[۷۱۲]

په سوات کې وخت پر وخت د حکومت جوړولو هڅې شوي، خو د دې هر څه باوجود دلته په دغه دور کې يو منظم رياست او حکومت نه دی جوړ شوی. په وړومبي ځل په سوات کې منظم او باقاعده رياست په ۱۹۱۵م کال کې جوړ شوی دی د کوم تفصيل چې په ورپسې باب کې راروان دی او څه ذکر يې په درېيم باب کې شوی دی.

معيشت

د يو قوم معيشت د هغوی پر تهذيب او ثقافت اثر غورزوي او دغه رنګ د يو قوم تهذيب او ثقافت د هغوی پر معيشت هم اثر پرېباسي. د سوات له ادب، تهذيب او ثقافت نه د هغه وخت د سوات د خلکو د معيشت پته په اسانه لګي. د سوات د خلکو د معيشت په باره کې خوشحال وايي:

آسوده په مال و ملک په زردینار دي
د دنیا روزګار یې نه زده بد روزګار دي[۷۱۳]

او محمد اکبر وایي:

چې میشته په کوکارۍ وي قرار نه وي
همېشه له اټوستو وزګار نه وي
په موسم د شالیزارو سرګشته وي
هر روزګار یې په طرح د روزګار نه وي[۷۱٤]

له دې لړو حوالو نه هم مونږ په اسانه دا معلومولی شو، چې د سوات خلک ډېر خواري کښ وو او زیات دارومدار یې په کرکیله و. دوی تجارت هم کولو او په هغه وخت کې دوی ښه خوشحاله ژوند تېرولو.

قلنګ

د کروندې لپاره د چا زمکه داسې استعمالول چې د زمکې مالک ته د زمکې په بدل کې نغدې پیسې ورکول کېږي، دې ته قلنګ یا اجاره وایي. قلنګ او اجاره په عمومي توګه په یوه معنی کې راځي او که فرق ته یې وګورو نو فرق یې دا دی چې قلنګ په اصل کې د زمکې مالک ته نه خو حکمران ته ورکولی شي، خو دا اصطلاح د کور وغېره د کرایه لپاره هم استعمال شوې ده. د قلنګ ذکر مختلفو شاعرانو داسې کړی دی:

ولاړېږي د عشق سود مدام له یار نه
ورکومه سر او مال په قلنګ ستا[۷۱۵]

تن خرابه له جمله افته خلاص وي
په اباده زمکه تل د چا قلنګ وي[۷۱٦]

چې پردۍ دوترې خورې قلنګ یې ورکړه
ګنې مه شړه څاورې د بل د وړ[۷۱۷]

راشه ته سر له بادشاه مه اخله قلنګ قبول کړه
دا چې مخ رونې تر بادشاه ورشې ای قلندره[۷۱۸]

د کــــوټې قلنـــــګ يـــــې بيـــــل د مزکـــــې بيـــــل وي
بـــې لـــه وېشـــه يـــې بـــل رنـــګ سريکـــار نـــه وي[719]

بادشـــــاهان کلـــــه قلنـــــګ د ملنـــــګ غـــــواړي
يـــار زمـــا نـــه سرومـــال غـــواړي خـــراج[720]

د استعمال لپاره له چا نه يو څيز راخستل او د هغې قيمت له چا سره اېښودل او بيا له استعمال نه وروسته دغه څيز واپس کول او هغه قيمت واپس اخستلو ته ګاڼه وايي. دا قيمت صحيح قيمت نه وي، بلکې له دغه څيز نه پيسې زياتې هم کېدی شي او کمې هم. احمد دين طالب د ګاڼې ذکر داسې کوي:

پـــه هـــنر بـــه سرو مـــال درنـــه ګاڼـــه کـــړي
چـــې دې نـــه زده د لبـــاس جـــواري پرېـــږده[721]

د قلنـګ او د ګـاڼې د دې مکرر ذکر نـه دا پتـه لګـي چـې پـه هغـه زمانـه کـې بـه خلکو زمکې په قلنګ او په ګاڼه ورکولې.

مزد

په ژرنده د دانو اوړه کولو معاوضه چې د ژرندې مالک اخلي هغې ته مزد يا مز وايي. عام طور د محنت معاوضې ته هم مزد وايي. مياداد يې داسې ذکر کوي:

او صـــوفيان چـــې شراب وڅښـــي د عمـــل څـــيرۍ کـــا څـــيرې
عابـــد چـــې بنـــدګي کانـــدي د جنـــت د مـــزد دپـــاره[722]

چـــې پـــه خـــدای مئـــين دی هغـــه واصـــل دی
د عشـــق شراب دې ورکـــړل ويړيـــا بـــې مـــزده[723]

تـــه بنـــدګي لکـــه ګـــدای پـــه شرط د مـــزد مـــه کـــوه
کـــرم تـــه يـــې ګـــوره پـــه عمـــل اعتبـــار مـــه کـــوه[724]

د دې دور د ادب لـه مطـالعې نـه د دې دور ډېـر تهـذيبي او ثقـافتي اړخونـه پـه ډاګه شول، خـو ډېرې خبرې داسې هـم شـته چـې د سوات لـه کلتـور سره تعلـق لـري، خـو بيا هم په ادب کې واضح نه دي، ځکه چې په دې دور کې مطبوع ادب ډېر کم دی:

د دې دور د ځینو لیکوالانو پېژندګلو

دوست محمد خان دوستی

دوست محمد خان د بر سوات د متې علاقې د خرېړی نومې کلي اوسېدونکی و.(رحیم، رحیم شاه، د سوات ورک شاعران (شپږم ټوک)، مقاله مشموله میاشتینۍ پښتو، جلد: ۱۲، شماره: ۱۱، (دسمبر ۱۹۸۰)، مخ: ۴۸). د دوستي په باره کې بدرالحکیم حکیمزی لیکي چې د دوست محمد خان دوستي د ژوند په حقله یوازې "د بر سوات تاریخ" یوه لنډه خبرتیا راکوي...له دې نه پرته یې کوم بل دستاویز کې ذکر نشته. کوم لږ ډېر معلومات چې تر لاسه کېږي هغه ټول په ټوله د دوستي په خپلوانو پورې اړه لري."(حکیمزی، بدرالحکیم، گنجۃالگوهري، مصنّف دوست محمد خان دوستی، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزی، سوات، مشال پختو ټولنه، ۲۰۱۴، مخ: ۱۱) له دې نه مخکې رحیم شاه رحیم په یوه مقاله کې د دوستي ذکر کړی و، خو داسې معلومېږي چې د بدرالحکیم حکیمزي له نظره دغه مقاله نه ده تېره شوې. د دوست محمد خان د پلار نوم امیر محمد خان و. د نیکه نوم یې حیات خان او د مشر نیکه نوم یې قمر الدین و دی د سوات شامیزو په اغل نومې کلي کې په ۱۸۷۵کال کې زېږېدلی و. د پینځه کم شپیته کالو په عمر کې په کال ۱۹۳۰ کې وفات شوی دی. دوست محمد خان د پښتو شعرونو یو ضخیم کتاب پرېښی دی. د ده د شعري مجموعې نوم گنجت الگوهري دی. په دې مجموعه کې څلور زره او درې نیم سوه شعرونه دي،دا کتاب ده په ۱۳ربیع الثاني ۱۳۳۲ هجري کې سر ته رسولی دی. (رحیم، رحیم شاه، د سوات ورک شاعران (شپږم ټوک)، مقاله مشموله میاشتینۍ پښتو، جلد: ۱۲، شماره: ۱۱، (دسمبر ۱۹۸۰)، مخ:۴۸، ۴۹) دا کتاب په ۲۰۱۴ کال کې د بدرالحکیم حکیمزي په ترتیب او تدوین سره چاپ شوی دی)

حسین

کوم دیوان چې همېش خلیل په ۱۹۵۸م کال کې چاپ کړی دی، دغه دیوان هم د سوات د دې حسین دی. دا حسین په خپل دیوان کې پخپله وایي:

په معنی کې ستا خاکروب حلقه بگوش یم
گني ملک مې دی پکلی استوگنه سوات

حسین د مغل بادشاه اورنګزېب هم عصر و. حسین د رحمان بابا د مکتب شاعر دی او لکه د حمید بابا نازک خیال او موشګاف دی. په دیوان کې یې د پښتون کلتور هنداره وړاندې کړې ده. د مېلمه دوستۍ، جرګې، دستار او تره تربور وغېره ذکر یې په دې مقاله کې سره له مثالونو بیان شوی دی. حسین یو عام کلیوال قبایلي سړی و او د عامو خلکو د روزمرې او محاورې ژبه یې استعمال کړې ده. په خپل کلام کې یې له کرکیلې سره تړلي الفاظ لکه ستري، قلبه، هل پېره او نور استعمال کړي دي.کومو څېړنکارانو چې د حسین تعلق د هزارې د علاقې پکلۍ او ملکپور سره ښودلی دی نو دغه رایه هم د غور قابله ده او نورې څېړنې ته اړتیا لري.

شجره نسب

د پیر بابا د ځوی میا مصطفیٰ دوه بیبیانې وې. له مشرې بي بي نه یې یو ځوی میا عبدالله و، چې په میا عبدل مشهور و. د دوېمې بي بي نه یې دوه ځامن وو، د یو نوم میا قاسم او د دویم نوم میا حسن وه. د میا حسن د یو ځوی نوم حسین وه. دی د خپل سیادت په وجه خپل نوم سید حسین لیکي.[۷۲۵] د ده شجره نسب مخکې داسې بیانیږي، د پیر بابا دوه ځامن وو، سید عبدالله او سید مصطفی محمد (۱۵۶۴—۱۶۱۵) د سید مصطفی محمد قبر په کونړ کې دی.[۷۲۶] سید عبدالله اول وفات شوی وه.[۷۲۷] د سید مصطفی محمد دوه بیبیانې وې، له مشرې بي بي نه یې یو ځوی میا عبدالله وه چې په میا عبدل مشهور دی او قبر یې په شلبانډۍ بونېر کې دی. له کشرې بي بي نه یې دوه ځامن وو، د یو نوم میا قاسم او د بل نوم میا حسن وه. د میا قاسم قبر په پیر کلي کې دی او د میا حسن قبر په کوکړۍ کې دی. د میا حسن څلور ځامن وو اول سید یوسف وه، چې په میا شیخ بابا مشهور دی او قبر یې په جهان اباد منګلور کې دی. دویم سید نادان، د ده اولاد نه وه او قبر یې په کوکړۍ کې دی. دریم سید میا جي، د ده هم اولاد نه وه او قبر یې په غالیګي کې دی. څلورم سید حسین وه، د ده قبر په امازو شهباز ګړه کې دی. د سید حسین شپږ ځامن وو، نومونه یې دادي: سید ابدال، سید ایاز، سید بیاض، سید غازي شاه، سید کریم شاه، سید واصل الدین.[۷۲۸] د سید حسین مشر ځوی سید ابدال د تیرات په غزا کې په ۱۰۷۲ هـ کې عېن په زلمیتوب کې شهید شوی و. د ده قبر د خپل نیکه میا حسن بابا د مزار په چاردېوارۍ کې دننه په کوکړۍ کلي کې دی. سید حسېن د سید ابدال په فراق کې ډېره درد ناکه مرثیه لیکلې ده، لکه چې وایي:

های افسوس ارمان ارمان دی زما دله
راته ووایه چې رابه شي بیا کله
هغه وار د سېد ابدال د پګړی تېر شه
چې جرګه به د سېدانو پرې کېدله[۷۲۹]

د سید ابدال د یو ځوی نوم میاګل لال وه د هغه قبر په دمغار[۷۳۰]کې دی. د میا ګل لال د یو ځوی نوم سید جلال وه چې په ګالوچ کې اوسېده او قبر یې په کالا کلي[۷۳۱]کې دی.[۷۳۲] د حسین مور په ماشوموالي کې مړه شوه او د ده پالنه د ده ترور وکړه. د خپل یتیموالي ذکر یې په دې شعرونو کې کړی دی:

بې له مینې چې حسین یې خوار خسته کړه
ګڼه میندې ښه ساتي یتیم زوزاد[۷۳۳]
په لباس مینې[۷۳٤] هلک مور مړی خپل کړم
زه کمبخت د شنې مزری په تي لګیا شوم[۷۳۵]
او په یو بل شعر کې دخپل یتیم والي ذکر داسې کوي:
د یتیم په دود لوئېږي زیړ زبېخلی
چې رودلی یې تی د مینې د مور نه وي[۷۳٦]

او د ده پالنه د ده ترور وکړه، لکه په دې شعر کې یې چې یاده کړې ده:

چې ئې په اوچو تو ساتلی یم هلک مور مړی
ځم چې تعظیم اوکړم د مینې مهربانې ترور ته[۷۳۷]

ادبي تخلیقات

د حسین له شجره نسب وروسته به اوس مونږه د حسین د ادبي تخلیقاتو طرف ته راځو. په دې باره کې عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې لیکي، چې حسین د" خلاصة الاسلام" په نوم یو کتاب په پښتو کې ترجمه کړی دی چې طرز یې د اخون درویزه د مخزن اسلام په شان دی او بیا دا هم وایي چې سید حسېن د "جنګنامه حسین" لیکونکی دی.[۷۳۸] عبدالحلیم اثر افغاني لیکي چې د ده کتاب د اتیاو کالو د یو مشر سید عبدالخالق سره دی او هغه وایي چې دا کتاب زمونږ په خاندان کې زما د والدې صاحبې د تره په قلمي ذخیره کښی وه. د دغه تره نوم ېې سید حبیب وه او د ۱۲۰۰ هجري په خواوشا کې ژوندی وه. د دې مطلب دا شه چې سید حبیب ته د خپل مشر نیکه میا قاسم

د وراره سید حسین قلمي تالیف په میراث کې پاتې دی.[739] د حسین دیوان د ښاغلي همېش خلیل په سریزه او اهتمام په کال ۱۹۵۸ کې په پېښور کې چاپ شوی دی. دا قلمي نسخه د پېښور د ادبي ټولنې د کتب خانې نه همېش خلیل اخستې وه.[740] حسین که هر څومره کتابونه لیکلي وي خو موجود یې في الحال دا یو دیوان دی. د دې دیوان چاپې پاڼې پینځه سوو ته رسېږي او په اخر کې یې یو څو ټپې هم راغلي دي.[741] ښاغلی اثر افغاني د جنګنامه حسین لیکونکی سید حسین او دغه دیوان واله حسېن یو ګڼي خو صدیق الله رشتین وایي چې دا قیاس سم نه ښکاري او وایي چې اثر صاحب سید حسېن د میا حسن ځوی او د میا مصطفی نمسی بولي چې هغه د سیدعلي ترمذي پیر بابا ځوی وه. د زمانې په لحاظ په دواړو کې فرق ډېر دی. حسېن په ۱۱۱۸ کې سپین ګیری وه چې د سید حسین د پلار میا حسن هم زمانه ښکارېږي. بله خبره دا ده چې سید حسېن د جنګنامې په اشعارو کې خپل تخلص "سید" راوړی دی او کله سید حسین هم لیکي او حال دا دی چې دې حسېن په خپل ټول دیوان کې د سید تخلص په یو ځای کې نه دی راوړی.[742] صدیق الله رشتین په خپل یو بل کتاب "ادبي او تاریخي سمونې" کې لیکي چې دا دیوان د حسین دی او د سید حسین نه دی.[743] رحیم شاه رحیم لیکي چې د هغه دوه قلمي نسخې اوس هم په ګهړي امازو (مردان) کښې یو د هغه د نمسو او بل د کفور خېلو خانانو سره پرتې دي. [744]داسې معلومېږي چې د حسین دیوان هغه په خپل ژوند مرتّب کړی و. دا لاندیني شعرونه د دې خبرې پخلی کوي:

د زړه موج یې لکه سیند و سر ته اوخوت
همېشه حسېن لري په لاس دیوان لوند[745]

او یا لکه دا شعر:

سوز په سوز راباندې پورې سوزان شعر کۀ
سرې لمبې مې نن بلېږي په دیوان کې[746]

د سید حسین کوم دیوان چې همېش خلیل صاحب چاپ کړی دی،د دیوان دا قلمي نسخه د مردان نه تر لاسه شوې ده.[747] دا دیوان په وړومبي ځل د همېش خلیل په ترتیب او تدوین سره په ۱۹۵۸ کې چاپ شوی دی. هغه د دغه دیوان په دیباچه کې لیکي چې پادري هیوز چې په "کلید افغاني" کې د کوم حسین ذکر کړی دی او دوه غزلونه یې ورله د نمونې ورکړي دي. دا دیوان د کلید افغاني د دغه حسین دیوان نه دی.[748]صدیق

الله رښتین هم داسې لیکي چې پادري هیوز په کلید افغاني کې کوم دوه غزلونه راوړي دي دغه غزلونه د حسین په دیوان کې نشته نو معلومېږي چې حسین او سید حسین دواړه جدا جدا شاعران وو.[٧٤٩] رشتین وایي چې پادري هیوز چې د کوم حسین شاعر ذکر کړی دی دغه حسین د صوابۍ د علاقې شاه منصور اوسېدونکی وه. عبدالحی حبیبي لیکي چې د حسین د ژوند حالات چا ته پوره نه دي معلوم خو پادري هیوز یې په "کلید افغاني، کې ذکر کړی دی،[٧٥٠] خو اوس پته ولګېده چې د کلید افغاني حسین بل دی.

پیدایش او د ژوند زمانه

اوس به وړاندې مونږه د حسین د پېدایش او د هغه د زمانې په باره کې ګورو چې ده له کومې زمانې سره تعلق لرلو. سید حسین د بونېر په پاچا کلي کې د ١٠٥٠ هجري خواوشا پېدا شه او تر ډېرې مودې پورې د بونېر په ملک پور نومې کلي کې اوسېده.[٧٥١] د مغل بادشاه اورنګزېب د مرګ په وخت یعنې ١١١٨ هجري کې حسین د پنځوسو کالو و، نو په دغه حساب که مونږه وګورو نو په دغه حساب ١٠٦٨ هجري د حسېن د زېږون نېټه جوړېږي.

د ملک پور ذکر په یو شعر کې داسې کوي:

چې پېدا شوې پکې ستا ملالې سترګې
ځکه پاتې له حسېنه ملک پور شۀ[٧٥٢]

د حسېن د تعلیم او ززدکړو په باره کې مختلف روایات موجود دي. داسې ویلې شي چې حسین خپلې ورومبۍ زدکړې د پیر بابا په مدرسه عالیه کې وکړې او د نور علم د پاره د هندوستان دهلي او دکن علاقو ته لاړه.[٧٥٣] په خپلو اشعارو کې د هند او د دکن ذکر داسې کوي:

په رضا مې زړه په زړه له یاره واخست
که میشته زه په دکن او یا په هند یم

یا لکه دا شعر:

لا به څرګند د ښکلي مخ په مخه راشي کله
د تورو زلفو په ډونډ[٧٥٤] تلم په هندوستان اوختم[٧٥٥]

او یا لکه دا شعر:

واړه عشق دي چې سرې جهان ګشته کا

په اسانه به څوک پرېږدي خپل وطن[۷۵۶]

بل ځای د وطن د پرېښودلو ذکر داسې کوي:

بې وصلته دې ژوندون راباندې گران وه
ستا ملالو سترگو ورک کړم له وطنه[۷۵۷]

په دې شعرونو کې د وطن د پرېښودلو او د هندوستان له ذکر کولو نه دا پته لگي چې حسين دا وطن پرېښودلی و او په هندوستان کې يې وخت تېر کړی و. سيد حسين د اورنگ زېب مغلي بادشاه د زمانې شاعر دی، لکه چې وايي:

دغه تخت وه د دونهې چې ملنگ واغست
که مسند د هندوستان وه اورنگ واغست[۷۵۸]

او يا لکه دا شعر:

لکه چې زه ستا د کوڅې په خاورو فخر کوم
هومره لوئي د هندوستان په تخت اورنگ نه کاندي[۷۵۹]

او بل ځای داسې وايي:

دا په قبنج ډکه نوې پېغله مې له څنگه لاړه
که بادشاهي د هندوستان وه د اورنگه لاړه[۷۶۰]

او بل ځای داسې وايي:

چې پرون د هندوستان د تخت بادشاه وه
نن ئې لور زمانې اوټومبه په ملا کې[۷۶۱]

اورنگزېب په ۱۱۱۸ هجري کې وفات شوی دی. په دغه وخت کې حسين د پنځوسو کالو سپين گيری و، لکه چې وايي:

اوس په سپينه گيره څه رنگ ترې توبه کړم
يمه عشق سره اشنا په حيوانۍ کې[۷۶۲]

او يا لکه دا شعر:

کج کردار يم کج گفتاره پټې سترگې
سپينه گيره غابښ وتلي هوښيار نه شوم[۷۶۳]

په دې حساب د سيد حسين د زېږون نېټه۱۰۶۸ هجري ټاکل کېږي.[۷۶۴]

دحسېن د اوسېدلو سيمه

له ټولو نه مهمه پوښتنه چې د دې مقالې په مرکزي پوښتنو کې کې یوه پوښتنه ده، هغه دا ده چې حسین د کوم ځای و او په کومو کومو ځایونو کې یې ژوند کړی و او د ژوند زیاته برخه یې په کوم ځای کې تېره کړې ده. په دې باره کې پوهاند صدیق الله رشتین لیکي چې حسین د اباسین نه پورې غاړې د کشمیر او تینول تر مینځ سیمه کې د پکلی (ملک پور) نومې کلي اوسېدونکی و، خوپه دي اړه یو بل قول دا دی کوم وخت چې د میا حسن مشر ورور میا قاسم د میا نور محمد په وینا سوات کوهستان ته د اسلام د تبلیغ لپاره د ډوما کافرو سره په مدین شاګرام او پکهلی کې میشته وه، نو سید حسین هم په خپل تره پسې د بونېر نه پکهلی ته لاړ شۀ. پکهلی د سوات پخواني بادشاه سلطان پکهل په نوم د کوهستان په علاقه کې د مدین سره نزدې یو کلی دی.[٧٦٥] سید حسین ډېره زمانه په پکهلی (سوات) کې د خپل تره میا قاسم د تربیت او صحبت لاندې اوسېده.[٧٦٦] رحیم شاه رحیم وایي کوم دیوان چې همېش خلیل چاپ کړی دی دا هم د سوات د دې حسین دیوان دی او مخکې زیاتوي چې قاضي عبدالحلیم اثر او همېش خلیل صیب چې د دې پکهلی نه مراد د هزارې پکهلی اخستې ده نو د دې وجه دا ده چې هغوی ته د سوات د پکهلی پته نه وه.[٧٦٧] کله چې سید حسین د پکلی (مدین، سوات) نه کوکړی ته راغی نو دا شعر یې وویلو:

په معنی کې ستا خاکروب حلقه بګوش یم
ګني ملک مې دی پکلی استوګنه سوات

په دې اړه داسې ویل کېږي چې هغه وخت کې به یې پکلی ته سوات ځکه نه ویلو چې پکلی، مدین، شاګرام او تیرات د سوات په طبیعي جغرافیایي حدونو کې نه راتله، لکه څنګه چې راورټي ویلي چې د پیا نه په بره کوهستان په سوات کې نه راځي.[٧٦٨]راورټي وایي چې چوړړی [٧٦٩][مدین] او تیرات د شیخ ملي په وخت کې نه دي قبضه شوي، بلکې یو نیم سل کاله وروستو د اخون کریم داد په وخت کې د سوات کوهستان د کافرو نه اخستي شوي دي.[٧٧٠]

حسین چې کله زلمی شو، نو د ترور له لور سره یې مینه پېدا شوه او د دې مینې د زیاتېدو له وجې سوات ته لاړه، لکه چې وایي:

په معنی کې ستا خاکروب حلقه بګوش یم
ګني ملک مې دی پکلی استوګنه سوات[٧٧١]

خو رحیم شاه رحیم وايي چې دا ملک پور د پکلۍ (هزاره) ملک پور نه دی، بلکې د بونېر ملک پور دی او په دې شعر کې چې کومه پکلۍ یاده شوې ده دا نوم د هزارې د پکلۍ نه، بلکې د سوات پکلۍ ده. وايي چې څه وخت د میا حسن مشر ورور میا قاسم سوات کوهستان ته د اسلام د تبلیغ لپاره راغی نو سید حسین هم په خپل تره پسې له بونېر نه پکلۍ (سوات، مدین) ته لاړه. د سوات کوهستان د تیرات په غزا کې چې کله میا کریم داد شهید شو، نو له میا نور محمد او میا قاسم سره سید حسین هم په ډېرو جنګونو کې برخه واخسته. دغه وجه ده چې دی د سید حسین غازي په نوم هم یادېږي. میا قاسم په سوات کوهستان کې نوو مسلمانانو ته د اسلامي تعلیماتو درس ورکولو لپاره ډېره موده په سوات کوهستان کې اوسېده او څه وخت وروسته میا قاسم پیر کلي ته راغی او سید حسین یې په پکلۍ (مدین) کې پاتې کړه او بیا څه وخت وروسته سید حسین د مدین له (پکلۍ) نه سیدو شریف سره نزدې کوکړۍ نومې کلي ته لاړه. په کوکړۍ کې د سید حسین پلار میا حسن اوسېده، دی څه وخت وروسته د مرادان د امازو ګړۍ د خلکو په دعوت هلته لاړه.

عبدالحلیم اثر افغاني لیکي چې سید حسین د ریاست سوات له مرکزي مقام سیدو شریف سره متصل مغرب طرف ته کوکړۍ نومې کلي کې اوسېده او له دغه ځای نه په هغه زمانه کې د امازي قبیلې مشرانو په جرګه بوته او د مردان مشرق طرف ته په مشهور کلي ګړهي دولت زي کې اباد شو، همدلته وفات شو او زیارت یې هم په دې کلي کې دی.

وفات

چې کله دی امازو ګړۍ ته لاړه، نو د(۱۷۱۷م) ۱۱۳۰ هجري خواو شا هم هلته وفات شوی دی. قبر یې په امازو ګړۍ کې د خوړ پر غاړه شهباز ګړې ته نزدې په لږه فاصله پروت دی او په سید حسین بابا یادېږي.[۷۷۲] سید عبدالجبار شاه وايي چې د سید حسین قبر سیدو شریف ته نزدې دی.[۷۷۳]

اولاد

د حسین د شپږو ځامنو نومونه دا دي: سید ابدال، سید ایاز، سید بیاض، سید غازي شاه، سید کریم شاه، سید واصل الدّین[۷۷٤] داسې هم ویلی شي چې د سید حسین څه اولاد په سوات او څه د سمې په اسماعیله (صوابۍ) او زېده کې اوسېږي او دا هم وايي چې سید قاسم او سید حسین او د دوی اولاد د سوات کوهستان په جهاد کې حصه اخستې ده.[۷۷۵] د حسین له مرګ وروسته د ده اولاد په خواو شا علاقو کې خور شو چې په

ګړهي دولت زي تحصيل مردان، اسماعيله، نذر، زېده او هنډ تحصيل صوابۍ کې اباد دي او نور اولاد يې په رياست سوات کې خاص په قمبر کې دی. د رياست سوات د والي صاحب ماما ګان چې په لالا ګانو مشهور دي هغه هم د دې سيد حسين په اولاد کې دي.[٧٧٦] رحيم شاه رحيم ليکي چې کله دی په ګړهي امازو کې وفات شو نو د ده له مرګ نه وروسته د ده څه اولاد سوات ته لاړل او په سوات کې په قمبر، ډهېرۍ، دمغار، کالا کلي، ګالوچ او شلهڼ کې اباد شول. د سيد حسين د يو ځوی سيد ابدال قبر په کوکړۍ کې دی. د سيد ابدال د يو ځوی نوم ميا ګل لال دی او د ده قبر په دمغار کې دی. د ميا ګل لال د ځوی سيد جلال قبر په کالا کلي کې دی.[٧٧٧]

ميا کريم داد

ميا کريم داد د اخون درويزه مشر ځوی دی. ميا کريم داد د تاريخ او ادب په کتابونو کې په مختلفو نومونو ياد شوی دی لکه اخون کريم داد، کريم داد شهيد ، عبدالکريم او شهيد بابا.[٧٧٨] خلاصة البحر نومې کتاب کې ورته "محقق افغان" ويل شوي دي.[٧٧٩]کريم داد د بونېر په علاقه سلارزي کې پېدا شوی دی.[٧٨٠] د ده د پېدائش نېټه ٩٦٥ هـ بمطابق ١٥٥٧ عيسوي ښودلې شوې ده.[٧٨١] رحيم شاه رحيم په خپل ناچاپ کتاب "غټه خزانه" کې د ده د پېدايش نېټه ٩٧٠ هـ بمطابق ١٥٦٢ عيسوي ليکلې ده.[٧٨٢]دی د لسو کالو په عمر کې د پير بابا په مدرسه عاليه پاچا کلي کې د دين د زدکړې د پاره کېښنولی شه. په ماشوموالي کې ورته پير بابا دعا وکړه او د علم منزلونه يې ډېر په تېزۍ سره سر کړل، چې کله هلکوالي ته ورسېده، نو د نور علم د پاره هندوستان ته لاړه. په هندوستان کې دی په دهلي، اجمېر شريف او اګره کې پاتې شه.[٧٨٣] په خپل يو غزل کې د هندوستان د سفر حال حال داسې بيا نوي:

دا دنيا ده د هندوانو در ئې پربېرده چې هندوان ئې تېره کا په تماشه کې
زيات د هند خلق چار پائی دی [که پوهېږې] له چارپايه مه ګډېږه په شماره
کې کريمداد چې دا بيان کړ لهٔ چارپايو سره بند وه په اګره کې[٧٨٤]

کله چې دی په هندوستان کې و، نو د يو بزرګ په وينا ده د خپل پلار مرشد کامل پيربابا ته ځان راورسولو او د هغه په لاس يې بيعت وکړ او د هغه په خاصو مريدانو کې شمار شو. پير بابا به د نورو مريدانو په نسبت ده طرف ته د لطف و کرم نظر زيات و. ميا کريم داد

يې هم په خپلو شعرونو کې ځای پر ځای د خپل پير په نامه ستاينه کړې ده. په يو ځای کې ورته د عقيدت پېرزوينې داسې وړاندې کوي:

دا گفتار د غوّاصانو شيخ علي غوندې غوّاص د تا بائده دی
دی غوّاص صاحب د در دی سر بازل هنر د ده دی کريم داد چې څه
وئيړي رحم شوی د خپل پلار مدام په ده دی[785]

رحيم شاه رحيم دا شعرونه داسې ليکلي دي:

دی غوّاص صاحب د در دی سر بازل هنر د ده دی د کريم په لبو باندې
جام شيرين کوثر د ده دی کريم داد چې څه وئيړي د شفقت نظر د دهٔ دی[786]

په بل ځای کې خپل پير سيد علي ترمذي ته د عقيدت پېرزونې داسې وړاندې کوي:

مدعي که باور نه کړي ملامت دی چې حديث د پاک رسول
زما برهان دی چې زه الله په وحدت يو وو ولې وس مې د
صورت حجاب تر ميان دی اوس انسان لره بائده دي هر
انسان چې څه انسان دی کلي سر د خپل الله کا که تحقيق
د حق جريان دی اوس دا هومره خو دې زده کا چې بې سره
صورت وران دی که پر سر ورپوهېږې ای عارفه دا صورت دی
هم په دا ولې ودان دی هر سالک چې په دا هسې سر عارف
شۀ ځان ئې تن شۀ تن ئې ځان دی په دا سر کې يوه گرانه
دقيقه ده ولې شېخ سېد علي پکې چلان دی که په دا دقيقه
پوئ ئې لرې مه څه شريعت او طريقت عېن عرفان دی[787]

کريم داد د خپل پلار او د پير بابا دواړو ذکر داسې کوي، لکه له دواړو نه يې چې د سلوک مرسته اخستې وي،شايد چې لاس نيوه يې د خپل پلار نه کړي وي او پير بابا د هغه په واسطه خپل پير گڼي.[788]ميا کريم داد د چشتيه سلسلې پيروکار و، لکه چې پخپله وايي:

کريم داد به څه پرواه کا چې دائم ئې د چشتيانو بدرگه ده[789]

د هغه په مريدانو کې خاص طور د هغه خپل دوه ځامن ميا دولت او ميا نور محمد، دوه ورېرونه ميا عبدالسّلام او ميا عبدالحليم، د پير بابا درې لمسي ميا عبدالوهاب او ميا قاسم او ميا حسن خپل يو خورائی ميا الله داد چشتي او ميا قاسم پاپين خېل او د پښتو لوئی شاعر رحمان بابا د ذکر وړ دي.[790]اخون کريم داد چې کله د هندستان نه راغی او د

پیر بابا مریدي او شاګردي ئې شروع کړه نو د هغه ورسره هم ډېره مینه پیدا شوه او خپله کشره لور بي بي شاهان ئې هم ورته په نکاح کړه.[۷۹۱] رحیم شاه رحیم په یو بل ځای کې د ده د بي بي نوم بيبي عاشیه لیکلی دی.[۷۹۲]د میا کریم داد دوه ځامن وو، د مشر ځوی نوم یې میا دولت او د کشر نوم میا نور محمد و، دا دواړه ډېر عالمان، فاضلان او سالکان وو، د دې دواړو ورونو قبرونه د سوات د اسلام پور کلي په مقبره کې دي.[۷۹۳] د میا کریم داد یوه لور هم وه چې د هغې نوم نورالنّساء و، دا د بونېر د بشونۍ کلي په اخون محمد صدیق واده وه.[۷۹٤] د میا کریم داد او د هغه د اولاد شجره داسې بیان شوې ده:

د اخون درویزه څلور ځامن: میا کریم داد، عبدالله، پاینده محمد، میا عبدالخالق

د عبدالله دوه ځامن: میا عبدالحلیم او میا عبدالسّلام

د میا کریم داد دوه ځامن: میا دولت، میا نور محمد

د میا نور محمد درې ځامن: غلام مصطفی محمد، نثار محمد، میا احمد

د میا دولت درې ځامن: میا عبد الرّسول، میا حافظ، میا فاروق

د میا فاروق دوه ځامن: زین العابدین، ابوبکر

د ابوبکر درې ځامن: میا شاه ګدا/میا شاه ایران، سپین ګیری بابا، میا شا درغان[۷۹۵]

د میا کریم داد د تصنیفاتو او تالیفاتو په باره کې رحیم شاه رحیم لیکي چې ده په فارسۍ او پښتو کې ګڼ کتابونه لیکلي دي. یو مستند کتاب یې "تحفة الخانیه" او یو وړوکی کتاب یې د "مسائل النّساء" په نوم لیکلی دی. په دې کتاب کې ده د ښځو د پاره فقهي مسایل راجمع کړي دي. په تصّف کې یې "شرح جام جهان نما" په فارسۍ او "کلمات الوفیات" یې په پښتو کې لیکلي دي. د ده غټه کارنامه د خپل پلار اخون درویزه د تصنیف " مخزن الاسلام" د خپلو اضافو او تصحیح سره دوباره مرتب کول دي.[۷۹٦] ده د وخت د تقاضو مطابق په مخزن الاسلام کې د مانځه سبق، د عقائدو څه ټوټې،د یو دوو ایاتونو تفسیر، د آمنت باالله ترجمه، د جنازې مونځ او د څه فقهي مسائلو اضافه کړې ده ـ دا اضافې ځیني د اخون درویزه په شان په نثر مسجّع کې دي او د اخون درویزه په سبک کې لیکل شوي دي او ځیني وړې وړې مسلسلې قطعې یا دوه بیتیزې دي.[۷۹۷] د کریم داد په دې اضافو کې یوه د هغه خپله الف نامه هم ده. دا یې د اخون درویزه په شان په هر حرف بېله بېله قطعه لیکلې ده او خپل صوفیانه مسلک یې پکې بیان کړی دی. [۷۹۸]له دې ټولو نه اهم د ده د پښتو دیوان دی چې اوس نایاب دی.[۷۹۹] د فارسۍ خطونو مجموعه او د

يو څو عربي کتابونو شرحې يې موندلی شي. د تحفة الخاني او فقه کريم داد په نامه د کتابونو يې صرف نومونه رارسېدلي دي خو چا ليدلي نه دي.[800] د ده د کلام يوه نسخه په مينگوره کې د ده لمسي عبدالرّشيد مرتّب کړې ده. په دې کې د مونځ مکمله منظوم ترجمه، الف نامه او په وړو لويو بحرونو کې ځينې نورې غزلې شاملې دي.

اخون کريم داد اکثر وينا د خپل پلار په شان هغه د "خيرالبيان" په طرز کړې ده، خو له دې نه علاوه يې عروضي قسم شعرونه هم ويلي دي.[801] د ده ټوله شاعري د خدای پاک او د رسول په مينه کې رنگ او د معرفت يوه بېش بها خزانه ده. د عشق حقيقي سوز او د معرفت ساز د هغه کلام له دومره خوزوالی او لطف ورکړی دی چې د لوستونکي يې په بيا بيا لوستو تنده نه ماتيږي.[802] د نمونې په توگه يې دا شعرونه پېش کولی شي:

نا گها شها يواځې ننداره کا چې د دې رحم پرې اوشي و هغو
وته سپينکي دندان ښکاره کا له بادشاهانو سره ناسته پاس پر
تخت ده له گدايه سره گرځي دروېزه کا لـه عابـد سره ولاړه پر
مانځه ده له بنگيانو سره خپسر خماره کا له عاقله سره ناسته ده
خاموشه له کم عقله سره گر ځي مسخره کا له رنځوره سره ناسته
ده بېداره له غافله سره خوب په غړ غړه کا له هندوانو سره ناسته
پــه بــازار ده لــه حاجيــانو سره يــون پــه بخــاره کــا[803]

د دوی کورنۍ له نظم نه زيات شهرت په نثر کې لري.[804] لکه چې وړاندې ذکر شوي شوي دي کريم داد په نثر کې هم کتابونه ليکلي، خو له بده مرغه زيات پکې ورک دي. په ۹۹۱ هـ (۱۵۸۳م)کې د پير بابا له وفات نه پس چې کله په ۹۹۵ هـ (۸٦۱۵م) کې د اکبر بادشاه لښکرې په سوات او بونېر راخورې شوې او تباهي يې شروع کړه، نو لکه د نورو خلقو غونډې ميا کريم داد هم در په دېکې او د بې سروسامانۍ په حالات کې د خپل پلار سره په کال ۹۹۷ هـ (۱۵۸۸م) کې پېښور ښار ته په جلا وطنۍ مجبوره شه.[805]کريم داد چې کله پېښور ته جلا وطن شه نو دولس کاله يې په پېښور کې تېر کړه او دولس کاله پس چې قلاره قلاري شوه نو بيا واپس يوسفزو ته راغی. څه زمانه يې د دير په سجادي نومې کلي کې تېره کړه او بيا د سوات د نيکپي خېلو علاقې کانجو کلي ته راغی. دلته يې د درس و تدريس او علم و عرفان سلسله شروع کړه.[806] رحيم شاه رحيم په يو بل ځای کې ليکي چې

د مغلو په دې چپاو کې میا کریم داد د بونېر نه اسلام پور (سوات)، هشنغر او له هغه ځای نه واپس بیا سوات ته راغی.[۸۰۷]

په کانجو کې چې کله ده د درس وتدریس کار شروع کړه نو په ګېر چاپېره علاقو یې هم نظر لرلو. هغه وخت کې د سوات کوهستان خلک لا مسلمانان شوي نه وو، ده د دغو خلکو خلاف د جهاد اعلان وکړ او له نورو ملګرو سره د تیرات (مدین) په علاقه کې د کفارو لښکر ته مخامخ شه. د شپې د کفارو یو مخبّر دې په خپله مورچه کې په مانځه ولاړ شهید کړ. په دې جنګ کې د ده یو وراره میا عبدالحلیم چې د ده مرید هم و، د دېرشو کالو په عمر کې شهید شه. دا د شوال میاشتې نهم تاریخ او د هجري سن یو زر نهه پنځوستم (۱۰۵۹ هـ) کال و.[۸۰۸] د ده د وفات نېټه رحمان علي په تذکره علماء هند کې ۱۰۷۲ هـ (۱٦٦۱م) لیکلې ده.[۸۰۹] سید تقویم الحق کاکا خېل هم د ده د وفات نېټه ۱۰۷۲ هـ لیکلې ده.[۸۱۰] په یو بل ځای کې رحیم شاه رحیم د ده د وفات تاریخ ۱۰۷۲ هـ لیکلی دی.[۸۱۱]چونکې په تیرات کې دی شهید شوی و، نو هلته د ده د شهادت په ځای د ده یادګاري روضه اباده ده. د تیرات او ګېرچاپېره علاقو د قبضه کولو او په دې جنګ کې د ده د وفات کېدلو په اړه میجر راورټي داسې لیکي:

> It appears that the whole of Suwat, as far north as Pia, was conquered in Shaykh Mali's time; but these few villages just referred to,[Chur-rrai (Madyan) and Tirataey], were acquired from the Kafirs (as all people are termed by the Afghans, who are not of the same faith as themselves) about a hundred and fifty years after, in the time of Akhund Karun Dad [Karim Dad], son of Akhund Darwezah. At the capture of Tirataey Karun Dad [Karim Dad] lost his life.[۸۱۲]

د ده اصلي روضه په کانجو سوات کې ده.[۸۱۳] مېجر راورټي وایي د تیرات خلک دا دعوه کوي چې د میا کریم داد لاش له دوی سره دی او قبر یې هم په تیرات کې دی او کله چې دوی ته ووېل شول، چې د کانجو خلک خو وایي چې د هغه له مرګ نه وروسته هغه خپل کلي کانجو ته وړل شوی دی او هلته دفن دی، نو د دې په جواب کې د تیرات خلک

وايي چې مونږ له هغوی نه دا لاش راپټ کړی او بيا مو دلته په تيرات کې سپارلی دی. په دې خبرو مېجر راورټي خپله تبصره داسې کوي:

All such statements as these are solely for their own interested purposes, in order to enable them to peel off the skin and flesh of poor people, in the shape of offrings at the shrines.[٨١٤]

چونکې دی په کانجو کې اوسېده او روضه يې هم په کانجو کې ده، نو له دې وجې د کانجو د شهيد بابا په نوم هم ياد شوی دی. اخون ميا داد د ده ذکر داسې کړی دی:

د اخون دعا ده تر سوات قلاته دا ننگ اوکړه ای
کانجو کې کانجو نام د هستۍ غوث اقدره[٨١٥]

د مياں کريم داد شهيد په مرگ حافظ الپوری داسې وايي:

يو عالم وې بل شهيد شوې عجيبه در فريد شوې
د کانجو مياں کريم داده مانيولی لمن ستا ده[٨١٦]

د ميا کريم داد ژوند او ادبي خدمات د پښتو ادب په تاريخ کې ډېر اهميت لري. پر پښتو ادب د هغه اثرات ښه ښکاره دي او په پښتو ادب د هغه ډېر احسانات دي. هغه په نظم او نثر دواړو کې ليکل کړي دي. په بنيادي توگه د هغه شاعرانه تخليقات له تصوف سره تعلق لري، خو د ژوند له هرې شعبې سره د تعلق لرونکو د دلچسپۍ سامان د هغه په ادبي تخليقاتو کې موندل کېږي.

ميا عبدالحليم

ميا عبدالحليم د کريم داد شهيد وراره او د عبدالله زوی دی او د اخوند درويزه بابا لمسی دی. د اخوند درويزه په اولاد کې له ميا کريم داد نه پس ميا عبدالحليم يو پياوړی شاعر تېر شوی دی. د ميا عبدالحليم څه ملحقات په مخزن کې شامل دي.[٨١٧]

ميا مصطفی محمد

د ميا مصطفی محمد خپل نوم نثار احمد و. ميا مصطفی د ده قلمي نوم و، خو په عوامو کې نه چا په نثار احمد نوم پېژنده او نه په ميا مصطفی نوم يادېده. په عامو خاصو کې په مياجيو يا ميانجو بابا مشهور دی. دی د ۱۰۵۴ هجري خواو شا د سوات په سلامپور کلي کې د ميا نور محمد ابن ميا کريم داد کره زېږېدلی و. دی د نقشبنديه طريقې يو

کامل پیر و، د عمر زیاته برخه یې په خپل کلي سلامپور کې تېره شوې ده او همدلته د ۱۱۳۴ هجري کال خواو شا وفات شوی دی. قبر یې د خپل پلار میا نور محمد له قبر سره خوا کې لمر خاته لاس ته دی، په میا جو بابا یادېږي. ۸۱۸

اخون قاسم پاپین خېل

د اخوند قاسم پوره نوم میا اخوند محمد قاسم و. د کال ۱۰۴۶ هجري، مطابق ۱۶۳۰ عیسوي خواو شا په سوات سیدو شریف کې پیدا شوی و. د پلار نوم یې اخوند محمد صدیق او د نیکه نوم یې محمد شریف و. له پاپیني میاگانو سره د تعلق لرلو په سبب یې له نوم سره لفظ پاپین خېل لیکل کېږي.(رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه، مینگوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز، ۲۰۱۵، مخ: ٦٠). د اخوند قاسم دوه وروڼه نور هم وو، دی په دربو واړو وروڼو کې مشر و. دی په سیدو شریف کې له خپل پلار او ترونو سره یو ځای اوسېده. په دغه زمانه کې د اخوند درویزه بابا مشر زوی اخوند کریم داد د سوات په کانجو کلي کې اوسېده او د علم او د عرفان دبدبه او شهرت یې په هر طرف خور و. اخوند قاسم پاپین خېل د شپاړسو کالو په عمر کې د میا کریم داد په حلقه کې شامل شو، تقریباً لس کاله یې ترې د ظاهري او باطني علومو فیض حاصل کړ. په کال ۱۰۷۲ هجري کې چې کله میا کریم داد د تیرات په غزا کې د ډوما کافرو له لاسه شهید شو، نو میا قاسم پاپین خېل له کانجو نه د دغې علاقې یو بل کلي ته، چې وروسته بیا د هغه په وجه په اخون کلي مشهور شو ، راغی. میا قاسم تر وفاته پورې په اخون کلي کې استوګن و، قبر یې هم دلته دی د وفات کال یې نه دی معلوم. (رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه، مینگوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز، ۲۰۱۵، مخ:٦١) میا قاسم پاپین خېل لوی صوفي، بزرگ، عالم، فاضل، د باطني علومو خاوند او د خپل وخت یو صوفي شاعر و. د فواید الشریعت او فواید المومنین په نوم یې دوه کتابونه په پښتو کې لیکلي دي. د پښتو شعرونو یو دیوان یې هم لرلو خو اوس نایاب دی. فواید الشریعت په ۱۰۷٦ هجري کې د تیرات له جنگ نه څلور کاله پس لیکل شوی دی. هغه اگر چې د میا کریم داد شهید شاگرد او مرید و، خو په خپل کلام کې یې له میا کریم داد نه علاوه د اخوند درویزه بابا او پیر بابا سره هم ډېر عقیدت ښکاره کړی دی. ۸۱۹ د اخوند قاسم د کتاب "فواید الشریعت" یوه قلمي نسخه د جرمني په برلن ښار کې په یو کتابتون کې موجوده ده. داکتاب په ۱۰۷٦ هـ خواو شا لیکل شوی دی. په وړومبي ځل په ۱۸۷۵ کې چاپ شوی دی. په ۱۹٦۹ کې پښتو اکیډمی

پېښور يونيورسټۍ دا کتاب چاپ کړی دی. په دې کتاب کې له مختصر الهدايه نه د اسلامي فقهې احکام راخستل شوي، چې په هغې کې د شريعت احکام، د اسلام ارکان، د ايمان شرطونه، د ژبې څلور خامياني، د الله ذکر، د مشرانو حقونه، د ښځو حقونه، د قران فضائل، د درود شريف فضايل، د مسواک فايدې،د غسل فايدې او نور ليکل شوي دي. دا کتاب د مخزن د اسلوب په طرز ليکل شوی دی، په پښتونخوا کې دې کتاب ته هم د مخزن په شان مقبوليت مېلاو شوی دی. (نسيم، پروفېسر ډاکټر عارف، فهرست مخطوطات پشتو اکيډمي، پشاور، پشتو اکيډمي، ۲۰۱۱، مخ: ۵۴۹) افضل رضا ليکلي چې دا کتاب په ۱۰۷۲ هـ خواوشا ليکل شوی دی. (رضا، محمد افضل، د پښتو د نثر تاريخ، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۹۵، مخ: ۲۰۳) د دې کتاب په اکثرو نسخو کې د بابونو شمېره دوه اتيا دی. (هېواد مل، زلمی، د پښتو د نثر اته سوه کاله، لاهور، ملت پرنټرز، ۱۹۹٦، مخ: ۸۲). د دې کتاب په تاليف کې اخوند قاسم پاپين خېل له ډېرو کتابونو نه استفاده کړې، چې پکې د ځينو ماخذونو نومونه دا دي : احيا العلوم، مشکوت المصابيح، مطالب المومنين، صحيح بخاري، تفسير مدارک، تفسير زاهدي، تفسير الکشاف، تفسير حسيني، تفسير يعقوب چرخي، ذخيرت الملوک، تنبيه الغافلين، رساله قدسيه، ارشادالمريدين، شرعت الاسلام، انيس الواعظين، کيميای سعادت، تذکرت الاوليا، نفحات الانس، فتاوي قاضي خان، خزانت الفتاوي، فتاوي غرايب او نور.(هېواد مل، زلمی، د پښتو د نثر اته سوه کاله، لاهور، ملت پرنټرز، ۱۹۹٦، مخ: ۱۹۳، ۱۹۴)

حافظ الپورۍ

د حافظ الپورۍ خپل نوم عبدالصمد و. په ۱۱۵۹ هجري کال بمطابق ۱۷۴٦ عيسوي کې پېدا شوی و. د پيدايش ځای يې د موجوده شانګلې ضلعې الپورۍ نومې کلی دی. په قوم مندڼ يوسفزی دی. د حافظ الپورۍ خپل پلرنی وطن د هشنغر علاقې د اتمانزو نومې کلی دی. له خپلو تربورانو سره د دښمنۍ له وجې د حافظ مشران د غوربند علاقې ته راغلي وو. د حفظ قران لپاره حافظ د سوات د عزيخېل علاقې خواږه خيلې ته راغلی و. په خوازه خېله کې له ابتدايي علم نه پس د مردان او پېښور په علاقو هم ګرځېدلی دی. په ۱۲۲٦ هجري کې د درې کم اويا کالو په عمر کې وفات شوی دی. مزار مبارک يې د الپورۍ په مقام د خوړ پر غاړه دی. د حافظ الپورۍ دوه ځامن او يوه لور وه، د مشر ځوی نوم يې محمد وصال او د کشر ځوی نوم يې محمد اوليا و، د بي بي نوم يې

مهره وه. د محمد اولیا او محمد وصال قبرونه د حافظ الپورۍ له مزار سره جخت نمر خاته طرف ته واقع دي.(رحیم، رحیم شاه، د سوات ورک شاعران، دویم ټوک، مشموله میاشتنۍ پښتو، جلد: ۱۲، شماره: ۵ (جون ۱۹۸۰)، مخ: ۳۹،۳۸)

احمد دین طالب

احمد دین طالب په ۱۸۵۹م کال کې د هشنغر له اتمانزو کلي سره متصل نوي کلي کې پیدا شوی و. د پلار نوم یې سراج الدین و. دوی په قوم پریچ خېل پښتانه وو. احمد دین طالب د عمر زیاته برخه په سوات کې تېره شوې ده، هغه د پینځه کم څلوېښتو کالو په عمر کې سوات ته راغلی و او د اویاوو کالو په عمر کې له سوات نه بېرته تلی و. هر څو که احمد دین طالب په هشنغر کې پیدا شوی او لوی شوی دی، خو شاعري یې له سوات سره تعلق لري او هم په سوات کې د احمد دین شاعرۍ ته شهرت حاصل دی، نو ځکه یې مونږ د سوات په شاعرانو کې شمېرو. محمد اصف خان وایي چې خلک هم د سوات وو چې د احمد دین د شاعرانه جمالیاتي حس د بېدار ساتلو باعث وو، لکه احمد دین طالب چې وایي:

زه طالب احمد دین ځکه سوات کې خوښ یم
چې وطن د ښاپېرو مې دی مونډلی
او بل ځای کې داسې وای:
مینګوره کې شاګرد عبدالحمید مې
کړي ښکاره به دی زما شعر و کمال

په ۱۹۳۴م کال کې د پینځه اویا کالو په عمر وفات شوی دی. قبر یې د مردان شهیدانو بازار سره نزدې د بنجاري بابا په مقبره کې دی. (رحیم شاه ، د سوات ورک شاعران دریم ټوک، میاشتنۍ پښتو جلد ۱۲، شماره ٦ (جولایي ۱۹۸۰، مخ: ۳۰)

ابراهیم

ابراهیم د سوات د مشهور بزرګ پیر پرنده صیب په اولاد کې تېر شوی دی او د اخون درویزه د سبک په پیروکارانو کې ښکلی لیکونکی دی. [۸۲۰]

خیری

خیرالله خان چې په خیري مشهور و په قام نعمت خیل و، چې د زبرخیل ښاخ دی او زبرخېل په عائشه خېل ورګډېږي او عائشه خېل د نیکبي خېل یو ښاخ دی. د بر سوات په چاچو ډهېرۍ کې اوسېده. نن ورځ د چاچو ډهېرۍ نوم بدل شوی او په شاډهېرۍ یادېږي. خیرالله خان په خپلو شعرونو کې خیری تخلص استعمال کړی دی. د سوات په شاعرانو کې یې شهرت لرلو، تقریباً د پنځوسو کالو په عمر کې په ۱۹۰۸ کې په حق رسېدلی دی. (اثر، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۶۳، مخ: ۲۱۸) د ده د یوې معمه چاربېتې سر رحیم شاه داسې لیکلی دی:

څلور مې خاله اینبي پینځه ټیکې ګرځوم
شپږ به ګلونه په وربل ورته قطار کړمه موزي به خوار کړمه ـ[۸۲۱]

د بحث لنډيز

په سوات کې په وړومبي ځل د پښتنو راتګ د محمود غزنوي پر سوات له حملو سره شوی دی. د محمود غزنوي په لښکر کې ځينې پښتنې قبيلې هم وې چې بيا وروسته په سوات کې ابادې شوې. له دوی نه په سوات کې په با قاعده توګه د پښتو ژبې شروع وشوه. تر څو پورې چې د پښتو ادب تعلق دی نو په سوات کې د پښتو ادب اولنی معلوم او موجود کتاب "مخزن الاسلام" دی. د سوات د پښتو ادب په وړومبي دور کې، يعنې تر ۱۹۱۵م پورې دلته منظم حکومت نه و. دلته به خلکو د خپلې مرضۍ او د قبايلۍ رسم ورواج لاندې ژوند تېرولو، چې پکې جهالت او دښمنۍ ډېرې وې، ځکه دې دور ته د پښتو دور وايي، دلته د پښتو مطلب ضد، جهالت او دښمني ده.

د دې دور د ادب ډېره حصه په مذهبي موضوعاتو اډانه لري، په دې دور کې نيم ادبي او نيم مذهبي کتابونه ليکل شوي دي. په دې دور کې عام طور باندې نثر مقفٰي او مسجع ليکل شوی دی. پر پښتو ژبه او ادب د عربۍ او د فارسۍ اثرات زيات ښکاري. په شاعرۍ کې د تصوّف رنګ غالب دی او د تصوّف نازکې مسئلې يې چېړلې دي. د شاعرۍ په وزن بحر کې کمی ليدلی شي. په دې دور کې د شعروشاعرۍ مقابلې هم کېدلې، دا مقابلې به ډېرې د ولسي شاعرانو يا چاربېتي شاعرانو تر مينځه کېدلې.

په تحريري ادب کې غزل، مثنوي او د نظم صنفونه زيات اهم وو. د دې دور په ادب کې مرثيې هم ليکلل شوي دي، ولسي شاعرانو چاربېتې ليکلي، چې د دغه دور له غزلو نه ډېرې خوندورې او چستې دي. په دې دور کې له عربۍ او فارسۍ نه ترجمې په نظم او نثر دواړو کې شوي دي، لکه په مخزن او ګنجة الګوهري کې د ترجمې حصه زياته ده. د دې دور په ادب کې اسلامي او د پند و نصيحت خبرې زياتې دي.

د دې دور په ادب کې د ټولنې عکس ډېر تت موجود دی، خو بيا هم د دې دور په پښتو ادب کې د دغه وخت د خلکو د خوراک څښاک، جامه پيزار، استوګنې، دغم ښادۍ رسم ورواج، لوبو، تفريح، اخترونو، معاشرتي خرابيانو او سزاګانو او نورو ذکر موندل کېږي، چې سرې ترې د هغه وخت د خلکو د ژوند د معيار او تهذيب او ثقافت اندازه په اسانه لګولی شي. په دې دور کې که د سوات د خلکو د ژوند معيار په سمه کې د اوسېدونکو يوسفزو د ژوند د معيار برابر نه دی، د هغې وجه دا ده چې هلته د مغلو او بياد انګريزانو منظم حکومتونه پاتې شوي او خلکو د يو باقاعده نظام لاندې ژوند تېر کړی دی[۸۲۲] او دلته

يو قبايلي نظام و او ټولنيز اړي ګړي او جنګونه زيات وو، نو ټولنيزه ترقي د سمې په نسبت څکه کمه ده.

د دغه وخت د خلکو ژوند زياتره له کرکيلې سره تړلی و، نو ځکه په ادب کې د کرکيلې اصطلاحات او حوالې زياتې موندل کېږي.

د دې دور په ادب کې د انګرېز او د مغل خلاف ذکر او د پير روښان خلاف ذکر او نور موندل کېږي. په دې دور کې د پيرانو ذکر په ادب کې ډېر موندل کېږي، د ګرځنده يا واريز وېش، جرګې او نورو ذکر هم په ادب کې راځي. د پښتونولۍ ځينې ځانګړنې، لکه ميلمستيا، بدل، بدرګه او نور هم په ادب کې موندل کېږي. د دې دور په ادب کې د خان ملک او د ملا د کردار ذکر هم ډېر شوی دی. د هغه وخت مختلفې پېشې اود طبقاتې نظام ذکر پکې هم موندل کېږي، د ښځو د ژوند حالات ترې هم معلومېږي.

ددې دور په ادب کې د هغه وخت د مدرسو د نصاب او درسې کتابونو ذکر هم موندلی شي، په نورو علومو کې د علم نجوم، فلکيات، کيميا، تاريخ او اثار قديمه حوالې موندلی شي. د ښځو د مختلف قسمه زيوراتو ذکر هم پکې شته، د مختلف قسمه وسلو او د جنګ د سامان اندازه هم د دې دور له ادب نه معلومېږي.

د دې دور په پښتو ادب کې د هندومت حوالې هم موندل کېږي. دې دور کې مطبوعه کتابونه ډېر کم وو. د دې دور ځينې نور اهم تهذيبي او ثقافتي خصوصيات دا دي: په ټولنه کې د خان ملک اثر رسوخ زيات وو، خلک ډېر زيات وهم پرست وو، له پيرانو، باباګانو او زيارتونو سره خلکو ډېر عقيدت لرلو، خلکو به د خپلو حاجتونو د پوره کولو سوالونه له پيرانو باباګانو نه کول او بيماران به يې هم د علاج لپاره زيارتونو ته بوتلل. خاوندانو به د ښځو خيال ډېر ساته، خو په ميراث کې به د ښځو حصه نه وه او د لور خور د واده په موقعه به د دوی "د سر مال" هم اخستل کېده. د ګرځنده وېش په وجه د خلکو ژوند ډېر پسمانده و او د ډلو پرو زور هم ډېر و.

حوالې

[1] خان، محمد اصف. تاریخ ریاست سوات و سوانح حیات باني ریاست سوات حضرت میاګل ګل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [۱۹۵۸]،۲۰۲،۲۰۱ مخونه.

Sultan-i-Rome, Swat: A Critical Analysis, New Delhi, Institute of Peace and Conflict Studies, New Delhi India, IPCS Research Paper No. ۱۸, (January ۲۰۰۹), p. ٦. [2]

[3] حکیمزی، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۲۷مخ.

Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford [4]
۲۱University Press, ۲۰۰۹, p.

۲۲Ibid., p. [5]

[6] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۱, p.۵۷

[7][Hiuen Tsiang], Chinese Accounts of India translated from the Chinese of Hiuen Tsiang, translated and annotated by Samuel Beal, Vol. ۲, new edn.(Calcutta: Susil Gupta (India) Limited, ۱۹۵۸), p.۱٦۷

Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford [8]
University Press, ۲۰۰۹, p.۲٤

[9] Khan, Muhammad Nazir, A Ghaznavid Historical Inscription from Udegram, Swat, East and West, Vol. ۳۵, No. ۱/۳ (September ۱۹۸۵), p.۱۵۳

[10] Ibid., p.۱٦۳

[11] خټک، راج ولي شاه، ډاکټر. روهالوجي، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۲، ۳۴مخ.

, Peshawar, InterLit Foundation, ۲۰۰٤, p.۳۳سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه[12]Enevoldsen, Jens,

[13] طائر، محمد نواز. دردیال نالیدلی سوات، پېښور، منظور عام کتب خانه، ۱۹٦۵، ۱۱۵مخ.

, Peshawar, InterLit Foundation, ۲۰۰٤, p.ixسپوږمیه کړنګوهه راخېژه[14]Enevoldsen, Jens,

[15]Ibid.,pp. vii, viii

[16] طائر، محمد نواز. دردیال نا لیدلے سوات، پېښور، منظور عام کتب خانه، ۱۹٦۵، ۱۱٦،۱۱۵مخونه.

[17] همدغه اثر،۱۱۷ مخ.

[18]Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, ۲۰۰۹, p.۲٤

[19] Barth, Fredrik, Ecologic Relationships of Ethnic Groups in Swat, North Pakistan, American Anthropologist, New Series, Vol. ۵۸, No. ٦ (Dec. ۱۹۵٦), p. ۱۰۷۹

[20] مومند، م ـ ج سیال. د پښتنو قبیلو شجرې، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۸٦، مخ:

[21] ندوی، رشید اختر، (مترجم)، تزک بابری، مصنف مرزا ظهیرالدین بابر، لاہور، سنگ میل پبلی کیشنز، ۱۹۸۷، ص: ۱۵۰.

[22] خان، محمد آصف. تاریخ ریاست سوات و سوانح حیات باني ریاست سوات میا ګل ګل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب،]۱۹۵۸[،۳۲ مخ.

[23] قاسمي، سید عبد الغفور. تاریخ ریاست سوات، پشاور، حمیدیه پرېس،]۱۹۳۹[، ۲۱مخ.

[24] همدغه اثر[، ۲۱مخ.

[25] قاسمي، سید عبدالغفور. هدیه ودودیه، بریلي، مطبوعه سوداګرپریس پیش ګلی چڑهائی نیب، ۱۹۳٦، ص:۱۲،۱۳.

[٢٦] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١, p.٦٦

[٢٧] طائر، محمد نواز. درديال نا ليدلے سوات، پېښور، منظور عام كتب خانه، ١٩٦٥، ٧مخ.

[٢٨] ستهانوي،سيد عبدالجبار شاه. كتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اكادمي، ٢٠١١، ٢١٠ مخ.

[٢٩] محمد اختر، پروفيسر. تاجک سواتي و مملکت گبر تاريخ کے آئينه ميں،ايبٹ اباد، سرحد اردو اکيڈمي اردو نگر قلندر آباد، ٢٠٠٢ ، ١٤١ مخ.

[٣٠] Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ١٩٧٩, p٧١

[٣١] معظم شاه، پير. تواريخ حافظ رحمت خاني، پېښور، پښتو اکېډمي، ١٩٨٧/١٩٧١، ٦٦مخ.

[٣٢] همدغه اثر ، ٧٨مخ.

[٣٣] همدغه اثر، ٧٣ مخ.

[٣٤] نصيرالدّين، پروفېسر. دهگان مشموله مياشتنۍ مجله پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي، دسمبر ١٩٧٩،٨ مخ.

[٣٥] محمد حنيف، ډاکټر. دهگان او د هغوي پس ميظر، مياشتينۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ١٣، شماره: ١١، (دسمبر ١٩٨١)، ١٧مخ.

[٣٦] همدغه اثر ، ١٤مخ.

[٣٧] معظم شاه، پير. تواريخ حافظ رحمت خاني، پېښور، پښتو اکېډمي، ١٩٨٧/١٩٧١ ،٣١ مخ.

[٣٨] محمد اختر، پروفيسر. تاجک سواتي و مملکت گبر تاريخ کے آئينه ميں، ايبٹ آباد، سرحد اردو اکيڈمي اردو نگر قلندر آباد، ٢٠٠٢، ٣٨٢مخ.

[٣٩] خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [١٩٥٨] ، ٧٠، ٧١ مخونه.

[٤٠] خټک، راج ولي شاه، ډاکټر. روهالوجي، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ٢٠١٢، ٢١مخ.

[٤١] خان، حافظ رحمت. (مولّف)، خلاصة الانساب (مترجمين) محمد نواز طائر او مولوي فضل ودود)، پېښور، پښتو اکيډمي، ١٩٧٣، ١٤٧،١٤٨ مخونه.

[۶۸۰] طالب، احمددین. دیوان احمد دین طالب: ترتیب لائق زاده لائق او محمد اقبال حیران، ۱۵۳ مخ.
[۶۸۱] میاداد، اخون. د اخون میاداد دیوان، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، لاهور، اداره نشرالمعارف، ۱۴۸ مخ.
[۶۸۲] صواتے [سواتے]، عبدالعظیم. دیوان عبدالعظیم، پېښور، اداره اشاعت سرحد، ۱۹۵۹، ۷مخ.
[۶۸۳] همدغه اثر ، ۲۳مخ.
[۶۸۴] همدغه اثر ، ۱۰۰مخ.
[۶۸۵] طالب، احمددین. دیوان احمد دین طالب: ترتیب لائق زاده لائق او محمد اقبال حیران،۱۳۹مخ.
[۶۸۶] همدغه اثر ، ۱۶۱مخ.
[۶۸۷] دیوان حافظ الپوری سره د شرحې د ابو حسین چندا خوري، مینګوره، اسلام بک سټور، ۶۸مخ.
[۶۸۸] حسین، دیوان حسین. (مرتّب: همېش خلیل)، پېښور، پبلک ارټ پریس پېښور، ۳۲۷،۱۹۵۸مخ.
[۶۸۹] خټک، خوشحال خان. سوات نامه سره د مقدّمې تحقیق او سمون د همېش خلیل، ۶۹،۷۰ مخونه.
[۶۹۰] همدغه اثر ، ۶۵مخ.
[۶۹۱] میاداد، اخون. د اخون میاداد دیوان، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، لاهور، اداره نشرالمعارف،۸۸مخ.
[۶۹۲] همدغه اثر ، ۹۵مخ.
[۶۹۳] همدغه اثر ، ۱۲۸مخ.
[۶۹۴] درویزه،اخون. مخزن سره د مقدّمې د سید تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۷مخ.
[۶۹۵] همدغه اثر ، ۲۰۲مخ.
[۶۹۶] طائر، محمد نواز. په برټش میوزیم لندن کښې یو نایاب پښتو دیوان دیوان اکبر، مشموله، میاشتنی پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۹، شماره: ۱،۲ (فروري، مارچ ۱۹۷۷)، ۶۴مخ.
[۶۹۷] طالب، احمددین. دیوان احمد دین طالب: ترتیب لائق زاده لائق او محمد اقبال حیران، ۱۴۰ مخ.
[۶۹۸] همدغه اثر ، ۱۷۷مخ.
[۶۹۹] همدغه اثر ، ۱۷۲مخ.
[۷۰۰] دوستي، دوست محمد خان. ګنجة‌الګوهري، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، سوات، ۱۸۳،۱۸۴ مخونه.
[۷۰۱] حسین، دیوان حسین. (مرتّب: همېش خلیل)، پېښور، پبلک ارټ پریس پېښور، ۱۹۵۸، ۴۲۶مخ.
[۷۰۲] دوستي، دوست محمد خان. ګنجة‌الګوهري، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، ۴۳مخ.
[۷۰۳] خټک، خوشحال خان. سوات نامه سره د مقدّمې تحقیق او سمون د همېش خلیل، ۴۷ مخ.
[۷۰۴] همدغه اثر ، ۴۹مخ.
[۷۰۵] همدغه اثر ، ۶۷مخ.
[۷۰۶] Sultan-i-Rome, Mughuls and Swat, Historicus, Karachi, Journal of Pakistan Historical Society Karachi, Vol. L, No. ٤, pp. ٤٤,٤٥.

[707]Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, ۲۰۰۹, p.۳۸

[708]کاکا خېل، سید محمدتقویم الحق. (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پېښور، پښتو اکېډمي، ک مخ.

[709] طائر، محمد نواز. په برټش میوزیم لندن کښې یو نایاب پښتو دیوان دیوان اکبر، مشموله، میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، جلد: ۹، شماره: ۱،۲ (فروري، مارچ ۱۹۷۷)، ۷۱ مخ.

[710] صواتے [سواتے]، عبدالعظیم. دیوان عبدالعظیم، پېښور، اداره اشاعت سرحد، ۱۹۵۹، ۱۵ مخ.

[711] همدغه اثر ، ۷۰ مخ.

[712] پاپین خېل، اخون قاسم. فوائدالشریعت، پېښور، رحمٰن گل پبلشرز، ۲۵مخ.

[713] خټک، خوشحال خان.سوات نامه سره د مقدّمې تحقیق او سمون د همېش خلیل، ٦٦مخ.

[714] طائر، محمد نواز. په برټش میوزیم لندن کښې یو نایاب پښتو دیوان دیوان اکبر، مشموله، میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، جلد: ۹، شماره: ۱،۲ (فروري، مارچ ۱۹۷۷)، ۵۵ مخ.

[715]حسین، دیوان حسین (مرتّب: همېش خلیل)، پېښور، پبلک ارټ پریس پېښور، ۷،۱۹۵۸ مخ.

[716]همدغه اثر ، ۴۵۷مخ.

[717] طالب، احمددین. دیوان احمد دین طالب: ترتیب لائق ذاده لائق او محمد اقبال حیران، ۴۳ مخ.

[718] میاداد، اخون. د اخون میاداد دیوان، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، لاهور، اداره نشرالمعارف،۱۰۴ مخ.

[719] طائر، محمد نواز. په برټش میوزیم لندن کښې یو نایاب پښتو دیوان دیوان اکبر، مشموله، میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، جلد: ۹، شماره: ۱،۲ (فروري، مارچ ۱۹۷۷)،۷ ۵ مخ.

[720] طالب، احمددین. دیوان احمد دین طالب: ترتیب لائق ذاده لائق او محمد اقبال حیران، ۳۲ مخ.

[721] همدغه اثر ، ۴۰ مخ.

[722] میاداد، اخون. د اخون میاداد دیوان، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، لاهور، اداره نشرالمعارف، ۷۹ مخ.

[723] همدغه اثر ، ۹۱مخ.

[724] همدغه اثر ، ۱۴۹مخ.

[725] اثر، قاضي عبدالحلیم. تېر هېر شاعران، پېښور، پښتو اکیډمي، ۱۹٦۳، ۳۴مخ.

[726]ستهانوي، عبدالجبار شاه.. کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، ۲۰۱۱، ۲۳۲ مخ.

[727]همدغه اثر، ۲۳۲ مخ.

[728]رحیم، رحیم شاه. غټه خزانه (غیر مطبوع)، ۴۹مخ.

[729]همدغه اثر، ۴۸،۴۹ مخونه.

[730] دمغار د سوات کبل تحصیل یو کلے دے

[731] گالوچ او کالا کلے د سوات د کبل تحصیل دوه کلي دي -

[732]رحیم، رحیم شاه. سید حسین، مقاله مشموله میاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي، جلد: ۱۸، شماره: ۸، (ستمبر ۱۹۸٦)، ۲۴مخ.

[733]حسین. دیوان حسین، مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸، ۱۰۴ مخ.

[٧٣٤] لباسي مینه یعني ظاهري مینه په کومه کښې چې د زړۀ مینه او اخلاص نۀ وي شامل
[٧٣٥]حسین. دیوان حسین، مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸، ۳۰۷مخ.
[٧٣٦]همدغه اثر، ۴۱۳مخ.
[٧٣٧]همدغه اثر ، ۵۲ مخ.
[٧٣٨]رحیم، رحیم شاه. سید حسین، مقاله مشموله میاشتینی پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي، جلد: ۱۸، شماره: ۸، (ستمبر ۱۹۸٦)، ۲۴مخ.
[٧٣٩] اثر، قاضي عبدالحلیم. تېر هېر شاعران، پېښور، پښتو اکیډمي، ۱۹٦۳، ۳۴،۳۵ مخونه.
[٧٤٠] رشتین، صدیق الله. پیاوړي شاعران، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۹۳، ۴۰مخ.
[٧٤١]همدغه اثر ، ۴۱،۴۲ مخونه.
[٧٤٢]همدغه اثر ، ۴۳مخ.
[٧٤٣]رشتین، صدیق الله. ادبي او تاریخي سمونې، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۹۲، ۸٦ مخ.
[٧٤٤] رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (غیر مطبوع)، ۵۰ مخ.
[٧٤٥]حسین، دیوان حسین. مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸، ۱۲۳مخ.
[٧٤٦]همدغه اثر ، ۲۱۰مخ.
[٧٤٧]همېش خلیل. (مرتّب)، (پس منظر) دیوان حسېن، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸، ط مخ.
[٧٤٨] همېش خلیل. (مرتّب)، (خاکه) دیوان حسېن، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸،هـ مخ.
[٧٤٩] رشتین، صدیق الله. پیاوړي شاعران، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۹۳، ۴۳مخ.
[٧٥٠]حبیبي، عبدالحی. پښتانه شعراء، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۵۹مخ.
[٧٥١] رحیم، رحیم شاه. سید حسین، مقاله مشموله میاشتینی پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي، جلد: ۱۸، شماره: ۸، (ستمبر ۱۹۸٦)، ۲۲مخ.
[٧٥٢]حسین. دیوان حسېن، مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸، ۱۹۴مخ.
[٧٥٣]رحیم، رحیم شاه. غټه خزانه (غیر مطبوع)، ۴۷مخ.
[٧٥٤] لټون
[٧٥٥]حسین. دیوان حسېن، مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پریس، ۱۹۵۸، ۳۱۴مخ.
[٧٥٦]همدغه اثر ، ۳٦۲مخ.
[٧٥٧]همدغه اثر ، ۳۵۵مخ.
[٧٥٨]همدغه اثر ، ۵۹ مخ.
همدغه اثر ، ۱۰۸مخ.
[٧٦٠]همدغه اثر ، ۱۵۰مخ.
[٧٦١]همدغه اثر ، ۲۰۵مخ.
[٧٦٢]همدغه اثر ، ۲۰۳مخ.
[٧٦٣]همدغه اثر ، ۳۳۹مخ.
[٧٦٤] رشتین، صدیق الله. پیاوړي شاعران، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۹۳، ۴۱مخ.

[٧٦٥]رحيم، رحيم شاه. سيد حسين، مقاله مشموله مياشتينۍ پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي، جلد: ١٨، شماره: ٨، (ستمبر ١٩٨٦)، ٢٣مخ.

[٧٦٦]همدغه اثر ، ٢٣مخ.

[٧٦٧]همدغه اثر ، ٢۴مخ.

[٧٦٨]Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ٣١ (No. ٣, ١٨٦٢), p. ٢٦٣.

[٧٦٩] د مدين زوړ نوم چوړړۍ و، کوم چې د سوات د رياست حکمران، مياګل عبدالودود د چوړړۍ پر ځای په مدين بدل کړ.

[٧٧٠]Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ٣١ (No. ٣, ١٨٦٢), p. ٢٦٣.

[٧٧١] حسين. ديوان حسين، مرتّبه همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پريس، ١٩۵٨، ۵٨مخ.

[٧٧٢]رحيم، رحيم شاه. سېد حسين، مقاله مشموله مياشتينۍ پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي، جلد: ١٨، شماره: ٨، (ستمبر ١٩٨٦)، ٢٣مخ.

[٧٧٣]ستهانوي، عبدالجبار شاه. کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، ٢٠١١، ١٣٣ مخ.

[٧٧٤]رحيم، رحيم شاه. غټه خزانه (غر مطبوع)، ۴٩مخ.

[٧٧۵]ستهانوي، عبدالجبار شاه. کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، ٢٠١١، ٢٣٣مخ.

[٧٧٦] اثر، قاضي عبدالحليم. تېر هېر شاعران، پېښور، پښتو اکيډمي، ١٩٦٣، ٣۵مخ.

[٧٧٧] رحيم، رحيم شاه. سيد حسين، مقاله مشموله مياشتينۍ پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي، جلد: ١٨، شماره: ٨، (ستمبر ١٩٨٦)، ٢۴مخ.

[٧٧٨] رحيم، رحيم شاه. د کانجو ميا کريم داد، مشموله، مياشتيزه پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ١٠، شماره: ۴، (مئي ١٩٧٨)، ٢٢مخ.

[٧٧٩]حبيبي، عبدالحی. پښتانه شعراء (اوله حصه)، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۵٨ مخ.

[٧٨٠]رحيم، رحيم شاه. غټه خزانه (ناچاپ)، ۴مخ.

[٧٨١] رحيم، رحيم شاه. د کانجو ميا کريم داد، مشموله، مياشتيزه پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ١٠، شماره: ۴، (مئي ١٩٧٨)، ٢٢مخ.

[٧٨٢]رحيم، رحيم شاه. غټه خزانه (ناچاپ)، ۴مخ.

[٧٨٣]همدغه اثر۴،۵ مخونه.

[٧٨۴]درويزه،اخون. مخزن سره د مقدّمې د سيد تقويم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي، ١٦۵مخ.

[٧٨۵] همدغه اثر، ١۵٨ مخ.

[٧٨٦]رحيم، رحيم شاه. غټه خزانه (ناچاپه)، ۵ مخ.

[٧٨٧]درويزه،اخون. مخزن سره د مقدّمې د سيّد تقويم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي، ١٦٢مخ.

[٧٨٨]کاکاخېل، سيد محمدتقويم الحق. (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درويزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي ، ١٩٦٩/ ١٩٨٧، عد مخ.

[۷۸۹] درویزه،اخون. مخزن سره د مقدّمې د سېّد تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱٦٦مخ.

[۷۹۰] رحیم، رحیم شاه. د سوات ورک شاعران (څلورم ټوک)،مشموله، میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۷، (اګست ۱۹۸۰)، ۳۹مخ.

[۷۹۱] رحیم، رحیم شاه. غټه خزانه (ناچاپ)، ۵ مخ.

[۷۹۲] رحیم، رحیم شاه. د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۰، شماره: ۴، (مئي ۱۹۷۸)، ۲۳مخ.

[۷۹۳] همدغه اثر، جلد: ۱۰، شماره: ۴، (مئي ۱۹۷۸)، ۲۵مخ.

[۷۹٤] رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (ناچاپ)، ٦مخ.

[۷۹۵] رحیم، رحیم شاه. د سوات ورک شاعران (پینځم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد:۱۲، شماره: ۹ (اکتوبر ۱۹۸۰)، ۴۴مخ.

[۷۹٦] رحیم، رحیم شاه. د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۰، شماره: ۴، (مئي ۱۹۷۸)، ۲٦مخ.

[۷۹۷] کاکاخېل، سید محمدتقویم الحق. (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پښتو اکېډمي، عب مخ.

[۷۹۸] همدغه اثر، عج مخ.

[۷۹۹] رحیم، رحیم شاه. د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۰، شماره: ۴، (مئي ۱۹۷۸)، ۲٦مخ.

[۸۰۰] کاکاخېل، سید محمدتقویم الحق. (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پښتو اکېډمي، عب مخ.

[۸۰۱] حبیبي، عبدالحی. پښتانه شعراء (اوله حصه)، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۵۸ مخ.

[۸۰۲] رحیم، رحیم شاه. د سوات ورک شاعران (څلورم ټوک)،مشموله، میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۷، (اګست ۱۹۸۰)، ۴۰مخ.

[۸۰۳] درویزه،اخون. مخزن سره د مقدّمې د سېّد تقویم الحق کاکا خېل، پښتو اکېډمي پېښور، ۱۹۴ مخ.

[۸۰٤] حبیبي، عبدالحی. پښتانه شعراء (اوله حصه)، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۵۸ مخ.

[۸۰۵] رحیم، رحیم شاه. غټه خزانه (ناچاپ)، ۵، ٦ مخونه.

[۸۰٦] همدغه اثر، ٦ مخ.

[۸۰۷] رحیم، رحیم شاه. د سوات ورک شاعران (څلورم ټوک)،مشموله، میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۷، (اګست ۱۹۸۰)، ۳۹مخ.

[۸۰۸] رحیم، رحیم شاه. د کانجو میا کریم داد، مشموله، میاشتیزه پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۰، شماره: ۴، (مئي ۱۹۷۸)، ۲۴،۲۵ مخونه.

[۸۰۹] حبیبي، عبدالحی. پښتانه شعراء (اوله حصه)، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۵۸ مخ.

[۸۱۰] کاکاخېل، سید محمد تقویم الحق. (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درویزه، پېښور، پښتو اکېډمي، عب مخ.

[۸۱۱] رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (ناچاپ)، ٦ مخ.

[۸۱۲] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸٦۲), p.۲۵۱.

[۸۱۳]ستهانوي، سيد عبدالجبّار شاه، کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، ۲۰۱۱، ص: ۲۳۳

[۸۱۴] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. ۳۱ (No. ۳, ۱۸۶۲), p.۲۵۱,۲۵۲

[۸۱۵]میایداد، اخون، داخون میایداد دیوان، سمونه او څېړنه بدرالحکیم حکیمزے، لاهور، اداره نشرالمعارف، ۱۰۵مخ.

[۸۱۶] دیوان حافظ الپورۍ سره د شرحې د ابو حسېن چندا خوري، مینګوره، اسلام بک سټور، ۳۱مخ.

[۸۱۷]رحیم، رحیم شاه. د سوات ورک شاعران، څلورم ټوک، مشموله میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي، جلد: ۱۲، شماره: ۷ (اګست: ۱۹۸۰)، ۴۰مخ)

[۸۱۸]رحیم، رحیم شاه. غټه خزانه، ۵۰ مخ.

[۸۱۹]رحیم، رحیم شاه. غټه خزانه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز، ۲۰۱۵،۲ ٦ مخ.

[۸۲۰] افضل رضا، پټ ستوري، ۴۹۲مخ.

[۸۲۱]رحیم شاه. د سوات ورک شاعران دویم ټوک، میاشتنۍ پښتو، جلد: ۱۲، شماره: ۵، (جون ۱۹۸۰)، ۳۰مخ)

[۸۲۲]Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ۲۰۰۱, pp.۲۲۷،۲۲۸

پینځم باب

په ریاستي دور کې د سوات پښتو ادب اوثقافت

(۱۹۱۵-۱۹۶۹)

د ټولنیز (سماجي) بدلون دور

کله چې سید عبدالجبار شاه په ۱۹۱۵م کې په باقاعده توګه د ریاست سوات بادشاه شو، نو له دې سره د سوات د ریاست بنیاد په رسمي توګه کېښودل شو او بیا میاګل عبدالودود په ۱۹۱۷م کې د سوات بادشاه غوره کړی شو او په ۱۹۴۹م کې هغه خپل ځوی میاګل جهانزېب ته اقتدار وسپاره او دغه رنګ تر ۱۹۶۹م پورې هغه د سوات والي پاتې شو، نو په دې دور کې د سوات په ټولنیز ژوند کې ډېر بدلون په نظر راځي. د سوات په تاریخ او په تېره د پښتو ژبې او ادب په تاریخ کې دا دور ډېرې ځانګړتیاوې لري. د میاګل عبدالودود او میاګل جهانزېب په دور کې چې په سوات کې کوم بدلون راغلی> د هغې په باره کې ډاکټر سلطان روم داسې لیکي:

> Both of them slowly and gradually altered the centuries old social organization and introduced drastic changes. Although autocrat, they evolved government machinenry and mechanism that not only controlled but also served the people; provided quick disposal of the disputes and cases; standard civic amenities like education, health care and communication system; and ensured peace, security and order. These changed the outlook behaviour and temperament of the people, and obliterated the tribal ingredients of the society.[۱]

ترجمه: دغو دواړو له پېړو راهیسي زوړ ټولنیز تنظیم په قلاره قلاره بدل کړ او غټ بدلونونه یې متعارف کړل. اگر چې دوی مطلق العنان وو خو بیا هم دوی حکومتي مشینري او طریقه کار وضع کړل، چې له هغې سره نه صرف خلک قابو شول، بلکې د خلکو خدمت هم وشو. د تنازعو فیصلې به زر تر سره کېدلې، خلکو ته بنیادي ټولنیز حقونه لکه د تعلیم، صحت او د مواصلاتو نظام ورکړل شو، د خلکو امن و امان او تحفظ یقیني کړی شو، دې خبرو د خلکو مزاج او رویه بدله کړه او د ټولنې قبایلي عناصر ختم شول.

د پښتو دور کې به ډېرې جگړې کېدې، خو د ریاست په دور کې دې حالاتو کې کافي بدلون راغی. دا بدلون د سوات د حکمرانانو په وجه راغی چا چې د سوات ټولنیز تنظیم او د خلکو رویې بدلې کړې.[۲] د پښتو د دور او د ریاستي دور موازنه چې کله وکړل شي، نو پته لگي چې د ریاستي دور له شروع کېدو سره د یوسفزو په وطن یو نوی دور شروع شو، د پښتو دور زاړه رواجونه، ډلې پرې او وېشونه ختم شول. له ریاستي دور نه وړاندې واریز یا گرځنده وېش و، له باقاعده حکومت سره توري وران وېش جوړ شو. د حکومت او د توري وران وېش فایدې دا وې چې خلک په ځای شول او له کډو گرځولو نه خلاص شول. د حکومت د وېرې له وجې نه قتلونه او شوکې ډاکې هم ختمې یا کمې شوې او امن و امان شو، اگر چې دغه وخت څه لیکلی قانون نه و، خو بیا هم څه نیمچه غونډې شریعت و، قاضیان ناست وو په هر تحصیل کې یې تحصیلداران، حاکمان کېنول. د یوې انې په درخواست به په دوه ورځو کې فیصلې کېدلې، هائي کورټ بادشاه یا والي صیب پخپله و. په تش درخواست به اپیل وشو او هغوی به زر فیصله وکړه. ټولې نه، خو زیاتره به په انصاف فیصلې کېدلې، ټولې فیصلې، ان د ښځو فیصلې به هم حکمرانانو په خپل طبعیته کولې، خو دغه به زیاتره د پښتو له رواج او شریعت سره برابرې وې.په یو وخت درې قسمه قانون چلېده، د پښتو جرگه او رواج و، شریعت او قاضیان وو، بلخوا حکمران او د هغه خپل طبعیت او مرضي وه.[۳]

د انگرېزانو حکومت او سوات

په ۱۹۱۵م کې د ریاست سوات له بنیاد اېښودو سره عبدالجبار شاه د ریاست بادشاه شو او په ۱۹۱۷م کې میاگل عبدالودود باچا شو، خو ریاست په صحیح معنو کې ترقي له هغه وخت نه شروع کړه، له کله نه چې دا ریاست انگرېزانو تسلیم کړ. کله چې د سنډاکۍ ملا د انگرېز حکومت خلاف د جهاد اعلان وکړ، نو د هغه وخت د سرحد انگرېز حکومت پر سوات تجارتي ځیزونه بند کړل. په دې باره کې تاج محمد زېب سر داسې وایي:

د سرحـــــد حکومــــــت بنـــــد د ســــــوات اولـــــس کـــــه
دې اولـــس تـــه یـــی غـــم پـــېښ هـــم یـــو پـــه لـــس کـــه
مالگــــــه تـــــوکی او هـــــــم نـــــور تمـــــــام اســـــــباب
ســـــوات تـــــه بنـــــد هـــــم هغـــــه دم شـــــو پـــــه شــــتاب[4]

د ۱۹۲۶م کال د می پر ۳مه نېټه چیف کمشنر سیدو شریف ته راغی او یو دربار یې ولګولو او میاګل عبدالودود یې په باقاعده توګه د سوات والي ومنلو.[5]

خدايي خدمتگار تحریک او سوات

ستر قام پرست لارښود عبدالغفار خان چې په باچا خان مشهور دی، هغه د پښتنو د اصلاح لپاره د انجمن اصلاح افاغنه[6] په نوم یو تنظیم جوړ کړ. د انجمن اصلاح الافاغنه په باره کې خلیق صیب داسې لیکي:

اتمـــــانزو کـــــې چـــــې جـــــوړ شـــــوی انجمـــــــن وه
او مقصــــــد یـــــې لـــــوی خـــــدمت د خپـــــل وطـــــن وه
هغـــــه هـــــم وه پـــــه دې کـــــال[20]کـــــې بنـــــا شـــــوی
د انگرېـــــــــز د پـــــــــاره دا وه بـــــــــلا شـــــــــوی
دا مرکـــــــــــــز وه د وطـــــــــــــن د حریـــــــــــــت
د پښـــــــتون قـــــــام ده بـــــــدل کـــــــړو ذهنیـــــــت
پـــــه صـــــوبه کـــــې ډېـــــر د دې مرکـــــز ښـــــاخونه
لکـــــه جـــــال وو خـــــواره شـــــوي پـــــه ســـــوونو
وه بـــــــاني د دې تحریـــــــک فخـــــــر افغـــــــان
ورسره ملگـــــــــري نـــــــــور وو مخلصـــــــــان
احمـــــــد شـــــــاه، عبداللـــــــه شـــــــاه، عبـــــــدالاکبر
ورسره محمـــــــــد اکـــــــــبر، اکـــــــــرم، جعفـــــــــر[7]

[20] خلیق صیب چې په ۱۹۲۱م کال کې د عدم تعاون د سر خط لاندې د کومو واقعاتو ذکر کوي هم په هغه واقعاتو کې د انجمن اصلاح افاغنه ذکر کوي.

او بیا وروسته یې په ۱۹۲۹ کال کې[8] د خدایي خدمتګار په نوم یو تحریک شروع کړ. له دې تحریک سره په پښتو ادب کې نوي رجحانات پیدا شول او پښتو ادب په دې دور کې ډېره وده هم وکړه. کله چې مونږ د سوات د ریاستي دور تاریخ ګورو، نو پته لګي چې په ریاستي دور کې په سوات کې دې تحریک ته په ښه سترګه نه دي کتل شوي، بلکې د دې تحریک باني هم په سرکاري تاریخ کې په ښو لفظونو نه دی یاد شوی، لکه زېب سر چې وايي:

د مـــــیر جعفــــــر او د صـــــادق قیصـــــې لاهېـــــرې نــــــه دي
خپــــل بــــدانجام تــــه فکــــر ولــــې دا غــــدار نــــه لــــري
چــــې د نفــــاق تخــــم کــــري د اتفــــاق پــــه مزکــــه
طمــــع د خــــیر دي خــــان صــــاحب عبــــدالغفار نــــه لــــري
زرده چــــې اومــــومي شکســــت د هندوســــتان فوځونــــه
هنــــدو طاقــــت د پښــــتنو د یــــو ګزارنــــه لــــري[9]

د باچا خان تحریک ته هم د سوات ریاستي حکمرانانو په ښه نظر نه دي کتلي او په سوات کې په یو دکان کې د "پښتون" رسالې په موندلو هغه دکاندار[21] مړ کړی هم وه[10] د "پښتون" رسالې په باره کې خلیق صیب داسې لیکي:

رســــــاله چــــــې میاشــــــتنۍ وه د پښــــــتون
د دې کــــال[22] نــــه شــــوه جــــاري پــــه ښــــه مضــــمون
چلــــــونکی د دې خــــــان عبــــــدالغفار وه
او خــــادم صــــاحب د دې دویــــم واکــــدار وه
دې خــــدمت د وطــــن اوکــــړو پــــه ښــــه شــــان
هېــــر بــــه نــــه کــــړي پښــــتانه دغــــه احســــان[11]

[21] د دې دکاندار نوم رېفول استاذ و. د ده په سوات کې د کتابونو اولنز دکان و. دز د ماسټر مظفر حسژن پلار و، ماسټر مظفر حسېن د ریاست سوات په دور کې یو کتاب هم لیکلی دی.

[22]خلیق صیب چې د کال ۱۹۲۸ د سر خط لاندې د کومو واقعاتو ذکر کوي په هغې کې د پښتون رسالې ذکر هم کوي.

د هغه وخت حکومت "پښتون" رساله تقسيمېدو ته هم نه پرېښوده، په خصوصي توګه د ډاکخانو مشرانو ته دا ويل شوي وو چې په ډاکخانه به دا رساله نه تقسيموئ او کله چې د حکومت له دې راز نه باچا خان خبر شو نو هغه ګاندهي ته وويل او هغه په خپل اخبار کې په دې خبره ليکل وکړل، نو بيا حکومت دا پابندي ختمه کړه. [١٢] د انجمن اصلاح افاغنه او خدايي خدمتګار تحريک او د سوات د رياست د حکمرانانو په پاليسيانو کې له نورو خبرو علاوه يوه شريکه خوبي دا وه چې دواړو د پښتو ژبې د ترقۍ لپاره کار کولو او همدغه وجه ده چې پښتو د سوات د دربار ژبه ګرځېدلې وه، په سوات کې به د پښتو کتابونه چاپ کېدل، د دې کتابونو په باره کې پوهاند صديق الله رشتين صيب د ميا ګل عبدالودود د خولې بيان کې ليکي چې:

> مونږ د سوات تاريخ او فتاوي ودوديه اول په اردو ليکلي وو خو خان عبدالغفار خان چې دلته راغلی و هغه ما ته وويل چې ښايي دغه کتابونه په پښتو نشر شي، نو بيا ما په پښتو هم خپاره کړل. وايي چې د سوات تاريخ اول تاج محمد زېب سر په اردو برابر کړی و بيا سيد عبدالغفور قاسمي په پښتو واړوه او هغه د مخه کتابونه هم ده په پښتو کړي دي.[١٣]

د سوات په تاريخونو کې چې کله هم د پښتو ژبې د دفتري کېدلو يا په سوات کې د پښتو کتابونو د چاپ خبره راغلې، نو د باچا خان څه ذکر پکې نشته. بله خبره دا ده چې د سوات په اړه ورومبی تاريخ سيد عبدالغفور قاسمي په پښتو کې ليکلی، چې په ١٩٣٩م کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې دا خبره نشته چې د دې نه اول تاج محمد خان زېب سر په اردو کې هم تاريخ ليکلی دی، البته له دې نه مخکې په ١٩٣٦م کې سيد عبدالغفور قاسمي د "هديه ودوديه" په نوم يو کتاب د سوات د تاريخ په باره کې ليکلی دی، د هغه کتاب په باره کې داسې ليکي:

> ما په دې وجوهاتو يو کتاب "هديه ودوديه" په اردو ژبه کې تاليف کړی دی، ليکن د عامو خاصو پښتنو ورونو د فايدې او د معلوموتو د پاره "تاريخ سوات" او د هغوی د اميرانو مختصر حالات متعلق مې دا کتاب په پښتو ژبه کې وليکه.

د عبدالغفور قاسمي دا کتاب" تاريخ سوات" چې په ١٩٣٩م کې چاپ شوی دی، په دې کې ځای پر ځای له تاج محمد خان زېب سر منظوم تاريخي واقعات هم درج دي. له دې نه علاوه تاج محمد خان زېب سر په دوه جلدو کې د سوات منظوم تاريخ په پښتو کې ليکلی، چې په ورومبي جلد ١٣٦٠هجري ليکل شوي او په دويم جلد ١٣٦١ هجري

بمطابق ۱۹۴۱ عیسوي لیکل شوي، خو په دې کتاب کې هم یو ځای دا نشته چې دا کتاب اول په اردو کې و، نو له دې نه پته لګي چې د دې کتابونو په پښتو کې په لیکلو کې د باچا خان څه لاس نه و او بله خبره دا ده چې که د باچا خان په خوله میاګل عبدالودود د تاج محمد خان زېب سر د اردو لیکلی تاریخ په پښتو کې ترجمه کولو، نو بیا د زېب سر په لیکل شوي تاریخ کې ولې باچا خان ته په ښه نظر نه دي کتل شوي.

له دې خبرو نه پته لګي د سوات په ریاست کې چې په هغه دور کې کوم ادب مخې ته راغلی دی په هغې کې د خدایي خدمتګار تحریک اثرات یا ذکر د نشت برابر دي. له دې حقیقت نه انکار نه شي کېدی، چې د دومره لوی تحریک اثر نه سوات څنګه محفوظ پاتې شو، خو تر کومه پورې چې د مطبوعه ادب تعلق دی، نو د دې تحریک ذکر پکې لکه چې ورانديې وویل شول د نشت برابر دی، کېدی شي ځینو خلکو د دې تحریک د اثر لاندې څه داسې لیکل کړي وي چې هغه د سوات د ریاست له پالیسیانو سره د سمون نه خوړلو په وجه په هغه وخت کې نه وي چاپ شوي، خو مونږ صرف د عبداللطیف شاهین په شاعرۍ کې د باچاخان (عبدالغفار خان) ستاینه وینو، لکه چې وایي:

پښتون پخوا خو داسې نه وه خدایه څه پرې اوشو
په سپینه ږیره ننګیالي فخر افغان اوژړل
بې پته تا خو هډو پت د پښتو او نه پالو
په دې لوی غم د پښتونخوا بلوچستان اوژړل[۱۴]

او دارنګې په خپل بل یو نظم "سرې نخښې" کې د فخر افغان یادونه داسې کوي:

فخر افغان پورې خندلي دي تا
دغه دې ډېر د سپکو کار کړی دی
په کارنومو باندې قایل یې نه شوې
د حقیقت نه دې انکار کړی دی
دښمن قایل دی په غیرت د هغه
د ده په توره یې اقرار کړی دی[۱۵]

او بیا ورانديې داسې وایي:

د دې وطن د جوړېدو د پاره
زمونږ پلرونو دې وهل خوړلي

تاســــو خــــو ناســــت وئ پــــه بنگلــــو دننــــه
مــــونږه جېلونــــه يــــو پــــه ســــل خــــوړلي
تاســــو پــــه کومــــه خولــــه خــــبرې کــــوئ
تاســــو کــــوم غشيــــ پــــه گوگــــل خــــوړلي[١٦]

د سوات د رياست په دور کې چې کوم کتابونه چاپ شوي، په هغو کې د اکثرو کتابونو تړون يا خو د والي سوات له نوم سره شوی او يا پکې د والي مدحې په څه نه څه قسم موجود دي، خو د عبداللطيف شاهين "شغلې" يو داسې کتاب دی چې په رياستي دور کې چاپ شوی، خو نه يې تړون د والي په نوم شوی او نه پکې د والي صفت شوی دی. په دې کتاب کې د شاهين صيب له پښتون نيشنلزم نه علاوه د ترقي پسند ادب نمونې په نظر راځي او د ځپلي ولس اواز پکې موجود دی. د خانۍ او د خانيزم خلاف خبرې پکې شوي دي، دا هغه موضوعات دي چې د رياستي دور په ادب کې کم مېلاويږي.

لکه چې وايي:

په "تش تور خان " نومې نظم کې په خان داسې طنز کوي:

چــــې ســــودا د کاســــيرې کــــولی نــــه شــــم
تــــش تــــور خــــان کــــه پــــه بــــازار راغلــــم نــــو څــــه[١٧]

او په بل ځای کې د خان د جبر او غصب يادونه داسې کوي:

تنــــگ شــــوم پــــه دنيــــا کــــې دا بــــه پــــاتې کــــړم ســــتا خــــان تــــه زه
نيــــت مــــې دی نــــن کــــړی چــــې درځمــــه ســــتا جهــــان تــــه زه[١٨]

او غريبان چې د مالدارو د کومو ظلمونو ښکار دي هغوی ته داسې اشاره کوي:

وينــــې څښــــې زمــــا پــــه غوښــــو کــــوي لــــوبې
زه غريــــب دې د مالــــدارو کرونــــده کــــړم[١٩]

او د دهقان د محنت او خوارۍ اعتراف په خپل يو نظم "دهقان" کې په دې لفظونو کوي:

آفــــرين ســــتا پــــه همــــت شــــه شاباشــــی ســــتا پــــه مړانــــه
د خپــــل قــــام خيــــال درسره دی لــــه تــــا زار شــــمه دهقانــــه[٢٠]

دا او داسې گڼ شمېر نور ترقي پسندانه موضوعات د شاهين صيب د شاعرۍ خاصه ده او دا قسمه خيالات او موضوعات مونږ د خدايي خدمتگار تحريک د اثر لاندې په تخليق شوي ادب کې وينو.

دلته دا خبره یاد ساتل پکار دي چې د پاکستان تر جوړېدو پورې، یعنې چې کله پورې د سوات د ریاست د حکمرانانو له برتانوي حکومت سره دا معاهده وه چې څوک هم د انګرېز خلاف وي نو د سوات په خاوره به ورته اجازت نه ورکول کېږي، نو خدايي خدمتګار خو د انګرېزانو خلاف وو نو ځکه د سوات له حکمرانانو سره یې تعلق ښه نه دی پاتې شوی، البته چې کله برتانوي تسلط ختم شو، نو بیا باچا خان او غني خان سوات ته راغلي، چې کله د ون یونټ خبره کېدله او په دغه سلسله کې باچا خان سوات ته راتلو، نو د مغربي پاکستان ګورنر امیر محمد خان په هغه وخت کې د سوات والي ته دا ویلي وو چې باچا خان چې سوات ته په دې سلسله کې درشي نو تاسو یې خیال وساتئ او ملګرتیا یې وکړئ.[23] غني خان د سوات د باچا میاګل عبدالودود د سوانح لیکلو اراده هم کړې وه او په دې سلسله کې یې د هغه انټرویوګانې هم کړې وې.[24] له دې نه پته ولګېده چې د پاکستان له جوړېدو نه مخکې د خدايي خدمتګار او د ریاست سوات د حکمرانانو تعلق ښه نه و او له ریاستي دور نه وروسته یې تعلق برابر و. دغه وجه هم کېدی شي چې د عبداللطیف شاهین په کتاب کې مونږ د باچا خان ستاینه وینو او د تاج محمد خان زېب سر په کتاب کې یې مونږ په بدو لفظونو یاد وینو.

سوات او متعلقات

میاګل عبدالودود د وخت په تېریدو سره د سوات ګېر چاپېر علاقې هم قبضه او په سوات کې یې شاملې کړې، نو له دې وجې نه هغه په سرکاري کاغذونو کې د ریاست نوم "ریاست سوات او متعلقات" ولیکه. دې ته یوسفزي ریاست هم ویل شوی دی، خو د سوات

---

[23] د باچا خان د ون یونټ په سلسله کې سوات ته د راتګ دا خبره ما ته ډاکټر سلطا روم په جهانزېب کالج کې د ۲۰۱٦م کال د دسمبر پر ۲۰ مه نبېته وکړه او دا یې وویل چې دا معلومات ماته د باچا صیب سوانح لیکونکي محمد اصف خان راکړي وو.

[24] دا خبره هم ډاکټر سلطان روم د اصف خان له خولې وکړه چې غني خان ما پورې خندا کوله چې زه درباري سوانح نګار یم، نو چې کله یې پخپله د باچا صیب د سوانح لپاره انټرویوګانې شروع کړې، نو د هغه وخت د جمعیت علما پاکستان (نوراني ګروپ) یو لیډر عبدالستار نیازي ورته پېغور ورکړ، چې په نورو پورې چې تا په کوم کار خندا کوله هغه کار دې پخپله شروع کړ، نو بیا هغه د دغه سوانح لیکلو نه قلار شو.

او متعلقات نوم د سوات په سرکاري او غیر سرکاري کاغذونو او کتابونو کې ډېر په نظر راځي دلته یې یو څو مثالونه وړاندې کوو:

پــــــه تفصـــــــیل دې شي ښــــــکاره ټـــــول اصـــــــلاحات
دا خـــــــــدمت دی هـــــــم د ســـــــوات متعلقـــــــات[21]

نـــــــه د ســـــــوات متعلقـــــــات د قـــــــوم محـــــــزون
څـــــه صـــــحیح حـــــالات مونـــــدې شي نـــــن پـــــرون[22]

د زېب سر په کتاب نوی سوات او شاه جهانزېب" جلد اول کې هم سوات او متعلقات ذکر شوي[23] او د دې کتاب په دویم جلد کې یې ذکر راغلی دی[24] او په افغاني دیوان زېب سر کې یې د سوات متعلقات په نوم یو پوره نظم هم شامل دی.[25]

پښتو ژبه،ادب او ریاست سوات

سوات هغه واحد ریاست و، چرته چې پښتو سرکاري ژبه وه. د ریاست د وخت یو لیکوال زېب سر لیکي چې د ریاست دفتري ژ به خپله مورنۍ پښتو ده، تمام دفتري او معاملاتي احکام په پښتو ژبه لیکلی شي، د مقدمو اندراج، عریضې، سټامپ او تمسکات وغیره ټول په پښتو کې لیکل کېږي. سید عبدالجبار شاه هم کوښښ کړی و، چې د هغو شاعرانو او لیکوالانو مالي مرسته وکړي کومو چې د هغه تعریفونه کول. په دې سلسله کې د شموزو محمود نومې یو شاعر د هغه قصیده لیکلې وه نو هغه ورته په شعر پسې د دوه څټې غلې برات مقرر کړی وه.[26]شاه عبدالودود په خپل دوران کې په ریاستي دفترونو کې د فارسي ژبې پر ځای پښتو ته رواج ورکړ او نور یې هم د پښتو ژبې د ترقۍ لپاره لارې چارې ولټولې. د تاریخ هندوستان او انوار سهیلي په پښتو ژبه کې ترجمې هم د ده په حکم ولیکل شوې او د ده په هدایاتو فتاویٰ ودودیه هم ولیکل شوه، چې یو جلد یې په معاملاتو او بل په عباداتو مشتمل دی. د سوات متعلقات تاریخونه په نظم او نثر کې لیکل شوي دي. شاه جهان زېب د پښتو ژبې ترقۍ طرف ته په خاص طور متوجه و او د قومي لیکوالو او ادیبانو قدر او عزت به یې کولو، د خپلې مورنۍ ژبې د دفتري کېدو فایدې دا شوې چې په عدالتونو کې د وکیلانو د پېش کېدو ضرورت نه و، هر چا به خپل مافي الضمیر ظاهر ویلی شو او خپله مقدمه به یې چلولی شوه او همدا وجه وه چې په سوات کې به مقدمو څه

پيچيده صورت نه اختيارولو.[۲۷] تاج محمد خان زېب سر دا حالات په نظم کې داسې بيانوي:

اول ژبـــــــه د فارســـــــــی هـــــــــم دفـــــــــتري وه
عـــــــامو خلقــــــو لــــــه هـــــم دا لويـــــه خـــــواري وه
اوس پښـــــــتو دفـــــــتري ژبـــــــه کـــــــړه ســـــــلطان
شـــــه د عـــــامو خلقـــــو دا مشــــکل اســـــان
پـــــه پښـــــتو تـــــاريخ تصـــــنيف هـــــم شـــــه د ســـــوات
شـــــه دې قـــــام وتـــــه معلـــــوم هـــــم خپـــــل حـــــالات

د پښـــــــــــتو د ادب دور د کـــــــــــمال دی
چـــــې ســـــلطان د پښـــــتنو دا نېـــــک خصـــــال دی[۲۸]

مياګل عبدالودود په خپل سوانح کې د مورنۍ ژبې پښتو په باره کې وايي:

له پښتو ژبې سره زما د دلچسپۍ مطلب دا نه دی چې زه ګني د نورو ژبو د اهميت او ترقۍ نه انکار کوم خو صرف دومره خبره ده چې پښتو زمونږ خپله مورنۍ او علاقائي ژبه ده نو بيا د پښتو سره مينه يو قدرتي امر دی. زه چې د سوات حکمران شوم نو بيا څه موده پس زه په دې نتيجې ورسېدم چې هرې علاقې او هر قام د پاره خپله ژبه خپلول ښه وي، خپلې ژبې او خپل تهذيب ته په سپک نظر کتل د پرېوتي غلام ذهن کار دی او له خپل قومي وقار او قومي غيرت سره دشمني کول دي نو ما د خپل رياست د فترې او عدالتي ژبه پښتو مقرره کړه، سرکاري فارمونه، اسټامونه، رجسټرونه، کتابونه دا هر څه مې پښتو کې چاپ کړل. دې کې شک نشته چې د پښتو ژبې خپلولو کې مونږ ته ډېرې اسانۍ او ډېرې فائدې حاصلې شوې. د دې نه علاوه ما څه کتابونه هم پښتو کې چاپ کړل، هغې زمانه کې د فيرنګي بادشاهي وه نو د پښتو خوارې تپوس چا کوه، ما زړه کې سوچ وکړ چې د پښتو نه د تعليم يافته پښتنو د بېزارۍ وجه هم دا ده چې يو خو پښتو د سرکارې سر پرستۍ نه محرومه ده بله دا چې د پښتو کتابونه او لټرېچر په داسې بدرنګه طريقه چاپ کېږي چه هېڅ دلکشي نه لري. هغې زمانې کې به اکثر هندوانو او سيکهانو دکاندارانو د تجارت دپاره په ډېر ناکاره کاغذ د پښتو کتابونه چاپ کول نو ماضروري اوګڼله چې پښتو کې يو څو ښکلي او معياري کتابونه چاپ کړم او

بيايې په خلقو مفت وېش کړم چې پښتو سره د خلقو د لچسي پيدا شي او ذهني فائده هم ترې حاصله شي -[۲۹]

بيا په دې سلسله کې چې کوم کتابونه چاپ شوي، په هغو کې قابل ذکر کتابونه دا لاندې دي:

انوار سهيلي

دا يو مشهور کتاب دی چې د دې پښتو ترجمه د باچا صيب په وينا وکړل شوه، بيا په ولايتي کاغذ په ښکلي خط او خايسته جلد بندۍ سره شايع شو. ددې کتاب په زرگونو جلدونه چاپ شوي وو.

تاريخ فرشته

دا د هندوستان مشهور تاريخ دی، دا هم په دوو ضخيمو جلدونو کې همدغسې په اعلٰی طريقه د زرگونو په تعداد په پښتو کې ترجمه شوی او چاپ شوی دی.

فتاویٰ ودوديه

د رياست سوات له طرف نه په پښتو ژبه کې دا ډېر مهم کتاب پېش شوی دی. دا کتاب ډېر کار امد مفيد او مقبول ثابت شوی دی، اوله حصه کې د اسلامي فقهې احکامات دي، دويمه حصه بې له قضا سره تعلق لري. دا کتابونه هم دغسې په اعلٰي طريقه چاپ شوي دي. دا کتاب هم په هغه کتابونو کې شامل دی کوم چې به مفت وېشل کېدل، فتاوه ودوديه حصه اول جلد دويم محمد اصف خان له پښتو نه اردو ته په ۱۹۶۰م کال کې ترجمه کړې ده.

ميزان الصرف

د طالبانو لپاره د گردانونو يو کتاب دی، دا هم د رياست سوات په دور کې چاپ شوی او په طالبانو به مفت تقسيمېده.

د دې کتابونو د چاپ او تقسيم په باره کې مياگل عبدالودود په خپل سوانح کې ليکلي، چې دا ټول کتابونه به له چاپ کولو نه وروسته خلکو ته مفت ورکول کېدل. هغه وړاندې وايي چې د تقسيم دا سلسله لا تر اوسه جاري ده. فتاويٰ پکې دوه زره جلدونه دويم

ځل چاپ شو. اکثر د حکمرانۍ مصروفيت داسې وي چې سړی پکې هر وخت ذهني مصروف وي بله دا چې ځينې نور وجوهات هم داسې وي چې سړی مجبور شي هغه څه چې يې زړه غواړي هغه هم نه شي کولی. بيا د وخت او د عمر تقاضې داسې هم پېښې شي چې له انسان سره د اختياره مجبور غوندې پاتي شي، ګنې له کتابونو سره زما ډېره مينه شته او زه غواړم چې د علم ادب او د خپلې ژبې زيات نه زيات خدمت مې کړی وی او اومې کړی، خو لکه څنګه چې ما وويل اکثر داسې هم وي، زما لپاره اوس دا احساس هم د شکر او د خوشحالۍ باعث دی چې د پښتو ژبې له خدمت نه بالکل محروم نه يم پاتې، د خپلې مورنۍ او علاقائي ژبې ترويج او ترقۍ کې د خدمت څه حصه خو مې اخستې ده.[۳۰]
مولانا عبدالقادر په خپل يو خط کې والي سوات ته ليکلي، چې تاسو د اوس نه د قامي تعليمي کمېشن د هغه رپورټ په سفارش د رياست سوات په حدودو کې دننه عملاً اقدام وکړئ په کوم کې چې کمېشن دا ويلي چې تر پينځم جماعت دې ذريعه تعليم په هره علاقه کې په مورنۍ ژبه کې وي، د دې لپاره دا ضروري ده چې تر پينځمه پورې دې د هر مضمون ژبه د اردو نه پښتو شي.[۳۱] په دغه خط کې مولانا عبدالقادر وړاندې ليکي چې دا افتخار الله تعالیٰ د سوات د رياست د چلونکي خاندان په برخه کې ليکلی و، چې پښتو په حيثيت د سرکاري ژبې هم په سوات کې ده. کابل چې ډېرې لوړې دعوې کوي او د پښتونستان ساندې وايي تش په توره دعوې کوي حقيقي امتياز خو د رياست سوات حق دی نه د کابليانو.[۳۲]

د رياست په شاعرانو کې د سيف الملوک صديقي انداغ کتاب د پېښور يونيورسټۍ د پښتو په نصاب کې شامل وه.[۳۳] سوات کې پښتو ژبې ته د دفتري ژبې د حيثيت مېلاوېدو او په دې ژبه کې د تاليف او تصنيف په باره کې زېب سر وايي:

پــــــــه غـــــــــرض د اســـــــــانۍ د هرافغـــــــــان
کـــــــړه پښـــــــتو دفـــــــتري ژبـــــــه دې ســـــــلطان
د دې قـــــــام د ترقـــــــۍ پـــــــه دې مطلـــــــب
د پښـــــــتو ترقـــــــي غـــــــواړي روز وشـــــــب
پـــــــه پښـــــــتو کـــــــې سلســـــــله هـــــــم د تصـــــــنيف
اوس شروع شـــــــوه پـــــــه دوران د شـــــــاه شريـــــــف
پـــــــه دې ملـــــــک کـــــــې هـــــــم فقـــــــط دې حکمـــــــران

د پښـــــــتو تصـــــــنيف تـــــــاليف اوکـــــــړه فرمـــــــان
د پښـــــــتو يـــــــو مســـــــتند نـــــــه وه کتـــــــاب
چـــــــې قـــــــومي تـــــــاريخ هـــــــم وي هغـــــــه حســـــــاب[٣٤]

تاج محمد خان زېب سر د قامونو ترقي او مورنۍ ژبه لازم او ملزوم ګڼي. هغه وايي حقيقي ترقي هله حاصلېږي چې د روح طاقت، دزړه د استقامت د ذهن او خيال د پاکيزګۍ او د فکر د صفايۍ سامان موجود وي، قوم خود کفيل، ژبه خپله، روايات خپل، عادتونه خصلتونه او ملکي دستور خپل وي. هغه دا هم ويلي چې دا د شرم ځای دی او خپل ځان او خپلې ژبې ته سپک کتل دي چې يو پښتون له بل پښتون سره په پښتو کې خبرې نه کوي، که له دې نه مطلب خپله پوهه، علم او لويي ظاهرول وي نو دا نه لويي ده او نه پوهه، بلکې ځان سپکول، قوم ورکول او قومي ژبې ته د حقارت په نظر کتل دي.که څوک ځان ته پښتون وايي نو خبرې دې په پښتو ژبه کوي، ليکل لوستل دې په پښتو کوي. زېب سر په پښتو ژبه په خط ليکلو هم تاکيد کوي، په دې اړه هغه وايي چې څوک پښتون وورته خط ليکي نو په پردو ژبو کې د خط د ليکلو ضرورت څۀ وي که د نورو قومونو ژبې په دي خيال زده کوي چې خپلې ژبې او ادب ته پرې ترقي ورکړي او د عام قوم د اصلاح او فايدې کار ترې واخلي نو دا خو يو مبارک او نېک کار دی، نه چې خپل قوم او خپلې ژبې ته پرې نقصان ورسوي او د نفرت او حقارت په نظر ورته وګوري. هغه وړاندې وايي چې انګرېزانو قريب قريب په نيمې دنيا حکومت حاصل کړی و، خو د هېڅ قوم ژبې او ادب ته يې په خپله ژبه او ادب اهميت ورنکړ، بلکې د نورو قومونو ادب او ژبې يې هم د خپلې ژبې غلام وساتلې او خپله ژبه يې دېره عزت منده او اوچته کړه، چې د ټولې دنيا قومونه ورته محتاج دي او که ديو ملک انګرېزي سياسي اقتدار ختم شي خو بيا هم د انګرېزۍ ژبې اقتدار باقي وي او قوم ورته د کافي حده پورې حاجت مند وي. زه په دعوې سره دا خبره ويلی شم که د پښتو پوهان پښتو ژبه اوچته کړي او د پښتو وسيع ترويج او ترقۍته مخه کړي نو پښتون قوم به ورسره هم سم دم اوچت شي او که د غير قومونو د ژبو محتاجي ورکه شي نو بيا به پښتون له زمانې د نوې فتحې، نوې خوشحالۍ او نوې ترقۍ نوی بشارت ورکړي. هغه د ټول قوم نه دا وعده اخلي او وايي چې راشئ مونږ دا وعده وکړو چې پښتو به لولو، پښتو به ليکو، د پښتو د ليکوالو به قدر او عزت کوو او له نورو ژبو سره به صرف دومره قدرې تلعق ساتو چې زمونږ د قوم د فائدې دپاره ورته څومره ضرورت وي يا ترې

د څه حده پوري قومي فايده حاصليږي. د هغه په خيال پوهه او مهذب قامونه بيشک د نورو قومونو په ژبو کې په ليکلي شوي علمونو هم ځان پوهه کوي خو صرف په دی غرض چې خپل قوم او خپلې ژبي ته فائده ورسوي.[۳۵] پښتو ژبې ته د سرکاري حيثيت ورکولو په باره کې تفصيلي ذکر په دريېم باب کې شوی دی.

د پښتو ژبې تدريس

د ۱۹۳۷م کال له جون مخکې دلته عدالتي او سرکاري ژبه فارسي وه، خو له کوم وخت نه چې دلته پښتو سرکاري ژبه شوه نو بيا هم تدريس په نورو ژبو کې کېده. د ميډيم آف انسټرکشن په باره کې ډاکټر سلطان روم داسې ليکي:

> The medium of instruction in educational institutions in the state, however, was not Pukhto but was the one taught in British India and later in Pakistan, as the educational institutions were affiliatied there and the curriculum was also the same as in the rest of the country. Neverthless, all Swatis educated in these institutions were fluent in reading and writing Pukhtu[۳۶]

ترجمه: بيا هم د رياست په تعليمي ادارو کې پښتو د درس و تدريس ژبه نه وه، خو هغه ژبه به وه کومه چې د برتانوي هند يا بيا وروسته د پاکستان وه، ځکه چې د تعليمي ادارو الحاق هلته شوی و او نصاب به هم هغه و کوم چې په نور ملک کې و، خو د دې باوجود ټول سواتيان چې په دې تعليمي ادارو کې به يې سبق ويلو هغوی به پښتو په رواني ويلی او ليکلی شوه. د سوات په رياست کې به په سکولونو کې له نورو مضامينو سره سره پښتو هم يو مضمون و، چې ښودلی به شه، په دې باره کې د هغه دور په يو کتاب کې داسې ليکل شوي دي:

> په سوات کې دوه پنځوس ابتدائي او څلور متوسطه مکتبونه او يو هائي سکول شته. د متوسطو مکتبونو نصاب يې تاريخ، جغرافيه، انشاء، ادب، علم الاشياء، حساب، عربي، فارسي، پښتو او انګريزي دي.[۳۷]

جهانزېب کالج په ۱۹۵۲م کې جوړ شوی او څه وخت وروسته پکې پښتو د يوولسم دولسم په سطحه دا ختياري مضمون په حيث ښودل کېده او داسې معلومېږي چې تر ۱۹۶۹م کال پورې پښتو ته په ډګري کلاسونو کې د ويلو اجازت نه و. د جهانزېب کالج د

ايلم رسالې د ۱۹٦۹م د دسمبر په ګڼه کې د پښتو برخې مدير په دې حواله په اداريه کې داسې ليکلي چې تر اوسه پورې په دې کالج کې پښتو د يو اختياري مضمون په حيث صرف د دولسم جماعته پورې د اخستو اجازت وه، د ډګرې په کلاسونو کې په دې پابندي وه.[۳۸]

صحافت

په دې دور کې چې مونږ په سوات کې د صحافت ارتقاء ته ګورو نو هېڅ قسمه اخبار په دې دور کې نه دی چاپ شوی، البته په دې دور کې يو څو رسالې چاپ شوي، چې د هغو تفصيل داسې دی:

ايلم رساله

په باقاعده توګه چې په سوات کې وړومبۍ کومه رساله په لاس راځي هغه د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله "ايلم" ده ـ دا رساله په ۱۹۵۸م کال کې شروع شوې ده[۳۹] او تر دې دمه جاري ده.

خانداني منصوبه بندي رساله

په سوات کې په ۱۹٦٦کې د فيملي پلاننګ ډيپارټمنټ نه به د صحت د معلوماتو متعلق يوه رساله چاپ کېدله، د دې ايډيټر ګل نواب خان و.[٤٠]

جائزه رياست سوات

والي سوات د سوات د رياست د ترقۍ نه د عوامو د خبرولو لپاره په ۱۹٦۷ کال کې د سوات نه يوه رساله د جائزه رياست سوات په نوم شروع کړې وه. د دې رسالې وړومبۍ ګڼه په اردو ژبه کې چاپ ده، په ټائټل مخ يې ورله "رياست سوات تاريخي و ترقياتي جائزه" ليکلي دي او دا د دفتر اطلاعات رياست سوات سيدو شريف له اړخه چاپ شوې ده. د دې رسالې په بېک ټائټل يې پهلي اشاعت جون ۱۹٦۷ليکلی دی. د دې رسالې په باره کې ويلی شي چې دا به په اردو او پښتو دواړو ژبو کې چاپ کېدله.[٤۱]

سوات ډائجسټ

په ذاتي توګه د سوات په رياستي دور کې د صحافت شروع فضل خالق ماډرن کړې وه. هغه په ۱۹٦۸م کال کې د سوات نه د سوات ډائجسټ په نوم يوه مياشتيزه او معياري رساله ويستله.[٤٢] دا رساله به په اردو ژبه کې چاپ کېدله او وايي چې د مالي مشکلاتو په وجه دا بيا بنده کړی شوه. والي سوات د هېڅ قسمه رسالې يا اخبار اجازت نه ورکولو خو د دې رسالې په لار کې يې هېڅ قسمه رکاوټ نه و پيداکړی، بعضې خلق دا وايي چې د دې رسالې اخراجات به والي سوات برداشت کول او دا يې د خپلو خاصو مقاصدو دپاره چاپ کوله. په دې رساله کې به ادبي او تاريخي مضامين هم چاپ کېدل.[٤٣]

ادبي اصناف

د سوات د رياستي دور په پښتو ادب کې چې کوم ادبي صنفونه موندل کېږي، هغه دا دي:

چاربيته

چار بيته د ولسي ادب يو مقبول صنف و. دې صنف ډېره ترقي کړې وه، خو له بدقسمتۍ نه چار بيتي شاعران اکثر نالوستي وو نو ځکه د هغوی دا قيمتي ملغلرې سمبال شوې نه دي. د دغه وخت د يو چاربيتي شاعر سيد عثمان طالب[٢٥] او د هغه وخت د چاربېتو په باره کې رحيم شاه رحيم ليکي چې سيد عثمان طالب په داسې ماحول کې سترګې غړولې وې چې په سوات کې هر طرف ته د عوامي چاربيتي شاعرانو د مقابلو او معرکو بازار ګرم و. د سيد عثمان طالب پر شاعرۍ هم د چاربيتي شاعرانو اثرات پرېوتي

[٢٥] سيد عثمان طالب د سوات په ګدا کوټ نومې کلي کې په ۱۸۹۰م کې پېدا شوی و. دی د ګدا کوټ بابا نمسی وه څوک چې له اصله سيد و او د ببړې خوشاب نه ګدا کوټ ته په ميشته راغلی و. (رحيم، رحيم شاه، د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله مياشتينۍ پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (۱۹۸۱جنوري)، ۴۹مخ). سيد عثمان طالب په ۱۹٦۲ م کال کې د دوه اويا کالو په عمر کې وفات شوی دی. قبر ئې په مينګوره کې دی. (رحيم، رحيم شاه، د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله مياشتينۍ پښتو، پېښور، پښتو اکيډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (۱۹۸۱جنوري)، ۵۰مخ) د ده د ديوان د قلمي نسخې په باره کې حنيف خليل ليکي چې په دې کې درې سوه او پنځوس مخونه دي او دا په ۱۹۱۴م کال کې ليکل شوې ده.(اے کيټلاګ اف پشتو مينوسکرپټس، ۹۸مخ)

وو، دغه وجه وه چې که يو خوا سيد عثمان طالب د کلاسيکي شاعرانو په تتبع کې د شاعرۍ بنيادي صنف خپل کړی و، نو بل اړخ ته يې د چاربېتې په ميدان کې نه صرف پوره کار کړی و، بلکې په دغو مقابلو کې يې عملي حصه هم اخستې وه. د دې قسم مقابلو په لړ کې هغه د خپل وخت شاعرانو ته ځنگه پتون ټېوي:

که شـــاعر يـــې مخـــامخ شـــه پـــه ميـــدان کـــې
ســـــيد عـــــثمان طالـــــب دې پېـــــژني منــــاف[44]

د عبداللطيف شاهين په کتاب شغلې کې هم چاربيتې شته[45] او له دې نه علاوه په سوات کې د نورو ډېرو ليکوالانو چاربېتې هم موندلی شي، خو اکثر ناچاپ دي.

غزل

لکه ځنگه چې په ټوله پښتونخوا کې په پښتو ادب کې غزل مقبول او مشهور دی دغه رنگ د سوات په رياستي ادب کې هم غزل د شاعرۍ يو مقبول صنف پاتې شوی دی، په غزل کې مختلف موضوعات ځای کړی شوي دی، قاضي عبداللطيف گالوچي د خپل تفسير "تفسير تيسير" د دويم جلد په دربيم مخ دا لانديني حمديه "غزل" ليکلی دی:

اللـــــه پـــــاک زمـــــونږ رحـــــيم او هـــــم رحـــــمان دی
د ده لــــوی قـــــدرت تـــــه کــــل مخلــــوق حيــــران دی
دعـــــدم نـــــه يـــــی کـــــل اشـــــياء پيـــــدا کــــړه
يـــــه تســـــبيح سره يـــــی هـــــر يـــــو شـــــی گويـــــان دی
دا مخلـــوق چـــې يـــی پـــه خپـــل قـــدرت پيـــدا کـــه
معـــــزز يـــــې پـــــه دا واړو کـــــې انســـــان دی
لکـــــه فـــــرش يـــــې ښـــــکته زمکـــــه غـــــوړولې
بنـــا کـــړی يـــې پـــرې پـــاس چـــت د اســـمان دی
لـــوی يـــې ذات لـــوی يـــې حکمـــت لـــوی يـــې قـــدرت دی
لا يعــــــد لا يحصٰي ــــــ د ده لــــــوی شــــــان دی
ورتـــــه زمکـــــه ده پرتـــــه پـــــه ډېـــــر خشـــــوع
پـــاس اســـمان يـــې پـــه فرمـــان کـــې سرگـــردان دی
دا عظمـــــت او دا جـــــلال د ده پـــــټ نـــــه دی
لکـــه نمـــر ســـپوږ مـــۍ هـــر چـــا ورتـــه عيـــان دی

چـــــې زمـــــونږه اسره نشـــــته بـــــې لـــــه دنـــــه
دم پـــــه دم یـــــی قـــــاضي ځکـــــه ثنـــــا خـــــوان دی
شـــــکر شـــــکر چـــــې یـــــې مـــــونږ تـــــه رالېږلـــــی
پـــــاک حبیـــــب خپـــــل محمـــــد اخـــــر زمـــــان دی
بیـــــا یـــــې امـــــر پـــــه صـــــلٰوة دی راتـــــه کـــــړی
راشـــــه او گـــــوره نـــــازل پـــــه دې قـــــران دی[٤٦]

د غزل صنف د سوات د ادب په دې دور کې ډېر زیات په نظر راځي. کله چې مونږ د دې ادبي صنف موازنه له وړومبي دور سره کوو، نو په دې دور کې پکې نوې نوې تجربې هم په نظر راځي.

حمد

حمد هم د سوات د دې دور په ادبي اصنافو کې یو اهم صنف دی. په ډېرو کتابونو کې حمد موندلی شي. یو حمد دلته وړاندې کوو:

حمـــــد وایمـــــه د هغـــــه پـــــاک احـــــد
چـــــې صـــــمد دی لم یلـــــد ولم یولـــــد
کـــــل اشـــــیاء یـــــې پـــــه تســـــبیح سره گویـــــا دي
کـــــه ســـــفلي کـــــه علـــــوي څـــــوک پـــــه ســـــما دی
ثنـــــا خـــــوان یـــــې دي ملـــــک څـــــوک پـــــه رکـــــوع
څـــــوک پراتـــــه دي پـــــه ســـــجود پـــــه ډېـــــر خشـــــوع
بعضيـــــ وایـــــي د ده ذکـــــر پـــــه قیـــــام
غفلـــــت نـــــه کـــــوي پـــــه ذکـــــر باالـــــدوام
اســـــمانونه یـــــې پیـــــدا کـــــړه پـــــه قـــــدرت
عـــــرش لـــــه یـــــې ورکـــــړه پـــــه دا واړو کـــــې عظمـــــت
خرنـــــگ مزکـــــه یـــــې پیـــــدا پـــــه ډېـــــر زینـــــت کـــــړه
څـــــه لمـــــده او څـــــه یـــــې وچـــــه پـــــه حکمـــــت کـــــړه
ابـــــه یـــــې کـــــړه د حیوانـــــاتو بعضـــــو کـــــور
بعضيـــــ کانـــــدي پـــــه وچـــــو بـــــه زوږ او شـــــور

کلـــــه کــــــړي پیـــــدا بهــــــار کلــــــه خـــــزان
اوړی ژمـــــــــــی راولي پـــــــه خپــــــل خپـــــل ان
حـــــیراني ده د ده داســـــــې لـــــــوی قـــــدرت تـــــه
پـــــه هـــــر کـــــار کـــــې د ده داســـــې لـــویی طاقـــت تـــه
کـــــه هـــــر څـــــو قلـــــم دوات کاتـــــب پـــــه لاس کـــــا
کلــــه ځـــــان بـــــه پـــــه ثنـــــا د ده کـــــې پـــــاس کـــــا
بلکـــــــې فیــــــل بـــــــه وي هــــــــر دم الي الا بـــــــد
کـــــه هـــــر څـــــو وایـــــي ثنـــــا د پـــــاک صـــــمد
نـــــو بایـــــده دي چـــــې اوس وایـــــو مـــــونږ درود
پـــــه هغـــــه ذات چـــــې مخلـــــوق کـــــې دی مســـــعود[٤٧]

له دې نه علاوه نور هم په ډېرو کتابونو کې د حمد نمونې موندل کېږي.

نعت

د نعت روایت هم د سوات په پښتو ادب کې موجود دی. دلته د نمونې لپاره دا یو نعت وړاندې کوو:

محمـــــــد دی هــــــم احمـــــــد دی هــــــم محمــــــود دی
پــــه قــــران کښـــــی ډېــــر ســــتائېلی پــــاک معبـــود دی
مـــــولٰی ده وتـــــه خطـــــاب کـــــه پـــــه لـــــولاک
لـــه ډېـــر حـــب نـــه یـــې کـــه دی پـــاس پـــه افـــلاک
خـــدای خپلـــه یـــې د ده پـــه مـــخ ظـــاهر کـــړه
مرتبـــــه د ده یـــــې خلقـــــو تـــــه ظـــــاهر کـــــړه
عاشـــــقان یـــــې د دیـــــدن د ده نبیـــــان کـــــړه
غلامـــــان ئـــــی د دیـــــدن د ده ولیـــــان کـــــړه
ورلــــه یــــې ورکــــړه لــــوی مقــــام د شــــفاعت
گنهگـــــار چـــــې خلاصـــــوي بـــــه پـــــه قیامـــــت
پـــــه نامـــــه د ده یـــــې کـــــړه حـــــوض کـــــوثر
چـــــې ســـــېراب پـــــرې مومنـــــان کـــــه پـــــه محشر
درود دې وي پـــــــــــه ال پـــــــــــه اصـــــــــــحابانو

ورپســــــــــې دې وي پــــــــه ټولــــــــو تابعــــــــانو
پــــــــيروي د دې نېکــــــــانو ربــــــــه راکــــــــړه
لــــــــه زوالــــــــه د ايمــــــــان پــــــــه امــــــــان مــــــــاکړه
تــــــــو نبــــــــه نــــــــه لــــــــرم مــــــــرگ راغــــــــی عنقريــــــــب
شــــــــفاعت د پــــــــاک حضرــــــــت مــــــــې کــــــــړه نصــــــــيب[٤٨]

د سوات د پښتو ادب په دې دور کې په ډېرو مطبوعه کتابونو کې نعتونه مونډلی شي، په دې دور کې يو بل چاپ کتاب د جنت حوره کې هم ډېر نعتونه راغلي دي.[٤٩]

مثنوي

په تفسير تيسير کې ځای پر ځای د مثنوي تر سرخط لاندې اشعار مونډل کېږي، لکه دا شعرونه:

چــــــې پــــــه زړه يــــــې وي يــــــوه پــــــه خولــــــه يــــــې بلــــــه
منــــــافق دی پــــــه کتــــــاب سره ای دلــــــه
کــــــه پــــــه ژبــــــه کــــــه اقــــــرار پــــــه زړه منکــــــر وي
خــــــدای پــــــوهيږي ولــــــې شرع تــــــه کــــــافر وي
کــــــه انکــــــار کــــــه هــــــم پــــــه زړه هــــــم پــــــه زبــــــان
دی کــــــافر دی راشــــــه اوگــــــوره قــــــران
چــــــې پــــــه زړه کــــــې وي عاشــــــق د خــــــدای رســــــول
هــــــم پــــــه ژبــــــه يــــــې کــــــا کــــــل احکــــــام قبــــــول
دی مــــــومن دی مســــــتحق د جنتونــــــو
پــــــه امــــــان بــــــه يــــــې کــــــړه مــــــولٰي د زخمتونــــــو
ربــــــه خــــــتم مــــــې پــــــه خــــــير او پــــــه ايمــــــان کــــــا
لــــــه غارتــــــه د شــــــيطان نــــــه مــــــې پــــــه امــــــان کــــــا[٥٠]

د مثنوي صنف اگرچې په دې دور کې دومره عام نه دی، خو بيا يې هم نمونې په لاس راځي:

رباعي

د دې دور په ادبي اصنافو کې رباعي هم يو مهم صنف دی. د نمونې لپاره دا لاندينۍ دوه رباعيانې وړاندې کولی شي:

ماتــــــه کړلــــــه مـــــــې بېـــــــړۍ د مســــــکينانو
چـــــــې ور نشيــــــــــ دا پــــــه لاس د غاصـــــــبانو
مـــــات اســــباب چـــې وي پـــه لاس کـــــې د مالــــک
ډېـــــــر بهــــــــتر دی د قبضــــــــې د ظالمــــــــانو
بعضيـــــــــ کـــــار د دښــــــمنۍ وي پــــــه ظــــــاهر
ډېـــــر خفگـــــان تــــرې عـــــار ضـــــيرې پــــه خــــاطر
پـــــه حکمــــــت کــــــې د قـــــدير هغــــــه فائــــــده وي
نېـــــک عـــــوض تـــــه دې مـــــومن اوسي نـــــاظر[۵۱]

په تفسير تېسير کې دا قسمه رباعيانې ډېرې ورکړل شوي دي. د دې ټولو رباعيانو موضوعات مذهبي او ديني دي.

مرثيه

د رياستي دور په پښتو ادب کې مرثېې هم شته چې ځينې مرثيې پکې ډېرې زياتې مشهورې شوي دي، لکه د سيف الملوک صديقي دا غزل نما مرثيه ډېره مشهوره ده:

زه انتظــــــــــار کومــــــــه ســــــــــتا د ســـــــــترگو
ولې پنــــــاه شـــــوې تـــــــه زمــــــا د ســـــــترگو
چــــــې پـــــه گلونــــــو د دنيــــــا کــــــړم نظــــــر
مثــــــال مــــــــې نشـــــــته د اشــــــنا د ســـــترگو
کـــــه پـــــه ســــلگو يمــــه يــــواځې نـــــه يـــــم
اوښـــــــکې بهيــــــــږي د هــــــر چــــــا د ســـــترگو

خـــــومره ښائســــت چـــې ســـــتا پـــه ســـتوگو کـــــې وه
نشـــــــــته نـــــــــرگس او د لالا د ســــــــــترگو
هــــــر چاتــــــه گورمــــــه دنيــــــا لټــــــوم
نشـــــــته هغــــــه چرتــــــه خنــــــدا د ســـــترگو

صـــــديقي خـــــوښ دی پــــه خلــــوت د دنيــــا
چرتــــه بــــه پــــټ شي د دنيــــا د ســــترگو[52]

دا مرثيه سيف الملوک صديقي د خپل يو دوست محمد کرم په مرگ ويلې وه. فيضان[26] سوات د محمد کرم په مرگ دا شعر ويلی دی :

لاړ محمــــد کــــرم د گلــــو لختــــه د عقبٰــــي پــــه لــــور
نشــــته نازېــــدل خلقــــه پــــه دې دنيــــا فــــاني بانــــدې[53]

شېرمحمد مينوش د سيف الملوک صديقي د مرثيو په باره کې ليکي چې د صديقي ټول کلام د وفادارۍ نتيجه ده نو ځکه يوه مرثيه ده. که چرې دا د چا د حق گزارۍ نتيجه وې نو دا به د قصيدو مجموعه وه خو دا د يو محبت يادگار دی چې د اشنا مينه پرې ماتوي.[54] تاج محمد خان زېب سر هم د خپل ځوانيمرگ ځوی محمد شريف په غم کې مرثيې ليکلي دي. د يو ې مرثيي څو شعرونه دا دي:

بيــــا نــــازل شــــوی پــــه چمــــن د غــــم خــــزان دی زمــــا
بيــــا هــــم پــــه کــــور بانــــدې نــــازل د غــــم طوفــــان دی زمــــا
ســــترگې زمــــا چــــې د وصــــال پــــه شــــب کــــې بنــــدې شــــولې
څــــه عجيبــــه ده چــــې اوس ســــتاليده ارمــــان دی زمــــا
رحمانــــه اوس بــــه پــــه کــــوم ځــــای کــــې اقامــــت نيســــمه

---

[26] فيضان په ۱۹۲٦ کې په عالم گنج کې پيدا شوی و. د دخ خپل نوم فضل الرحمان و، د پلار نوم يې عبدالرّحمان و او د نيکه نوم يې شيخ حبيب الله و. په قوم ټکريا خېل و. د پينځلسو کالو په عمر کې ئې د نعتونو وړومبی کتاب "نوبهار مدينه" ليکلی و. په مردان (جمال گړهی) او شامنصور کې يې زدکړې کړې وې، په نوښار (چوکي درب) کې به د شاه افضل استاذ په جماعت کې اوسېده او د خوشنويسۍ فن يې د هغه نه زده کولو. په رياستي دور کې والي سوات مرزا واخسته، څه وخت وروسته د ځينو خلکو په سازش دی له نوکرۍ نه وويستی شو او په ۱۹۵۰م کال کې پېښور ته لاړ شه. په پېښور کې له راحت زاخيلي سره دېره شو. په دغه وخت کې د جهاد او افغان اخبارونو کاتب خاص مقرر شو. څه وخت وروستهٔ چې کله والي صبب تحقيقات وکړ، نو په ۱۹۵۱ کې يې دی دوباره سوات ته راوسته او والي صيب په خپل دفتر کې مرزا ولگولو. د خادم محمد اکبر او بادشاه گل نيازي په مشوره يې فېضان تخلّص خوښ کړ. له دې نه وړاندې د دهٔ تخلّص طالب و، بې شماره کتابونه يې کتابت کړي او په يو شمېر کتابونو ئې مقدّمې ليکلي دي.(دا معلومات د فيضان د مشر ځوی شمس الاقبال شمس نه تر لاسه شو)

ښـــابښ هغـــه پريکـــړی شـــه هلتـــه کـــې مکـــان دی زمـــا[55]

د والي سوات کشر ورور مياګل فضل قادر شاه روم عين په ځوانۍ کې په اسلاميه کالج کې د سبق دوران کې له دې فانې دنيا رخصت شو. د هغه مرثيه زېب سر ليکلې ده، يو څو شعرونه يې دا دي:

دويـــــــم ځـــــــوی د ســـــــلطان وه شـــــــاه روم
چـــــې ســـــفرله دنيـــــا کـــــړی دی مرحـــــوم
شـــــهزاده فضـــــل قـــــادر شـــــاه روم نـــــوم
دغـــــه نـــــوم د ده هـــــر چاتـــــه وه معلـــــوم
د ده عمـــــر هرګـــــز اونـــــه کـــــړه وفـــــاهم
چـــــا وفـــــا مونـــــدلې نـــــه ده پـــــه دنيـــــا هـــــم
وولـــــس کالـــــه د ده عمـــــر مختصرـــــوه
لا طالـــــب دی د کـــــالج د پېښـــــور وه
بيـــــا هـــــم دی پـــــه پېښـــــور کـــــې شـــــه وفـــــات
څـــــه فـــــاني دی د فـــــانۍ د نيـــــا حيـــــات
د جمعـــــې شـــــپه وه د بزرګـــــې مياشـــــت اولـــــه
ديـــــارلس ســـــوه څلوېښـــــت ســـــن د هجـــــر دلـــــه
لـــــه دنيـــــا چـــــې دې ســـــفير وکـــــه ســـــفر
څـــــه بـــــاور دی پـــــه دې عمـــــر مختصرـــــ[56]

د سوات د پښتو ادب په هر دور کې د مرثيو روايت موندل کېږي، په چاپ ادب کې په دې دور کې هم ډېرې مرثيې موجود دي.

داستان

د سوات د رياستي دور په پښتو ادب کې د داستان ګويۍ نمونې هم شته. مولوي مختيار الدين[27] د فلېل خان او نسيم جان په نوم يوه قيصه ليکلې ده. د دې قيصې په باره

[27] مولوي مختيارالدّين د نمر خاته طرف ته د کوکارۍ په دره کې په دنګرام نوي کلي کې په ١٩٠٤ کال کې زېږېدلی و.[27] مختيار الدّين په ١٣٥٩ هـ (١٩۴٠ء) " د فلېل خان او نسيم جان" په نوم د پښتو يو منظوم روماني داستان ليکلی و. دا د ښاپېرو، ديوانو او شهزادګانو يوه ډېره خوندوره قيصه وه. دا قيصه په ٢٥٦ مخونو مشتمله وه او په قلمي شکل

کې رحیم شاه رحیم لیکي چې مختیار الدین په ۱۳۵۹هـ کې د" فلېل خان او نسیم جان" په نوم د پښتو یو منظوم روماني داستان لیکلی دی. دا د خاپېرو، دیوانو او شهزاد گانو یوه ډېره خوندوره او ارتښتک قیصه ده. دا قیصه په ۲۵٦ صفحاتو مشتمله ده او لاتر اوسه پورې په قلمي شکل کې په مینگوره کې د مختیار الدین د یو ځوی ښاغلي صلاح الدین[۲۸] سره ده. د دې قیصې په اخر کې مصنف د خپل کور کلي او د قیصې د تصیف په اړه دا رنگ اظهار کړی دی:

کې په مینگوره کې د هغه د ځوی صلاح الدّین سره وه [۲۷] خو بیا دغه قلمي نسخه د صلاح الدّین دلې په کور کې سوځولې شوې وه.[۲۷] د دې قیصې یو نقل رحیم شاه رحیم حاصل کړی و[۲۷] د قیصې په اخر کې مصنّف د خپل کور کلي او د قیصې د تصنیف په اړه داسې وایي:

یویشـــــــــتمه د روژې وه پـــــــه ښــــــــهٔ شـــــــان
خـــــتم شــــوه قیصــــه پــــه فضـــــل د منـــــان
قیصـــــه خلاصــــه د فلېـــــل د نســــیم جــــان شــــوه
راوي ډېـــــر پـــــــه مینـــــــه کـــــــړے دی بیــــــان
دا قیصـــــــــه مـــــــــې اوربـــــــدلې د اســــــــتاذ وه
څـــه لیـــــدلې پـــــه کتـــــاب مـــــې وه عیـــــان
پـــه یـــو مـــزي مـــې ســـفته کـــړه دې کتـــاب کښـــې
کـــم و زیـــات بـــه پکښـــې وي یمـــه انســـان
کـــه څـــوک کلـــی مـــې پوښـــتي اصـــلي دنگـــرام دی
یـــــم حـــــالاً پـــــه مینگـــــوره درخشـــــان
تېـــره ســـو یـــو کـــم شـــپېته ســـن هجـــري وه
خـــلاص داســـتان شـــهٔ د فلېـــل د نســـیم جـــان
مخـــره نـــوم مختیـــار الـــدّین زمـــا یـــادیږي
پـــلار مـــې ابښـــی پـــه طفـــلي کښـــې خـــوش الحـــان

(رحیم، رحیم شاه، د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله میاشتینی پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۲ مخ)

[۲۸] صلاح الدّین، محمد،(تاریخ پیدایش: ۱-۴-۱۹۴٦،حاجي بابا، مینگوره، د مولوي مختیار الدّین ځوی دی. له پرائمري سکول نه ریټائرډ استاد دی. مینگوره قلندر مارکیټ د صلاح الدّین د جم سټون دکان) انټرویو: ۲۹ جنوري ۲۰۱۵ . دی وایي چې دغه قلمي نسخه د هغه ښځې هغه وخت سوزولې ده کله چې په کور ښې د اور بلولو لپاره وچ لرگي نه وو . هغې شنو لرگو ته په اسانۍ سره د اور لگولو لپاره دا قلمي نسخه استعمال کړه. هغې وویل چې دا خو ماته یو زوړ او بېکاره کتاب ښکارېده نو ځکه مې وسېزه.

يـــــو يشـــــــتمه د روژې وه پـــــــه ښـــــع شـــــان
خـــــتم شـــــوه قيصــــه پـــــه فضـــــل د منــــان
قيصــــه خلاصــــه د فلېـــــل د نســـــيم جـــــان شـــــوه
راوي ډېـــــر پـــــــه مينــــــه کـــــــړی دی بيــــان
دا قيصــــــه مــــــــې اورېــــــدلې د اســــــتاذ وه
ځــــــه ليــــــدلې پــــــه کتــــاب مـــــې وه عيـــان
پــــه يــــو مـــزي مـــې ســـفته کـــړه دې کتـــاب کـــې
کـــــم و زيــــات بــــه پکــــې وي يمــــه انســـان
کــــه ځـــوک کلـــى مـــې ينښـــتې اصـــل د نګـــرام دی
يـــــــم حالاًپــــــــه مينګـــــــوره در خشـــــان
تېـــره ســـو يـــو کـــم شـــپېته ســـن هجـــري وه
خــــلاص داســــتان شـــــه د فلېـــــل د نســـــيم جـــــان
وروره نـــــــوم مختيـــــــار الــــــدين زمــــا يــــــاديږي
پلارمــــــي ايخـــــى پـــــه طفلـــــى کـــــې خـــــوش الحــــان[57]

ملنګ عبدالغفار د شهزاده ګلشن او بي بي هارون قيصه ليکلې ده. دا قيصه په ۱۹۵۵ کې د خورشيد عالم پريس لاهور نه چاپ شوې ده.[58] له منظومو داستانونو علاوه "د سوات زړې قيصې" په نوم يو کتاب د سوات ميوزيم د هغه وخت ډايريکټر عنايت الرحمان ليکلى دى. دا کتاب د اټلي په مرسته چاپ شوى دى. په دې کتاب کې د سوات زړې قيصې په پښتو او انګرېزۍ دواړو ژبو کې ليکل شوي دي. دا کتاب دوه جلدونه لري وړومبى جلد يې ۱۹٦۸ء کې چاپ دى.

منظومې مذهبي قيصې

له داستانونو علاوه منظومې مذهبي قيصې هم په سوات کې ليکل شوې دي. د يوې قيصې سر خط پکې دا دى "د حضرت موسٰى سره د يو فقير په بيابان کې ملاقات کېدل يوه رښتينې عبرت ناکه قيصه". [59] يوه بله منظومه قيصه د دى سر خط لاندې ليک ده" د يو رشتيني عاشق مينه چې خپل مال او جان يې د رسول کريم په مينه کې قربان کړل، د وزارت عهده يې ترک کړه او د يو لېوني په شان مدينې پاکې ته د براع د ملک نه راروان شه"[60]

نثري ادب

په رياستي دور کې مونږ ته دوه قسمه نثر په نظر راځي، يو قسم زوړ نثر دی، چې د مخزن او فوائدالشريعت نثر ته په ګرانوالي کې نزدې دی او دا مسجع او مقفی نثر دی. دا قسمه نثر يا د تاريخي او نيم ادبي کتابونو، د ترجمو او يا د کتابونو د ديبا چو په شکل کې مېلاويږي.

او بل قسم نوی نثر دی چې هغه روان او ساده نثر دی، محاوره او روزمره يې د سوات د يوسفزی لهجې دي، ژبه يې اسانه او د عربی، فارسی استعمال پکې نشته، دا قسم نثر په ناولونو او نورو ادبي کتابونو کې ليکل شوی دی.

د رياستي دور د زوړ نثر څه نمونې دلته وړاندې کوو:

پس له دې نه وائي فقير قاضي عبداللطيف ګالوچي مولداً او لابتوي مسکناً او حنفي مذهب او جېلاني منسب چې هر کله اجل پۀ علوموکې علوم ديني او شرعي دي او بيا بهتر پۀ دوي کې علم تفسير چې تبين دی د معانيو د قران چې کتاب منزل معجز دی د قاد [قادر] سبحان پۀ محمد اخر زمان باندې ـ"[٦١]

دا لا ندينی نثري نمونه مقفٰي او مسجع ده او لکه د مخزن رنګ لري:

وايم حمد و ثنا بې شمار۔ د هغه قادر کردګار ـ چې راوباسي د کتم د عدم نه مېدان د ظهورته پۀ وار وار۔ سره دارنګارنګ ګل وخار ـ د عالم پۀ قدرت جباري سره يو عجب ګلزار۔ بيا داسي خالق پاک چې يې پېدا کۀ د خاک ادم ـ او پۀ ټول مخلوق يې کۀ اولاد د دۀ مکرم ـ او بيا پۀ مينځ له دوي کې يې څوک پۀ رسالت او څوک پۀ مکالمت او څوک پۀ خلت او څوک پۀ محبت او څوک پۀ داسې نورو نورو مرتبوسره کړل معظم ـ سبحان الله داسې لوئی ذات دی چې مخلوقات د زمکې اود سٰموت پۀ تسبيح لۀ ده کې کل ژبې دي لکه خار ـ"[٦٢]

د نثر يوه بله نمونه دا ده:

پس د حمد او د درود وائي بنده ضعيف عاصي اٰسي قاضي محمد عبداللطيف جالوچې هر کله تحريرکۀ دې فقير پۀ فعل د فياض خبير قدير سره جلد اول د دې تفسير نو پۀ التماس د بعضې۔ دوستانو سره يې شروع اوکړه پۀ جلد اخير کې پۀ تو فيق د رب عليم بصير سره او اميد وار دی له دنه د اختتام او د لو ستونکو د دې تفسيرنه د دعا پۀ اخلاص او پۀ کوشش تام سره چې راته نصيب کړي مولاشربت د مرام پۀ وخت د نزع او پۀ سخت ساعت کې د قيام ـ"[٦٣]

په دې دور کې چې په نورو کومو نثري اصنافو کې ليکل شوي هغه سوانح عمري، ناول ، ډرامه، افسانه، ادبي تنقيد او نور دي.

سوانح عمري

محمد آصف خان د سوات تاريخ او د مياګل عبدالودود(باچا صاحب) سوانح حيات د " تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياګل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صيب" په نامه ليکلی دی. دا کتاب په ۱۹۵۸م کې چاپ دی. حليم سرحدي په ۱۹٦۷م کې د سوات د مشهور شاعر فيضان سوات مختصر سوانح ليکلې او له دې نه علاوه حليم سرحدي د ډهېرۍ باباجي سوانح هم ليکلې ده. عبدالغفور قاسمي د "اعليحضرت حکمران رياست سوات کی سوانح حيات" په اردو کې هم ليکلی دی.

ناول

په سوات کې په رياستي دور کې د پښتو دوه ناولونه ليکل شوي دي. دا دواړه ناولونه شېرمحمد شېر ليکلي دي. په دې کې وړومبی ناول "نوی ژوند" او دويم ناول "لوظ" دی. دا دواړه ناولونه په ترتيب سره په ۱۹٦۴م او ۱۹٦٦م کې ليکل شوي دي. له دې علاوه چې په سوات کې نور کوم ناولونه ليکل شوي، هغه له رياستي دور نه وروسته ليکل شوي، چې ذکر به يې په ورپسې باب کې راشي.

ډرامه

په رياستي دور کې د سټېج ډرامو هم يو روايت موجود دی. په جهانزېب کالج کې په باقاعده توګه يو ډرامېټک کلب مو جود و. د دې کلب د سيوري لاندې ډېرې يادګاري ډرامې سټېج شوې وې. په دې کې په ۱۹۵۷ کال او په ۱۹۵۸ کې د والي سوات د تاجپوشۍ د جشن په موقعه دوه يادګاري ډرامې هم شاملې دي.[٦٤] د ډرامې د فن او تکنيک د پوخوالي لپاره وخت پر وخت تنقيدي مضمونونه هم ليکل شوي دي. د ډرامې د وخت په باره کې د دې قسمه تنقيدي مضامينو په باره کې سحر يوسفزی داسي ليکي:

"د دی نه زما مطلب دا وه چې په سوات کې د خوشحالۍ په موقعه کومې ډرامې سټېج کيږي په هغو کې دې د فن خدمت ته هم پام

وکړی شي نو د ادب په میدان کې به د سوات د لوري یو ناشونی کار وشي.[٦٥]

سیف الملوک صدیقي په پښتو کې درې ډرامې، پیغور، ګټه بېلاد او زرابه لیکلې وې او د جشن سوات په موقعه یې سټېج کړې هم وې خو افسوس چې دا شائع شوې نه وې"[٦٦]په رسالو کې وخت په وخت د پښتو ډرامې هم لیکل شوي دي، لکه د جهانزېب کالج د ایلم رسالې د ۱۹٦۲ په ګڼه کې محمد همایون د "جذبات" په نوم یوه ډرامه لیکلې[٦٧] او داسې نورې لیکلې ډرامې هم موندل کېږي.

ادبي تنقید

د تخلیقي ادب د ودې او پرمختګ د پاره تنقید یا تنقیدي ادب لازمي څیز دی. دغه وجه ده چې په سوات کې په ریاستي دور کې لیکوالانو تنقید ته هم پاملرنه کړې ده. په دې لړ کې د تنقید د ټولو نه اهم کتاب د سحر یوسفزي"ادب څه دی" دی. د افسانې[٦٨] او د ډرامې[٦٩]د فن متعلق هم ډېر ښه ښه تنقیدي مضامین لیکل شوي دي. له دې علاوه د نظم او نثر د کتابونو په مقدمو او دیباچو کې هم ډېر تنقیدي مضامین لیکل شوي دي.

ترجمې

د ریاست په وخت کې د ډېرو مهمو کتابونو پښتو کې ترجمې شوي، چې پکې د قران پاک د پښتو ترجمه او تفسیر د قاضي عبداللطیف ګالوچي او د انوار سهیلي او تاریخ فرشته ترجمې سید عبدالغفور قاسمي کړي دي. د انوار سهیلي د ترجمې په باره کې سید عبدالغفور قاسمي داسې وایي:

> "د دې عظیم الشان کتاب ترجمې په څو څو واره په مختلفو ژبو کې شوي دي مونږ به د دې ترجمو یو شجره دلته پېش کړو تاسو ته به دهغې نه د دې کتاب د اهمیت پته اولګي هم دغه وجوهات وو چې اعلیٰ حضرت باچا صیب حکمران د سوات د دې کتاب په پښتو ترجمه زه مامور کړم، ما دا کتاب د فارسۍ نه په پښتو دا علیٰ حضرت میاګل ګل شهزاده بادشاه صیب په حکم ترجمه کړه."[٧٠]

د باچا صیب د علمي قدردانۍ او ترجمو په باره کې عبدالغفور قاسمي مخکې داسې لیکي:

د سوات د بادشاه صيب د علمي قدرداني انداره د دې نه اولګوئ چې دوی په هر علم کې د يو اهم کتاب د ترجمې مکمل بندوبست کړی دی، څه کتابونه خو ترجمه شوي دي او چاپ شوي دي او څه ترجمه کيږي. بادشاه صيب دا يو داسې يادګار په دنيا پر ښود چې تر قيامته به ياديږي.[71]

د پښتو له ترجمو علاوه د سوات تاريخونه د محمد آصف خان او د عبدالغفور قاسمي په انګريزۍ کې هم ترجمه شوي دي. دغه رنګ په اردو کې هم د کتابونو ترجمط شوي او له اردو نه پښتو ته هم کتابونه ترجمه شوي دي.

د سوات قومي ترانه

د رياست سوات خپله جنډه او مونوګرام[72] موجود دي. له دې علاوه د رياست سوات خپله قومي ترانه هم وه کومه چې سمندر خان سمندر د والي سوات په وينا ليکلې وه.[73] سمندر خان سمندر د پښتو يو کثير التصانيف شاعر دی، ده ته د ملک الشعرا خطاب هم ورکړی شوی و[74] او د دې ترانې دهن هم هغه تيار کړی وه[75]څوک وايي چې دهن د اول نه موجود وه، خو هغه ورته د الفاظو جامه واغوستوله. [76]د دې ترانې ذکر سمندر خان سمندر په خپل يو ناچاپ کتاب "لوګېدلی ژوند" کې کړی دی.[77] "لوګېدلی ژوند" کې سمندر خان سمندر د خپل هاغه عشق قيصه کړې ده په کوم کې چې هغه د رياست سوات د کوهستان علاقې د ګبرال کلي په يو هلک دلاور مېين شوی و[78] په پينځم جون چې به کله رياستي فوج والي سوات ته سلامي کوله نو دا ترانه به غږېده.[79] په رياستي دور کې په سکولونو يا کالجونو کې دا ترانه په اسمبلۍ کې نه ده غږول شوې.[80] فضل رازق شهاب وايي چې دا ترانه ما په وړومبي ځل په ۱۹۶۴ يا ۱۹۶۵ کې په تحريري شکل کې ليدلې وه.[81] له کافي تلاش وروسته دا ترانه ما ته له امجد علي سحاب[82] نه په لاس راغله، ترانه دا ده:

کــــــل ثنــــــا ربـــــه ســــــتا
ربنـــــــــا دا دعـــــــــا ده
تــر حيـات سـوات زيـات کـړې لـه دې
لــه دې نــه يــو پــه سـل گـل گـل
بادشـــــــاه مـــــــو لــــــرې
لـــــرې دنيـــــا څـــــو ابــــاده
ربنـــــــــا دا دعـــــــــا ده
وي امـــام قـــام تـــام دې خوشـــحال
خوشـــحال دې وي تـــل تـــل تـــل
کـــــل ثنـــــا ربـــــه ســــتا ده
ربنـــــــــا دا دعـــــــــا ده

کـــــل ثنـــــا ربـــــه ســــــتا
دا زمـــــــونږ التجـــــــا ده
تــر حيـات سـوات زيـات کـړې لـه دې
لــه دې نــه يــو پــه سـل گـل گـل
بـــــاد شـــــاه مـــــو لــــــرې
لـــــرې دنيـــــا څـــــو ابـــــاده
دا زمـــــــونږ التجـــــــا ده
وي امـــام قـــام تـــام دې خوشـــحال
خوشـــحال دې وي تـــل تـــل تـــل
کـــــل ثنـــــا ربـــــه ســــتا ده
دا زمانږ التجا ده

کله چې د سوات رياست په پاکستان کې ضم کړی شو، نو ورسره دا ترانه هم له خلکو نه هېره شوه او بيا به خلکو د پاکستان ترانه ويله.

د سوات جشن او پښتو ادب

مياگل عبدالودو (باچا صيب) د ۱۹۴۹م کال د دسمبر پر ۱۲مه خپل ځوی مياگل عبدالحق جهانزېب ته د سوات د رياست اقتدار حواله کړ او لکه څنگه چې مخکې ويل شوي دي بيا به هر کال د دسمبر پر ۱۲مه د سوات د والي د تاجپوشۍ جشن نمانځل کېده. د والي سوات د تا جپوشۍ د جشن د يادگارې ورځې په موقعه به د ټولې پښتونخوا شاعران او اديبان په سوات کې راجمع کېدل او د جشن په مناسبت به يوه مشاعره کېدله چې هغې ته به يې جهانزېبي مشاعره ويله. اگر چې په دې موقعه به صرف د والي سوات مدحې او صفتونه کېدل خو بيا هم د سوات په پښتو ادب د داسې موقعو ښه اثرات ضرور پرطوتي دي، ځکه چې له دې سره د شاعرانو او اديبانو حوصله افزائي به کېدله او په نتېجه کې به يې د سوات پښتو ادب ترقي کوله. څه وخت وروسته د موسمي حالاتو د بدلون په وجه به د سوات جشن په پينځم جون کېدلو.[۸۳] پينځم جون د والي سوات د پيدائش ورځ وه. د دولسم دسمبر او پينځم جون ورځې د رياست سوات په ادبي تاريخ کې ډېر اهميت لري. دولسم دسمبر ته ليکوالانو قومي اختر هم ويلی دی. په دې اړه زېب سر ليکي چې

په دولسمه ورځ د دسمبر مياشتې دې خوش قسمت حکمران ته د حکومت مبارکي ورکړې شوې ده. اوس دا د قومي اختر ورځ ده او کال په کال په ډېر شان شوکت سره نمانځلی شي. په دغه ورځ د رياستي ولس د اختر په شان د خوشحالو مجلسونه به کېدل او ټول ملک به لکه د ناوې په نوي نوي زينتونو سره اراسته شوی و. اخباراتو به د جهانزېب د کارنامو متعلق خاص خاص نمبرونه چاپ کول او خواصو به د شاه د عمر دارازۍ د پاره مناسب خيراتونه کول.[٨٤] لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوي دي تاج محمد زېب سر دې ورځې ته قومي اختر ويلي او د دې قومي اختر قومي ترانه يې ليکلې ده، چې يو څو اشعار يې دا دي:

دا بـــــاره دســـــمبر قـــــومي اخـــــتر د پښـــــتنو دی
تـــــاريخ دا پـــــه دنيـــــا زمـــــونږ د لـــــو يـــــو افســـــانو دی
نـــن کېښناســـته غـــازي ملـــت پـــه تخـــت هـــم د اقبـــال
ټـــول قـــوم د يوســـفزو هـــم پـــه دې ورځ شـــه خوشـــحال
رحـــمان دروازې بيرتـــه پـــه دې قـــام کـــړې د رحمـــت
نصـــيب د ســـوات بـــونېر شـــه پـــه عـــزت کـــې بـــل غـــيرت
نـــه غـــم شـــته نـــه ســـتم شـــته روښـــنايي ده د انصـــاف
دنيـــا د جهانزېـــب د انصـــاف اوکـــړه اعـــتراف
روښـــانه ملـــک د ده د انصـــاف عـــدل پـــه افتـــاب شـــه
دښـــمن د قـــوم او ملـــک د خپـــل شـــامته اوس خـــراب شـــه
ای قومـــــه دا دوران لائـــــق د ډېـــــر وشـــــکرانو دی
تـــــاريخ دا پـــــه دنيـــــا زمـــــونږ د لويـــــو افســـــانو دی[٨٥]

لکه څنګه چې مخکې وويل شول چې د موسمي حالاتو د خرابۍ په وجه دا جشن د دسمبر ۱۲مې پر ځای د جون ۵ مې ته بدل شو او بيا به د جون ۵ مه د سوات د تاريخ يوه مهمه ورځ وه. د دې ورځې اهميت شاعران داسې بيانوي:

پيـــــنځم د جـــــون تـــــاريخ وه اوصـــــدی وه نولســـــمه
قـــدرت لـــه رحـــم وراغـــی د ســـوات پـــه دې حالـــت
اســـمان کـــې ملائـــک وخندېـــدلو هـــم يوبـــل تـــه
چـــې رحـــيم خـــدای مهربـــان شـــولو د ســـوات پـــه مملکـــت

يــو بــل تــه فرشــتو ووئيــل د ســوات نصــيب بيــدار شــه
پيــدا چــې نــن پــه ســوات كــې جهانزېــب عــالي وقــار شــه[٨٦]

او په بل ځای کې داسې وايي:

تــاريخ د پيــنځم جــون وه چــې تقــدير د ســوات بــدل شــه
فخــــر د ملـــت شــــه جهانزېــــب عـــالي وقـــار ثابـــت
لـــرې ورځـــې پـــس د فرشـــتو وينـــا پـــوره شـــوله
ځكــه عبــدالحق چــې شــه د ســوات د قــوم معــمار ثابــت[٨٧]

په بل ځای کې داسې ليکي:

ځكـــه دا تـــاريخ د ســـوات تـــاريخ كـــې اهميـــت لـــري
ځكـــه دې تـــاريخ سره نـــن هـــر څـــوک عقيـــدت لـــري
پـــه دا ورځ پيـــدا شـــه چـــې د ســـوات هغـــه عظـــيم انســـان
قـــوم سره خپـــل لكـــه اولاد چـــې محبـــت لـــري
پيـــنځم جـــون د ســـوات تـــاريخ كـــې لـــري ډېريـــو بختـــور تـــاريخ
ډېـــر د ســـوات پـــه حـــق كـــې مبـــارک دی ، دې لـــه هـــر تـــاريخ[٨٨]

د پينځم جون په باره کې عبدالحليم اثر افغاني داسې ليکي:

د رياست سوات روښانه نمر د سوات د عروج او ترقۍ د تهذيبي، تمدني، معاشي او معاشرتي سر لوړۍ روح روان اعلیٰ حضرت مياګل عبدالحق شهرېار جهانزېب خان صېب والي رياست سوات او متعلقات په تاريخ ۵ جون ۱۹۰۸م دې دنيا ته تشريف راوړی وه ـ د غه مبارکه ورځ د سوات د ملک او قوم دواړو د پاره د نېک بختۍ او سعادت ځلانده ورځ وه ـ ددې ورځې نه د سوات د عروج او ترقۍ يو نوی دور شروع شه ـ او واقعاتو او حقائقو ثابته کړه چې دا بختوره ورځ په هر لحاظ سره تاريخي وه ـ د دې مبارکې او تاريخي ورځې په ياد کې په رياست سوات او متعلقات کې او په ټول پاکستان د اعلیٰ حضرت والي صېب په حضور کې د خراج عقېدت پېش کولو پېر طور د ښادۍ او خوشحالۍ جشن او کليزه کولې شي.[٨٩]

په دولسم دسمبر او پينځم جون چې به کومې مشاعرې کېدلې په دې مشاعرو کې به له سوات نه د بهر علاقو شاعرانو هم ډېر په خوشحالۍ برخه اخستله. دا مشاعرې به بيا په کتابي شکل چاپ کېدلې، چې جهانزېبي مشاعرې به يې ورته ويلې.

دجشن په ورځ د والي مدح خواني

لکه څنگه چې مخکې ذکر شو د دسمبر پر ۱۲مه او د جون پر ۵ مه به د والي د جشن په موقعه شاعرانو او ليکوالانو والي سوات ته منظوم او منثور عقيدت پېش کولو. کومې مشاعرې چې به په دې موقعه وشوې هغه به د جهانزېبي مشاعرو په نوم چاپ کېدلې. په سوات کې له مشاعرو علاوه به په دې ورځ له سوات نه بهر شاعرانو ليکوالانو د والي سوات په عقيدت کې د نظم او نثر کتابونه هم چاپول او هغه ته به يې په دې ورځ پېش کول. په هغې کې يو څوکتابونه دا دي:

سوغات : عبدالحليم اثر افغاني

سوغات: دا د عبدالحليم اثر افغاني کتاب دی. دا کتاب هغه د ۵ جون په موقعه د والي سوات په خدمت کې پېش کړی دی. په دې کتاب کې هغه داسې ليکي:

> د دې مبارکې او تاريخي ورځې په ياد کې په رياست سوات او متعلقات کې د اعلیٰ حضرت والي صېب په حضور کې د خراج عقېدت پېش کولو په طور د ښادۍ او خوشحالۍ جشن او کليزه کولې شي مونږه هم د دارالا شاعت باجوړ قبائېلي علاقه ملاکنډ ايجنسۍ پاکستان د مطبوعاتو په سلسله کې دا ۱۲ نمبر کتاب د "سوغات" په نوم سره د اعلیٰ حضرت والي صېب خلدالله ملکه په حضور کې د عقېدت نذرانه پېش کوو ـ په دې مجموعه کې د ملک د مشهورو اديبانو او شاعرانو د کلام انتخاب درج کړی شوی دی.[۹۰]

پټ: سمندر خان سمندر

پټ: دا کتاب د بدرښو سمندر ليکلی دی، په دې کتاب کې هغه له والي سوات سره د خپل تعلق او مينې محبت ذکر کړی دی؟ د دې کتاب په سر ورق يې دا شعرونه ليکلي دي:

د فقـــــير او د بادشـــــاه تــــر مينځـــــه پــــت
دا پــــــه دواړو دی دلـــــوی اللــــــه رحمــــت
زر،لعلونـــــــه، جـــــواهر فـــــاني دولــــت دی
چــــې وي تـــــل بـــاقي، دی پـــــت هغـــه دولــــت[۹۱]

درویش باچا: رشید علي دهقان

درویش باچا: دا کتاب رشید علي دهقان او اشرف دراني لیکلی دی. دا ټول کتاب د والي سوات په مدح او عقیدت مشتمل دی، دا نثري کتاب دی، د کتاب ترون یې د گران شهزاده ولیعهد په نوم کړی دی. په دې کتاب کې د جشن سوات د دستورې په باره کې داسې لیکل شوي دي:

مونږ هر کال د حضور د جشن په دې مبارکه دستوره کې په څه نه څه رنگ شرکت کوو او له خپله جانبه د حضور سره د خپل عقیدت اظهار هم کوو ـ خو د دې باوجود هم مونږ هر کال دا محسوسوو چې مونږ د هغو په حقله لاهیڅ نه دي وئیلي او لا ډېر څه لیکل پاتې دي."[۹۲]

د سوات د جشن په موقعه د جهانزېب کالج د ایلم رسالې هم خصوصي نمبرې ویستل شوي دي. له دې علاوه د ملک له نورو حصو نه د رسالو خصوصي نمبرونه شائع شوي دي، لکه د والي سوات د نهه شپېتمې دستورې په موقعه د "مجلس پښتون ریاست سوات" کراچۍ نه د "مجله سوات" په نوم خصوصي نمبر شائع شوی دی. له سوات نه بهر او په سوات کې دننه د ډېرو کتابونو ترون هم د والي سوات له نوم سره شوی دی. په دې کتابونو کې د شېرمحمد شېر ناولونه، نوی ژوند او لوظ، د تاج محمد خان زیب سر کتابونه، د سیف الملوک صدیقي کتابونه او نور شامل دي.

جهانزېبي مشاعرې

دا مشاعرې طرحي او غیر طرحي دواړه قسمه شوي دي. د ۱۹۵۴م کال د دسمبر د ۱۲مې د جهانزېبي مشاعرې لپاره څلور طرحې منتخب شوې وې، هغه دا دي:

۱. یو زه یواځې نه یم چې په دې یمه خوشحاله[۹۳]
۲. طوطیان په گلستان کې په خندا کېناسته جمع[۹٤]
۳. هر سړي مونډلې لویه برخه ستا د لاسه ده[۹۵]
٤. دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي[۹٦]

د ۱۹٦۵م کال د جون د ۵ مې د جهانزېبي مشاعرې طرح داسې وه"ختلی قوم شي د پستۍ نه خو رهبر غواړي."[۹۷] د ۱۹٦٦م کال د جون د ۵ مې د جهانزېبي مشاعرې دوه طرحي مصرعې دا دي:

۱. نور درله څه اوکړي چې پرې ستا مینه پیدا شي
۲. لاړ شه هغه ځای ته چې پرې تل بهار لیدی شي[۹۸]

د جهانزېبي مشاعرو او د والي صیب په عقیدت کې له لیکل شوو کتابونو علاوه په ځینو نورو کتابونو کې هم د والي سوات مدح خواني مونډل کېږي، لکه تفسیر تیسېر او فتاويٰ ودودیه کې د والي سوات او باچا صیب د مدح خوانۍ نمونې لاندې ورکړل شوې دي. د تفسیر تیسیر د مصنف ځوی محمد صالح چې په دویم ځل یې دا تفسیر چاپ کړی دی هغه په دیبا چه کې داسې لیکي:

نـــو ځکـــه مـــې تحفـــه کـــه هغـــه ذات تـــه چـــې بـــاني د حکومـــت دی
پـــه ســـوات کـــې رائـــج کـــړی ده انصـــاف پـــه ډېـــر جـــرات دی
یـــــو داســـــې وخـــــت راغلـــــی وه پـــــه ســـــوات د جهالـــــت
چـــــې پېشـــــه د خـــــونریزۍ وه همېشـــــه د دوی عـــــادت
چـــــې نـــــور د هـــــدایت پکـــــې ســـــیدو بابـــــا پیـــــدا شـــــه
نـــــو شـــــپه د ظلـــــم لاړه زر پـــــه دوی بانـــــدې صـــــبا شـــــه[۹۹]

او بیا مخکې لیکي چې د ۱۹۴۹م کال د دسمبر په دولسم تاریخ کې د سوات او د ملحقاتو ټول مشران (باچا صیب)راجمع کړل او د پاکستان وزیراعظم لیاقت علي خان مرحوم په مخکې یې د حکومت عالیه ټول اختیارات خپل فرزند عقلمند محمد عبدالحق جهانزېب خان ته حواله کړل چې هغه لایق او فایق د زمانې خپلې دی او موصوف دی په هغو صفاتو سره چې د طالوت بادشاه د حقدارۍ لپاره خدای پاک په قرا ن شریف کې بیان کړي دي، چې صفت د علم او جسم دی نو ځکه وایي دا فقیر :

دی پـــه علـــم او پـــه جســـم کـــې بـــې مثلـــه عالیشـــانه
پـــه سیاســـت اوشـــجاعت کښـــې ډېـــر اوچـــت دی د هـــر چانـــه
ځکـــــه حوالـــــه شـــــه حکومـــــت دوی تـــــه د ســـــوات
د طرفـــه د بادشـــاه نـــه هـــم پـــه حـــال کښـــې دحیـــات
د ډېـــــرې هوښـــــیارۍ پـــــه وجـــــه نـــــور اوځلېـــــدلو
شـــــهرت یـــــې تـــــر افاقـــــه تېـــــز د بـــــرق اورســـــېدلو
نـــــن چـــــې دا زېـــــب و زینـــــت د ســـــوات نصـــــیب شـــــه
دا پـــــه دې چـــــې حکمـــــران یـــــې جهانزېـــــب شـــــه

دی مونـــــدلی یـــــې شـــــهرت پـــــه هـــــر وطـــــن
پـــــه ســـــواتیانو دی رحمـــــت د ذوالمـــــنن
چـــــې د ســـــوات نـــــه یـــــې جـــــوړ کـــــړی دی چمـــــن
تماشـــــې لـــــه یـــــې راز غـــــلي مـــــرد و زن
شـــــکر دا چـــــې خـــــدای ورکـــــړی لـــــوی دبـــــدب دی
پـــــه والي ســـــوات سره مشـــــهور دده لقـــــب دی[١٠٠]

د فتاویٰ ودودیه مصنف محمد ابراهیم بازار ګوي د والي صیب د نوم معمه داسې ویلې ده:

سر د عیـــــب یـــــې د زمـــــین پـــــه سر قلـــــم کـــــړه تمـــــام
جهـــــان مخـــــې لـــــه لاړ شـــــه پـــــه تعظـــــیم و ســـــلام[١٠١]

او بیا له دې وړاندې د والي صیب په باره کې داسې لیکي:

عـــــالم کـــــه منـــــور رخ تابـــــان د جهـــــان زېـــــب
ځکـــــه ټـــــول جهـــــان دی ثنـــــاخوان د جهانزېـــــب
ښـــــائیږي چـــــې تحریـــــر پـــــه آب زرسره شي
هـــــر هـــــر کـــــردار او هـــــر فرمـــــان د جهـــــان زېـــــب
اســـــباب د ترقـــــۍ یـــــې فـــــراهم کـــــړه لـــــه هـــــرجنس
اقبـــــال د ترقـــــۍ شـــــه پـــــه دوران د جهـــــان زېـــــب
دا عـــــدل دا انصـــــاف او دا امـــــن دا امـــــان
حقّـــــا چـــــې کرامـــــت دی نمایـــــان د جهـــــان زېـــــب
کـــــه د عیـــــب پـــــه ســـــترګه ځـــــې جهـــــان پـــــره کـــــړې
پیـــــدا بـــــه نـــــه کـــــړې هـــــم پـــــه شـــــان د جهانزېـــــب
اللـــــه دې پـــــه کونینـــــو کـــــې دائـــــم لـــــري عظمـــــت
او تـــــل دې مقتـــــدر لـــــري خانـــــدان د جهـــــان زېـــــب
ابـــــراهیم پـــــه دې چمـــــن کـــــې نـــــه تنهـــــا دی لـــــب کشـــــا
لـــــه هـــــر طـــــرف نـــــه بلـــــبلان دي غزلخـــــوان د جهـــــان زېـــــب[١٠٢]

لـه دې حوالـو نـه پتـه لګـي چې پـه سـوات کـې ټـول د قلـم خاونـدان پـه هغـه زمانـه کـې د حکمـران مـدح خـوان وو، پـه هـر قسـمه لټرېچـر کـې بـه د والي تعریفونـه

کېدل، تـر دې چـې پـه مـذهبي موضـوعاتو مشـتمل کتـابونو، لکـه فتـاوی ودوديـه او تفسير تېسير کې هم د حکمران صفتونه شوي دي.

مذهب

په يوولسمه صدۍ کې د محمود غزنوي له حملو سره دلته اسلام راغی. د سوات خلک زيات خلک سني مسلمانان دي. دلته د نورو فرقو او ډلو خلک ډېر کم دي نو ځکه دلته مذهبي فرقه واريت او اختلافات ډېرکم ښکاري. سره د ډېرو پيچيده مسئلو او نا هموارو حالاتو دلته مذهبي جګړې نشته. په هغه زمانه کې به د سوات حکمران محمد عبدالحق جهانزېب مذهبي جګړې نه خوښولې او د دې د مخ نيوي به يې هر ممکن کوشش کولو، لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول د مذهبي جګړو د نشتوالي بله وجه دا ده چې دلته ټول اولس د يو مسلک اهل سنت والجماعت سره تعلق لري هم دغه وجه ده چې دلته د مذهبي مناظر و، جګړو او د مذهب په نوم د نعرې کمې دي.[۱۰۳] د مذهبي يووالي په باره کې په عروج افغان کې تاج محمد زېب سر داسي وايي:

خپلـــــه ژبـــــه پښـــــتو وايــــــي افغانـــــــان
پــــه ټـــول ملـــک کـــې دي ســـني مســــلمانان
دلتــــــه نشــــــته دی فرقــــــې جماعتونــــــه
د مـــــذهب د جنــــګ جــــدل حکايتونـــــه
د امــــــير المــــــومنين حکـــــم دی صـــــاف
مـــذهبي چـــې پيـــدا نـــه کـــړي څـــوک خـــلاف
د شـــــيعه او احمــــــدي څــــــه لــــــري لــــــري
دلتـــــه نشـــــته د خـــــلاف هغـــــه خـــــبري[۱۰۴]

د سپېڅلي پيغمبر او د صحابه کرامو په باره کې زېب سر داسي وايي:

د نبـــــي ټــــول اصــــحاب ســــتاره ګــــان دي
چــــې پــــه صــــدق دوی د خپــــل خــــدای بنــــدګان دي
کــــه صــــديق شــــيخ العتيــــق دی کــــه عمــــر
کــــه عــــثمان ابــــن عفــــان دی کــــه حيــــدر
پــــه اخــــلاص دوی د نبــــي کــــړی خــــدمت دی
د جنــــت نعمــــت پــــه دوی د رب رحمــــت دی

پــــه هغـــــو خلقـــــو د رب فضـــــل احســـــان دی
چـــا لیـــــدلی چـــــې نبـــــي اخـــــر زمـــــان دی
بیـــا پـــــه صـــــدق یـــــې هـــــم کـــــړی اطاعـــــت وي
پـــــه هـــــر وخـــــت لائـــــق هـــــم دوی د هـــــر نعمـــــت وي
هـــــم پـــــه آل او پـــــه عیـــــال د پـــــاک رســـــول
چـــــې هـــــر یـــــو دی پـــــه درگـــــاه د رب قبـــــول
پـــــه هـــــر دم دې هـــــم زمـــــا صـــــلٰوة ســـــلام وي
دا ســـــلام دې هـــــم پـــــه صـــــبح هـــــم پـــــه شـــــام وي
د زېـــــب سر پـــــه سر کـــــه درونـــــد بـــــار د گنـــــاه دی
پـــــه محشرـــــ شـــــفیع د ده رســـــول اللـــــه دی[۱۰۵]

کله چې د ریاست سوات باني سید عبدالجبار شاه د عقېدې متعلق د سوات خلکو ته دا خبره معلومه شوه، چې هغه له قادیاني یا لاهوري فرقې سره تلعق لري، نو هغه یې د سوات له بادشاهۍ نه معزول کړ. په دې حواله زېب سر داسي وايي:

یـــــو مـــــلا شـــــولو وارد د هندوســـــتانه
دا مـــــلا د مـــــام ډېـــــرۍ وه واوره جانـــــه
دا مـــــلا چـــــې دلتـــــه راغـــــی کـــــوم ســـــاعت
پـــــه دی ملـــــک کـــــې هغـــــه اوکـــــه دا شـــــهرت
چـــــې ای خلقـــــو ســـــتا ســـــو شـــــاه خـــــو قادیـــــانی دی
دا احـــــوال معلـــــوم ټـــــول ماتـــــه پخـــــوانی دی
چـــــې مـــــلا د ســـــنډا کـــــی پـــــرې خـــــبر دار شـــــه
مخـــــالف هغـــــه دشـــــاه عبـــــدالجبار شـــــه
قادیـــــاني یـــــوه فرقـــــه ده پـــــه پنجـــــاب کـــــې
مالیـــــدلی دا احـــــوال دی پـــــه کتـــــاب کښـــــی
دوی مـــــیرزا غـــــلام احمـــــد تـــــه نبـــــي وایـــــي
پـــــه دې لـــــوی عـــــزت عظمـــــت سره یـــــې ســـــتایي
فرقـــــه بلـــــه هـــــم پـــــه دوی کـــــې ده مشـــــهوره
لاهـــــوري فرقـــــه چـــــې دغـــــه ده مـــــذکوره

دوی هــــم وايـــــي چـــــې مـــــرزا يـــــو مجتهـــــد وه
هـــــم مصـــــلح د زمـــــا نـــــې او هـــــم زاهـــــد وه
دا فرقـــــې دواړه بـــــاطلې پـــــه رشـــــتيا دي
دوی منلـــــې دعـــــوې پـــــوچې د مـــــرزا دي
عقيـــــده د لاهـــــوري فرقـــــې تمامـــــه
وه د شـــــاه عبـــــدالجبار ای نېـــــک فرجامـــــه
کـــم ا و زيـــات کـــه پـــه عمـــل کـــې د افغـــان شـــته
خـــو پـــه خـــتم نبـــوت د ده ايمـــان شـــته
دوی خـــلاف پـــه دوی کـــې نـــه منـــي خـــبره
پـــه يـــو دم شـــو مخـــالف دوی سرتـــر سره
ســـنډا کـــی مـــلا هـــم او کـــه دا اعـــلان
چـــې هرگـــز دا بادشـــاه نـــه دی مســـلمان
دی معـــزول کړلـــه دې قـــام پـــه مصـــلحت
هـــم د نلـــود قـــلا نـــه يـــې کـــه رخصـــت
ســـلامت تـــر ســـتهانې پـــورې پـــه ځـــان شـــه
پـــه درې کالـــه کـــې هـــم تېـــر د ده دوران شـــه[106]

د جماعت اسلامي خلاف هم رياستي حکمرانانو سخته رويه لرله او د دې جمات خلاف هم ډېر لټرېحر شائع شوی دی[107] او همدغه وجه ده چې د رياست سوات په انضمام کې هم د دې جماعت کردار مهم دی. د جماعت اسلامي په باره کې تاج محمد زېب سر ليکي چې اوس که د اسلامي جماعت په نوم مودودي طبقه د اسلام په نوم په زوړ قراني اسلام کې د خپلې منشاء مطابق نوی جماعت جوړوي نو په دې هر څوک پوه دي چې د هغوی اصل غرض او مقصد د اسلام خدمت نه دی،، بلکې د خپل امارت قيام دی. زېب سر بيا وړاندې ليکلي، چې دوی خپل مشر ته خادم اسلام نه بلکې امير جماعت اسلام وايي او په حکومت کې د متوازي حکومت بنياد ږدي او دغه اميران د ملک په مختلفو خطو کې مقرروي او د بيت المال په نامه د ساده لوحو مسلمانو په جېبونو ډاکې غورزوي، خو د رياست عوام په اسلام کې د بيل اسلام خبرې نه اوري او نه يې منلو ته تيار دي او دلته د دغه جماعت افراد په ډېر زور شور سره سعې او کوښښ کوي مگر زياته کاميابي نه

حاصلوي،کوم کسان چې د نظام مخالف او د هغه وخت د شاهي اقتدار نه مطمئن نه وو، هغوی به خفيه او اعلانيه د دوی امداد او حمايت کولو او د سياسي فائدو د حاصلولو په خيال به يې د دوی په کارونو کې سهولت پيدا کولو. زيب سر وايي دا جماعت او د جماعت افراد د ملک د غير مطمئن افرادو چې سياسي او مالي فائدې حاصلوي او هغوی ته شنه باغونه ښکاره کوي، دوی خو په خوله دا وايي چې مونږ صالحانو له په خپل جماعت کې ځای ورکوو خو حقيقت داسې نه دی، دلته ورسره د ملک ظالمان او خاينان شريک دي او د هغوی په تعاون کې زياته دلچسپي اخلي. که دوی هر څومره د اسلام د خدمت دعوې کوي مگر اولس دې دا خبره ياده ولري چې دوی د لستونړي ماران دي او د دوی مقصد په مسلمانانو کې د اختلاف پيدا کولو او د سيم وزر جمع کول دي.[۱۰۸]

په رياست سوات کې د جماعت اسلامي خلاف د پروپيگنډې لپاره په پښتو شعر او نثر کې ډېر پمفلټونه ليکل شوي دي، يو پمفلټ چې "بي استاد عالم" نومېږي، شبر سواتي ليکلی دی. دا پمفلټ شل مخونه لري،په اول مخ يې دا شعر ليکل شوی دی:

غـــلا د مـــذهب نـــه چـــې کـــوي مـــا داسي چـــور اوليـــده
ابـــوالا عـــلٰي مـــې پـــه اچهـــره کـــې د لاهـــور اوليـــده[۱۰۹]

يو بل پمفلټ"د غيرت چغه" چې له ايډورډز کالج پېښور نه اختر سواتي ليکلی دی. په يو ځای کې هغه داسي ليکي:

غزا چې د کشمير وه عالم ټول په واوېلا وه هر کس توره تر ملا وه
وې نه دی دا جهاد په دې وينا چې بر ملا وه صرف دا ابوالاعلي وه
اوس ته اوکړه انصاف څه ده فائده د داسې چوره د قام دښمن ته گوره[۱۱۰]

په يو بل پمفلټ کې داسي ليکل شوي دي:

دا څـــوک دي چـــې د ديـــن او د ايمانـــه بـــې بهـــرې دي
پـــه دې صـــفا مـــذهب کـــې پـــېچ و خـــم څـــوک جـــوړوي
دا دي هـــم مـــو دوديـــان ابـــوالا عـــلٰي د دوی سردار دی
خـــدمت لـــه د دجـــال د ده لښـــکر واړه تيـــار دی[۱۱۱]

شبر يو بل پمفلټ ليکلی دی"د مودودي په نوم" په اول مخ يې دا شعر ليکلی دی:

هســـې پـــه ژبـــه زوتـــوي د شريعـــت خـــبرې
مـــونږ تـــه معلـــومې دي داســـتا د شرارت خـــبرې[۱۱۲]

خو له دې ټولو خبرو نه دا پته لګي چې د جماعت اسلامي خلاف او اختلاف دلته هم يو سياسي رنګ لرلو ځکه چې مذهبي اختلافات د دوی په مينځ کې دومره نشته اوکوم اختلافات چې مذهبي رنګ لري هغه چا تر بحث لاندې راوستي هم نه دي، خو صرف په سياسي خبرو بحث شوی دی.

د رياست سوات ترقي

د سوات په پښتو ادب کې د سوات د ترقۍ ذکر او حوالې ډېرې موندل کېږي. د سوات يو شاعر فيضان د سوات د ترقۍ نقشه په دې ډول بيان کړې ده:

ای زمـــــــــونږه حکمرانـــــــــــه عجيبـــــــــه دې حکومـــــــــــت دی
ډېـــــر شـــــکرونه خـــــو پـــــه دې دي چـــــې د ســـــوات پـــــه رياســـــت دی
داســـــې ډېـــــر رياســـــتونه ګېـــــر جـــــاپېره چـــــې موجـــــود دي
دا ښـــــکاره ده ټـــــول مخلـــــوق تـــــه چـــــې د ســـــوات لـــــوی فضـــــيلت دی
ښـــــه لـــــوی ســـــيند پکـــــې بهېـــــږي ښـــــې ولـــــې پکـــــې جـــــاري دي
هـــــم بـــــا غونـــــه پهکـــــې شـــــته دی تـــــه بـــــه وايـــــې جـــــوړ جنـــــت دی
هـــــم پـــــه هـــــره علاقـــــه کـــــې تحصـــــيلدار او يـــــا حـــــاکم وي
فيصـــــلې د قـــــوم کـــــول يـــــې پـــــه انصـــــاف سره عـــــادت دی
هـــــم پـــــه هـــــره محکمـــــه کـــــې قـــــاضي ناســـــت وي مفتـــــي هـــــم وي
بـــــل ځـــــه رســـــم رواج نشـــــته فقـــــط کـــــار د شريعـــــت دی
هـــــم ســـــکولونه دي جـــــوړ شـــــوي ځـــــای پـــــه ځـــــای کـــــلي پـــــه کـــــلي
د تعلـــــيم پـــــه حصـــــولۍ کـــــې دلچســـــپي د هـــــر چـــــا نيـــــت دی
د وطـــــن باشـــــندګان هـــــم ټـــــول اکـــــثر تعلـــــيم يافتـــــه شـــــو
د تعلـــــيم پـــــه سلســـــله کـــــې پـــــه وطـــــن کـــــې ډېـــــر وســـــعت دی
جهـــــان زېـــــب نـــــومې کـــــالج هـــــم خوشـــــنما پـــــه ســـــوات کـــــې شـــــته دی
پېراســـــته هـــــم اراســـــته دی مـــــزّين دی خـــــوب صـــــورت دی
د دينـــــي تعلـــــيم د پـــــاره ســـــوات کـــــې دوه دارالعلـــــوم شـــــته
پـــــه ســـــيدو شريـــــف کـــــې شـــــته دی بـــــل چاربـــــاغ کـــــې عـــــمارت دی
دا يـــــو فعـــــل بهـــــترين دی د اســـــلافو يـــــو تقليـــــد دی
نـــــور مفـــــاد ټـــــول دنيـــــاوي دي دا د ښـــــکلي ديـــــن خـــــدمت دی

سوات کې شته هسپتالونه ښه علاج د مریض کیږي
د ډاک تار سلسله هم یې د سوات خلقو له راحت دی
هم اکثر په ریاست کې د بجلۍ جال دی خور شوی
په رڼا باندې روښانه هر یو ښکلې عمارت دی
سوات کې ډېر فوځ جنګي شته هر سپاهي ډېر بهادر دی
هم سپاهي هر یو قامیز دی چې پېښ شوی ضرورت دی
اسلحې د جنګ دي ډېرې مشینو نه هم توپونه
کارخانې شته د کارتو سو نمبر جیې ذبه یې زینت دی
نیغ سړ کونه مزیدارشته چې لارۍ موټرې ځي پرې
ونې ښکلې سایه دارې د سړک لپاسه چت دی[113]

د کوهستان سړک چې په ۱۳۶۰هـ کې جوړ شوی، د هغې په باره کې تاج محمد زېب سر داسې وایي:

په دې کال کې په زمان د شهریار
نوی سړک کوهستان ته شه تیار
دا مشکل کار په دوران د دې سلطان
تر پوره حده شه ختم نن زمان
او سردار احمد علي د شاه وزیر
انتظام اوکه د سړک د تعمیر[114]

د ترقۍ په منصوبو کې د صحت مد په دریم نمبر ساتلی شوی وه. په ۱۹۴۷ کال کې په ریاست کې درې هسپتالونه وو او په ۱۹۶۷ کال کې ۱۷ هسپتالونه تیار وو.[115] په ترقیاتي کارونو کې ډېره توجه تعلیم ته ورکړی شوې وه. په ۱۹۶۷ کې په ریاست سوات کې د پرائمري، لوئر مډل او مډل سکولونو نه علاوه یو ډګري کالج او دېرش هائي سکولونه وو.[116]

د ریاستي فوج په باره کې زېب سر داسي وایي:

د سلطان فوځ هم ټول دی دولس زره
په حساب که ښه ځان پوهه برادره
او په هر یو پلټن کې یو افسر دی
هر افسر د شاه لائق هم د باور دی[117]

پښتانه

د پښتو له ولسي او تحريري ادب نه د پښتنو د شناخت او د پښتنو په خپل قوميت د فخر بې شماره مثالونه په لاس راځي. د رياست سوات په پښتو ادب کې د پښتون قوم د شان او شوکت او د دوی د نورو نفسياتي خبرو په باره کې هم ډېر معلومات په لاس راځي. عبداللطيف شاهين، "د پښتون شان" تر سر خط لاندې داسې ليکي:

نــــوم د اســــلافو بــــه د نمــــر پــــه شــــان اظهــــار پرېــــږ دمــــه
شــــان د پښــــتون بــــه دې دنيــــا تــــه يــــو يادگــــار پرېــــږ دمــــه
کــــه يــــو طــــرف تــــه وي سره زربــــل خــــوا زنــــگ شــــوې تــــوره
کلــــه کېــــدی شي چــــې زر وا خلمــــه تلــــوار پرېــــږ دمــــه
د غزنــــوي همــــت رښــــا کړلــــه تيــــاره د کفــــر
دا رنــــگ بــــه زه پــــه ټــــول جهــــان بانــــدې کــــردار پرېږدمــــه
چــــې جرگــــه راغلــــه د هنــــدوانو د محمــــود مخــــې لــــه
غــــازي ويــــل څــــه رنــــگ پــــه ځــــان د پېغــــور بــــار پرېږدمــــه
مــــات يــــې بتــــان د ســــومنات کــــړه خــــاص د اللــــه دپــــاره
وينــــا يــــې دا وه چــــې يــــو نــــوم د کــــردار پرېــــږ دمــــه
نقشــــې بــــه زه تــــازه کــــوم د مشرــــانو خپلــــو
نــــه دي جــــائز چــــې وصــــيت دمــــور وپــــلار پرېږدمــــه
پښــــتنې مــــور چــــې مالــــه پــــی د خپلــــو تــــو را کــــول
نــــو زه بــــه څنــــگ د پښــــتون والي دغــــه لار پرېــــږ دمــــه
جفــــا کشيــــ، دلاوري نــــر تــــوب جامــــه ده زمــــا
نــــو داغ بــــه ولــــې پــــه زړگــــي د خپــــل ديــــار پرېږدمــــه
زمــــا شــــاهين کــــردار بــــه ولــــې بلنــــد نــــه وه خلقــــه
د ترقــــۍ منــــزل طــــی کــــوم د پســــتۍ لار پرېږدمــــه[۱۱۸]

د پښتنو په پښتو او پښتونولۍ د فخر په باره کې شاهين داسي وايي:

زه د پښــــتو پــــه نشــــه مســــت يمــــه شراب څــــه کــــوم
د تصّــــور مطــــا لعــــه کــــوم کتــــاب څــــه کــــوم
زمــــا شــــمله د پښــــتو جگــــه ده لامــــړاوې نــــه ده

خپلـــې مـــانړۍ د نګـــې لرمـــه د بـــل بـــاب څـــه کـــوم[119]

او د پښتون په بده ورځ بیا داسې ګویا دی:

چـــې درپـــه در بـــه شي پښـــتون ماتـــه معلومـــه نـــه وه
زمـــونږه حـــال بـــه شي زبـــون ماتـــه معلومـــه نـــه وه
کـــه زه خـــبر وی چـــې تقـــدیر بـــه کنـــاره وي زمـــونږ
د کـــم بختـــی پـــه وجـــه بنـــد بـــه ســـتاره وي زمـــونږ
مـــونږ بـــه تـــرې کـــړی وه بېلتـــون ماتـــه معلومـــه نـــه وه
چـــې درپـــه دربـــه شي پښـــتون ماتـــه معلومـــه نـــه وه[120]

د سوات له پښتو ادب نه د پښتنو نفسیات په ګوته کېږي، دوی اکثر ضد کوي او بیا دغه خپل ضد ته پښتو وایي او له هغه خبرې نه، نه اوړي.[121] د پښتون وفاداري هم ډېره مشهوره ده خو په ریاستي دور کې د دوی په دې وفادرۍ کې هم کمی راغلی دی لکه څنګه چې زېب سر وایي چې پښتون وفادار مشهور دی او د دې ولس بیا دا وصف د خاص تعریف لائق وه، خو داسې معلومېږي چې د دې ولس دغه روایتي تعریف اوس اوس مخ په کمي دی.[122]

ذات پات

پښتانه ځان له نورو قامونو نه اوچت او ممتاز ګڼي. د پښتو په دور کې او په ریاستي دور کې دلته په ټولنه کې به د یو کس د مقام او مرتبې تعین به د هغه د زمکې په بنیاد و او چې کوم پښتون به په سوات کې د دفتري زمکې مالک نه وه او زمکه به یې چرته خرڅه کړه او دکانداري یا څه بل څه کسب کار به یې شروع کړ، نو هغه ته به بیا پښتون نه ویل کېده او داسې کسان به د مشرانو په کار او بیګار کولو هم مجبور او مامور وو.[123] حسب نسب او خانداني ذات پات په هر ځای کې د نظر لاندې وه، لکه په فوځ کې به هم د لوی خاندان خلک بهرتي کېدل، لکه زېب سر چې وایي:

ده تـــرجیح ورکـــړه پـــه فـــوځ کـــې افغـــان لـــه
ده لـــويي ورکـــړه د لویـــو خانـــدان لـــه[124]

د استاذانو په تقررۍ کې د حسب نسب د خیال ساتلو مشوره والي سوات ته مولانا عبدالقادر هم ورکړې وه.[125] دلته نایانو ته سرکاري ښې نوکرۍ صرف په دې وجه نه ورکول

کېدلې چې هغوی نسلاً کمزوري وو.[126] دم، نايي او هر قسم کسبګر ته به په سوات کې په سپک نظر کتلی شو. د دې نه علاوه ګوجر او کوهستاني قامونو ته هم برابر انصاف نه دی ورکړی شوی. دلته به د اجړو نه د بيزو عشر اخستی کېده.[127]ګوجر په ټول سوات کې هر ځای موجود دي خو د سوات په غرئيزو علاقو او سوات کوهستان کې په اکثريت دي. د ګبرال د ګوجرو په باره کې فيضان داسې ليکلي دي:

ګـــــبرال بلــــه دره ده چـــــې عــــــالم يــــــې دی شـــــوړ پـــــوړ
ګــــوجران او اجــــړان دي لــــښکن دي پـــــه دولـــــت مــــــوړ[128]

په موزير نامه کې د زېب سر له دې شعر او داسې نورو شعرونو نه پته لګي چې دلته د هنرمندانو او د عامو پښتنو تر مينځه ډېر فرق و. په دې شعرونو کې زېب سر معزول وزيرانو ته مخاطب دی:

تابــــه وې پښــــــتون د نــــــوکرۍ اهليـــــــت نــــــه لــــــري
دوی لکــــــه د ډم صــــــدق اخــــــلاق اهميـــــت نــــــه لــــــري[129]

د سوات په ټولنه کې پښتانه، ستانه دار، ګوجر او کوهستاني او کسبګر اوسېدل او له هر يو سره بېله بېله رويه ساتل کېده.

وسله او پښتون

پښتانه له وسلې سره ډېره مينه لري او وسلي ته د ځوان زېور وايي. په دې اړه د عبداللطيف شاهين دا نظم "د ځوان زېور" د کتلو وړ دی:

تــــوره ډال زېـــــور دی د ځــــوان بـــــې تــــورې ننګيــــال نــــه دی
سر چــــې يــــې جبــــين پــــرې نــــه وي هغــــه خــــو ځــــه خــــال نــــه دی
ورک شــــه جينــــۍ مخــــې چــــې اشــــنا د تېــــغ تفنــــګ نــــه وي
نــــه وايــــم پښــــتون ورتــــه پښــــتو ويــــل ځــــه ســــوال نــــه دی
هغــــه شــــاه زلمــــی دی چــــې وســــله د غــــاړې هــــار ګڼــــي
نــــه ګــــڼم هغــــه چــــې پــــه وســــله بانــــدې ســــنهبال نــــه دی
خونــــد کــــوي د ځــــوان سره د ننــــګ نــــاموس د پــــاره مــــرګ
ننــــګ نــــاموس چــــې نــــه لــــري هغــــه غيــــور او ســــيال نــــه دی
قــــــــدر د وســــــــلې وي د وطــــــــن د ننګيــــــــالي سره

شـــنې فـــولادي تـــورې لـــه پيـــدا لاس د شـــغال نـــه دی
شـــال د مجاهـــد پـــه اوگـــو خونـــد کـــوي پـــه وينـــو رنـــگ
ســـور چـــې د شـــهيد پـــه وينـــو نـــه وي هغـــه شـــال نـــه دی
نـــه مـــنم پښـــتون نـــه يـــې مړانـــه نـــه يـــې زور مـــنم
څـــو چـــې دا جهـــان يـــې د هيبتـــه پـــه زلـــزال نـــه دی
خـــاورې دې ځـــواني شي بـــل زيـــور دې شي تـــالا والا
ورک دې هغـــه ځـــوان شي چـــې پـــه نـــام وطـــن مـــلال نـــه دی
ای شـــاهينه ځـــوان خـــو چـــې نـــر ښـــکاري پـــه وســـله سره
بـــې تـــورې ځـــوان درونـــد د زنانـــه نـــه پـــه هـــيڅ حـــال نـــه دی[۱۳۰]

د سوات په پښتو ادب کې له تورې ډال نه علاوه د غوگين، چهربدار، دوه نله چهريدار، جرمنۍ طمانچې وغيره ذکر راځي.[۱۳۱] د مچوغنو د جنگ حوالې هم موندلی شي[۱۳۲] او کوم وخت کې چې د سوات خلکو له تورې ټوپک او وسلې سره مينه وه، نو د هغوی به د قلم مينه څه پاتې شوې وه، لکه چې زېب سر وايي:

هغـــــه وخـــــت د يـــــو ســـــفزو تمـــــام رغبـــــت
وه مائـــــل تـــــوري ټوپـــــک تـــــه هرســـــاعت
او د ســـــوات ټـــــولې طبقـــــې د اميرانـــــو
وې مائـــــل تـــــورې ټوپـــــک تـــــه هـــــر زمـــــان
د هـــــر چـــــا د حفاظـــــت دارو مـــــدار
خـــــاص پـــــه دې وه چـــــې پخپلـــــه وه بيـــــدار
بـــــې وســـــلې د هـــــر چـــــا عمـــــر د تکليـــــف وه
خـــــتم کـــــړې تعلـــــيم ځکـــــه دې شريـــــف وه[۱۳۳]

خو چې کله په سوات کې امن وامان راغی او حکومت جوړ شو، نو بيا حکومت له خلکو نه وسلې راجمع کړې، لکه چې وايي:

بيـــــا د قـــــام مشرـــــان جمـــــع کـــــړه ســـــلطان
چـــــې قـــــائم دی اوس د ملـــــک امـــــن وامـــــان
د دښـــــمن د حملـــــو اوس نشـــــته دی وېـــــره
د وســـــلو ســـــاتل هـــــر گزنـــــه دي اوس غـــــوره

حکومـــــــت ستاســــــو د امـــــــن ذمـــــــه وار دی
دا وســـــلې ستاســــو اوس ستاســـو پــــه سر بــــار دی
دا وســـــلې ضـــــبط پـــــه حکـــــم د ســــلطان شـــوې
پـــــه غــــرض هـــــم دا د امـــــن د امـــــان شـــوې[۱۳۴]

د يو هلک د زلمي توب اندازه به د دې نه لګولی شوه چې هغه به ټوپک په اوږه ټينګولی شه.[۱۳۵] پښتون چې به لاس نيوي ته تللو نو هم به يې وسله له ځان سره ګرځوله او دا به يې ويل چې تشه اوږه بده ښکاري.[۱۳۶]

تهذيب

د سوات والي د مشرق او د مغرب د دواړو له تهذيبونو نه خبر و او دغه وجه وه چې په سوات کې د رياستي عروج په وخت کې تهذيب ډېر پرمختګ کړی و.

د مشرــــــق او د مغــــــرب هـــــــرب تهـــــــذيب غـــــوره
جهانزېـــــــب دی حاصـــــــل کـــــــړی بــــــرادره[۱۳۷]

د سوات د ترقي يافته تهذيب په باره کې حبيب الرحمٰن حبيب داسې وايي:

چرتــــه ســـــوات چرتــــه ســــواتيان چرتــــه تهـــــذيبً
چرتـــه دا وطـــن ســـپک ورک چـــې روښـــان تـــا کــــړه
ملائـــــک شـــــه دعــــا ګــــو دې پـــــه اســــمان کـــې
پـــه خائســـت چـــې جوړلـــه زمکـــې اســـمان تـــا کـــړه[۱۳۸]

د سوات د تهذيب په باره کې عجب خان قريشي داسې وايي:

تهـــذيب او نـــه شـــعور وه نـــه اصـــول د زنـــدګۍ څـــه
خـــو بـــې مهـــار اوښـــان وو پـــه ګګـــو وګـــو روان وو
کميـــاب کـــل ضروريـــات د زنـــدګۍ پـــه دې وطـــن کـــې
حـــال دا وۀ چـــې د ســـوات خلـــق د مـــالګې پـــه ارمـــان وو[۱۳۹]

په حقيقت کې سوات يو زوړ تاريخي او تهذيبي حيثيت لري، دلته د مختلفو مذهبونو او تهذيبونو خلک پاتې شوي دي، د سوات زمکې د مختلفو تهذيبونو عروج او زوال ليدلی دی. په شپاړسمه پېړۍ کې سوات ته د پښتنو له راتګ سره دلته قبايلي ژوند شروع شو او بيا په شلمه پېړۍ کې دلته د يو حکومت بنياد کېښودل شو. اوس که مونږ وګورو نو

په قبايلي دورکې ټولنيزه ترقي دومره زياته نه ده شوې، د دې په مقابله کې چې کله يو باقاعده حکومت دلته جوړ شوی، نو په هغه دور کې ترقي زياته شوې ده.

مادي فوکلور

د سوات په پښتو ادب کې د سوات د مادي فوکلور د ډېرو څيزونو ذکر موندل کېږي، لکه په دې شعر کې د جغاول ذکر شوی دی:

ستا مينه تېغ بندي زما د غاړې جغاول شه
په لاس که معشوقو سره خنجر جدا جدا دی[١٤٠]

د"نوی ژوند" ناول نه را اخستل شوي لاندېني اقتباس کې د ډېرو مادي او کلتوري څيزونو نومونه راغلي دي :

چې سلام يې وجار باسه نو درودونه او دعاګانې يې ولوستې بيا د تخته پوش نه کوزه شوه او په سها پورې د زوړندې تختې نه يې رحېل او قران مجيد را واخسته ـ يوه سيپاره تلاوت يې اوکه او بيا يې کلام پاک په کڅوړه کې ونغښتلو په څو څو واره يې ښکل که او خپل ځائی ته يې ورساوه ـ بيا يې د څکي نه د مستو يخه کټوی راکوزه کړه ـ په چاټی کې يې واړوله د ګړونج نه يې داوبو ډک سور منګی راکوز که خپلې خواته يې کېښوده ـ څلور پينځه جامونه يې ترينه ډک کړه او چاټی ته يې ور واړول ـ چپه او منداڼو ئی په درې شرطه کنګال کړه ـ روګ يې پرې باندې که او په شوملو شربلو يې شروع کړه ـ چې پی نري شو نو په کوچوټولولويېګوټې پورې کړې ـ پېړه ئی جوړوله او په چاټيګي کې به يې اچوله ـ[١٤١]

په دې اقتباس کې د کلتور د دې مادي څيزونو ذکر وشه: تخته پوش، سها،رحېل، د قرآن مجيد تخته، د قران مجيد کڅوړه، څکی،کټوی، چاټی ـ ګړونج، منګی، جام، چپه، منداڼو، روګ، چاټيګی وغېره، دغه رنګ د کټ کټکي ذکر هم راځي.[١٤٢]

د واده رسم و رواج

د رياست سوات د پښتو ادب له مطالعې نه پته لګي چې دلته به کله کله داسې هم وشوه چې د جينۍ د رشتې لوظ به په اورنې کې کېده، يعنې چې کله به هغه پيدا شوه نو د هغې د کوېژدن لوظ به له چا سره وشه[١٤٣] او کله به داسې وشوه چې جينۍ به لږه لويه شوه نو د هغې له قميص نه به يې لږه ټکړه پرېکړه او بس رشته به وشوه.[١٤٤] دلته به د هلک

او جینۍ نه تپوس نه کېده خو ودونه به د مور پلار یا نورو مشرانو په مرضۍ کولی شو، که د هلک او جینۍ به یو بل خوښ وو او کنه.[۱۴۵] او که مور و پلار به ورته یو ځای خوښ کړ او د هلک به نه و خوښ نو هغه انکار نه شو کولی، ځکه چې انکار د پښتو په رواج کې یو غټ شرم و،[۱۴۶] او دا رواج منل او نه منل د چا د مرضۍ خبره نه وه.[۱۴۷] په دې کې به اکثر داسې هم وشوه چې هلک یا جینۍ چې د هغوی خبره به نه منل کېده هغوی به ځان مړ کړ.[۱۴۸] د جینۍ پلار به د لور د سر روپۍ[۲۹] هم اخستې.[۱۴۹] د واده په اوومه ورځ به چې جینۍ کله د خپل مور و پلار کور ته راتله نو دې رسم ته خپه ارته وایي[۱۵۰] زېب سر د واده د رسمونو رواجونو په باره کې داسې وایي:

جوړېــــده بــــه نـــاوو جونـــــو لــــه زېـــــور هــــم
زرگرانـــــو بـــه هــــم مـــس کــــړه ســــیم وزر هـــم
اوس شرعـــــي مقــــدار د مهـــر مقـــــرر شــــه
د ضرره د کـــــــالو خلـــــق خــــــبر شــــــه
د خـــــــور لــــــــور د خرخولــــــــو شریعـــــــت
پـــــه هرحــــــال کــــــړی دی ســــخت مخالفــــت
ځکـــــه دې مصــــلح دې قــــام تـــــه وویــــل دا هـــم
چــــې پــــه کــــار نــــه دی دا شــــغل نـــاروا هـــم
پــــه واده بـــــه هــــم د ځـــوی یـــو بـــر بـــادي وه
بـــر بـــادی تـــه بـــه څـــوک څـــه وایـــي چـــې ښـــادي وه
یـــو طـــرف تـــه بـــه د رقـــص مجلـــس ســـاز وه
بـــل طـــرف تـــه بـــه د قـــرض دا انـــداز وه
د واده بـــــه شـــــوې ورځـــــې درې څلـــــور وې
چـــــې غـــــویمې د قرضـــــدارو یـــــې پـــــه کـــــور وې
هغـــه ننـــگ او نـــام بـــه ټـــول د ده بـــلا شـــوه
خپلخـــا نـــه بـــه پـــرې د ده هـــم مبـــتلا شـــوه
اوس پـــــــه حکـــــــم دا میرالمــــــــومنین

[۲۹] دا روپۍ به یې بیا د لور په واده لګولې او دا رنګ د لور واده به په پلار بوج نه و.

د ښـــــادۍ د هــــــر يـــــــو خــــــرڅ او شــــــه تعـــــين[۱۵۱]

او بيا د مهر او د سر د مال په باره کې داسې وايي:

د لــــــور خــــــور د مهـــــــر د هــــــېڅ چانـــــــه وه مطلـــــــب
د سر د مـــــــــال اول بـــــــــه تقاضـــــــــــه وه روز وشـــــــب
د سر د مهـــــر زيــــــات وه بــــــل هـــــم نـــــور وو ډېــــر رســــمونه
نيوکــــــــه وه، خـــــــوره وه، صرف کېــــــدل پــــــرې رقمونــــــــه
جـــــورې او هـــــــم جـــــــامې او تلــــــه راتلـــــه او تويــــــانې وې
د مــــــال د زيــــــان د پــــــاره پـــــه هــــــر قســــمه بهـــــانې وې
واده هـــــــم پــــــه شــــــان شـــــوکت پــــــه ډول سرنــــــا وه
دا رســـــــــم دوی تـــــــــه پــــــاتې د دادا او د نانـــــــــا وه[۱۵۲]

د واده د رسمونو په باره کې تاج محمد زېب سر دا هم ليکي چي په دې ولس کې د هندوستان يا د پاکستان په شان د جهيز طريقه بالکل نه وه او نه به چا دا مطالبه کوله.[۱۵۳]

د غم رسم و رواج

د سوات د پښتو ادب له تجزيې نه پته لګي چې دلته به خلکو د غم په موقعه کوم قسمه رسمونه او رواجونه کول. کله چې به څوک وفات شو نو د هغه په تعلق داروانو، رشته دارانو پسې خبر ليږلی شو. له غسل نه پس چې د مړي جنازه به ووتله نو چې څوک به په جنازې پسې وتلي وو که د جنازې مونځ به يې کړی و او کنه په هغوی به نقدې د سقاط پيسې وېشل کېدې. مليانو به ځان زيات حقدار حسابولو. که مرده به مقروض وه خو د يتيم مال په بې رحمۍ سره د هغه سرپرستانو لګولو او د غه به يې د ثواب کار ګڼلو. د مياګل جهان زېب حکومت په دې سلسله کې قابل قدر اقدامات کړي وو، خو دا مذموم رسمونه لا ختم شوي نه وو. د مرده د جنازې او د اولنۍ ورځې نه بعد به بيا ماښامونه،جمعې، څلوېښتمه او تلين و، چې د اسراف حد ته ر سېدلي وو. اول په دې کې ډېر اسراف وه خو بيا پکې کافي کمی راغلی و، چې د مړي تعلقداران نارينه زنانه به راغلل نو د مرده په کور کې به دېره وو او د هغوی له تسلۍ او خوشحالۍ نه، بلکې د تکليف باعث به جوړېدل. د مرده خاندان به په خپل غم و او بيا به هم هر وخت د دوی د پاره د خوراک څښاک په فکر کې وه. د چم محلې اولس به هم يو بل ته د باهمي همدردۍ په مروجه طريقې سره روتې

کوله، دي ته په عرف کې د غم روټۍ وايي. خپل خپلوانو کې نارينه به زر رخصتېدل خو زنانو به اکثر ډېرې ايسارې وې.[١٥٤] د غم د ځينو رسمونو په باره کې زېب سر په يو بل ځای کې داسې ليکي:

کـــه بـــه هسيـــ ســـړی مړشـــه چـــې بـــې مـــال وه
دبـــــې مـــــال وارث بـــــه هـــــم د شـــــهرت خيـــــال وه
ياپـــه ســـود يـــا پـــه ســـلم بـــه گـــور کفـــن وه
پـــه ډېـــر نـــام او احـــترام بـــه دی دفـــن وه
پـــه اســـقاط کـــې بـــه وېشـــلی دا دولـــت شـــه
مـــرگ لاڅـــه کـــړې چـــې بـــه داپـــرې لـــوی افـــت شـــه
کـــه د لـــوگې ځنـــې روح هـــم د يتـــيم تلـــه
خـــو بـــه قـــبر لـــه د مـــړي پـــه تعظـــيم تلـــه
بيـــا هـــم شـــلمې څلوېښـــتمې هـــم جمعـــې وې
د هـــــر چـــــا د تبـــــاهۍ د ا علامـــــې وې
بيـــا بـــه تلـــين ورپســـې هـــم واغســـته وار
مخـــالف کـــه د کتابـــه وه دغـــه کـــار
بـــل پـــه غـــم کـــې بـــه غوبـــل د غـــم پـــه کـــور وه
يـــو بـــه غـــم او بـــل عـــالم ورسره نـــور وه
د خپلوانـــو فـــاتحې لـــه اوس راتلـــه شـــته
مگـــر بېرتـــه د دوی تلـــه پـــه هغـــه پلـــه شـــته[١٥٥]

د غم په موقعه د غلطو رسمونو او فضول خرڅونو په باره کې زېب سر داسې ليکي:

يـــو خـــوا بـــه مـــړی پـــروت وه غـــم بـــه پـــېښ پـــه خانمـــان وه
بـــل خـــوا بـــه د يـــتم پـــه مـــال گډشـــوی بيـــا تـــالان وه
پـــه ســـو د او پـــه ســـلم يـــا پـــه گاڼـــه بـــه يـــې راوړه مـــال
پـــه رســـم د اســـقاط بـــه بيـــا وېشـــلی شـــه فـــی الحـــال
ســـيالي بـــه د يـــو بـــل سره هـــر چـــاکړه پـــه دې صرف
کـــم خـــرچ بـــه هـــم هـــر چـــا پـــه خپـــل عـــزت گڼلـــو حـــرف
راتلـــه بـــه هـــم اســـقاط تـــه د خـــيرات غـــير مســـتحق

دا رســـم زيـــات مهلـــک چـــې پـــه دې ملـــک کـــې وه ســـابق
پـــه سر بـــه هـــم د مـــړي هلتـــه جـــوړ شر او فســـاد شـــه
هـــم مـــال او هـــم ثـــواب بـــه د مـــرده دواړه برېـــاد شـــه
بيـــا وې هـــم قـــط پـــه قـــط ووه جمعـــي او ووه ماښـــامه
بـــاقي د يتـــيم برخـــه بـــه پـــه دې کـــې شـــوه تمامـــه
د پاســـــه ځلوېښـــــتمه ورپســـــې وار وه د تلـــــين
دا ديـــن د پښـــتنو وه نـــه پـــوهېږم کـــه ســـادين[١٥٦]

مړی چې به کله ښخ کړی شو نو بيا به يې د هغه قبر ته د قران مجيد سبق ويلو.[١٥٧] د مړي ماښامونو کې به اکثر د حلواگانو خيراتونه کېدل، دې ته به يې د حلوه خيرات وې او يو بل خيرات ته به يې لکي خيرات وې.[١٥٨] په غم کې به خلکو عموماً صفا جامې نه بلکې خيرنې جامې اغوستلې[١٥٩] بعضې خلکو به د غم په موقعه د مړي د خاندان والو سره د مرستې دپاره نقدي روپۍ هم ورکولې.[١٦٠] خور لور چې به د سخر په کور مړه شوه نو د کفن حق به يې د هغوی وه.[١٦١]

د غلط رسم و رواج اصلاح

لکه څنگه چې وړاندې ذکر شو په سوات کې ځينې داسې رسمونه وو چې هغو د ټولنې لپاره د ناسور حيثيت لرلو، د رياست حکمرانانو د داسې قسمه رسمونو اصلاح وکړه. په دې اړه سيد عبدالغفور قاسمي ليکلي، چې د بادشاه صيب دا خواهش وه چې خپل قوم په اعلٰی تهذيب سره نېک نام او په ارام کړي. لکه څنگه چې وړاندې ذکر شول چې د غم په موقعه به له لرې لرې نه خپل خپلوان راتلل، د غم خاوندانو او نورو عزيزانو به هغوی ته ډوډۍ ورکوله او د هغوی دارو مدار کې به مصروف وو. له دې نه علاوه به د مړي وارثانو د ځان نه زيات خرڅ په سقاط خيرات کولو او په سود باندې به يې روپۍ اخستلې. د يتيمانو او کونډو نه به تپوس نه کېده، خو غرض دا وه چې نوم وشوی. بادشاه صيب د دې رسمونو اصلاح وکړه او حکم يې جاري کړ چې کوم ځای کې څوک مړ شي د هغه چم خلک دې گور کفن او جنازه کې شرکت کوي د بهر نه دې خلک نه غونډېږي او څوک چې فاتحې ته راځي نو زر دې رخصتيږي، د هغوی په ډوډۍ دې د هيچا خرڅونه نه کيږي. که په مړي پسې څوک د ثواب په خاطر څه وېشل غواړي نو دا دې د وارثانو د وس مطابق وي، د مړي وارثان به د دې کارونو لپاره قرض پېسې نه اخلي. د ودونو په معامله کې چې کوم بې ځايه

خرڅونه کېدل یا د لور د سر مال چې به اخستی شه هغه بند شه. د لور پلار هر څه چې اخلي هغه به د لور مهر وي. ټول رعیت یې درې طبقې کړل، اعلی، متوسط، ادنیٰ او د هرې طبقې د مهر حدونه یې مقرر کړل. د نکاحونو په معاملو کې به چې کومې مقدمې او جګړې کېدلې هغه د نکاح نامو په اجراء د سره ورکې شولې، د شب قدر اتش بازي په ریاست کې قانوناً منع وه. د اختر درې څلور ورځې به هر کلي کې ډزې کېدلې، لارې به بندې وې، واړه او لوی به پکې ژوبل شول، میا ګل عبدالودود دا ناکاره رسم بند که او بیا به اخترې ښې د خوشحالۍ ورځې وې، نه بیا مرچوغنې وې او نه د اخترونو جنګونه، قلاره قلارې وه.[١٦٢] د اختر د دې جنګ جګړو په باره کې میاګل عبدالودود خپل سوانح کې لیکي چې سوات کې به خلکو په اخترونو کې جنګونه کول، هرې علاقې کې او هر کلي کې چې د اختر مونځ به وشه، نو خلک به له کلي نه ووتل او د بل کلي له خلکو سره به یې جنګ شروع که. دا جنګونه به اکثر د مچوغنو وو، خو کله کله به بیا د ټوپکو استعمال ته خبره ورسېده او د اختر په مبارکې ورځې به مرګونه او ژوبلې وشوې.[١٦٣] د اختر د جنګونو په باره کې تاج محمد زېب سر وایي:

د اخـــــــترو ورځــــــــــې دي د ســـــــــعادت
د رحــــــمان پــــــه مســـــلمان دی دا رحمــــــت
خـــــو افســـوس چـــې د دې قـــام هـــر یـــو اخـــتر
تېرېــــــده پــــــه جنـــــګ جـــــدل او هــــم پــــه شر
ښـــــې جــــامې بــــه کـــــړې برابــــر دې نادانــــانو
بیـــــا بـــــه لاړه د اخـــــتر جنــــــګ لـــــه یـــــارانو
جنـــګ بـــه جـــوړ شـــه هـــم د یـــو کـــلي د بـــل
یـــــو د بـــــل شرم لــــــه جــــــوړ وه دا غوبـــــــل
پـــــه اول کـــــــې بــــــه د ګټــــــو دا جنګرېـــــز وه
د رســـــتم پـــــه شـــــانې هـــــر ســـــړی سر تېـــــز وه
بیـــــا بـــــه جـــــوړ شـــــه جنـــــګ د تـــــورو د ټوپـــــک
هـــــر ســـــړي بـــــه وه نیـــــولی میـــــدان کلـــــک
ډېــــر بــــه مــــړه او ډېــــر بــــه ژوبــــل افغانــــان شــــو
پــــه ډېــــر غــــم کــــې بــــه اختــــه ډېــــر نادانــــان شــــو

کـــــه ســـــحر بـــــه چـــا جـــــامې واغوســــتې ســــپينې
بيــــا ماښـــــام لــــــه بــــــه پــــه وينــــو وې رنگينـــــې
لکــــــه رســــــم د ســــــتي چـــــــې حسرـــــــتناک وه
هســــــې دا رســــــم د جنــــــگ د اخــــــتر پـــــاک وه
حـــــــيراني وه بيـــــا هــــــم ډېـــــــره پــــــه دې راز
يــــــو عـــــالم د دې خـــــــلاف نــــــه کــــــړه اواز
او د ملـــــــــک د هــــــــر يومشرـــــــــــ دا ســـــــيالي وه
د اخـــــتر پــــــه جنـــــگ يـــــې لويـــــه خوشـــــحالي وه
لا ډېـــــر خلـــــق اوس راځـــــي هـــــم پــــه نظـــــر کــــې
چـــــې يـــــې خپـــــې دي مـــــاتې شــــوې پــــه اخــــتر کــــې
د چـــــا ســــــترگې ړنـــــدې شــــوي پــــه گـــــذار دي
هوښـــــــيارانو لــــــه اوس دا کتـــــــل پــــــه کـــــــار دي
کـــــه ســـــيدان او کـــــه مــــــلان کـــــه عـــــام اولــــس وه
خـــــو د هـــــر ســــړي هـــــم دې جنـــــگ تــــه هـــــوس وه
نــــــر او ښـــــځې بــــــه هــــــم جمــــــع تلــــــه صــــــحراله
بادشـــــاه زر قـــــانون کــــــړه جـــــوړ د قــــــوم حيالـــــــه
دا خـــــــتر جنگونـــــــــه منـــــــــع سراسر شـــــــــو
خـــــاص او عـــــام اوس پــــه فائـــــدې د ديـــــن خبرشــــو[١٦٤]

په دغه زمانه کې به جنگونه او فسادونه ډېر کېدل نو ځکه دا متل هم مشهور شوی و، چې "د سوات وي ډک د فسات وي". په دې جنگونو کې به له مختلفو کليو نه د ځوانانو ډلې جوړې شوې او له يو بل سره به يې جنگ شروع کړه [١٦٥] د اخترونو له جنگونو نه علاوه به چې په يو کلي کې د دوو کسانو جنگ جوړ شو، نو نيم کلی به د يو په طرف شو او نيم د بل او دغه شان به جنگ ډېر خطرناک شو. ميا گل عبدالودود وويل:

کــــه پــــه يــــو کـــــلي کــــې جـــوړ هــــم د چـــا جنـــگ شي
بيـــا دا نــــور کلـــــی دې ټـــول ترينــــه پــــه ځنــــگ شي
او کـــــه چـــــا هغـــــــو لـــــــه ورکړلـــــــو مـــــــدد
نـــــور بـــــه دوی کــــــوي د خپــــل ځــــان سره بــــــد[١٦٦]

او چې کله دا قانون نافذ شو، نو په دې قانون سره ډېري جګړې ختمې شوې.

د رمضان په باره کې دا یو رسم د میا ګل عبدالودود له وخت نه راروان و، چې په سیدو شریف کې به د ماښام د روژه ماتې اعلان د توپې په ډز کېده[۱۶۷] خو بیا وروسته دا ختم شو، دلته به اکثر په کلي کې یو غل ډاکو د مسافرو لوټ مار کولو او کله کله به داسې هم وشوه چې د یو چا کور یا نور مال به یې په غلا وسوځولو. د غلاګانو ډاکو او مال جایداد سېزلو د مخنیوي لپاره هم میاګل عبدالودود یو طریقه کار جوړ کړ. په دې باره کې زېب سر وایي:

که د کوم کلي په خوا کې مسافر لاړ
په دوکه او په داړه تې مال او زر لاړ
مسافر به هم قسم خوري په خپل مال
هغه کلی دې دا مال ورکړي في الحال
یا دې دا کلی ښکاره هغه رهزن کړي
هسې نه چې دا رهزن بدنام وطن کړي
دا قانون څه وه د امن یو پیغام وه
د پښتون چې اوچت شوی په دې نام وه
اوس د امن په لحاظ د سوات مثال
هرګز نشته په جهان واوره احوال
او که څوک د شپې څه اوسیزي په اور
لا معلوم هېڅ چاته نه وي غل مختور
بیا د ټول کلي به دغه زیان شریک وي
که یو تن کړی دا کار په شپه تاریک وي
اوس هر ګز څوک څه سېزلی په اور نه شي
هسې نه چې تاواني په خپل کور نه شي[۱۶۸]

د فضول خرچۍ د رسم د مخنیوي په باره کې زېب سر داسې وایي:

شه تېر هغه دوران چې به فضول وو دعوتونه
ډک جېب به شه خالي ټول به تاله شو دولتونه
یوازې خو چای نه دی، چرګ، اګۍ او هم کباب
هم کېک او هم بسکټ ورسره نور هسې اسباب

دگـــيرې يـــې بريـــت لـــوى دي هســـې نـــوم يـــې مختصرـــدى
دې قـــام تـــه لـــه دي خرځـــه رســـېدلى لـــوى ضرور دى[١٦٩]

د مياګل جهانزېب له وخت نه مخکې به دکلي خانانو ملکانو د غريبانانو نه ډېر بيګارونه اخستل، دا بيګارونه بيا بند کړل شو. په دې باره کې زېب سر ليکي چې که په يو کلي کې به يو خان يا ملک وه نو د کلي اوسېدونکي په دې مجبور وو چې د هغوی کار بيګار به يې کولو، د هغوی په رضا به يې ناسته ولاړه کوله او د هغوی د حجرې مېلمنو ته به يې کټ بستره ورکوله. هغوی ته به يې په خپلو قلبو مزکې کرلې، د هغوی نهل بوزغلي وغيره پرې تاوان وو او هېڅ چاته دا حق حاصل نه و، چې ځانله د ځملاستو کېښناستو لپاره بېټک او ياحجره جوړه کړي. د حجرې دړ، انډېرى، تېل وغيره ورکول پرې هم لازم وو. مياګل جهان زېب په حکمت او مدار د دې ټولو جابرانه رسمونو خاتمه وکړه.[١٧٠]

دښمنی او نورې ټولنيزي خامياني

د رياست سوات د پښتو ادب له مطالعې نه دهغه وخت د خلکو بعضې خرابياني او خامياني هم مخې ته راځي، لکه د ناحقې ګواهي[١٧١] بي کاري او بې روزګاري[١٧٢] د اوبو په وار جنګونه او نور. تاج محمد زېب سر دې په باره کې داسي وايي:

پـــه وار بـــه د ابـــو وه پـــه هـــر ځـــاى کـــې خـــونرېزي
تـــالان د مـــال دولـــت وه دا وه حـــال د يوســـفزي
يـــو ځـــاى چـــې بـــه پـــه لوټـــه يـــا بـــه ګټـــه جـــوړ شـــه جنـــګ
د کـــوز سره تربـــره بـــه شـــه ملـــک پـــه وينـــو رنـــګ
نـــه دا وه چـــې چـــا کـــړى وى تحقيـــق او يـــا اثبـــات
پـــه ننـــګ بـــه هـــم د پـــړو هـــر چـــا فخرونـــه کـــول زيـــات
ډنـــګ ډنـــګ کـــلي پـــه کـــلي بـــه وشـــوې نغـــاري
د ورور قتـــل تـــه ورور تيـــار ولاړ وه هـــر چـــرې
ودان کـــلي بـــه يـــې وســـول د مســـجد ورک احـــترام وه
انصـــاف دې خلـــق اوکـــړي چـــې دا کفـــر کـــه اســـلام وه
سر تـــو رې بـــه شـــوې ښـــځې او واړه بـــه يتـــيمان شـــو
پـــه قتـــل د مســـلم بـــه د خپـــل رب ټـــول غلـــيمان شـــو
ځوانـــان د پښـــتنو بـــه ټـــول پـــه وقـــت د بهـــار

د بغـــــض د فتنـــــو خـــــزان تـــــالا کـــــړه وار پـــــه وار
امکـــــان نـــــه وه دې ملـــــک تـــــه چـــــې راغلـــــی مســـــافر وی
بيـــــا بيرتـــــه ســـــلامت چـــــې هغـــــه وړی مـــــال وسر وی
د يـــــو کـــــوره بـــــه بـــــل تـــــه چـــــې د چـــــا منکوحـــــه لاړه
بيانـــــه وه خپـــــل خاونـــــد هغـــــه ليـــــدلې عمـــــر واړه[۱۷۳]

په دې قسمه خبرو کې مبالغې هم ډېرې دي، لکه په پاسنو شعرونو کې په اخري شعر کې چې کومه خبره شوې ده دا د منلو وړ نه ده، يعنې چې د چا منکوحه به د خپل کور نه بل کور ته لاړه نو بيا به چا واپس نه ليده.

د دښمن دوست به يې هم خپل دښمن حسابولو [۱۷۴] خو په دښمنۍ کې د يو بل اولاد ته به يې څه نه ويل په خاصه توګه نابالغه اولاد، خو دا زړې خبرې او په معمولي خبرو د شمني کول نوي نسل نه خوښو.[۱۷۵] د يوسفزو د د ښمنيو په باره کې زېب سر داسې وايي:

د دې قـــــام د يوســـــفزي چـــــې پرېشـــــان حـــــال وه
همېشـــــه کســـــب د دوی جنـــــګ و جـــــدال وه
د دوی شـــــغل د يوبـــــل وتـــــل غـــــارت وه
بـــــې امنـــــي او دښـــــمني د دوی عـــــادت وه
کـــــه پـــــه دوی کـــــې څـــــوک تېـــــر شـــــوي مصـــــلحان دي
ګمنـــــام شـــــوي پـــــه جـــــرات او پـــــه ارمـــــان دي[۱۷۶]

د سوات لارې بالکل ورانې وې او هم به پرې ټول عمر اوبه بهېدلې، ځکه خو دا متل مشهور وه چې د سوات هر شی بې لارې دی خو اوبه يې په لارې دي،[۱۷۷] چې د چا به نارينه اولاد نه وه هغه ته به يې ميرات ويلو[۱۷۸] د سوات عامو خلکو به په کورونو کې سپي ساتل خو د يو نيم نه علاوه د عامو مليانو په کورونو کې به سپي نه وو.[۱۷۹]

توهم پرستي

د سوات په خلکو کې توهم پرستي موجوده وه، بعضې وهمونه ډېر د پخوا نه را روان وو او بعضې خبرې د وخت تېرېدو سره بدلېدې. دلته د نظر د بد اثر د مخ نيوي د پاره سپېلني او نظر پاڼه لوګی کېدل.[۱۸۰] د دې نه علاوه د نظر ځاښتونه او تعويذونه هم کولی

شو[181] چې کله به چا ډېره خندا کوله نو دهغې سره به يې دا بد فالي تړلې وه چې دې پسې ډېر لوی غم راروان وي.[182] کله چې به څوک مړ شه نو د هغه په ماښامونو به د حلوه خيرات کولی شه، بعضط خلکو به بيا دغه حلوه نه خوښوله او ويل به يې چې شيطانان پرې د مړي د غسل د ابو نه څاڅکي کوي.[183] ښځې به د خپلو حاجتونو د غوښتلو او د مختلفو مرضونو د دفع کولو د پاره زيارتونو ته تللې او سوالونه به يې کول.[184] طالب العلمانو به د شهيدانو د زيارتونو نه د پاس کېدو سوالونه کول.[185] د پخوا زمانې ولس د فهم په ځای د وهم ښکار او پرستار وه او دغه وجه وه چې په ملک کې د پيرانو او فقيرانو کمی نه وه. د فال، تعويذ، زيارت، پيرانو فقيرانو د دعاگانو اهميت ډېر زيات وه او د وخت چالاکانو هم ډېر په اسانۍ سره په ولس کې خپل اثر رسوخ پيدا کولی شه. په رياستي دور کې د فال تعويذ او نذرانو شکرانو بازار لړ سوړ شه البته قبرپرستي په تېر د ستور بيا هم برابر جاري وه او هېڅ کمی پکې نه وه راغلی. بعضې داسې ناپوهان هم وو چې زيارتونه به يې حاجت روا گڼل او غير شرعي نامعقول سوالونه به يې ترې کول، خلکو به بعضې زيارتونه د بعضې مرضونو د علاج د پاره په خاصه توگه طور مقرر کړي وو لکه مشهور حصار بابا د حصار چکدرې او باچاگل بابا د دېولۍ يې د ننکو او مختلفو فاسدو دانو د علاج تهېکداران کړي وو او بعضې زيارتونو له يې د بادو بابانوم ايښی وه. دا ناپوهي د زنانو ډېره زياته وه.[186]کله چې به په فصلونو مرض راغی نو د هغو د علاج لپاره به يې شگې د مولې او کرلې.[187] د فال او د نجوم ذکر هم د رياست سوات په ادب کې موندل کېږي، لکه دا شعر:

ســــــتا د ســــــتم پکـــــــې جالونــــــه گـــــــورم
چـــــــې پــــــه نجـــــوم بانـــــدې فالونـــــه گـــــورم[188]

د ستورو مختلفو اثراتو په باره کې د زېب سر دا شعر وگورئ:

د زهـــرىٰ او مشـــتري هـــم کـــه څـــه نحـــس ســـعادت شـــته
د زحـــل او عطـــاردهم کـــه څـــه بغـــض محبـــت شـــته[189]

پـه څلـورم بـاب کـې چـې پکـې د سـوات لـه رياسـت نـه د اول دور د پښـتو ادب تجزيـه شـوې ده پـه هغـې کـې د علـم نجـوم پـه اړه ډېـرې حـوالې پـه نظـر راځـي چـې هلتـه پـه تفصـيل سره موجـودې دي. ځينـو خلکـو بـه پـه ورځـو او مياشـتو کـې هـم د سپېره والي او غوړوالي فالونه کتل.

دارو درمل او علاج

په ریاست سوات کې د باقاعده هسپتالونو د جوړېدو او د ډاکټرانو د علاج معالجې نه مخکې د علاج روایتي طریقې وې لکه ځنګه چې وړاندې ذکر شوي دي رنځوران به زیارتونو او بابا ګانو ته تلل، په ملیانو به یې تعویذونه او ځابښتونه کول او هغوی ته به یې نذرانې شکرانې ورکولې.[۱۹۰] اکثر به خلکو د بیمار د صحت مندۍ لپاره خیراتونه هم کول،[۱۹۱] زیاتره به یې ګونګړي پخول.[۱۹۲] کله چې طبیبان او بیا وروسته ډاکټران راغلل نو اول د ملا او د طبیب یا د حکیم ورانه وه او یو بل یې بالکل نه منل. ملا به خلک ځابښت تعویذ او دم درود ته رابښکل او حکیم او طبیب به خپلو نسخو ته او چې کله ډاکټران راغلل نو بیا دا درې واړه د یو بل حریفان شو، ډېرو خلکو به د ډاکټر پر ځای ملا ته تر جیح ورکوله،[۱۹۳]دلته طبیبان هم هغه طبیبان وو چې هغه په هېڅ هم نه پوهېدل او د هغوی نسخو به مریض ته د ګټې پر ځای ښه تاوان ورکولو،[۱۹۴] ډېرو خلکو به کورني علاجونه هم کول، لکه په تبه کې به یې شمکۍ اوټکولو او هغه به یې مریض ته ورکولو،[۱۹۵] که سپې به ځوک زخمي کړ نو په زخم کې به یې ورته رانجه اچول.[۱۹۶]

عدالتي نظام

د ریاست سوات د عدالتي نظام په باره کې زېب سر داسې وایي:

په هر ځای دور قائم د عدالت شه
انصاف عدل تقویت د حکومت شه
د هر چا د پاره شته هم دا اختیار
چې خپل حال هم خپل باچا ته کړي اظهار
او بادشاه په عدل فضل په احسان
داد رسي مدام کوي د هر انسان
په هر ځای کې مقرر تحصیلداران دي
مشران یې هم د خپل ځای مشران دي
بل موجود په محکمه کې به قاضي وي
د قاضي په فیصله به ټول راضي وي
هیڅ امکان نشته که جوړه ځوک هیله کړي
چې به ماته د قاضي ځوک فیصله کړي

د قـــــاضي هـــــم ډېــــر پـــــه دې سره وقـــــار دی
هــــر قـــــاضي د حکومـــــت وظيفـــــه خـــوار دی
مقـــــرر پـــــه علاقـــــه يـــــو تحصـــــيلدار وي
او پـــــه ضـــــلع يـــــو حـــــاکم لائـــــق هوښـــــيار وي
پـــــه حـــــاکم بانـــــدې حـــــاکم د شـــــاه وزيـــــر شـــــته
پـــــه وزيـــــر وزيـــــراعظم هـــــم د امـــــير شـــــته
دوی پـــــه غـــــور دادرسي هـــــم دهـــــر چـــــا کـــــړي
نـــــه ځـــــه کـــــبر نـــــه غـــــرور او نـــــه جفـــــا کـــــړي
نـــــور هـــــم هـــــر قســـــمه جګـــــړو لـــــره قـــــانون دی
دا قـــــانون د عـــــدل فضـــــل رهنمـــــون دی[۱۹۷]

عبدالغفور قاسمي ليکلي، چې په رياست کې په فيصله، ډګرۍ، اپيل، د قرضې په وصولۍ غرض په هېڅ معامله فيس نه شي اخستل کېدی. هره معامله که لويه وي يا وړه، ديواني وي يا فوجداري، د مدعي مدعا عليه يوه پيسه نه لګي اکثر په اوله پېشۍ کې که نه وي په دويمه خواه مخواه معامله غوځيګي.[۱۹۸]

تعليمي نظام

په رياست کې اول اول د تعليم د ا حال و، چې که چرې د ميا ګل عبدالودود په نوم به چرته خط راغی نو هغه خط به يې په لاس د يو قاصد تهاڼې (مالاکنډ ايجنسي) ته ولېږلو او قاصد به بيا د خط زباني تشريح مياګل عبدالودود ته کوله.[۱۹۹]په رياست سوات کې د تعليم په باره کې سيد عبدالغور قاسمي ليکي چې د رياست په ابتدايي زمانه کې د علم د حاصلو لو مکمل اتنظام مياګل عبدالودود شروع که. په هر کلي کې يو دوه عالمان داسې وو چې هغوی د مذهب د اعلیٰ تعليم مدرّسان وو. حکومت هاغه عالمانو ته باقاعده تنخواه ورکوله، د هر جماعت امام ته حکم وه چې هغه دې د محلې ماشومانو ته مونځ، قران او د دين ضروريات ښايي، مکتبونه او مدرسې يې هم جاري کړې وې چې متو سط تعليم په هغې کې حاصلېدلو. د اعلیٰ تعليم د پاره به طالبعلمان د انګريزي علاقې کالجونو کې داخيلېدل او رياست به د هغوی ټول خرچ په دې شرط برداشت کولو چې دوی به په رياست کې پينځه کاله ملازمت کوي او رياست به دوی له معقوله تنخواه ورکوي. په اول

دور کې د متوسط تعليم دپاره په سيدو شريف کې يو انګرېزي مډل سکول وه.[۲۰۰] ياده دې وي چې دا د ۱۹۳۹م خبرې دي کوم وخت کې چې جهانزېب کالج نه وه جوړشوی .

زېب سر د رياست د تعليمي ترقۍ په حواله داسې ليکي:

او ابـــــــادې هـــــــم د علـــــــم مدرســــــــې شـــــــوې
د جـــــمال کـــــمال نصـــــيب تـــــرې نـــــه حصـــــې شـــــوې
وظـــــــــائف د علـــــــــماؤ مقـــــــــــرر شــــــــــو
مســـــــتحق د هـــــــر يـــــــو قـــــــدر هـــــــنر ورشـــــــو[۲۰۱]

کله چې دلته تعليمي ادارې جوړې شوې نو بيا هم د زنانو د تعليم طرف ته رحجان کم وه او يوه پېغله جينۍ سکول ته لېږل به د شرم کار وه[۲۰۲] د مذهبي تعليم د حاصلولو دپاره په سيدوشريف کې يوه ديني مدرسه هم جوړه شوې وه.[۲۰۳]په سکولونو او کالجونو کې به له بنيادي ديني علومو نه علاوه صرف عصري علوم زده کولی شول او ديني علوم به په ديني مدرسو کې حاصلېدل، خو بيا هم وخت پر وخت داکوښښ شوی و، چې په سکولونو کالجونو کې دې هم دا علوم شامل شي، لکه د تفسير تيسير په ديبا چه کې د مصنف ځوی مولوي محمد صالح داسي ليکي:

> که چرې حکومت عاليه د سوات په خپله محکمه تعليم کې د دويم کلاس نه تر آخره پورې تدريجاً دې [تفسير تيسر] لره رواج ورکړي نو عام و خاص به ترې فائده واخلي او د مصنّف مرحوم د پاره به تر قيامته پورې باعث خېر او حقيقي يادګار پاتې شي او د خپلې پښتو ژبې قدر قيمت به هم اوکړی شي.[۲۰٤]

په سوات کې په رياستي دور کې په تعليم کې ښه ترقي شوې وه. د مياګل عبدالودود په وخت کې په دې کار شروع شو او بيا د مياګل جهانزېب په وخت کې په تعليمي ادارو کې زياتوالی راغی او په سوات کې يې جهانزېب کالج هم جوړ کړ.

جديديت او فېشن

تهذيبي ارتقا فطري خبره ده. د زمانې له بدلېدلو سره د سوات خلک هم تعليم يافته شول او د نورې دنيا له رسمونو رواجونو او فېشنونو نه خبر شول او د سوات په ټولنه کې هم جديديت طرف ته يو بدلون شروع شو، لکه څنګه چې دا فطري خبره ده چې په ټولنه کې چې کله اول يو نوی څيز راشي نو هغه په اسانه نه قبلېږي همدغه شان په سوات کې

فېشن او جديديت د ډېرو خلکو خوښ نه و. کوم جديديت يا کوم فېشن چې عام شو نو د هغه په باره کې ليکوالانو خپل رد عمل داسې ښکاره کړی دی. عبداللطيف شاهين د فېشن په يلغار کې يوې ورکې پېغلې ته د "ټيډي پېغله" تر سرخط لاندي داسې مخاطب دی:

تـــــه زمـــــا نظــــــر کـــــې دومــــــره ســــــپکه شــــــوې
خـــــــــدايگو د ډېـــــــــران د سر ښکــــــــــه شــــــــوې
خپـــــــل مقــــــام دې او پېژنـــــــه وبښـــــــه شــــــه
ای د حــــــوا لـــــــورې بـــــــې درکـــــــه شـــــــوې
ســــــتا پـــــه ژوندانـــــــه کـــــــې مقصـــــــودونه دي
تـــــه د خپـــــل مقصـــــــد د لارې ورکـــــه شــــــوې
شرم حيـــــا تـــــــا د ځانــــــــه لـــــــرې کـــــــړه
نـــــه لـــــرې حيـــــا ســــــترگو کــــــې کلکــــــه شـــــوې
ځنـــــې دې قينچـــــي کـــــړې څـــــادر لـــــرې شـــــه
تـــــف لعنـــــت پـــــه تـــــا شـــــه يـــــو کوتکـــــه شـــــوې[۲۰۵]

سيف الملوک صديقي په خپل کتاب کې د "ټيډي" تر سر خط لاندې داسې ليکي:

لرشــــــه ليونيـــــه اوس د گنـــــــد خـــــــبرې لاړلــــــې
ښــــه شـــوه د پـــــړدې او قيـــــدو بنـــــد خـــــبرې لاړلــــې
گـــــرځم جگـــــه جگـــــه د حيـــــا حجـــــاب مـــــې لـــــرې کـــــه
مـــــه وايـــــه وا عظـــــه ســـــتا د پنـــــد خـــــبرې لاړلــــې
شـــــان تـــــه زمـــــا اوگـــــوره چـــــې څـــــومره ډول ناکـــــه يـــــم
څـــــوک چـــــې پټېـــــده د هغـــــه ژونـــــد خـــــبرې لاړلــــې
جــــــام او صراحـــــــې زمـــــــا د شـــــــونډو د گردنـــــــه زار
شــــاته شـــاته مـــه گـــوره د هنـــد خـــبرې لاړلــــې
زه او ځـــما دوســـت بـــه د پکچـــر ليـــدو لـــه ځـــان لـــه ځـــو
کلـــب تـــه بـــه بـــل بيـــا يـــم د خاونـــد خـــبرې لاړلــــې
وخـــت بـــدل شـــه داســـې صـــديقي د ســـړي وړانـــدې ځـــي
لــــوريې پکـــــار نــــه ده د فرزنـــــد خـــــبرې لاړلــــې[۲۰۶]

په ايلم رساله کې نادرخان د ټيډي فېشن په باره کې داسې ليکي:

تعليم يافته زلمي او پېغلې دا فېشن ډېر خوښوي ـ او هغه په دې ډېر غټ فخر کوي، دې فېشن ته ټيډي فېشن وايي ـ لعنت دې شي په داسې لغړ او سړي خور فېشن باندې د دې نه که سړی لنډيلغړ اوګرځي نو هېڅ فرق به پکې نه وي ـ ولې چې په دې فېشن ايبل جامو کې د سړي هراندام بيل بيل ښکاريږي او د وجود اتار او چړهاؤ يې واضحه په نظر راځي ـ که دې ته سړی د ټيډي فېشن په ځائی د سړي خورو فېشن ووايي نو هېڅ کله به غلطه نه وي ـ کوم چې د نوې زماني د خلقو خوښ فېشن دی.[۲۰۷]

له دې نه پته لګي چې په هغه دور کې چې د هلکانو او جينکو په لباس کې کوم بدلون راغلی و، نو دغه فېشن د خلکو نه و خوښ شوی او ليکوالانو يا نېغ په نېغه او يا په طنزيه انداز کې پر دغه فېشن نيوکې کړي دي.

تفريح او مېلې

چې کله په سوات کې د اخترونو په موقعو د جهل مظاهرې او جنګونه ختم شول، نو دا ضروري وه چې د اختر په ورځ دې خلک په سيل او تفريح کې مصروف شي، نو دې غرض لپاره مياګل عبدالودود له مينګورې نه دوه ميله لرې د سيند پر غاړه په يو ميدان کې د مېلې لګولو طريقه جاري کړه. د سوات د اخترونو دغه مېله بيا ډېره دلچسپه هم ثابته شوه، دې مېلې کې به د نورو کرتبونو نه علاوه نېزه بازي هم کېده. د سوات خلکو ته بيا مېلې ډېر خوند ورکړ. دا مېله به په ورکوټي اختر کې ځلور او په لوی اختر کې پينځه ورځې جاري وه. ورو ورو د سوات خلک د اختر په خوشحالۍ او د اختر په مقصد پوهه شول او دغه رنګ د سوات د اختر مېله ډېره مشهوره وه. د پښتونخوا د هرې علاقې نه به په سوونو خلک دې مېلې ته راتلل او په دې طريقه د پښتونوال ماحول دا مېله د قومي اتحاد، محبت او د باهمي ميل جول يوه مفيده ذريعه ثابته شوه. په دې مېله کې جواري يا مرزان جنګول يا نور بيهوده کارونه منع وو، لنډه دا چې د سوات مېله د پښتون تهذيب يوه نمونه وه.[۲۰۸] د دې مېلې په باره کې زېب سر داسې ليکي:

ده پــــه ســـــيند کـــې ښــــه صـــفا جــــوړه بنګلــــه کـــــړه
مقــــــرر يــــــې د اخــــــتر هلتــــــه مېلــــــه کـــــــړه
ولي عهــــــــد جهــــــان زېــــــب صــــــاحب وقــــــار
د تفــــــريح ســــــامان کــــــه ټــــــول هلتــــــه تيــــــار

ښــــځې نـــــر هـــــم شـــــو جـــــدا د يـــــو د بلـــــه
دا فرمــــان دی هــــم د ســــوات د شــــاه افضـــله
د هــــــر قســــم بيهـــــوده ټــــول حرکــــات
قانونـــــاً دي منــــع کــــړي شــــاه د ســـــوات[209]

د اختر په موقعه د سوات د مېلې ذکر په يو بل ځای کې زېب سر داسې کوي:

اخـــتر بـــه نـــه شي مبـــارک پـــه مبـــارک ويلـــو
نــا مبـــارک نقـــش کـــه تـــا پـــه خپـــل دفـــتر اېښـــی دی
فضـــول رســـمونه تلـــه راتلـــه ګرځېـــده نـــه دي پکـــار
پـــه هـــر عظـــيم کـــار کـــې رحـــيم عظـــيم خطـــر اېښـــی دی
چـــې پـــه هـــر وخـــت تـــاله بخـــت او احـــترام درکـــوي
هغـــه پېغـــام تالـــه د ســـوات بادشـــاه نېـــک نـــام درکـــوي
کـــه زيـــات غـــرض دې د عشرـــت وي نـــو مېلـــې لـــه لاړشـــه
هلتـــه ســـامان يـــې د تفـــريح ټـــول سراسر اېښـــی دی
د جنـــګ جـــدل او د فتنـــو دور اوس پـــاتې نـــه شـــه
نظـــام د صـــلحې اوس د امـــن پېغمـــبر اېښـــی دی[210]

وايي چې له دې نه اول به په کانجو کې د شهيد بابا په بڼ کې يوه مېله لګېده، نارينه او زنانه دواړه طبقې به دغلته موجود وې او د قسما قسم قومي سرودونو مجلسونه به ګرم وو، ډول سرنا به هر ځای غرېده. سندر غاړي (چتيان طالبان) به په جوش خروش ګډېدل او ملکي لوليانو به هم نڅاوې کولې او دا ولس به ترې چاپېره ولاړ وه، د واه واه نعرې به اسمان ته رسېدې، ناڅاپه به نوي سرودګران په زوړ سوران د غلته راورسېدل او په يو ځای کې به يې ټنګ ټکور جوړ کړ او چغې سورې به يې پورته کړې، نو دې ولس به دا زاړه سرودګر يوازې پرځای پر ښنودل او په نوو پسې به لاړل.

په شهيد بابا کې د محمد عبدالحق جهانزېب حکومت د نارينو د اجتماع بنديز کړی وه. نارينو او زنانو به په يوه اجتماع کې شرکت هېڅ کله نه شو کولی او بيا به د اختر مېله له سيند نه مينګورې طرف ته لګېده او قسم قسم تماشې به پکې موجود وې او د رياست نه بهرخلک به ورت هم راتلل.[211] د مياګل عبدالحق جهانزېب پخپله هم د ستار اواز او ساز خوښ وو او کله کله به د سرود مجلس کېده، خو د سرود دپاره تنخواه خواره سرودګر نه وو

مقرر شوي.[۲۱۲] د مياګل عبدالودود مشر نيکه اخون عبدالغفور (سيدو بابا) يو ځل د تماشې خلاف فتوٰی ورکړې وه او دا يې ويلي وو چې سوات کې به هېڅ څوک په ودونو يا نورو خوشحالو تماشې نه کوي، له هغې ورځې نه بعد په ټول سوات ډمې ګډېده، مجلسونه او داسې نورې تماشې بندې شوې وې.[۳۰] دغه رنګ د چيلم څښل يې بند کړي وو، هېڅ چا سوات کې چيلم نه شه څښلی.[۲۱۳] زېب سر ليکي چې دلته د شراب خانو[۳۱] او ناټک د نومه څوک اشنا نه دي.[۲۱۴] د ۱۹۵۸ کال د والي د يو حکم مطابق چې څوک د نشې په حالت کې يا د شراب څښلو په حالت کې په کوڅه يا بازار کې ونيولی شه نو پينځه سوه روپۍ جرمانه به ورکوي او يوه مياشت به قيد کېږي.[۲۱۵] د تهيټر په باره کې زېب سر په "تماشه" نظم کې داسې مکالمه بيان کړې ده:

يو يار بل ته

زنــــده نــــاچ دی پــــه تهيټــــر کـــې راشــــه وينــــه اشـــتهار
خـــواه مخـــواه بـــه ځـــو بېګالـــه ځـــان د وختـــه کـــړه تيـــار
يــــو ســــاعت بــــه اول دروممـــو د ارام مقـــام بـــه مومـــو
د عشرــــت شراب بــــه شـــو مـــو پــــه محفـــل د ګـــل نګـــار
هغـــــه ځـــــای د خوشــــحالی دی د ســــيالانو د ســــيالی دی
دا مجلـــس د نېـــک فـــالی دی هـــم د عـــيش هـــم د وقـــار

هغه بل يار

دا تـــه څـــه وايـــې نادانـــه بـــس کـــه بـــس لـــه دې بيـــا نـــه
دا خـــــلاف وه ســـــتا د شـــــانه تـــــاچې او کـــــړه دا ګفتـــــار
هغــــه ځــــای د ضــــلالت دی ځــــای د غــــم او د ذلــــت دی
کــــه دې ديــــن کــــه دې دولــــت دی تابــــه کــــړي پــــه دواړو خــــوار
دا دښـــمن ســـتا د وطـــن دی دا يـــې مکـــر دايـــې فـــن دی
دا خــــزان ســـــتا د ګلشــــن دی دا صر صر ســــتاد ګلــــزار
دا هـــم ســـتا د مـــرګ ښـــادي ده ســـتا د ملـــک هـــم بربـــادي ده

[۳۰] وايي چې د دې فتوې باوجود هم ټول په ټوله دا تماشې نه وې بندې شوې.

[۳۱] شراب خانې خو نه وې البته د شرابو ټېکې به د والي صېب په حکومت کې د سرکار په اجازت ورکولې کېدې.

صــــد افســـوس څـــه نـــا مـــرادي ده چـــې پـــرې تـــه شـــوې گرفتـــار
دا طلســـم ســـتا د بنـــد دی ســـتا دشـــمن لـــوی دا نشـــمند دی
څـــوک چـــې بنـــد پـــه دې کمنـــد دی بیـــا تـــل گرځـــي شرمســـار
دا تـــوهین ســـتا د اســـلام دی دا هـــم شرم ســـتا د قـــام دی
دا هـــم ډک د زهـــرو جـــام دی چـــې بـــه تـــاکړي خـــواروزار
دا دوران د انقـــلاب دی انقـــلاب خانـــه خـــراب دی
د هغـــو څـــه خـــورد وخـــواب دی چـــې پـــه بنـــد کـــې وي حصـــار
ســـتا کـــه خیـــال د خپـــل عـــزت وي هـــم دې حـــب د خپـــل ملـــت وي
ســـتا بـــه تـــل عـــادت ســـنت وي د نبـــي خـــیرالا بـــرار
د سر حـــد ځنـــي پیغـــام تـــل راځـــي هـــم ســـتا پـــه نـــام
همـــدردان هـــم د اســـلام صـــد حسرـــت کـــړي ســـتا پـــه کـــار
پـــه افســـوس فرېـــب سره ژاړه ســـتا د عـــیش زمانـــه لاړه
چـــې دې لاړه یـــاران واړه نـــن صـــبا دی ســـتا رفتـــار[٢١٦]

خو ډاکټر سلطان روم لیکي چې ریاست ډېر زر مغربي او سیکولر رنگ واخسته:

> Swat State 'became increasingly secular. It is singificant to note that one of Abdul Wadud first moves on gaining real power was to banish all religious mendicants form Swat.' In Swat, unlike in Dir, 'the ruling family, while descended from a Sufi mystic, was secularizing and westernizing as rapidly as possible as it solidified its rule under British protection.'[٢١٧]

ترجمه: د سوات ریاست په تېزۍ سره سیکولر جوړېده، دا خبره د یادولو وړ ده چې کله عبدالودود ته حقیقي اختیارات مېلاو شول، نو هغه ټول مذهبي ملنگان په سوات بند کړل. په سوات کې هم د دیر د ریاست په شان حکمرانه طبقه د یو صوفي او ولي په اولاد کې وه، خو دوی د برتانوي تحفظ لاندې دې ریاست ته په تېزۍ سره مغربي رنگ ورکولو او دا یې سیکولر کولو.

ډاکټرسلطان روم صیب مخکې لیکي چې د میاگل عبدالودود په وخت کې په سېنما پابندي وه خو دا پابندي برقرار پاتې نه شوه او میاگل عبدالحق جهانزېب (والي سوات) د سېنماگانو د جوړولو اجازت ورکړ او تر ١٩٦٥ پورې دلته دوه سېنماگانې جوړې

شوې وې، يوه سوات سينما او بله طارق سينما.[218] د مياګل عبدالودود په وخت کې به شراب چا په ښکاره نه شو څښلی خو چې کله هغه د حکومت نه لاس واخسته نو بيا حالات بدل شول. اګر چې والي صيب د مقامي شراب جوړونکو نه تحريري ضمانتونه اخستي وو چې بيا به شراب نه جوړوي خو د بهر نه د شرابو راتګ موجود وه. د دې به باقاعده ټهېکې ورکول کېدې او د دې نه به سرکاري خزانې ته هم ګټه رسېده.[219] د فلمونو په هکله د ۱۹۶۹م په ايلم رساله کې زيدالله خان مستانه ليکي چې که فلم خراب څيز وی نو حکومت به ورته دومره ترجيح نه ورکوله ځکه چې هر سر براه ملت دا غواړي چې د هغه رعايا دې په معاشي لحاظ سره ښکلی او ارام ژوند تېر کړي. هغه وړاندې ليکي چې په فلم کتو کې دوه فايدې دي يو دا چې حکومت په فلم جوړوونکو باندې ټېکسونه لګوي او هغه دولت د غريبانو مسکينانو د تعليم او نورو داسي ښېګړو په کار باندې لګوي،که چرې مونږ فلم کتل پرېږدو نو حکومت ته چې د فلم نه کومه فايده حاصلېږي هغه به بنده شي او د ملک په اقتصادي حالت کې به فرق راشي. دويم دا چې د فلم کتو نه ښه تاثر پيداکېږي خو په دې شرط چې فلم کتونکي له حد نه زيات فلمونه نه ګوري، ځکه چې په داسي کولو سره د ډېرو فلم کتونکو په اخلاقو غلط اثر پرېوځي، د وخت او د پېسو نقصان دی، فلم د تعليم ورکولو ښه ذريعه ده او د جهالت بېخ کني کوي او بله غټه فائده يې دا ده چې د خلکو نه د زور زياتي احساس لرې کوي.[220]

د لوبو ميدانونه

په رياست سوات کې له نورو لوبو نه علاوه د پولو او د ټېنس ميدانونه هم وو. په دې اړه زېب سر داسې وايي:

د سـېدو د مدرسـې چـې عـمارت دی
هغـه هـم لائـق د هـر قسـمه صـفت دی
د پولـو او د ټېـنس ارت ميـدان
خـاص پـه خـوا د مدرسـې کـې دی عيـان[221]

د خلکـو د سـيل او تفـريح لپـاره مواقـع پـه مرکـزي ځـايونو کـې پيـدا کـول د حکومت کار و.

د ماشو مانو لوبې

د رياست سوات په پښتو ادب کې چې د ماشومانو د کومو لوبو ذکر راغلی دی، په هغې کې غوزان، خرصلال، انگۍ، ځپلي مار[۲۲۲]، باگه[۲۲۳] او نورې مشهورې لوبې دي.

د ښځو ژوند

د رياست سوات د پښتو ادب له تجزيې نه په سوات کې د ښځو د ژوند ژواک او د هغوی د حقونو او ذمه واريانو اندازه په اسانه لگېدلی شي. دا خبره په عام طور منلی شي چې د ښځينه وو ستر مذهباً لازمي دی، خو په هغه زمانه کې به د ولس د متوسط او ادنٰی طبقو ښځو د دې داسې خاص خيال نه ساته، اکثرو ښځو به په کليو او صحرا خپل خپل کارونه کول، واښه لرگي به يې راوړل، ځنگل ته به تللې، په بازارونو کې به يې سود سودا کوله او په دغه زمانه کې به د لويو او معتبرو کورنو ښځې په کورونو کې ناستې وې. د ښځو د ستر په باره کې تاج محمد خان زېب سر داسې ليکي:

> که ستر د مذهب په لحاظ کيږي نو په دې صورت کې خو د امير او غريب سوال نه پيدا کيږي ـ اسلام زنانو ته د گواهۍ ورکولو پوره پوره حق ورکړی دی نو په کورونو کې دننه زنانه به خپل شهادت ورکولو کې د خپل دغه اسلامي حقه څنگه فائده واخستی شي ـ اسلام په واضحو او صفا الفاظو کې دا اعلان کوي چې ستر د عورت فرض دی مخ لاس او خپې هرگز عورت نه دی مگر دلته دلاس او خپاو مخ پټول هم لازمي او ضروري دي.[۲۲٤]

په هغه وخت کې د ښځو د تعليم هم عام خلک په حق کې نه وو، بلکې خلاف به يې وو. دلته د ښځو د تعليم ډېر کمی و او ښځو ته تعليم ورکول به په پښتو داغ گڼل کېده، دغه وجه وه چې يو شاعر داسې وايي:

> گـــــوره د نـــــورو خلقـــــو ښـــــځې پـــــاس اســـــمان لتـــــوي
> زمـــــونږه ښـــــځې پـــــه دې زمکـــــه باباگـــــان لتـــــوي[۲۲۵]

د ښځو د تعليم د ضرورت او اهميت په باره کې نعمتي ليکي چې له دې خبرې څوک انکار نه شي کولی چې بې تعليمه ښځې ډېرې توهم پرستې او بيا لا پښتنې بې تعليمه ښځې خو د نوکو څوکو سره وهم وهم وي. د دوی د وهمونو لرې کولو لپاره ډېره ضروري ده چې د ښځو د تعليم طرف ته توجه وکړی شي، وهم داسې ناکاره څيز دی چې د ملک، قوم او دين درې واړو په حقله نقصان رسونکی دی. په هرې کورنۍ کې قسم قسم

رسمونه رواجونه د تعلیم د نشوالي په وجه موجود دي لکه پیریان، دېوان، تعویذ، منتر، په قبرونو سوال کول وغېره وغېره.[۲۲۶] په هغه زمانه کې به پښتنو د ښځو د تعلیم باره کې دا شکایت کوي چې که لور خور تعلیم وکړي نو هغه به فضول خرڅه شي، هغه به ازاده شي یا هغه به بد چلنه شي او که اوس د کور ډیوه ده نو بیا به د محفل ډیوه شي.[۲۲۷] تاج محمد خان زېب سر هم وایي چې دا ولس د زنانو د تعلیم طرف ته هېڅ خیال نه کوي اگر چې والي صیب د زنانو د تعلیم دپاره یو څو سکولونه جوړ کړي وو خو دې د تمام ولس د زنانو د تعلیم بندوبست نه شو کولی. په هغه زمانه کې که سکولونه زیات هم وو خو د زنانو استاذانو موندل گران وو.[۲۲۸] په ښځو د پردې قید خو خامخا و، خو د دوی د سیل او تفریح لپاره څه انتظام نه و او دغه وجه وه چې دې حالاتو د ښځو په صحت هم ډېر خراب اثر غورځولی و، کوم ته چې زېب سر داسې اشاره کړې ده:

> د قید او پردې دا جابرانه رسم اوس دې حد ته رسېدلی دی چې د معتبروکورونو زنانه اوس په کم عمرۍ کې زړې معلومېږي او اکثرې غریبانې بیمارانې وي - ولې چې دوي د همېشه د پاره د تازه هوا او نقل وحرکته محرومې وي.[۲۲۹]

خو دلته دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې په زنانو دومره زیاتې پابندیانې هم نه وې د کومو تشبیهه چې زېب سر له قید سره ورکړې ده ځکه چې زنانه به بابا گانو ته تللې، میلو ته به تللې او دغه رنگ پټو ته به هم تللې. د ښځو د سزا په باره کې تاج محمد خان زیب سر لیکلي، چې دې په باره کې دوه زړې طریقې رائج وې، ځینو خلکو چې له خپلو ښځو سره په خبرو اترو قدرې ځوک ولید او یا د چا عیب ژن، دروغژن او دښمن په لمسون به یې په خپلو منکوحو شک پیدا شو نو په ډېره بې رحمۍ سره به یې قتلوله او هېڅ انصاف، تحقیق او تپوس به نه وه او بعضې کسان به داسې وو چې په فعل شنیع خپلې منکوحې په خپلو سترگو وینې او د ریاستي عدالتونو په فیصلو به یې اکتفا وکړه. زېب سر دا هم لیکي چې عدالتونو خو به نارینو ته د قید او جرمانې مناسب سزا ورکړه مگر د فاحشو زنانو د سزا معقول انتظام نه وه او دا فاحشې زنانه به دحفاظت لپاره خپلو رشته دارانو ته حواله کړی شوې، نو د دې نتېجه به دا وه چې د دې فاحشې زنانه خاوند په عدالتي فیصلو صبر نه شه او د ښځې د ټول خاندان سره به یې دشمني ساتله او د یو اوږد فساد سبب به جوړ شه او دا په دې چې دغه زنانه به بیا چا کور ته راوستی نه شوه او د موهومې بدنامۍ

په خیال به یې ورته طلاق هم نه شو ورکولی، د زنانه د نان نفقې انتظام به هم بیا نه وه نو نورې مسئلې به ترې جوړې شوې.[230]

د ښځو راهداري

چې کله جهانزېب د وزارت عظمٰی اختیارات په لاس کې واخستل نو د ولس د ناموس د حفاظت او د اغوا د وارداتو د ممانعت په غرض یې دا فرمان صادر که چې هېڅ زنانه به بې د سرکاري تصدیق او شناخت نامې نه د ریاست نه بهر نه شي تلی او که تلل یې ضروري وي، نو د خاوند، ورور او د پلار په ملګرتیا کې به ځي او په هر حال به ورسره راهداري وي. د دې فرمان په وجه د ولس د ناموس د کافي حده پورې حفاظت اوشه او د ولس د ناموس د دښمنانو په لارو کې مشکلات پیدا شول.[231]په ریاستي دور کې به ښځو ته ته په میراث کې حصه نه شوه ورکېدی[232] بعضې خبرې داسې وې چې په هغو کې به د زنانو ډېر خیال ساتلی شه لکه په جنګونو کې به په زنانو یا په ماشومانو ګوزار نه شو کولی.[233] د زنانو د ګودر په لار نارینه سړي ته د تللو اجازت نه وه [234] باچا صیب په خپل سوانح کې لیکي چې خویاندو، لوڼو او ښځو ته مې هغه حقوق ورکړل کوم چې هغوی ته شریعت ورکړي دي[235] خو په ریاستي دور کې هم د رواج قانون نافذ وه او ښځو ته به په میراث کې حصه نه مېلاوېده. میاګل عبدالودود دعوه څکه غلطه ده چې هغه ښځې د وراثت له حق نه محرومې کړې وې او په مهر کې چې کومه زمکه به ښځې ته مېلاوشوه نو د هغې په ګاڼه یا خرڅ به هم پابندي وه.[236]

مور او د ماشوم پالنه

قانته بېګم په خپله سفرنامه کې لیکي چې ما په سوات کې یوه عجیبه خبره دا ولیده چې د سوات د اعلی او متوسطې طبقې زنانه خپلو بچو ته پۍ نه ورکوي بلکې دایانې ساتي.[237]

ټولنیز تعلقات

د سوات خلکو به لکه د نورو پښتنو له یو بل سره په ټولنیز ژوند کې مالي او جاني مرسته کوله، دې ته په عام عرف کې اشر غوبل، غم ښادي او کلی کلوبغي وایي. د باهمي امداد چې کومې شریفانه طریقې دې ولس اختیار کړې وې هغې د زباني جمع خرچ سره

هېڅ تعلق نه لرلو، دې ولس صرف د عملي کار سره کار وه. د واده په موقعه به يې د خپلو تعلق دارانو سره د وس مطابق امداد کولو چې د پښتنو په اصطلاح کې به يې ورته جنج ويلو. دا رنګ د غم په موقعه به يې هم د غمژن مناسب امداد کولو. د کلي کلويعۍ هم مختلف رسمونه جاري وو او له يو بل سره به يې په لو، اشر غوبل، ديوال، بلۍ، نهل، بزغلي کې ملګر تيا کوله.[۲۳۸] د ټولنې د مختلفو خلکو په دې تړون او اتفاق اتحاد کې د حجرې او جماعت ډېر لوی کردار و.

حجره

حجره به د ټول کلي د مېلمنو يو شريک ځای و، دا به دکلي د خان يا ملک د نګرانۍ لاندې چلېده. پښتنو نارينو به په کور کې ډوډۍ نه خوړله خو په حجره کې به يې ډوډۍ خوړله.[۲۳۹] په رياستي دور کې د کلي د خان ملک د حجرې دړ، انډېرى او تېل به د دغه کلي غريبانانو خلکو په بيګار کې کول، د حجرې مېلمنو ته به هم هغوی کټ بستره راوړله او په يو وخت کې داسې هم وه چې هېڅ چاته دا حق حاصل نه و، چې ځانله يې د ځملاستو کېښناستو د پاره بېټک يا حجره جوړه کړې وی.[۲۴۰] او که چرې چا به جوړه کړه نو هغه به ورته د کلي خان په نوکرانو باندې وسېزله[۲۴۱]دا خبرې د رياستي دور نه مخکې عامې وې او ورسته دا ظلمونه کم شوي وو. حجرې د ولس د زړو عزت مندو رواياتو نخښې وې او د قومي مجلسونو او غونډو ځايونه وو خو افسوس چې دې عزت مندو رواياتو ډېر زر د تاريخي داستانونو شکل اختيار کړ، نن پرون د قومي لويو حجرو اهميت پاتې نه دی، په کومو حجرو چې د دې ولس عظمت قائم وه او دوی پرې هر وخت فخر کولی شو او د دې په وجه د دې قوم سر تر اسمانه اوچت وه، ورو ورو خرابيدې، اوس اکثرو خلکو په خپلو دروازو کې بېټکونه جوړ کړه، ځان ځاني شوه، لويې قومي حجرې ورانې ويجاړې شوې او کومې حجرې چې لا تر اوسه هم ابادې په نظر راځي د ورانو حجرو په مرثيه خوانۍ مشغولې دي. دغه بېټکونه هم مقفل پراته وي، دغه وجه ده چې اوس د خدايي مېلمنو په کليو کې قدرونه کم، بلکې بالکل ختم شو، د چای او چيلم دورونه ختميږي او په کومو رواياتو چې د پښتون نوم په عزت سره يادېده اوس ورو ورو ختمېږي.[۲۴۲] ابراهيم خان په يوه افسانه کې د کلي د يوې زړې حجرې نقشه داسې بيان کړې ده:

يوه حجره ده چې په يوپورابادده ده ـ ديوالونه يې وران دي ـ په کمرو باندې يې ورونه نشته ـ د روشندانونو په ځائی يې پکې په ديوالونو کې سوري

کړي دي ـ په دننه کوټه کې رساپه مينځ کې يوه لوګي خانه ده ـ معلوميږي داسې چې دلته کې نغرى وه ـ د انګيټې پکې څه انتظام نه وه ـ د بهر ګېټ در وازې يې دا سې جوړې دي لکه چې د ګېراج تمبې وي ـ بلکې د ګېراج د تمبونه هم اخوا وې ـ ولې چې د دې حجرې دا اولنۍ تمبې زماپه خيال د سالم سلېپر نه جوړې وې ـ يا خو په هغه زما نه کې سلېپرارزان وو ياد حجرې مالک د چا نه په زور اختسي وو ـ د حجرې د غولي نه يوې غاړې ته د چنار يوه ونه ولاړه وه او هغې ته د دنګو دنګو خپويوکټ پروت وه ـ د کټ خپې دومره پېړې وې چې دروزګر به ورله د سوري کولو لپاره يو ګز سولى جوړکړى وي.[243]

د وخت په تېرېدو سره چې کله د خلکو مصروفيات زيات شول، نو د شريکو حجرو پر ځاى خلکو بېټکونو ته ترجيح ورکړه.

جماعت

له رياستي وخت نه مخکې او بيا د رياست په ابتداء کې د اکثرو جماعتونو حالات ډېر خراب وو. خلکو به نسوار اختستل او د نسوارو پليدې لاړې به يې د جماعت په نغري کې توکلې. د جماعت د دړ، بروزې، تېلو او انډېرو غورداري چانه کوله. د ډېرو جماعتونو منډووونه غورځېدلي وو ځکه چې د ډېرو جماعتونو د خرچ دارومدار په قومي چندو وه او ډېر کم داسې جماعتونه وو چې خپلې سېرى به يې لرلې. د ډېرو جماعتونو کوهي ناکاره شوي وو او ولس يې امامان رخصت کړي وو، ځکه چې د امام اجرت د محلې په خلکو وه. والي صيب په خپل دور کې دا اعلان کړى وه چې د جماعتونو امامان هېڅ څوک بر طرف کولى نه شي څو چې شريعت اسلاميه د امامت لپاره غېر موزون کړى نه وي او دغه تحقيق به هم بادشاه پخپله کوي.[244] زېب سر ليکلي چې په جماعتونو کې به طالبانو اتڼ کولو او سندرې به يې پکې ويلې، اکثر جماعتونه او حجرې به شړ پراته وو.[245] باچا صيب په خپل سوانح کې ليکي چې له رياست نه اول ټول جماعتونه د خانانو د غلې انبارونه وو. د فصل په وخت به يې چې جماعت ته غله راوړه نو د خرو قچرو بارونه به يې د جماعت په منډؤ يا کوټې تشول.[246]

لنګر خانه

په سوات کې د ټولنیزې خېر ښېګړې په اهمو کارونو کې یو د سیدو بابا لنګر هم وه. د سیدو بابا لنګر به میاګل عبدالودود هم هغسې چلولو لکه ځنګه چې مخکې وه. هره ورځ به د پینځو سو کسانو روټۍ پخېده او اکثر به زرو ته هم ورسېدل.[۲۴۷] سید عبدالغفور قاسمي لیکلي چې د ریاست لنګر خانه دیسي، پردیسي، وطني، غیر وطني هر چا لپاره به جاري وه.[۲۴۸] د سیدو بابا د لنګر په باره کې نصر الله خان نصر لیکي چې د هغه د لنګر انتظام د ګل احمد خلیفه په لاس کې وه. د ورځې به یې پینځه سوه کسانو ته روټۍ ورکوله. د سیدو بابا لنګر کې به شپه ورځ دوه وخته روټۍ ورکېدی شوه. په ژمي کې به یې د ورځې اوګره او د شپې د جوارو، وربشو او غنمو روټۍ ورکوله.[۲۴۹] د سنټرل جېل یو قیدي د لنګر د روټۍ ذکر داسي کړی دی:

دا ســــتا غـــم کـــې مـــــاه جبینــــې لنګــــري خــــورم
خــــدای شـــاهد دی څلـــور غـــټ څلـــور نــــري خــــورم[۲۵۰]

دا نظم د جهانزېب کالج په ایلم رساله کې چاپ شوی و او د دې نظم په چاپ کېدلو یې د ایلم رسالې د پښتو برخې ایډیټر سحر یوسفزی له نوکرۍ نه ویستلی و.

توري وران[۳۲] وېش

د توري وران له وېش نه وړاندې چې په سوات کې د وېش کومه طریقه چلېده هغې ته ګرځنده وېش یا واریز وېش وایي.
تاج محمد خان زېب سر د دغه وېش په باره کې داسې وایي:

---

[۳۲] د میاګل عبدالودود په سوانخ حیات کې لیکوال محمد اصف خان دا لفظ توري ران لیکلی دی او په بریکټ کې ورسره مستقل تقسیم ارضي هم لیکلی دی. (تاریخ ریاست سوات و سوانح حیات باني ریاست سوت حضرت میاګل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، ۱۹۵۸، ۳۱۲ مخ). تاج محمد خان په عروج افغان جلد اول کې توري وران وېش لیکلی دی (۲۵۴ مخ). په دریاب لغت کې د توري ګڼې معنې لیکل شوي دي ۲ـ کډه، د کور سامان، ۲ـ سیاهي ، تورکي، هغه تور رنګ چې خط پرې لیکلی شي (متروک) (قلندر مومند، دریاب لغت ، ۳۸۵مخ) په یو بل پښتو لغت کې د توري معنا حرف، ټکي لیکل شوې ده (زاهد پښتو سیند، ۲٦۱مخ)

په دریاب لغت کیې د توري وران معنا داسې لیکل شوې ده : خپله ټوله زمکه خرڅونکی چې نوم یې د مال له کاغذاتو وران شي. (قلندر مومند، دریاب لغت، ۲۸۵مخ)

د توري وارن یا توري ران وېش متضاد ټکی ګرځنده وېش دی. په توري وران وېش کې به زمکه په مستقله توګه د قبیلو یا د خېلونو تر مینځه وېشلې شوه او دا به مستقل وېش و.

دا اولـــــس بـــــه همېشـــــه کـــــډه پـــــه سر وه
لـــــس پينځـــــه کالـــــه بـــــه وېـــــش هـــــم مقـــــرر وه
دا شريـــــف قـــــام د پښـــــتون خانـــــه بـــــدوش وه
دغـــــه کـــــار کـــــه نـــــه د عقـــــل نـــــه د هـــــوش وه
کـــــال د وېـــــش هـــــم کـــــال د قحـــــط د تنگـــــۍ وه
هـــــر ســـــړی پوهـــــه پـــــه خپلـــــه بـــــدرنگۍ وه
ســـــتانه دار بـــــه وو مقـــــيم پـــــه خپـــــل مکـــــان
وو د دوی بـــــــــه مېلمانـــــــــه دا افغانـــــــــان
پـــــه دې قـــــوم کـــــې چـــــې تـــــر کومـــــه دا غضـــــب وه
دا ابـــــاد وطـــــن بربـــــاد پـــــه دې ســـــبب وه
ده عمـــــري تقســـــيم اوس اوکـــــړو پـــــه انصـــــاف
هـــــر ســـــړي هـــــم خپـــــل دفـــــتر واخســـــته صـــــاف
پـــــه عمـــــري تقســـــيم شـــــه فکـــــر ابـــــادو تـــــه
راشـــــه اوگـــــوره د قـــــام دغـــــه ښـــــادو تـــــه[۲۵۱]

توري وران وېش ته مستقل وېش يا عمري تقسيم هم وايي. په دې ټپه کې هم د توري وران اصطلاح استعمال شوې ده:

که په رښتيا په ما مئېن يې
د گودر غاړه توري وران واخله مئېنه

د شيخ ملي دا عارضي وېش د سوات د حکمران مياگل عبد الودود په دور کې ختم شو. مياگل عبدالودود په خپل سوانح کې ليکلي، چې له څوارلسمې پېړۍ نه تر ۱۹۲۴م پورې د رياست سوات په علاقو کې د پټو يعنې دوتر د وېش پاره د شيخ ملي په هغې طريقې عمل جاري وه، کومې ته چې دفتر شيخ ملي وايي. د وېش دا طريقه به عارضي او ميعادي وه .[۲۵۲] دا عارضي وېش مياگل عبدالودود په توري وران وېش کې بدل کړ او هغه دا خپله يوه کارنامه ښايي.[۲۵۳]مياگل عبدالودود وايي چې ما دا اراده وکړه چې زه به خلک له دې عذاب نه خلاصوم، اگر چې هغه ته په دې وېش کې ډېر مشکلات وو ځکه چې له هغه سره نه پټواريان وو، نه پټوار خانې وې، نه د پيمايش ماهرين او نه د پيمايش الات وو، خو بيا هم هغه د توري وران وېش بندوبست وکړ. مختلفو علاقو کې براه راست د هغه په

نګرانۍ کې کار شروع شو. په دې وېش کې حکمران ته د پېښو مشکلاتو اندازه له دې نه لګېدی شي يوه داسې علاقه چې د هغې خلک د مالياتو له طريقو نه نا اشنا وي، مخکې نه هم پکې څه خاص انتظام نه وي بيا هغې کې منصفانه وېش، هر سړی مطمئن کول، خوړه ترخه بيلول دا ټول کارونه ډېر ګران وو.[۲۵۴] تاج محمد خان زېب سر د باچا صيب د دې کارنامې ستاينه داسې کوي:

لـــــوی احســـــان هـــــم د ســـــلطان عمـــــري تقســـــيم دی
دا احســـــان پـــــه خپـــــل قـــــام کـــــړی دی کـــــريم دی[۲۵۵]

او بل ځای کې زېب سر داسې ليکي:

ده عمـــــري تقســـــيم اوس اوکـــــړه پـــــه انصـــــاف
هـــــر ســـــړي هـــــم خپـــــل د فـــــتر وا خســـــته صـــــاف[۲۵۶]

په دې وېش کې داسې معلومېږي چې د رياست سوات ځينو وزيرانو هم بد عنوانۍ کړي دي، لکه چې تاج محمد خان زېب سر ورته اشاره کړې ده:

تـــــا چـــــې د تقســـــيم پـــــه کـــــال کـــــوم کـــــوم ظلمونـــــه کـــــړي دي
ســـــتا ظلـــــم ســـــتم پـــــه جهـــــان بيـــــل نومونـــــه کـــــړي دي[۲۵۷]

د باچا صيب په سوانح کې ليکل شوي، چې د وېش دا منصوبه په پينځو کالو کې سرته رسېدلې وه.[۲۵۸]

د توري وران وېش فايدې

توري وران وېش چې وشه نو د زراعت، تجارت، تعميرات، دستکاري، باغباني او داسې د نورو کارونو د ترقۍ په وجه د رياست د ترقۍ لارې هوارې شوې[۲۵۹] زېب سر د توري وران وېش فايدې دا بيان کړې دي:

دا عمـــــري وېـــــش شـــــه ســـــبب د برکـــــت
روز افـــــزون شـــــه د دې قـــــام ارام راحـــــت
د هـــــر چـــــا شـــــوق پيـــــدا د عـــــمارت شـــــه
پـــــه دې ښـــــکلو آبـــــادو وطـــــن جنـــــت شـــــه[۲۶۰]

د توري وران وېش د فايدو په باره کې په يو بل ځای کې زېب سر داسې ليکي:

پــــه عمـــــري تقســـــيم شـــــه فکـــــر ابـــــادو تـــــه
راشـــــه اوګـــــوره د قـــــام دغـــــه ښـــــاد وتـــــه[٢٦١]

مطلب دا دی چې کله توري وران وېش نه و شوی، نو خلکو به ابادیانې نه کولې ځکه چې هغوی به په یو څو کالو کې بل کلي ته تلونکي وو، خو چې کله توري وران وېش وشو، نو بیا د خلکو ابادو طرف ته توجه راوګرځېده.

میاګل عبدالودود (باچا صیب) د پښتو دور په باره کې په خپل سوانح کې لیکلي، چې کله به په یو جایداد تنازعه جوړه شوه، نو د هغې مطلب به هم دغه و چې فریقینو کې به یو فریق ختم کېده او فاتح فریق به د جایداد مالک ګرځېده. هغه زمانه کې د ملکیت د حق خو د سره سوال نه پیدا کېده بس خو دومره قدر خبره وه چې کله به د یو زوره ور په زړه کې د حرص جذبات پیدا شول نو د کمزوري جایداد ته به یې سترګې خړې کړې. تنازعه به یې جوړه کړه بیا به یې جنګونه شروع کړل نو چې کوم فریق به زورور ثابت شه او کمزوري فریق به یې ختم کړ، نو په جایداد به یې غاصبانه قبضه[٣٣] وکړه، هغه زمانه کې خو د کمزورۍ مطلب مرګ وه.[٢٦٢]

ډله بازي

د سوات ټول ولس په دوو ډلو کې تقسیم و. د دوی مشران مورثي او خانداني وو، په هر کلي او محله کې د ډلو پرو باقاعده شاخونه وو. د دوی اواز یو و او د ډلې د یوادنيٰ فرد په اشاره به ټوله ډله د هغه هر قسم حمایت ته هر وخت تیاره وه. خواه که دغه حمایت به د

[٣٣] مطلب دا دی چې د کمزورو نه به زورورو د هغوی د حصې دوتر (دفتر) یا په زور واخستو او یا به یې ترې په معمولي قیمت واخستو او دغه رنګ به هغه د خپل دفتر د ملکیت نه محرومه شو او بیا چې به کله د ګرځنده وېش وخت پوره شو نو چا چې به خپل دوتر یا خرڅ کړی و او یا به یې ترې په زور اخستی و، نو دی به د کسبګر یا د غېر دوتري په شان له جایداد نه محرومه شو او چا چې به دا حصه اخستې وه د هغه برخه به زیاته شوه. همدغه وجه ده چې د ځینو خلکو جایدادونه ډېر دي او ځینې خلک بیخي محرومه کړی شوي دي. ځینې خلک داسې هم وو چې د هغوی به په دفتر کې حصه نه وه خو د بېعې به یې حصه واخسته نو دوی به بیا هم د دفتریانو سره د وېش په چکر کې شامل شول، خو دا قسمه خلکو ته به یې بیاج ګري ویل، ځکه خو دا خبره مشهوره ده چې کله دوتریان په خپلو کې په څه خبره وران شي، نو یو بل ته وایي چې زه درته څه بیاج ګری ښکارېږم څه؟

حق او صداقت سراسر خلاف وه او د لويې تباهۍ او بربادۍ باعث به ګرځېده. د ډلو پرو په زياتي کمي په قومي لروبر تمام دارومدار موقوف و. د ولس هره لره بره د تورې ټوپک په طاقت وه، خو د وطن د ناموس خيال به له هر چا سره هر وخت ملګری وه. د دير او دربند د نوابانو د زور او زياتي له وېرې دا ولس د مياګل عبدالودود په امارت متفق شوي وو.[263]

د دې ډلو په وجه په سوات کې د حکومت جوړېدلو هم ډېر وخت واخسيت، ځکه چې د هرې ډلې به خپل باچا خوښ و، لکه زېب سر چې ويلي دي:

چـــــې دا ملـــــک د ملېـــــزو ځنـــــي وزګــــار شـــــه
نـــــور دا قــــام د يــــو امـــــير هـــــم طلـــــب ګـــار شـــه
مـــــا اول دی ښـــــکاره کـــــــړی دا کــــــلام
چـــــې وې دوه پـــــــرې مشـــــــهورې د دې قــــــام
د دوی زړه پـــــه بادشـــــاهۍ هـــــم د مياګـــــل وه
خـــــو دهـــــرې پـــــرې خـــــوښ هـــــم مياګـــــل خپـــــل وه
او ممکـــــــــن د دواړو کلـــــــــه حکومـــــــــت وه
لـــــوی مـــــانع د دې تجـــــويز هـــــم دا علـــــت وه[264]

د دنيا هر ملک او هر قام کې ډله ډېر اهميت لري. د قومونو تاريخ او سياست کې ډله ډېر اهم کردار ادا کوي. د اقتدار حصول وي او که د قام او د وطن د بهبود لپاره کوښښ وي، نو له مضبوطي ډلې پرته يو کار ترسره نه شي رسېدی. د نن نه مخکې هم ډله اهمه وه، نن هم د ډلې اهميت ظاهر دی. د زمانې له ارتقائي رفتار سره سره د يو شي نوم يا طريقه کار بدليږي خو مفهوم او مقصد هم هغه وي کوم چې پخوانی وي. نن زمانې کې سياسي تنظيم او جماعت بندۍ هم د ډلې ترقي يافته شکلونه دي کله چې سوات قبايلي علاقه وه دلته پښتنو کې ډله ډېره اهمه وه، اول نه دا تنظيمي سلسله پښتنو کې داسې راغلې ده چې په سوات کې همېشه دوه ډلې وې. دا ډلې اګر چې د وطن اندروني حصو کې بېلو بېلو علاقو کې په ذيلي ښاخونو کې هم وېش وې، خو اخر کار به ټولو ډلو د دوو غټو ډلو شکل اختيار کړ. دا ډلې به د سوات د يوسفزو پښتنو اندروني خېلونو سره هم متعلق وې، هرې يوې علاقې مثلاً بابوزي، شاميزي او نورو کې به د دوو معززو خانانو په مشرۍ کې دوه ډلې همېشه قامي معاملو کې مصروفې وې. دې تنظيم هم بعينه داسې نقشه لرله لکه د نن ورځې سياسي تنظيم. د ډله بازۍ کار کې د ورکرانو او مشرانو لپاره دا

ضروري وي چې هغوی پوهنده، خبر لوڅ او ښه مقراران وي، ولې چې ډله هم يو قسم قومي او د قبايلي پارليمان حيثيت لري. ابتدا نه دا دستور راغلی چې د ډلې مشر يو داسې معزز پښتون وي چې هم هغه ښه صاحب حيثيت وي او د ډلې د نمايندګانو د اجتماع په سلسله کې ټول اخراجات برداشت کولی شي، ځکه چې ډلې لکه د سياسي پارټو خلکو نه چندې نه غواړي. دا خو پښتونوال غوندې تظيم وي چې نسبتاً زيات عوامي وي او چې کله يوه داسې معامله ملکي پېښه شي چې يواځې د ډلې د مشر ليډر يې په اقتصادي لحاظ متحمّل کېدی نه شي، نو بيا شريک تاوان هم کېږي. علاوه له دې نه د ډلې مشر د خپلې ډلې د هر ممبر پښتون د ميلمستيا او د خاطر مدار هم ذمه وار وي. قبايلي دور کې به هر وخت جنګونه وو نو د ډلو د کار کولو او تنظيم طريقې هم له يو بل نه مختلفې وې. د ډلې مشر همېشه د خپلې ډلې د ترقۍ کوښښ کوي او د ډلې د خلکو د مفادو نګران به هم و. د غم ښادۍ په معاملو کې له خپل ډله ييز سره امداد او تعاون کول به هم د هغه په فرائضو کې اهم فرض وو او ډلې کې دننه د دوو کسانو يا د دوو فريقينو مابين کې د تنازعو فيصلې کول د هغوی مينځ کې جوړه راوستل دا به هم د ډلې د مشر ذمه واري وه.[٢٦٥]د ډلو په باره کې باچا صيب په خپل سوانح کې ليکلي چې په سوات کې د حکومت له جوړېدو نه پس چې رو رو بيا امن قائم شو، تحصيلونه، عدالتونه او شرعي عدالتو نه قائم شول، فوځې تنظيم جوړ شو، نو پخپله ورسره د ډلو تنظيمي سلسلې او د کار کولو طريقو کې تبديلي راغله، خو په هر صورت په دې قبايلي رياست کې ډلې بيا هم هغه شان اهميت لرلو او بيا چې ورو ورو د مشرانو ذهنونه دنيا پرستۍ ته مايل شول، نو د ډلې د مشرانو اقتصادي حيثيت هم له تاوانونو نه محفوظ شو، خو د ډلې مشر به بيا هم د خپلې ډلې د ترقۍ او د فايدې لپاره کار کولو او د مقدمو او د تنازعو په شکل کې به هغه د خپلې ډلې يو وکيل و. دا کوښښ به يې کولو چې د خپلې ډلې ممبر فرد له هر نقصان نه بچ کړي. د ډلو تنظيم کې به صرف يوسفزي پښتانه شامل وو نور تجارت پېشه يا دستکار خلک به د خپل کار کسب په وجه داسې ډله بازو کې حصې نه شوی اخستی، خو بيا هم په ذهني لحاظ سره يوه نه يوه لور ته به وابسته وو. د ډلې د ممبرانو لپاره به هم ضروري وه چې د خپل مشر د عزت او وقار خيال به ساتي د هغه احترام به کوي او د خپلې ډلې وفادار به وي له بلې ډلې سره به تعلق نه ساتي وغيره.[٢٦٦] باچا صيب د ډلو هغه زوړ جوړښت او اثر رسوخ ډېر بدل کړل او والي صيب پکې بيا د خپلې بلې ډلې جوړولو هلې ځلې وکړې.

خان او ملک

له ۱۹۱۵م نه مخکې ټول سوات د خانانو گرفت کې و. دې خلکو د باچا صیب حکومت خو تسلیم کړ، خو د دې نه خبر نه وو چې د حکومت جوړېدو نه پس به د حکومت قانون منل هم وي. دا خانان ملکان داسې خلک وو چې خپل ځانونه يې د پښتو د هر قسم پابندو نه ازاد شمېرل. د حکومت له قايمېدو نه پس هغوی عشر خو منلی و خو برای نام، حال دا وه چې د عشر وخت به راغی نو د يوې علاقې خان به خپل سړي حاضر کړل او د خپلو کاردارانو تنخواه به يې د باچا صیب نه حاصلوله. باچا صیب وايي چې د سوات خانان ډېر غاصبان وو او په غريبانانو يې ډېر ظلمونه کول او مالونه به يې ترې په زور قبضه کول. د شړونتيا په وخت کې په بر سوات کې د مياگل عبدالودود جايداد هم يوخان قبضه کړی وه او بيا چې هغه د سوات حکمران شه بيا هم د هغه خان نه د خپل جايداد اخستلو کې کامياب نه شه حتٰی چې په حيثيت د حکمران سوات بيا چې کله هغه د توري ران وېش قانون نافذ کړ نو بيا خپل جائداد په لاس وراغی.[۲٦۷]باچا صیب په خپل سوانح کې د هغه وخت د خانانو او ملکانو د جهالت او ظلمونو ډېر مثالونه ورکړي دي.[۲٦۸] کله چې رياست جوړ شو او بيا والي صیب حکمران شو، نو هغه به خاني ملکي په خپله مرضۍ خلکو ته ورکوله او د رياست نه مخکې خاني ملکي وراثتي وه، لکه بيليو چې وايي:

> These are governed by their own maliks, who in turn are subordinate to the tribal chief, or Khan. Both these offices are hereditary, except in the case of manifest incapacity from mental imbecility or physical deformity, or from some objectionable quality of temper or general conduct; but there is nothing to prevent a man of courage and ability raising himself to the position of either.[۲٦۹]

ترجمه: دا د خپلو ملکانو په ذريعه چلېږي او هغوی د قبايلي مشر يا خان ماتحت وي. دا دواړه عهدې وراثتي دي، خو په هغو حالاتو کې دا بيا وراثتي نه وي کله چې يو کس د څه قسمه ذهني يا جسماني بيمارۍ ښکار وي يا د هغه په مزاج او کردار کې څه د اعتراض خبره وي، خو چې په يو سړي کې څه صلاحيت او حوصله وي نو دې دواړو عهدو ته په رسېدلو کې د هغه مخه څوک نه شي نيولی.

د میاګل عبدالودود په وخت کې هم هغه شان خانانو ملکانو دا ظلمونه کول خو دا به د هغه حامیانو کول او هغه به پرې سترګې پټولې. میاګل عبدالودود خلکو ته پخپله د خانۍ ملکۍ ورکولو دا رواج جوړ کړی و.

عشر

په ریاست کې به د خلکو نه د هغوی په زمکنې امدن کې عشر اخستل کېده او له زمکنې امدن نه علاوه به د ګډو بیزو هم عشر اخستل کېده. د عشر په باره کې زېب سر داسې وایې:

لکـــه فـــرض چـــې زکـــوٰة پـــه مســـلمان دی
پـــه کـــوم جـــنس کـــې د لســـمې چـــې فرمـــان دی
جمـــع کیـــږي دا زکـــوٰة پـــه بیـــت المـــال کـــې
هـــیڅ کمـــی او زیـــاتی نشـــته پـــه هـــیڅ حـــال کـــې
د وطـــــــن د حفاظـــــــت چـــــــې افغانـــــــانو
کـــوم یـــو خـــرڅ کـــوه پـــه خپلـــو نوکرانـــو
او هغـــــه مقـــــدار معلـــــوم هـــــم د غلـــــې وه
دا اولـــــس پوهـــــه پـــــه دغـــــه مســـــئلې وه
اوس هغـــــه غلـــــه هـــــم اخـــــلي حکومـــــت
خـــاص پـــه خیـــال اوس د وطـــن د حفاظـــت
نـــو کـــران د حکومـــت د ملـــک اولـــس دی
دې خـــدمت تـــه د هـــر پـــو ســـړي هـــوس دی
بیـــا هـــم دوی دغـــه غلـــه اخـــلي پخپلـــه
دکـــار تـــوس ټوپـــک زیـــان ورک شـــه زمـــا دلـــه
پـــه بیـــزو ګـــډو هـــم عشـــر مقـــرر دی
پـــه شرعـــي مقـــدار دا حکـــم مقـــرر دی
غـــرض دا چـــې وطـــن وړی نـــه دی مـــوړ دی
یـــو پـــه ســـل اوس د وطـــن زېـــب زینـــت جـــوړ دی[۲۷۰]

په شلمه پېړۍ کې په وړومبي ځل په سوات کې يو منظم رياست جوړ شو، نو ځکه دې خلکو نه عشر اخستل هم شروع شول. کله چې دلته رياست نه و جوړ، نو دې خلکو عشر نه ورکاوه، په دې باره کې بيليو ليکي:

> None of the Yusufzais pay the ushr,or tith for the support of the church [mosque], though its exaction has frequently been attempted. Their objection is that by so doing, they woud acknowledge themselves the subjection of a soverign, whereas it is the glory of most of the tribe to boast of the independence they maintain.[۲۷۱]

ترجمه: ټول يوسفزي د جماعت د مرستې لپاره عشر يا لسمه نه ورکوي، اگر چې د دې د اخستلو بار بار کوښښ شوی. د هغوی اعتراض دا دی چې په داسې کولو سره به دوی د يو مطلق العنان حاکم ماتحت شي حالانکې دا د زياتو قبيلو شان دی او په دې خبره فخر کوي چې دوی ازاد دي.

جامه پيزار

د سوات په پښتو ادب کې د سوات د خلکو د جامه پيزار ذکر هم مونډلی شي، البته د سوات په پښتو ادب کې د داسې قسمه جامې پيزار ذکر هم موندل کېږي، چې هغه د سوات خلک نه استعمالوي او نور پښتانه يې استعمالوي. د سوات د خلکو قامي لباس هم هغه دی کوم چې له خيبر نه واخله تر چتيا گانگ پورې يو شان قابل عزت گڼلی شي او هر سړی يې خپل لباس گڼي. په هغه زمانه کې د پښتنو عام لباس په دې اجزاوو مشتمل وه: ټوپۍ، قميص دپاسه شېرواني، کوټ، سپين پرتوگ، پاجامه او پښو کې څپلۍ، بوټان يا گورگابۍ، خو څپلۍ ياگورگابۍ ورسره ډېر سمون خوړلو. داسې وايي چې دا لباس ساده ارام ده و، له رعب ډک، دروند خوړ او حد درجه با وقار دی او بل طرف ته د اسلامي رواياتو عين مطابق هم دی. د پښتنو په علاقه کې به خلکو عموماً ټول يو قسم جامط اغوستلې چې په هغې کې به پټکی يا ټوپۍ کميس پرتوگ، واسکټ، څپلۍ او څادر شامل وو. مشرانو او سپين ږيرو به د ټوپۍ پر ځای سپين پټکی تړلو. د پټکي د تړلو او سمولو د گرانوالي په وجه د ټوپۍ رواج عام شوی وه. په ژمي کې به اکثرو خلکو گرمې چترالۍ ټوپۍ په سرولې چې پکول ورته وايي او په اوړي کې به يې سپکې سواتۍ ټوپۍ په سرولې.

سواتۍ ټوپۍ به یا خو سپینې ساده وې او یا به طیله دارې وې. مشرانو به دغه سپینې ساده او هلکانو به طېله دارې ټوپۍ په سر ولې. د پښتنو لباس کې له ټولو نه مهم څیز پټکی او څادر و. پټکی په روایتي نقطه نظر سره او څادر د بې شمېره فایدو په وجه سره ډېر اهم وو. څادر د پښتون د فېشن یوه امتیازي نخښه وه، له دې نه به دوی د چترۍ، برساتۍ، بالښت، پټکي او تولیه په شان فایدې اوچتولې او د بوجۍ کار به یې ترې هم اخستلو او هم تقریباً د دې څادر نه به د پښتون ټول خوی خصلت په ګوته کېدلو.[۲۷۲] څنګه چې مخکې ذکر شو چې ټوپۍ د پښتون د روایتي لباس یوه اهمه حصه وه او کله د ټوپۍ په سر د اېښسودو له انداز نه هم د پښتون د نفسیاتو عکاسي کېږي، لکه دا شعر و ګورئ ، چې د کږې ټوپۍ ذکر پکې شوی دی:

هــــر دم او هـــــر قـــــدم تـــــه دی عـــــروج د افغانــــا نــــو
پـــــه سر کګـــــه ټــــوپۍ څکـــــه د خیــــال افغـــــان لــــري[۲۷۳]

د پښتو په زمانه کې به د سوات غټو غټو خانانو ملکانو تور لباس ته زیاته ترجیح ورکوله[۲۷٤] خو بیا په ریاستي دور کې تور لباس عام نه و. په ریاستي دور کې چې کله میاګل جهانزېب والي شو، نو په لباس کې کافي بدلون راغی او په هغه وخت کې کوټ، پتلون، ټایي او نور دلته شروع شول.

خوراک

له نورو خوراکونو نه علاوه د سوات وریژې ډېرې مشهورې وې، د وریژو نه علاوه غنم او ژوار هم اهم خوراک وه. د سوات د خلکو له وریژو سره د مینې په باره کې دا متل هم مشهور دی، وایي چې "د سوات خلک زاړه شو خو په وریژو ماړه نه شو" [۲۷۵]په وریژو کې بیا ورژلې یا چوکاڼ[۲۷٦]او د مېو وریژې[۲۷۷] ډېرې مشهورې وې.

صنعت او د ستکاري

د سوات صنعت او دستکاري ډېره مشهوره وه. د سوات په مختلفو کلیو کې جولاګان اوسېدل مثلاً سلامپور، مینګوره، منګلور، دېولۍ، درشخېله او نور، خو دا جولاګان اول داسط وو چې د خمتا اوبدلو نه علاوه په نور څه نه پوهېدل. د دوی هغه خمتا به هم داسې وه چې سور به یې نیم ګز وه او مهینه به هم نه وه، نو په دې وجه خرڅیده به هم نه. میاګل عبدالودود د سوات له جولاګانو سره میټینګ وکړ او ورته یې وویل چې تاسو د خپلې کپړې

سور زیات کړئ او چط کومه کپړه جوړه شي نو دا بیا ووینځئ چې مهینه شي. چې جو لاګانو د هغه په دې وینا عمل شروع کړ نو خلکو یې کپړه خوښه کړه. بیا هغه دا کار کولو چط دوی ته به یې د ګرمو کمبلو او ځادرو نمونې ورکولې او دوی به هم هغه شان کمبلې او ځادرې جوړولې. د هغوی د حوصله افزائۍلپاره به میاګل عبدالودود د هغوی جوړکړې ځیزونه به بیعه اخستل او هم په دې طریقه د سوات د جولاګانو کسب د ترقۍ په لار روان شه. نن صبا د سوات جو لاګان د خپل کسب استاذان دي. د سوات ځادر، شړۍ وغیره ډېر ښه شهرت لري.[۲۷۸] دغه رنګ د چارباغ طیله دارې ټوپۍ د صنعت په لحاظ په ټول سوات کې ډېرې مشهورې وې او د ملکي اهم صنعت په طور به نورو علاقو ته لېږلی شوې.[۲۷۹]

تجارت

ریاست سوات کې به په مینګوره کې د ځاروو مېله هم لګېده، دې مېله کې د کچه ځرمنو، غوزانو، املوکو، ځپلو او ریاستي پګړو ذخیرې د خرڅ لپاره هر وخت جمع وې.[۲۸۰]

د پښتو دور او د ریاستي دور موازنه

له دې نه مخکې په ځلورم باب کې د پښتو د دور د ادب تهذیبي او ثقافتي مطالعه شوې ده، اوس به په دې باب کې د ریاستي دور د پښتو ادب تهذیبي او ثقافتي مطالعه کوو. د دې دور د پښتو ادب په ځینو کتابونو کې د پښتو د دور او د ریاستي دور موازنه هم شوې ده، نو وړومبۍ دغه موازنه په لنډه توګه وړاندې کوو.

پښتو او د پښتو دور

له ۱۹۱۵نه مخکې چې د سوات قبایلي وطن کې باقاعده او منظم حکومت نه وه نو دغې زمانې ته به د پښتو زمانه ویلې شوه.[۲۸۱] په اصل کې پښتو د عزت مترادف یو داسې قامي روح او جذبې ته ویل کېږي چې له پښتون قومیت سره تړلې ده. د پښتو پابندۍ کې چې د پښتون قام لپاره کوم اوصاف ضروري وو هغو کې څه دادي:

له خپل قام او وطن سره وفاداري او مینه کول.

د قومي او وطني فرایضو لپاره هر قسمه مالي او جاني قرباني ورکول.

په هره مهمه قومي معامله کې جرګه کول.

په جرګې کې چې کومې فیصلې وشي د هغې پابندي او احترام کول.

غيرتي او غيور اوسېدل او خپل ناموس باندې قربانېدل.

په ميدان جنګ کې بهادري او شجاعت کول.

د وعدې پابندي کول او د قول او اقرار پالنه کول.

دښمن هم چې کمزورى وي ورسره فياضي کول.

په ښځو لاس نه اوچتول او د هر چا د شرم او ناموس خيال ساتل.

نمک حلالي کول او نمک حلال اوسېدل.

په دوستانه کې مخلص او صادق اوسېدل او د دوست په کار راتلل.

غم ښادۍ کې شرکت او امداد کول.

چغې ته سمدستي وتل.

د کونډو رنډو، کمزورو او ضعيفانو امداد کول.

د خپل نغري او دروازې احترام کول.

مېلمه دوستي کول.

فياضي او سخاوت کول.

پناه ورکول هغه ته چې پناه وغواړي خواه دښمن ولې نه وي.

د قومي اخوت او مساوات جذبه زړه کې بيداره ساتل.

حق ته حق ويل.

داسې نور هم ډېر امور دي چې د پښتو له ائين سره تعلق لري او دغه اوصاف دي چې پښتون پرې پښتون و. هغه جذبه چې د دغو او صافو او قوانينو پابندۍ ته به يې پښتانه پابند ساتل هغې ته به پښتو ويلې شوه، خو د زمانې رفتار او د هرې علاقې جغرافيايي حالات او له نورو قومونو سره د ګډون او تګ راتګ په وجه داسې حالات پيدا شول چې د پښتون قام قومي وحدت هم قومونو او قبيلو کې تقسيم شو. بېلو بېلو قبيلو کې بېل بېل رسمونه او رواجونه جاري شول، خو بيا هم په هر ځاى او هرې قبيلې کې د پښتو نوم و او د پښتو د پابندۍ سلسله تقريباً هر ځاى کې کمزورې شان شوه. په سوات کې هم د پښتو زمانې کې بيا پښتو او پښتونيت دواړو د يو وحشت او بربريت شکل اختيار کړ، اګر چې د جرګې رواج وه او اوس هم شته، خو د پښتو هغه تعميري فياضانه او نېک روح څه ختم غوندې شو، خو بيا هم داسې بالکل ختم هم نه و، حالات داسې شول چې د ژوند انحصار په طاقت و او داسې خلک پکې د زور او د قوت خاوندان شول چې د هغوى

دهشت جابرانه وه. ظلم زور ته مایل وو او هغوی صرف د خپل قوت او اقتدار لالچیان وو، خو سره د مال دولت بیا هم د ژوند د لذتونو نه او د خوشحال ژوند تېرولو د طریقو نه ناشنا وو. نه ښه مکانات وو، نه جامه پیزار ښه وو او نه ښه خوراک وه، بس خو یو وحشي غونډې ژوند وه.[۲۸۲] دلته دا خبره یاد ساتل پکار دي چې د پښتو دور کوم ړونکی تصویر چې دلته کومو لیکوالانو وړاندې کړی دی، ټول په ټوله صحیح نه ښکاري. په تاریخ کې دا عامه خبره ده چې هر حکمران او د هغه درباري لیکوالان د تېر دور ډېر بوږنونکی تصویر وړاندې کوي او مقصد یې هم دا وي چې د کوم دور دوی صفتونه کول غواړي دا دور خلکو ته ډېر ښه ښکاره شي او د وخت حاکمان او بادشاهان له داسې قسمه لیکوالانو نه خوشحاله شي.

د پښتو د دور تیارې

د پښتو په دور کې د خلکو له یو بل سره دښمنۍ وې او د امن و امان حالات خراب وو. تاج محمد خان زېب سر د پښتو د دور تورې تیارې څه لیدلي او څه یې اورېدلي دي، هغه په دې باره کې لیکي چې سوات د محل وقوع په لحاظ هم دا سوات و. د سوات همدا اب وهوا او همدا اوچت سپین ښکلي غرونه وو ، هم دا سبزه زارونه وو خو هیڅا ورته د عزت په سترګو کتلي نه وو،ځکه چې په سوات د ظلم او جهل دوره وه او سوات د بې پوهۍ او بې فکرۍ کور و. سوات د بې امنۍ او د یو بل د دښمنۍ قتل او غارت، فتنو او جهالت په وجه بدنام وه. دلته د دیني، ذهني او علمي رهبرۍ هېڅ بندوبست نه و او نه د ولس ژوندون ته امن حاصل و. عزت، دولت، عصمت غرض هر څیز په خطره کې و او چې څوک بې ترسه، ظالم خونکار، خونخوار او قوم ازاره و، نو هم دا قسم کسان به د عزت او وقعت خاوندان ګڼلی شول. د سوات دا ښکلې خطه چې اوس ورته د دنیا جنت ویلی شي، او په هر ملک کې ستایلی شي، د دردناک عذاب بد ترین دوزخ و، چې دا ولس پکې په قسما قسم عذابونو ګرفتار و. دلته به په علاقه کې داسې یو سړی په مشکله پیداکېده، چې معمولي د پښتو، فارسۍ یا د اردو خط یې لوستلی یا لیکلی شوی. دلته د بهرنو مسافرو راتلل له خطرې نه ډک وو. دلته د مرغو په تور سپین د غرونو په دنګ چیت د بټ د نینو په وار به ناڅاپه ټول ملک کې یو لوی فساد پورته شو، چې د صلحې به بیا هېڅ امکان په نظر نه راته .داسې ورځ به ډېره کمه وه چې د دې ښکلي ملک په یو کلي کې به جنګ جدل واقع شوی نه و، چې ټول ولس ته به پکې بالواسطه یا بلاواسطه نقصان ضرور رسېده او په دې ښکلي ملک کې به هره ورځ مرګ ژوبلې کېدلې. د قوم ښکلي ښکلي ځوانان به بې فایدې

او بې مقصده د فنا کوهي ته غورځېدل او دا ښکلی سوات یوه فسادخانه وه چې د انساني روح پکې د چرگ هومره قدر قیمت هم نه وه. دلته کې طوائف الملوکي وه، د هر کلي د بت خانې بېل بېل خدایی وه او هغه به د کلي د تور سپین مالک او مختار مطلق و او همدغه د باطل د حمایت مضبوط او قوي طاقتونه وو او عام ولس او غریبانان د دوی غلامان وو. دلته د شریعت پر ځای مفسدانه طور او طریقې جاري وې. زېب سر دا هم لیکلي دي چې کلي په کلي به بې نکاح ښځې خلکو کېنولې وې او پردۍ منکوحې به یې اغوا کړې وې او دا قسم کسانو ته به عام طور په ولس کې انډیوالان ویلې شول او د هغوی به ډېر دارو مدار کېدې شه او د هغوی دغه فعل ته هېڅ چا بد نه شو ویلی او که داسې به وشو هم نو دکلي مشران به د انډیوال په طرف وو او د هغه به یې هر قسم ناجائز او ناروا حمایت کولو. دلته به د اخترونو په مبارکو ورځو کې د لمانځه او خیرات پر ځای د تورو، نېزو، تبرونو او مچوغنو او گټانو جنگونه وو او دا قومي خوشحالي به همېشه لپاره د غم او بربادۍ باعث جوړېده. دلته به د کوچیانو په شکل هر چا ته کډې په سر وې او لس لس کاله پس به بیا بیا د عامو مزکو، کلو تپو وېشونه او تقسیمونه کېدل. توري وران وېش د شاه عبدالودود په زمانه کې ورک شو او ولس له دغه لوی مصیبت او افت نه خلاص شو. په دې ولس کې د فهم پر ځای د وهم سکه جاري وه. فهم ته فهم رسېدل مشکل وو، په دې ولس کې دا خبرې مشهورې شوې چې څه ورځې پس به په چرگانو کې ماران پیداکېږي. د چرگو قیمت یوې انې ته راکوز شو. وایي چې یو وار په سوات کې دا افواه هم گرمه شوه چې د شعبان (شوقدر) په میاشت کې به مړي را ژوندي کېږي او دې ساده لوحو خلکو په دې خبرو یقین راغلی و او ډېرو قبرونو ته د مړو خپلوان په انتظار ولاړ وو. یو ځل دا خبره مشهوره شوه چې په پیر کلي (بر سوات) کې تورنکه مرغۍ خبرې کوي او داسې کسان هم ډېر وو چې قسمونه یې خوړل چې مونږه پخپله د تورنکې خبرې اورېدلي دي، خلقې په دې خبرو پسې راماتې وې او حقیقت کې هېڅ هم نه وو.[۲۸۳] سوداگر چې به په کوم کلي تېرېدل نو د هغه کلي خان ملک به بې په لاره کې هرکلي ته ناست و، او پوره پوره اسباب به یی ترې قبضه کړ. یو عام سړي به ځان ته د خان له وېرې نه بېټک قدرې هم نو شو جوړولی، که چا به جوړ هم کړ خو هغه به ورته شپې د شپې د خان نوکرانو وسېزلو. د زمکې ښه ټوټه به خان یا ملک د نشانچي، ناظر، پاله وان په بهانه ځانله قبضه کوله. د کر کروندې حالات ډېر خراب وو، اول خو د غریب زمیندار د فصل د ابه کېدو دپاره د ابو وار حاصلول ډېرگران وو. ملک به ویل

چې د دوی ابه په اسمان کې دي او که چرې اسمان به هم بخل او کنجوسي وکړه نو زمکې به تخم او خوړ او که چرې باران به وشو نو ملک به غریب زمیدار ته د غلې د سنبالښت تکلیف نه ورکولو. د ملک صیب نوکرانو به شپې تر شپې درمن د خان کره راوړ. هغه وخت کې د سړکونو او لارو هېڅ انتظام نه و او پیزار به د خپو پر ځای د مسافر د سر زینت کیده ولې چې ځای په ځای به ابه او جبې وې ځکه خو دا متل دی "د سوات اوبه په لارې ځي او خلک یې بې لارې ځي " چې کله ریاست جوړ شو، نو په شروع کې د تعلیم دا حال و، چې که چرې د میاګل عبدالودود په نوم به چرته خط راغی نو هغه خط به یې تهانې (مالاکنډ) ته ولیګلو او قاصد به بیازباني تشریح باچا صېب ته کوله . دارنګ که چرې بیمارې به پېښه شوه نو د تهانې نه به حاکمان طبیان راغوښتل.[۲۸٤]

د ریاست له جوړېدو نه اولنی دور چې د زور او زیاتي ظلم جبر او د تیرو دور وه، چې عام طور ورته د پښتو دور ویلی شي د هغې باره کې عمر زاده داسې لیکي چې د ریاست سوات موجوده دورې ته که مونږ زرین دور د تاریخ په رڼا کې ووایو نو ناجایزه به نه وي. دا مقابله به مونږ د هغه زمانې سره او کړو کوم وخت چې په سوات کې هېڅ یو حکومت نه و او د دې له کبله د قام ژوند د ښارو نه په هېڅ حال کم نه وه ځکه چې نه تعلیم وه او نه امن. هغوی په هغه زمانې کې دا هم نه پېژندل چې علم څه ته وایي تهذیب او تمدن لا د کومې بلا نوم دی. د کوزې طبقې په خلکو به همېشه یو زورور سور و او د ښارو نه یې هم حال خراب وه او تر دې چې د حجرې خدمت او چیلم هم په دوی باندې و. د علم خو دلته نوم هم نه وه، د جهالت اوږدې اوږدې تطرې په دې خاوره پرتې وې او یو سړي هم د دې نه بهر ته د وتلو کوشش نه کولو،که څوک به د علم د زدکړې د پاره چرته بهر لاړ نو هغه ته به "روئیلی" [روهېلی[۳٤]] ویلی شه او خلکو به ورته بدکتل او کرکه به یې ترې کوله. چاپیره یوه بدامني وه، ظلمونه او زیاتي وو، د غریب په سر به د جهان ظلمونه کېدل، هغه ته چا بنیادم وې؟ بلکې د غلامانو ډله وه، په کومو چې به دې خانانو مزې کولې. خپل کارونه به یې پرې کول او چې کوم وخت به هغه له دوی د کار نه وزګارشو نو په هغو به یې په نورو کلو حملې وکړې او کلو ته به یې اور ورته کړ، هر څه به یې ستي کړل. که چا له دوی نه څه مخالفت

[۳٤] هر هغه څوک چې هندوستان ته به د علم یا مزدورۍ لپاره تلی و او بیا به واپس راغی هغه ته به یې رویلی یا روهېلی ویلو . روهېلی پښتون ته هم ویلی شي لکه په دې شعر کې چې ذکر دی:ای روښو ګوری خیال کوئ شته داسې مشران /تنې یې روهېلۍ دي کېرۍ د انګلستان (روغانے، ځوربدلي احساسات،۱۹۹۹، ۲۱مخ)

يا ملاتړ به کاوه، نو ټول به قتل کړی شو او علاقه به په وينو رنګ کړی شوه. تجارت په هغه زمانه کې څه وه خو لږ ډېر هندوانو به اخستل او خرڅول او هر يو شی به په څو څو چند قيمت باندې خرڅېده دا موجوده د ارام او د عيش څيزونه کوم ځای وو. د ډوګرو(ډګرؤ) جامې، درنې درنې پڼې به وې، د خوراک به د ژوارو د سوکړک او د سبو(ساګو) نه زيات هېڅ نه وو. نه سړکونه وو، نه سکولونه وو، که چرته به څوک نا جوړه شه نو نيم طيب به ورته راوستی شه او د هغه د لاسه به مړشه. وايي چې په هغه زمانه کې په پښتنو کې مينه او ورورولي ډېره کمه وه، ټول له يو بل سره په دشمنو کې وو. زېب سر ليکلي چې دين يو و، مذهب يو و، قام يو و ولې دې خېلونو او بيا به تېره تېره خپلو فائدو ترې ځناور جوړ کړي وو.[۲۸۵] خپلو کې جنګونه کول، ميراتې کول او د دولت لپاره خلک وژل د دوی کسب وه او د سوات غوندې ښکلي وطن کې اوسېدل به په زور وو. د سوات وطن کې د پښتو زمانه دا وه چې بس يو باغيانه غوندې سرکش ژوند به خلکو تېرولو چې د هر قسم مذهبي، قومي او رواجي، اخلاقي پابندو نه ازاد وو بس د تورې او د ټوپک قانون جاري وه. سوات کې به همېشه قتلونه او خونريزی کېدلې، د ظلم او د تشدد دور دوره وه، داسې مرکزي حاکمانه قوت يو هم نه وه چې خلک يې منع کړي وی. د جابرو خانانو د ظلم دا حال وه چې د هغوی زړونه د رحم او د انصاف د جذباتو نه بالکل خالي وو. مېلمه چې به سوات ته چرته راغی او لباس به يې لږ څه ښه غوندې وه نو د هغه لباس لپاره به اکثر قتل شه، اګر چه داسې کارونه عام نه وو خو کله کله شوي دي.[۲۸۶] له رياست نه مخکې د سوات د ظلم او د جبر په باره کې عجب خان قريشي داسي وايي:

سوات کې وې خورې تورې تيارې د جهالت
سيلۍ وې چلېدلې په هر لوري د ظلمت
نه عدل نه انصاف نه داد خواهي وه د مظلوم
سکه به چليدله دې وطن کې د طاقت
کړې وړې وې لارې جنګ، جدل او دښمنۍ وې
ګولۍ وې د ټوپکو د خوارانو ککرۍ وې
په زور خرابېدل به د خورانو عصمتونه
لوټل په رڼا ورځ به شو د خلقو عزتونه
رسوا اوبې عزته دې وطن کې انسانيت وه

په نـــه قيصـــو کېـــدل بـــه د يـــو بـــل سره جنگونـــه
دا ســوات پــه هغــه وخــت کــې يــو بــد نــام غونــدې وطــن وه
او جاړخســـــته حالـــــت کـــــې د ســــيدو بابـــا گلشـــــن وه
تهـــذيب او نـــه شـــعور وه نـــه اصـــول د زنـــدگۍ څـــه
خـــو بـــې مهـــار اوښـــان وو پـــه کگـــو وگـــو روان وو
کميـــاب کـــل ضروريـــات د زنـــدگۍ پـــه دې وطـــن کـــې
حـــال دا وه چـــې د ســـوات خلـــق د مـــالگې پـــه ارمـــان وو
پخپلـــه کـــې چينجـــي لکـــه اختـــه مشـــت و گرېبـــان وو
د جهـــل پـــه دريـــاب کـــې سره غـــرق واړه ســـواتيان وو[۲۸۷]

د پښتو د زمانې د سوات د حالاتو په باره کې د فتاوئ ودوديه مصنف محمد ابراهيم بازارگوي ليکي چې بادشاه صيب دهغه کشمکش او اضطراب په زمانه کې د حکومت سنگ بنياد[۳۵] ايښی وه چې په هغه وخت کې د امن او اصلاح نوم اخستل يو سنگين جرم وه. د خلکو حالت دا وو چې شپه او ورځ د باهمي جنگ وجدل او د حرب وقتال شغلې اوچتېدې. د ډاکه زنۍ، راهزنۍ او خونرېزۍ بازار گرم وه، ظلم ستم، جبر تشدد، قبضه غاصبانه، تحکم جابرانه، قتل وغارت، مغلوب قبايل د علاقې نه شړل، د خپلې کوټې او پټې نه محروم کول، نن دلته صبا هلته دارنگ دربدر خاک بسرگرځېدل، نه د خدای او د رسول د احکامو څه پرواه،نه د شريعت لحاظ، نه سکون نه ارام نه ډاډ، نه اطيمنان هغه تباهي بربادي چې الامان الامان، الغرض دهغه و خت انسانيت سوز او حسرتناکو واقعاتو اورېدلو د پاره هم يو سخت زړه او آهني ځيگريکار دی.[۲۸۸]

د پښتو وختونو کې وسله او د جنگ طريقې

د پښتو د دور د جنگونو او وسلو په باره کې باچا صيب په خپل ژوند ليک کې ليکلي، چې له ۱۹۱۵نه اول سوات کې رائفل او د طمانچې رواج عام شوی وه. د جنگ عامه وسله هم دغه ټوپک او طمانچې وې. د وس خبره وه چا سره به رائفل غوگين وه، چاسره به چهرئيز وه، چا سره به طمانچه وه، د چا وسله به انگرېزي وه، د چا به ديسي وه،

[۳۵] په حقيقت کښې باچا صېب د حکومت سنگ بنياد نه وه اېښی خو خلکو باچا کړی وه.

خو دې کې شک نه وه چې دې ازاد قبايلي ماحول کې انګرېزي غوګين (۳۰۳) او جهازي طمانچه قيمتي څيزونه وو. د پښتو وخت کې د جنګ څه خاص اصول نه وو، جنګ کې به سواره هم وو، د هر لښکر به خپل نشان او ډمامې هم وې، اکثر به داسې يک دم بې تد بيره غوندې جنګونه شروع شول او کله به د خپلو ذهني تد بيرونو ماتحت جنګونه کېدل.[289]

ميراته کول

د پښتو د زمانې په ظلمونو کې يو ډېر غير انساني کار ميراته کول وو .کوم خلق چې د پښتون قوم د حالاتو نه خبر وي هغوی به يقيناً دې نه هم خبر وي چې پښتنو کې د ميراتې شوقيان هم ډېر وو. د انسان د سنګدلۍ او دنياوي حرص ډېر مثالونه دي يو پکې دا هم دی چې پښتنو کې ځيني ډېر داسې مثالي ظالمان وو، چې د جائداد د ميراث د پاره به يې خپل ورور عزيز قتلولو، سوات کې د رياست نه اول به هم دا قسمه ميراتې کېدلې.[290]

سزاګانې

په سوات کې په ځينو ټولنيزو جرمونو به سزاګانې ورکول کېدې. دا سزاګانې د پښتو له زمانې نه راروانې وې او ځينې پکې د رياست په وړومبو ورځو کې هم چلېدلې، ځکه د سوات په پښتو ادب کې د دغو سزاګانو ذکر موندل کېږي، لکه تاج محمد خان زېب سر چې د سوات د وزيرانو خلاف کوم کتاب ليکلی دی، په هغه کې يو ځای داسې ليکي:

هـــر ســړی دی وړی کـــه لاتـــه مـــو زيـــره مـــوړ نـــه شـــوې
اور کـــه دې د ظلـــم بلېـــده خـــو تـــه پـــرې ســـوړ نـــه شـــوې
ګـــرم بـــه لا اوس شـــې چـــې اور ســـتا پـــه کوربـــل شـــوی دی
تـــوره پـــه خـــره ســـوره ســـتا وجـــود پـــرې جـــل بـــل شـــوی دی[291]

په هغه وخت کې مخ تورول او په خره سورول يوه سزا وه. اکثر به داسې وشوه چې په سرکې به يې ورته د چرګانو وزرې وټومبلې، لکه زېب سر چې بل ځای کې وزير ته ويلي دي:

تالـــه چـــې وزر پـــه سر کـــې کېـــږدي نغـــاره او کـــړي
تـــور مـــخ دې لاتـــور کـــړي دا دې قـــدر دوبـــاره اوکـــړي[292]

او په بل ځای کې يې د وزير لپاره دا سزا تجويز کړې ده:

دا يـــې ده ســـزا چـــې شـــپه او ورځـــې پـــه خـــره ســـور ګرځـــي
زړه چـــې د چـــاتور وي مـــخ دې هـــم دهغـــه تـــور ګرځـــي[۲۹۳]

محمد نواز طائر د "تواريخ حافظ رحمت خاني"په ديباچه کې د شيخ ملي د دور د ځينو سزاګانو په باره کې ليکلي، چې د سزاګانو دې ضابطې ته به يې شيخ ملي ويل. د دې په ذريعه به هر کال د زبرګې په مياشت کې د ټول ولس اخلاقي تطهير کېده. د محاسبې په وخت چې به کوم کسان په کوم جرم ماخوذ کړی شول هغو ته به د خپل جرم په تابين سزا ګانې ورکول کېدې. په دې کې دا سزاګانې شاملې وې، په خر ډانګ کول، په خره سورول، مخ تورول، سرخرېيل، په دورو وهل، سنګسارول وغيره. د شيخ ملي دا سزاګانې د پښتنو د هغه عامو رواجي سزاګانو، جرمانو او ناغو توغو نه بيخي مختلفې وې کومې چې به پښتنو مشرانو خانانو يا د هغوی جرګې د حجرې، کلي او قام د رواج مطابق ورکولې.[۲۹٤]

د پښتو په زمانه کې تو هم پرستي

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوي، چې د هغې زمانې ولس د فهم پر ځای د وهم ښکار و، د فال، تعويذ، زيارت، پيرانو فقيرانو د دعاګانو اهميت ډېر زيات و او د وخت چالاکانو به هم ډېر په اسانۍ سره په ولس کې خپل اثر رسوخ پيدا کولی شو. مګر د دغه اثر رسوخ فناه هم مشکله نه وه، ولې چې د ولس په دماغو د وهم حکمراني وه. د ولس عام خيال دا و چې پير فقير فوق البشر هستي وي او د لوی روحاني عظمت خاوند وي. د هغوی عام حيثيت د عامو ادم زادو نه مختلف وي نو چې کله به د هغوی څه معمولي انساني کمزوري ښکاره شوه نو دا به يو تندر وه، چې د پير د اثر رسوخ کور به يې تباه وبرباد کړ او بيا به يې پيري روشن ضميري وه نه فقيري دستګيري. په هغه زمانه کې بعضې زيارتونه يې د بعضې مرضونو د علاج دپاره خاص طور مقرر کړي وو، لکه مشهور حصار بابا (د حصار چکدرې) او پاچاګل بابا (ديولۍ نېکپي خېل) د ننکو او مختلفو فاسدو دانو د علاج ټېکداران کړي وو او په بعضې زيارتونو بې د بادو بابا نوم ايښيوه. داسې کسان هم ليدی شوي دي، چې په ننکو بيماران وو او د زيارتونو په چارديوارۍ کې يې ساه ختلې، خو د معتقدانو په اعتقاد کې يو ذره کمی هم نه دی راغلی او دايې ويل چې د دې رنځورانو خوارانو اجل راغلی وه او نور يې ټوک په دنيا نه وه، ور نه تابه د بابا کرامت ليدلي وو، دا ناپوهي د زنانو د طبقو زياته برخه ده.[۲۹۵]

د پښتو دور ځینې خوبیانې

لکه څنګه چې مخکې وویل شول چې د پښتو زمانه په وحشت او بربریت یاده شوې، خو دا خبره سمه نه ده، اصل کې په وادې سوات مختلف دورونه راغلي دي او ډېرو غیر ملکي جابرانو او امیرانو په دې ښکلې مزکه د قبضې کوښښ کړی او ځینې په کې عارضي کامیاب شوي هم دي مګر دې ولس غیر اسلامي یا غیر قومي تسلط برداشت کړی نه دی او په خپل همت او بهادرۍ یې بیا بیا ازادي حاصله کړې ده او کوم وخت چې د غیر قومي اقتدار خاتمه شوې ده نو دغه وخت ته یې د پښتو زمانه ویلې ده، یعنې د پښتون د خپلواکۍ او ازادۍ زمانه، خو په قلاره قلاره د کورنۍ فتنو او دشمنو په وجه دغې بدرنګ او بد شکل اختیار کړی دی. د پښتون دښمنانو[٣٦] دغې زمانې ته د وحشت او بربریت نوم ورکه او د پښتون خلاف یې د بې تمیزۍ طوفان پورته کړ او دا ځکه چې د پښتنو ازادي او خپلواکي د هېڅ چا خوښه شوې نه ده. بې شکه چې دغه وخت جهالت عام و او د جهالت په وجه خرابۍ هم زیاتې وې لیکن د عام ولس خوبۍ هم کمې نه وې.[٢٩٦]

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوي چې د پښتو دور د یو تور دور په نوم یاد شوی، خو د دې دور خپلې خوبیانې او ښه صفتونه هم وو، ښه صفتونه او خوبیانې دا وې چې قوم په مجموعي توګه مېلمه دوست او د هر قسم قربانو عادت و. د خپلو وعدو پابند وه ،عام خیالات ډېر اوچت وو او د هر چا په زړه کې د اسلام له دښمنانو نه نفرت او کرکه موجود وه.

[٣٦] د پښتو زمانې ته د وحشت او بربریت زمانه چې کومو لیکوالانو ویلې ده په هغوی کې له نورو نه علاوه تاج محمد خان زېب سر پخپله هم شامل دی، چې د هغه د کتاب "نوے سوات او شاه جهانزېب جلد اول له ۴۰ مخ نه تر ۴۴ مخ پورې حوالې په دې تېرو مخونو کې درج هم دي. باچا صیب په سوانح کې دې دور ته د وحشت او بربریت دور هم وېل شوی دی د کوم ذکر چې وړاندې تېر شو. د تفصېل لپاره د باچا صیب سوانح د محمد اصف خان لیکلی کتابله ۲۰۱مخ نه تر ۲۰٦مخ پورې کتلی شئ. دغه رنګ محمد ابراهیم بازارګوي د فتاوي ودودیه جلد اول مطبوعه ۱۹۵۲ په دیباچه کې په مخ ب هم د پښتو د دور ېرونکی تصویر وړاندې کړی دی. دلته تاج محمد خان زېب سر پخپله لیکي چې د پښتون دښمنانو دغه دور په خرابو لفظونو یاد کړی، نو د ټولو نه اول پښتون دښمن خو تاج محمد خان زېب سر معلومېږي که د هغه د خیال مطابق د پښتون دښمنۍ پېمانه دغه وي او له هغه نه زیات بیا پښتون دښمن باچا صیب معلومېږي ځکه هغه د دغې زمانې ډېرې خامیانې بیان کړې دي. له دې ټولو خبرو نه مونږ دا نتېجه راویستی شو چې درباري لیکوالانو اول دا شعوري کوښښ وکړ چې د پښتو دور خلکو ته بد ښکاره کړي چې خلکو ته د ریاستي دور قدر معلوم شي.

عوام د مذهب په مذهب مئېن وو او بيا خاص طور دا وصف د شاباشي لائق وه، چې په کمزوري دښمن به يې لاس نه پورته کولو او احسان به يې ورسره کولو او که خانداني مخالف به و او مرګونه به يې ترې کړي وو خو معافي به يې ورکوله او څوک چې به د چا په پناه کې و دهغه حفاظت به يې په په نره سره کولو او که چا به په دې سلسله کې کوتاهي اختيار کړه يا به يې کمزوري ښکاره کړه نو په نفرت به ورته کتلی شو. دا د هغې زماني د عام ولس د زړه فراخی عملي ثبوت وه. په طبيعتونو کې تلخي او تيزي ضرور وه خو چې څه به يې ويل او کول د هغې به له دهوکې فرېب او بې ايمانۍ سره هېڅ تعلق نه وه. د امانت خيانت قومي اهانت ګڼلی شه او د لين دين سلسله به ډېره په ايماندارۍ او صفايۍ سره جاري وه. اقرار يې اقرار او انکار يې انکار وه[297]

د پښتو په دور کې په سوات کې هوټلې نه وې د هر خان او ملک حجره هوټل وه، چې دغلته هر وخت د اشنا او نا اشنا ميلمنو پالنه کېدله او مفت ورته هر څه تيار وو او د هغوی د ارام به خاص خيال ساتلی شه، پخوا د هر چا سره د بل د دار و مدار فکر وه[298]تاج محمد خان زېب سر په خپل کتاب"افغاني ديوان زېب سر" کې د "پخوا او وس" تر سر خط لا ندې د زوړ سوات يعنې د پښتو د دور او د رياست سوات د ځينو خبرو موازنه کوي او ډېرې داسې خوبيانې په ګوته کوي چې پخوا موجود وې او اوس نشته:

پخوا صدق اخلاص وه اوس لباس کوي ياران   دا بل راغی دوران

پخوا صدق همت او محبت او عقيدت وه   هر کار د ارادت وه

اوس کسب د هر چاشه چغلي کسب بهتان   دا بل راغی دوران

پخوا مينه د دين او د مذهب او داسلام وه   بل مينه د خپل قام وه

اوس اخلي دين فروش دولت په دين او په ايمان دا بل راغی دوران

پخوا روحاني علم وه د شرعې د کتاب   هر کار وه د ثواب

اوس اوکړه ترقي سائنس حکمت په نن زمان   دابل راغی دوران

پخوا به د حاکم او د محکوم دا امتياز وه   دحاکم خاطر نواز وه

اوس ظلم دی زياتی دی د انصاف ورک شه نشان   دا بل راغی دوران

پخوا به د يتيم او د محتاجو دلداري وه   د خوارو غمخواري وه

اوس څکي د خوارو وينې لپې لپې ظالمان   دا بل راغی دوران

پخوا به اسمان زمکې په يو دم واخسته اور   مظلوم چې به کړه شور

اوس زور شوه گمراهي نشته اثر د آه فغان — دا بل راغی دوران
پخوا دهر چافکر هم د ذکر د اوراد وه — قران د هر چا یاد وه
اوس لولي فلسفه قانون په ځائی هم د قران — دا بل راغی دوران
پخوا په خپل ناموس به هم هر چا کاوه غېرت — هر دم په هر ساعت
اوس هر څوک دلالي د خور او لور کړي په خپل ځان دا بل راغی دوران
پخوا به دشمني وه د مسلم او د کافر — دا فرق وه ظاهر
اوس کاندي دښمني د مسلمان بل مسلمان — دا بل راغی دوران
پخوا په معجزه د سلیمان روان سریر وه — دا حکم د قدیروه
اوس پورته په هوا جهاز حکمت کړلو روان — دا بل راغی دوران
پخوا په معجزو به کاڼو بوټو کړې خبرې — نزدې وې که به لرې
اوس اوسپنې گویا شوې د حکمت په امتحان — دا بل راغی دوران
پخوا به نه حاجب نه چوکیدار د چا په در وه — امیر غریب پرور وه
اوس نیاز دی نذرانې دي د حاجب او د دربان — دابل راغی دوران
پخوا قدر د علم د ادب او د کمال وه — کمال جاه وجلال وه
اوس مال دی چې کمال دی هم جلال دی د انسان دا بل راغی دوران
پخوا چې به زېب سره د هنر قدر قیمت وه — د بل هغه قسمت وه
اوس ناخلي په کونجکو ستا در او ستامر جان — دا بل راغی دوران[۲۹۹]

د پخوا زمانې او د موجوده زمانې (یعنې د زېب سر د دې شعرونو د لیکلو د زمانې) موازنه چې زېب سر په دې شعرونو کې کړې ده نو زیاتې نیوکې یې د خلکو پر کردار او رویو باندې کړي، خو ځینو ځایونو کې دا هم ښکاره دي چې د پخوا زمانې په نسبت د موجوده دور حکمرانانو کې ظلم زیاتی ډېر دی او انصاف دلته نشته، خو کله چې مونږ د زېب سر د دې شعرونو موازنه د هغه بیان سره وکړو کوم چې ده د پښتو دور په باره کې کړی دی، نو د یو سړي په خبرو کې د زمکې او د اسمان فرق ښکاري، یعنې په کوم وخت کې چې د ریاستي دور صفت کول غواړي او ریاستي حکمرانان خوشحالول غواړي نو هغه وخت کې د پښتو دور ته د تیارو او ظلم دور وایي او کله چې په موجوده دور کې د خلکو د رویو او کردار غندنه کوي نو بیا د پښتو د دور د هر څیز ستاینه او صفتونه کوي. له دې نه پته لگي چې د پښتو دور

دومره خراب هم نه و، لکه دې درباري لیکوالانو چې بیان کړی دی او بیا دوی چې کوم صفتونه کړي دي نو دومره خوبیانې پکې هم نه وې خو د دې دواړو مینځ و مانه حالات وو.

د پښتو په زمانه کې چې کومې تورې تیارې وې او بیا په ریاستي دور کې رڼا ګانې خورې شوې نو د دې دواړو دورونو موازنه تاج محمد زېب سر داسې کوي:

اوس هغـــــــــه دور د ظـــــــــالم د فتنـــــــــــو لاړ
د پښـــــــتون عمـــــــر زبـــــــون د دښـــــــمنو لاړ
امیرالمـــــــــومنین میاګـــــــــل صـــــــاحب
چـــــــې دی ســــــیوری د رحمـــــــت د رب واهـــــب
دی رحمـــــــت رب رالیږلـــــــی پـــــــه دی قـــــام دی
پـــــــه پښـــــــتون دور د عـــــــېش او د ارام دی[300]

زېب سر لیکي چې اوس د وهم پر ځای د فهم د تخریب پر ځای د تعمیر او د جبر کبر پر ځای د انصاف او احسان دوران دی، د قوم ذهني او تمدني غرض تمام حالات بدل شوي او نه یواځې په قوم بلکې د ملک په تمامو مناظرو کې څرګند فرق راغلی دی. د نوي سوات هر سړی په سلیقه او طریقه پوهه دی، خلک مهذب دي، مؤدب دي، د نوي سوات د سیل او سیاحت د دنیا سیاحان او محققان ارزو مند دي، سوات دویم کشمیر دی، دلته د اسلامي قومي ورورولۍ سلسله قائمه ده، دلته د عقل او تدبیر حکمراني ده، دلته صرف یو مذهب، یو مسلک او د ولس یوه عقیده ده، دلته د یوې کعبې، یو قران او یو الله پرستار مو جود دي، دلته د خلوص محبت او د اخلاص رواج دی، دلته د هر قسم فسادونو او بغاوتونو دروازې بندې دي، دلته د تعمیر چرچې دي او د تخریب نشان ورک دی، دلته د غریبانو د مدد د محتاجانو د حاجت روایې، د بیمارانو د علاج، د مظلوم د دادرسۍ صالحانه او شریفانه نظام موجود دی، دلته د عوامو سره شاهي رابطه د خلوص او محبت قائمه ده [301] په ریاستي دور کې د ژوند په هره شعبه کې بدلون راغلی دی. اول به پراچګانو په خرو قچرو د تجارت سامان وړلو خو په ریاست کې سړکونه جوړ شول او لارۍ موټرې به پرې چلېدې. باچا صیب توري وران وېش وکړ او خلک یې د کډو ګرځولو نه دمه کړل. په ریاست کې کلي په کلي هسپتالونه او شفاخانې جوړې شوې، چې به پکې قابلان سندیافته ډاکټران موجود وو.[302] زېب سر لیکي چې پخوا به کورونه چوپړي وې، نن پرون د تېرې زمانې د خان په کور کې دهقان هم اوسېدل نه خوښوي. پخوا عام تلل راتلل پیاده وو صرف

ځینو مشرانو به د خپلې سورلۍ لپاره اسونه ساتل، اوس پیاده ګرځېدل عار تصور کېږي او د اسونو ځای موټرو او ټانګو نیولی دی او عوام هم پیاده امدورفت نه کوي. اوس وخت هم قیمتي دی او خلک یې په قدر او قیمت پوهه شوي دي نو هر څوک ځان په جلدۍ سره منزل مقصود ته رسوي، پخوا به په پرتوګ او ساده قمیص او تورو پټو ولس خپله ګوزاره کوله، اوس کوټ واسکټ، قمیص، ټوپۍ، پتلون، جرابو، ټائي او سویټر د هغه ساده لباس ځای نیولی دی. پخوا خوراک ساده طرز معاشرت ساده وه او هر څوک د غریبانه ژوند سره اشناوو، د پړوکټونه او انډېري به استعمالېدل، اوس د پړو ځای نوارو ونیوۀه،خوراک مکلف شه، چای بسکټ رواج ومونده او د میز کرسۍ، قالین او د نوارو کټونه او کونچونه په سیالۍ سره استعمالېږي. [۳۰۳] د میاګل جهانزېب په دور کې چې سوات د ژوند په هره شعبه کې کومه ترقي کړې وه د هغې موازنه له تېر دور سره تاج محمد خان زېب سر داسې کړې ده:

هـــــر څــــه د ملـــک بـــــې لارې وو روان ابـــه پــــه لارې
د دینـــه ټـــول احـــوال د ملــک معلـــوم کــه کــه هــو ښــیار یـــې
اوس هـــــر څــــه شــــو پــــه لار ابــــه د لارې شــــولې لـــــرې
د ملـــــک د تــــر قـــــۍ جــــوړې شــــوې نــــوې دا خــــبرې
اوس لویـــــه لار شــــــوه جــــوړه د قـــــانون او د انصـــــاف
صــد شــکر چــه پــه ملــک کــې نشــته ځــای د هــېڅ خــلاف
نـــه بغـــض نـــه حســـد شـــته نـــه د یـــو بـــل دښـــمنۍ
یـــادېږي لکـــه خـــوب قیصـــې اوس مـــونږ تـــه پخـــوانۍ
رحمـــــت د رب نـــــازل شـــــه عــــدل فضــــل د ســــلطان
دا بــــــــــــــــــل راغــــــــــــــــــی دوران
نـــه هغـــه ظلـــم زور شـــته نـــه ســـتم او رشـــوتونه
رحـــمان پـــه ســـوات بـــونبر کـــړل نـــازل خپـــل رحمتونـــه
هــر خــوا ښــکلې بــاغچې دي چــې بلبــل پــرې خــوش خــواني کــړي
راعــــي پــــه رعایـــا عــــدل احســـــان، مهربـــــاني کــــړي
بـــې شـــکه جـــوړ جنـــت دی ســـوات پـــه امـــن پـــه امـــان
دا بــــــــــــــــــل راغــــــــــــــــــی دوران
پخـــوا نـــه علـــم فـــن وه نـــه مکتـــب وه نـــه اســـتاد

یـــو کســـب وه چـــې یـــادوه او نامـــه یـــې وه فســـاد
ځـــوانمرد وه هغـــه څـــوک چـــې بـــه قاتـــل د مســـلمان وه
رهـــزن شـــجاع بالـــه شـــه نـــه څـــه امـــن نـــه امـــان وه
نـــن علـــم دی هـــنر دی چـــې پـــرې فخـــر کـــړي افغـــان
دا بـــــــــــــــل راغـــــــــــــــی دوران
پخـــوا د عـــدل نـــوم چـــا اخســـتی نـــه شـــه پـــه ژبـــه
مظلـــوم پـــه غـــم اختـــه وه تـــل د ظلـــم د غضـــبه
کـــه جـــوړی محکمـــې وې خـــو انصـــاف وه پـــه رشـــوت
کامیـــاب بـــه هغـــه څـــوک وه چـــې پـــه لاس یـــې وه دولـــت
اوس عـــدل دی کـــرم دی هـــم انصـــاف دی هـــم احســـان
دا بـــــــــــــــل راغـــــــــــــــی دوران
پخـــوا دهوکـــه فریـــب، بـــې ایمـــاني او نـــاپوهي وه
پـــه نـــوم اســـلام وه مگـــر شـــغل گمراهـــي وه
د قـــوم او هـــم د ملـــک د تبـــاهۍ وو ټـــول کارونـــه
هـــر ځـــای فقـــط د زور ظلـــم وو گـــرم بازارونـــه
اوس صـــلح راســـت بـــازي ده زېـــب زینـــت د مســـلمان
دا بـــــــــــــــل راغـــــــــــــــی دوران
پخـــوا فـــرق ورک شـــوی هـــم د حـــق او د باطـــل وه
وه شرم علـــم حلـــم جهـــل فخـــر د جاهـــل وه
د جهـــل ټـــول رســـمونه وو جـــاري پـــه ټـــول وطـــن
دا بـــاغ وه د بلبلـــو ځـــای د زاغ او د زغـــن
اوس راغلـــه روشـــنایي حـــق غلبـــه اوکـــړه پـــه ځـــان
دا بـــــــــــــــل راغـــــــــــــــی دوران
پخـــوا وریـــځ خـــوره وه پـــه وطـــن د پریشـــانۍ
خـــواري او بـــې کـــاري او نـــاداري او نـــاتوانۍ
نـــه ســـود او نـــه ســـودا وه ســـوداگر وو خوارزبـــون
ډېـــر فـــرق دی ای خلقـــه د دې نـــن او د پـــرون

اوس ورک شـــــه د خـــــوارۍ او بېکـــــارۍ نـــــام ونشـــــان
دا بـــــــــــــــــــــل راغـــــــــــــــــــــی دوران
پخـــــوا لارې کـــــړې وې د هـــــر کـــــور رفـــــتن د پـــــاره
مـــو زيـــر غوښـــتې فائـــدې وې خـــاص د خپـــل بـــدن دپـــاره
ټـــول کـــور قـــانون جـــاري وه پـــه دې ملـــک د پښـــتنو کـــې
دا قـــوم غريـــب اختـــه وه يـــو د بـــل پـــه دښـــمنو کـــې
اوس ســـاز شـــو صـــاف ســـړکونه قـــانون جـــوړ شـــه د قـــران
دا بـــــــــــــــــــــل راغـــــــــــــــــــــی دوران
پخـــوا پرېکيـــدې ونـــې داهـــم ځـــومره نـــادانۍ وې
نقصـــان د مېـــوو ســـيورو وه د هـــر چـــا پريشـــانۍ وې
د خپلـــې عارضـــې فائـــدې پـــه خيـــال بـــه وو تبرونـــه
نـــادان بـــه پريکـــول پـــرې د خونـــه چنـــار سرونـــه
اوس جـــرم دی کـــه اوکـــړي څـــوک هـــم دا قـــومي نقصـــان
دا بـــــــــــــــــــــل راغـــــــــــــــــــــی دوران
پخـــوا بـــه قـــران پـــروت وه خـــاص د پـــاره د قســـم
اگـــاه هـــيڅ پـــه معنٰـــي د قـــران نـــه وه يـــوادم
لـــه دی رنگـــه قســـمه جـــوړې شـــوې مســـخرې وې
پرتـــې پـــه پريشـــان حـــال هـــم د قـــران دا ســـيپارې وې
اوس حکـــم دی چـــې پـــوه دې پـــه معنٰـــي شي هـــر انســـان
دا بـــــــــــــــــــــل راغـــــــــــــــــــــی دوران
اوس هـــر ځـــای پـــه هـــر ســـکول کـــې د قـــران کيـــږي تعلـــيم
پيـــدا شـــه پـــه هـــر زړه کـــې د قـــران قـــدر عظـــيم
زيـــب سره جهانزيـــب د جهـــان نقـــش کـــه بـــدل
رحمـــت هـــزار رحمـــت دې وي پـــه ده دلم يـــزل
بـــاقي دې پـــه دې قـــام وي تـــل دا ســـبوری د رحـــمان
دابـــــــــــــــــــــل راغـــــــــــــــــــــی دوران[۳۰۴]

د زېب سر په دې اوږد نظم کې هغه په خصوصي توګه د میاګل عبدالودود او بیا د هغه د ځوی میاګل جهانزېب د باچاهۍ د دور موازنه کړې ده او بیا یې نسبتاً د میاګل جهانزېب ته ښه دور ویلی دی. په یو څو ځایونو کې یې د هغه زمانې د وزیرانو[37] په ځینو خبرو هم نیوکې کړې دي. حبیب الرحمٰن هم په یو نظم " پخوانی سوات او نن" کې د زوړ او نوي دور موازنه داسې کړې ده:

وطـــــن د ســــــوات اوس دلیــــــدو قابــــــل شـــــه
هـــــم د تعریـــــــف د اوریــــــدو قابــــــل شـــــه
شـــــکر اوباســــــئ د خــــــدای پــــــاک ســـــواتیان
اوســــــنی ســــــوات د یــــــا دېــــــدو قابــــــل شـــــه
دا هغـــــه ســــــوات چــــــې د ظلمونــــــو کــــــور وه
زړه د هـــــر چــــاد یـــــو لـــــه بلـــــه تـــــور وه
حـــــق او انصــــاف نـــــه چرتــــه چـــــا پېژنــــده
شـــــوکې ډاکـــــــې وې ډېـــــــرې ظلــــــم زور وه
ګنهلــــــــی شـــــه بـــــــه ورو دښــــــمن د ورور
بـــــل پـــــه هـــــر ځــــای کـــــې وه د ظلـــــم اور
داد خــــــواهي چــــــاد غریبــــــانو کړلــــــه
چـــــــې د چــــــا زور وه ،وه د هـــــــاغوکور
د خپـــــل پـــــردي وه امتیــــاز چرتـــــه کــــې
د ځـــــوی او پـــــلار وه نـــــاز نیــــار چرتـــــه کــــې
ژوبلــــــې مرګونــــــه وه پېشــــــه د وطـــــــن
د داد رســــــی کېـــــــده اواز چرتــــــه کـــــې
د خــــــان ملـــــــک وه واک اختیـــــــارد کــــــلي
کــــــړه پښـــــتون میــــا مـــــلا بیګـــــار دکــــلي

[37] زېب سر په خپلو وړومبو کتابونو کې د سوات د دې وزیرانو ډېر صفتونه کړي دي خو چې کله د وزیرانو او د میاګل عبدالودود په مینځ کې اختلاف راغی او وزیران یې له سوات نه وویستل نو بیا زېب سر د هغوی په هجو کې یو کتاب لیکلی دی چې نوم یې "موزیرنامه" دی. داسې هم ویل کېږي چې میاګل عبدالودود په خپل دور کې په دې کتاب پابندي لګولې وه.

خـــــان بـــــه حجـــــره کلـــــه بـــــه کـــــور جـــــوړاوه
کـــــولی خپـــــل نـــــه شـــــه چـــــا کـــــار دکـــــلي
هغـــــه ســـــړی بـــــه وه نامـــــدار پـــــه ســـــوات کـــــې
چـــــې وه هغـــــه بـــــه لـــــوی خونخـــــوار پـــــه ســـــوات کـــــې
یـــــا زمانـــــه وه هغـــــه یـــــا نننـــــۍ
چـــــې نشـــــته نـــــن څـــــوک ســـــتمګار پـــــه ســـــوات کـــــې
د غـــــل رهـــــزن وه د شـــــوکمار زمانـــــه
پـــــه یـــــو چـــــال نـــــه کـــــوي رفتـــــار زمانـــــه[۳۰۵]

د ریاست نه په اولني دور کې او بیا د ریاست په دور کې په سوات کې ډېر بدلونونه په نظر راځي. دا خو ښکاره خبره ده چې د ریاست له جوړېدلو نه وړاندې دلته به خلکو د یو قبایلي نظام لاندې ژوند تېرولو او د حکومت له راتلو سره په ټولنه کې ډېر بدلون راغی.

د سوات خوشنویسان

په دې دور کې په سوات کې ځینې خوشنویسان او کاتبان هم موجود وو کومو چې به د پښتو د کتابونو کتابت کولو. په دوی کې فیضان سوات، عزیز الرحمان تحصیلدار، منشي ګل برخان او مهرالنسا بانو شامل دي.

د دې دور د ځينې ليکوالانو پېژندګلوي

تاج محمد خان زېب سر

د تاج محمد خان زېب سر د پلار نوم پير محمد خان و، دی د سوات د بره باندۍ کلي اوسېدونکی و. زېب سر په ۱۲۹۸هجري بمطابق ۱۸۷۴عيسوي پيدا شوی و. د ۱۹۸۱م کال د دسمبر پر ۲۵مه وفات شوی دی. هغه په نظم او نثر دواړو کې ليکل کړي او د ولي محمد طوفان او نورو شاعرانو له طرف نه ورته د ۱۹۵۱م کال د اکست پر ۲۴ مه د " فردوسي سوات" لقب ورکړل شو. مياګل عبدالودود هغه ته د "اديب سوات" لقب هم ورکړی و. هغه رسمي زدکړې نه وې کړې، خو په پښتو، فارسۍ، عربۍ او اردو ژبو پوهېده. د زېب سر چاپ او ناچاپ اثار دا دي:

علامات قيامت، اصلاحات سوات، مجموعه مضامين، افغاني ديوان زېب سر، د پښتو خطبې، عروج افغان (ځلور جلدونه)، مناسک حج (سفرنامه)، ديوان فارسي (ناچاپ)، مجموعه خطوط زېب سر به زبان فارسي، انوار سهيلي منظوم (ناچاپ)، تاريخ خلفا اربعه منظوم (ناچاپ) ، نوی سوات (ځلور جلدونه)، موزير نامه.

د سوات يو ليکوال محمد اصف خان د " سرګزشت فردوسي سوات تاج محمد خان زېب سر" په نوم يو کتاب مرتب کړی، چې د زېب سر د ژوند او ادبي خدماتو ذکر لري.

حاجي عبدالحنان

حاجي عبدالحنان د مينګورې اوسېدونکی و."د جنت حوره" په نوم يې يو کتاب له يو بل مصنّف محمد صالح مظلوم سرحدي سره په شريکه ليکلی دی. د محمد صالح مظلوم سرحدي له نوم سره په کاتب له پاسه مقام هاتيان ليکلی دی. په کتاب کې محمد صالح مظلوم په يو شعر کې د خپل کلي ذکر داسې کوي:

چـــــې تــــــر ځــــــو پـــــورې مظلـــــوم پکـــــې اوســـــيږي
تــــــر هغـــــــې پـــــــورې ګلـــــزار بــــــه وي حصــــــار[۳۰۶]

په حاشيه کې يې ليکلي، چې حصار د مظلوم صاحب د کلي نوم دی. دا کلی له هاتيانو نه مشرق طرف ته لوند خوړ ته نزدې پروت دی. د حاجي عبدالحنان صاحب له نوم سره مينګوره ليکل شوې ده. په کتاب د چاپ کېدو نېټه نشته خو په کتاب د رياست سوات

د لیکلو نه دا معلومېږي چې دا کتاب په ریاستي دور کې چاپ شوی دی. د دې کتاب پبلشر حاجي عبدالحمید و محمد سعید مالکان اسلام بک سټور بازار مینگوره ریاست سوات دی. د دې کتاب کتابت عبدالودود خوشنویس کړی او د خورشید عالم پریس لاهور نه چاپ دی. وایي چې د حاجي عبدالحنان نیکونه د صوابۍ ډاگۍ نه راغلي وو. د حاجي عبدالحنان قبر په ډېرۍ مقبره مینگوره کې دی. په مینگوره کې د ده یو نمسی فضل برهان وایي چې د ده یوه قلمي نسخه هم وه خو بې درکه شوې ده.[۳۰۷] د حاجي عبدالحنان دوه ځامن وو، یو فضل منان او بل فضل حنان. د فضل منان دوه ځامن دي فضل برهان او فضل غفران.[۳۰۸]

عبداللطیف شاهین

مخکې له دې نه چې د شاهین په شاعرۍ کې د پښتني اقدارو جاج واخستی شي دا خبره ډېره ضروري گڼم چې د شاهین صیب د ژوند په باره کې لنډ شان ذکر وکړی شي. عبداللطیف شاهین په ۱۹۳۴کال کې د سوات په چینداخوره[۳۰۹] نومې کلي کې د صاحبزاده احمد جان په کور کې سترگې وغړولې. د شاهین صیب د نیکه نوم صاحبزاده مدرار الله وه او د صاحبزادگانو له نسب سره یې تعلق لرلو.[۳۱۰] دوی وړومبۍ زدکړې د خپل کلي په جماعت کې کړې وې او بیا یې تر څلورم جماعت پورې سبق د هندوستان په ډیلي ښارکې وویلو. په دغه دوران کې دوی په چهټۍ پاکستان ته راغلل او بیا چې واپس تلل نو داخلې بندې وې، نو دوی په همدرد دواخانه کې نوکري شروع کړه. اته انې به یې ورته د یوې ورځې مزدوري ورکوله او بیا چې کله نوکري پخه شوه نو یویشت روپۍ یې د میاشتې تنخواه مقرر شوه. په ۱۹۴۷ کال چې کله پاکستان جوړ شو نو دوی له ډیلي نه پاکستان ته راغلل او د دوی د وینا مطابق دا د دوی د ژوند یوه ترخه واقعه وه. شاهین صیب په ۱۹۵۸کال کې واده وکړو، الله پاک ورته شپږ زامن او درې لوڼه ورکړې دي. د هغوی د وینا تر مخه هغوی په هغه وخت کې شاعري شروع کړې وه چې لا ږیره یې په مخ نه وه راغلې. دوی په مجلس پښتون ریاست سوات کراچۍ نومې یوه ټولنه کې قومي نظمونه ویل شروع کړي وو. دوی به له پېښور نه د یو وتونکي اخبار "مظلوم دنیا"کې قومي نظمونه لیکل او دغه رنگ د خانمیر هلالي اخبار ته به یې هم نظمونه لېکل. د خپل دور په شاعرانو کې یې د نوښار عبدالله استاذ د خوښې شاعر و. د دوی دوه شعري مجموعې چاپ شوي دي، یوه شعري مجموعه یې د"شغلې" په نوم په ۱۹۶۹ کال کې چاپ شوې ده او بله

مجموعه يې د"ستا نظر کې څنګه ښکارم" په نوم په ۲۰۱۱ کال کې د سوات کبل د جان کتاب کور له خوا چاپ شوې ده. شاهين صيب په سوات کې د مختلفو ادبي ټولنو غړی او مشر هم پاتې شوی، چې پکې سوات ادبي کاروان او پښتو ادبي ترون کبل د يادولو وړ دي. شاهين صيب د دوه زره شپاړلسم کال د ستمبر پر دېرشمه له دې فاني دنيا نه د همېشه لپاره سترګې پټې کړې،په ګور بې نور شه.

رحمت الله استاد

رحمت الله استاد يو ولسي شاعر و، د پلار نوم يې حبيب الله و. رحمت الله استاد په ۱۸۹۹م کې په سوات ګوګدره نومې کلي کې پيدا شوی و. د راجه ګيرا د لور متعلق يو روايت او د پيريانو په باره کې يوه قيصه عنايت الرحمان په ۱۹٦۸م کې له رحمت الله استاذ شاعر نه نقل کړې او ليکلي يې دي چې عمر يې پينځه شپېته کاله دی، نو په دې حساب د هغه د پيدايښت کال ۱۹۰۳م معلومېږي.[۳۱۱] د دښمنۍ په وجه اوډيګرام او بيا وروسته مينګورې ته منتقل شو. دی په ځوانۍ کې په انګريزي فوځ کې برتي شو، خو د خپل ازاد طبيعيت په وجه يې دا نوکري پرېښوده او بيا د څلوېښتو کالو په عمر د رياست سوات په فوځ کې برتي شو. په ۱۹٦۴م کې د حوالدار په حيثيت له فوځ نه ريټائرډ شو. د ۱۹٦۹م کال د ستمبر په وړومبۍ نېټه وفات شو، قبر يې د مينګورې د حاجي بابا په مقبره کې دی. د ده د ژوند په باره کې نور معلو مات ما د ۲۰۱۳م کال د اکتوبر پر ۲۱ مه په روزنامه چاند سوات کې ليکلي دي. د دويم نړيوال جنګ په باره کې د هغه يوه مشهوره چاربيته دلته وړاندې کوو:

راپورته شه جـــــــــــرمن
دنيا شوه په لـــــــــــړزان
په کور کې د يورپينو داسې جنګ جـــــــــدل شه
کمزوری په کې دل شه
راپورته دا پارټي شوه
کافـــره کميټي شوه
نازيان بناوټي شوه
جــــــرګه يې داسې وکـــــــړله په ښار کې د برلن
راپورته شه جـــــــــــــــرمن

گلبرزه که هټلـــــــــــــــر
رومل[38] و که املـــــــــــــــر
گوئی رنگ[39] يې غټ کافـــــر
هر هاس او رمبنډراف وو په کې دواړه شيطانان
دنيا شوه په لـــــــــــــړزان
رومـــــــــــل به شکايت
کولو هـــــــــــر ساعت
هټلر يې کـــــــــــړو وچت
حمله يې په پولينډ[40] وکـــړه د سبلمې اور پرې بل شه
کمزوری په کې دل شه
حملــــــــــــه يې په پولينډ
رقم يې کـــــــــــړو هر لينډ
چغـــــــــــــل و چيمبر لين[41]
وزير د انگـــــــــــرېزانو په دې جنگ و راضي من
ورته شه جـــــــــــرمن

وزير د انگــــــــــــــرېزانو
خوريی د جـــــــــــرمنيانو
جوړ کــــــړی يې نقصان و
مدد چې يې اونکـــــــــــــړلو د سويډن په مېدان

[38]General Rommel د ﺋټلر د ټېنکونو ماهر وه.

[39]Hermann Göring د جرمني هوائي فوځ مشر و. ده په ۱۸ اگست ۱۹۴۰ په انگلينډ وړومبی هوايي حمله وکړه.

[40]د دويم جنگ عظيم شروع د جرمني په پولينډ د حملې نه وشوه ـ جرمني په اول ستمبر ۱۹۳۹ په پولينډ اولنی حمله وکړه او دغه رنگ په ۲۲ ستمبر ئې دارالحکومت وارسا قبضه کړ. په ۱۷ ستمبر روس هم په پولينډ حمله اوکړه او بيا د روس او جرمني په مينځ کې په ۲۹ ستمبر د بارډر معاهده وشوه. په دې وخت کې فرانس او برتانيه د پولېنډ ملگري وو او د جرمني او روس اتحاد و.

[41]د جرمني خلاف په وخت په اېکشن نه اخستلو د ده خلاف خلک راپورته شول او په ۱۰ مئي ۱۹۴۰ د استعفي ورکړه. له چيمبرلېن نه وروسته ونسټن چرچل وزير اعظم شو.

دنیا شوه په لــــــــــړزان

سویډن او د ډنمارک[٤٢]
د ناروی[٤٣] باچا ورک
بېلجیم غریب یې سپک
اواز یې فرانس ته وکــــــــــړو تاته پاتې مې بدل شه
کمزوری په کې دل شه

کــــــــړو فرانس ته یې اواز
ښکاره یې کــــــــــړلو راز
هټلر کــــــــړو کومی واز
دېره شه مخــــــــــامــــــــخ چې بندرګاه ته د لندن
راپورته شه جـــــــــرمن

لــــندن پسې جـــــازونه
ورپورته کـــــــــړه نېزونه
پکې وو ډېر فوځـــــــونه
ګـــــــــولۍ به پرې د پاسه ورېدې لکـــــــه باران
دنیا شوه په لـــــــــړزان

بــــــاران چـــې ورېدو به
هــــــر څوک ترې یرېدو به
دنیـــــــــا نه تېر پدو به
واړه وو که زاړه وړي ماړه هــــــــــــر سړی جل شه
کمزوری په کې دل شه

هر چا به کـــــــــړو فریاد
خپل رب به یې کــــــړو یاد
دشمن یې کـــــــړو برباد

---

[٤٢] جرمني په ۹ اپرېل ۱۹۴۰ ډنمارک قبضه کړه.
[٤٣] جرمني په ۱۹۴۰ کې ناروې همقبضه کړ. په ناروې کې نارویجین نازي پارټي وه. د دې پارټۍ مشر Major Quisling د هټلر سره رابطې وې.

یورپ نه شو روان شـــــولـــــــو یونان د ده پسند
راپورته شه جـــــــرمن

یونان[٤٤]کې چې دېره شه
د کـــــریټ[٤٥] په ننداره شه
خپل زور ته چې غـــــره شه
ټېنکونه یې ورخلاص کړلـــــو تباه یې کړل روسیان
دنیا شوه په لـــړزان

د روس سره یې جنګ
ده جوړ کـــــړو په ځنګ
میدان په وینو رنګ
داخل په سټالنګ راډ[٤٦]کې هر سړی وروستو اټکل شه
کمزوری په کې دل شه
اسټالن شه په قـــــــار
اوچت شه لکه مـــــــار
بیا یې دا و ګفتار

مدد دې رالــــه راکـــــــــــړي نن برطانیه تورزن
راپورته شه جـــــــرمن

برطـــــــــانیه نهنګ
وچت شه په غورځنګ
تیــــــار شه په تفنګ
فوځـــــــــــونه یې د هند کــــــړلو ټول مصر ته روان
یا شوه په لــــــــــړزان

[٤٤]په ۲۴ اپرېل ۱۹۴۱ یونان جرمني ته سرنډر شه.
[٤٥]په میډیټیرینین کې د یوې جزیرې نوم دی. کله چې په ۲۴ اپرېل ۱۹۴۱ یونان سرینډر شه نو هلته موجود برتانوي ځواکونه کریټ ته راغلل او د میاشتې نه په کمه موده کښې یې کریټ Crete هم خالي کړه او واپس شول.
[٤٦]۱۹٤۲

ټول فوځ اتم نمـــــبر
د جنګ شو مقـــــرر
منټګمري کمـــــانډر
طبروق او په سولـــم په بن غازي د غم غوبل سه
کمزوری په کې دل شه

طبروق او په سولـــــــم
سپاهيانو د عجــــــم
چـــــــې کښودو قدم
طبريا او مراکـــــــو ترېنه قبضه کــــړو امريکن
راپورته شه جـــــرمن

طـــــبريا او ټېنوس
ورخلاص يې کړو جاسوس
اربونه د فلـــــوس
قامـــــونه په دولت يې بغاوت کـــــــړل د اڼان
دنيا شوه په لـــــــړزان

اټلي د جنګ محـــــاذ
دوه زره ميلـــــه ساز
پلـــــن والـــــی يې دراز
په تېښته باندې لاړهغه ورځ لېټ مخکې مزل شه
کمزوری په کې دل شه

دويمه حملـــــه ياره
سرکار کـــــړله تياره
د فـــــرنچ د ننګ د پاره
شپږ زره هـــــوايي جـــــازونه لاړل په رفتن
راپورته شه جـــــرمن

درې زره يې بحـــــري وو
اواز يـــــې د بـــــري وو

دا حکــــــم سرکاري وو
افسر يې الېگزېنډر کمـــــــــــــانډر کاو کمان
دنيا شوه په لـــــــــړزان
افسر يې لکــــــه شېر
په لاس کې يې شمشېر
دښمن يې کـــــړو راگېر
د توپو د غړمبا نه په نارمنډه[47] کې زلـــــــــزل شه
کمزوری په کې دل شه
د توپو لـــــــــــړايي وه
شاهـــــــــانه بړايي وه
بېلجيم ته چـــړهـــايي وه
مدد چې يې ورکـــــــــــړی وو بادشاه د واشنگټن
راپورته شه جـــــرمن
بادشاه شپړم جـــــــارج
تعليـــــم يې د کالـــــج
دشمن يې کـــــړو چارج
وسله يې کېښودلـــــــــــه سلاميان شو جـــــرمنيان
دنيا شوه په لـــــــړزان
کم اصل جـــــــــرمنی و
کمـــــــــــزوری پخوانی و
جــــوړ کړی يې شيطانی و
يورپ په وزيرانو کې کامياب څکه چرچــــــل شه
کمزوری په کې دل شه
چرچـــــل وزير اعظـــــــــــم
تاريخ يې کـــــړو رقـــــــم
خبر شو ترې عالــــــــــــم

---

[47] جون ۱۹٤٤

ملکونه د ظالم څلور ټوټې کـــــــــړل چار مسکن
راپورته شه جـــــرمن
ملکـــــــــــونه د ظاليم
بيا دوي کړلـــــــو تقسيم
لاپته دی غليـــــــــم
مشرق محـــــــــاذ د روس شو جنوبي د فرانسيانو
دنيا شوه په لـــــړزان
مغـــــــــرب شه د سرکار
پوهېنده په هـــــر يو کار
دی گـــــــرېټ فتڼ تيار
شمال يې امريکې ته حـــــواله کـــړو د ده خپل شه
کمزوری په کې دل شه
سن انيس سوه خـــــاص
انتا ليس پرې د پاس
مضبوط کـــــــومه باث
د جنگ بنياد چـــې کېښود په دنيا کې گپ سپن
راپورته شه جـــــرمن
دنيا کې جنگـــرېزي شوه
هرځای کې خونرېزي شوه
غالبه انگــــــرېزي شوه
پنتاليس کې شـــو ختم څکــــــه ويم د جنگ بيان
دنيا شوه په لـــــړزان
شاعر د مينگـــــــــــورې
کمال کـــــــــوي خبرې
لغات يې ملغلـــــــــرې
استاد رحمت الله وايي قلاره هـــــــــــر محفل شه
کمزوری په کې دل شه

زرگر شاعر

پروېش شاهین لیکي چې په ۱۹۳۵م کې د سوات په سیند کې یو طوفان راغلی و، چې زیات زیان پکې د یو زرگر عبدالکریم استاذ شوی و. د هغه په دغه تباهۍ یو بل زرگر چې شاعر و څه دا رنګ وینا کړې ده:

زرګره ټینګ شه ورته دریاب موجونه وهي
د اولس ټا [کذا] د ابو سر په کوهستان اولګېد
داسې طوفان اولګېد
د باڼیال تحصیلدار
په ښکته ووهلو تار
سپه سالار شولو بیدار
وزیر صیب خوشې کړه بنګله سیند وایي سندره ورته
ټینګ شه زرګره ورته
په سنګوټه به شي خلاص
ماورته کړی دی قیاس
خوله دې نغاړه سین د هیچا ملازې نه کوي
ډېرې ستېزې نه کوي
خوله دې بیرته که وس
لاس ورته ورته که وس
پېټۍ دې سر ته که وس
څه سنګوټې له اماني پرېږده شولګره ورته ټینګ شه زرګره ورته[۳۱۲]

سید عثمان طالب

سید عثمان طالب د سوات په ګدا کوټ نومې کلي کې په۱۸۹۰م کال کې پیدا شوی و. دی د ګدا کوټ بابا نمسی وه څوک چې د اصله سید و او د ببرې خوشاب نه ګدا کوټ ته په میشته راغلی وه.[۳۱۳] سید عثمان طالب په۱۹۶۲م کال کې د دوه اویا کالو په عمر وفات شوی دی، قبر یې په مینګوره کې دی.[۳۱٤]

فضل الرّحمان فيضان

فيضان په ۱۹۲٦م کې په عالم گنج کې پيدا شوی و. د ده خپل نوم فضل الرحمان و، د پلار نوم يې عبدالرّحمان و او د نيکه نوم يې شيخ حبيب الله و، په قوم ټکرياخېل و.[۳۱۵] د پينځلسو کالو په عمر کې يې د نعتونو وړومبی کتاب "نوبهار مدينه" ليکلی و. په مردان (جمال گړهی) او شامنصور کې يې زدکړې کړې وې. په نوښار (چوکي درب) کې به د شاه افضل استاذ په جماعت کې اوسېده او د خوشنويسی فن يې د هغه نه ايزده کولو، په رياستي دور کې والي سوات مرزا واخسته، څه وخت وروسته د ځينو خلکو په سازش دی له نوکری نه وويستل شو او په ۱۹۵۰کال کې پېښور ته لاړ. په پېښور کې له راحت زاخيلي سره دېره شو، په دغه وخت کې د جهاد او افغان اخبارونو کاتب خاص مقرر شو. څه وخت وروسته چې کله والي صيب تحقيقات وکړل، نو په ۱۹۵۱ کې يې دی دوباره سوات ته راوست او والي صيب په خپل دفتر کې مرزا ولگولو . د خادم محمد اکبر او بادشاه گل نيازي په مشوره يې فيضان تخلص خوښ کړ، له دې نه وړاندې د ده تخلص طالب و. د بې شماره کتابونو کتابت يې کړی او په يو شمېر کتابونو يې مقدمې ليکلي دي. فيضان صيب د ۱۹۸۷ کال د اگست پر ۲۷مه وفات شوی دی. د فيضان د کتابونو نومونه دا دي: مجموعه الخطب کلان (۱۹۴۴) ديوان فيضان (۱۹۵۸)، دريتيم (۱۹٦۲)، تحفه جهانزيبي (۱۹٦۵)، قيصه د امير افضل (۱۹۷۵)، څلورگلونه (۱۹۸٦)،سيدو بابا (۱۹۸٦)، نوراني شمع (۱۹۹٦)، گلدسته حجاز (۱۹۴۲)، فراق، عربي پشتو بول چال، گلزار تعويذات (فارسي)، گلزار تعويذات (پشتو) او نور.

قاضي دا دا گل

قاضي دادا گل د سوات په کوزه بانډۍ کې په ۱۸۷۹کې پيدا شوی و او په ۱۹۷۴کې د پينځه کم سلو کالو په عمر کې وفات شوی دی. د ده خپل نوم قاضي محمد سيد بادشاه و، د پلار نوم يې قاضي ميران احمد شاه و،په قوم اباخېل وه.[۳۱٦] د قلمي نسخې يو نقل يې زما په ذاتي کتابتون کې محفوظ دی.

قاضي مصطفی جان

قاضي مصطفی جان په غاليگي کې په ۱۸۹۴کې زېږېدلی و، په څلورم د جولائي ۱۹۷۰د خالي په ورځ وفات شه[۳۱۷]

محمد شیرین حافظ

د محمد شيرين حافظ نيکنی کلی د سوات ټال نومې کلی دی. د شيرين نيکه د پېښې په لحاظ اينګر و. دی د خپل غربت له وجې له ټال نه کانجو ته راغلی و او دلته مېشت شوی و. شيرين حافظ چې پوره نوم يې محمد شيرين و دلته په کانجو کې په ۱۸۸۸ کال کې پيدا شوی و. دی د قران پاک حافظ هم و نو ځکه په شيرين حافظ مشهور شو. د قران له حفظ کولو نه پس شيرين حافظ نور ديني کتابونه څه په خپل کلي کانجو او څه په نورو علاقو کې ووېل. له حصول علم نه پس د ځوانۍ په عمر کې کلکتې ته لاړ، اتلس کاله هغه په هندوستان کې د علم تنده ماته کړه او ورسره يې امامتي هم کوله. د اتلسو کالو له اوږدې مسافرۍ نه بعد خپل وطن ته واپس راغی، وطن ته د واپسۍ نه پس شيرين حافظ د سوات د نيکپي خېلو په علاقه بره باندۍ کې استوګنه اختيار کړه. دلته هغه تر اخري عمره پورې په يو جماعت کې امامتي کوله او په ۱۹۵۸ کال کې د اويا کالو په عمر کې هم په دې کلي کې وفات شه.[۳۱۸] د محمد شيرين حافظ قبر د بره باندۍ مشرق اړخ ته د ډهېرۍ بابا په مقبره کې دی.[۳۱۹]

شيرين حافظ د خپل وخت يو منل شوی چاربېتي شاعر و، اګر چې هغه ليک لوست هم کولی شه خو هغه خپل کلام په تحريري صورت کې نه دی محفوظ کړی. د هغه په وخت کې پښتو چاربيته په سوات کې د ارتقاء اخري منزلونو ته رسېدلې وه. دغه وجه وه چې شيرين حافظ به له چاربېتې نه علاوه په بل صنف کې طبع ازمائي نه کوله. د محمد شيرين حافظ د کلام څه نمونه ما په بره باندۍ کې د مرين[۳۲۰] نه ريکارډ کړې دي.

مولوي مختيارالدّين

مولوي مختيارالدين د نمر خاته طرف ته د کوکارۍ په دره کې په دنګرام نوي کلي کې په ۱۹۰۴ کال کې زېږېدلی و.[۳۲۱] مختيار الدين په ۱۳۵۹هـ (۱۹۴۰م) " د فلېل خان او نسيم جان" په نوم د پښتو يو منظوم روماني داستان ليکلی و.دا د ښاپېرو، ديوانو او شهزادګانو يوه ډېره خوندوره قيصه وه.دا قيصه په ۲٥٦ مخونو مشتمله وه او په قلمي شکل کې په مينګوره کې د هغه له ځوی صلاح الدين سره وه[۳۲۲] خو بيا دغه قلمي نسخه د صلاح

الدین دلې په کور کې سوځول شوې وه.[٤٨] د دې قیصې یو نقل رحیم شاه رحیم حاصل کړی وه[٣٢٣] د قیصې په اخر کې مصنف د خپل کور کلي او د قیصې د تصنیف په هلکه داسې وایي:

یویشـــــــتمه د روژې وه پـــــــه ښـــــــه شـــــــان
خـــــتم شـــــوه قیصـــــه پـــــه فضـــــل د منـــــان
قیصـــــه خلاصـــــه د فلېـــــل د نســـــیم جـــــان شـــــوه
راوي ډېـــــر پـــــه مینـــــه کـــــړی دی بیـــــان
دا قیصـــــه مـــــې اورېـــــدلې د اســـــتاذ وه
څـــــه لیـــــدلې پـــــه کتـــــاب مـــــې وه عیـــــان
پـــــه یـــــو مـــــزي مـــــې ســـــفته کـــــړه دې کتـــــاب کـــــې
کـــــم و زیـــــات بـــــه پکـــــې وي یمـــــه انســـــان
کـــــه څـــــوک کلـــــی مـــــې پوښـــــتي اصـــــلي دنګـــــرام دی
یـــــم حـــــالاً پـــــه مینګـــــوره درخشـــــان
تېـــــره ســـــو یـــــو کـــــم شـــــپېته ســـــن هجـــــري وه
خـــــلاص داســـــتان شـــــه د فلېـــــل د نســـــیم جـــــان
مخـــــره نـــــوم مختیـــــار الـــــدین زمـــــا یـــــادیږي
پـــــلار مـــــې ابښـــــی پـــــه طفـــــلي کـــــې خـــــوش الحـــــان[٣٢٤]

[٤٨] صلاح الدّین، محمد،(تاریخ پېدائش: ١-۴-١٩۴٦،حاجي بابا، مینګوره، د مولوي مختیارالدّین ځوی دی. د پرائمري سکول نه ریټائرډ استاد دی. مینګوره قلندر مارکیټ د صلاح الدّین د جم سټون دکان) انټرویو: ٢٩ جنوري ٢٠١۵.

دی وایي چې دغه قلمي نسخه د هغه ښځې هغه وخت سوزولې ده کله چې په کور کې د اور بلولو لپاره اوچ لرګي نه وو. هغې شنو لرګو ته په اسانۍ سره د اور لګولو لپاره دا قلمي نسخه استعمال کړه. هغې وویل چې دا خو ماته یو زوړ او بېکاره کتاب ښکارېده نو ځکه مې وسېزله.

نور شالي (نور شاه علي) جالوان

نور شاه علي جالوان د سوات د ګورتۍ کلي اوسېدونکی و. ده د نیمبولا دیمبولا قیصه په یوه چاربیته کې بیان کړې ده.[۳۲۵] د نیمبولا دیمبولا په قیصه صرف یو کتاب لیکل شوی دی، چې شل مخونه لري. دا کتاب د نوښار ملا نعمت الله د بدلې په رنګ کې لیکلی دی او د منظور عام پریس نه چاپ شوی دی. ملا نعمت الله وایي چې ما دا قیصه له فارسۍ نه په پښتو کې نظم کړې ده. په وړومبي ځل د نورشالي ذکر جیمز ډارمستېټر په خپل کتاب "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" کې کړی دی.[۳۲۶]

شېر مالک

شېر مالک د سوات د بابوزو تحصیل په بلوګرام کلي کې په ۱۸۹۴کې پیدا شوی و او په ۱۹۲۰کال کې د شپږیشتو کالو په عمر کې وفات شوی دی. د هغه د پلار نوم بابری و. د یوسفزۍ د ذیلي ښاخ جولي خېل سره یې تعلق لرلو. هغه د خپل وخت مشهور سندرې ویونکی او موسیقار هم و. رباب به یې ډېر په مهارت سره غږولو. د شېرمالک ټوله شاعري ضائع شوې ده او صرف یوه چاربیته یې موجوده ده. په دې چاربیته کې هغه د دیر د نواب او د میاګل عبدالودود د ۱۹۱۸ د هغه جنګ نقشه راښکلې ده په کوم جنګ کې چې د میاګل عبدالودود ورور شیرین جان وژل شوی و. دا چاربیته په ۱۹۷۴کې محمد جان لوهار له خپلې مشرې خور نه ریکارډ کړې وه په هغه وخت کې د هغې عمر اتیا کاله و. د چاربېتې څه حصه دلته نقل کوو:

ناڅاپه زوږ سوران شو
د څېلمې بابوزي پکې تمام شو افسران
راضي وه پرې رحمان
راضي وه پرې وهاب
زوږ راغی د نواب
چاپېره د قلعه نه د ټوپکو ډزهر شو
نمر پرېوت مازیګر شو
نمر پرېوتو ماښام
مخلوق شو ټول تمام
خاونده په زړګي باندې مې غم د عمر خان شو

ناڅاپه زوړ سوران شو
غم شو په ما انبار
خالي شو ترې دربار
پوره په مړدی کمی یې وخوړ له تقدیره
نواب راغی له دیره
پوره په توره خپل و
شیرین صاحب میاګل و
ښائسته د ګل غنچه وه په لحد شو بندیوان
راضي و پرې رحمان[۳۲۷]

ملنګ عبدالغفار

ملنګ عبدالغفار په منګلور کلي کې په ۱۸۴۲ کال کې پیدا شو او په ۱۹۱۷ کال کې په اینګرو ډهېری کې وفات شو او د شاهدرې په قبرستان کې دفن کړی شه. هغه د فارسی نه یوه قیصه د شهزاده ګلشن په نوم پښتو ته ترجمه کړې وه.[۳۲۸]

سیف الملوک صدیقي

صدیقي د سوات د ریاست دور په مشهورو شاعرانو کې شمار دی. د صدیقي د پلار نوم قاضي عزیزالرحمان و. هغه د ۱۹۱۸کال د فروری پر نهمه پیدا شوی و. هغه له ودودیه هائي سکول نه اتم او د ګورنمنټ هائي سکول چارسدې هشنغر نه په ۱۹۳۹ کې لسم جماعت پاس کړلو. د لسم جماعت پاس کولو نه وروسته یې د میاګل عبدالودود په دفتر کې د کلرک په حیث نوکري شروع کړله. بیا تحصیلدار، حاکم، حاکم اعلی او په اخر کې د مشیر تر عهدې یې ترقي وکړه. د ۱۹۷۰م کال د نومبر پر دویمه له نوکرۍ نه ریټائرډ شه. د شاعرۍ څلور کتابونه یې په خپل ژوندانه چاپ کړي وو چې نومونه یې دا دي: درد (۱۹۵۵)، پرهرونه ټکورونه (۱۹۶۴)، انداغ (۱۹۶۵)، پټېلي زړونه (۱۹۷۱) او یو کتاب یې پس مرګي د هغه زامنو په ۲۰۱۱ کال کې د "زۀ انتظار کومه ستا د سترګو" په نوم چاپ کړی دی. جهانزېبي مشاعرې به د صدیقي په نګرانۍ کې چاپ کېدلې. هغه څه ډرامې هم لیکلی وې چې د سوات د جشن په موقعه به ستېج کېدلې. په هغې کې پېغور، ګټه ښلاد، زرابه او شاه رودشاملې دي. صدیقي د ۱۹۷۴کال د فروری پر ۱۹ مه وفات شوی دی.

حليم سرحدي

سيد عبدالحميد شاه چې په حليم سرحدي مشهور دی، د پلار نوم يې سيد محمود شاه دی، د ۱۹۳۴م کال د جون پر اتلسمه پيدا شوی دی. په پښتو شاعرۍ او نثر کې يې په مختلفو موضوعاتو لس کتابونه چاپ کړي او يو شمېر کتابونه يې چاپ ته تيار دي. د حافظ الپورۍ د ديوان ترتيب او تدوين يې هم کړی او چاپ کړی يې دی. وړومبۍ کتابچه يې په ۱۹۵۲م کې د "بخار عشق" په نوم چاپ کړې ده. دويم کتابګوټی يې په ۱۹۶۹م کې د وصال په نوم چاپ دی.

عبدالغني قصاب

عبدالغني قصاب لکه څنګه يې چې له نوم نه ظاهره ده د پېشې په لحاظ قصاب و او د مينګورې اوسېدونکی و. هغه په ۱۹۲۴م کې پيدا شوی و. د هغه دوه کتابونه چاپ دي او څه ناچاپه ډائريانې يې له ما سره موجودې دي.

د دې باب خلاصه

د سوات رياست په ۱۹۱۵م کې په وجود کې راغی. اولنی بادشاه يې سيد عبدالجبار شاه و چې تر ۱۹۱۷م پورې يې بادشاهي وکړه او بيا له بادشاهۍ نه معزول کړی شو او په ۱۹۱۷م کې مياگل عبدالودود بادشاه شو. په ۱۹۴۹م کې مياگل عبدالودود بادشاهي خپل زوی مياگل محمد عبدالحق ته پرېښوده او د رياست سوات په پاکستان کې د ضم کېدو، يعنې تر ۱۹۶۹م پورې مياگل عبدالحق د رياست سوات والي و. دسوات د رياست له جوړېدو نه مخکې دلته قبايلي نظام چلېده او هغې زمانې ته به يې د پښتو زمانه ويله.

د رياستي دور په ادب کې د پښتو د زمانې او د رياست سوات د وخت د حالاتو تقابلي جائزه هم اخستل شوې ده. په دې دور کې سوات کې يو باقاعده رياست جوړ شو او حکومت په وجود کې راغی. د حکومت مختلفې اداري او محکمې جوړې شوې، لکه عدليه، تعليم، صحت او د فوځ او نورې محکمې.

دا حکومتي ترقي هم د دغه وخت په پښتو ادب کې ښکارېږي او له حکومت سره چې د خلکو په قبايلي ژوند کې کوم بدلون راغلی و هغه هم په ادب کې په نظر راځي. په دې دور کې د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ لپاره غټ گامونه پورته کړ شول چې پکې پښتو د رياست سرکاري ژبه وگرځېده او دغه رنگ د پښتو ادب کتابونه هم حکومت په رياستي خرچ چاپ کول شروع شول. د ليکوالانو او شاعرانو سرکاري سرپرستي او حوصله افزائي شروع شوه او په سرکاري سطح د مشاعرو رواج په وجود کې راغی، دغه مشاعرې به په کتابي صورت کې هم چاپ کېدلې. په دې دور کې د پښتو ادب په مروجه ټولو نثري او شعري اصنافو کې تخليق شوی دی.په شاعرۍ کې چاربيته، غزل، نظم، مثنوي، مرثيه او نور صنفونه ډېر په نظر راځي. په نثر کې ناول، ډرامه، افسانه، تنقيد، تحقيق، مضمون، سفرنامه او نور ښکارېږي.له نورو ژبو هم مهم کتابونه دې دورکې پښتو ته ترجمه شوي دي.

د پښتو د زمانې د ځينو ناکاره رسمونو او رواجونو اصلاح په دې دور کې شوې، چې د خلکو په ژوند کې يې ارام او سکون راوست. ددې دور په ادب کې شاعرانو او ليکوالانو له خپل وطن سوات سره د مينې اظهار هم کړی دی. د سوات له مينې نه علاوه د ټولې نړۍ له مسلمانانو سره د هغوی مينه هم د دې دور په ادب کې ښکارېږي.

د دې دور په ادب کې د پښتو د تاريخي ملي اتلانو، شاعرانو او بادشاهانو تذکرې هم شوي او له هغوی سره يې خپل عقيدت ښکاره کړی دی. دلته د خلکو توهم پرستي هم ښکاره کړی شوې ده. د ګرځنده وېش د ختمېدو او د توري وران وېش په رواج کې له راتلو سره چې د خلکو په ټولنيز ژوند کوم ښه اثرات پرېوتي د هغو ذکر او د توري وران وېش ذکر هم د دې وخت په ادب کې په نظر راځي.

د پښتو د دور په نسبت دلته ډله بازي او د خانانو ملکانانو په سوچ فکر کې هم فرق ښکارېږي. د پښتو دور کې عشر رايج نه و او چې رياست جوړ شو نو خلکو عشر ورکول هم شروع کړل. په دې دور کې صنعت او دستکارۍ ته هم رياستي فکر ګرځېدلی دی. په دې کې مهم صنعت د مقامي کپړې د جوړولو صنعت دی.

د اظهار خيال ډېره آزادي نه وه نو زياته شاعري او ليک درباري رنګ لري او د اقتدار د خاوندانو د ژوند او د کارنامو ستاينې پکې ډېري شوي دي، البته لږ لږ د زپلي طبقې ذکر هم يو کس نيم په اشارو کنايو کې کړی دی.

د دې دور په ادب کې د مذهبي موضوعاتو دومره زور نشته څومره چې د پښتو دور په ادب کې ليدی شي.

په دې دور کې شريکې حجرې کمې شوې، د دوی ځای بيټکونو ونيوه. د تعليم له زياتېدو سره نوی نسل د خانۍ ملکۍ او بيګارونو ته تيار نه وو، اګر چې په دې دور کې به د خانانو ملکانو بيګار لږ لږکېده خو سرکاري بيګار جاري و. دکانداري او کاروبار چې مخکې به ورته د دفتر/دوتر خاوندانو په ښه سترګه نه کتل اوس د خلکو دغو پېشو طرف ته فکر شو.

د خلکو دسېل او تفريح لپاره د مېلو انتظام په دې دور کې په نظر راځي، په دې مېلو کې به ډمې پکې هم ګډېدې او اتڼ به پکې هم کېده.

په دې دور کې اګر چې بيا وروسته رياست کې هسپتالونه جوړ شول او ډاکټران هم راغلل خو خلک پيرانو، باباګانو، زيارتونو ته د مختلفو بيمارو د علاج لپاره تلل. له دې نه علاوه د علاج لپاره به کورنۍ ځېلې بوټي هم استعمالېدل او له ملا نه دم تعويذ او ځانښتونه به هم کېدل او لږ لږ به يې د حاکمانو نه هم علاجونه کول. ډاکټرانو ته به ډېر کم خلک تلل، اکثر به يې د بيمار د صحت يابۍ لپاره خيراتونه کول.

حوالې

[1]Sultan-i-Rome, Swat A Critical Analysis, IPCS Research Papers, New Delhi, Institute of Peace and Conflict Studies New Delhi, India, No. ۱۸ (January ۲۰۰۹), p.۹.

[۲] همدغه اثر،۷ مخ.

[۳] حکيمزے،وکيل. د بر سوات تاريخ نسلي سياسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۳۲،۲۳۳ مخونه.

[٤] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۱۸۷مخ.

[۵] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, ۲۰۰۹, p.۹۷.

[٦] Jan, Farhad, Prof., Khudai-Khidmatgar Movement in N.W.F.P, n.p., n.d., p. ٦٧

[۷] خليق، عبدالخالق. زۀ او زما زمانه، پېښور، اداره اشاعت سرحد، دويم ځل مارچ ۱۹۷۴، ۳٦مخ.

[۸] Jan, Farhad, Prof., Khudai-Khidmatgar Movement in N.W.F.P, n.p., n.d., p. ۲۲

[۹] زېب سر، تاج محمد خان. افغاني ديوان زېب سر، ۱۹۴۹، ۱۸مخ.

[۱۰]Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford ۱۳۷University Press, ۲۰۰۹, p.

[۱۱]خليق، عبدالخالق. زۀ او زما زمانه، پېښور، اداره اشاعت سرحد، ۴٦مخ.

[۱۲]همدغه اثر،۷۴ مخ.

[۱۳]رشتين، پوهاند صديق الله. د پښتو تاريخي سيمينار، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۸۳،۱۹۸۷ مخ.

[۱٤]شاهين، عبداللطيف. شغلې، کبل، جان کتاب کور، ۲۰۱۰/۱۹٦۹، ۷۳مخ.

[۱۵]همدغه اثر،۷۷ مخ.

[۱٦]همدغه اثر، ۷٦مخ.

[۱۷]همدغه اثر، ۱۴۴مخ.

[۱۸]همدغه اثر، ۲۵ مخ.

[۱۹]همدغه اثر، ۲٦ مخ.

[۲۰]همدغه اثر،۳۰ مخ.

[۲۱]زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۱۰مخ.

[۲۲] همدغه اثر، ۱۳مخ.

[۲۳] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۱۳۷۵ هـ، ٦،۳۲،۵۳،٦۵ مخونه.

[۲٤] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددويم)،۱۳۷۵ هـ ، ۳، ۴۵ مخونه.

[۲۵] زېب سر، تاج محمد خان. افغاني ديوان زېب سر، ۱۹۴۹، ۱۷۰مخ.

[۲٦] شاهين، پروېش. سيد عبدلاجبار شاه ، مقاله مشموله، پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ۸، شماره: ۱۰ (نومبر ۱۹۷٦)

[۲۷] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۱۳۷۵هـ، ۷۰، ۷۱ مخونه.

[۲۸] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۳۷۳مخ.

[۲۹] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مىا گل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [۱۹۵۸]، م۳۵۷-۳۵۹ مخونه.

[۳۰] همدغه اثر،۳۵۷-۳۵۹ مخونه.

[۳۱] خټک، پردل. (مولّف)، د مولانا عبدالقادر خطونه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۳، ۲۱۷ مخ.

[۳۲] همدغه اثر،۲۱۸مخ.

[۳۳] همدغه اثر،۲٦۴مخ.

[۳٤] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلددویم)، [۱۹۴۲]، ۹،۱۰ مخونه.

[۳۵] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او د شاه جهانزېب زمانه،(دریم جلد)، ۱۹۵۷، ۳۸،۳۷ مخونه.

[٣٦]Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford ٢٢٤University Press, ٢٠٠٩, p.

[۳۷]یو کتاب چې اولني دېرش مکونه نۀ لري او اخري مخ یې ۴۱۱ دی، خو پته لګي چې له دې نه وروسته به نورې پاڼې هم وې. اندازه ترې معلومېږي چې دا کتاب د ۱۹۴۹ خواوشا په افغانستان کې چاپ شوی دی.

[۳۸] بخت مشال. (اداریه)، ایلم (پښتو برخه)، جهانزېب کالج، دسمبر ۱۹٦۹، ۳مخ.

[۳۹]دیناخیل، محمد علي. جہانزیب کالج کا ایلم رسالہ چند وضاحتیں، روزنامہ چاند، سوات، ۱۰ نومبر ۲۰۱۳

[٤٠] Yousafzai, Rafiullah, Journalism in Swat, (M.A Thesis), Department of Journalism and Mass Communication, University of Peshawar, Session: ۲۰۰۲-۲۰۰۳, p. ۱۹

[٤١] Yousafzai, Rafiullah, Journalism in Swat, (M.A Thesis), Department of Journalism and Mass Communication, University of Peshawar, Session: ۲۰۰۲-۲۰۰۳, p. ۱۹

[٤٢]شاهین، محمد پرویش. ګل ورینې څوکې، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز بکسیلرز، ۱۹۸۹، ۱۵۵مخ.

[٤٣] Yousafzai, Rafiullah, Journalism in Swat, (M.A Thesis), Department of Journalism ۲۰and Mass Communication, University of Peshawar, Session: ۲۰۰۲-۲۰۰۳, p.

[٤٤] رحیم، رحیم شاه. د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله میاشتنۍ پښتو، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲، (جنوري ۱۹۸۱)، ۴۹مخ.

[٤٥] شاهین، عبداللطیف. شغلې، ۱۹٦۹، ۱۲۵، ۱۵۷مخ.

[٤٦] ګالوچي، عبداللطیف. التفسیرالتیسیر، (جلد دویم)، ناشر: مولوي محمد صالح مقام و ډاکخانه رحیم اباد تحصیل بابوزي ضلع سوات، ۱۹۲۵/۱۹۸۴، ۳مخ.

[٤٧] ګالوچي، عبداللطیف. التفسیرالتیسیر، (جلد اول)، مینګوره، ناشر: مولوي محمد صالح ، ۱۹۲۵/۱۹۸۴، ۱ مخ.

[٤٨] همدغه اثر، ۱، ۲ مخونه.

[٤٩] سرحدي،محمد صالح مظلوم او حاجي عبدالحنان. (مصنّفین)، د جنت حوره، مینګوره، اسلام بک سټور، ۲۸مخ.

[٥٠] ګالوچي، عبداللطیف. التفسیرالتیسیر، (جلد اول)، ۵ مخ.

[٥١] ګالوچي، عبداللّطیف. التفسیرالتیسیر، (جلد دویم)،۷مخ.

[٥٢] صدیقي، سیف الملوک. درد، سوات، ۱۹۵۵، ٦۹مخ.

[٥٣] همدغه اثر،۱۷۷مخ.

[٥٤] مینوش، شېر محمد. (دیباچه)، پرهرونه ټکورونه، سېف الملوک صدیقي، ریاست سوات، ۱۹٦۴، ۹مخ.

[55] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلددويم)، [۱۹۴۲]، ۲۳ مخ.

[56] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۳۱۵ مخ.

[57] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله مياشتنى پښتو، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲، (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۲ مخ.

[58] خټک، راج ولي شاه. د پښتو ادبي تحريکونه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ٥٣٦ مخ.

[59] سرحدي، محمد صالح مظلوم او حاجي عبدالحنان. (مصنفين)، د جنت حوره، مينگوره، اسلام بک سټور، ۱۷مخ.

[60] همدغه اثر، ۲مخ.

[61] گالوچي، عبداللطيف. التفسيرالتيسير، (جلد اول)، ۲مخ.

[62] گالوچي، عبداللّطيف. التفسيرالتيسير، (جلد دويم)، ۲ مخ.

[63] همدغه اثر، ۵ مخ.

[64] باچا، سيد محمد علي شاه. (د کتاب د ليکونکي په حقله) مشموله زېرون مصنف قاسم سرحدي، مينگوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۹، ۱۴،۱۵ مخونه.

[65] يوسفزی، سحر. (غوږ خو کېږده) [اداريه]، ايلم پښتو برخه، جهانزېب کالج سوات، دسمبر ۱۹۶۰.

[66] فضل ودود. زمونږ داجي، مشموله، زۀ انتظار کومه ستا د سترگو، کبل، جان کتاب کور، ۱۸،۲۰۱۱ مخ:

[67] همايون، محمد. جذبات (ډرامه) مشموله ، ايلم، جهانزېب کالج سوات، ۱۹٦۲، ۲٦ مخ.

[68] مياندمي، پائنده. فن افسانه نگاري، ايلم، جهانزېب کالج سوات، مارچ ۱۹٦٦، ۱۴مخ.

[69] يوسفزی، سحر. پښتو ډرامه، ايلم، جهانزېب کالج سوات، دسمبر ۱۹٦۰، ۱۸ مخ.

[70] قاسمي، ميا محمد عبدالغفور. د دې کتاب اهميت، مشموله انوار سهيلي، مترجم ميا محمد عبدالغفورقاسمي، سوات، شعېب سنز پبلشرز، ۲۰۰۷/۱۹۴۳، ۱۷مخ.

[71] همدغه اثر، ۱۸مخ.

[72] کاکاخېل، سيد محمد تقويم الحق. (مترجم)، ميلينيم او کرزما د سوات پۀ پښتنو کښې مصنځ، ډاکټر اکبر اېس احمد، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۷۸، ۴۳مخ.

[73] شهاب، فضل رازق. رياست سوات کا قومي ترانه (جواب آں غزل)، سوات، روزنامه چاند ، جلد: ۱۰، شماره: ۲۹۵، (۴ نومبر ۲۰۱۳)

[74] سمندر، سمندر خان. پت،[۱۹٦۱]، ۳٦، ۱۱۵ مخونه.

ځينو کتابونو ليکلی چې سمندر خان سمندر ته د "ملک الشّعراء" خطاب د سوات والي ورکړی و، خو هغه په خپل کتاب "پت" کې ليکي چې دا خطاب ماته "پښتون جرگې" راکړی دی.

[75] صابر،سيد صابر شاهږ سمندر د بدرخو، ۱۹۹۹، ۳۵ مخ.

[76] شهاب، فضل رازق. ايک تها بادشاه، سوات، روزنامه ازادی،جلد: ۱۷، شماره: ۲٦۴ (۱۵ اکتوبر ۲۰۱۱)

[77] ديناخيل،محمد علي.رياست سوات کا قومی ترانہ، سوات، روزنامه چاند، جلد:۱۰،شماره:۲۹۲(يکم نومبر ۲۰۱۳)

[78] Rubina Abidin, The Literary Achievements of Samandar Khan Samnadar, (Ph.D Thesis), Peshawar, Area Study Centre University of Peshawar, ۱۹۹۷, p.۱۴۷

[۷۹] شهاب، فضل رازق. رياست سوات کا قومي ترانه (جواب آں غزل)، سوات، روزنامه چاند ، جلد: ۱۰، شماره: ۲۹۵، (۴ نومبر ۲۰۱۳)

[۸۰]ديناخيل، محمد علی. رياست سوات کا قومی ترانہ، سوات، روزنامہ چاند، جلد: ۱۰، شماره: ۲۹۲ .

[۸۱]شهاب، فضل رازق. رياست سوات کا قومي ترانه (جواب آں غزل)، سوات، روزنامه چاند ، جلد: ۱۰، شماره: ۲۹۵، (۴ نومبر ۲۰۱۳)

[۸۲] امجد علي سحاب د سوات يو تکړه ليکوال دی او نن صبا د سوات د "روزنامه ازادي" د ادارتي صفحې انچارج مدير دی. هغه ما ته وويل چې دا ترانه هغه ته د سوات د نوموړي شاعر، خوشنويس او د والي سوات د دفتر منشي فضل الرحمان فيضان له څوی شمس الاقبال شمس نه مېلاو شوې ده. دا ترانه په ښکلي خط ليکل شوې او په کاغذ له پاسه ګس اړخ ته د رياست سوات مونو ګرام هم جوړ کړی شوی دی. له خط نه داسې معلومېږي لکه دا چې فيضان په خپل قلم خوش خط ليکلی وي.

[۸۳] فيضان، فضل الرحمان. تحفه جهانزيبي المعروف به کلام فيضاني، پېښور، اسلامي کتب خانه، ۱۹٦۵، ۲مخ.

[۸۴] زېب سر، تاج محمد خان. نوی سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۱۳۷۵ هـ، ٦۱،٦۲ مخونه.

[۸۵] همدغه اثر، ٦۲مخ.

[۸٦] قريشي، عجب خان. يوم پيدائش د والي سوات، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجلّه، ۱۹٦۳، ۱۰۳مخ.

[۸۷] همدغه اثر، ۱۰۴مخ.

[۸۸] همدغه اثر، ۱۰۴، ۱۰۵ مخونه.

[۸۹] افغاني، عبدالحليم اثر. سوغات، باجوړ، دارالاشاعت، ۴،۵ مخونه.

[۹۰] همدغه اثر، ۴مخ.

[۹۱] سمندر، سمندر خان. پت، پېښور، [۱۹٦۱]، ۱مخ.

[۹۲] دهقان، رشيد علي او اشرف دراني. درويش باچا، ۴۸مخ.

[۹۳] صديقي، سيف الملوک. (مرتب) جهانزيبي مشاعره ۱۲ دسمبر ۱۹۵۴، سوات، ناشران: عبدالحمد و محمد سعيد، ۴مخ.

[۹۴] همدغه اثر، ٦مخ.

[۹۵] همدغه اثر، ۸ مخ.

[۹٦] همدغه اثر، ۱۰مخ.

[۹۷] جهانزيبي مشاعره ۵ جون ۱۹٦۵، ۳مخ.

[۹۸] جهانزيبي مشاعره ۵ جون ۱۹٦٦، ۵مخ.

[۹۹] محمد صالح، مولوي. (ديباچه) مشموله تفسير تيسير (جلد اول)،مصنف عبداللطيف ګالوچي،ا،ب مخونه.

[۱۰۰] همدغه اثر، ب مخ.

[۱۰۱] بازارګوي، محمد ابراهيم. فتاویٰ ودوديه جلد اول (ديباچه)، مينګوره، مکتبةالقران و الحديث،[۱۹۵۲]، ح مخ.

[۱۰۲] همدغه اثر، ط مخ.

[۱۰۳] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلددويم)، [۱۹۴۲]، ۷۹ مخ.

[۱۰٤] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۳۷۲مخ.

[۱۰۵] همدغه اثر، ٦،۷ مخونه.

[۱۰٦] همدغه اثر، ۱۹۵، ۱۹٦ مخونه.

[۱۰۷] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford ۲۷۹University Press, ۲۰۰۹, p.

[۱۰۸] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلددويم)، [۱۹۴۲]، ۷۹، ۸۰ مخونه.

[۱۰۹] سواتي، شېر. بې استاد عالم، پېښور، پبلک ارټ پريس، ۲ مخ.

[۱۱۰] سواتي، اختر. د غيرت چغه، پېښور، ايډورډز کالج، ۴ مخ.

[۱۱۱] فيض، فيض محمد خان. دا ځوک دي، سوات، ۱۵، ۱٦ مخونه.

[۱۱۲] شېر، د مودودي په نوم، پېښور،پبلک ارټ پريس، ۲مخ.

[۱۱۳] فيضان، فضل الرحمان. تحفه جهانزيبي المعروف به کلام فيضاني، پېښور، اسلامي کتب خانه، ۱۹٦۵، ٦-۹ مخونه.

[۱۱٤] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلددويم)، [۱۹۴۲]، ۱٦۷مخ.

[۱۱۵] عنايت الله، ډاکټر. د رياست سوات تاريخي او ترقياتي جائزه،ناشر: د سوات وېښ زلمو لۀ خوا، ۲۰، ۲۱ مخونه.

[۱۱٦] همدغه اثر، ۲۰مخ.

[۱۱۷] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۸۰مخ.

[۱۱۸] شاهين، عبداللطيف. شغلې، ۱۹٦۹، ۲۲،۲ مخونه.

[۱۱۹] همدغه اثر، ۴۰ مخ.

[۱۲۰] همدغه اثر، ۱۷مخ.

[۱۲۱] شېر، شېر محمد خان. نوے ژوند (ناول)، ۱۹٦۴، ۲۴۱ مخ.

[۱۲۲] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددويم)،۱۳۷۵ هـ ، ۴مخ.

[۱۲۳] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او د شاه جهانزېب زمانه،(دريم جلد)، ۱۹۵۷، ۸۸ مخ.

[۱۲٤] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۹۹مخ.

[۱۲۵] خټک، پردل (مولف). د مولانا عبدالقادر خطونه، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۳، ۲۱۴مخ.

[۱۲٦] ارج، محمد هراج. مينګوره سوات، [د زېږون نېټه: ۱۹۴۵-۱۱-۱]، د جهانزېب کالج ريټائرډ پرنسپل او د انګرېزي پروفېسر، (انټرويو: ۲۰۱۱-۴-۱۹)

[۱۲۷] قاسمي، سيد عبدالغفور. تاريخ رياست سوات، [۱۹۳۹]، ۱۵۳مخ.

[۱۲۸] فيضان، فضل الرحمان. ديوان فيضان سوات، سوات، افتخار بک سنټر، ۲۰۱٦، ۲۹۷مخ.

[۱۲۹] زېب سر، تاج محمد خان. موزير نامه، ۱۹۴۵، ۵ مخ.

[۱۳۰] شاهين، عبداللطيف. شغلې، ۱۹٦۹،۲۷، ۲۸ مخونه.

[۱۳۱] شېر، شېر محمد خان. نوے ژوند (ناول)، ۱۹٦۴، ۲۳٦، ۲۳۹ مخونه.

[۱۳۲] شېر، شېر محمد. لوظ (ناول)، پېښور، ټرائبل پبلسټي، ۱۹٦٦، ۷۱ مخ.

[۱۳۳] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۱٦۰مخ.

[۱۳٤] همدغه اثر، ۲٦۲ مخ.

[۱۳۵] شېر، شېر محمد. لوظ (ناول)، پېښور، ټرائبل پبلسټي، ۱۹٦٦، ۱۵ مخ.

[۱۳٦] همدغه اثر،۵۸، ۱۰۴ مخونه.

[۱۳۷] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۹۷ مخ.

[۱۳۸] حبيب، حبيب الرحمان. ګلستان تا کړۀ، (نظم) مشموله، مجلّه سوات، کراچي، مجلس پښتون رياست سوات، [۵جون ۱۹٦۷]، ۸۲ مخ.

[۱۳۹] قريشي، عجب خان. يوم پيدائش د والي سوات، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله، ۱۹٦۳، ۱۰۳مخ.

[۱٤۰] صديقي، سيف الملوک. درد، سوات، ۱۹۵۵، ۱۰۱مخ.

[۱٤۱] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۸،۹ مخونه.

[۱٤۲] همدغه اثر، ۱۸مخ.

[۱٤۳] همدغه اثر، ۴۸ مخ.

[۱٤٤] همدغه اثر، ۴۸، ۱۹۳ مخونه.

[۱٤۵] شبنم، ابراهيم. رواج (افسانه)، (مشموله) مجله ايلم، جهانزېب کالج، ۱۹٦۷، ۱۱مخ.

[۱٤٦] همدغه اثر، ۱۲مخ.

[۱٤۷] همدغه اثر، ۱۳مخ.

[۱٤۸] همدغه اثر،۱۲، ۱۸ مخونه.

[۱٤۹] خان، ابراهيم. د کلي حجره، (افسانه)، مشموله، ايلم، جهانزېب کالج، ۱۹٦۳، ۳٦مخ.

[۱۵۰] همدغه اثر، ۵۹ مخ.

[۱۵۱] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۴۳مخ.

[۱۵۲] همدغه اثر، ۲۴۸ مخ.

[۱۵۳] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او د شاه جهانزېب زمانه،(دريم جلد)، ۱۹۵۷، ۱۴مخ.

[۱۵٤] همدغه اثر، ۱۲مخ.

[۱۵۵] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۴۴ مخ.

[۱۵٦] همدغه اثر، ۲۴۷ مخ.

[۱۵۷] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۲٦۷ مخ.

[۱۵۸] شېر، شېر محمد. لوظ (ناول)، پېښور، ټرائبل پبلسټي، ۱۹٦٦، ۴۲مخ.

[۱۵۹] همدغه اثر، ٦۰مخ.

[۱٦۰] همدغه اثر، ٦۷مخ.

[۱٦۱] همدغه اثر، ٦۱مخ.

[۱٦۲] قاسمي، سيد عبدالغفور. تاريخ رياست سوات، [۱۹۳۹]، ۱۴۳-۱۴۵ مخونه.

[۱۶۳]خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت ميا ګل ګل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [۱۹۵۸]، ۲۸۰ مخ.

[۱٦٤] زيب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۳۷، ۲۳۹ مخونه.

[۱٦٥]Sultan-i-Rome, Swat A Critical Analysis, IPCS Research Papers, New Delhi, Institute of Peace and Conflict Studies New Delhi, India, No. ۱۸ (January ۲۰۰۹), p.۷.

[۱٦٦] زيب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۳۵مخ.

[۱٦۷] زيب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزيب، (جلداول)، ۱۳۷۵ هـ، ۷۹ مخ.

[۱٦۸] زيب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،۲۳٦، ۲۳۷ مخونه.

[۱٦۹] همدغه اثر، ۲۴۹ مخ.

[۱۷۰] زيب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزيب، (جلداول)، ۲٦ مخ.

[۱۷۱] زيب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزيب، (جلددويم)،۸ مخ.

[۱۷۲] همدغه اثر، ٦۹مخ.

[۱۷۳] زيب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،۲۴۵، ۲۴٦ مخونه.

[۱۷٤] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۳٦ مخ.

[۱۷٥] همدغه اثر،۵۰ مخ.

[۱۷٦] زيب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،۹ مخ.

[۱۷۷] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياګل ګل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [۱۹۵۸]، ۲۷۴ مخ.

[۱۷۸] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۳۲ مخ.

[۱۷۹] همدغه اثر، ۱۵، ۱۷، ۵٦ مخونه.

[۱۸۰] همدغه اثر، ۱۳ مخ.

[۱۸۱] همدغه اثر، ۱۴، ۲٦ مخونه.

[۱۸۲] شېر، شېر محمد. لوظ (ناول)، پېښور، ټرائبل پبلستي، ۱۹٦٦، ۳۷، ۵۸ مخونه.

[۱۸۳] همدغه اثر،۴۳مخ.

[۱۸٤] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۱۳۸، ۱۸۱ مخونه.

[۱۸٥]همدغه اثر، ۱۴۴مخ.

[۱۸٦] زيب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزيب، (جلددويم)،۱۳۷۵ هـ ، ۱۲،۱۱ مخونه.

[۱۸۷] زيب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او د شاه جهانزيب زمانه،(دريم جلد)، ۱۹۵۷، ۵٦ مخ.

[۱۸۸] صديقي، سيف الملوک. انداغ، پېښور، اسلامي کتب خانه، ٦۹مخ.

[۱۸۹] زيب سر، تاج محمد خان. افغاني ديوان زيب سر، ۱۹۴۹، ۲۵ مخ.

[۱۹۰] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۱۹، ۲۰ مخونه.

[۱۹۱] همدغه اثر، ۵۲، ۵۷ مخونه.

[۱۹۲] همدغه اثر، ۸۵ مخ.

[۱۹۳] شېر، شېر محمد. لوظ (ناول)، پېښور، ټرائبل پبلستي، ۱۹٦٦، ۲۴ مخ.

[194] همدغه اثر، ۵۱ مخ.

[195] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۱۵۱مخ.

[196] همدغه اثر، ۵٦ مخ.

[197] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۵٦، ۲۵۷ مخونه.

[198] قاسمي، سید عبدالغفور. تاریخ ریاست سوات، [۱۹۳۹]، ۱۴۹مخ.

[199] بدر، بحر کرم. د سوات تاریخي پس منظر، ایلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله، ۱۹٦۴، ۱٦مخ.

[200] قاسمي، سید عبدالغفور. تاریخ ریاست سوات، [۱۹۳۹]، ۱۲٦مخ.

[201] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۵۵مخ.

[202] همدغه اثر، ۱۱۱مخ.

[203] زېب سر، تاج محمد خان. افغاني دیوان زېب سر، ۱۹۴۹ ، ج مخ.

[204] محمد صالح، مولوي. (دیباچه) مشموله تفسیر تیسیر (جلد اول) الف مخ.

[205] شاهین، عبداللطیف. شغلې، ۱۹٦۹، ۱۴۱مخ.

[206] صدیقي، سیف الملوک. انداغ، پېښور، اسلامي کتب خانه، ۱۳مخ.

[207] خان، نادر. د ټیټې فېشن د لاسه (افسانه)، مشموله ایلم، جهانزېب کالج، مارچ ۱۹٦۰، ۵۹ مخ.

[208] خان، محمد اصف. تاریخ ریاست سوات و سوانح حیات باني ریاست سوات حضرت میا گل گل شهزاده عبدالودود خان ۲۸۱ مخ.

[209] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۲۳۹مخ.

[210] همدغه اثر،۲۴۱مخ.

[211] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددویم)،۱۳۷۵ هـ ، ۳۴ مخ.

[212] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۱۳۷۵ هـ، ۷۸مخ.

[213] نصر، نصرالله خان. اخون صاحب سوات، پېښور، تعلیمي اداره، ۱۹۷۸/۱۹۵۰، ٦۵مخ.

[214] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۳۹ مخ.

[215] خان، غلام حبیب (مرتب). رواجنامه سوات، مینگوره سوات، سوات پرنټنګ پریس ، (۱۹۷۳) ، ص: ۸۷

[216] زېب سر، تاج محمد خان. افغاني دیوان زېب سر، ۱۹۴۹، ۱۹۴، ۱۹۵ مخونه.

[217] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford ۲۵۱University Press, ۲۰۰۹, p.

۲۵۲[218] Ibid., p.

۲۵۲[219] Ibid., p.

[220] مستانه، ذبېدالله خان. سنېما او مختلف خیالات، مشموله، ایلم، جهانزېب کالج، جلد: ۱۲، شماره:۱، (دسمبر۱۹٦۹)، ۵۰ مخ.

[221] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۳٦۹ مخ.

[222] خان، ابراهیم. د کلي حجره، (افسانه)، مشموله، ایلم، جهانزېب کالج، ۱۹٦۳، ۳۰ مخ.

[223] شېر، شېر محمد. لوظ (ناول)، پېښور، ټرائبل پبلسټي، ۱۹٦٦، ۱۰مخ.

[224] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددویم)،۱۳۷۵ هـ ، ٦۱-٦۴ مخونه.

[225] نعمتي، فضل رحمٰن. د ښځو تعليم، ايلم ، جهانزېب کالج، جلد: ۱۲، شماره:۱، (دسمبر ۱۹۶۹)، ۸ مخ.

[226] همدغه اثر، ۱۲مخ.

[227] همدغه اثر، ۱۳مخ.

[228] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددويم)،۱۳۷۵ هـ ، م٦١- ٦۴ مخونه.

[229] همدغه اثر، ٦١- ٦۴ مخونه.

[230] همدغه اثر، ٦١- ٦۴ مخونه.

[231] همدغه اثر،۷۱ مخ.

[232] شېر، شېر محمد. نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۱۳۵مخ.

[233] همدغه اثر،۱۸۸ مخ.

[234] همدغه اثر، ۵، ٦، ۷، ۸، ۳۵ مخونه.

[235] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مپا گل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [۱۹۵۸]، ۳۵۳مخ.

[236] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, ۲۰۰۹, p. ۲۵۰،۲۵۱

[237] قانته بېگم. زما سفرنامه، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، [۱۹۷٦]، ۳۸ مخ.

[238] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او د شاه جهانزېب زمانه،(دريم جلد)، ۱۹۵۷، ۳۴ مخ.

[239] شېر، شېر محمد،نوے ژوند (ناول)، پېښور،۱۹٦۴، ۵۵مخ.

[240] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۱۳۷۵ هـ، ۲٦ مخ.

[241] بدر، بحر کرم. د سوات تاريخي پس منظر، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله، ۱۹٦۴، ۱۴مخ.

[242] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددويم)،۱۳۷۵ هـ ، ۴۸مخ.

[243] خان، ابراهيم. د کلي حجره، (افسانه)، مشموله، ايلم، جهانزېب کالج، ۱۹٦۳، ۳۰مخ.

[244] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددوېم)،۱۳۷۵ هـ ، ۴۹- ۵۲ مخونه.

[245] همدغه اثر، ٦۹مخ.

[246] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مپا گل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [۱۹۵۸]، ۲٦٦ مخ.

[247] کاکا خېل، سيد محمد تقويم الحق. (مترجم)، ميلينيم او کرزما د سوات پۀ پښتنو کښې مصنف، ډاکټر اکبر اېس احمد، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۷۸، ۱۹۳مخ.

[248] قاسمي، سيد عبدالغفور. تاريخ رياست سوات، [۱۹۳۹]، ۱۴۹مخ.

[249] نصر، نصرالله خان. اخون صاحب سوات، پېښور، تعليمي اداره، ۱۹۷۸/۱۹۵۰، ٦۴مخ.

[250] شاه، ميامحمد علي. د سوات د سنټرل جېل د يو قيدي تاثرات، ايلم، جهانزېب کالج، دسمبر ۱۹٦۰، ۸۰ مخ.

[251] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان جلد اول، ۱۹۴۱، ۹۸مخ.

[252] خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات مپا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [۱۹۵۸] ، ۳۱۲مخ.

[253] قاسمي، سيد عبدالغفور. هديه ودوديه، بريلي، مطبوعه سوداگر پريس، ۱۹۳٦ ، ۷۵،۷٦ مخونه.

[254] همدغه اثر،۳۱۳، ۳۱۴ مخونه.

[٢٥٥] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[١٩۴١]، ٢۵۴مخ.

[٢٥٦] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[١٩۴١]، ٢۵۴مخ.

[٢٥٧] زېب سر، تاج محمد خان. موزير نامه، ١٩۴۵، ٢۵ مخ.

[258]خان، محمد آصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا گل گل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [١٩۵٨] ، ٣١٣ مخ.

[٢٥٩] همدغه اثر،٣١٣، ٣١۴ مخونه.

[٢٦٠] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلددوېم)، [١٩۴٢]، ٩٨ مخ.

[٢٦١] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[١٩۴١]، ٢۵۴مخ.

[٢٦٢] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياگل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، [١٩۵٨]، ١۵٣ مخ.

[٢٦٣] همدغه اثر، ۵ مخ.

[٢٦٤] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[١٩۴١]، ١٨۴مخ.

[٢٦٥] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياگل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب،١٨٦- ١٨٨ مخونه.

[٢٦٦] همدغه اثر، ١٨٨،١٨٩ مخونه.

[٢٦٧] همدغه اثر، ٢۵۵- ٢۵٧ مخونه.

[٢٦٨] همدغه اثر، ٢٦٠، ٢٦١، ٢٦٧، ٢٧٢ مخونه.

[٢٦٩] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٠١/١٨٦٤, p.٢٠٣.

[٢٧٠] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[١٩۴١]، ٢٧٦ مخ.

[٢٧١]Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, ٢٠٩٢٠٠١/١٨٦٤, p.

[٢٧٢] نعمتي، فضل رحمٰن. اولسي لباس، ايلم، جهانزېب کالج، جون ١٩٦٨، ۴٣، ۴۴ مخونه.

[٢٧٣] زېب سر، تاج محمد خان. افغاني ديوان زېب سر، ١٩۴٩، ١٧ مخ.

[٢٧٤] بدر، بحر کرم. د سوات تاريخي پس منظر، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله، ١٩٦۴، ١۴مخ.

[٢٧٥]Sultan-i-Rome, Swat State (١٩١٥-١٩٦٩) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford ١٨University Press, ٢٠٠٩, p.

[٢٧٦] شېر، شېر محمد. نوې ژوند (ناول)، پېښور،١٩٦۴، ١١٩مخ.

[٢٧٧] همدغه اثر،١٣۴مخ.

[٢٧٨] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياگل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، ٣۵٢، ٣۵٣ مخونه.

[٢٧٩] زېب سر، تاج محمد خان. نوې سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ١٣٧۵ هـ، ١١٠مخ.

[٢٨٠] همدغه اثر، ١٠٩ مخ.

[٢٨١] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياگل گل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، ٢٠١ مخ.

[٢٨٢] همدغه اثر، ٢٠١-٢٠٦ مخونه.

[۲۸۳] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۱۳۷۵ هـ، ۴۰- ۴۴ مخونه.

[۲۸۴] بدر، بحر کرم. د سوات تاريخي پس منظر، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله، ۱۹٦۴، ۱۴، ۱۵ مخونه.

[۲۸۵] عمر زاده. زمونږ موجوده ترقي دماضي پۀ رڼا کښې، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله،جلد؛ ۴، نمبر: ۲، (دسمبر ۱۹٦۰)، ۴۹، ۵۰ مخونه.

[۲۸٦] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياګل ګل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، ۲۰۱- ۲۰٦ مخونه.

[۲۸۷] قريشي، عجب خان. يوم پيدائش د والي سوات، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله، ۱۹٦۳، ۱۰۲،۱۰۳ مخونه.

[۲۸۸] بازارګوي، محمد ابراهيم. (ديباچه)، فتاويٰ ودوديه (جلد اول)، مينګوره، مکتبه القران والحديث، ۱۹۵۲، ب مخ.

[۲۸۹] خان، محمد اصف. تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات حضرت مياګل ګل شهزاده عبدالودود خان بادشاه صاحب، ۲۱۴ مخ.

[۲۹۰] همدغه اثر، ۲٦۳، ۲٦۴ مخونه.

[۲۹۱] زېب سر، تاج محمد خان. موزير نامه، ۱۹۴۵، ٦۹مخ.

[۲۹۲] همدغه اثر، ۲٦ مخ.

[۲۹۳] همدغه اثر، ۸۴ مخ.

[۲۹۴] طائر، محمد نواز. (ديباچه)، تواريخ حافظ رحمت خاني، مولف پير معظم شاه، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۷/۱۹۷۱، ۲۹- ۳۱ مخونه.

[۲۹۵] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددويم)،۱۳۷۵ هـ ، ۱۱، ۱۲ مخونه.

[۲۹٦] همدغه اثر، ۹، ۱۰ مخونه.

[۲۹۷] همدغه اثر، ۹، ۱۰ مخونه.

[۲۹۸] همدغه اثر، ۱۷- ۱۹ مخونه.

[۲۹۹] زېب سر، تاج محمد خان. افغاني ديوان زېب سر، ۱۹۴۹، ۱۵۴، ۱۵۳ مخونه.

[۳۰۰] زېب سر، تاج محمد خان. عروج افغان (جلد اول)،[۱۹۴۱]، ۱۵مخ.

[۳۰۱] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلداول)، ۱۳۷۵ هـ، ۴۴- ۴٦ مخونه.

[۳۰۲] بدر، بحر کرم. د سوات تاريخي پس منظر، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجله، ۱۹٦۴، ۱٦، ۱۷ مخونه.

[۳۰۳] زېب سر، تاج محمد خان. نوے سوات او شاه جهانزېب، (جلددويم)،۱۳۷۵ هـ ، ۱۷- ۱۹ مخونه.

[۳۰۴] زېب سر، تاج محمد خان. افغاني ديوان زېب سر، ۱۹۴۹، ۲۰۰- ۲۰۳ مخونه.

[۳۰۵] حبيب، حبيب الرحمان. پخوانے سوات او نن (نظم)، مشموله مجله سوات، کراچي، مجلس پختون رياست سوات، ۱۹٦۷، ۸۴، ۸۵ مخونه.

[۳۰٦] سرحدي، محمد صالح مظلوم او حاجي عبدالحنان. د جنّت حوره، مينګوره رياست سوات، اسلام بک سټور،۲۱ مخ.

[۳۰۷] فضل برهان.(تاريخ پيدائش:۱۹٦۵ ،حاجي باباچوک مينګوره، دحاجي عبدالحنان نمسی دی. نيو فضل اينډ کمپني پېنټ اينډ هارډوئېر سټور حاجي بابا چوک مينګوره) انټرويو: ۲۹جنوري ۲۰۱۵.

[۳۰۸] فضل برهان.(تاريخ پيدائش:۱۹٦۵،حاجي باباچوک مينګوره، دحاجي عبدالحنان نمسی دی. نيو فضل اينډ کمپني پېنټ اينډ هارډوئېر سټور حاجي بابا چوک مينګوره) انټرويو: ۲۹ جنوري ۲۰۱۵.

[۳۰۹] چيندا خوره د کبل زوړ نوم دی، د سوات والي دا نوم بدل کړو او کبل نوم يې ورته کېښوده.

[310] د شاهين د ژوند په باره کې دا ټول معلومات ما له هغوی نه په یوه انټرویو کې اخستي وو. دا انټرویو ما له هغوی نه په ۲۰۱۱کال د اپریل میاشتې په څلورم تاریخ کړې وه .په دې موقعه له ما سره د کبل نقیب احمد جان هم و.

[311] عنايت الرحمان. د سوات پخوانی قيصې (اوله حصه)، روم، IsMEO، ۱۹٦۸، ۹مخ.

[312] شاهين، محمد پرویش. د سوات ګلونه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۱۹۸۸، ۴۰، ۴۱ مخونه.

[313] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۴۹مخ.

[314] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۰ مخ.

[315] د فيضان صيب د ژوند، تعليم،او قام نسب دا بنيادي معلومات د هغه له ځوي شمس الاقبال شمس نه په ۲۰۱۱-۴-۷تر لاسه شو. شمس صيب د فيضان مشر ځوی دی او تاریخ پیدایش یې ۱۹۵۹-۱۲-۲۱ دی.

[316] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۰ مخ.

[317] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۳ مخ.

[318] رحيم، رحيم شاه. غټه خزانه (ناچاپه)، ۲۵۳مخ.

[319] مرين،(عمر:۷۰ کاله،بره باندۍ، یو سپین ګیری سړی چې حافظ یې لیدلی وه. د مرين حجره) انټرویو: ۱۱ اپریل ۲۰۱۱.

[320] د مرين نه د شيرين حافظ کلام ما په ۲۰۱۱-۴-۱۴ ریکارډ کړه او بیا مې وروسته ولیکلو. په دې موقعه له ما سره د کوزې باندۍ یو شاعر عبدالواحد جلبلي هم وه. مرين د اویا کالو یو سپین ږیری سړی وه او هغه ماته وویل چې دا کلام ما په کراچۍ کې د شيرين حافظ د یو شاګرد عبدالرحيم نه یاد کړی وه. مرين وویل چې حافظ په دواړه سترګو ړوند وه او عبدالرحيم به لاس نیولی ګرځولو او هغه به خپل کلام ویلو او خلکو به ورسره مالي مرسته کوله.

[321] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (ووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲(جنوري ۱۹۸۱)، ۵۱ مخ.

[322] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (اووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۲ مخ.

[323] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (اووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۲ مخ.

[324] رحيم، رحيم شاه. د سوات ورک شاعران (اووم ټوک)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي، جلد: ۱۲، شماره: ۱۲ (جنوري ۱۹۸۱)، ۵۲ مخ.

[325] سهېل، فضل عزيز. نیمبولا دیمبولا، میاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي، جلد: ۱۰، شماره: ۸ (ستمبر ۱۹۸۱)، ۴۸مخ.

[326] ډارمستېټر، جيمز. د پښتونخوا د شعر هاروبهار، کابل، پښتو ټولنه، دریم چاپ ۱۹۷۷، ۲۳، ۱۲۴ مخونه.

[327] رحيم، رحيم شاه. غټه خزانه (ناچاپه)، ۱۸۳مخ.

[328] رحيم، رحيم شاه. غټه خزانه (ناچاپه)، ۲۰۸ مخ.

شپږم باب

د سوات پښتو ادب او ثقافت

(۱۹٦۹ - ۲۰۰۰)

د ریاست سوات ادغام او ټولنیز بدلون

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوي، چې په باقاعدن توګه ریاست سوات په ۱۹۱۵م کې په وجود کې راغلی و او د ۱۹٦۹م د جولای پر ۲۸ مه د سوات د ریاست په پاکستان کې د ضم کېدو اعلان وشو،[1] خو په باقاعده توګه د ۱۹٦۹م کال د اګست پر ۱۵ مه ختم کړی شو او د سوات په تاریخ کې له دغه وخت نه یو نوی باب شروع شو. د ریاست سوات له پاکستان سره د انضمام له اعلان نه په سوات کې انتظامي، سیاسي او ټولنیز بدلونونه شروع شول. د ریاست سوات په پاکستان کې له ضم کولو وروسته دلته چې کومه انتظامي مشینري راغله د هغوی د کار طریقه او نفسیات د دې خلکو لپاره ډېر نا اشنا وو. اول ټول اختیارات د ریاست دننه خپل وو او له ضم کېدلو وروسته اختیارات یا له مرکز او یا له صوبې سره شول. ترقیاتي فنډونه هم له مرکز یا له صوبې سره وو او د ترقیاتي منصوبو د سر ته رسولو طریقه کار هم بدل شو. ریاست خو په پاکستان کې ضم کړی شو خو د سوات چې کوم خصوصي قانوني حیثیت و، هغه برقرار پاتې شو او ورسره دلته عدالتي نظام هم بدل شو، نو له دې سره قانوني مشکلات او مسئلې پیدا شوې، د هغې نتیجه دا شوه چې عدالتي فېصلو به ډېر زیات وخت اخسته او ډېرې پېسې به د خلکو په عدالتي فیصلو لګېدلې، په دې باره کې سلطان روم داسې لیکي:

> With bringing an end to Swat State by Government of Pakistan, drastic changes occurred in all respects. A new and alien

administrative apparatus was brought, characterized by federal and provincial centralization, bureaucratic mindset, red tape and dilly-dally. Determining priorities, developmental schemes and the allocation of funds were now made at the federal and provincial levels and the implementation was done through the bureaucratic hierarchy and chain which was a new and alien thing for the people. Besides, the constitutional status of the area as a tribal area was retained; and the judicial system and apparatus was changed, which now was characterized by technicalities, delay and high costs. All these proved some of the negative results and outcomes of the merger of Swat State.[۲]

ترجمه: کله چې پاکستاني حکومت د سوات ریاست په پاکستان کې ضم کړ، نو په هر لحاظ ډېر بدلونونه رامخې ته شول. یوه نوې او نا اشنا انتظامي مشینري راوړل شوه، د دې نوې انتظامیې خصوصیات دا وو چې اختیارات له صوبې یا مرکز سره وو، افسر شاهي وه، د کلرکانو له لاسه دفتري مشکلات وو. د ترجیحاتو تعین، ترقیاتي منصوبې او د فنډ تقسیم به اوس په مرکزي یا صوبایي سطح کېده او د دې نفاذ به د افسر شاهۍ په ذریعه کېدلو چې دا د سوات د خلکو لپاره ډېر نااشنا او عجیبه خبره وه. بل طرف ته د دې علاقې ائیني حیثیت د قبایلي علاقې و، عدالتي نظام او مشینري بدله شوه چې اوس په هغې کې باریکیانې او لېټ کېدل وغیره شروع شول، دې ټولو خبرو دا ثابته کړه چې د ریاست ضم کېدلو منفي اثرات پیدا کړل. دې (انتظامي او عدالتي مسئلو) د خلکو په ژوند ژواک ډېر اثرات مرتب کړل او د خلکو په سوچ او فکر کې هم ډېر بدلون شروع شو.

د ریاست له ادغام وروسته د بدلون وجوهات

لکه څنګه چې مخکې ووېل شول، ریاست سوات چې کله په پاکستان کې ضم کړی شو، نو له دې وروسته دلته ډېر بدلونونه را مخې ته شول، لکه څنګه چې له ریاست نه مخکې د سوات خلکو د یو قبایلي نظام لاندې ژوند تېرولو او د حکومت د پابندو نه نا اشنا وو او ناڅاپي پرې حکومت راغی او ریاست جوړ شو، نو د دوی د ژوند په هر اړخ کې بدلون راغی، همدغه ډول کله چې د سوات خلک له یو ریاست او بادشاهت سره عادت

شول او ناڅاپي دغه نظام مکمل بدل کړی شو، نو د سوات په ټولنیز ژوند کې له دې سره بیا بدلون شروع شو. د دې بدلونونو په شا د خلکو له خپلو نفسیاتي عواملو نه علاوه څه قومي او څه بین الاقوامي عوامل موجود وو. په دې باره کې ډاکټر سلطان روم داسې لیکي:

The tribal structure and social organization underwent great change under the Swat State, which further altered in the post-Swat State years due to a number of local and global factors; and hence the roles and structure of the society evaluated in the anthropological and sociological studies in the ١٩٥٠s but even those carried out in the ١٩٦٠s and ١٩٧٠s did not portray the real picture of ١٩٩٠s and the first decade of the twenty first century.[٣]

ترجمه: د سوات په ریاست کې په زوره قبایلي جوړښت او په ټولنیز تنظیم کې غټ بدلونونه راغلل او د ریاست سوات له ضم کېدلو نه په وروسته کلونو کې په دې کې د څه سیمه ییزو او نړیوالو عواملو له کبله نور هم بدلون راغی او دغه وجه ده چې د بشر پوهنې او ټولنپوهنې د علومو پوهانو د سوات د ټولنې د کردار او جوړښت کومې مطالعې او څېړنې په ۱۹۵۰ یا ۱۹۶۰ یا ۱۹۷۰م کلونو کې کړې وې، هغه څېړنې او مطالعې د ۱۹۹۰م کال د لسمې یا د شلمې پېړۍ د وړومبۍ لسمې د سوات د ټولنې تصویر نه شي وړاندې کولی.

سوات او پاټا (PATA)

په پاکستان کې د سوات د ریاست له ضم کولو سره د سوات ځانګړی ائیني حیثیت بحال پاتې کړی شو، چې وروسته د پاټا حصه شوه. اوس ګورو چې د سوات د پاټا ائیني حیثیت څه دی . سوات او نړلو نورو علاقو ته د پاټا حیثیت ورکولو په باره کې ډاکټر سلطان روم داسې لیکي:

Under Article ٢٦٠ of The Interim Constitution of the Islamic Republic of Pakistan, ١٩٧٢, the Provincially Administered Tribal Areas (PATA) were created; and the 'districts of Chitral, Dir and Swat (which includes Kalam), Malakand Protected Area, the Tribal Area adjoining Hazara district and the former State of Amb' of the Frontier Province were made part of it.[٤]

ترجمه: د پاکستان د اسلامي جمهوریت د ۱۹۷۲م کال د عبوري قانون د ۲۶۰ مادې لاندې د صوبايي انتظام لاندې قبايلي علاقې، یعنې پاټا جوړه کړی شوه او د سرحدي صوبې د سوات، چترال او دیر ضلعې (له کالام سره)، د مالاکنډ محفوظه علاقه، د هزارې ضلعې سره تړلې قبايلي علاقې او د امب پخواني ریاست د دې حصه جوړه کړی شوه.

لکه وړاندې چې ذکر شوي، چې سوات له ریاست نه وړاندې یوه قبايلي علاقه وه، د ریاست له جوړېدو سره د دې ځای په ټولنیز تنظیم کې بدلون راغی، لکه ډاکټر سلطان روم چې لیکلي دي:

The tribal social organization and setup of Swat was altered drastically by the rulers of the state and hence, Swat as a tribal society, receded into the background. The area's constitutional status as a tribal area however, is significant, as it makes the area constitutionally different from the settled areas and also provides it a separate status. Since Swat is part of the Provincially Administered Tribal Areas (PATA), it is crucial to understand its constitutional status.[٥]

ترجمه: د سوات د ریاست حکمرانانو د سوات په قبايلي او ټولنیز جوړښت کې لوی بدلون راوست او دغه رنګ د سوات قبايلي ټولنه په شالید کې پاتې شوه. د دې علاقې ائیني حیثیت کوم چې یو قبايلي حیثیت دی دا هم ډېر اهمیت لري، ځکه چې دې حیثیت دا علاقه له نورو علاقو نه په ایینې لحاظ سره یوه جدا علاقه وګرځوله او یو جدا حیثیت یې ورته ورکړ. سوات چونکې د صوبايي حکومت تر انتظام لاندې یوه قبايلي علاقه ده، نو ځکه د دې علاقې قانوني حیثیت پېژندل ډېر مهم دي. د ۱۹۶۲ د قانون د ۲۴۲ سیکشن لاندې د امب، چترال، دیر او سوات ریاستونه یوه قبايلي علاقه وګرځول شوه او صدر سره دا اختیارات وو چې د مقامي خلکو په رضا هغه په دې قبايلي حیثیت کې بدلون راوستلی شي، لکه څنګه چې د ۱۹۶۲ په قانون کې لیکلي دي:

The President may,at any time, by order, direct that the whole or any part of a Tribal Area shall cease to be a Tribal Area and any such order may contain such incidental and consequential provisionsas may appear to the president to be

necessary and proper. Provided that before making any order under clause, the president shall ascertain in such manner as he considers appropriate, the viewsof the people of the area concerned, as represented in Jarga.[٦]

صدر خپل هغه اختيارات استعمال کړل کوم چې والي صيب په ۱۹۵۴کې د سپلمنټري انسټرومنټ اف ايکسيشن تحت د پاکستان قانون سازۍ ادارې ته ورکړي وو او د سوات رياست يې په پاکستان کې ضم کړ. د رياست له ادغام وروسته دلته پاټا ريګولېشن جوړ کړی شو.[٧] د پاټا ريګولېشن په باره کې يو شاعر داسې ليکي:

هــــــــــر کلـــه چـــې رياســـتونه شـــو ادغــــــــام
ډېــــر خوشحــــــــاله شـــو پـــه دغـــه کـــار عـــــــوام
تبـــــديلي غوښـــــته انســـــان کـــــې بــــل فطـــــرت دی
فکـــر نـــه کـــړي بعضـــي وخـــت کـــې پـــه انجـــــام
ليکـــــــــن بيـــا نـــوی قـــــانون چـــې دلتـــه راغـــی
دوی شــــو بيـــا زر حکـــــــــومت تــــه لاس پــــه نــــام
دوی وې مـــــونږه يـــــو جاهــــل، قـــــانون مشـــکل دی
خـــــــه زمــــــــونږ د پـــــاره اوکـــــــــړئ انتظـــــام
حکومــــت هـــم پـــه درخواســــت يــــې غـــــور اوکـــــړه
چـــــــې خـــــبره جـــــــــائز اوري دوی مـــــــــدام
د پاټــــا پــــه نـــــوم قـــــــانون يــــې ورلــــــــه جوړکـــــه
پـــــه جـــــــــرګه وي پکــــې جــــوړه د عــــــــــوام[٨]

او بيا څه وخت وروسته د ۱۹۹۰م کال د فرورۍ پر ۲۴ مه د هائي کورټ د يو عدالتي حکم تر مخه په مالاکنډ ډويژن کې پاټا ريګوليشن کالعدم وګرځولی شو.[٩] تر دې ځای پورې مونږ هغه قانوني نکتې په ډاګه کړې د کومو پر بنسټ چې د سوات انضمام وشو او يا د سوات بېل قانوني حيثيت و. د سوات د انضمام او د يو بېل قانوني حيثيت د سوات پر ټولنه اثرات او بدلون هم په ډاګه شو، اوس به مونږ د دې دور د ادبي رجحاناتو طرف ته راځو.

ادبي تحقيق

د سوات د ادب په دې دورکې مونږ ته په ادب کې د تحقيق رجحان په نظر راځي. په دې وخت کې د مختلفو ديوانونو تدوين او د دوباره چاپ انتظام وشو. په دې کې د احمد دين طالب ديوان او دحافظ الپورۍ ديوان شامل دي. د پښتو په کلاسيکي شاعرانو باندې هم په دې دور کې د سوات څېړنکارانو تحقيقي مقالې او کتابونه ليکلي، لکه د شېرافضل خان بريکوټي د پښتو شعر و ادب تاريخ، دبدبه خوشحال[١٠]، زمزمه رحمان، عندليب سوات حافظ الپوري، سخن طراز عبدالحميد مومند[١١] او نور. شېرافضل خان بريکوټي له دې ذکر شوو کتابونو علاوه په اردو کې هم په بايزيد انصاري، پير بابا او اخوند درويزه يو يو کتاب ليکلی دی. رحيم شاه رحيم د سوات په زړو شاعرانو او اديبانو ډېرې مقالې ليکلي دي. په دې شاعرانو او اديبانو کې د کانجو مياکريم داد، محمداکبر عرف ملابابا، مياعبدالحليم، مصطفیٰ محمد، ميا عبدالسّلام، مياعبدل، مياقاسم، احمد دين طالب، سيد حسېن، دوست محمد خان، سيد عثمان طالب، قاضي دادا گل، مولوي مختيارالدّين، قاضي مصطفیٰ جان او نور شامل دي. د ځينو کتابونو ديباچې کومې چې په دې دور کې ليکل شوي، هغه هم د تحقيقي مقالو برابرې دي. دغه ديباچې هم په ادبي تحقيق کې اهم مقام لري، لکه د انوار سهيلي ديباچه، د احمد دين طالب د ديوان ديباچه، د ديوان حافظ الپورۍ ديباچه او نور. د پښتو ژبې او د پښتون قام د تاريخ په باره کې په دې دور کې محمد پرويش شاهين هم ليکونه کړي، اگر چې د هغه ډېر ليکونه د اصلاح قابل دي او ډېرې تاريخي تېروتنې لري خو بيا هم د نورو څېړنکارانو لپاره يوه لار پرانستل شوې ده.

تذکره ليکنه

په دې دور کې د ادبي تحقيق په لړ کې يو شمېر تذکرې هم ليکل شوې دي، په دې تذکرو کې د رحيم شاه رحيم تذکره "واورينې څوکې"[١٢]، د مهرونېش خان صديقي تذکره "د صحرا کاروان"[١٣] او د اختر ملک ملک او د رحيم سيد خان تذکره "لعلونه"[١٤] شامل دي. له دې علاوه ځينو شاعرانو په خپلو نظمونو کې هم د ځينو شاعرانو ذکر کړی دی، چې مونږ ترې په اسانۍ سره د هغه دور د شاعرانو د مرتبې تعين کولی شو، لکه د نمونې په ډول دا شعرونه:

حمـــــــــــــزه رهـــبر د نـــــوي ژوند د کـــــاروان
ختلــــی نمـــــــــــر دی پـــه اسمـــــان د پښـــــتو
یــــو خـــــوا دی شـــمس بـــــل خـــــوا پرېشــــان ولاړ دی
د غـــــــــــــزل غـــــــــــرونه پـــه جهـــان د پښـــــتو
هـــــــــــــــر یـــــو د خپـــــل زړګـــــي قطــــرې ورکــــوي
مهمنــــــــد، صـــــــابر، ختـــــک، فیضـــــان د پښـــــتو
تــــا چـــې کــــوڅــــــــو کــــې پــــه سر کــــانې خــــوړل
ارمــــــاني ســـــــــر دې شــــو ارمــــــــان د پښــــتو[15]

او یا لکه دا دوه شعرونه:

دا یـــــــو حمیـــــــد دی بــــــــل خوشــــــحال یــــــادیږي
عبدالـــــــــــــرحمٰن دی بـــــــل اقبــــــال نــــــامیږي
کـــــــــــــــلام د واړو د ســـــــــــــــــــوزونو ډک دی
لــــــــري چـــــې څـــــه جـــــلال جمــــــال یــــادیږي[16]

محمد نواز ختک د سوات او د چاپېره علاقو د یو څو شاعرانو ذکر په یو نظم کې داسې کړی دی:

مېشته د سوات په سیمه پوهـــــان اوسي   شاهین دی هم رحیم دی فیضان اوسي
طائر دی که نسیم دی که سلیـــم دی   طالـــب پکـــې عزیـــز د رحـــمان اوسي
بیتونه د نذیر هـــــــم بې نظیر دي   میشــــته د شــــموزو پـــه دالان اوسي
هم اوسي بخت محمد کوزه باندې کې   لوهـــار د مینګـــورې مـــې جـــان اوسي
فطرت نقیب د فن دی په کوټکي کې   ســـتي پـــه فـــن ادب هـــم امـــان اوسي
څوک له خدایه کړي طلب څوک د بنده نه   شـــته ځنــــي پـــه اسره د انســـان اوسي
ستاینه د لادین چې په سخن کــــړي   پـــه مینـــه کـــې ســـتي وي د نـــان اوسي
د شمس په پلــــــــشو ادب رڼا شه   ځلانـــده د بـــونېر پـــه اســـمان اوسي
زېب سر ادیب د ســـوات د یادو وړ دی   صـــدیقي پـــه فـــن ادب کـــې پـــه شـــان اوسي
ته خیال د صدیقي انداغ کې ګــــوره   پخپلــــه فنپـــاره کـــې روښـــان اوسي
داخـــــل په سلسله د دستګیرۍ کې   حکـــیم پـــه محبـــت د منـــان اوسي
شـېر زمـان مـاهر بـل شـېر پـه لیلـونۍ کـې دا زمـري د فـن ادب پـه میـدان اوسي

مجبور د الپورۍ دی کــــه جانان دی　　　مئــېن پــه پښـــتو ژبــه پوهـــان اوسي
درخـــــ د پښتو ژبې بیا ژوندی شوه　　　سر څنـــې د پښـــتو تـــه زلمیـــان اوسي
خدمت چې د ملت په طبابت کړي　　　ډاکټر کوزه بانډې کې حکیم جان اوسي
د فـــــادب په لړ غني قصاب　　　ردیـــف د قـــافیو پـــه دکـــان اوسي
ندیم دی که کمـال کـه محبت دی　　　دې فـن کـې د لالونـو پـه کـان اوسي
مئېن واړه پښتانه په پښـــتو باندې　　　پـه عـزم کـې مضـبوط پـه ایمـان اوسي
سرحدي په مینگـــــوره کې حلیم　　　مملکـت د فـــن کـې هسـې تابـان اوسي
اجملي د ارماني ذکـــــر کـــوم　　　د فـن ادب چمـن کـې رقصـــــان اوسي
رحمت د مینګـــورې پرې رحمت شه　　　نـن خـوا کـې د حـــــورانو شـادان اوسي
حـــافظ د الپورۍ به کلـــه هېر شي　　　جنت کې دا حـــــافظ د قران اوسي
اکبر د کـــوکارۍ چې نن مرحوم دی　　　اشعار یې د هـــــــر پوه په زبان اوسي
لندن د پاڼو ځـــای کې اکبر پټ وه　　　طـــــائر ویـل تـر څـو بـه پنهـان اوسي
معافي غــــواړم له نورو واقف نه یم　　　شته ستوري ګڼ دې په اسمــــان اوسي
ختـک پـه یـو اویـا کـې قـــدم کېښـو　　　دی زوړ پـه تـن پـه فکـر کـې ځـوان اوسي
په اتیا د اکـــــتوبر اتم تاریخ دی　　　د سـوات مـې پـه مغـزو کـې بیـان اوسي[۱۷]

په دې نظم کې د سوات له ډېرو شاعرانو علاوه د بونېر او د شانګلې هم د یو څو تنو شاعرانو ذکر شوی دی. د سوات د ځینو کلاسیکي شاعرانو ذکر یې هم کړی دی کوم چې د دې لیک له زمانې نه ډېر وړاندې وفات شوي وو.

لغت لیکنه

د ادبي دیوانونو له ترتیب او تدوین علاوه په دې دور کې د پښتو ژبې په لغتونو هم کافي کار شوی دی. دا کار د دیوانونو له شرحو او حاشیو علاوه د عربي ـ پښتو لغت "المنجد" په شکل کې هم موجود دی. د دیوانونو په شرح کې هم د پښتو د الفاظو ډېره ذخیره محفوظ کړی شوې ده. زیاتې شرحې د حافظ الپورۍ د دیوان شوي دي. په دې کې یوه شرحه ابو حسېن چندا خوري بله شرحه قاضي غفران الدین کوکارۍ او بله شرحه حلیم سرحدي کړې ده. له دوی علاوه نورو خلکو هم د لغت نویسۍ په حواله په څه نه څه رنګ کې کار کړی دی."المنجد" یو عربي ـ پښتو لغت دی، دا لغت مولوي ګل برخان سواتي لیکلی دی. د

مولوي گل برخان کنيت ابو حسين دی او د سوات چندا خوری (موجوده نوم يې کبل دی) اوسېدونکی دی، ځکه د ده له نوم سره چندا خوري هم ليکلی وي. ابو حسېن چنداخوري د ديوان حافظ الپوری شرح هم ليکلې ده. المنجد لغت ۱۱۸۲ مخونه لري.

ناول ليکنه

ناول يو جديد صنف دی چې د اردو او انگرېزۍ له لارې پښتو ته راغلی دی. د سوات د پښتو ادب په دې دور کې ناولونه هم ليکل شوي دي. په دې دور کې چې کوم ناولونه ليکل شوي دي هغه دا دي: خوابښې اينگور(۱۹۷۳)، د سيند په غاړه ترې (۱۹۸۷)، راجگېه (۱۹۸۹)، بي بي مبارکه (۱۹۹۱)، اجړه (۱۹۹۴)، د دشت لوط مسافر(۱۹۹٦)، تورونه سازبښتونه (۱۹۹۷) وغيره. په دې ناولونو کې "راجگېه" د سوات وړومبی تاريخي ناول دی.[18]

سفر نامې

په دې دور کې سفرنامې هم ليکل شوي دي چې ځينې په کتابي شکل او ځيې په رسالو کې چاپ شوې دي. په دې کې د تاج محمد خان زېب سر سفر نامه " زما د حج سفر او مناسک د حج" دا په کتابي شکل په ۱۹۷۴م کال کې چاپ شوې ده. فضل الرّحمٰن فيضان هم په پښتو رساله کې " زما د حج سفر" د سر خط لاندې خپله سفرنامه ليکلې ده.

ترجمې

د سوات د پښتو ادب په دې دور کې له نورو ژبو نه پښتو ته ترجمې هم شوي دي . په دې کې لائق زاده لائق د سيد سليم گرديزي کتاب "ميں نی کشمير کو جلتی ديکھا" ترجمه د "اوښکې او لمبې"[19] په نوم کړې ده. سيد ناصر علي شاه د بېنظير بهټو د کتاب ترجمه " د ختيز ملالۍ" په نوم کړې ده. رحيم شاه رحيم د وليم ورډز ورتهـ د انگرېزۍ د يو مشهور نظم Solitary Reaper ترجمه د "تنها لوگرې"[20] په نوم کړې ده او دا رنگ نورې ترجمې هم په دې دور کې په نظر راځي.

منظوم تاريخونه

د سوات تاريخ ځينو خلکو په منظوم ډول هم ليکلی دی. په دې کې قيمت گل انقلابي د "ځلنده ستوري"[21] په نوم د سوات د ماما خېلو تاريخ ليکلی دی، دغه رنگ نور محمد شاه عرف غوبه جان هم " منظوم تاريخ سوات"[22] ليکلی دی.

د ماشومانو ادب

په دې دور کې د ماشومونو په ادب کې هم څه نه څه تخليق شوی دی، لکه د جوان بخت اسير "چورلکونه" کتاب د ماشومانو په ادب مشتمل دی.

ښځينه ليکوالانې

د دې دور په ادب کې د ښځينه ليکوالانو منظوم تخليقات هم چاپ شوي دي، لکه د کشره بېگم "نيمگړی ژوند"[٢٣] او "يادونه"[٢٤] او نور.

ادبي اصناف

د وخت په تېرېدو سره په ځينو ولسي اصنافو کې کمی راځي خو په تحريري ادب کې په اصنافو کې اضافه ليدلی شي.

خـــــولې يـــــې ســــــپړدلې غـــــوټۍ پـــــانې کــــــوي
راغـــــــی ســــــپرلی پـــــــه گلســـــــتان د پښـــــــتو
پـــــه هـــــر محفـــــل کـــــې يـــــې سر پورتـــــه کړلـــــو
نظم،غـــــــزل، ټپـــــــې داســـــــتان د پښـــــــتو[٢٥]

د پښتو ادب په مروجه تقريباً ټولو صنفونو په دې دور کې طبع ازمايي شوې ده، په دې کې غزل، نظم، رباعي، قصيده، مرثيه او نور شامل دي.

غزل

د سوات د پښتو ادب په هر دور کې غزل د نورو صنفونو په نسبت زيات ليکل شوی دی، بعضې خلک غزل ته رباعي وايي لکه د رحمان بابا غزلو ته اکثر مجلسيان رباعيانې وايي. په سوات کې د ميا سيد عمر ناصح يو کتاب د "سوی زړه"[٢٦] په نامه چاپ دی، هغه د هر غزل د پاسه غزل او رباعي دواړه ليکلي دي.

تضمين

په دې دور کې د تضمين نمونې هم موندلی شي. د خوشحال د شعر په دې مصرعه " په ښکاره نعرې وهم چې خوله يې راکړه" د سيف الملوک صديقي د تضمين دا يو شعر وړاندې کولی شي:

پـــه نخـــرو چـــې خـــوا لـــه راغلـــه رقيـــب شـــا کـــړه
پـــه ښـــکاره نعـــرې وهـــم چـــې خولـــه يـــې راکـــړه[۲۷]

فضل الرحمان فيضان د رحمان بابا د کليزې مشاعرې په موقعه د هغه په دې شعر تضمين کړی دی:

تـــل بـــه نـــه وي شـــگفته بـــازار د عمـــر
نـــه بـــه جـــوړ وي همېشـــه بهـــار د عمـــر

د فيضان د تضمين يو شعر دا دی:

مـــه نـــازېږه پـــه دې لنـــډ بـــازار د عمـــر
خـــزان لـــوټ کـــړي اخـــر دا بهـــار د عمـــر[۲۸]

شېر اکبر خان فکري د حافظ الپوری په يوه مصرعه تضمين کړی دی. هغه مصرعه دا ده:

"خزان زپلی عندليب وه گلستان ته راغی"

په دې مصرعه د فکري د کلام دوه شعرونه دا دي:

پـــه کفريـــاتو کـــې وه غـــرق دارالامـــان تـــه راغـــی
خـــزان زپلـــی عنـــدليب وه گلســـتان تـــه راغـــی
چـــې چـــا يـــې نـــوم اخســـتی نـــه شـــه د بـــد خـــوي پـــه وجـــه
نـــن د دعـــا د پـــاره خـــولې د مســـلمان تـــه راغـــی[۲۹]

ازاد نظم

په دې دور کې په پښتو ادب کې د جديديت نخښې په نظر راځي. د مغربي ادب د اثر لاندې دلته په پښتو کې ازاد نظمونو ته هم وده مېلاو شوې او د دې دور ډېرو شاعرانو د ازاد نظم ښې تجربې کړې دي. د ازاد نظم په ليکونکو شاعرانو کې د يو څو شاعرانو نومونه دا دي: لايق زاده لايق، عبدالسّلام خالص، روح الامين ناياب، فضل محمود روښان او نور. دلته د لايق زاده لايق يو ازاد نظم "سلگۍ" د نمونې لپاره وړاندې کولی شي:

تـــا چـــې ســـترگې پټـــې کـــړې
د" شـــهيد بابـــا" مـــزار کـــې
وې خاموشـــه شـــان ولاړه

ما دې غلې تماشې کړې
په سپین مخ دې رڼې اوښکې
وې لړۍ روانې
گلابي شونډې دې رو رو
رپېدلې ما لیدلې
پوهېدم چې د مولا نه
په سلگو کې دې غوختلم
په لېمو دې ښکلولم[30]

د لایق زاده لایق د یو څو نورو ازاد نظمونو نومونه دا دي: ماشوم، لېونتوب، کنډر، تیندک، جواب، مینه، بت، یکه زار،جنت، خندا، خبرې، نظر، غېږ او نور. د روح الامین نایاب یو ازاد نظم "د پښتون زړه" د نمونې لپاره لاندې ورکولی شي:

د پښتون زړه نه خبر یې
چې پښتو پکې پرته ده
په مودو یارانو
په مثال د هغه کاڼي
چې په تل وي د ابو کې
د عمرونو پورې داسې
لکه اوس وي چا چې اېښې
نه زړېږي نه بدلیږي
د اوله غونډې سخته
د اول غونډې متاکه[31]

عبدالسلام خالص هم ازاد نظمونه لیکلي دي، یو نظم "د خېبر په خوا"[32] یې ډېر زړه راښکونکی دی. فضل محمود روښان د ازاد نظمونو یو کتاب " لټون د پوهې"[33] لیکلی دی. د دې کتاب د ټولو ازادو نظمونو ترجمې په انگرېزۍ ژبه کې هم شوي دي.

مرثیه

مرثیه د ادب په هر دور کې په نظر راځي. د دې دور په ادب کې هم ډېرې مرثیې

موندل کېږي، د نمونې لپاره د یو څو مرثیو ذکر دلته کولی شي. محمد جان لوهار د قائد اعظم مرثیه لیکلی ده یو څو شعرونه یې دا دي:

نــــن قائـــــداعظم فنـــــا شـــــه لــــــه دنیـــــا نــــــه
ژړیــــــږي هـــــر مســــلم د ده پـــــه بـــــې وختــــه رحلـــت
افســــــــــــــــــــوس دې دا ســـــــــــــــــــــاعت
افســــوس دې ډېــــر ارمــــان جنـــــاح صـــــیب شـــــه روان
پـــــــــــه لـــــــــــــــــور د قبرســــــــــــــــتان[۳٤]

کشره بېگم چې د سوات د والي میاګل جهانزېب کشره بي بي وه هغې د والي سوات مرثیه داسې لیکلې ده.

یـــــو کـــــال دې بــــــل د جـــــدایی تېـــــر شـــــه
څـــــه پـــــه ژړا او پـــــه ســـــلګی تېـــــر شـــــه
د پاڅېـــــــــــــدو را پکـــــــــــــې دم نشـــــــــــــته دی
ډېـــــر مـــــې ژونـــــدون پـــــه مایوســـــی تېـــــر شـــــه
هېـــــر بـــــه مـــــې نـــــه شـــــې قدردانـــــه اشـــــنا
هســـــې مـــــې ژونـــــد پـــــه بـــــې وســـــی تېـــــر شـــــه[۳٥]

فیضان د دوست محمد خان کامل په مرګ یوه مرثیه لیکلې ده یو دوه شعرونه یې دا دي:

اخـــر فنـــا شـــه لـــه دنیـــا دوســـت محمـــد خـــان کامـــل
د ده پـــــه مـــــرګ بانـــــدې کـــــوو مـــــونږه ارمـــــان کامـــــل
د هـــــرې ژبـــــې پـــــه ادب یـــــې ښـــــه عبـــــور لرلـــــو
داســـــې دنیـــــا کـــــې کـــــه پیښـــــېږي ادیبـــــان کامـــــل[۳٦]

سیف الملوک صدیقي یوه مرثیه "د فضل ودود مور چاچې" د سر خط لاندې لیکلې ده، وړومبی شعر یې دا دی:

پـــــه ســـــــفر لاړې بـــــــې زمـــــــا نـــــــه لاړې
پـــــه حسرـــــــــــتونو د دنیـــــــــا نـــــــه لاړې[۳۷]

د دې مرثیې اخري بند دا دی:

د مـــــــرګ پیالـــــــه د هـــــــر زنـــــــده برخـــــــه ده
پـــــه خپـــــل خپـــــل وخـــــت بـــــه یـــــې پـــــه دهـــــن کېـــــږدي

د هـــــــر بهـــــــار انجـــــام تـــــــه فکـــــــر اوکـــــــړئ
اخـــــر خـــــزان يـــــې پـــــه ګلشـــــن کېـــــږدي
د نـــــور جهـــــان او تـــــاج محـــــل قبرونـــــه
جـــــدا جـــــدا چـــــې يـــــې ځښـــــتن کېـــــږدي
پـــــوره خـــــدمت بـــــه پـــــه قســـــمت مـــــې نـــــه وه
څـــــوک چـــــې مجبـــــور شي پـــــرې قـــــدغن کېـــــږدي
د ودود مـــــور بـــــه زه اوس چـــــا تـــــه وايـــــم
د صـــــديقي غونـــــدې جليـــــا نـــــه لاړې[38]

فضل يزدان افتاب هم يوه مرثيه "مرثيه په حق کې د زهرا بېګم" ليکلې ده:

ســـــتا جـــــدائۍ کـــــې رانـــــه پـــــاتې کلـــــى کـــــور
همـــــېش ســـــوزم پـــــه اور د لاســـــه د هجـــــران
قـــــبر کـــــې پرېـــــوتې يـــــواځې
ببلتـــــون پـــــه مـــــا اوکـــــړې نـــــا ســـــازې
ژونـــــد پـــــه دنيـــــا بانـــــدې مـــــې نـــــه تېرېـــــږي نـــــور.....
زه د زهـــــرا پـــــه غـــــم ســـــتي يـــــم
قـــــبر لـــــه تلـــــى يـــــې وختـــــي يـــــم
زړه صـــــبرومه خـــــو د خـــــولې مـــــې خيـــــژي اور....
اللـــــه زمـــــا دې کـــــړي پـــــه نفـــــع
زړګـــــى زمـــــا دې کـــــړي تـــــرې دفـــــع
د پـــــلار پـــــه غـــــم بانـــــدې لا پـــــروت وومـــــه نســـــکور[39]

روح الامين ناياب "د سلمىٰ په مرګ" يوه مرثيه ليکلې ده، د دغې مرثيې دوه شعرونه دا دي:

پـــــه مـــــا راغلـــــى دى ماښـــــام خفـــــه
نـــــن رانـــــه تلـــــى دى ګلفـــــام خفـــــه
مـــــخ رانـــــه پـــــټ يـــــې کـــــړۀ او هـــــم اخـــــر
ماتـــــه يـــــې کـــــړى دى ســـــلام خفـــــه[40]

حبيب الرّحمان حبيب د خپل پلار مرثيه ليکلې ده چې دوه شعرونه يې دا دي:

زمـــــا والـــــد بزرګـــــوار د علـــــم غـــــر د دنيـــــا

د گـــلاب گـــل د گـــل پـــه ورځ اوکـــړه ســـفر د دنيـــا
خـــزان ظـــالم د دســـمبر پـــه شپږيشـــتم اوريـــژو
وخـــت ماســـخوتن وه چـــې د پورتـــه کـــړه بســـتر د دنيـــا[٤١]

د عليگرامې اوسېدونکي احمد جان نشتر د تاج محمد خان زېب سر د ځوی محمد شريف مرثيه ليکلې ده، د نمونې په توگه يو څو شعرونه وړاندې کولی شي:

راکـــوز شـــو د پـــرووازه بيـــا مـــخ وهـــي طوطيـــان
محمـــد شريـــف خـــان کـــړی انتقـــال پـــه لـــور د گـــور ځـــي
مخلــــوق پــــــه هغــــــه لــــــور ځــــــي
لونـــد کـــــړی دی گريبـــان بلبـــل فصـــيح زبـــان
سرگنــــــــد شــــــــه دا خــــــــزان
ســـوه زيـــږي جهـــان واړه جهـــان ســـوز لـــه دې اوازه
راکـــــــوز شـــــــو د پـــــــرووازه[٤٢]

او دغه رنگې نورې هم ډېرې مرثيې د سوات په پښتو ادب کې موندلی شي:

چاربيته

چاربېته اگر چې په دې دور کې د نورو شاعرانه صنفونو په نسبت کمه ليکلې شوې، خو بيا هم د دې دور په ادب کې د چاربېتې نمونې په نظر راځي. ځينې چاربېتې سوچه اسلامي موضوعات بيانوي لکه د گل بشر بشر چاربېتې، د هغه په يوه چاربېته کې د جنت د څلورو ولو بيان شوی دی.[٤٣] دغه رنگ اسلامي تاريخي واقعات او نعتونه يې هم د چاربيتو په شکل کې ليکلي دي. له دې نه علاوه د روزي خان لېوني کتاب "اوښکې"[٤٤] او د محمد جان لوهار کتاب " ديوان محمد جان لوهار"[٤٥]کې هم چاربېتې ليکل شوي دي.

لوبه

لوبې هم د پښتو ادب يو اهم صنف دی چې د سوات د پښتو ادب په دې دور کې يې نمونې موندلی شي. د دې دور په کومو کتابونو کې چې لوبې موندلې شي په هغو کې يو څو کتابونه دا دي - سترې قافلې،[٤٦] د حقيقت گلونه،[٤٧] د احساس لمن،[٤٨] ديوان محمد جان لوهار[٤٩] او نور.

رباعي

د دې دور په پښتو ادب کې رباعیانې هم موندلی شي. فضل خالق فضل په خپل کتاب "احساسونه" کې رباعیانې لیکلي دي.[۵۰]

سندره

سندره هم د دې دور یو اهم صنف دی. د لایق زاده لایق کتاب "وېښ خوبونه" کې د سندرو ځانله جدا برخه ده، د دغه کتاب نه "د کلي مازیګر" په نوم د یوې سندرې یو څو شعرونه دا دي:

کـــــه کراچـــــــی کـــــــې رنګینــــــــی ډېـــــــرې دي
شـــــــوخي ده ډېـــــــره هــــــم مســــــتی ډېـــــــرې دي
مـــــــا تـــــــه منګــــــی مــــــا تـــــــه ګــــــودر یـــــــادیږي
ماتــــــــــه د کــــــــــلي مــــــــــازیګر یــــــــــادیږي
زمــــــا پــــــه ســــــتر ګــــــو کــــــې غږیــــــږي مــــــدام
هــــــا غــــــه خــــــاورین هاغــــــه کڇــــــه کورونــــــه
زمــــــا د خیــــــال نــــــه د وتلــــــو نــــــه دي
هاغــــــــه خــــــــواږه ســــــــاده بــــــــاده کورونــــــــه
یــــــــاران د ژونــــــــد راتــــــــه اکــــــــثر یــــــــادیږي
ماتــــــــــه د کــــــــــلي مــــــــــازیګر یــــــــــادیږي[۵۱]

سندرې د سوات د دې دور په ادبي اصنافو کې یو اهم صنف دی.

مناجات

هغه نظم چې له الله پاک نه پکې سوال او دعا شوې وي ورته مناجات وېلی شي. فضل یزدان افتاب یو مناجات "مناجات بدرګاه قاضي الحاجات" لیکلی دی، د دې مناجات دوه شعرونه د نمونې په توګه دلته وړاندې کولی شي:

لاس نیــــــولي مــــــو دي ربــــــه پــــــه دربــــــار ســــــتا
تــــــه رحــــــیم یــــــې د رحمــــــت یــــــو امېــــــدوار ســــــتا
هــــــم مــــــو بــــــچ کــــــړې د شــــــیطان د وسوســــــو نــــــه
بنــــــدګان یــــــو مــــــونږ عــــــاجزه ګناهګــــــار ســــــتا[۵۲]

د مناجات روایت د سوات په پښتو ادبي روایت کې یو زوړ مقام لري.

منظوم خطونه

په دغه دور کې د پیغام رسولو لویه ذریعه خطونه وو. اکثر به شاعرانو او ادیبانو خلکو ته منظوم خطونه هم لیږل چې ذکر یې په ادب کې په نظر راځي، لکه سیف الملوک صدیقي په ۱۹۷۵کې "د ژوند اخري ملګري" ته د خط جواب داسې لیکي:

ای زمـــا د زړګـــي سره چـــې راورســـېدو ســـتا خـــط
مـــا د زړه پـــه سترګو اوکـوت ډېـر پـــه مينـــه پـــه صـحرا خـــط[۵۳]

او تره ته د یو خط په جواب کې داسې لیکي:

ډېـــرې نېکـــۍ دي د عـــالي جنـــاب بـــه ځنـــګ اولـــيکم
تـــره ســـتا د مينـــې د دې خـــط ځـــواب بـــه ځنـــګ اولـــيکم[۵۴]

زنداني ادب

هغه ادب چې په جېلونو کې تخليق شوی وي ورته زنداني[۱] ادب ويلی شي. په دې دور کې د زنداني ادب نمونې هم په لاس راځي، لکه د عبدالسّلام خالص د یو زنداني غزل دا شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کولی شي:

زړګيـــه ډېـــر زمـــا پـــه شـــان دي زه يـــواځې نـــه يـــم
پـــه دې قفـــس کـــې څـــه طوطيـــان دي زه يـــواځې نـــه يـــم
اګـــر کـــۀ ګېـــر نـــن د مفـــادو پجاريـــانو کـــې يـــم
څـــه خوښـــونکي د تـــاوان وي زه يـــواځې نـــه يـــم
ډېـــر راتـــه وايـــي ښـــه بـــه دا وي چـــې خولـــه بنـــده ســـاتم
دلتـــه خـــو زيـــات تـــر بـــې زبـــان دي زه يـــواځې نـــه يـــم
حوصـــله اوکـــړه ټـــول راغونـــډ کـــړه يـــو طوفـــان تـــرې جـــوړ کـــړه
دلتـــه بـــې شـــماره مظلومـــان دي زۀ يـــواځې نـــه يـــم[۵۵]

د روزي خان لېوني دا يو نظم " د قطر په جېل کې" هم د زنداني ادب يوه نمونه ده، يو څو شعرونه يې دلته ليکلی شي:

[۱] په پښتو کې د زنداني ادب په روايت ډاکټر نورالبصر امن د پېښور پوهنتون له پښتو څانګې نه د ډاکټرېټ مقاله ليکلې ده.

يخ بې مهره تور دېوان — دېوالونه د زندان
دا سنګين او تور مهين — زنګ وهلي شنه او سپين
د مجرمو نګهبان — دېوالونه د زندان
دا اوږدې اوږدې غرمې — دا د ژمي يخې شپې
دا اودې اودې نغمې — دا د غم تورې چپې
سترګې خړې زړه پرېشان — خاموشي د قبرستان
دا زمونږ سوی ارمان — دېوالونه د زندان[٥٦]

عبد القهار مخلص "د پنجرې طوطي" د سر خط لاندې داسې ليکي:

د خپل سېل نه شوم جدا چې نن اسير شوم
د ملګرو نه شوم بېل په دې زهير شوم
تول ملګري مې نن سېل د سردرو کړي
زه د بل د لاسه خورمه چې فقير شوم
په پنجره کې يم راګېر وزر مې مات دي
بنديوان په کوم ګناه په څه تقصير شوم
د دې ظلم سزا رب به ورله ورکړي
د چا دام د شرارت کې چې زه ګېر شوم[٥٧]

او بل ځای کې "د جبل نغمه د جبل په ژبه کې" داسې بيانوي:

زه خو يمه جبل د چا په ژبه زه زندان يم
زه يم هم جنت او هم دوزخ ډک د قيديان يم
ما له د رب دوست هم پېغمبر لکه يوسف راځي
زه هم يمه کور د غل رهزن ډاکو شېطان يم
ماله چې راځي نو ورسره خو يو ټکټ وي تل
څوک ورته وارنټ وايي زه ټکټ په دې حېران يم
دا وارنټ ډاکوان څه حاکمان څه منصفان ليکي
څه وي حقيقت او ډېر دروغ زه پرې پرېشان يم
دا په پړپړو د پوليسانو او يا د حق وي جوړ
څه په پېسو جوړ وي څه وي ټيک په دې ګويان يم

مـــــا سره دېــــــره دا مېلمانــــــه پــــــه ټکټونـــــــو وي
چــــا سره يـــــم نـــــرم چــــا تـــــه تنـــدر د اســـــمان يــــم
دوي زمـــــا نـــــه اوځـــــي کلـــــه بنـــــد پــــه زنځيرونــــو کـــــې
څـــوک ځـــــي هســـــپتال تــــه څـــوک وئ زه صــــبې لــــه روان يــــم
څـــوک وئ زه تــــاريخ لــــه ځــــم او څـــوک دېــــوال پېشـــى لـــه ځـــي
ســــــبل د پوليســــــانو تـــــرې چـــــاپېر وي زۀ خنــــــدان يــــــم
دوي لکــــــه د گـــــډو بيـــــزو شــــــمار پـــــه دروازه کــــــې شي
ورکــــــړي دوي پـــــوليس تــــــه زه خــــــبر هــــــم د دربــــــان يــــم
دا يــــــو قافلــــــه بـــــس د اوښــــــانو جېــــــل نـــــه ځـــــي راځـــــي
دوي پـــــه دې حېــــران وي چـــــې څـــــاروى کـــــه زه انســـــان يـــــم[58]

او دا رنگې د سوات د پښتو ادب په دې دور کې د زنداني ادب نمونې په لاس راځي، له دي نه مونږ ته د جېلونو د حالات، د مختلفو مقدمو او نورو اندازه لگېدلى شي.

ولسي ادب

په دې دور کې د ولسي ادب په لړ کې هم د زيار وړ تحقيقي کار شوى دى. د اټلي د يو پراجېکټ په مالي مرسته د سوات پخوانى قيصې راجمع کړى شوي او په دوه جلدونو کې چاپ شوي دي. په دې کې وړومبى جلد په رياستي دور کې چاپ شوى دى او دويمه حصه " د سوات پخوانى قيصې دويمه برخه[59]" په نوم باندې په ۱۹۸۴ کې چاپ شوې ده. دا قيصې په پښتو او انگرېزى دواړو ژبو کې ليکل شوي دي. د دې قيصو په دويمه برخه کې مصنّف په خپل نوټ کې د دې قيصو د اهميت په باره کې ليکي چې يوه اهمه نکته چې د دې قيصو له لوستو نه څرگنديږي هغه د ډېرو تهذيبونو اثر د سوات پر ثقافت دى. مختلف بهرني نومونه چې په قيصو کې راځي لکه سياهوش، کېبب، کدمبر، لپ دک، هيمل وغېره د دې حقيقت ثبوت دى. بايد چې دې قيصو کې د پلار نه ځوى ته د رارسېدو په دوران کې څه بدلي راغلي وي، ولې بيا هم دې کې د رښتياؤ گډون ضرور شته. دا قيصې د سوات د پخوانيو مذهبونو، رسمونو او رواياتو يو دلچسپ پېوندي رخ پېش کوي او نور هم دلچسپ دا چې سوات د بدھ مت د وجرايانه څانگې گړ وه، حقيقت کې د دې قيصو يوه لويه برخه په دې خبره رڼا غورځوي او دې کې د دې علاقې د څېړنې د عالمانو فاضلانو لپاره ډېر معلومات دي.[60] د ولسي ادب په حقله په رسالو کې وخت په وخت مقالې

هم چاپ شوي دي، لکه د محمد پروېش شاهين مقاله "ټپه"[٦١] د عزيز سهېل مقالې "کالي پتري او پښتو ادب (ټپه)"[٦٢]، "زمونږ اساطيري روايات نيمبولا ديمبولا"[٦٣] د رحيم شاه رحيم شفاهي قيصې[٦٤]، د محمد پروېش شاهين شفاهي قيصې.[٦٥] له شفاهي قيصو نه علاوه په ولسي ادب کې په متلونو هم کار شوی دی. په دې حقله د اختر ملک اختر کتاب "متلونه په سوات کې[٦٦]" او "د پښتو متلونه"[٦٧] د ذکر وړ دي. په پښتو محاورو باندې هم خيرالحکيم حکيمزي يو کتاب "د پښتو محاورې"[٦٨] ليکلی دی.

په شاعرۍ کې ولسي رنګونه

د سوات د ځينو شاعرانو په شاعرۍ کې ولسي رنګ ډېر ښکاره دی. په دې شاعرانو کې يو محمد حنيف قيس هم دی. د قېس په شاعرۍ کې د ولسي رنګونو په باره کې لايق زاده لايق داسې ليکي:

> ولسي شاعري د يو قام د کلتور، ثقافت، مذهبي اقدارو او ولسي رواياتو ترجماني کوي. د دې شاعرۍ هره مصرعه د کليوال ژوند په ښکلا ګانو کې الول کيږي. که د واورينو څوکو واورين بادونه وي او که د خورو دشتو تاوده بادونه، که په ګودرونو د پېغلو خندا ګانې وي او که په حجره کې د رباب او منګي سره د ځوانۍ ټپه. که په پټي کې د ستړي زميدار په تندي راغلې خوله وي او که د چا په وربل کې د ګلونو قطارونه. دا هر څه د ولسي شاعرۍ څنډه سترګه ده او عن تر دې چې زمونږ ولسي روماني داستانونه د روايتي دښمنو او تربګنو ذکر هم د روايتي شاعرۍ په لمن کې ځايوي.[٦٩]

د حنيف قيس له شاعرۍ نه د اولسي رنګونو يو څو نمونې دلته وړکولی شي:

د ښـــــار ملګـــــــرو راشـــــــئ وځکـــــــئ مېــــــوه د کلــــــو
زمــــــونږ پــــــه کــــــلي کــــــې تــــــوريږي اينځـــــران پــــــه هــــــر کــــــې
څنــــــګ بــــــه مــــــې ســــــتړی څنــــــګ ســــــتومان کــــــړي د غنمــــــو غوبــــــل
چــــــې پيــــــاز شــــــوملې ډوډۍ غرمــــــه راوړي جانــــــان پــــــه هــــــر کــــــې
د فــــــراق تــــــاوکې د زغــــــم غــــــره کــــــې واورې ويلــــــې شــــــولې
اوښــــــکې مــــــې راغلــــــې لکــــــه وي ســــــين کــــــې طوفــــــان پــــــه هــــــر کــــــې[٧٠]

يو څو نور مثالونه يې دا دي:

پکـــــې ګلونـــــه ســـــتا د يـــــاد د مـــــاضي ماتـــــه کتـــــوی

دا بــــه تــــر عمـــــره د ارمــــان پــــه دېوالــــه کېږدمــــه
تــــور خــــال تــــرې لــــرې کــــړه د زلفــــو تېــــرې بــــس دې کنــــه
مــــړې! مــــخ دېخــــوا کــــړه خالونــــه چــــې پــــرې شــــنه کېږدمــــه
زمــــــا د تــــــره د تربــــــورۍ قيصــــــو دی زړه چــــــولی
ځکــــه پــــه مينــــه پــــه سر لاس د خپــــل ورارهٔ کېږدمــــه[۷۱]

له دې شعرونو نه د پښتون د تهذيب او ثقافت ښه واضح منظر په نظر راځي، لکه د غنمو غوبل، پياز شوملې خوړل، په دېوالونو ماتې کټوۍ اېښودل او د تره تربور دښمني او نوور د پښتني ماحول د يو کليوال ژوندخدوخال دي. د روزي خان لېوني دا شعر هم ولسي او کليوال رنګ لري.

کــــــوچ د تشــــــو شــــــوملو کلــــــه چــــــا ويســــــتلي
منــــــداڼو کــــــه پکــــــې تــــــاو کــــــړې کــــــوز او پــــــاس[۷۲]

په کلېو کې خلک ځاروي ساتي او دغه کوچ غوړي، پی، ماسته، شوملې او نور د دوی خوراکونه دي. دغه رنګ د کلي د ژوند د ځينو مادي ځيزونو ذکر هم لري، لکه په دې شعر کې د منداڼو ذکر چې شوی دی. منداڼو د شوملو شاربلو لپاره کارول کېږي.

داستانونه او قيصې

په دې دور کې د عشق او محبت داستانونه هم ليکل شوي دي. دا عشقيه قيصې او داستانونه په نظم او نثر دواړو کې ليکل شوي دي. داسې قسم يوه قيصه فيضان د "ځلور ګلونه" په نوم په نثر کې ليکلې ده. د دې قيصې په ديباچه کې فيضان ليکي چې دا قيصه د اردو نه پښتو ته ترجمه کړی شوې ده.[۷۳] بيا وروستو فيضان دا قيصه په نظم کې هم ليکلې ده. په نظم کې د دې قيصې نوم "يوه رنګينه افسانه ځلور ګلونه" دی. د دې منظومې قيصې په سريزه کې محمد اصف خان ليکي چې دا مختصر کتاب د پښتو داستاني ادب کې يوه ښکلې اضافه ده.[۷۴] له حمد و ثنا نه وروسته د دې قيصې شروع داسې کوي:

پــــس لــــــــه دې نــــه يــــو قيصــــه وايــــم د مينــــې
کــــه دې واورېــــده بيــــا خــــورې بــــه د زړه وينــــې
دا قيصــــه دېــــره درد ناکــــــه مــــــا وئيلــــې

تـــــا بــــه داســــــــــــې قيصـــــه نــــه وي اورېدلـــــې
يـــــو بادشـــــــاه د زمــــــــــــانې وه پــــه دنيـــــا كـــــې
راشــــــه كېنـــــه غـــــــور مــــــې كېــــــږده پــــه وېنـــــا كـــــې
وه د دې بادشـــــــــاه يــــــــو ښځـــــــــــــه حســــــــن داره
وه بادشـــــــــاه د دې پــــــــه عشـــــــق كــــــې نــــــا قـــــــلاره[٧٥]

شېر اكبر خان فكري د هارون الرّشيد باد شاه د ځوى كيسه په نظم كې ليكلې ده. د دې كيسې شروع يې داسې كړې ده:

يـــــو قيصــــــه مــــــــــې اورېــــــدلې پــــــه دا شـــــــان
اى سامعــــــــــــه ځــــــان خــــــبر كــــــه پــــــه بيــــــان
يـــــو بادشـــــــاه بــــــه يادېــــــده هـــــــــارون رشـــــيد
ډېـــــــر نېــــــك خويــــــــه پرهېزگـــــــار وه مهربــــــــان[٧٦]

حبيب الرّحمان حبيب هم په خپل كتاب "د حبيب مينه" كې منظومې كيسې ليكلې دي، د يوې كيسې شروع داسې كوي:

زمانـــــــــه كـــــــــې د مـــــــــوسىٰ عليـــــــــه ســـــــــلام
وه يـــــو كــــــس يــــــوه يـــــــې ښـــــځه يــــــو غـــــــلام
وو دا درې واړه بـــــــــــــــر بنــــــــــــــده وړي نهـــــــــــــــــر
نــــــا قـــــــرار وو واړه دوي پـــــــه صـــــــبح شـــــــام[٧٧]

او په بل ځاى كې د هارون الرشيد باچا د يوې وينځې كيسه داسې بيانوي:

دى هــــــــارون رشـــــيد تېـــــر شــــــوى يـــــو كشـــــور
يـــــوه شـــــپه خـــــوب نــــــه ورتــــــه پاڅېـــــد لــــــــه بســـــتر
گرځېــــــــده ډېــــــر ســـــــاعت غــــــولي د محــــــل كـــــــې
بيـــــــا كمـــــــــــرو تـــــــه لاړ د وينځـــــــــــــو برابـــــــر
يـــــــوه وينځـــــــه يـــــــې اوليدلـــــــــــــه چـــــــې اوده وه
پــــــه دنيـــــا كـــــــې نمـــــــــونه وه د قمـــــــــــــــر[٧٨]

او دغه رنگ كيسه د هارون الرشيد او ابو نواس شاعر يې هم په نظم كې ليكلې ده.[٧٩] له دې نه علاوه " قيصه د زيركي د لور د هارون رشيد" يې هم په نظم كې ليكلې ده.[٨٠] عبدالقهار مخلص په خپل كتاب "عبرت نامه" كې هم منظوم كيسې ليكلې دي، لكه

کیسه د حضرت یوسف [۸۱]، کیسه د اصحاب کهف[۸۲]، په جنگ احد کې یوه عبرتناکه واقعه[۸۳]،عدل جهانگیري، د قاضي انصاف، د بې صبری انجام، اتفاق[۸٤] او نورې.

د مشاعرو روایت

په ریاستي دور کې چې کومې مشاعرې کېدلې هغه به د دربار تر سیوري لاندې کېدلې او بیا به په سرکاري خرچ چاپ کېدلې. د سوات د ریاست له انضمام نه بعد به هم په ازاده توگه وړې وړې مشاعرې کېدلې او دا به چاپ کېدلې. په دې کې یو څو مشاعرې دا دي کومې چې په کتابي صورت کې چاپ شوي دي، مشاعره شاه فیصل،[۸٥] مشاعره د عبدالغني قصاب د څوی د واده،[۸٦] مشاعره د نور محمد شاه د څوی د پیدا کېدو،[۸۷] او نورې . په جهانزېب کالج کې به هم طرحي او غېر طرحي مشاعرې کېدلې.[۸۸]

ادبي ټولنې

د ریاست له ادغام نه وروسته په سوات کې ادبي ټولنې هم په وجود کې راغلې چې د ادب په وده او روزنه کې یې ډېر مهم کردار ولوبولو. په سوات کې وړومبۍ ادبي ټولنه د "سوات ادبي ټولنه مینگوره سوات" په نوم په ۱۹۷۲ کال کې جوړه شوه. د دې ټولنې وړومبۍ غونډه د محمد جان لوهار په حجره کې شوې وه. د دې ټولنې په بانیانو کې محمد جان لوهار، فیضان، خانی قصاب، قوي خان غمگین، او رحیم شاه رحیم شامل دي. د دې ټولنې سرپرست محمد جان لوهار و. صدر یې خانی قصاب، جنرل سیکرټري عبدالکمال کمال او جاینټ سیکرټري رحیم شاه رحیم وه. دې ټولنې د علي خان هشتنغري او د احمد دین طالب په یاد کې مشاعرې کړې وې. د ۱۹۷٦ م د می پر ۲۴مه د دې ټولنې تر سیوري لاندې د حافظ الپوری په مزار یوه درنه مشاعره هم کړې وه. له دې نه علاوه دې ټولنې د کریم داد شهید او محمد اکبر په مزار هم طرحي مشاعرې کړې دي.[۸۹] د ۱۹۸۴م کال د اگست پر ۲۴مه د فضل رحمان فیضان، فضل محمود روښان، محمد امین امین، برهان الدّین حسرت، بخت محمد بخت، فضل ربي راهي، حاجي شیرین جلال، ماسټر عبدالکمال کمال او شاه بخت منیر استاد په کوښښونو"سوات ادبي څانگه مینگوره" په وجود کې راغله. د دې ټولنې وړومبي عهدیداران دا دي: سر پرست فضل رحمان فیضان، صدر فضل محمود روښان، کشر صدر بخت محمد بخت، مشر سیکتر محمد امین امین، پریس سیکتر برهان الدّین حسرت.[۹۰] د سوات پښتو ادبي ټولنې اغراض و مقاصد دا دي: په سوات کې پښتو ادب

ته وده ورکول او له پښتو ادب سره د عام ولس مينه پيدا کول چې پښتو په خپل ليک لوست کې راولي.[۹۱] په ۱۹۸۴ کال کې يوه بله ټولنه د "مرکزي اسلامي ادبي ټولنه سوات" په نوم د طالعمند تنها په کوښښونو جوړه شوه. په وړومبي ځل د دې ټولنې لپاره دا لانديني عهدېداران منتخب شوي وو: سرپرست حاجي طالعمند تنها، صدر شېر محمد شېر، مشر سيکتر جهانګير خان، پريس سيکتر احمد حسېن نديم.[۹۲] د عجب دين خټک په کوښښونو د ۱۹۸۵ د اګست پر ۹ مه د "پښتو ادبي کاروان سوات" په نوم يوه ټولنه په وجود کې راغله، په وړومي انتخاباتو کې دا لانديني عهديداران منتخب شو: سرپرست اعلیٰ او باني عجب دين خټک، سر پرست سيف الملوک صديقي، صدر محمد شېر علي خان کپتان، نائب صدر فضل يزدان افتاب، مشر سيکتر عبدالاحد شاه دروېش، پريس سيکتر ميا سېد عمر ناصح، خزانچي امير عالم امير.[۹۳] د محمد پروېش شاهين او د حبيب الرّحمان افګار په کوښښونو د ۱۹۸۶ په نومبر کې "نوی تېغ پښتو ادبي ټولنه سوات" په وجود کې راغله. وړومبي انتخابات يې هم په دغه کال وشول او دا لانديني عهديداران يې منتخب کړل: سر پرست محمد پروېش شاهين، صدر حبيب الرّحمان افګار، کشر صدر احمد زېب زېب، مشر سيکتر ظفر علي ناز، کشر سيکتر ميا خورشېد خورشېد، پريس سيکتر ګل رحمان ساغر.[۹۴] د غلام محمد اکاونټ افسر په کوښښ او زيار سره په ۱۹۸۸ کال کې"ايلم پښتو ادبي ټولنه" جوړه شوه. د ايلم پښتو ادبي ټولنې وړومبي عهدېداران دا دي: سر پرست فضل ودود تحصيلدار، صدر غلام محمد، مشر سيکتر رضا خان ابوها، پريس سيکتر غلام محمد.[۹۵]

په ۱۹۸۸ کې د محمد اصف خان په سرپرستۍ کې "د ساهو ليکونکو مرکه سوات" په نوم يوه ټولنه جوړه شوه. د دې ټولنې نوم خادم حسېن کېښود. فضل ربي راهي او عثمان ولس يار هم د دې ټولنې غړي وو.[۹۶] عبداللّطيف شاهين په ۱۹۹۰ کال کې په کبل سوات کې د " پښتو ادبي تړون" بنياد کېښود.[۹۷] د ۱۹۹۱ د جون پر ۲۸ مه د سوات په کوزه باندۍ کلي کې طوطي جان باچا او بخت محمد بخت د "سحر پښتو ادبي ټولنه سوات" په نوم يوه ټولنه جوړه کړه. د ټولنې مشران او عهديداران دا دي: سرپرست طوطي جان باچا جي، صدر بخت محمد بخت، نائب صدر يحيٰی خان يحيٰی، مشر سيکتر عبدالواحد جلبلي، رابطه سيکتر محمد خان، پريس سيکتر امير عالم امير، خزانچي محمد رسول خان خانی.[۹۸] په ۱۹۹ کال کې په جهانزېب کالج سوات کې عثمان ولس يار او محمد اقبال عيسیٰ خېل له نورو ملګرو سره په شريکه د "پښتو ادبي څانګه" بنياد کېښود.

دې ټولنې هم ډېر ادبي محفلونه جوړکړي وو.[۹۹] په ۱۹۹۷کال کې په سوات کې "ننګيال پښتو ادبي ټولنه سوات" جوړه شوه. حبيب الرّحمان افګار د "پښتو ادبي لښکر" په نوم هم يوه ټولنه جوړه کړه.[۱۰۰] په ۱۹۹۷کال کې په سېر سينئ سوات کې د "نوی کول پښتو ادبي ادبي سنګر" په نوم يوه ټولنه جوړه شوه. په دې ټولنه کې حيدر شاه حېدر، ناصر نسيم يوسفزی، معظم شاه، امان الله امان، سيد قيوم او محمد شير علي خان ثالث وغېره شامل وو.[۱۰۱] په مينګوره کې د "سوچه ليکوال" په نوم يو تنظيم عطاءالله جان، افتاب سپرلی، حنيف قېس، ضياءالدّين يوسفزی، او عثمان ولس يار جوړ کړی و.[۱۰۲]

صحافت په سوات کې

په څلورم باب کې په سوات کې د صحافت پر شروع بحث شوی دی. په پينځم باب کې د رياستي دور پر صحافت بحث شوی دی. دلته به مونږ په دې دور کې د صحافت پر ترقئ خبرې کوو، په دې دور کې وړومبی اخبار فلک سېر دی.

فلک سېر

په پاکستان کې د سوات د رياست له ضم کېدلو نه بعد سيد مياګل فروش د "فلک سېر" په نوم يو اخبار په کال ۱۹۷۲کې شروع کړ. دا اخبار به په اردو او پښتو دواړو ژبو کې چاپ کېدلو.[۱۰۳] د پريس اينډ پبليکيشن ارډيننس ۱۹۶۳ لاندې د هفته وار فلک سېر اخبار لپاره په شلمه فرورئ کال ۱۹۷۲کې ډيکليرېشن ورکړی شه. د ۱۹۷۲ په اپرېل کې د دې اخبار وړومبئ پرچه چاپ شوه. د دې اخبار څلور مخونه به په اردو کې وو او دوه به په پښتو کې وو. پينځويشت پېسې د يوې پرچې قيمت وه او اته سوه پرچې سرکولېشن به کېدلو. د دې اخبار ټول اخراجات به مياګل فروش چيف ايډيټر پخپله برداشت کول.[۱۰۴] رفيع الله ليکي چې د سوات افضل خان لالا او د والي سوات د رقابت په وجه به دا اخبار د افضل خان لالا په سترګو ځکه ښه نه لګېدلو چې مياګل فروش به په دې اخبار کې د والي سوات کارنامې ستايلې او کله چې افضل خان لالا د اطلاعاتو او ذراعت وزير شه نو هغه په دې وجه دا اخبار بند کړه خو بيا وروستو دا اخبار ازاد شه.[۱۰۵] د فلک سېر وړومبی ايډيټر سيد احمد حسين بخاري و، چې هغه به له پېښور نه خپل اخبار نوائی سرحد هم چلولو.[۱۰۶] د ۱۹۷۸ تر دسمبر پورې د دې اخبار چيف ايډيټر مياګل فروش و او بيا هغه د خپلې بيمارئ له وجې دا اخبار د خپل يو نزدې ملګري احقر سرحدي زوی جاويد اختر ته حواله کړو.[۱۰۷]

سراج کوهستانی

دا رساله په ۱۹۷۴ کال کې د مضروف سلام په ادارت کې له مینګورې نه په دوه ژبو اردو او پښتو کې چاپ کېدله.[۱۰۸]

پهول

دا میاشتینۍ رساله په ۱۹۷۵ کال کې له مینګورې نه شروع شوه، شمس فخري د دې ایډیټر و.[۱۰۹]

بلدیه

میونسپل کمیټۍ مینګورې په ۱۹۷۸ کال کې د بلدیه په نوم یوه رساله چاپ کړه. دا رساله په اردو ژبه کې چاپ کېدله او په دې کې به د بلدیې د ترقۍ په حواله خبرې اترې چاپ کېدلې.[۱۱۰]

مرغزار

له ګورنمنټ ګرلز ډګري کالج مینګورې نه دا کلیزه علمي او ادبي رساله په ۱۹۷۸ کال کې شروع شوې وه. دا رساله په درېو ژبو اردو، پښتو او انګرېزۍ کې چاپ کېږي. په تعلیمي ادارو کې د سوات د جهانزېب کالج د ایلم رسالې نه ورستو مرغزار دویمه رساله ده.[۱۱۱]

کوه سجن

په ۱۹۸٦کې فضل ربّي راهي او کریم جان مجاهد د "کوه سجن" په نوم یوه میاشتینۍ رساله شروع کړه. دا رساله به په درېو ژبو اردو، پښتو او کوهستانۍ کې چاپ کېدله. د دې پینځه روپۍ قیمت و. فضل ربي راهي به د دې کتابت پخپله کولو.[۱۱۲] د دې رسالې امتیازي خصوصیت دا دی چې په وړومبي ځل د سوات په ادبي صحافت کې کوهستاني ژبه په دې رساله کې په نظر راځي.

سوات

فضل ربي راهي او فضل محمود روښان د "سوات" په نوم یوه رساله په ۱۹۸۷ کال

کې شروع کړه. دا رساله په اردو ژبه کې چاپ کېدله. د دې پينځه ګڼې چاپ شوي دي او بيا دا رساله بنده شوه.

له دې وروسته په ۱۹۸۷کې د محکمه سماجي بهبود له خوا يوه رساله سماجي بهبود شروع شوه. دا به بغير د څه قيمت نه خلکو ته ورکولی شوه. هم په دې کال د پېراميډيکل انسټي ټيوټ سيدو شريف له خوا د "کونپل" په نوم يوه رساله شروع شوه. د سوات سکاوټس له خوا "سوات سکاوټس" په نوم رساله په ۱۹۸۸کې چاپ شوه. په ۱۹۸۸کال کې يو بل زلمي انورعلي د "ګليکسي" په نوم يوه رساله په انګرېزۍ ژبه کې ميدان ته راوويستله او د ۱۹۸۸ د ستمبر پر ۱۵ احسان الحق حقاني يو بل اخبار "صدائی دل" له سوات نه شروع کړ. دا اخبار به اول دوه هفتې پس او بيا مياشت پس چاپ کېدلو. د ۱۹۸۹ د ستمبر په ۲۵ ميا سيد عمر ناصح له سوات نه د صدای سوات په نوم هفته وار اخبار شروع کړ. ممتاز احمد بونيري په ۱۹۸۹کې له سوات نه هفته وار اخبار صدای مالاکنډ شروع کړ. د ۱۹۹۳ د اګست په وړومبۍ ميا سيد عمر ناصح له سوات نه وړومبی روزانه اخبار شروع کړ. په ۱۹۹۴کې سيد بدرزمان صبا د مالاکنډ ټائمز په نوم په اردو ژبه کې يو اخبار شروع کړ. دا د ټول مالاکنډ ډويژن نمائنده اخبار و، دا اخبار به هفته وار چاپ کېدلو، په ۱۹۹۳کې برهان الدين حسرت د "ترون" په نوم يوه پښتو رساله شروع کړه. د سوات د پرائېوېټ سکولز مينيجمنټ ايسوسي ايشن له خوا د ستېرز انټرنيشنل په نوم يوه رساله به چاپ کېدله. د دې ايډيټر برهان الدين حسرت و.[۱۱۳] په وړومبي اګست کال ۱۹۹۳کې ميا سيد عمر ناصح له سوات نه روزنامه سلام شروع کړه او لږه موده وروستو دا بيا بند کړی شه. په ۱۴ اګست ۱۹۹۴ له سوات نه د روزنامه شمال په نوم يو اخبار شروع شو.[۱۱٤] په وړومبۍ جنورۍ ۱۹۹۵ له سوات نه روزنامه ازادي اخبار شروع شو. ممتاز احمد صادق د دې اخبار چيف ايډيټر و او صلاح الدين د دې ايډيټر و.[۱۱٥] په وړومبي نومبر ۲۰۰۰ کې له سوات نه د وادي سوات په نوم يو هفته وار اخبار شروع شو.[۱۱٦] په دې دور کې د صحافت سرسري جايزه وړاندې کړی شوه.

اسلامي ادب

د سوات د پښتو ادب د وړومبي دور موضوعات تقريباً ټول اسلامي دي. بيا وروسته ورو ورو د ادب په موضوعاتو کې وسعت راغلی، خو بيا هم په اسلامي موضوعاتو کتابونه چاپ شوي دي. په دې دور کې چې کوم کتابونه په اسلامي موضوعاتو چاپ دي په هغو

کتابونو کې درې قسمه موضوع ګانې ډېرې زياتې دي. په دې کې د حج سفرنامې او د حج مناسک او د فضايلو متعلق کتابونه دي، لکه د تاج محمد خان زېب سر " زما د حج سفر او مناسک د حج"[۱۱۷]، او په پښتو رساله کې د فضل الرّحمٰن فيضان ليک "زما د حج سفر"[۱۱۸] او له دې نه علاوه پيغمبرپاک ته د عقيدت پېرزونې وړاندې شوي دي او په تصوّف هم بحثونه شوي دي. د پيغمبر پاک په سيرت او ژوند باندې يو منظوم کتاب "محسن انسانيت"[۱۱۹] ليکل شوى دى. د دې نه علاوه په دې دور کې چې کوم نعتيه کتابونه چاپ شوي دي هغو کې څه اهم کتابونه دا دي: صلّو عليه و اٰله[۱۲۰]، روحاني غذا[۱۲۱]، ګلدسته حجاز نعتونه[۱۲۲]، ګلشن هاشمي[۱۲۳]، ګلستان مصطفىٰ[۱۲٤]، د عقيدت ګلونه[۱۲۵] وغيره. د اسلامي اعمالو په فضيلتونو باندې هم کتابونه چاپ شوي دي، لکه د الحاج عبدالغني منظوم کتاب چې نوم يې دى" ښکلى کتاب د بسم الله او الحمدلله فضيلتونه[۱۲٦]، له دې نه علاوه د حديثونو منظومې ترجمې او د اسماالحسنىٰ منظوم فضيلتونه په "تازه ګلونه[۱۲۷]" کې موندلى شي.

پير مرشد

پير او مرشد د سوات د پښتو ادب په موضوعاتو کې يوه موضوع ده چې په څه نه څه حواله د هر دور په ادب کې په نظر راځي:

پيره بابا په ډاګ يې وله
په تا تيرې دېوانه بابا له ځينه[۱۲۸]

اګر که په دې دور کې کم دى خو بيا هم د پيرۍ مريدۍ ذکر په څه نه څه شکل کې موندلى شي، لکه د "پيرمرشد" تر عنوان لاندې دا نظم:

پيره زما درنه د خو طمع ده زما خو بيا ستا د ليدو طمع ده
زاړه يادونه راته بيا يادېږي ولې چې بيا مې د درتلو طمع ده
د رجب وومه نه ده ستا وومه ده په خوشحالۍ د تېرېدو طمع ده
د پيدائش تاريخ هم دغه لرم ځکه مې ستا د خوښېدو طمع ده
ستا فقيري خوښه وه بيا مې مونده تا ته د ښه نزدې کېدو طمع ده
زه ښېر لرمه پير خواجه اجميري لا مې د نورو څه موندو طمع ده[۱۲۹]

د دې دور په ادب کې مختلفو پيرانو ته د عقيدت پېرزونې هم وړاندې شوي دي،

لکه یو شاعر خواجه غریب نواز داسې یادوي:

زه خــــو غریـــــب یمـــــه خـــــو تـــــه غریـــــب نـــــواز یـــــادېږې
د بـــــــې اسرې غریبـــــــانو چـــــــې همـــــــراز یـــــادېږې
زه دې پـــــه غـــــم د هـــــر غریـــــب کـــــې غـــــم شریـــــک وینمـــــه
د غریبـــــــانو د محفـــــــل شـــــــمع گـــــــداز یـــــــادېږې[۱۳۰]

او مست قلندر داسې یادوي:

مســـــت وي قلنـــــدر د قلنـــــدرو نـــــه قربـــــان شـــــم
ډېـــــــر وي زورور د زورورو نـــــــه قربـــــــان شـــــــم
نـــه تـــرې څـــوک پټېـــږي نـــه تـــرې څـــوک څـــه پټـــولی شي
تېـــز یـــې وي نظـــر دې تېـــز نظـــرو نـــه قربـــان شـــم[۱۳۱]

خو داسې لیکوالان هم شته چې د دې پیرۍ مریدۍ نه خلاف دي او دا د ترقۍ په لار کې یو خنډ گڼي، لکه روغانی چې وایي:

زهـــر چـــې خـــواره شـــو د پـــیري پېشـــوائیت پکـــې
ډېـــر پـــه وړانـــدې تلـــی مســـلمان یـــې وروســـتو پـــاتی کـــړه[۱۳۲]

پـــه یـــو بـــل ځـــای کـــې روغـــانی پـــه پـــیر مرشـــد داســـې تنقیـــد کوي:

د پـــیر مرشـــد پـــه رنـــگ کـــې خلـــق پـــه تیـــارو کـــې ســـاتي
د انگرېزانـــــو تـــــالي ســـــټ شـــــیطانان ښـــــه پېـــــژنم
ږیـــرې اوږدې کـــړي بیـــا پـــرې خلقـــو لـــه دوکـــې ورکـــوي
دا تـــــش د ږیـــــرې د تســـــپو مســـــلمان ښـــــه پېـــــژنم[۱۳۳]

د وخـــت پـــه تېرېـــدو لـــه پیرانـــو مریـــدانو سره دا عقیـــدت ورو ورو پـــه کمېـــدو معلومېږي.

تصوف

په دې دور کې تصوّف اگر چې نېغ په نېغه په ادب کې کم په نظر راځي خو بیا هم د صوفیانو او پیرانو په باره کې تذکرې لیکل شوي دي. په دې کې "تذکره علماء کبّار و مشائخ عظام صوبه سر حد پاکستان"ډېره اهمه تذکره ده.[۱۳۴] لږه لږه صوفیانه شاعري په

دې دور کې د مختلفو شاعرانو په کلامونو کې موندلی شي، لکه شېر اکبر خان فکري په خپل کتاب "فکري خيالات" کې يوه برخه صوفيانه کلام ته مختص کړې ده.[۱۳۵] په دې دور کې په صوفيانو تنقيد هم شوی دی، لکه روغانی چې وايي:

کلــــه کلـــــه کـــــوم ســــتا د زړه خــــبرې صـــــوفي
پـــه نـــور څـــه نـــه خـــو فقـــط ســـتا د شر د يـــرې صـــوفي
ده مجبـــوري چـــې درتـــه وايـــم راشـــه راشـــه نـــژدې
نـــور خـــو پـــه زړه کـــې درتـــه وايـــم لـــرې لـــرې صـــوفي
ســـتا پـــه خلکـــه کـــې بادشـــائي د هلاکـــو پټـــه ده
ســـتا پـــه تســـپو کـــې د تيمـــور زغـــلي لښـــکرې صـــوفي
د شـــباهت نـــه خـــو دې څـــاڅي توقـــع د شـــفقت
تـــه پخـــوې د خپـــل غـــرض جـــادو منـــترې صـــوفي
دا تصـــوف چـــې پـــرې غاښـــونه د جـــابر ماتېـــدل
تـــا پـــرې تېـــره کړلـــې د داســـې خلقـــو ښـــکرې صـــوفي[۱۳۶]

وخت تېرېدو سره د تصوف په باره کې د خلکو سوچ کې بدلون راغلی دی، لکه روغانی د تصوف په مقاماتو کې کامل مقام ته رسېدل هله ګڼي چې سړی د خپل درد په وجه د مخلوق دردونهويني او له مخلوق سره مينه وکړي:

د حسرـــت پـــه مقامـــات کـــې د کامـــل پـــه مرتبـــه شـــو
لـــه خپـــل ځـــان يـــې مـــخ راســـتون شـــو پـــه طـــرف د مخلوقـــات
د خپـــل درد پـــه برکـــت چـــې د مخلـــوق دردونـــه وينـــي
روغـــانی د خـــدای ولي دی شـــاعري يـــې کرامـــات[۱۳۷]

دوست محمد خان کامل هم په تصوف کې د مخلوق مينه يو بنيادي خبره ګڼي. په دې اړه هغه د رحمان بابا په تصوف کې له انسانيت سره د مينې په حواله داسې ليکي:

د رحـمان بابـا پـه حيثيـت د صـوفي د عظمـت راز پـه خـوږې او لـه خـوږه ډکـې شـاعرۍ کـې د خـدای او د هغـه د مخلـوق سره د بـې انتهـا مينـې او محبـت پـه اظهـار کـې دی ـ او دا (خـدای او د هغـه د مخلـوق سره محبـت) د تصـوف داسـې اصـول دي چـې مـذهب سره

د مکمل مطابقت او د ډېرې پاکيزگۍ او عظمت له کبله يې په
حقه عام قبوليت موندلی دی.[۱۳۸]

له دې ټولو خبرو مونږ دې نتيجې ته رسو چې د سوات د پښتو ادب په دې دور کې د تصوف په باره کې تنقيدي خيالات مخې ته راغلي وو او د تصوف په مهمو خبرو کې انسان دوستي شامله شوې وه.

د خيال ازادي او مساوات

د رياست له ادغام نه ورووسته ټول خلک د قانون په نظر کې برابر شول او خلکو ته د خيالاتو د اظهار ازادي مېلاو شوه کومه چې د رياست د حکمرانانو په وخت کې خلکو ته نه وه حاصله.[۱۳۹] د سوات د رياست له ادغام نه بعد هم په غير جمهوري حکومتونو کې خلکو ته د اظهار ازادي نه وه حاصله، لکه په "درانه بوټان" نومې نظم کې يو شاعر داسې ليکي:

بيــــا د توپــــو خلــــې د کــــور پــــه لــــور شــــوې
هــــره کوځــــه کــــې ســــاډوبي خــــوره شــــوه
ټولــــه فضــــا ســــهم نيــــولې ښــــکاري
درانــــه درانــــه بوټــــان منــــډاو کــــې گرځــــي
اوس بــــه خــــبرې کنــــايو کــــې کــــوو
اوس بــــه ســــندرې اشــــارو کــــې وايــــو
د غلامــــۍ پــــه "نظــــم و ضــــبط" بــــه گرځــــو
پــــه هتکــــړو بــــه خپــــل لفظونــــه تــــړو
بــــې واکــــه خلــــې بــــه مــــو پــــه واک کــــې ســــاتو
مــــورچې مــــو جــــوړې شــــوې د غــــولي مېــــنځ کــــې
بيــــا ســــنگينونه نغــــري لــــه راغلــــه
د سرحــــــدونو دې اللــــــه مالــــــک شي[۱۴۰]

خو بيا هم لکه څنگه چې په دې شعرونو کې بيان شوي دي، ليکوالانو په اشارو او کنايو کې خبرې کړي دي.

لوښي او کالي پټري

په سوات کې استعمالېدونکي مختلف قسمه لوښي او کالي پټري هم د دې دور په ادب کې په نظر راځي. په هغې کې څه لوښي او کالي پټري دا ذکر شوي دي. کټوی، څمڅی، کونډی، کاسه، خانک، توښی، خمبه، خمبگی، اټ، گړونج، مشوگی، نغری، کنډاوې، کټ، کټکی، پالنگ، ورونه، دروازې، تمبگی، بنی، توره، غشی، شل، سول، ډال، ټوپک، مچوغڼه، پېکړې، اوگی، چارگل، ډیډه، پېزوان، باهو، نتکی، بائي، سبری، مندری، پونړ، گوتی، وخی، موټکي، تعویذونه، ډیوټ، ډیوه، پڼې، کوپی، څپلی، جغاول، وغیره.[141]

د کالو ذکر په ټپو کې ډېر شوی دی، لکه دا ټپه:

د کـــــالو ډکـــــه پـــــرې راپریوځـــــه
کـــه پـــه شـــېبره تبـــه پـــروت وي جـــوړ بـــه شـــینه

ښځه خپل کالي ډېر په احتیاط ساتي او خپل گور کفن یې گنڼي، خو چې کله پښتون له دښمن سره لاس په لاس شي، نو پښتنه ښځه داسې چغه وکړي:

دښـــمن پـــه سرو گولـــو کـــې پـــټ کـــړه
کـــه کـــالتوس خـــلاص شـــو لـــونگین بـــه گاڼـــه کړمـــه[142]

نته یا نتکی د پوزې یو کالی دی، یو شاعر یې داسې ذکر کوي:

چـــې پـــه تـــوره پـــه خنجـــر پرېـــوتي نـــه وو
پـــه وړه نازکـــه نتـــه پرېوتـــل[143]

کالي زیاتره د سرو زرو او د سپینو زرو استعمال شوي دي، لکه په دې ټپه کې د سرو زرو د گوتو ذکر شوی دی:

مالـــــه پینځـــــه گـــــوتې د سرو کـــــړه
پـــه دواړه لاســـه بـــه دې کـــور جـــارو کومـــه

د ثقافت او تمدن له ارتقاء سره په کالو کې هم د خپل ذوق او شوق مطابق ترقي شوې ده، کله چې د سرو زرو رواج عام نه و، نو زیات کالي به د سپینو زرو استعمالېدل او چې کله د سرو زرو کالي عام شو نو اوگی، پېکړې، پانزېب، دواگی، جغاول او د مورانونو رواج ختم شو. اوس دغه کالي ډېر کم مېلاویږي، د دې پر ځای د سرو زرو کالي کانپور، جومر، ټیک، دری، امېل او نیمکی راووتې دي. د سپینو زرو له کالو نه علاوه به زنانو په کمیسونو د سپینو زرو پټري او مری په داسې انداز لگولې لکه چا چې په کمیس د سپینو

زرو ګلکاري کړي وي، ان چې د کميس تنۍ او بټنې به هم د سپينو زرو وې. د سپينو زرو په کالو کې له ټولو نه مهم کالي اوګۍ وه، اوګۍ به د غاړې کالی و، چې په نيمه دايره کې به د پړي يا وندني په شان تاو راتاو وه،په دې ټپو کې د اوګۍ ذکر شوی دی:

اوګــــــــــــــــۍ د غـــــــــــــاړې بنـــــــــــــديوان دی
زه بنديوانـــــــــــــه د اشـــــــــــنا د غـــــــــاړې يمــــــــــه
اوګـــــــــــــۍ پـــــــــــه غـــــــــــاړه جينـــــــــــــۍ لاړه
پرېــــــــږده چـــــــې لاړه مېلمنـــــــــه بــــــــه د چـــــا وينـــــه
شـــــــال يـــــــې پـــــــه سر اوګــــــــــۍ پـــــــه غـــــــاړه
ګـــــــــودر تـــــــــه لاړه عاشـــــــــقان رنځوروينـــــــــه
ولـــــــــې بـــــــــه زه ورپســــــــــې نـــــــــه مـــــــــرم
اوګــــــــۍ پـــــــه غـــــاړه مـــــازيګر ګـــــودر تـــــه ځينـــــه

يو قسم اوګۍ به د پړي په شان تاو راتاو وه او دننه به ډډه وه، لکه په دې ټپه کې ورته اشاره شوې:

ډډه اوګـــــــــــــۍ غنـــــــــــدل يـــــــــــــې غـــــــــــاړه
زه د دلال نـــــــه پـــــــه نېســـــــتۍ راغلـــــــۍ يمـــــــه

په ډډه اوګۍ کې به زر کم لګېده، نو دا به اکثر غريبانانو خلکو جوړولې او مالداره خلکو به کوټلې اوګۍ جوړولې.

اوګـــــــــــۍ کـــــــــــوټلې کـــــــــــړه زرګـــــــــــره
زه د ځلـــــــــورو ورونــــــــو خـــــــور يـــــــم قدرمنـــــــــه

يو قسم اوګۍ به داسې وه چې هغه به تاو راتاو وه خو په مينځ کې به يې د چارګل په شان ګل لګېدلی و، هغې ته به يې چارګل اوګۍ ويله:

مـــــور يـــــې پـــــه چـــــم کـــــې شـــــوملې غـــــواړي
لـــــور يـــــې چارګـــــل اوګـــــۍ پـــــه غـــــاړه ګرځوينـــــه

يو بل قسم اوګۍ ته به يې شتۍ اوګۍ وې، دا به د سپوږمۍ په شان پلنه وه او ټوله سينه به يې نيولې وه او په سينه به د امېل يا د بل کالي ځای نه و، لکه په دې ټپو کې چې يې ذکر دی:

تـــــــور لــــــــــــونګين پـــــــــه ژړا راغــــــــــــی
ســــــپينه اوګــــــی پــــه ســــينه ځــــای نــــه راکوينــــه
يـــــــار مـــــــــې د غشـــــــــو جنــــــــګ لــــــــه لاړه
زه بــــــه شــــــتی اوګــــــی د ډال پــــــه ځــــــای لېږمــــــه

له اوګی نه علاوه د غاړې په کالو کې جغاول، دواګی، امېل او تعويذ راځي. جغاول د سپينو زرو کالی دی چې له اوسني امېل سره سمون خوري، خو په اوږدوالي کې له امېل نه لنډ وي، ځکه خو وايي:

د جغــــــــــاول مــــــــــزی دې لنــــــــــډ کــــــــــړه
لکــــه ګــــوانښ ګرنــــدی د ســــينې ميــــنځ لــــه راځينــــه
خــــــدای دې وړه پــــــه مرګــــــي مــــــړه کــــــړه
چــــې جغــــاول دې کشرــــې خــــور تــــه پــــاتې شــــينه

جغاول به عموماً د مالدارو ښځو په غاړو وه، ځکه خو وايي:

کــــــه دې جغــــــاول پــــــه غــــــاړه نــــــه وی
د ملــــک لــــور بــــه درتــــه چــــا ويــــلي وونــــه

دواګی د سپينو زرو واړه واړه تصويرونه وي چې په دوه مزو کې غبرګ پيلي شوي وي او په مينځ کې يې پلنه غټه او ښکلې ګل کړې نامه وي. د دواګو امېل ډېر اوږد وي، لکه چې وايي:

د پسرــــــــــــــلي د ســــــــــــــبله راغلــــــــــــــه
د دواګــــــو امېــــــل يــــــې لګــــــي پــــــه ورانونــــــو
د ســـــــينې جـــــــړق مـــــــې ورلـــــــه ورکـــــــړه
د دواګــــــو مــــــې ورلــــــه ويســــــته کوشــــــېرونه

تعويذ له سرو سپينو او زېړو نه جوړ وي. دا يو پلن څلور ګوټه ډېبي شانې وي، په دې کې عموماً خلک د پيريانو يا د نظر وغيره تعويذ هم بندوي. دا هم ډېر خوند ناک کالی دی، ځکه خو وايي:

د تعويــــــــــذګي مــــــــــزی دې لنــــــــــډ کــــــــــړه
پــــــــه عاشــــــــقانو دې زيــــــــړی اولګونــــــــه
مــــــا بــــــه د غــــــاړې تعويــــــذګی کــــــړې

عــــالم بـــه وايـــــي يـــــار پــــه غـــــاړه گرځوينـــــه

امبل د غاړې يو عام کالی دی چې له سرو زرو نه جوړېږي، ځينې پېغلې يې له لونگو او رنگا رنگ مرو نه هم جوړوي:

امبــــــل د هـــــــر چـــــاسره خونـــــــد کــــــړي

زمـــــا د يـــــار پـــــه ســــينه کــــــړي اشـــــارتونه

د پوزې په کالو کې پېزوان هم ډېر مشهور کالی دی، لکه په دې ټپو کې چې ياد شوی دی:

شــــــونډې بــــه يـــــې ولـــــې پســـــتې نــــه وي

چــــې د پېـــــزوان ســــيورى پـــــرې اوړی ژمــــې وينــــه

پـــــه چــــيلم راغلــــه کــــش يـــــې ورکــــــړه

د لشـــــه دار پېــــزوان يـــــې شــــنه لـــــوخړه ځينــــه

شــــــونډې مـــــې دې چـــــيلم تــــــه ورکــــــړې

دننــــــه زړه مــــــې د پېـــــزوان مېـــــرمن ســــــيزينه

نتکۍ هم د پوزې يو کالی دی چې د پېزوان په څېر وي، خو لږه وړه وي. دا د پوزې گسې سپېږمه کې اچول کېږي، دې ته د تار يا د زرو جلب وايي چې د اننگو د پاسه په غوږ پورې تړل شوی وي.

نـــــــن مـــــــــې د يـــــــار د راتلــــــــــو ورځ ده

ځکــــــه نتکـــــۍ پــــــه پــــوزه لکــــه گرځومــــــه

نتکــــــــۍ دې لنــــــــډه جلبـــــــــۍ کــــــــړه

مالــــه پــــه لاســـو کـــې راځـــي کســــکر بـــه شــينه

نتکــــــــــــۍ دې سره بخــــــــــــري نـــــــــولي

د چـــــا يـــــې وســــوې بوســــاړې د چــــا ټوپونــــه

مــــــا ورتــــــــه نــــــــه وې شرمېدمــــــــه

د سرې نتکـــــــۍ سره پېـــــزوان مــــــزه کوينـــــــه

چارگل هم د پوزې يو کالی دی چې عموماً د سپينو زرو وي. دا د مېخکي په شان وي خو په جسامت کې له مېخکي نه غټ وي. په دې کې ښکته ځلور پرې وي او بره دنگ وي او غمی پکې لگېدلی وي، لکه په دې ټپو کې چې يې يادونه شوې ده:

ســـــــتا د چارگـــــــل ځلـــــــور پـــــــــرې دي
ځلـــور پـــرې نـــورې کـــړه چـــې زه دروخېژمــــه
ســـــتا د چارگـــــل پـــــه پـــرو غـــــوځ شــــوم
وړوکـــــی لــــوی شـــوم جـــوړ مـــې نـــه شـــو پرهرونـــه

مېځکی هم د پوزې یو کالی دی، چې په جسامت کې له چارگل نه وړوکی وي. دا اکثر د سرو زرو جوړ وي، دا د چارگل ترقي یافته صورت دی.

ســـــــــور مېځکیـــــــــــه بختـــــــــــوره
د پـــــــوزې سر دې پـــــه دفـــــــتر اورســــــېدنه
سره مېځکـــــــــــي نــــــــــرۍ دې پـــــــــــوزه
پـــــه لارې رو ځـــــه چـــــې دې اوکـــــړم دیدنونـــــه

کله چې د سپینو زرو کالي عام وو، نو د سر په کالو کې موټکي او مورانونه به ښځو ډېر په شوق استعمالول.

پــــــه مــــــا دې وار د ځــــــوانۍ تېـــــر کـــــړه
ســــتا دې را نــــه شي د دکــــن نــــه مورانونــــه[١٤٤]

دړۍ او ټیک د سر کالي دي، دړۍ د سر په وېښتو کې کلکه وي او ټیک په تندي ځانگې.

دا ټیـــک دې پـــاس پـــه تنـــدي خونـــد کـــړي
لکـــه ســـپوږمۍ چـــې پـــه اســـمان پړقـــا کوینـــه
ټیـــک پـــه تنـــدي چارگـــل پـــه پـــوزه
پـــه لنـــډه زنـــه دې شـــین خـــال مـــزه کوینـــه
ټیـــک پـــه تنـــدي پېـــزوان پـــه شـــونډو
اوگـــۍ پـــه غـــاړه د جینـــۍ مـــزه کوینـــه
ټیـــک رالـــه ښـــه جـــوړکړه زرگـــره
نـــاموس بـــه ســـتا وي خونـــد بـــه مـــا سره کوینـــه
ټیـــک پـــه تنـــدي پېـــزوان پـــه پـــوزه
ســـیکهان دې بـــوزه زه دې روغ لېـــونی کړمـــه[١٤٥]

د ټیک پر ځای اوس د جومر رواج زیاتیږي.

جـــــومر يـــــې پـــــاس پـــــه تنـــــدي ځـــــانگي
امېـــــل پـــــه غـــــاړه گرځـــــوي رنځـــــور يـــــې کړمـــــه

د غوړونو د کالو رواج په پښتنو کې ډېر زيات دی، لکه په تاريخ رحمت خاني کې يې ذکر شوی و، چې نارينه وو به هم د سرو يا سپينو والۍ په غوږ کولې. ماشومان او نارينه په غوړونو کې بادرۍ او د سرو زرو مزي استعمالوي. د غوړونو مشهور کالي دا دي: مندرۍ، بادرۍ، جونکۍ، لښتۍ، درونه، ډيډې ا و نور. په دې ټولو کې لښتۍ ډېر زوړ کالی دی، دا د چنار د گل په شان غونډ اوږد او لشې لشې وي.

لښـــــــــــتۍ دې سره بخـــــــــــري نـــــــــــولي
زرگـــــره نـــــه يـــــم چـــــې بخـــــري ټولومـــــه
پـــــــــه تعويـــــــــذونو کـــــــــې دې اور دی
پـــــه سرو لښـــــتو کـــــې دې انگـــــار دی مـــــا ســـــيزينه

د غوړونو بل کالی بادرۍ دي، لکه چې وايي:

پـــــــــه بالښـــــــــت سر راسره مـــــــــه ږده
زمـــــا پـــــه غـــــوږو دي بـــــادرۍ چيچـــــل کوينـــــه

موندرۍ هم د غوړونو يو کالی دی.

يـــــو مـــــې پېـــــزوان بـــــل مـــــې چارگـــــل دی
د لشـــــه دارو منـــــدرو زه پـــــه طمـــــع يمـــــه

د غوړونو بل کالی ډيډې دي.

ډيـــــډو لـــــه غبرگـــــې ټـــــالۍ ورکـــــړه
زمـــــا د ورور دنيـــــا بـــــه خـــــدای پـــــوره کوينـــــه

باهو هم يو زوړ کالی دی، دا د سپينو زرو يو پلن بنگړی وي او ښځې يې په لاس کوي.

بـــــاهو پـــــه لاس گـــــوتې پـــــه گوتـــــه
زرگـــــره ټولـــــه دې يـــــارۍ تـــــه جـــــوړه کړمـــــه
ميمـــــونې ورور تـــــه جـــــواب وکـــــړه
پـــــه صـــــندوقچې کـــــې مـــــې بـــــاهو دی زنـــــگ بـــــه شـــــينه
بـــــاهو مـــــې وه پـــــه لاس مـــــې نـــــه کـــــړه
اوس بـــــه د يـــــار کـــــلي تـــــه ځـــــم تـــــش مړوندونـــــه

د لاس بـــــــاهو مـــــــــې ابـــــــــو يـــــــورړو
پـــــه غـــــم شريکـــــه يــــاره نيســــه گودرونـــــه

د باهو د رواج له کمېدو سره بيا بنگړي عام شوي دي، لکه په دې لاندې ټپو کې چې راغلي دي:

لېچـــــې يـــــې ډکـــــې لـــــه بنگـــــړو کـــــړي
پــــه ســـيل روانــــه شــــوه د يـــار ديـــدن تـــه ځينـــه
بنگـــــړي مـــــې ســـــتا پــــه کــــټ کـــــې مـــات شــــول
اوس نارينـــــه شــــــه راتــــــه ډک کــــــړه مړوندونـــــه
پـــــه خـــــوب اوده مـــــــې ځکــــــه وېښ کـــــړي
يـــــاره زمــــا د لاس بنگــــــړي راغــــــلي دينـــــه
خدايــــه پــــه پېغلـــو کـــې مـــې پـــټ کـــړي
چـــــې هــــر طـــــرف تــــه د بنگــــــړو شرنگــــا راځينـــه
بنگـــــړي ځـــــه ښــــکته کـــــړه ځـــــه پورتـــــه
چـــــې پــــــه خـــــالي مړونـــــــد دې سر ولگومــــــه
دا نيمــــــه شــــــپه ده بنگـــــړي شــــــړنگ کــــــړي
نــــــامردې وتــــــړه بنگـــــــړي پـــــــه روميــــــالونو
کــــــــور دې نــــــــزدی کوځــــــــه دې لــــــــري
ســــتا د بنگــــړو شرنگــــا مــــې خــــوب تــــه نـــه پرېږدينـــه

لاس خوندی(لاس وندی) هم د بنگړو په شان د لاس يو کالی دی. دا له رنگا رنگ مرو نه سازيږي او جينکی يې ډېره په مينه په لاس کوي.

بنگـــــړي د کــــــټ پــــــه غــــــوټی مـــــات کـــــړه
زمـــــونږ چمگـــــي لــــــه لاس خونــــــدي راغــــــلي دينـــــه

د پښو کالو ته پېکړه يا پانزېب وايي. پېکړه د اوگی په شان تاو را تاو او په مينځ کې ډېره وي. د ډېې اوگی مينځ خالي وي او د پېکړې په مينځ کې وړې وړې گيټی وي چې له قدم اخستو سره شړنگېږي، لکه په دې لاندې ټپو کې چې يې ذکر شوی دی:

پــــــــه پېکــــــــــړه کـــــــــې اوبـــــــــه راوړه
کـــــه تــــړی نـــــه يــــم ســــتا د مينـــې بــــه يـــې څښـــمه

پــــــه بلـــــــې رو ځــــــه پښـــــــې دې پریوځــــــه
د پېکـــــــــړو شـــــــنا دې کلـــــــــې خبروینــــــــه
د پېکــــــــــــــړو شــــــــــــــنا راخیــــــــــــــژي
راتــــــــه ښــــــکاریږي جینکــــــې ابــــــو لــــــه ځینــــــه

پانزېب هم د پېکړو په شان د پښو یو کالی دی، دا د سپینو زرو یوه جالداره پټه وي چې د پېکړو په شان په دواړو پښو کې استعمالېږي، لکه په دې ټپو کې چې وایي:

ســــــور مېخکـــــــې پــــــــه پــــــوزه ســــــور کـــــــړه
پانزېـــــب پــــــه پښـــــو کـــــړه پــــــه نـــــاز کېـــــده قدمونــــــه
مالــــــــــه پانزېــــــــــــب پېکـــــــــــــړه راوړه
چـــــې پـــــه همزولـــــو کـــــې ملالـــــه ناســـــته یمـــــه
پېکــــــــــړه راغلــــــــــه پــــــــــه ژړا شــــــــــوه
مالـــــه پانزېـــــب پـــــه پونـــــده ځـــــای نـــــه راکوینـــــه[١٤٦]

په دې لاندینو ټپو کې د ځینو لوښو او کالو پترو نومونه راغلي دي:

رب دې زمــــــــونږ د کـــــــور کنـــــــدو کـــــــړه
چـــــې هـــــر ســـــاعت دې پـــــه مـــــوری کـــــې لاس منډمـــــه
خلــــــک پېــــــزوان ګړنــــــدی بــــــولي
مـــــا پـــــه نتکـــــې د قـــــلا بـــــرج و نړونـــــه
د پېشــــــــــمني اورونـــــــــه بـــــــــل شـــــــــول
ورتــــــه راکــــــوز شــــــو زنګېــــــدلي پېزوانونــــــه
چراغـــــــــه بلـــــــــې لمبـــــــــې وکـــــــــړه
ورســــــتی دیــــــدن دی بیــــــا بــــــه نــــــه وي دیدنونــــــه
یـــــار مـــــې پـــــه زېـــــن کـــــې راتـــــه کـــــوږ شـــــه
د پښــــــو څــــــوکې لګــــــوم خلــــــه ورکومــــــه[١٤٧]

د جامو وینځلو لپاره به یو لرګی استعمالېده، دغه لرګي ته به یې سوباړی ویلو. په دې ټپه کې د سوباړي ذکر راغلی دی:

تــــــه ګړنــــــدی وې ځــــــان دې خــــــلاص کــــــړ
پــــــه مــــــا یــــــې وکــــــړل د ســــــوباړو ګوزارونــــــه[١٤٨]

د سوباړي ذکر روغانی داسې کوي:

پــه مــونږ د چــا څــه کــار دی کــه پــه وړانــدې څــو کــه وروســتو
د غوښـــې پـــه ځـــای دال خـــورو کـــه پالـــک پـــه ځـــای ورخـــاړی
د بـــرش پـــه ځـــای مســـواک کـــه د قـــالین پـــه ځـــای بـــروزه
شـــیمپو پـــه ځـــای شـــوملی ، کـــه د مشـــین پـــه ځـــای ســـوباړی[149]

په سوات کې دا لوښي لرگي او کلتوري سامان په ورکېدو دی، ځکه چې د دې لپاره خلک د سوات په کليو او بانډو گرځي او دا نعرې وهي چې "زاړه راکړئ، نوي واخلئ". په دې طريقه دا زاړه څيزونه لکه د څرمنې زاړه کټکي او کټونه، گلدارې الماری، ورونه، درشلې، تونۍ، خمبې، تخته پوشونه، د لرگو زاړه لوښي،کناوې، تورې، غشي، ليندې، پټاقدارې ټوپکې، تماچې او داسې نور ډېر قيمتي تهذيبي او کلتوري څيزونه د ملک نه بهر ويستلی کېږي.[150]

لرغوني اثار

سوات د مختلفو تهذيبونو کور پاتې شوی دی. د دغو تهذيبونو اثار په سوات کې موجود وو، خو د وخت له تېرېدلو سره دغه اثار ورو ورو په ورکېدو دي. خوشحال خان چې کوم وخت سوات ته راغلی و، نو هغه هم د سوات د لرغونو اثارو ذکر کړی دی، لکه په دې شعرونو کې چې وايي:

پکـــې لـــويې منـــارې شـــته، بـــت خـــانې شـــته
لـــوی کوټونـــه حـــوېلۍ د زمـــانې شـــته[151]

د ســـوات پـــه ملـــک کـــې روغـــې حـــوېلۍ دي
پـــه هـــر کـــور کـــې گلعـــذارې ســـهېلۍ دي[152]

لکه څنگه چې مخکې ويل شوي، سوات د بدهـ مت يو لوی مرکز پاتې شوی او د بدهـ مت دغه اثار اوس هم په سوات کې موندل کېږي. د دې لرغونو اثارو ذکر هم د سوات په ادب کې موندلی شي،لکه په دې نظم کې چې وايي:

دا نړېـــــــدلې ســـــــتوپا
او قـــط پـــه قـــط تختونـــه

د لـــــوی فنکــــارو گوتـــــو
د گټــــو جـــــوړ نقشـــــونه
د بدهـــــ مـــت هـــر پیغمـــبر
بــــه د دې نــــور د کــــوره
د محبــــت پــــه ربــــاب
د امـــن ســـاز پورتــــه کـــو[153]

او په سوات کې چې دا زاړه اثار په کومه طریقه برباد کړی شول د هغې په باره کې داسې لیکي:

خـــــو د وختونـــــو اوگـــــو
درانــــه رښـــــتیا د بـــــدها
تـــر ډېـــرې لــــرې مـــودې
د اوړلـــــو تـــوان نـــه لـــره
نـــو وخـــت پــــه ډډه واوښـــت
ډېـــرې ابـــــادې ســـتوپې
ښـــکلې ښائســـته بـــت کـــړې
د کاغـــــــذې گلونـــــــو
پـــه "گـــل کـــدو" بـــدل شـــوې
د "ادهیـــــانې" بـــــت کـــړه
د بــــت کـــــړې کنـــــډرات
نـــن پـــه نـــزدې گاونـــډ کـــې
د شـــنو پټـــو پــــه پولـــه
بـــس د یـــو لارې پـــه حـــد
غونـــډی جومـــات لـــري اوس
او چـــــې پینځـــه وختونــــه
د منــــــارو د څوکـــــــو
د لــــوی اللــــه د وحــــدت
د محمــــــــد د عظمــــــت
د ربښـــتیا غـــږ پورتــــه شي

نـــــو د بـــــدها روح تــــــه
د زړه ســــکون مــــېلاو شي
د تهـــذيب مـــات زنځـــير تــه
نــــوی تــــړون مــــېلاو شي
خـــو ســـنګ پـــارې د بـــدها
چـــا پـــه بـــازار خرڅـــې کـــړې
چـــا پــــه جنـــون د مـــذهب
تـــرې ســـترګې اوويســـتلې
چـــا د غـــزا پـــه نامـــه
تـــرې پـــوزه ماتـــه کړلـــه
چـــا د جنـــت پـــه طمـــع
ورلـــه غوږونـــه پرېکـــړل
ګنـــي بـــدها بـــه هـــم نـــن
دغـــه ربښـــتيا د کـــمال
دغـــه بازګشـــت د بـــلال
لکـــه د ســـاز اورېـــده
د کـــوم ربښـــتيا د پـــاره
چـــې هغـــه ځـــان ملنـــګ کـــړه[١٥٤]

د سوات په لرغونو اثارو له ټولو نه زيات کار د اټلي د لرغونپوهنې مشن کړی دی.

د پښتنو نفاق

د پښتنو د بې اتفاقۍ چغې نعرې د پښتو ستر شاعر خوشحال خان ختک هم ډېرې وهلي، خو هېڅ اثر يې نه و کړی. د پښتنو د نفاق په وجه چې پښتانه له کومو جنګونو او نورو ټولنيزو شخړو سره مخامخ دي د هغې په باره کې داسې ويل شوي دي:

چـــــې نــــا توانـــــه د پښـــــتو د وحــــدت جــــړ وي
پښـــــتانه بــــه تــــل پـــه سرو وينــــو ککــــړ وي
د پښـــــتو د ننـــګ ځـــادر چـــې پـــه سر نـــه کـــړي
لکــــه مــــړی بــــې کفنــــه پــــروت لغــــړ وي[١٥٥]

د پښتنو نفاق په عمومي توګه په پښتو ادب کې ډېر ژړلی شوی او دغه وجه ده چې د سوات په پښتو ادب کې هم دا مسئله په نظر راځي.

دود دستور او توهّمات

سوات ځان ته خپل دود دستور لري، د دې ځای د خلکو له ځینو دودونو او وهمونو نه دلته د زړو تهذیبونو پته لګي. دا دودونه، دستورونه او وهمونه څه د مذهب په نوم او څه د رواج په نوم اهمیت لري، لکه د محرم میاشتې لسمه چې ورته په مقامي توګه اسان هم ویلی شي، په قبرونو اوبه اچول، قبرونه نوي کول، په دغه ورځ ژړا کول، د خندا خوشحالۍ نه ډډه کول، ګونګړي پخول او وېشل، خیرات کول، د باران د نه کېدلو په وخت تور مخی کول، په زنانه وو ملکوسکی غورزول، د غلا په وخت کې سندان زوړندول، د ماشوم د ناجوړتیا په وخت پېۍ وېشل، د ماشوم د مرګ په وخت په ماشومانو پېۍ وریژې خورول، د ناجوړتیا په حالت کې کونځلې وېشل، د تبو د علاج لپاره بوټي ویستل، د تور څادرختم کول، د خبرې یادولو لپاره ګوته تړل یا د رومال یا د څادر وغیره یوې څوکې ته غوټه ورکول، د غولونکي د علاج لپاره ستن په ټوپۍ کې ټکوهل، د هوړې پلي په غاړه کول، د پیریانو د علاج لپاره په ټوپۍاو غاړه تعویونه اچول، د وړوکي د سر لاندې چاړه چاقو اېښودل، د یارانې، محبت او کرکې لپاره کوډې او تعویذونه کول، د دردونو د علاج لپاره د ګډې ګوډۍ اغوستل، د مختلفو سخا دانو لپاره مختلف بوټي استعمالول، د نري رنځ لپاره د سرو اوبه څښل، یولسمې دولسمې کول، په شوقدر کې لیتکي لمبې لګول او پشومپړۍ ګوزارل، د اخترونو په ورځ او د هاړ په موسمونو د مرچوغړو جنګونه کول، د وړوکي په سنتو ښادي کول او پلو ته چای ډوډۍ ورکول، انډیوالې کېښنول او داسې ډېر ولسي او مذهبي دودونه وو چې څه ښه او څه ښه نه وو. د نظر په وخت کې د لارې خزلې راغونډول، د نظري سرې د ښپو چاپي په چاقو وهل، د چیلم اوبه په ګوټونو کې نوستل، باباګان جاروکول، قرانونه ډبول، په جماعت کې پېزار سمول، ایرې نوستل، تورې کټوۍ ورغړول وغیره.[۱۵۶] د نظر لپاره نظر پاڼه هم لوګی کولی شي. د نظر پاڼې د لوګي کولو ذکر په دې شعرونو کې شوی دی:

داســـې اوچ او ســـتغ شـــوې لكـــه اوچـــه بكياڼـــه
داســـې دې پـــاپې نـــرۍ شـــوې لكـــه زاڼـــه
رنـــګ دې د مـــخ زيـــړ ويـــنم بـــې توانـــه راتـــه ښـــكارې
راشـــه چـــې لـــوګی كړمـــه زه تـــا تـــه نظـــر پاڼـــه[۱۵۷]

په سوات کې چې کوم نور توهمات یا ړندې عقیدې موندی شي په هغو کې څه دا دي : سترګه رپېدل، د پیشو مخ وینځل او نور او دا پکې هم ویلی شي چې نغری مه وهه مېلمانه به ډېر شي. غلبېل ته ترنګ مه ورکوه قرضې زیاتېږي. دلته د بلا ګانو او دیوانو ذکر هم موندلی شي، لکه وایي په شنه تره کې بلا ده سرې یې په ملا وواهه. د نازکی بابا او د بکرو ګټ په مینځ کې دیوان د خاپېرو سره جنګېدل او چې کله مچۍ د چا په سر وبنېږي، نو وایي مچۍ راغله په سر مې وبنېده چې دا نن بیا څوک راروان دي. د منګو ماتې غړۍ به د بابا په مزار د موګو پوری په دې غرض تړلې کېدې چې مېښې ورکړي. میا قاسم او پیر بابا ته به خلک تلل او هلته به یې ځانګوټۍ په دې غرض ځنګوله چې ځوی ورکړي، که ځوی به یې وشو خو صحیح وه خو که لور به یې وشوه نو بیا به یې ویل میا قاسم بابا زما په حق کې ویده دی. دا هم یوه عقیده وه چې ګونګی او بګوه چې د کور په خوا کې نعرې وهي نو د کور واله نه څوک مري. د کار د شروع کولو او د سفر باره کې به یې هم د ښو ورځو تعین کولو ځکه چې بعضې ورځې سپېرې وې او په خرابه یعنې سپېره ورځ به له کوره نه راوتل. د نوي کال په شپه به وریژې په دې خیال پخول کېدې چې بیا به ټول کال وریژې خوري. ورغوی خارښت کول، لاس ته د مال راتللو علامت ګڼل کېده. د شکوڼ وزرې کور ته ځکه نه راوړي چې د کور کلې جنګونه جوړېږي، چې څوک به په یو کار پسې روان و او تش منګی به یې مخې ته راغی نو دا به یې ویل چې تش منګی مې مخې ته راغی نو ځکه مې کار و نه شو. دا به هم ویلې شو چې په فلانۍ ډېرۍ کې خزانه ده خو اووه سرې مار پرې پروت دی، چې ماشوم خبرې نه کوي نو وایي میا باچا ورته راولئ چې په خوله کې ورته لاړې تو کړي. په ټک په ټک شهیدې باندې اوبه واړوئ چې باران وشي، چې هلک د چرګ سر وخوري نو د کور مشر مري.[158] دا توهمات د قدرتي منظرونو پورې هم تړل شوي، لکه د سوات کوهستان د یوې لویې ډنډې متعلق دا خبره هم مشهوره ده چې د څوارلسمې سپوږمۍ په شپه په دې کې د سرو زرو کنډولی راښکاره کېږي.[159]

د سوات یو شاعر فضل الرّحمٰن فیضان په خپل کتاب "ګلزار تعویذات" کې لیکي بانګي چې اول بانګ مات کړي یا چرګه بانګ ووایي نو دا خروسنامه دې ورپسې وګوري، که چرې د اتوار یا د چارشنبې په شپه یا ورځ یې ویلې وي نو هغه دې حلال کړي او خیرات دې کړي چې خیر شي ورته. خروسنامه دا ده:

کـــه پـــه شـــپه خـــاص د شـــنبې بـــانگي چغـــار کـــړي
را بـــه شي پـــرې مېلمانـــه ځـــان دې تيـــار کـــړي
کـــه پـــه شـــپه د يکشـــنبې بـــانگي چغـــار کـــړي
نـــو خاونـــد بـــه د کـــور مـــړ شي کـــور بـــه خـــوار کـــړي
کـــه پـــه شـــپه د دوشـــنبې بـــانگي چغـــار کـــړي
نېـــک نـــامي بـــه يـــې پـــاک رب پـــه هـــر يـــو کـــار کـــړي
کـــه پـــه شـــپه د ســـه شـــنبې بـــانگي چغـــار کـــړي
رب بـــه دوی تـــه نېـــک صـــالح فرزنـــد اظهـــار کـــړي
کـــه پـــه شـــپه دچـــار شـــنبې بـــانگي چغـــار کـــړي
نـــو بېلتـــون بـــه کـــار پـــه هغـــه کـــور اختيـــار کـــړي
کـــه پـــه شـــپه دپـــانج شـــنبې بـــانگي چغـــار کـــړي
رب بـــه دوی تـــه خزانـــې او مـــال بســـيار کـــړي
کـــه پـــه شـــپه دجمعـــې بـــانگي چغـــار کـــړي
بنـــد کارونـــه بـــه يـــې ازاد پروردگـــار کـــړي[١٦٠]

چې څوک به کله رخصتېدل او د دغه کور والا به د هغه لپاره ښه فال نيولو، نو د رخصت په وخت کې به يې ورپسې اوبه گوزارلې او که د هغه نه به تنگ وو، نو ورپسې به يې ايرې گوزارلې[١٦١] او داسې نور هم گڼ توهمات دي چې د تحقيق وړ دي.

نشه يي توکي (منشيات)

د سوات د دې دور په ادب کې په څه نه څه حواله د منشياتو ذکر هم راځي، لکه په دې قطعه کې د بعضو نشه يي توکو د نقصانونو ذکر شوی دی:

نســـوارو مـــو معـــدو لـــه اوبـــه کـــړی دی طاقـــت
غاښـــونو هـــم د دوي د وجـــې واخســـتو رخصـــت
ســـگرټ مـــو پړپوســـانو لـــه جـــوړ شـــوی دی افـــت
بنـــگ، چـــرس لکـــه بـــلا مـــو اختـــه شـــوې پـــه صـــحت[١٦٢]

د يو نظم په دې بند کې هم د نشې د بدو اثراتو ذکر شوی دی:

هغـــه نشـــه چـــې روغ حالـــت او روغ صـــحت ختـــم کـــړي

گويـــا پــــه بـــل شــــکل د کــــار صــــلاحيت خــــتم کـــړي
دا د پــــودړرو پــــه لوگــــو بانــــدې زيــــړ شــــوي ځوانــــان
نشــــه د دوی د وجــــود نــــه حــــرارت خــــتم کــــړي[١٦٣]

په دې شعر کې هم د نشه يي توکو نقصانونه په گوته شوي دي:

درې څيــــزه مــــو خــــوراک دي بنــــگ ،خشــــخاش او تمــــاکو
دنيــا پــه مخښــې ځــې مــونږه پــه وروســتو وروســتو ځــو[١٦٤]

د نشو پر ضد يو ليکوال داسې پېغام ورکوي:

ای د خــــدای ظالمــــه ولــــې زهــــر پــــه جهــــان کــــرې
ولــــې تمــــاکوان کــــرې ولــــې تمــــاکوان کــــرې
تــــا زمــــونږه شــــنې ســــبزيانې ټــــولې لتــــاړې کــــړې
تــــا زمــــونږه سرې خورمــــانی ټــــولې ويجــــاړې کــــړې
تــــا زمــــونږه نيــــازبينې مچــــی ټــــولې کټــــارې کــــړې
ای حــــرص راغســــتيه ولــــې دا فصــــل د زيــــان کــــرې
ولــــې تمــــاکوان کــــرې ولــــې تمــــاکوان کــــرې[١٦٥]

نسوار د نشې د يو عام توکي په توگه استعمالېږي، د دې ذکر هم د سوات په پښتو ادب کې موندل کېږي، لکه دا چې وايي:

پــــه کــــلاس کــــې ناســــت يمــــه وزگــــار لوکــــوټې
راوړه نســــــــــــــــوار لوکــــــــــــــــوټې[١٦٦]

د نسوارو په نقصاناتو او مضر اثراتو باندې هم ادبي ليکونه موندل کېږي.

له حکومتي ادارو نه فرياد

په رياستي دور کې به حکومتي ادارو خپل کار په صحيح طريقه کولو او په مختلفو دفترونو کې به خلکو ته ډېر مشکلات نه پېښېدل، خو چې کله رياست په پاکستان کې ضم شو، نو خلکو د سرکاري دفترونو له عملې نه هم سرونه ټکول شروع کړل، نو ځکه د ټولنې حساسې طبقې دا خبرې په ادب کې محفوظ کړې، لکه د روغاني د "بابو صيب" د سر خط لاندې دا نطم وگورئ:

څـــه بـــې رحمـــه شـــان بـــلا ده پـــه دفـــتر کـــې
پـــه ســـينه کـــې څـــه شـــين گـــټ دی د بـــابو صـــيب
منږکـــــانو غونـــــدې خلـــــق پکـــــې نخـــــلي
دفـــتر نـــه دی خـــو يـــو لـــټ دی د بـــابو صـــيب
د رشـــوت مـــال پـــرې وريـــږي حـــرام خـــور دی
د غـــټ پـــيش پـــه شـــانتې څـــټ دی د بـــابو صـــيب
د افسرـــــ او د بـــابو صـــيب شريـــک بېنـــک دی
دا چـــې غـــاړه کـــې واســـکټ دی د بـــابو صـــيب
پتنگـــان تـــرې د ښايســـت پـــه وجـــه تختـــي
ټـــول انـــداز چـــې د گونگـــټ دی د بـــابو صـــيب
پکـــې زړونـــه د عوامـــو پـــولی کېـــږي
لگيـــدلی داســـې بـــټ دی د بـــابو صـــيب[١٦٧]

او دا شان نورې هم ډېرې نمونې په نظر راځي چې د مختلفو محکمو له واکدارانو نه پکې گيلې موندل کېږي.

صحت او روغتونونه

د رياست په وخت کې روغتونونه (اسپتالونه) ښه برابر وو او د علاج معالجې سهولتونه په سرکاري توگه عوامو ته موجود وو، خو د رياست له ادغام وروسته سرکاري ادارې گډې وډې شوې او کارکردگي يې ډېره متاثره شوه، لکه د اسپتال په باره کې د رحيم شاه رحيم دا يو څو شعرونه وړاندې کولی شي:

دا چې لوی يې عمارت دی — دا چـــې صـــفر يـــې حالـــت دی
دا چې ورک پکې راحت دی — دا چـــې ټـــول پکـــې زحمـــت دی
دا چې ژوند پکې افت دی — پکـــې هـــر چاتـــه منـــت دی
چې بيخي پکې غفلت دی — نـــا ممکـــن پکـــې صـــحت دی
د ابو پکې حاجت دی — د هـــر څيـــز پکـــې قلّـــت دی
په خندا پکې دولت دی — پـــه ژړا پکـــې غربـــت دی
هم چالو پکې رشوت دی — مصـــيبت دی مصـــيبت دی
داروگان پکې خرڅيږي — بابوگـــان پکـــې څربيـــږي[١٦٨]

یو بل شاعر "د مریض فریاد" تر سر خط لاندې لیکي چې ډاکټر په سرکاري روغتون (هسپتال) کې مریضان نه ګوري، خو خپل شخصي کلینیک ته راتلو ته یې اماده کوي:

مـــا بانـــدې اټیـــک خـــو یـــو مـــرض ښـــه زورور اوکـــه
لاړم هســـپتال تـــه نـــو تپـــوس مـــې د ډاکټـــر اوکـــه
هلتـــه یـــو ســـاعت پـــس یـــو ډاکټـــر مـــې پـــه نظـــر شـــولو
اوشـــوه تســـلي پـــه د ګـــمان مـــې د دلـــبر اوکـــه
بیـــا د چپـــړاسي نـــه مـــې تپـــوس د مـــلا قـــات اوکـــه
صـــیب نـــه دی وزګـــار دغـــه اواز یـــې دې نـــوکر اوکـــه
راشـــه مـــازیګر صـــاحب بـــه تـــا هلتـــه کـــې اوګـــوري
څـــه بـــه درلـــه اوشي کـــه تـــا درې ګهېنټـــې ســـفر اوکـــه[١٦٩]

د ســـوات د پښـــتو د دې دور ادب کـــې د سرکـــاري محکمـــو پـــه کـــارکردګۍ هـــم دغـه شـان تنقیدونـه شـوي دي. وجـه یـې دا وه چـې پـه ریاسـتي دور کـې بـه محکمـو خپـل کـار پـه تېـزۍ سره کولـو او والي هـر وخـت پـه هـره محکمـه نظـر سـاتلو او لـه دغـه تېـز نظـام سره عـادت شـوي خلـک ناڅـاپي د رشـوتونو او سفارشـونو پـه دام کـې راګېـر شول، نو دغه وخت کې خلک مایوسه شول.

څېلې بوټي

د سوات په غر او سمه کې را ټوکېدلي ژوند بخښونکي څېلې بوټي په ټول ملک کې دومره مشهور وو چې له لرې لرې نه به پسې سنیا سیان او حکیمان راتلل او دا به یې وړل. څېلې بوټي راویستل او خرڅول هم د سوات د خلکو یو اهم تجارت و، د دې ځای ساګونه او مشروم لکه ګوجۍ، خرېړي، پمنکۍ، کونجۍ، لاهوره، شلا، سمچل او مکهڼ پت اهم څیزونه دي.[١٧٠]

مذهب او عقیده

د سوات خلک سني مسلمانان دي او له حنفي مذهب سره تعلق لري. له څلورو خلیفه ګانو سره یو شان عقیدت لري، لکه د سوات د ادب د تېرو دورونو په شان په دې دور کې هم څلور خلیفه ګان په څلورو یارانو یاد شوي او په ادب کې یې ځای پرځای حوالې

مونډلی شي، لکه دا لانديني شعرونه وګورئ:

خوند سعادت په دنيا کړي له انسانه
ايـزده کـړه خـوي د صـديق عمـر عثمانـه

خوي د صديق، مثل حضرت دی
هــر يــو عمــل د ده لــوی عبــادت دی

مئبن په دين د حبيب وه ډېر بې شانه
ايـزده کـړه خـوي د صـديق عمـر عثمانـه

مئبن په دين دی، د رب وهاب دی
دويــم عــادل عمــر ابــن الخطــاب دی

په شجاعت کې عمر جوړ کړه له ځانه
ايـزده کـړه خـوی د صـديق عمـر عثمانـه

په شجاعت کې حضرت عمر شه
مــرد مېــدان و اســد، لكــه حيــدر شــه

شکر ګذار اوسه تل د رب منانه
ايزده کړه خوی د صديق عمر عثمانه[۱۷۱]

په سوات کې مذهبي اختلافات ډېر کم دي خو بيا هم په رياستي دور کې د مذهبي او سياسي اختلافاتو له وجې دلته د جماعت اسلامي د مشر مودودي خلاف به ډېرې پروپېګنډې کېدلې، ځکه چې د دغې ډلې خلک د رياست د ځينو پاليسيانو خلاف وو، خو کله چې رياست په پاکستان کې ضم شو نو د مودودي په باره کې هم دغه خبرې ورو ورو په کمېدو شوې او هغه په ښه نوم ياد کړی شو، لکه " د سيد مودودي په ياد کې" د ليکل شوي نظم دا يو څو کرښې د کتلو وړ دي:

د ګــــل پـــــه شــــونډو پــــروت يـــې بلــــبلان دې يــــادوي
ســــــيده محترمـــــــــه ګلســـــــــتان دې يـــــــادوي
بـــې شـــکه چـــې تـــه لاړې خـــو فکرونـــه دې حيـــات دي
ژونـــدي ســـتا د ځوانـــانو پـــه ســـينو کـــې تعلـــيمات دي
نـــــن خـــــوار او شکســـــته پرســـــتاران د ســـــومنات دي
ســـتا هغــــه بـــت شـــکنه کـــاروان دې يـــادوي
ســــــيده محترمـــــــــه ګلســـــــــتان دې يـــــــادوي[۱۷۲]

په مجموعي توګه په سوات کې سني مسلمانان دي، البته دلته د رياست له ادغام نه بعد شيعه ګان هم راغلي دي.

زيارتونه

په دې دور کې به هم خلک باباګانو او زيارتونو ته تلل، خو په ادب کې يې ذکر کم مېلاوېږي. په ولسي ادب کې داسې حوالې په لاس راځي، لکه دا ټپه:

د لېـــــــونۍ حاجـــــــت پـــــــوره شـــــــو
پـــــــه لاره ځـــــــي پـــــــه كـــــــاڼو ولي زيارتونـــــــه[173]

د زيارتونو او باباګانو متعلق خبرې د سوات د نورو دورونو په ادب کې هم موندل کېږي او هم په دغه متعلقه بابونو کې پرې په تفصيل بحث شوی دی.

مذهبي تعليم

مذهبي تعليم به په جماعت او مدرسه کې ورکولی شو. عام طور به د کليو ماشومان د مذهبي ايزدکړو لپاره سحر جماعتونو ته لېږل، که يو طرف ته د جماعتونو نه به سحر کې د قران خوانۍ خواږه اوازونه راتلل نو بل پلو ته به سحر باندې د هر کور نه د قران د تلاوت اوازونه راتلل. زنانو به قران خامخا ايزده کولو او ورسره به يې نورنامه، جنګ نامه او کيمياي سعادت لوستلو او دغه شان به يې د دې له برکته پښتو ژبه په ډېره اسانه سره لوستلې شوه.[174] د مذهبي زدکړو لپاره چې کوم طالبان په جماعتونو يا مدرسو کې پاتې کېدل د هغوی د خوراک په باره کې يو شاعر داسې ليکي:

نـــــــن صـــــــبا ډوډۍ غـــــــواړي طالبـــــــان
دا د ســـــــوات بـــــــونېر رواج دی شـــــــم قربـــــــان
د اخـــــــون نـــــــه شروع شـــــــوی دا دســـــــتور دی
هـــــــر طالـــــــب پـــــــه دغـــــــه چـــــــړ بانـــــــدې مـــــــامور دی
د غټـــــــانو بچـــــــی اوكـــــــړي ډېـــــــر تعلـــــــيم
د غريـــــــب بچـــــــی هيلـــــــه جـــــــوړ شي علـــــــيم[175]

کوم ماشومان چې په ديني مدرسو کې سبق وايي، نو هغوی د روټۍ په وخت په کلي او چم پره شي او ځان ته ډوډۍ راجمع کړي، دې ته وظيفې يا چړ ويلی شي.

انګرېزي ژبه او جديد تعليم او سائنس

د دې دور د تعليمي نظام او د انګرېزۍ ژبې په باره کې لږ ډېر ذکر په ادب کې موندل کېږي، لکه دا لانديني شعرونه:

انګريـــــــزي نـــــــه ده اوس مضـــــــمون لازمـــــــي
ژبـــــــه د درس شـــــــوله اردو د اســـــــكول
بـــــــې انګريـــــــزۍ شي پـــــــاس كـــــــولې ميټـــــــرک

ثـــــومره اســـــان ښــــه د تعلـــــيم شـــــه حصــــول
ژبـــــه د درس يــــــې انګرېــــــزي پـــــاتې شـــــوه
پبلــــــک ســــــــکولونه اردو ګنـــــــــي فضـــــــول
غلـــــط چــــې نـــــه شــــې پـــــه نامــــــه د پبلــــک
نـــــه شي پبلـــــــک کـــــــې د غريبــــــو شــــمول
ســــــکول سرکـــــــاري شـــــــه د غريبــــــو حصــــــه
مــــــنم ډېـــــر ښــــــه د حکومــــــت دي اصــــــول
خــــو چـــــې پـــــاس کـــــړې انګرېـــــزي يـــــې نـــــه وي
منعــــــه کــــــالج کــــــې د هغــــــوى وي دخــــــول[۱۷٦]

د جديد تعليم د ودې لپاره په سوات کې تعليمي اداري جوړې شوې او د دې تعليم چې په خلکو کوم اثرات مرتب شوي، هغه هم د دې دور په ادب کې ښکارېږي، لکه دا شعرونه:

د انګريــــــــــزي علـــــــــم شـــــــــوخي اوګــــــــوره
ژبـــــــه تېـــــــره يـــــــې د الماســـــــه ويــــــنم
مېـــــــړه بــــــــه حکـــــــم اوس د ښـــــــځې منـــــــي
ســــــتړې يـــــې ښـــــه د سسرــــــه ساســــــه ويــــــنم
تعلــــــيم يافتــــــه ده بنګلــــــه بيلــــــه غــــــواړي
زړه يــــــې خــــــالي د هـــــــر هراســــــه ويــــــنم
د خواښـــــــــې ســـــــــخر سره نـــــــــه جــــــــوړېږي
زړګــــــــى د شـــــــېر خـــــــالي د آســــــه ويــــــنم
صـــــدى شــــلمې ثــــه دنيــــا ګرمــــه کــــړه
لـــــوغړن خلـــــق يـــــې د بړاســـــه ويـــــنم[۱۷۷]

په دې دور کې چونکې مغربي دنيا د سائنس په وجه ډېره وړاندې تلې وه، نو دغه حالات زمونږ په ادب کې هم په نظر راځي، لکه دا شعرونه:

انګرېـــز د قـــوم دوســـتى پـــه برکـــت بانـــدې بـــالا شـــو
ايــــتم نـــه چـــې اوزګـــار شـــو اوس مهـــم يـــې خلايـــي دى
د ســـائنس پـــه چـــاړه يـــې رالـــه ســـترګې دي ويســـتلې
خوشـــحاله ورتـــه ناســـت وو مـــونږه وې کـــه ســـلايي دى[۱۷۸]

يعنـي دلتـه شـاعر دا پيغـام ورکـول غـواړي چـې مـونږ تـه لـه يـو بـل سره دوسـتانه تعلقـات جـوړول پکـار دي او لـه يـو بـل سره بغـض او حسـد پرېښـودل پکـار دي او دغـه رنگ په اتفاق او اتحاد به مونږ په سائنس او ټيکنالوجۍ کې هم ترقي وکړو.

د مغربي تهذيب اثرات

د دې دور شاعرانو د مشرق او د مغرب د ځينو خبرو موازنه هم کړې ده، لکه د شېر علي خان يو نظم چې "مشرق او مغرب" تر سر خط لاندې ليکل شوی دی، يو څو شعرونه يې دا دي:

قـــابض ولـــې يهوديـــان پـــه فلســـطين دي
د دنيـــا مســـلمانان چـــې پـــرې غمگـــين دي
پـــه کشـــمير ولـــې قابضـــه هنوديـــان دي
مالکـــان ولـــې د دغـــې سرزمـــين دي
اســـلام نشـــته تـــش پـــه خولـــه مســـلماني ده
د اغيـــارو ځکـــه نـــن زېـــر نگـــين دي
ښـــه تعلـــيم او ښـــه عـــلاج لـــه ځـــي مغـــرب تـــه
پـــه هـــر کـــار کـــې يـــې ډېـــر ښـــه مقلّـــدين دي
خـــو غريـــب پـــه خپټـــه مـــوړ دی پـــه مغـــرب کـــې
اوړي گرځـــې غريبـــان چـــې مشرـــقين دي
تقليـــد ولـــې د مغـــرب نـــه کـــوي دلتـــه
غړېـــدونکي يـــې دوه ســـترگې پـــه جبـــين دي[179]

روغانی داسې ليکي:

انگرېـــز چـــې وېښ شـــه د ذلّـــت د انتهـــا نـــه ووت
شـــولو ژونـــدی چـــې کلـــه ســـاه د کليســـا نـــه ووت
مســـلم بـــه هـــم پـــه ســـجده خـــدای تـــه پـــه مـــريخ پريـــوځي
کـــه دا د ضـــد تنـــگ نظـــرۍ خـــوی د مـــلا نـــه ووت[180]

او بل ځای کې د فيرنگي او د مسلمان په موازنه داسې طنز کوي:

گـــوره فيرنگـــي تـــه چـــې جهـــان يـــې وروســـتو پـــاتی کـــړه
وابـــه ورې يـــو ځـــل چـــې کهکشـــان يـــې وروســـتو پـــاتې کـــړه

بـــل خـــوا مســـلمان هـــم ترقـــۍ کـــې چـــا نـــه کـــم نـــه دی
دومـــره نافرمـــان شـــه چـــې شـــیطان یـــې وروســـتو پـــاتې کـــره[181]

دغه رنګ د نورو ډېرو حوالو نه پته لګي چې د سوات په پښتو ادب دا اثرات ښکاره دي.

سیاست

د ریاست سوات په دور کې دلته بادشاهي نظام و او چې کله د سوات ریاست په پاکستان کې ضم کړی شو، نو دلته خلکو ته سیاسي ازادي هم مېلاو شوه. خلکو په سیاست کې برخه واخسته خو د وخت تېرېدو سره سره د دې سیاسي لیډرانو نه هم د خلکو زړه سترې شو او اعتماد یې پرې ختم شو او د خلکو دا ردعمل د سوات په پښتو ادب کې ښکاره دی، لکه د عبدالرحیم روغاني دا نظم "سیاسي تاجران " وګورئ:

پـــــه خلـــــه د مینـــــې محبـــــت او ورورولـــــۍ خـــــبرې
زړه کـــــې د کرکـــــې د نفـــــرت دلـــــۍ دلـــــۍ خـــــبرې
پـــــه خولـــــه نعـــــرې د تحفـــــظ، امـــــن و امـــــان، قـــــراري
زړه کـــــې د تـــــوپ او مشـــــین ګـــــن او د ګـــــولۍ خـــــبرې
پـــــټ پـــــه یـــــورپ کـــــې فیرنګـــــۍ لـــــه څنـــــه ســـــترګه کـــــوي
ښـــــکاره د خـــــوارې سر بـــــبرې کـــــابلۍ خـــــبرې
پـــــه زړه کـــــې غـــــواړي فحـــــاشي، بـــــې حیـــــایي د یـــــورپ
پـــــه خولـــــه د ننـــــګ او د پښـــــتو پښـــــتونولۍ خـــــبرې
کـــــلي پـــــه کـــــلي دشـــــمنو کـــــې مـــــو خپـــــل یېـــــر لټـــــوي
زده کـــــوي مـــــونږ تـــــه د جنګونـــــو د ســـــیالۍ خـــــبرې
د سیاســـــت پـــــه مېلـــــه ګـــــاه کـــــې ســـــیاسي تـــــاجران
کـــــوي د قـــــوم د خرڅولـــــو د بـــــولۍ خـــــبرې
یـــــو خـــــوا د لـــــوږې بـــــیمارۍ نـــــه دا مرګـــــو د بچـــــو
بـــــل خـــــوا د مېـــــو د مینـــــا او د پیـــــالۍ خـــــبرې
ای روغانیـــــه شـــــاعري کـــــه پســـــې وقـــــف کړمـــــه
پـــــوره بـــــه نـــــه شي د درغـــــل د درغلـــــۍ خـــــبرې[182]

او په یو بل ځای کې داسې وایي:

چــې پــه يــو كــال كــې د كروړونــو بنگلــه جــوړه نــه كــړم
د دې وطــن د عمــر خــوار سياســتدان بــه نــه يــم
پــه ســټېج بــه غــټ غــټ تقريرونــه د ښــېگړې كــووم
كــه ښــاده ورځ رانــه چــا اوليــده نــو ځــوان بــه نــه يــم
چــې د اولــس پــه سر ړلــى غونــدې او نــه وربــړم
د خلقــو خيــال كــې د رحمــت هغــه بــاران بــه نــه يــم[١٨٣]

سالار يوسفزى د "ليډران" په نامه په يو نظم كې داسې ليكي:

دا د قــام وطــن وفــاداران پــه مــونږه څــه كــوي
اوگــوره دنيــا كــې ليــډران پــه مــونږه څــه كــوي
پېســو بانــدې يــې ښــه ډنــډه مــاران وي پيــدا كــړي
جلســو تــه يــې هــم ښــه مقــرران وي پيــدا كــړي
ســندرو لــه يــې ډېــر موســيقاران وي پيــدا كــړي
شــعرونو لــه يــې هــم څــو شــاعران وي پيــدا كــړي
ټگــى لــه پــه پيســو يــې څــو حاجيــان وي پيــدا كــړي
اعتبــار لــره يــې غــټ غــټ مــلا يــان وي پيــدا كــړي
چغــو او نعــرو لــه يــې جــاهلان وي پيــدا كــړي
دعــا د پــاره دوى لــوى پــيران وي پيــدا كــړي
دا د دولــت وږي چلبــازان پــه مــونږه څــه كــوي
زمــونږ د وينــو تــږي ښــاماران پــه مــونږه څــه كــوي[١٨٤]

رحيم شاه رحيم په "سياسي ليډر" نومې يو نظم كې څه داسې وايي:

نــه قــول يــې پــه ځــاى وي نــه پــه ژبــه يــې بــاور وي
چــې څــومره دروغــژن وي لــوى زمــونږ هغــه ليــډر وي
د تــول اصــول يــې نــه وي خپلــه ببعــه چــې كــره كــړي
بيــا نــه گــوري پــه بيرتــه پــه مثــال د ســوداگر وي
نائبــک وي هــم ملــک وي خــو چــې جــوړ انتخابــات شي
بيــا ســتا پــه رضــا درومــي تــه ملــک يــې دى نــوكر وي
غــوړي، ســيمنټ، چينــي كــه پــه كنټــرول بانــدې مونــدى شي

کوټه د ده د پاره لویه خپله مقرر وي[۱۸۵]

دیدار یوسفزی د "لیډر" تر سر خط لاندې د لیډر استحصالي سوچ داسې بیانوي:

د دې سره مې کار نشته که نه خوري او که خوري
خو ماله به یې گوري که څوک مري او که څوک چوي
د ژوند په فلسفه کې مې حرام شته نه حلال
"اخون له خو چې پې وي که د خرې وي که د سپي"[۱۸۶]

چونکې په دې دور کې ریاست په پاکستان کې مدغم شوی و او دلته سیاسي پارټیانې راغلې وې او خلک د دغو سیاسي جماعتونو له لیډرانو نه مطمئن نه وو، نو ځکه د دې دور په ادب کې پر هغوی تنقید په نظر راځي.

ډلې او سیاسي پارټیانې

د سوات د ریاست له ضم کېدلو وروسته دلته د ډلو پرو روایتي نظام بدل شو او د روایتي ډلو پرو پر ځای سیاسي پارټیانې شروع شوې. د سیاسي پارټو د راتگ په باره کې زېب سر لیکي چې په سوات کې د ډلو پرو د زوړ رواج پر ځای اوس د پارټۍ سسټم رائج دی او بمونو دهماکو دلته هم خپله خرابه څهره ښکاره کړې ده او د خانانو د "زلمي پښتون" تنظیم د دې جرائمو د حکومت په نظر کې ذمه وار دی.[۱۸۷]

خانان ملکان

سوات د ریاست له جوړېدو نه مخکې یوه قبایلي علاقه وه او دلته په ټولنه کې د خانانو ملکانو ډېر کردار و. د ریاست له جوړېدو سره په خانۍ ملکۍ کې لږه ډېره بدلي خو راغله خو دا څیز مکمل ختم نه شو او دغه رنگ د خانانو ملکانو اختیارات د ریاست له انضمام نه وروسته ډېر کم شول. په سوات کې د خانانو ماجب هم ختم کړی شو. په دې باره کې محمد افضل خان په خپل کتاب " پښتون قامي وحدت" کې داسې لیکي:

> ضلع سوات کې د خانانو ملکانو چې زما د کورنۍ افراد هم پکې شامل وو څه د پاسه پینځه لکه روپۍ د کال ماجب وه. مونږ دا فیصله وکړه چې دغه رقم به طالب علمانو ته د وظائفو په توگه ورکړی شي، دا به د هغه تعلیمي وظائفو نه علاوه وي کوم چې د دې ضلعې د سکولونو او کالجونو طالب علمانو ته محکمه تعلیم د وظائفو په توگه ورکوي. د ضلعې خانانو او ملکانو یو غوبل

جوړ کړ خو چونکې فیصله صحیح وه ځکه نو زمونږ نه وروستو هم چا دغه ماجبونه بحال نه کړل.[188]

سالار یوسفزی "د خان دنیا" نومې نظم کې د خان د ژوند یوه نقشه راښکلې او ورسره یې د خان د کنډریانو او د نوکرانو ذکر هم په دې ډول کړی دی:

کــه دنیــا ده خــو د خــان ده هــر غریــب لــه د ارمــان ده
شي نقصان د خان په گټه د هـــر خـــوار گټـــه تـــاوان ده
خان بې غمه په صوفه کې د عوامــــو پـــه جوفـــه کـــې
یــو مغــرور اواز بــه اوکــړي سر کــړي پورتــه پــه چرچــه کــې
گلالیه دلته راشه د هـــــر غــــم دارو زمـــا شـــه
یره ډېر شریف انسان دی بــس هــم دې کــار کــې لگیــا شــه
خوره او ځښه دلته بې غمه پــــوره ســــپوره او کـــه ســــمه
دی بــه خولــه کــړي ورتــه چینگــه یــره خــان! خــو ســتا منمــه
نــــوکران وي ډېـــري وینځـــې د خانـــانو محـــل وینځـــې
چې د خان مخې ته راشي وائي لـــر شـــه درنـــه بـــین ځـــي
څــه لگیــا وي پــه پټــو کــې څــه یــې ناســت وي پــه اټــو کــې
خــوار گټــي پــه خپلــو وینــو بنــدوي یــې خــان پېټــو کــې
خپلــــې پېغلــــې نــــاز پــــروري لکـــه ســـتوري ځلقـــوري
خــوړل ځښــل ارام یــې کــار وي ســېل تــه ځــي لکــه کــونترې
دا دنیــا، جنــت د خــان دي کــۀ دي حــورې کــۀ غلــمان دي
د غریـــب دلتــــه دوزخ دی هـــم یـــې هلتـــه لړمـــان دي[189]

د خانانو ملکانو په اختیاراتو کې په هر وخت کې بدلون راغلی او دغه بدلون په ادب کې منعکس شوی دی.

ملیان

ملا د ټولنې یو اهم کردار دی، ځکه یې د هر دور په ادب کې څه نه څه ذکر موندلی شي. د ملیانو په باره کې یو شاعر د "بې علمه ملا" تر سرخط لاندې داسې لیکي:

پـــه ملایـــانو کـــې هـــر قســـمه صـــاحبان شـــته
څـــوک پـــه پـــگ بانـــدې مـــلا څـــوک فاضـــلان شـــته

پــــه نــــرۍ خـــبره دیـــن نـــه څـــوک ایســـتل کـــړي
د بـــې علمـــه مـــلا تـــل دغـــه پهچـــان شـــته
د علـــیم پـــه نـــوم بـــس یـــو اللـــه مـــنم زه
چـــې یـــې علـــم بـــې محـــیط او بـــې پایـــان شـــته
انســـاني علـــم بـــه خـــود بخـــود محـــدود وي
خـــو بیـــا هـــم د عـــالم ځـــان ځانلـــه میـــزان شـــته
څـــوک پـــه پـــګ بانـــدې مـــلا څـــوک پـــه شـــمله وي
نـــه یـــې فکـــر د ســـند یـــا امتحـــان شـــته
چـــې څـــوک مـــړ شي دی شـــکرونه پـــرې اوبـــاسي
هـــر اول کـــې جنـــازې تـــه دی روان شي
جنـــازه کـــې پـــوره فنـــډ د پیســـو غـــواړي
چـــې وي کمـــې نـــو بیـــا تـــل د ده خفګـــان شـــته
درې ماښـــامه هـــم دی دطـــګ د حلـــوا غـــواړي
پـــه اردل کـــې یـــې ټـــولی د صـــابیاقان شـــته
څلویښـــتمه جمعـــې هـــم یـــې خوشـــحالي وي
د بـــې علمـــه مـــلا دغـــه رنـــګ ګـــذران شـــته[190]

یو شاعر د ملیانو او پیرانو قسمونه بیانوي او پر ناکاره ملیانو او پیرانو داسې تنقید کوي:

د اللـــه ملیـــان جـــدا دي د حلـــوا ملیـــان جـــدا دي
قـــدوسي پـــیران جـــدا دي مجـــوسي پـــیران جـــدا دي[191]

د ملا د ژوند ټول دارومدار به هم د غم ښادۍ په دغو پړسو او خوراکونو کې و. د غم په موقعه به ملا له هر چا نه زیات خپل ځان د اسقاط حقدار ګڼلو، دا رنګې په خیراتونو کې به هم د ملا حصه له هر چا نه ښه کېدله.

روغانی د ترقي پسندۍ په لار کې درې قسمه خلک روکاوټ ګڼي، هغه وايي:

خـــان دی کـــه مـــلا دی کـــه پـــیران دي پورتـــه ښـــکته
ســـتا نـــه مـــرور دي دغـــه درې ســـپر طاقتـــه[192]

او په بل یو ځای کې دا خبره داسې کوي:

خـــــان پـــــه يـــــوه مــــــلا پــــــه بلــــــه اوړه
پــــير مــــې پــــه مــــلا بانــــدې پرلــــت وهلــــی
زه لــــــړه ځانلــــــه ډېــــــره دوی لــــــه گــــتم
کلــــــه ســــــتار کلــــــه ډانــــــدېت وهلــــــی[۱۹۳]

د خـان، مـلا او پـير مريـد پـه بـاره کـې اول خلکـو ډېـر عقيـدت لـره، خـو د وخـت له تېرېدو سره دا رويه بدله شوه.

هنر مندان او کسبگر

د سوات په خلکو کې د تاريخ په هر دور کې لوی لوی فنکاران او هنرمندان تېر شوي، محمد پروېش شاهين ليکي چې دغو خلکو په مذهبي جوش خروش سره گټې ته، لرگي ته، وړی ته، ټوکي ته، څرمن ته، پيتل ته او د ونې پټ ته يوه فصيحه ژبه ورکړې وه چې هر ليدونکي ته به يې خپل تاريخ او خپله قيصه په ډېر روان مټ اوروله. يواځې دا نه چې دغه خلک دومره لوی فنکاران وو او خلک به دلته راتلل او په دوی به يې دغه کنده کاري، گلکاري او فنکاري کوله او له ځان سره به يې دغه فن پارې خپلو لرې لرې هېوادونو ته وړلې، بلکې يو وخت داسې راغی چې نه يواځې له دې ځايه مذهبي کتابونه او مذهبي تبرکات به وړی شول، بلکې ورسره يې له دې ځايه عالمان، پوهان، مستريان، انجينيران، گيلکاران ان مزدوران يې بوتلل چې هلته ورته مذهبي عبادت خانې او خانقاگانې جوړې کړي او د دهرم چل ورته وښايي، دغه وجه ده چې د سوات د فن ښکلا او عکس نن هم د تبت، لداخ، چين او جاپان په فنونو کې له ورايه په نظر راځي. پروېش شاهين بيا وړاندې ليکي چې دغه ارټ چې په لرگي، گټه، ټوکي او وړی کې دی دومره ژور او غوره فنکاري ده چې نن د يورپ خلک په دغه باندې تحقيق ته ناست دی. د سوات د سلامپور شړۍ او کمبلې ډېرې مشهورې دي.[۱۹٤] د سوات فن او فنکاري په زوال ده ځکه چې ولسي بې غورۍ دغه شتمني اوچته کړه نو شاته هغه فنکاران او هنرمندان چې له لرگي، څرمنې، ټوکي، وړی، کاغذ او سرو سپينو به يې دغه ثقافتي څيزونه جوړول، نو هغه هم بې کاره او بې روزگاره شول، ځکه چې بې قدري زور شوه او هر وطني او ولسي څيز سپک او بې قدره شه او دغه فنکاران د دغې نادرې فنکارۍ نه لاس په سر شول.[۱۹۵]

يو وخت و چې د سوات په سماجي ژوند کې د ذات پات او کسبونو نفرت ډېر په شدّت سره موجود و، اگر چې له بدليدونکو حالاتو سره دغه تميز ورو ورو ختمېږي،[۱۹٦] لکه

یو شاعر چې د کار کسب عظمت بیانوي، نو داسې وايي:

د انســـان مقـــام کـــه غـــواړې امتـــي د هغـــه ځـــوان شـــه
چـــې مـــوچي دی هـــم درزي دی هـــم مـــزدور دی هـــم ســـلطان[197]

زمکه او جایداد د سوات په ټولنه کې د عزت لپاره یو بنیادي څیز و او چا چې به زمکه نه لرله، نو که هغه به پښتون هم و، خو چا به پښتون نه حسابوه، خو د وخت په تېرېدلو سره په دې سوچ کې هم بدلون راغی، لکه یو شاعر چې وايي:

بنیـــــــادم دې روښـــــــه خویانـــــــدې دي جنابـــــــه
کـــــه پـــــه برخـــــه یـــــې کـــــوټې او پټـــــي نشـــــته
ځـــــان تـــــه مـــــه وایـــــه اصـــــیل بـــــل تـــــه کـــــم اصـــــل
پـــــه قصـــــه کـــــې د ادم پرکټـــــي نشـــــته[198]

پخپله به هم پېشه ورو له یو بل سره تعصب ساتلو، لکه دا شعرونه چې یې ظاهروي:

وایـــــي ترکـــــاڼ شـــــکر دی ربـــــه چـــــې اینگـــــر نـــــه یمـــــه
اینگـــــر وئ ښـــــه ده چـــــې اینگـــــر یمـــــه مـــــلا نـــــه یمـــــه
مـــــلا وئ نـــــه یـــــم زه نـــــايي ، نـــــايي وئ ډم نـــــه یمـــــه
ډم زر خولـــــه ورانـــــه کـــــړي او وایـــــي چـــــې جـــــولا نـــــه یمـــــه[199]

د دې دور په ادب کې هم په ټولنه کې د مختلفو کسبگرو، پېشه ورو او هنرمندانو ذکر مېلاوېږي، چې په هغې کې څه دا لاندې ورکولی شي:

مزدور

ازل کـــــې پیـــــدا شـــــوی کـــــم نصـــــیبه چـــــې مـــــزدور یمـــــه
ځکـــــه خـــــو خولـــــو کـــــې تـــــر بـــــتر یـــــم پـــــه ضرور یمـــــه
نـــــه لـــــرم څـــــه حـــــق پـــــه ملـــــک کـــــې نـــــه مـــــې وي اختیـــــار
زه محرومـــــــه شـــــــوی د دنیـــــــا د عـــــــېش سرور یمـــــــه
ځکـــــــه چـــــــې مـــــــــزدور یمـــــــــه[200]

د مزدور په باره کې په یو نظم "مزدور" کې یو شاعر داسې وايي:

لویـــــه ســـــخته دې ابخلـــــې پـــــه خپـــــل ځـــــان ده
ســـــتا دا ســـــتړې رســـــبدلې پـــــه جهـــــان ده

بـــــې ارزې کـــــې دې د ژونـــــد ورځـــــې تېريـــــږي
روزي ګرانـــــه مقـــــرر ســـــتا پـــــه اســـــمان ده[۲۰۱]

دهقان

په دې شعرونو کې د دهقان د ژوند نقشه راښکلې شوې ده:

زه يـــم در پـــه در خـــاورې پـــه سر خـــو زه دهقـــان يمـــه
زه غريـــب تـــل ســـتړی کـــم نصـــيبه چـــې پـــه ځـــان يمـــه
کـــړې کنځـــل نائـــک راتـــه زه چينګـــه خلـــه ولاړ يمـــه
کـــاش نـــه وی پيـــدا پـــه خپـــل ژونـــدون بانـــدې ســـتومان يمـــه
ځکـــــه چـــــې دهقـــــان يمـــــه[۲۰۲]

اهنګر درزګر

لـه اوسـپنې نـه د کرکيلـې او نـور اوزار جـوړونکي تـه اهنګـر (اينګـر) يـا درزګـر وايـي. اينګر تـه پـه عمـومي توګـه نقـدې پيسـې نـه ورکـول کېږي، خـو پـه کـال کـې دوه ځله له فصل نـه ورتـه پـه يـو خـاص مقـدار کـې غلـه ورکـول کېږي. اينګـر درزګـر د خپـل ځان په باره کې داسې وايي:

زه مـــزدور د هـــر چـــا يـــم هنګـــر کـــه درزګـــر يمـــه
د کـــلي د هـــر يـــو ســـړي هـــم يـــو شـــانله نـــوکر يمـــه
څـــه چـــې راتـــه وايـــي نـــو انکـــار کـــولی نـــه شـــمه
کســـب نـــه ســـېوا هـــم کتـــه کـــړی لکـــه خـــر يمـــه
ځکـــــه چـــــې هنګـــــر يمـــــه[۲۰۳]

زميدار

حـــال تـــه زمـــا ګـــوره چـــې شـــپه ورځ زه نـــاقرار يمـــه
زه يمـــه غوايـــه د زمکـــې دې کـــار لـــه تيـــار يمـــه
خلقـــو سره فکـــر دی د خپـــل اســـباب د ډول
زه د کـــر للـــون او د نهـــل کلـــه وزګـــار يمـــه
ځکـــــه زميـــــدار يمـــــه[۲۰۴]

جولا

له وړی نه شړی ، شادرې او ساده قسم کپړې جوړونکي کاريگر ته جولا وايي. د جولا په باره کې شاعر داسې وايي:

کـــار مـــې نشـــته چـــا کـــې زه خپـــل کـــار کړمـــه جـــولا يمـــه
لاس ســــنگ فــــارس لـــــرم پخپلـــــه زه کيميـــــا يمـــــه
خپـــــل کســـــب کومـــــه مـــــزدوري گـــــتم حلالـــــه زه
بـــل څـــه كـــار مـــې نشـــته پـــه دې خپـــل هـــنر لگيـــا يمـــه
ځکــــــــه چــــــــې جــــــــولا يمــــــــــه[۲۰۵]

چميار

عـام طـور لـه څرمنـې نـه پيـزار جـوړوونكي او پيـزار مرمـت كـوونكي تـه چميـار وايـي. د دې پېشـې خلكـو هـم د يـو باقاعـده نسـل شـكل اختيـار كـړی او اوس خلـک د دې پېشې خلک د نسب په حواله هم چمياران گڼي.

كـړې كـه تـه تپـوس چـې تـه يـې څـوک نـو زه چميـار يمـه
كــــړې كــــه رانــــه طمــــع شــــنډه ونــــه د ســــپېدار يمــــه
تــــا سره چــــې لــــوظ اوكــــړم صرف رخصــــتوم دې زه
كـــار راتـــه ډېـــر زيـــات دی خفـــه كېـــږه مـــه ناچـــار يمـــه
ځکــــــــه چــــــــې چميــــــــار يمــــــــــه[۲۰۶]

پراچه

پـر خـرو، قچـرو او اسـونو بانـدې د خـوراک سـامان او نـور پيټـې لـه يـو ځـای نـه بـل ځـای تـه وړونكـي تـه پراچـه وايـي. دوی عمومـاً بـارگير څنـاور سـاتي او لـه زمكـو نـه غلـې دانې كورونو ته خلكو ته په كرايه باندې وړي، د پراچه په باره كې شاعر داسې وايي:

نــــه پېژنــــې مــــا كــــه تــــه پــــه ذات نــــو پراچــــه يمــــه
خپــــل او د پــــردي د پــــاره يــــو شــــانله ســــوانچه يمــــه
ســــود چــــې پكــــې نــــه وي هرگــــز زه هغــــه كــــار نــــه كــــوم
مــــال مــــې ديــــن ايمــــان دی زه پــــرې ځكــــه پــــه چرچــــه يمــــه
ځکــــــــه پراچــــــــه يمــــــــــه[۲۰۷]

دلته هم دا واضح شوه چې دا پېښې خلکو د دې پېشه ور خلکو نسب هم گرځولی وه.

کلال

له خاورو نه لوښي جوړوونکي کاريگر ته کلال وايي:

فکـــر راتـــه اوکـــړه زه خاونـــد د لـــوی کـــمال يمــه
خـــاورې زر کومـــه وجـــه دا ده چـــې کـــولال يمــه
سر مـــې ښـــکته کـــړی وي هـــم کـــار کـــوم هـــم فکـــر
نــور مــې خپــل قســمت دی کــه نېــک يــم کــه بــد حــال يمــه
ځکـــــه چـــــې کـــــولال يمـــــه[۲۰۸]

څرخه مار

د کپړو يـا جـامو گنـډلو والا تـه هـم څرخـي مـار وايـي او درزي هـم ورتـه ويلـی شي. پـه عـام طـور څرخـي مـاران لـه وړی نـه تارونـه جـوړوي او بيـا تـرې شـړی، کوټونـه او نور شيان جوړوي:

خپـــل کـــوم زه کســـب هـــم خـــبرې څرخـــه مـــار يمـــه
کـــوټ واســـکټ قمـــيص پرتـــوگ جوړومـــه ښـــه هوښـــيار يمـــه
کســـب پـــه روپـــو کـــوم دانـــې نـــه اخلمـــه پـــس لـــه دې
تـــا تـــه کـــه زوړ خـــوار ښـــکارم مگـــر زه اوس مالـــدار يمـــه
ځکـــــه څرخـــــه مـــــار يمـــــه[۲۰۹]

شاخېل

شاخېل د ټولنې اهم کسبگر وي، خو په ټولنه کې دوی ته همېشه په سپک نظر کتلی شي، د دوی هېڅ قدر نه کېږي او يو سړي ته شاخېل ويل د کنځلو برابر دي.[۲۱۰]

کســـب مـــې د پـــلار نيکـــه دی زه پـــه ذات شـــاخېل يمـــه
کـــار کـــه زمـــا ســـخا دی مـــا تـــه ښـــه ښـــکاري پـــرې ښـــکېل يمـــه
څـــه اوکړمـــه زه چـــې پيـــدا شـــوی زه غريـــب يمـــه
نـــه کـــوم کـــه دا نـــو بـــې روزگـــاره او ذليـــل يمـــه
ځکـــــه چـــــې شـــــاخېل يمـــــه[۲۱۱]

دکاندار

د مختلفـو څیزونـو خرڅـوونکي تـه دکانـدار وايـي. دی يـواځې مختلـف خـوراکي او د روزمـره ژونـد څیزونـه نـه خرڅـوي، بلکـې ځینـې څیزونـه لکـه لرګـي او غلـه اخـلي هم او د هغې په بدل کې يا نقدې پیسې ورکوي او يو پرې بيا نور څیزونه.

کـــــار د تجـــــارت کومــــــه خلقــــــه دکانـــــــدار يمـــــه
مـــا تـــه پـــه پښـــتو کـــې بـــازاري وايـــي هوښـــيار يمـــه
کـــار مـــې پـــه چـــا نشـــته زه مـــدام پـــه خپـــل ســـود خـــوښ يمـــه
ناســـت لکـــه پيشـــو منـــږک نيـــوو تـــه زه پـــه څـــار يمـــه
ځکـــــــــــه دکانـــــــــــــــــدار يمــــــــــــــــه[۲۱۲]

زرګر

لـه سرو زرو يـا سـپينو زرو نـه مختلـف قسـمه کـالي جـوړوونکي کـاريګر تـه زرګـر وايـي. ښـکاره خـبره ده چې د زرګـر کـار لـه زرو سره دی کـوم چـې پـه قيمـت ګـران وي، نو دا خلک اکثر مالداران وي او همېشه په خپله ګټه نظر ساتي.

هـــــر قســـــم کـــــالي جوړومـــــه زه صراف زرګـــــر يمـــــه
بـــل نـــه چـــې زر اخلـــم کـــم يـــې اخلـــم داســـې نـــر يمـــه
خپـــل زر چـــې ورکومـــه پـــه پـــوره ورتـــه حســـاب کړمـــه
هـــم پـــرې رغاونـــه لپاســـه داســـې کيميـــاګر يمـــه
ځکـــــــــــه چـــــــــــې زرګـــــــــــر يمــــــــــــــــه[۲۱۳]

شپونکی

کوم خلک چې ګډې بيزې ساتي هغوی ته شپونکي وايي. د دوی لوی واړه د ګډو بيزو په ساتنه کې مصروف وي. له دوی سره د ګډو بيزو په کنډک کې سپي هم وي او د سفر په دوران کې دوی د خپل ضرورت سامان په ملا پورې تړلي وي او روان وي او نور د ضرورت سامان له ځان سره په خرو يا ټټوانو هم وړي، پخوا به ټټوان وو او اوس خره، د دوی د څملاستو لپاره چې کومه تولايي وي هغې ته ليمځی وايي چې د ګډو له وړيو نه جوړ وي.[۲۱٤] شپونکي په اوړي کې خپل مالونه د سوات يخو علاقو ته راولي او په ژمي کې د سمې ګرمو علاقو ته ځي.[۲۱۵] شپونکي ډېر سخت ژوند تېروي خو د دې باوجود دوی کې

ډېر زيات سخاوت او مېلمه دوستي وي. يو ليکوال وايي چې کله د سوات په غرونو کې که د دوی مېلمستيا وکتلی شي نو ډېر لوی لوی پښتانه د سړي نه هېر شي.[۲۱۶]

نايي

د نايي مختلف کارونه وي چې په هغو کې سر سنت هم شامل دي. ده ته ډم هم ويلی شي. په وړومبي دور کې به نايي د خانانو په دېرو کې د کټ بسترې وغيره خدمتونه هم کول.[۲۱۷]

ډم

په پښتني ټولنه کې د ډم ډېر اهميت دی، د ډم په باره کې يو شاعر داسې وايي:

يـــار مـــې نـــه دی يـــو، نـــه د چـــا يـــار يمـــه زه ډم يمـــه
ځـــوک کـــه راتـــه ســـپک گـــوري پـــه ځـــه لـــه چـــا نـــه کـــم يمـــه
اووايـــــه زمـــــا غونـــــدې فېشـــــن بـــــه لا د چـــــا وي بـــــل
وايمـــــه رښـــــتيا چـــــې زه ښـــــادمن پـــــه ښـــــادۍ غـــــم يمـــــه
ځکـــــــــــــه چـــــــــــــې زه ډم يمـــــــــــــه[۲۱۸]

ډمه

د نورو خلکو خوشحالولو او خندولو لپاره خپل ژوند وقف کوونکې ډمې ته په پښتنه ټولنه کې د عزت په نظر نه شي کتلی، خو د ټولنې حساسه طبقه شاعران د ډمې د ژوند هر اړخ ته گوري او په هر حالت کې د دې مجبوريانې تر نظر لاندې ساتي. د ډمې په باره کې د مختلفو شاعرانو عکس العمل دلته بيانولی شي:

روح الامين نایاب په يو نظم "ډمه" کې داسې ليکي:

دا چـــې هـــره شـــپه گـــډيږي دا چـــې هـــره شـــپه خرڅيـــږي
دا پـــــه خپلـــــه ارتـــــاويږي خـــــو د نـــــورو دمـــــه کيـــــږي
کـــه مـــونږ ټـــول يـــو رونـــه خوينـــدې يـــا پـــلاران يـــو يـــا يـــو ميندې
دا پـــــه ډمـــــه چـــــې يـــــاديږي زمـــــا فکـــــر نـــــه رســـــيږي
کـــه يـــې ورور دی باجـــه مـــار دی کـــه شـــمبو دی د دې پـــلار دی
کـــه د ديـــن ورور دی نـــو يـــار دی مرمـــه دا لا ځنگـــه کـــار دی

یا د دې هم څوک پیدا که یـــا خالقـــه! دا پنـــاه کـــه[۲۱۹]

عبدالجمیل یوسفزی د ډمې په باره کې د "رنډۍ" تر سرخط لاندې داسې لیکي:

دا هغـــه بلبلـــې دي چـــې هـــر چاتـــه خنـــدا کـــړي
هیڅـــوک تـــرې خفـــه نـــه شـــو د هـــر ســـړي رضـــا کـــړي
څـــه ښـــکلې یـــې لاره ده او څـــه ښـــکلی خـــدمت دی
نـــه چرتـــه کـــې زور غـــواړي او نـــه چرتـــه منـــت دی
بـــس خـــو د دولـــت پـــه مخکـــې حـــورې بـــې حســـابه
ډېـــرې رحمـــــدلې زړه ســـــبزونکې بـــــې حجابـــــه
دا د لـــــوی ادم نمســــــۍ بـــــس دي لـــــره پیـــــدا ده؟
دې دنیـــا خوشـــحاله کـــړه خوشـــحاله پـــرې دنیـــا ده
وي د هـــر چـــا غبـــرګه کـــې د هـــر چـــا دلـــر بـــا ده

خو:

ای ښـــــکلې نیـــــازبینې د دې ټـــــول جهانـــــه ښـــــکلې
تـــا ولـــې دا پـــاک پـــاک اندامونـــه کـــړه ښـــځلې
تـــا ولـــې د خـــدای هغـــه ســـازونه او ســـوزونه
څنګـــه بیعـــه کـــړي دي او اخلـــې پـــرې نوټونـــه
نـــه دي دغـــه شـــونډې اننګـــي د خرڅولـــو
نـــه دي پـــه بـــازار د ګرځولـــو او وېشـــلو[۲۲۰]

سالار یوسفزی د ډمې ذکر په یوه قطعه کې داسې کوي:

لکـــه د ډمـــې پـــه میـــدان کـــې چورلکونـــه وهـــم
د غـــم نوټونـــه راوریـــږي د هـــر خـــوا نـــه پـــه مـــا
نـــوې ځـــواني ســـاقي جانـــان د شـــین ســـپرلي دنیـــاګۍ
مـــا خپلولـــه خـــو غربتـــه! تـــا کـــړه ورانـــه پـــه مـــا[۲۲۱]

رحیم شاه رحیم په "ډمه" نظم کې داسې لیکي:

د ډمـــې ژونـــد دی یـــو ازغـــی د نـــورو لاس غوڅـــوي
د ګېـــډې اور ورتـــه اســـتوګنه پـــه نیـــران جـــوړه کـــړه
دا هـــم یـــو خـــور ده یـــوه لـــور ده یـــوه نـــږور ده د چـــا

معـــــاشرې د دې نــــــه ډمـــــه د میــــــدان جــــوړه کــــړه
ځــــومره عظیمـــــه مجبـــوري ده ځــــومره لویـــه خـــواري
پـــــه خپلـــو ښــــپو بانـــدې چـــې کلـــه ګنګروګـــان تـــړي دا
دغــــــه همـــــــه واړه د دې د ناچــــــارۍ چـــــارې دي
چـــې د پـــردو خلقـــو پـــه مـــخ کـــې خپـــل زلفـــان ســـپړي دا
کــه د ډوډۍ او د ژونـــدون ســـوال یـــې پـــه میـــنځ کـــې نـــه وې
پـــــه ځـــان یـــې ټیټـــې ســــورې نــــه وې د جهـــان پیــــرزو
دلتـــــه بنــــدیانو تــــه رســــوا هلتــــه د خــــدای مجرمــــه
دا بـــــده ورځ د ســــــړي کلــــه وي پـــــه ځــــان پیــــر زو[۲۲۲]

تر دې ځایه پورې چې د کومو کسبګرو او پېشه ورو په باره کې منظوم خیالات وړاندې شول له دې نه د دې ټولو کسبګرو د کار کسب، معیشت، سوچ، نفسیاتو او په ټولنه کې د دوی د مقام او حیثیت اندازه په اسانه لګېدلی شي.

لوبې

په سوات کې د ماشومانو مختلف قسمه لوبې موجود دي. په دې کې د هلکانو لوبې جدا وي او د جینکو لوبې جدا وي او بعضې لوبې داسې وي چې د هلکانو او د جینکو شریکې وي. د جینکو په لوبو کې میرګاټ، ټکو، چیندخ او غوچسکی وغیره مشهورې لوبې دي.[۲۲۳] د هلکانو په لوبو کې پټ پټونی، انګۍ، خوټه بکرۍ، رګی، کسۍ، ببرې، قوړنګان، ټوپۍ، شاجولۍ، علي خن خانی، توتي غوبا ډبلۍ، کرښۍ، غوزان، موسۍ، قوتی، باګه، اډۍ، لاچه، امپړا ککی، شا پیین پینکی او ګوتۍ وغېره شاملې دي ـ[۲۲٤] ډاکټر دیدار یوسفزی "زما لوبې" تر سر خط لاندې د ماشومانو د لوبو په باره کې داسې لیکي:

مــــــا تــــــه دي یــــــادې نـــــن هـــــم خپلـــــې لـــــوبې
د ماشــــــــــوم والي ښــــــــــکلې لـــــــــــوبې
چـــــــې بــــــه د خــــــاورو کــــــوټې وځځبــــــدې
مــــونږ بـــــه پـــــه جمـــــع صــــخا ګــــوډۍ کــــولې
چـــــې اوچـــــه زمکـــــه شــــین اســــمان بــــه شــــولو

ځـــــای پـــــه ځــــای مــــونږ بـــــه کرښـــــینې کــــولې
مـــــا تــــــه دي یـــــادې نـــــن هــــم خپلـــــې لـــــوبې
د ماشـــــــــوم والي ښـــــــکلې ښـــــــکلې لـــــــوبې
د کـــــــلي غـــــــټ ډاګ تـــــــه بـــــــه راغلــــــو کلـــــه
یـــــــو تـــــــن راوړی بـــــــه امپـــــــړا ککـــــــی وه
وېـــــش بـــــه مـــــو اوکـــــړه د ملانـــــو پـــــوره
د وېشـــــه پـــــاتې بـــــه زمـــــونږ ځکـــــی وه
مـــــا تــــــه دي یـــــادې نـــــن هــــم خپلـــــې لـــــوبې
د ماشـــــــــوم والي ښـــــــکلې ښـــــــکلې لـــــــوبې
ځـــــپلي مـــــار هـــــم پکـــــې یـــــوه لوبـــــه وه
ځپلـــــی بـــــه مـــــونږ مـــــوګي تـــــه غونـــــډې کړلـــــې
یـــــو بـــــه وه پـــــړی د مـــــوګي نیـــــولی
بـــــل بـــــه ویشـــــتې او بیـــــا بـــــه یـــــې منـــــډې کړلـــــې
مـــــا تــــــه دي یـــــادې نـــــن هــــم خپلـــــې لـــــوبې
د ماشـــــــــوم والي ښـــــــکلې ښـــــــکلې لـــــــوبې
اړنـــــګ دوړنـــــګ پکـــــې بـــــلا لوبـــــه وه
بربـــــه چابـــــک وو او د ښـــــپو ګړنـــــدی
د کرښـــــې بریـــــد بـــــه یـــــې تـــــر مینځـــــه وه تـــــل
د لاس پـــــه لمـــــس بـــــه شـــــولو مـــــړ را ژونـــــدی
مـــــا تــــــه دي یـــــادې نـــــن هــــم خپلـــــې لـــــوبې
د ماشـــــــــوم والي ښـــــــکلې ښـــــــکلې لـــــــوبې
کـــــودري مـــــات بـــــه مـــــو راغونـــــډ کـــــړل ځانلـــــه
کـــــور بـــــه مـــــو بیـــــا د دې ځـــــوکې کـــــولې
شـــــنډک بـــــه نـــــال کـــــړه مـــــونږ یـــــو ځـــــای پـــــه زمکـــــه
د دې پـــــه سر بـــــه مـــــو موســـــی کـــــولې
مـــــا تــــــه دي یـــــادې نـــــن هــــم خپلـــــې لـــــوبې
د ماشـــــــــوم والي ښـــــــکلې ښـــــــکلې لـــــــوبې

پــــــټ پټېـــــــده پکـــــــې د پــــــټ پټـــــــوني
پــــــټ پــــــټ تـــــازه ښـــــکاري کــــــه زوړ شــــــولو دی
پــــــټ بــــــه يــــــو راغــــــی د ســــــوني غــــــاړې لــــــه
پــــــټ بــــــه ناڅاپــــــه پکـــــــې ســــــون شــــــولو دی
مــــــا تــــــه دي يــــــادې نــــــن هــــــم خپلــــــې لــــــوبې
د ماشــــــــــوم والي ښــــــــــکلې ښــــــــــکلې لــــــــــوبې
گــــــوره نــــــن دلتــــــه هغــــــه لــــــوبې نشــــــته
تــــــل چــــــې زمــــــا او ســــــتا پــــــه زړه ښــــــخې وې
زمــــــونږ دا لــــــوبې کــــــه هــــــر څنگــــــه چــــــې وې
اخــــــــر زمــــــــونږ د ثقافــــــــت نخښــــــــې وې
مــــــا تــــــه دي يــــــادې نــــــن هــــــم خپلــــــې لــــــوبې
د ماشــــــــــوم والي ښــــــــــکلې ښــــــــــکلې لــــــــــوبې[۲۲۵]

په دې نظم کې نه يوازې د ماشومانو د ځينو لوبو نومونه ذکر شوي، بلکې د دغو لوبو طريقه کار هم پکې بيان شوی دی. په سوات کې د ماشومانو په لوبو کې علاقايي تنوع په نظر راځي، کله کله په يوه علاقه کې د يوې لوبې يو نوم وي، خو بيا دغه لوبه په بله علاقه کې په بل نوم يادېږي. کله کله پکې د کردارونو نومونه لږ له يو بل نه بدل وي.

د طالبانو اتڼ

د طالبانو د اتڼ په باره کې فضل محمود روښان ليکلي، چې په سوات، دير او باجوړ کې به طالبانو لکه د ملايانو سپينې جامې اغوستلې. دوی ديني تعليم حاصلوي ځکه ورته طالبان وايي، يعنې د تعليم او علم طلب کوونکي. پخوا به دوی کله کله په ترنگ کې راغلل او په جماعتونو کې به يې اتڼ واچوه، د جماعت بروزې به پاس په برگو کې باندهٔ شوې. د طالبانو په دې اتڼ کې به ډول سرنا نه وه، خو البته تبرگۍ به وې او د هغې نه به يې ساز ويسته اول به پکې دوه څلور کسانو د اتڼ مخصوص شعرونه په خواږه اواز وويل، ځينو به پکې لاسونه پړقول او په خوله باندې به يې باقاعده ډولکی وهلو. د رباب اوازونه به يې د خولې نه ويستل او پاتې طالبان به د دايرې په شکل کې گډېدل. د چتې طالبانو اتڼ د پښتونخوا د سوات دير باجوړ د قديم تاريخ سره ژور تعلق لري.[۲۲۶] د طالبونو د اتڼ متعلق دا متل مشهور دی چې "د طالبانو اتڼ دی گډېږي شا په شا او پړق له مينځ له راځي"[۲۲۷]

ټوقماران

په سوات کې دوه ټوقماران(خندوونکي) ډېر مشهور وو. د يو نوم شرپ گل او د بل نوم لطيف ټوقمار و.

لطيف ټوقمار

د لطيف ټوقمار پ اړه وکيل حکيمزی ليکي چې لطيف د سيبوجني د جورې کلي اوسېدونکی و. د هغه په حقله مشهوره ده چې ډېر ډاگيز او ټوقي سړی وه، هغه به چې کله نائکانو د چا کره په سوال جواب اولېگلو او يا به هسې د چا مېلمه شه نو ډوډۍ ته به يې فکر کولو. که چا به ورله ښه ډوډۍ ورکړه نو ده به ويل لطيفه! ته هېڅ سړی نه يې خو دا کوربه ډېر ښه سړی دی او که چا به يې ښه دارو مدار اونه کړه نو بيا به يې ځان ته ويل لطيفه! مه خفه کېږه ته ډېر دروند او ښه سړی يې خو دا کوربه ډېر بې خونده سپک او بې غېرته دی، ځکه يې ستا قدر او نه کړه[۲۲۸]

شرب گل ټوقمار

شرب گل د سوات ډېر مشهور ټوقمار تېر شوی دی. اول په کالاکوټ کې اوسېده او بيا وروستو دکالاکوټ نه لاړ. د ده په باره کې دا هم وايي چې دی د فتح پور وه. دی د سوات د باچا صيب تنخواه خور ټوقمار وه، نو ځکه ورته باچائي ټوقمار يا شاهي ټوقمار هم وايي. د شرب گل ډېرې ټوقې او قيصې مشهورې دي.[۲۲۹]اگر چې حقيقت نه لري خو بعضې خلکو ليکلي دي چې د سوات د اباسين کوهستان په قبضه کولو کې هم د شرب گل ډېر لوی لاس وه، وايي چې د کوهستانو په يوه جرگه کې دی کوهستانو ته د هغوی په شکل کې مخاطب شه چې دا جنگ مونږ نه شو گټلی نو مونږ له د سوات د باچا صيب سره روغه پکار ده او بيا هغه کوهستاني د ده په قيادت کې د وزير صيب او باچا صيب سره مېلاو شول او اخر کې پته اولگېده چې دا کوهستانی ملک نه وه بلکې شرب گل وه.[۲۳۰]

پښتو ژبه

لکه څنگه چې مخکې ذکر شو چې د دې دور په ادب کې د پښتنې خاورې ذکر شوی دی، همدغه رنگ د دې دور په ادب کې د پښتو ژبې ذکر هم شوی دی، "د پښتو په نوم" نومې يو نظم يو څو کرښې دا دي:

ای زمــــا ژبــــې ای زمـــــا د خانـــــدان ژبــــې
تـــــا ليـــــدل غـــــواړم پـــــه اســـــمان ژبــــې
ســـتا پــــه لمـــن كـــې پــــه كـــثرت سره هـــيرې وينمـــه
در و گــــــوهر دې د رحـــــمان بابـــــا مصرـــــعې وينمـــه
د خوشـــحال خـــان خـــواږه شـــعرونه بـــې نـــاغې وينمـــه
تـــل ځلنـــده بـــه دې ســـاتي تـــا ســـتا شـــاعران ژبـــې
تـــــا ليـــــدل غـــــواړم پـــــه اســـــمان ژبــــې[۲۳۱]

په دې دور كې د پښتو ژبې د سركاري حيثيت په ختمېدو باندې خلكو په پښتو كې خپل درخواستونه او نور ليكل هم پرېښودل او دغه وجه ده چې پښتو ژبه رو رو سپكېدو طرف ته روانه وه ، لكه يو شاعر چې وايي:

درنـــه پښـــتو پښـــتنو داســـې حـــد لـــه ســـپكه كړلـــه
چـــې پـــه پښـــتو ژبـــه عـــرضې د چـــا قبولـــه نـــه ده
مـــور پـــه پښـــتو ژبـــه بچـــو تـــه دعاگـــانې كـــوي
شـــايد پـــه دې وجـــه د مـــور دعـــا قبولـــه نـــه ده[۲۳۲]

له پښتو سره مينه لرونكي ليكوالان دا هم وايي چې كه مونږه د پښتو په روح ځان پوهه كړو نو ترقي او كامراني به بيا زمونږ په پښو كې پرته وي. د اغيارو ژبې ايزده كول ښه كار دی او د علم سره تعلق لري او علم حاصلول په هر مسلمان فرض دي، ليكن خپله مورنۍ ژبه شاته غورځول او پردۍ ژبې په خپل ځان او ذهن حاوي كول د غلامۍ سبب جوړيږي،[۲۳۳] خو دا خبره هم د يادونې وړ ده " چې څوک پښتو اوخوړل او چا پښتو اوخوړه"[۲۳۴]

يو بل شاعر د پښتو ژبې په باره كې داسې وايي:

دا كـــــه ماتـــــه ده خـــــوږه نـــــو هســـــې نـــــه ده
بـــې لـــه دې نـــه مـــې نـــور څـــه دي پـــه هســـتۍ كې
پـــه ځـــانگو كـــې زه پـــه دې يـــم للـــو شـــوی
لكـــه مـــور مـــې اشـــنا شـــوې پـــه ســـېزنۍ كـــې[۲۳۵]

ډاكټر ديدار په يو بل ځای كې پښتو ژبې ته د عقيدت پېرزوينې داسې وړاندې كوي:

تـــــــه د ګلرنګـــــــــه پسرـــــــلو ژبــــــه يـــــــې
تـــــه د خائســــــت او د جرګــــــو ژبــــــه يــــــې
تـــــا ورلـــــه مينــــــه د خپـــــل ځانـــــه ورکــــــړه
تــــــــه د ادم او د درخـــــــــو ژبـــــــــه يــــــــې
ســــتا پــــــه يـــــو ټکــــي د حيـــــا نــــــه سره شي
تـــــــه د لــــــيلیٰ د اننګـــــــو ژبــــــه يـــــــې[۲۳۶]

حبيب الرحمٰن حبيب د ژبې اهميت داسې بيانوي:

چـــې ژونـــدی وي د چـــا ژبـــه هغـــه قـــام ژونـــدی او لـــوړ دی
چـــې شي مـــړه د كـــوم قـــام ژبـــه، كـــه ژونـــدی وي هغـــه مـــړ دی
ترقـــي كـــــه تنـــــزل دی دي پـــــه ژبـــــه كـــــې دا دواړه
خپلـــه ژبـــه چـــې پـــرې نـــه ږدي، خپلـــه ژبـــه تېـــغ لـــوړ دی[۲۳۷]

رحيم شاه رحيم پښتو ته د عقيدت پېرزونې داسې وړاندې کوي:

ای د پـــــامير پـــــه لــــــوړو زمكــــــو زېږېـــــدلې پښـــــتو
د نومــــــــوړو ننګيـــــــالو د سربــــــازانو ژبــــــې
اوســـــتا خـــــور د اريـــــا لـــــور د درونـــــد پـــــړوني مېـــــرمن
د غيـــــرتي پښـــــتون شـــــملې د سربـــــازانو ژبـــــې[۲۳۸]

له پښتو ژبې سره د سوات د پښتنو د دې مينې په وجه پښتو ادب په سوات کې ډېره ترقي کړې ده او په نظم او نثر کې ډېر تخليقات نن زمونږ مخې ته پراته دي، خو بيا هم پښتو ته چې څومره توجه ورکول پکار وو هغه و نه شوه او ډېر خلک داسې هم شته چې پښتو ژبه نه شي لوستی. دا احساس د يو شاعر په ژبه طنزيه انداز کې داسې بيان شوی دی:

څـــه فضـــول كـــار دی چـــې خـــبرې پـــه پښـــتو كـــې لـــيكم
مـــا تـــه لا چـــا وې چـــې شـــعرونه پـــه پښـــتو كـــې ليكـــه
پښـــــتانه نـــــن هـــــم د پښـــــتو ژبـــــه لوســـــتلی نـــــه شي
مشـــوره دا شـــوه چـــې ليكـــې نـــو پـــه اردو كـــې ليكـــه[۲۳۹]

د پښتو ژبې د زوال ډېر اسباب دي چې شاعرانو په دې خبرو وير وينا کړې ده، دلته يوه خبره د قدر وړ ده چې که په سوات کې د پښتو سرکاري سرپرستي ختمه هم شوه، خو

د سوات د ليکوالانو او شاعرانو جذبه دومره ده چې په پښتو کې ادبي تخليقات ښه په تېزۍ سره روان دي، چې د پښتو ژبې او ادب جولۍ ډکوي.

پښتونولي

پښتو چې له ژبې سره سره د يو ضابطه حيات نوم هم دی، د پښتو يا پښتونولۍ خپل خصوصيات دي چې پکې مېلمستيا، غيرت، بدل، پنا، ننواتې، جرګه او نور شامل دي. ننواتې يا منت ته خلک لمن غوړول يا جولۍ غوړول هم وايي، لکه په دې شعرونو کې د لمن ذکر داسې شوی دی:

تـــه چـــې د منـــت زارۍ هـــر چـــا تـــه غـــوړوې لمـــن
دا دې د کروړونـــو لمـــن کړلـــه د پيســـې لمـــن
دې د قـــدر وړ لمـــن تـــه ســـپک نظـــر پکـــار نـــه دی
هـــر چـــا خپلـــې ســـترګې وچـــې کـــړې دې پـــه دې لمـــن[240]

ځينې خلک په ناحقه ټينګ ودرېدل او ضد کولو ته پښتو وايي،لکه د "فلانی خان" نومې نظم دا دوه شعرونه وګورئ:

کـــه مـــې خپـــل ورور تـــه جـــواب پرېښـــوده افغـــان بـــه نـــه يـــم
ورور کـــه مـــې ورور کـــړه دا مـــې واوره مســـلمان بـــه نـــه يـــم
پـــه خلـــه بـــه چغـــې د پښـــتو پښـــتونولۍ وهمـــه
کـــه د پښـــتو خـــدمت مـــې اوکـــړه فلانـــې خـــان بـــه نـــه يـــم[241]

د پښتو او پښتونولۍ چې کوم سپېڅلي صفات دي هغه ورو ورو ختمېږي، لکه يو شاعر وايي:

دينـــــــداري دوســـــــتي پښـــــــتو غيـــــــرت لوظونـــــــه
پښـــــــتنو پرېښـــــــودل خويونـــــــه د اســـــــلاف
د خلـــــــوص مينـــــــې وفـــــــا وختونـــــــه لاړل
د چـــــا نشـــــته دې يـــــو بـــــل تـــــه تنـــــدی صـــــاف[242]

د پښتنو يو بل صفت بدل دی، که څوک ورسره زور ظلم وکړي نو د هغې بدل هم نه هېروي او که څوک ورسره ښه وکړي، نو د هغې بدل هم ګرځوي، لکه د "بدل" تر سر خط لاندې دا شعرونه هم دغه مفهوم په ګوته کوي:

تـــا کـــه اظهـــار پـــه مـــا د مينـــې هـــر ســـاعت کـــړی دی
مـــا هـــم عمـــل د پښـــتنو پـــه روايـــت کـــړی دی
ماتـــه مېـــرې دې هـــم خـــوږې د گلـــدرو پـــه شـــان دي
مـــا د ازغـــو دې هـــم د گـــل غونـــدې صـــفت کـــړی دی[۲۴۳]

په پښتنه ټولنه کې د مينې محبت اظهار هم په ډاگه نه شي کولی؛ په زړه چې هر څه تېرېږي خو په خوله غږ نه شي کولی. دا قسمه احساسات په دې نظم "پښتو" کې بيان شوي دي:

تـــه د همزولـــو سره ناســـته د خنـــدا نـــه شـــنه يـــې
څـــوک دې پـــه زلفـــو بـــې اختيـــاره اوشـــيندي گلونـــه
تـــه د حيـــا نـــه تکـــه سره شـــې خـــو څـــه غـــږ نـــه کـــوې
پـــه ســـپين رخســـار دې الـــول شي الـــواني رنگونـــه
زمـــا نامـــه دې خلـــې تـــه راشي اخســـتل يـــې غـــواړې
ولـــې "پښـــتو" دې پـــه احســـاس اولگـــوي چکونـــه[۲۴۴]

په پښتنه ټولنه کې يوه پښتنه پېغله په پرده کې برکتي، ښايسته او حياداره ښکارېږي، دا حيا او ښکلا د رحيم شاه رحيم د يو نظم "پښتو" په دې بندونو کې ښکارېږي:

هاغـــه درنـــه پښـــتنه پېغلـــه مـــې پـــه څنـــگ تېرېـــده
چـــا چـــې د ژونـــد د فلســـفې نـــه خـــبردار کړمـــه زه
سر نـــه تـــر پښـــو پـــورې وه پټـــه پـــه يـــو نـــوې شـــان کـــې
هغـــه پـــړدې هغـــه حيـــا يـــې نـــا قـــرار کړمـــه زه
تـــا بـــه ويـــل چـــې دا پړونـــی چـــا گنـــډلی پـــورې
پکـــې دوه ســـترگې ښـــکارېدې نظـــر يـــې ښـــخ پـــه زمکـــه
د نـــازو قيـــنج او خرامـــان د قيـــد و بنـــد نـــه خلاصـــه
د چـــا پېـــر چـــل نـــه بـــې پـــرواه وه پـــه خپـــل ځـــان کـــې ورکـــه
درنـــــه درنـــــه برکتـــــي ټولـــــه حيـــــا حيـــــا وه
ثقـــافتونو يـــــې عظمـــــت تـــــه ســـــلامونه کـــــول
دا د فطـــــرت د تقاضـــــو يـــــوه ســـــاتونکې جينـــــۍ
او فرشـــــتو د دې عصـــــمت تـــــه ســـــلامونه کـــــول[۲۴۵]

یـواځې دا خـبره کـافي نـه ده چې څـوک پښـتو ژبـه وايـي، نـو هغـه بـه د پښـتو پـه معیـار پـوره وي. پښـتو ژبـه ویـل ځانلـه څیـز دی او پښـتو کـول او پـه پښـتو پوهېـدل ځانله خبره ده، لکه شاعر چې وايي:

پــــــه لحــــــاظ د وزن تــــــول خلــــــق درانــــــه دي
د احســــــاس غېــــــرت او پــــــوهې درانــــــه گــــــورم
پښــــــتو ژبي پښــــــتانه خــــــو پــــــه دلــــــو دي
انقــــــلاب لــــــه د پښــــــتو پښــــــتانه گــــــورم[۲۴۶]

د پښتونولۍ مختلف عناصر د دې دور په ادب کې موندلی شي، یوه خبره د یادونې وړ ده چې د پښتونولۍ پر ځای په ادب کې او د عامو خلکو په خبرو کې د پښتو لفظ کارولی شي، لکه خلک وايي فلانی په پښتو نه پوهېږي یا داسې وايي چې پښتو یې سرته ورسوله، پښتو یې وکړه او داسې نور.

پېغور

پېغور هم د پښتنو او پښتونولۍ یو توکی دی، اگر چې له پېغوره ډېرې مسئلې پیداکېږي، خو خلک بیا هم یو بل ته پېغورونه ورکوي.د دې دور په ادب کې یې ذکر په دې شعرونو کې راغلی دی:

هــــم پــــه چــــم گاونــــډ کــــې راتــــه شــــور جــــوړ شــــه
بــــل ســــتا انتظــــار راتــــه پېغــــور جــــوړ شــــه[۲۴۷]

او بل ځای داسې وايي:

نــــه یــــار مــــې لېــــونی وه او نــــه زه هــــوس پرســــت ووم
خــــو لیــــک وه د تقــــدیر دا د پېغــــور خــــبره نــــه ده[۲۴۸]

پېغور د ډېرو خبرو لپاره یـو لـوی محرک وي، کلـه کلـه بـه د پېغـور لـه وجې ډېـر ظلمونـه هـم کېـدل خـو د پېغـور فایـده دا وه چـې لـه دې سره بـه خلـک یـو کـار تـه هڅېدل هم. د وخت په تېرېدو سره د پېغور اثر هم ختمېږي، لکه شاعر چې وايي:

پــــه شرم اوشرمېــــره هغــــه څــــوک چــــې پــــرې پــــوهېږي
بــــې شرمــــو تــــه څــــه شرم څــــه پېغــــور چــــې رښــــتیا وائــــم[۲۴۹]

پـه مجمـوعي توگـه کـه وکتـل شي نـو پېغـور ورکـول پـه پښـتنو کـې ښـه نـه شي

ګڼلی اګر چې پښتانه يې کوي خو له دې عمل نه په ټولنه کې دښمنۍ او مسئلې پيدا کېږي، نو ځکه له دې نه خلک د بچ کېدلو کوښښ کوي.

ټولنيز ژوند ژواک

ځينې خبرې چې په ټولنه کې ورو ورو کمېږي، ليکوالانو ته د هغوی د کمي احساس هم شوی دی، لکه دا شعرونه د ټولنيز ژوند ژواک ځينې داسې مهمې خبرې په ګوته کوي، چې يا ختمې شوي او يا ختمېدو طرف ته روانې دي:

نــــه بــــه بيــــا پېغلـــــې ټـــولګي اوځــــي پټـــو تـــــه
نــــه بــــه بيــــا پــــه مېــــرو جـــــوړ شي پرســـــتان
نــــه بــــــه بيــــــا د لوپټـــــــو دور دوره شي
نــــه بــــه پېغلـــــې شي درخــــو او ګـــــل خوبـــــان
نــــه بــــه بيــــا پــــه حيــــا مــــړه مــــامونۍ راشي
نــــه بــــه بيــــا د شـــــېر عالمــــــه شي قربــــــان[250]

د وخت په تېرېدو سره په ټولنيز ژوند کې چې کوم بدلون راغلی د هغې زيات اثرات د ښځو پر ژوند پرېوتي دي، ځکه چې ګودرونه ختم شول، د ښځو د سېل سپاټې مېلې او زيارتونو ته تلل هم ختم شول، البته بازارونو ته تلل زيات شول.

جرګه او حجره

جرګه او حجره د پښتنو مهم خصوصيات دي، د مسئلو او شخړو حل کولو لپاره د پښتنو د رواج مطابق د مشرانو راجمع کېدل او پر يوه مسئله باندې بحث کول او هغه په پر امن طريقې سره حل کولو ته جرګه وايي. حجره د کلي د شريکې مېلمه خانې ته وايي، اګر چې کله کله دا د کلي د خان ملک ذاتي جاګير وي خو فايده ترې ټول اخلي. په حجره کې له جرګو نه علاوه هم مشران ناست وي او د کلي او قبيلې پر مسئلو بحثونه کوي، کشران هم د مشرانو ترڅنګ په حجره کې کښني چې له مشرانو نه د هوښيارتيا خبرې زده کړي او د هغوی له تجربو نه استفاده وکړي. خوشحال خان خټک وايي:

بــــې جرګـــــې نـــــه بــــه هـــــېڅ کـــــار پــــه لاس وانخــــلي
چـــــــې خـــــــبر وي د جرګـــــــې پــــــه برکـــــــت

جرګه او حجره د پښتنو امتيازي خصوصيات دي. د دې دور په ادب کې د دې ذکر

په مختلفو ډولونو موندلی شي، لکه دا قطعه:

هســـــکه پــــه هـــــر ځــــای ســــاتي شــــمله د پښـــــتنو
ځنگـــــه بــــــه زه نــــــه ســـــاتم شـــــمله د پښـــــتنو
تـــــږي د سرو وينـــــو کـــــړي قائـــــل پــــه ورورلـــــی
ځــــومره لــــــوړ مقــــــام لـــــري جرگـــــه د پښـــــتنو[٢٥١]

د حجرې د اهميت او بيا د حجرې له زوال سره چې په اجتماعيت کې کوم زوال پيدا شو د هغې په باره کې محمد افضل خان لالا داسې ليکي:

د پښتنو اکثرې ادارې په اجتماعيت ولاړې وې او فيصلې يې د جرگې له لارې کېدې، د قام قبيلې مشر خان او ملک به د جرگې له لوري په قامي اتفاق سره ټاکلی کېده، د مشر مهمان خانه او د فيصلو ځای چې په حجره يادېږي به د ټول کلي يا کم از کم د ټولې محلې شريکه حجره وه، د دې حجرې خرڅ اخراجات او د خانی ملکی د تحفظ د پاره به ټول قام شريک جائداد مختص کولو.[٢٥٢]

يو بل ځای کې افضل خان لالا د جر گې د اهميت په باره کې وايي چې زمونږ د ټولو خپلمنځي اختلافاتو ختمولو لار جرگه ده. پښتون قام د خپلې هرې مسئلې حل د جرگې د لارې لټولی دی ان تر دې چې خپل بادشاهان يې هم په جرگه منتخب کړي دي.[٢٥٣] د جرگې فيصله به چرته هم نه شوه ماتېدلې، خو د وخت په تېرېدو سره د پښتون لوظ او جرگه هم ورو ورو کمزوري کېدل، لکه شاعر چې وايي:

نــــه اتيــــا دســـــتخطه نــــه يـــو لــــوظ د پښـــــتون زلمــــي
نــــن هغــــه چرچــــه يــــې د وعـــــدو تلــــې راغلــــې ده
ډېـــــر کـــــوه احتيــــاط حســـــن پرســـــته روغانيــــه نــــن
ځکـــــه زمانــــــه خــــــو د جرگـــــو تلــــې راغلــــې ده[٢٥٤]

د جرگې خپل اصول او طريقه کار په پښتونولی کې هر چا ته معلوم دی، چې کله د دوو فريقو تر مينځ څه مسئله را پيدا شي نو دواړه فريقه د دغې ستونزې د حل کولو لپاره جرگې ته مکمل اختيار ورکوي او بيا دواړه فريقه د دې پابند وي چې د جرگې فيصله به مني.

د خېر ښېگړې کليوال تنظيمونه

په پښتنو کې د غم ښادی او کلي کلوبغی اصطلاحات د دوی د ټولنيزې مرستې

غمازي کوي. د غم ښادۍ په موقعه له يو بل سره مرسته کول خو د پښتونولۍ په بنيادي اوصافو کې راځي خو په دې سلسله کې منظّم تنظيمونه په سوات کې د رياست له ادغام نه وروسته په وجود کې راغلي دي. په دې باره کې "ادهيانه ټوډۍ"رساله په خپله اداريه کې داسې ليکي:" د کليوالو تنظيمونو تاريخ په سوات او ګېرچاپېر کې ډېر لنډ دی، د دې وجه يواځې د والي سوات نه وه خو د سيمې خپل سماجي جوړخت هم وه، د سوات نه سوشل ويلفېر محکمې سره وړومبی کليوال تنظيم (CBO) په ۱۹۷۷ کې رجسټر شه.[۲۵۵]

ګودر

ګودر د کليوال ژوند يو مهم جز دی، دلته د کلي پېغلې د اوبو وړلو لپاره راځي او دا ځای د جينکو د سېل او تفريح يو مقام وي. په پښتو ټپه کې ګودر ډېر ذکر شوی او په تحريري ادب کې هم د ګودر ډېرې حوالې مونډلی شي، د نمونې په توګه دا يو شعر:

تــــــــا تــــــــه د ګــــــــــودر لارې ځارمــــــــــه زه
راشــــــــه مــــــــازيګر دی ای شـــــــيرين اشــــــنا[۲۵٦]

خو لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول د وخت په تېرېدو سره ګودرونه په کمېدو دي او له دې سره ډېر بدلون راغی.

په ټولنه کې د ښځو مقام

پښتانه د هلک په پيدايش ډېر خوشحاله وي او د جينۍ په پيدا کېدلو خفه کېږي.[۲۵۷] په دې باره کې محمد اصف خان ليکي چې د پښتنو وطن کې هم بعضې علاقو کې د لوڼو پيدائش د خلقو د پاره د خفګان باعث وه. د چا کره چې به لور پيدا شوه نو خلق به پرې خوشحاله نه وو، خو اوس د خلقو فطرت بدليږي اوس خو لوڼو ته هم خلق اولاد وايي او تعليم ورله ورکوي او ښه تربيت او پالنه يې کوي.[۲۵۸] د ماشوم د پيدا کېدو نه څلوېښت ورځې بعد د ماشوم مور د څلوېښتۍ غسل کوي چې ورته د څلوېښتۍ اودس هم وايي.[۲۵۹] په ټولنه کې چې له ښځو سره کوم زياتی کېږي او هغوی ته د هغوی برابر حقونه نه ورکول کېږي د هغې په باره کې هم د دې دور په ادب کې څه نه څه اواز پورته شوی دی، لکه دا نظم " ای زما د وطن پېغلې" د دې نظم يو څو شعرونه دا دي:

ستا په سر جهان جنت دی　　　پــه ژونــدون کــې دا زينـــت دی
ستا د لاسه هر راحت دی　　　ســـــتا خمــــير د محبـــت دی

خو ستا عمر مصيبت دی ستـــا پـــه غـــاړه هـــر ذلّـــت دی
ستا دردونه چې راياد کړم نو غوټو ته کتی نه شم
ای زما د وطن پېغلې ستا سلګو ته کتی نه شم
د رسمونو په تنور کـــې د صـــدو راسي ســـوزېږي
نذرانې د رواياتو د ډنګرو شـــــان خـــــر څېـــــږي
په چړو د رواجونو څه بـــــې دريغـــــه حلالېـــــږي
ستا فرياد بې وفايي ده بـــې حيـــا يـــې کـــه ژړېـــږي
د حيا او د وفا دې فلسفو ته کتی نه شم
ای زما د وطن پېغلې ستا سلګو ته کتی نه شم
نه دې زړه نه دې ضمير شته نـــه دې حـــق څـــه د اظهـــار شـــته
ابتدا نه انتها ستا نه ســـفر او نـــه دې لار شـــته
يوه وينځه يې نور څه يې نـــه دې واک نـــه دې اختيـــار شـــته
په هر ځايی ته قربانېږی څـــه خـــو حـــد د دې ايثـــار شـــته
په لمدو سترګو کې پټو دې ګيلو ته کتی نه شم
ای زما د وطن پېغلې ستا سلګو ته کتی نه شم[٢٦٠]

دا شعري بيان دی نو ارو مرو به مبالغې هم وي پکې خو بيا هم په ټولنه کې له ښځو سره د امتيازي سلوک اندازه ترې کېدلی شي. د غيرت په نوم د ښځو د قتل خلاف هم په دې دور کې اواز پورته شوی دی. په دې اړه يو شاعر د Honour Killing تر سر خط لاندې په يو نظم کې داسې ليکي:

نـــــن بيـــــا نفـــــرت خـــــور شـــــه
مئېنـــــــــــــان اوبوګنېـــــــــــــدل
ماشـــــــــــومان او يربېـــــــــــدل
نـــــن بيـــــا دهشـــــت خـــــور شـــــه
کائنـــــــــــــات اولړزېـــــــــــــدل
فضـــــا شـــــوه وينـــــې وينـــــې
مرغـــــان ګـــــونګي ګـــــونګي شـــــو
ورونـــــه اوس خوينـــــدې خپلـــــې

رخصـــــــتوي څـــــه پـــــه "شـــــان"
دي پـــــه جهيـــــز كـــــې روان
د پــــــالنگونو پـــــــه ځـــــــاى
د جنـــــــــــازې كټونـــــــــــه
د مــــــــــاتمونو جـــــــــنج دى
ســـــــامان د وينـــــــو اوشـــــــه
نـــــن بيـــــا زمـــــونږ پـــــه ښـــــار كـــــې
بـــــــاران د وينـــــــو اوشـــــــه
د يـــــــو قابيـــــــل لاســـــــونه
د يـــــــو قاتـــــــل لاســـــــونه
د ورور پــــــه وينــــــو سره شـــــــو
د خــــــور پــــــه وينــــــو سره شــــــو[٢٦١]

د عصري تعليم يا د نوي دور د فېشن له وجې چې د ښځو په ژوند كوم اثرات پرېوتي، د هغې تصوير كشي په دې نظم كې شوې ده:

ښځه نن ښه تنگ لباسه وينم سرخـي پوډر پرې لا د پاسه وينم
پاتې پرده د جهالت نخښه شوه تلونكې يې ښار كې بې وسواسه وينم
ادم لغړ كړه په جنت كې شيطان بې پردگي د ده د لاسه وينم
عرياني ښه ده شوه حصه د فېشن ځومره ابليس موقعه شناسه وينم[٢٦٢]

يو هلک د خپلې مور يا پلار په مخكې د خپلې چنغلې نوم نه شي اخستې او دا نوم اخستل يو شرم گڼلی شي. دغه رنگ په اول وخت كې خپل ماشومان هم په غېږ كې نه شي اخستی،كومه جينۍ چې كوم هلک له وغوښتلې شي نو د واده نه مخكې هغه د هغه هلک نه پټېږي او هغه ته مخامخ نه شي راتلی.[٢٦٣]

د واده رسمونه

د پښتنو ځينې رسمونه ډېر ناكاره دي چې پخپله ترې هم ډېر خلک تنگ دي خو د خلاصېدو چل ورله نه ورځي. په دې رسمونو كې د واده بعضې رسمونه هم شامل دي لكه د هلک او جينۍ د رشتې په موقعه د دواړو د رضامندۍ تپوس نه كوي خو مشران پخپله

مرضۍ دا رشته جوړوي.[264] هلک او جينۍ که په خپله مرضۍ واده وکړه نو دا جرم دی.[265] د واده ځينې رسمونه دا دي: د جيني د واده په وخت کې د هلک له پلار نه د کلي او د پلو د خلکو د ډوډۍ لپاره پيسې اخستل، د نکاح په وخت کې له جينۍ نه اختيار اخستل، دغه اختيار او واک په وس سره نه ورکول او تر نيمې شپې پورې دغه واک ته کېناستل، په جينۍ پسې په اوومه ورځ اوومه وړل، جنجيان په گټو او غوشانو ويشتل او په هغوی پسې چغې وهل، هغوی ته شرط اېښودل او تر څو چې به دغه شرط پوره شوی نه و ډولۍ نه ورکول، د کوژدنې له ډوډۍ نه وروسته لاسونه نه وينځل، بلکې په ټوکي پاکول، واده شوې جينۍ په اختر شوقدر کور ته راوستل او مياشت نيمه بيرته نه لېږل، وړوکې جينۍ د اينگور په ځای د نيولو لپاره د هغې لمن څيرول وغيره وغيره داسې رسمونه وو چې څه ورو ورو کمېږي او څه لا اوس هم موجود دي.[266] په پښتنو کې دا يو رسم هم موجود دی چې د لور له واده سره پلار د لور کور ته نه ځي.[267] له دې نه علاوه د واده نور رسمونه او رواجونه هم په پښتو ادب کې موندلی شي. د واده د څه نورو رسمونو رواجونو په باره کې يو شاعر داسې وايي:

خلقـــــو لېـــــونی کړمــــــه ځـــــامنو لــــــه واده کــــــوم
دا مـــــې اراده ده چـــــی بـــــې شـــــانه يـــــې ســـــاده کـــــوم
ورځـــــې څـــــو چـــــې تېـــــرې شـــــوې د خلقـــــو وېـــــرې واخســـــتم
داســـــې د خـــــيرات پکـــــې اوس ځکـــــه اراده کـــــوم
ورځـــــې څـــــو چـــــې تېـــــرې شـــــوې نـــــو بيـــــا فکرونـــــو واخســـــتم
خـــــوري بـــــه هـــــر ســـــړی بيـــــا د خـــــبرې اعـــــاده کـــــوم
غوښـــــې لـــــه څـــــاروي بـــــه اخلـــــم لـــــرې وريـــــژې څـــــو بـــــورۍ
خپـــــل بـــــه مـــــې مېلمـــــه وي ټـــــول د قرضـــــه افـــــاده کـــــوم
شـــــکر دی مـــــاڼه شـــــو ټـــــول اللـــــه بـــــچ د خفگانـــــه کـــــړم
اوس بـــــه د دنيـــــا روزگـــــار د پـــــور پـــــه لبـــــاده کـــــوم
قـــــرض قـــــرض خواهـــــه غـــــواړي شـــــېره چرتـــــه وتښـــــتم
ســـــود د خفـــــه زړه بـــــه پـــــه ســـــاقي جـــــام و بـــــاده کـــــوم[268]

سهرې

شاعران د خپلو خپلوانو يا د يارانو دوستانو د واده په موقعه خاص نظمونه هم ليکي چې په ادبي اصطلاح کې ورته سهرې وايي. له دې نظمونو نه هم د واده د ځينو رسمونو او

رواجونو پته لګي. د واده په موقعه دا قسمه نظمونه په انګرېزۍ کې هم ليکل شوي دي. په انګرېزۍ کې ورته Prothalamion وايي. د مثال په توګه د روح الامين ناياب يو نظم " د ناصر په واده" وړاندې کولی شي:

ګلونــــــه د ډولـــــــۍ دې پـــــه سرو شــــــونډو ښـــــــکلومه
زه لارې د ډولـــــــۍ دې پـــــه بڼـــــو جـــــارو کومـــــــه
نــــــن هغـــــه شـــــو تـــــرسره د مــــــودو وو ارمانونـــــــه
چــــې لـــــرې د وطنـــــه زړګــــــۍ ورو ورو خندومـــــــه
زه هغـــــــه د جهلــــــم او د کوهـــــــاټ واړه يادونـــــــه
ربــــاب د تصـــــور کـــــې ښـــــه بــــې واره غږومـــــه
پـــــه زړه مـــــې راوريـــــــږي د يـــــــارانو محفلونـــــــه
لا نـــور بـــې صــبره کيــږي چـــې زړه څـــومره صـــبرومه
ډيــــوې پـــــه تنهــــائۍ کــــې د يـــــادونو بلومـــــه
نايابـــه! کـــه د ســـــترګو نـــــه د اوښــــکو څڅومــــه[269]

محمد جان لوهار د ډاکټر احمد هلال د واده په موقعه چې کومه څپره [سهره] ليکلې ده، د هغې يو څو شعرونه دا دي:

مبــــارک تاتـــه دې واده احمـــــد هلالـــــه! کـــــړي رب
تاســـو دې دواړه پـــه يـــو بـــل بانـــدې خوشـــحاله کـــړي رب
ســـتا والـــــدينو تـــه زه هــــم مبارکبـــــاد ورکــــوم
هغــوی دې هـــر وخـــت پـــه امـــان د هـــر زوالـــه کـــړي رب[270]

د واده سـهرې يـو باقاعـده ادبي صـنف ګرځېـدلی او بيـا چـې کـومې سـهرې د واده په موقعه راجمع شي، نو د کتاب په صورت کې بيا چاپ کېږي.

د غم رسمونه

د مړي د غم په وخت کې به په بعضې علاقو کې بعضې خلقو دا قسمه رسمونه کول. په مړي پسې ډېر اسقاطونه کول، ګوړه صابن او پيسې وېشل، مانښامونه، جمعې، څلوېښتمې او تلينونه کول،د مړو اخترونه کول، د مړي د لمبولو په ځای درې ورځې ډيوه يا رڼا بلول.[271] خلک دا کوښښ کوي چې د خپل خاندان مړي ټول په يوه مقبره کې دفن کړي.[272]

خراب رسمونه رواجونه

ځینې رسمونه او رواجونه داسې وي چې د ټولو خلکو په پښو کې لکه د بېړۍ لګېدلي وي. له داسې قسمه رسمونو رواجونو نه خلاصېدل ډېر وخت او کړاو غواړي ځکه دا له پېړو راهیسي په ټولنه کې مضبوطې ځېلې لري. په دې شعرونو کې د دا قسمه "سخا" رسمونو ذکر شوی دی:

ســـــتا یادونـــــــه رانـــــــه تــــــاو دي ای صـــــــنمه
سره اورونـــــــه رانـــــــه تــــــاو دي ای صـــــــنمه
د پښـــــتون زړګـــــي نـــــه ګـــــف ویســـــتلی نـــــه شـــــم
ســـــخا رســـــمونه رانـــــه تــــــاو دي ای صـــــنمه[۲۷۳]

ځینې ټولنیز رسمونه داسې دي چې هغوی په انسان د اظهار پابندي هم لګولې ده او د کومو خبرو اظهار چې په رواج کې منع وي نو د هغې اظهار بیا څوک نه شي کولی.

اختر

لکه څنګه چې مخکې په تفصیل سره ذکر شوي، چې د پښتو په زمانه کې به د اخترونو په موقعه جنګونه او د جهل مظاهرې کېدلې، اوس دې دور کې خلق د اختر په ورځ لوی واړه نوې جامې اغوندي او د اختر مونځ له تیاریانې کوي[۲۷٤] او دا رنګه اوس اخترونه د جنګونو پر ځای د خوشحالو ورځې وي.

خوراک

د سوات په اهمو خوراکونو کې وریژې ډېر اهمیت لري. بیا په سبو (ساګو) کې ګډې وریژې هم پخوي چې په سوات کې ورته چوکاڼ او ورژلې وایي.[۲۷۵] چوکاڼ ورته د سوات د سین د ښي طرف خلک وایي او ورژلې ورته د سوات د سین د ګس طرف خلک وایي. له دې نه علاوه د سوات د عام ولس اهم خوراکونه دا دي: وچه حلوا، لمده حلوا، ګاډېره ډوډۍ، پراټه، د وریژو پراټه، لنګري، ښټې، شموخې، ماتې وریژې، کمودې، شنې وریژې، کوپرې وریژې، مۍ وریژې، ورتې وریژې، دل، غونداخي، ککوړي، تېل پخي، درویش، مېچې، لېټۍ، د شوملو کړي، پیتي، لاوڼ، جګې، بګوړه، مټر، خربړی، شلوم، خوږ کدو، ګونګړي، پۍ، غوړي، ماسته، شوملې او ساګ وغیره.[۲۷٦] په دې کې دا ځینې څیزونه لکه شموخې وغیره د هغه وخت خوراک و کله چې غله کمه وه او دا زیات څیزونه خو نن سبا هم خوړل کېږي.

لباس

د سوات په روايتي لباس، يعنې جامه کې چې کوم بدلون ليدل شوی، نو هغه په ادب کې هم ښکاره دی:

خــــــــوار پښــــــــتون ترقــــــــي اوکــــــــړه
نــــــوی کــــــوټ پتلـــــون يــــــې واغوســــــت
خپـــــل تهـــــذيب ژبـــــه يـــــې هېـــــر کـــــړه
ثـــــه د خـــــرو جنـــــون يـــــې واغوســــــت[۲۷۷]

ګګرې د لباس يو قسم دی چې په دې قطعه کې يې ذکر شوی دی.

پـــه ديـــن او پـــه پښـــتو پـــه روايـــاتو کـــوي ويـــاړ
حـــالات تـــه چـــې يـــې ګـــورې کـــوټ بوټـــان يـــې د کبـــاړ
چـــې دا اورمـــه خدايـــه زړه مـــې رو رو ويـــلي کيـــږي
ګګـــرې[۲] بـــه رالـــه راوړي نـــن داجـــي مېلـــې تـــه لاړ

کوټ پتلون د سوات د خلکو عام لباس نه دی، په پبلک سکولونو کې کوټ پتلون د يونيفارم په حيث طالب علمان اغوندي، عام لباس کميس پرتوګ دی، خو په کومو خلکو چې بهرني اثرات وي نو هغوی بيا کوټ پتلون اغوندي.

ګور لباس دلته د نېکانو او ښو خلکو يو علامت ګڼل کېږي، خو د وخت په تېرېدو سره دغه لباس هم بدنام کړی شو او بيا هغه خلک کوم چې به په ظاهري لباس نېکان ښکارېدل هغوی به د خلکو د دوکه کولو تدبيرونه جوړول، نو ځکه بيا په دغه ګور لباس هم تنقيد شوی دی، لکه دا شعرونه:

پـــه ګـــور لبـــاس دانـــه دانـــه ړيـــرو يـــې تېـــر نـــه ووځـــئ
پـــه دوی کـــې داســـې بزرګـــان دي چـــې پـــوډر خرڅـــوي[۲۷۸]

خلکـه هـم د ګـور لبـاس يـو قسـم دی چـې د بزرګـۍ علامـت دی. پـه اړه داسـې تنقيد شوی دی:

ســـتا پـــه خلکـــه کـــې بادشـــائي د هلاکـــو پټـــه ده
ســـتا پـــه تســـپو کـــې د تيمـــور زغـــلي لښـــکرې صـــوفي[۲۷۹]

[۲] په کتاب کې يې د ګګرې معني " د فيرنګيانو زړې جامې" ليکلې ده. ګګرې يو قسم له ګور لباس دی او زنانه يې اغوندي.

لـه دې شـعري نمونـو نـه انـدازه لګـي چـې دلتـه کـوم قسـمه لبـاس مـروج و، کـوم قسمه بـدلون پـه لبـاس کـې راغلـی او دغـه بـدلون ولـې راغلـی دی. بلـه دا هـم پتـه لګـي چې په ټولنه کې کوم قسمه لباس ته په ښه نظر کتل کېږي.

مزدور کسان تحريک

په سوات کې د کار بيګار سلسله ډېر له پخوا نه راروانه وه. له ګوجرو نه علاوه د کلي په پښتنو او نورو خلکو به هم بيګار کېده. د کلي خلک به زياتره يوسفزي او مياګان وو خو سره د دې د بل يوسفزي بادار بيګار به يې کاوه. په مياګانو د رياست سرکاري بيګار وه، خو د خانانو ملکانو بيګار پرې ياد نه وه. د کلي والو بيګار بيا والي صيب په ۱۹٦۵ کې منع کړه.[۲۸۰] له دې بيګار نه ګوجر ډېر تنګ شوي وو او کله چې ذوالفقار علي بهټو دا بيګار غير قانوني وګرځوه او د بيګار له ختمولو سره يې د زميدارو او کنډريانو بې دخلي هم منعه کړه او دې خبرې ته يو پوکې د افضل بنګښ کسان پارټۍ هم ورکړه او د مودو راسي دې مظلومانو د ظالم او د غير ظالم فرق و نه کړ، خو د چا په ولقه کې چې څه وو په هغه يې مالکانه قبضه وکړه او له دې نه د کسان تحريک بنياد ونښته. په بعضې ځايونو کې ګوجرو ګټه او په بعضې ځايونو کې يې تاوان وکړ او د دې تحريک په وجه تقريباً اتيا في صده خلق د کار بيګار نه خلاص شو.[۲۸۱] د کسان تحريک په باره کې زېب سر داسې ليکي:

> د ذوالفقار علي حکومت يو قانون جوړ کړی دی چې د چازرعي جائداد زيات وي نو بې پېسو به ترې ضبط کيږي او دا قانون د اسلام نه خلاف دی، خو مصيبت يو بل غېر شرعي حکم دی چې بې دخلي به نه کيږي که د چا سره په اجاره د چا مزکه، دکان يا مکان وي نو د هغوی د بې دخلۍ وېره ورکه شوه، نو هغوی اوس مالکانو له خپل حق هم نه ورکوي. د جائداد خاوندان خواران شول او بې جائداده يو دم اميران مالداران شول، د وارداتو زور شور قتلونه کيږي اورونه لګي، يوه عامه حېراني او اله ګوله پيدا شوې ده.[۲۸۲]

د مزدور کسان تحريک په باره کې عبدالخالق خليق داسې ليکي:

د مــــــزدور کســــــان تحريـــــــک اونيــــــــوو زور
فايــــــده نــــــه کــــــړه د خانــــــانو د خــــــولې شــــــور
ډېــــــرې زمکــــــې يــــــې قبضــــــه کــــــړې د خانــــــانو

دور تېـــــر شــــــو د بـــــې رحمـــــه جـــــابرانو
افضــــــل خـــــان بـــــنگش وکیـــــل د دوی لیـــــډر دی
پـــــه خپـــــل کـــــار کـــــې ډېـــــر مـــــاهر او ښـــــه زړه ور دی
کـــــه خانـــــانو وعـــــده اوکـــــړه د انصـــــاف
چـــــې نـــــادار بـــــه هـــــم گڼـــــي د ملـــــک اشراف
د محنـــــت حـــــق اومنـــــئ د محنـــــت کـــــارو
بیـــــا زیـــــاتی او ظلـــــم نـــــه کـــــوي پـــــه خـــــوارو
نـــــو بایـــــد چـــــې محنـــــت کـــــار شي پـــــه قـــــلار
مالکـــــانو تـــــه نـــــور نـــــه ورکـــــئ ازار
او جـــــایز حـــــق اومنـــــي د مالکـــــانو
لمســـــه نـــــه اوري د ورانکـــــارو شـــــیطانانو[۲۸۳]

دا تحریک له اپرېل ۱۹۶۸ نه شروع شوی وه. د افضل بنگش نه علاوه د دې تحریک دوه نور کارکنان هم د ذکر قابل دي، د یو نوم زیارت گل او د بل نوم کامرېډ عباد خان وه، کامرېډ عباد خان د پیرپایي اوسېدونکی وه او ډېر پخوا د کرتي کسان کارکن وه[۲۸٤] په سوات کې مزدور کسان تحریک هغه وخت شورع شو کله چې پاکستاني حکومت د سوات ریاست په پاکستان کې ضم کړ، نو یو طرف ته هغه خلک چې د ریاستي جبر او بیگار ښکار وو هغوی داسې قسمه تحریکونو ته ډېر خوشحاله وو، خو بل طرف ته کوم جاگیردار خلک چې له داسې قسمه تحریکونو نه په څه نه څه طریقه متاثره کېدل نو هغوی د داسې تحریکونو مخالفت وکړ، نو د سوات په ادب کې هم دا دواړه قسمه اثرات په نظر راځي او د دې دواړه قسمه لیکوالانو د لیک حوالې بره ورکړل شوې دي.

د سوات پر ادب د افغان جنگ اثرات

د سوات په پښتو ادب کې د مختلفو جنگونو اثار په نظر راځي، لکه دا نظم د افغان جنگ ذکر داسې کوي:

تـــــو پونـــــه راکېونـــــه سرې گـــــولۍ او سره بمـــــان
وریـــــږي پـــــه جـــــونگړو لـــــه افغانـــــه پـــــه افغـــــان
کـــــه ســـــیل کـــــوې نـــــو ورشـــــه تماشـــــه د قیامـــــت اوکـــــړه
چـــــې اووینـــــې کـــــانې پـــــه انســـــانانو د انســـــان

قـــدم پـــه قـــدم شـــته قصـــاب خـــانې د بنيـــادمو
نـــه خـــتم بنيـــادم شـــو نـــه شـــو ســـترې قصـــابان
کـــه يـــو خـــوا يـــې پـــه کـــور د اور لـــوگي لمبـــې خـــورې دي
نـــو بـــل خـــوا يـــې باغونـــه ځنگلونـــه شـــو طوفـــان
کـــه يـــو خـــوا يـــې د علـــم ذخـــيرې پـــه اور ســـتي شـــوې
نـــو بـــل خـــوا يـــې پـــه مـــال او پـــه زر گـــډ شـــولو تـــالان
کـــه يـــو خـــوا د ســـپين گـــيرو د زلمـــو وينـــې پرتـــې دي
نـــو بـــل خـــوا تـــه پراتـــه دي ټکـــړې شـــوي معصـــومان
د داســـې مظلومـــانو حـــال پـــه څـــه ټکـــو بيـــان کـــړم
د چـــا پـــه حـــال چـــې اوښـــکې تويـــوي نـــن دښـــمنان[۲۸۵]

په جنگ کې د افغانستان د تباهۍ يو منظر د سوات يو شاعر داسې بيانوي:

د هـــــرات د معرفـــــت ډيـــــوې نـــــن مـــــړې دي
د لـــــوگر د بـــــاغيچو اوچـــــې منـــــې دي
کـــــوه دامـــــن کـــــې تـــــالا شـــــوي انگـــــوران دي
کيلـــــه گـــــۍ کـــــې خربـــــوزې پـــــه وينـــــو سرې دي

د خنجـــــان مېلـــــه ميراتـــــه نـــــن پرتـــــه ده
د بـــــارودو پـــــه لوگـــــو کـــــې ابتـــــه ده
تاشـــــقرغان کـــــې اينځـــــران پـــــه لمبـــــو ســـــوي
د پنجشـــــېر چمـــــن کـــــې جـــــوړه اديـــــره ده

د پښـــــتون د نـــــاموس کـــــور دې ټـــــول تـــــالا کـــــړه
چـــــې پـــــه جنـــــگ کـــــې اموختـــــه دې لـــــوی واړه کـــــړه
د هلمنـــــد پېغلـــــې سرتـــــورې دي نـــــن ناســـــتې
پـــــه پـــــردو خـــــاورو خښمـــــو کـــــې دې وراتـــــه کـــــړه

چـــــې د پـــــت او د پښـــــتو شـــــملې يـــــې وې دنگـــــې
چـــــې ســـــاتلې مېلمنـــــو لـــــه گـــــډې لنگـــــې

د غـــــيرت پــــه کارنـــــامو يــــــې عـــــالم خــــبر وه
بـــــل هېـــــواد کـــې پـــرې تيريــــږي ورځـــــې تنگـــــې

د کابـــل ښـــار دې کنـــډر کـــړه پـــه هـــوس د اقتـــدار کـــې
پـــه کونتـــون کـــې شـــولې ســـترې چنغلـــې پـــه انتظـــار کـــې
اوچـــــې شــــونډې زيـــــږ مخونــــه پښـــــې ابلــــه پښـــــې دي
د خـــيرات نـــوړی تـــه ناســـتې پښـــتنې دي پـــه قطـــار کـــې

د زرغــــــونې پـــــه چـــــاچو کــــــې ازغــــــي ښــــخ دي
ظالمـــــان يــــــې پـــــه کـــــړاو تـــــر اوســـــه خـــــوښ دي
پــــــه نيـــــازبينو گوتـــــــو پـــــانې کـــــړي راغونـــــډې
د خشــــاک پــــه غـــم کـــې گرځـــي ژمـــي يـــخ دي
د زپـــــــلي قـــــــام بــــــه ځـــــــوک د زړه ملهـــــــم شي
چـــې د صـــلحې پـــه خـــبرو کـــې يـــې پـــه غـــم شي
ځـــــومره لويــــــه خوشـــــــحالي بـــــــه وي عمرانـــــــه
کــــه افغـــــان د کــــږې لارې نـــــه پـــــه ســـــم شي[٢٨٦]

عبدالجميل يوسفزی د "غازي" تر سر خط لاندې داسې ليکي:

تـــــا د بـــــل پـــــه سر بانــــدې غــــويمې دي جــــوړې کــــړي
تــــا مـــــدام قومونــــــه دي يــــو بـــــل کـــــې جنگـــــولي
ســــتا د جهـــــاد يـــــاره ځـــــه عجيبــــــه طريقـــــه ده
نــــه پــــوهېږم ســــتا سره شـــــيطان کــــه امريکـــــه ده
تــــه لکـــه د شـــين زمـــري يـــو وخـــت کـــې وغرېـــږې
بيـــا د پـــيري ځـــوی شـــې پـــه دوربـــين کـــې نـــه ښـــکارېږې
بـــل چـــې چرتـــه گـــرم کـــړې پخپلـــه غلـــی کېښـــنې
نـــر يـــې خـــو هلـــه چـــې تـــه کمـــزورې چرتـــه وينـــې
خــــو يــــاره دا زمــــا يــــوه خــــبره لــــږه واوره
ســـتا نـــه ډالـــر هېـــر کړلـــو اســـلام او خپلـــه خـــاوره
دا جهـــاد دی يـــاره چـــې اول يـــې کـــړې پـــه ځـــان

بيـــا پـــه كـــور او بيـــا پـــه كـــلي او بيـــا پـــه پاكســـتان
دا چـــې تـــه د خپـــل طرفـــه هـــر څـــه برابـــر كـــړې
هلـــه بـــه قيصـــې بيـــا د غيـــرت د لروبـــر كـــړې[287]

د افغان وطن د سوکالۍ او د ازادۍ ذکر هم د دې دور په ادب کې موندلی شي. په دې دور کې افغانستان په جنګي شخړو کې بوخت و، نو ځکه د دې دور په پښتو ادب کې د افغانستان د جنګ او د ازادۍ ذکر په نظر راځي. د "مجاهد دعا" تر سرخط لاندې د ليکل شوي يو نظم دا څو کرښې وګورئ:

زر زمـــونږ د ننـــګ او د وفـــا وطـــن اذاد كـــړې اى ربـــه زمـــا
بيـــا بـــې كـــوره شـــوي افغانـــان دلتـــه ابـــاد كـــړې اى ربـــه زمـــا
دا د ننګيـــــــالو مســـــــلمانانو پښـــــــتنو زمكـــــــــه
دا د ابـــــــدالي او بـــــــت شـــــــكنه غزنـــــــوي وطـــــــن
لاړه نخښـــــــانه د نـــــــوي دور د بتـــــــانو شـــــــوه
دا د غيرتونـــــــــو وفاګـــــــــانو او حيـــــــــا زمكـــــــــه
پـــــاتې اثاثـــــه د بـــــې غيرتـــــو ملحـــــدانو شـــــوه
تـــه بـــې خـــواروزار كـــړې پـــه نصـــيب كـــې بـــېلاد كـــړې اى ربـــه زمـــا
بيـــا بـــې كـــوره شـــوي افغانـــان دلتـــه ابـــاد كـــړې اى ربـــه زمـــا[288]

جوان بخت اسير په خپل يو نظم "افغان مجاهد ته" کې داسې ليکي:

زولنـــــې د غلامـــــۍ دې د پښـــــو پـــــرې كـــــړه
د پتنـــګ غونـــدې پـــه شـــمع ځـــان ايـــرې كـــړه
يـــا تېـــوس شـــه پـــه مـــرداره بانـــدې كېښـــنه
يـــا شـــاهين شـــه خپـــل وزر ارې ارې كـــړه
يـــا غـــانټول شـــه چـــې د پښـــو لانـــدې ميـــده شـــې
يـــا لالا شـــه سرې مېـــرې پـــه وينـــو سرې كـــړه
يـــا غـــازي شـــه پـــه جهـــان كـــې سرخـــرو اوســـه
يـــا شـــهيد شـــه خپلـــې ډكـــې اديـــرې كـــړه
يـــا عـــلي شـــه فـــولادي تـــوره تـــر مـــلا كـــړه
يـــا زنـــان شـــه د تنبـــې شـــا تـــه خبـــرې كـــړه[289]

د سوات پر پښتو ادب د افغانستان د جنګ ډېر اثرات په نظر راځي.

د دې باب خلاصه

د سوات د رياست په پاکستان کې د ضم کېدلو اعلان د ۱۹٦۹م کال د جولايي پر ۲۸ مه نېټه وشو او باقاعده اعلاميه يې د ۱۹٦۹م کال د اگست پر پينځلسمه باندې جاري شوه. د رياست له انضمام سره د سوات په ټولنه کې ډېر بدلون راغی. د رياست سوات په دور کې د هېڅ قسمه ادبي ټولنو جوړولو اجازت نه و. د رياست له انضمام نه وروسته دا پابندي ختمه شوه او مختلفې ادبي ټولنې په وجود کې راغلې، چې د هغې په وجه په ادبي موضوعاتو کې پراختيا او وسعت پيدا شو او خلکو ته په ازادۍ د سوچ کولو موقعه په لاس ورغله، لکه څنگه چې مخکې ويل شوي وو چې عامو خلکو ته په اخبار يا رساله کې په ليک پابندي وه، اوس دغه پابندي هم ختمه شوه. ډلې پرې ختمې شوې او د هغې پر ځای سياسي پارټيانې راغلې. سياستدانان د خلکو په خدمت کې ناکام شول او عام ولس له سياسي ليډرانو نه سر ټکولو. په دې دور کې په ادبي تحقيق کې هم کار شوی دی، ادبي تذکرې ليکل شوي دي، د پښتو ادب ډېرو نثري اصنافو په دې دور کې په سوات کې ترقي کړې ده، لکه ناول، ډرامه، سفرنامه او نور. په ازاده توگه ادبي صحافت هم په دې دور کې شروع شوی دی، په دې دور کې د خيال د اظهار ازادي خلکو ته مېلاو شوه، نو له حکومتي ادارو نه فرياد او گيلې هم په ادب کې په نظر راځي. د جديد تعليم په وجه په خيال او سوچ کې پراختيا پيدا شوه او په ادبي موضوعاتو کې هم ډېر تنوع ليدی شي. د خانانو ملکانو اثر اگر چې ډېر کم شوی خو بيا هم لږ لږ په ادب کې د دې عکاسي شوې ده. د ماشومانو د لوبو ذکر هم په ادب کې موندلی شي. د دې دور په ادب کې د سوات د خلکو له سوات سره د مينې سره سره د پښتو ژبې او پښتونخوا سره مينه هم ښکارېږي. د سوات د دې دور پر ادب د افغان جنگ اثرات هم جوت دي. په مذهبي شخصياتو او صوفيانو وليانو ليکونه هم شوي دي، د صوفيانو او پيرانو تذکرې هم ليکل شوي دي. په دې دور کې په ادب کې د غم ښادۍ رسمونه، دودونه دستورونه، توهمات او جرگه حجره هم ذکر شوي دي، په دې دور کې چې کوم مذهبي، سياسي او ولسي تحريکونه راپورته شوي وو د هغوی اثرات هم په ادب ښکارېږي.

حوالې

[1]Extraordinary issue Registered No. L٧٣٣٢, The Gazette of West Pakistan, Lahore, Friday, August ١٥, ١٩٦٩. No. ١٧ (٤) ٦٩. (*The Dir, Chitral and Swat (Administration) Regulation*, ١٩٦٩) West Pakistan Regulation No. ١ ٠f ١٩٦٩.

[2] Sultan-i-Rome, *Swat A Critical Analysis*, New Delhi, Institute of Peace and Conflict Studies New Delhi India, IPCS Research Papers ١٨, January ٢٠٠٩, p.١.

[3] Sultan-i-Rome, '*The Class War' Dimension of the Swat Crisis*, Historicus, Karachi, Pakistan Historical Society, Vol. LXIII, No. ١ (January-March ٢٠١٥), p.٦٧.

[4] Sultan-i-Rome, *Swat A Critical Analysis*, New Delhi, Institute of Peace and Conflict Studies New Delhi India, IPCS Research Papers ١٨, January ٢٠٠٩, p.٩.

[5] Ibid., p. ٨.

[6]*The Constitution of the Islamic Republic of Pakistan (as modified upto the* ٢٨*th* *February* ١٩٦٥*)*, Govt: of Pakistan, Ministry of Law & Parliamentary Affairs (Law Division), p.١١١.

[7] حکیمزے، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷م، ۲۳۷مخ.

[8]مخلص، عبدالقهار. عبرت نامه، پېښور، اکادمي افکار، ۱۹۹۵ ، ۱۷۰ مخ.

[9] حکیمزے، وکیل د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷م، ۲۳۷مخ.

[10] بریکوټی، شېر افضل خان. دبدبه خوشحال د خوشحال خان خټک پۀ کلام یو نظر، کراچۍ، آفرین خان آف ابوها، ۱۹۹۵.

[11] بریکوټی. سخن طراز عبدالحمید مومندر، کراچۍ، آفرین خان آف ابوها، ۱۹۹۵.

[12] رحیم، رحیم شاه. واورینې خوکې، ۱۹۸۶.

[13] صدیقي، مهرونېش خان. د صحرا کاروان، ۱۹۹۰.

[14] ملک، اختر ملک او رحیم سید خان. لعلونه، پېښور، د پښتونخوا د پوهنې دېره، ۱۹۹۹.

[15]لېونے، روزي خان. اوښکې، مینگوره، شعېب سنز پبلشرز بکسیلرز، ۱۹۹۶، ۱۸۰ مخ.

[16]خان، شبېر علي. د قافلې جرس، ۳۱۶ مخ.

[17]خټک، محمد نواز. سوات کښې، مشموله میاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي، جلد: ۱۳، شماره: ۲، (مارچ ۱۹۸۱)، ۲۵مخ.

[18] رحیم، رحیم شاه. راجگنه (ناول)، مینگوره، اداره سواتیالوجي، ۱۹۸۹، ۱۹ مخ.

[19] لائق، لاءق زاده. (مترجم)، اوښکې او لمبې، اسلام اباد، د اذاد جمو او کشمیر کونسل، ۱

[20]رحیم، رحیم شاه. غرځنی، ۱۹۹۰، ۷۰مخ.

[21]انقلابي، قیمت گل. ځلنده ستوري (دسوات د ماما خېلو خانانو منظوم تاریخ)،درشخېله سوات، ۱۹۹۸.

[22]شاه، مولوي نور محمد عرف غوبه جان. منظوم تاریخ سوات، [۱۹۹۴]ځ

[23] کشره بېگم. نیمگړے ژوند، سېدو شریف، رائل کېمپس، ۲۰۰۰م.

[۲٤]کشره بېګم. بي زېړ، يادونه، ۲۰۰۸م.

[۲٥]لېونے، روزي خان. اوښکې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز بکسیلرز، ۱۹۹٦م، ۱۸۱مخ.

[۲٦]ناصح، میا سید عمر. سوے زړۀ، س ن

[۲۷] صدیقي، سیف الملوک. زۀ انتظار کومه ستا د سترګو، کبل سوات، جان کتاب کور، ۲۰۱۱م،۴۹، مخ.

[۲۸]فیضان، فضل الرحمان. د رحامن بابا د کلیزې مشاعرې پۀ موقعه، (تضمین)، مشموله میاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکیډمي، جلد: ۱۰، شمار: ۷ (اګست ۱۹۷۷)، ۲۳مخ.

[۲۹]فکري، شېر اکبر خان. فکري خیالات اوله حصه، ۱۹۸۲، ۱۵۰مخ.

[۳۰] لائق، لائق زاده. ګیلې، ۲۰۱۳/۱۹۷۹، ۷۹مخ.

[۳۱]نایاب، روح الامین. شبې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۱۹۹۲، ۸۸ مخ.

[۳۲] خالص، عبدالسّلام. د شوخ قلم ناشنا خبرې، ۱۹۸۹، ۵۸ مخ.

[۳۳] روښان، فضل محمود. لټون د پوهې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۱۹۹۵.

[۳٤] لوهار، محمد جان. دیوان محمد جان لوهار، ۱۹۷۱، ۲۹مخ.

[۳٥] کشره بېګم. نیمګړے ژوند، سوات، رائل کېمپس سیدو شریف، ۲۰۰۰، ۱مخ.

[۳٦]فیضان، فضل الرحمان. دوست محمد خان کامل (نظم)، (مشموله) میاشتنۍ پښتو، پېښور، پښتواکېډمي، جلد: ۱۳،شماره: ۴،۵(مي جون۱۹۸۱)، ۴۱مخ.

[۳۷]صدیقي، سیف الملوک. زۀ انتظار کومه ستا د سترګو، کبل سوات، جان کتاب کور، ۲۰۱۱، ۹۴مخ.

[۳۸]همدغه اثر،۱۰۴ مخ.

[۳۹] افتاب، ف ـ ی، د احساس پۀ لمبو، ۲۰۰۰، ۱۲۸مخ.

[٤۰] نایاب، روح الامین. شبې، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۱۹۹۲، ۷۸مخ.

[٤۱] حبیب، حبیب الرحمٰن. د حبیب مینه، ۱۹۷۰، ۱۲مخ.

[٤۲] خان، محمدآصف. سر ګذشت فردوسي سوات تاج محمد خان زېب سر، ۱۹۷۲، ۲۱۸مخ.

[٤۳] بشر، ګل بشر. د حقیقت ګلونه، ۳مخ.

[٤٤] لېونے، روزي خان. اوښکې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز بکسیلرز، ۱۹۹٦، ۱۷۳مخ.

[٤٥]لوهار، محمد جان. دیوان محمد جان لوهار، ۱۹۷۱، ۱۱-۴۴مخ.

[٤٦] ظاهر، شهر یار. سترې قافلې، مټه، لالا اینډ حبیب ملنګ بکسیلرز، [۱۹۹۰]، ۱۲٦،۱۲۵،۱۲۰،۱۱۷ مخونه.

[٤۷]بشر، ګل بشر. د حقیقت ګلونه، ٥٦ مخ.

[٤۸]دریاب، بخت زر. د احساس لمن، ۱۹۹۱، ۳۳ مخ.

[٤۹]لوهار، محمد جان. دیوان محمد جان لوهار، ۱۹۷۱.

[٥۰]فضل، فضل خالق. احساسونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۱۹۹۷، ٥۰ مخ.

[٥۱] لائق، لائق زاده. وېښ خوبونه، ۲۰۱۳/۱۹۸۲، ۷۷مخ.

[٥۲]افتاب، ف ـ ي، ګلستان مصطفیٰ، ۲۰۰۰، ۱۱،۱۸۵،۱۹۸ مخونه.

[53] صديقي، سيف الملوک. زۀ انتظار کومه ستا د سترګو، ۳۸ مخ.

نوټ: سيف الملوک صديقي د ۱۹۱۸م کال د فرورۍ پر ۹ مه پيدا شوی و او د ۱۹۹۵م کال د فرورۍ پر ۹مه وفات شوی دي. د هغه دا کتاب د هغه له مرګ وروسته چاپ شوی، يعنې په ۲۰۱۱ کې چاپ شوی، خو شاعري پکې د هغه دور ده، نو ځکه دا کتاب له ۲۰۰۰ نه په مخکيني دور کې ابښودی شوی دی.

[54] صديقي، سيف الملوک. زۀ انتظار کومه ستا د سترګو، ۴٦ مخ.

[55] خالص، عبدالسّلام. د شوخ قلم ناشنا خبرې، ۱۹۸۹، ۵۳ مخ.

[56] لېونے، روزي خان. اوښکې، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز بکسيلرز، ۱۹۹٦، ۱٦۵مخ.

[57] مخلص، عبدالقهار. عبرت نامه، پېښور، اکادمي افکار، ۱۹۹۵، ۴٦مخ.

[58] همدغه اثر، ٦۰مخ.

[59] عنايت الرحمٰن. د سوات پخوانۍ قيصې، دويمه برخه، پېښور، ۱۹۸۴.

[60] همدغه اثر، ۱ مخ.

[61] شاهـين، محمد پروېش. ټپه، (مشموله) مياشتنۍ پښتو، پېښور، پښتواکېډمي، جلد: ۹،شماره:۳(اپرېل: ۱۹۷۷)، ۳۲مخ.

[62] عزيز سهېل. کالي پټري او پښتو ادب (ټپه)، (مشموله) مياشتنۍ پښتو، پېښور، پښتواکېډمي، جلد: ۹، شماره : ۱۱(دسمبر: ۱۹۷۷)، ۳۲ مخ.

[63] عزيز سهېل. نيمبولا ديمبولا، (مشموله) مياشتنۍ پښتو، پېښور، پښتواکېډمي، جلد: ۱۰،شماره:۸(ستمبر: ۱۹۷۸)، ۴۵مخ.

[64] رحيم، رحيم شاه. شفاهـي قيصې، (مشموله) مياشتنۍ پښتو، پېښور، پښتواکېډمي، جلد: ۱۰،شماره:۴(مئ: ۱۹۷۸)، ۵۳ مخ.

[65] شاهـين، محمد پروېش. شفاهـي قيصې،(مشموله)مياشتنۍ پښتو، پېښور، پښتواکېډمي، جلد: ۹، شماره :٦(جولايی: ۱۹۷۷)، ۳۳ مخ.

[66] اختر، اختر ملک. متلونه پۀ سوات کښې، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز بکسيلرز، ۱۹۹۵.

[67] اختر، اخترملك، د پښتومتلونه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز ، ۱۹۹۷.

[68] حکيمزي، وکيل خيرالحکيم. د پښتو محاورې، ۱۹۹۵.

[69] لائق، لائق زاده. د محمد حنيف قيس پۀ شاعرۍ کښې اولسي رنګونه، مشموله مرغزار (غزل) ليک د محمد حنيف قېس، مينګوره، شعيب سنز پبلشرز بکسيلرز، ۱۹۹۹، ۱۲مخ.

[70] قيس، محمد حنيف. مرغزار، مينګوره، شعيب سنز پبلشرز بکسيلرز، ۱۹۹۹، ۲۰ مخ.

[71] همدغه اثر، ۲۲ مخ.

[72] لېونے، روزي خان. اوښکې، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز بکسيلرز، ۱۹۹٦، ۵ مخ.

[73] فيضان، فضل الرّحمان. څلور ګلونه، مينګوره، مکتبه رحمان سنز، ۱۹۷۵، ۳ مخ.

[۷۴]خان، محمد اصف. سریزه، یوه رنګینه افسانه څلور ګلونه،مصنّف فضل الرّحمان فیضان، سیدو شریف فیضان منزل، ۱۹۸٦، ۸ مخ.

[۷۵]فیضان، فضل الرّحمان. یوه رنګینه افسانه څلور ګلونه، سېدو شریف فیضان منزل، ۱۹۸٦، ۱۰،۹ مخونه.

[۷٦]فکري، شېر اکبر خان. فکري خیالات اوله حصه، ۱۹۸۲، ۱٦۵ مخ.

[۷۷] حبیب، حبیب الرّحمٰن. د حبیب مینه، ۱۹۷۰، ۱۰۱مخ.

[۷۸]همدغه اثر، ۱۲۹مخ.

[۷۹]همدغه اثر، ۱۴۵مخ.

[۸۰]همدغه اثر، ۱۵۵مخ.

[۸۱]مخلص، عبدالقهار. عبرت نامه، پېښور، اکادمي افکار، ۱۹۹۵، ۲۱۸مخ.

[۸۲]همدغه اثر، ۲۱۳مخ.

[۸۳]همدغه اثر، ۲۳۷ مخ.

[۸۴]همدغه اثر، ۲٦۳، ۲٦۵، ۲٦۷، ۲٦۹ مخونه.

[۸۵] مشاعره شاه فیصل سلسله نمبر ۲، مینګوره سوات، رحمان سنز، ۱۹۷۵.

[۸٦] مشاعره د عبدالغني قصاب د ځوی د واده سلسله نمبر ۳، سوات، مکتبه رحمان سنز، ۱۹۷۵.

[۸۷] مشاعره سلسله نمبر ۱، د نور محمد شاه عرف غوبه جان صاحب د اوډیګرام د فرځند د پیدا کېدو په خوشحالۍ کښې، مرتّب: فیضان، سوات، مکتبه رحمان سنز، [۱۹۷۴]

[۸۸] لوهار، محمد جان. دیوان محمد جان لوهار، ۱۹۷، ۱۵٦، ۱۵۸،۱۵۹، ۱٦۲ مخونه.

ډېر خلک خو د دې رواجونو په شور زوږ کې په ژوند د سره پوه نه شي او همېشه د ذهني دباو ښکار وي،لکه یو شاعر چې وایي:

نــــه پـــــه رواج نــــه پـــــه تهـــذيب د ســــماج پوهـــــه شـــــومه
بـــــــس يـــــــوه چغـــــــه يـــــــم ټپـــــــه نيمګـــــــړې
نــــه د خپـــل ځـــان نــــه د اولـــس پـــه رواج پوهـــه شـــومه
بـــــــس يـــــــوه چغـــــــه يـــــــم ټپـــــــه نيمګـــــــړې[٧١]

ځينې خلک په مينه محبت کې دومره لېوني شي چې له رواج نه ووځي، اګر که دغه خلک خپل ضمير په هر څه مطمن کوي، خو ټولنه دوی نه مني، لکه شاعر چې وايي چې مينه له رواج نه ډېره لوړه ده:

چـــــــې زړه مئـــــــېن شي رواجونـــــــه څـــــــه کـــــــړي
خـــــالي ګوګـــــل شي نـــــو غمونـــــه څـــــه کـــــړي[٧٢]

رواج ډېـر زورور ټـولنيز دبـاو دی. د رواج مخـې تـه خلـک کلـه کلـه مـذهبي خـبرې هـم پرېـږدي، هـر وخـت خلـک د رواج پابنـد وي، ځکـه خـو متـل دی چـې لـه کـلي ووځـه خـو لـه نرخـه مـه ووځـه. کـوم خلـک چـې د يـوې خـاص علاقـې رواج نـه شي کولی، نو بيا کوښښ کوي چې له هغې علاقې نه ووځي.

اشر

د سوات په کليوالو علاقو کې د اشر غوبل او کلي کلوبغۍ اصطلاح ډېره عامه ده. په شريکه کار کولو ته اشر وايي، عموماً خلکو به نهل، لو، غوبل،واښه رېبل، جوار ټکول،ختې ګټې کول، کوټو ته خاورې خېژول او دغسې نور کارونه به يې په بدل او اشر له يو بل سره کول. د مالداره خلکو اشرې به د هغوی کنډريانو کولې چې هغوی به بې د بدل نه دا کارونه د بيګار په توګه کول. د ټرېکټرو او تهرېشرو د راتګ او د زمکو له مسلسل تقسيم سره اوس اشرې ډېرې کمې شوې دي.[٧٣]

د سوات فنکاران

په سوات کې د هر فن فنکاران موجود دي، د موسيقۍ په مېدان کې هم د دې ځای يو خپل مقام دی. په سوات کې خو ډېر فنکاران او فنکارانې دي، خو د ډېرو کمو فنکارانو په ژوند ليکل شوي دي. لائق زاده لائق د پښتونخوا په ګڼ شمېر فنکارانو ليکل کړي دي، د سوات د فنکارانو په حقله هغه ليکي چې په دغو فنکارانو کې د سوات د منځني دور ګلناز، شهناز، عقل مينه، معشوق سلطان، شکيله ناز او نورې ډېرې شاملې دي، خو مشهورې پکې ګلزار بېګم او مېرمن نګار سلطان دي.

گلزار بېگم

په وړومبي دور کې چې کومه سندر غاړې ډېره مشهوره وه هغه گلزار بېگم وه، د هغې دا سندره ډېره مشهوره وه "اور په سالو واچوه". په نورو مشهورو سندرو کې يې "زما جانانه ظلمونه کوه"، "رېباره ورشه يار ته وايه" او" سترگې توروه همزولو" شاملې دي. د گلزار بېگم د خاوند نوم اول خان و، چې کله گلزار بېگم په لر و بر کې مشهوره شوه نو بيا پېښور ته لاړه. پېښور ته تگ د هغې لپاره ښه ثابت نه شه ځکه چې په يو مجلس کې چې کله ډزې شوې نو د گلزار بېگم پکې سترگه اولگېده او په تکې ړنده شوه. گلزار بېگم په ډبگرۍ کې اوسېده، هغې د ريډيو پاکستان د وړومبي دور په پروگرامونو کې هم برخه اخستې وه، خو د نورو سندر غاړو په شان د هغې زمزمې ژوندۍ پاتې نه شوې او د پيدائش او د مرگ نېټې يې هم معلومې نه دي.[۷۴]

مېرمن نگار سلطان

د مېرمن نگار سلطان په ژوند او فن ښاغلي لائق زاده لائق څېړنه کړې ده. د هغه د څېړنې تر مخه مېرمن نگار سلطان د سوات په بېدره نومې کلي کې په ۱۹۳۷ کال کې پيدا شوې وه. د هغې د پلار نوم شموزی و. د نگار سلطان دوه ترونه وو، د يو نوم محمد جان و او د بل احمد جان. دوی نگار سلطان له ځان سره مردان ته راوسته، په مردان کې له مخکې نه د هغې تروريانې ميشته وې او سندرې به يې ويلې. په دغو ورځو کې د مردان د موسيقۍ دنيا ښه اباده وه، د صبرالنّساء، مهرالنّساء او چشتي چمن جان نه پس دلته د باچا زرين جان، کشور سلطان او قمرو جان د فن هر خوا ته شور و. د نگار سلطان پلار د موسيقۍ له دنيا سره هېڅ علاقه نه لرله او چې کله خبر شو چې نگار سلطان د فن دنيا ته داخله شوې ده نو ډېر خفه شو، خو هېڅ يې نه شو کولای ځکه چې د نگار سلطان د اواز زمزمې او د گنگروگانو شرنگا هر چا اورېدلې وه. د دې خفگان له لاسه هغه کلی پرېښود او په داسې لاره لاړ چې لا بيا يې د مړ او ژوندي هيڅ پته ونه لگېده، چې کله محمد جان او احمد جان پوه شول چې اوس د مېرمن نگار سلطان د مينه والو شمېر زيات شو، نو هغوی دا کراچۍ ته بوتله. د نگار سلطان په سازيانو کې يو د صوابۍ د وړوکي لاهور اوسېدونکی خاتم استاذ هم و. خاتم استاذ د نوموړو سندرغاړو شبنم، نورجهان او ناهيد اختر پلار او د ماسټر علي حيدر سخر دی. د ساز او اواز دغه اهنگونو د خاتم استاذ او د نگار سلطان زړونه هم يو بل ته نزدې کړل او بيا هغه د خاتم استاذ د ژوند ملگرې شوه. بيا هغوی له کراچۍ نه د بونېر

علاقې طوطالۍ ته راغلل او دلته د هغې ورومبی ماشوم ظاهر شاه پیدا شو، ظاهر شاه د سندر غاړي طارق حسین شاه پلار دی. څه وخت وروسته بیا له خاتم استاذ نه د هغې جدايي وشوه او ترونو يې بیا حسن باز ته واده کړه او هغې د ريډيو پاکستان په پروګرامونو کې هم برخه اخستل شروع کړل. له ريډيو پاکستان پېښور نه علاوه د لاهور سنټرل پروډکشن يونټ کې هم هغې د خپل اواز زمزمې خوندي کړي دي. د ۲۰۰۹ په اپرېل کې دې لويې فنکارې د همېشه لپاره سترګې پټې کړې. د هغې مشهورې سندرې دا دي:

چې ښار ته ځې زما په تا باندې قلنګ دی
ماله د جالۍ لوپټه د ښاره راوړه
او هيڅ مناسب درسره نه دي
زه دې د دره بې ګنا شړلې يمه[۷۵]

فنکار يا فنکاره عموماً په پښتنه ټولنه کې د ډم او ډمه يا لولۍ په نومونو يادېږي او خلک ورته په سپک نظر ګوري. غني خان ويلي چې د پښتنو فن خوښ وي خو فنکار بې بدې شي. دغه وجه ده چې زمونږ په ټولنه کې د ډم او د ډمې عزت نه کېږي، خو ځينو شاعرانو او ليکوالانو د دوی د ژوند ښه اړخونه او د دوی مجبوريانې په ګوته کړي او د معاشرې د عامو خلکو او د دوی د ژوند موازنه يې کړې ده،لکه دا نظم "لولۍ" په دې حواله د کتلو وړ دی:

ډکـــه د خنـــدا زمـــا کـــوګۍ ده کـــه کتلـــی شـــې
زه پـــه شـــړنګا شـــړنګ کـــې د ګنګـــرو چـــې ګډېـــده کـــوم
زړه دې راتـــه ټينـــګ کـــړه کـــه درينجقـــې مـــې زغملـــی شـــې
زه پـــه کـــړو وروځـــو نـــرو شـــونډو موســـېده کـــوم
زه بـــه يـــې لکـــه شـــمع د خپـــل ځـــان پـــه ســـوځېدو کړمـــه
راشـــئ هـــر ســـړی چـــې دا محفـــل پـــه ګډېـــدو کړمـــه
دا زمـــا ګـــډا او کـــه خنـــدا ده خـــو کنجـــره ده
مـــا درلـــه راوړې د مســـتۍ يـــوه ســـندره ده
زه کـــه بـــې وفـــا يمـــه نـــو ستاســـو وفـــا کـــوم ده
نـــه راځـــې پـــه لاس نـــه شـــم ورتلـــی د بـــل پـــه لاس کـــې
زه کـــه بـــې حيـــا يمـــه دنيـــا کـــې حيـــا کـــوم ده

نـــــه ورکـــــوم د مینـــــي امانـــــت د غـــــم پـــــه لاس کـــــې
مـــا غـــوه لـــئ نـــو ځکـــه بـــه دا ټـــول پـــه غولېـــدو کړمـــه
راشـــئ هـــر ســـړی چـــې دا محفـــل پـــه ګډېـــدو کړمـــه
ځـــان مـــې بـــازیګره کـــړه د نیـــل چـــې بـــازیګره ده
مـــا درلـــه راوړې د مســـتۍ یـــوه ســـندره ده[٧٦]

داسې نورو شاعرانو او لیکوالانو د ډمې په مجبوریانو او د هغې د ژوند په کنډو کړمو او نورو ستونزو رڼا اچولې ده. د شاعرانو او لیکوالانو د ډمو په باره کې دا قسمه خیالات په تېر باب کې هم نقل شوي دي.

د مغربي دنیا او د ۱۱/۹ اثرات

د دوه زره وړومبي کال د ستمبر په یوولسم چې کله پر امریکا حملې وشوې، نو دې حادثې د دنیا په سیاست، معیشت غرض په هره شعبه اثر وکړ. د دې اثرات په پاکستان او بیا په پښتنو په خصوصي توګه پرېوتل. همدغه وجه ده چې د سوات په پښتو ادب کې د دې واقعې او له دې نه وروسته د پیداکېدونکو حالاتو ذکر موندلی شي. له دې نه علاوه د سوات په پښتو ادب کې د مغربي ملکونو ذکر هم موندلی شي. پر امریکا د یوولسم ستمبر د حملو په باره کې دیدار یوسفزی داسې لیکي:

چـــــا وې عظیمـــــه ســـــانحه پېښـــــه شـــــوه
چـــــا وې چـــــې ســـــتنې د تهـــــذیب پرېـــــوتې
چـــــا وې د ظلـــــم انتهـــــا اوشـــــوه نـــــن
چـــــا وې قیامـــــت راغـــــی دنیـــــا تبـــــاه شـــــوه
چـــــا وې انســـــان شـــــه خـــــونړی ځنـــــاور
چـــــا وې چـــــې مـــــړه شـــــو بـــــې ګنـــــاه انســـــانان
چـــــا وې د دې ظلـــــم حســـــاب دې اوشي
مـــــا وې د هـــــر ظلـــــم حســـــاب دې اوشي[٧٧]

رحیم شاه رحیم په خپل یو نظم "لویو طاقتونو ته" کې داسې لیکي:

تـــل مـــو دا کوشـــش دی چـــې یـــو قـــام پـــه بـــل وهـــل غـــواړئ
ځنګـــه پـــه دنیـــا کـــې تاســـو امـــن راوســـتل غـــواړئ

ای پــــه خولــــه د امــــن دعــــوه گــــیرو تاســــو څــــه کــــوئ
دا مــــو پالیسيــــ ده کشــــالې ښــــه زیــــاتول غــــواړئ
یــــو خــــوا خــــو اواز د انســــاني همــــدردی ډېــــر کــــوئ
بــــل خــــوا دوه قامونــــه پــــه یــــو بــــل کــــې جنگــــول غــــواړئ[78]

نذیر شموزي د امریکې د هغه وخت وزیر خارجه "کسنجر" په باره کې داسې نظم لیکل دی:

د هــــر چــــا د غــــم غمخــــوار دی کســــنجر
د هــــر چــــا بــــوج تــــه تیــــار دی کســــنجر
پــــه یــــو ځــــای کلــــه حصــــار دی کســــنجر
بــــس د خپــــل وطــــن روئبــــار دی کســــنجر
د پــــیري پــــه شــــانې گرځــــي گېــــر چــــاپېره
پــــه یــــو دم کــــې کــــړي دنیــــا لــــه قــــدم تېــــره
کســــنجر دی هــــم ډاکټــــر دی هــــم دوا
واه طاقتــــه ســــتا پــــه لاس کــــې د شــــفا
چــــې یــــې څــــوک پــــه نصــــیحت نــــه کــــړي پــــرواه
پــــه مــــوذي مــــرض هغــــوی شي مبــــتلا
د نســــخو لیکلــــو کــــار کــــې ډېــــر هوښــــیار دی
کــــه څــــه بــــل څــــه تــــرې پیــــدا شي د رب کــــار دی
د کمــــزورو حمایــــت کــــړي کســــنجر
زورورو سره پــــت کــــړي کســــنجر
مومنــــانو نــــه نفــــرت کــــړي کســــنجر
او د عربــــو قیــــادت کــــړي کســــنجر[79]

د هټلر ستاینه نذیر شموزی داسې کوي:

یــــو هټلــــر وه نــــر زلمــــی وه جرمنــــی وه
دښــــمنان یــــې لاتــــر اوســــه کــــړي غوغــــا
کــــه یهــــود کــــه نصــــارٰی کــــه مشرــــکان وو
ناســــت پــــه څــــټ وه د همــــه واړو واه وا

چـــــې گرېـــــوان د ســــــتمگر پــــــاره پــــــاره کــــــړي
زار لـــــه هغـــــه شـــــاه زلمـــــو شـــــعر زمـــــا[۸۰]

امیر فیاض د "امریکه او مسلمانان مشران" تر سر خط لاندې داسې لیکي:

ځنگـــه امریکـــه ده چـــې دا څـــه جـــادو پـــه دې کـــې دی
زړه د هـــر رهـــبر چـــې گـــورې بـــس پـــه امریکـــې کـــې دی
دومـــره خـــو د خـــدای نـــه وېـــره نشـــته امریکـــې نـــه ده
هـــر یـــو شـــیخ وېرېـــږي د یهـــود پـــه دبـــدبې کـــې دی[۸۱]

سالار یوسفزی د اسامه بن لادن تعلق هم له امریکه سره ښائي او داسې یې یادوي:

زمـــــا د کـــــور د بربـــــادۍ ذمـــــه وار
"بـــــن نیویـــــارک" "بـــــن لنـــــدن" هـــــم دی
دا دي ښـــــکاره د دیـــــن ملـــــت دښـــــمنان
پـــــټ د اســـــلام جامـــــه کـــــې بـــــن لادن هـــــم دی[۸۲]

افغان جنگ او د سوات پښتو ادب

خلقـــــه بمبـــــار رابانـــــدې کیـــــږي
جانـــــان مـــــې ســـــترگو کـــــې بمونـــــه گرځوینـــــه[۸۳]

ټپه د ولسي ادب یو اهم صنف دی، په ټپه کې د ټولنې او چاپېریال عکس ښکاره په نظر راځي. په ټولنه کې چې څه کېږي هغه مونږ ته په ټپه کې ښکاري. له کله نه چې پښتنه خاوره د جنگونو او بمونو په ضد کې راغلې ده، نو په ولسي او تحریري ادب کې یې هم دغه جنگي اثرات ښکاره دي. د سوات په پښتو ادب کې د افغان جنگ ذکر په مختلفو حوالو مېلاویږي. د امریکې له حملې نه وروسته د افغانستان تصویر داسې بیان شوی دی:

دی هـــــر یـــــو کـــــور یـــــې کنـــــډر
هـــــره حجـــــره یـــــې ورانـــــه
هـــــر یـــــو بـــــازار یـــــې ویـــــران
هـــــره کوڅـــــه یـــــې ورانـــــه
هـــــر یـــــو تصـــــویر یـــــې څـــــیرې
هـــــره ځهـــــره یـــــې ورانـــــه

چــــــــــې دا د چــــــــا وطــــــــــن دی
چــــــــــې دا د چــــــــا وطــــــــــن دی
دي وار خطــــــــــــــــا وارخطــــــــــــــا
او در پــــــــــــه در یـــــــــــــې خلـــــــــق
دي یرېـــــــــــــــدلي غونـــــــــــــــــــدې
اوتــــــــــر اوتـــــــــر یـــــــــــې خلـــــــــق
گرځـــــــــي ښـــــــپې ابلــــــــه، سر تــــــــور
کـــــــــږه پــــــــــه سر یـــــــــــې خلـــــــــق
چــــــــــې دا د چــــــــا وطــــــــــن دی
چــــــــــې دا د چــــــــا وطــــــــــن دی
چــــــــې بربـــــــــادي یــــــــــــې دنیـــــــــا
پــــــــه ځــــــان یــــــو پــــــور اېښــــــــی دی
چـــــــــې هــــــــر الــــــزام پــــــــرې نــــــــړی
پــــــــــه وچ کلــــــــــک زور اېښــــــــــی دی
چـــــــــې پــــــــرې "شــــــــــداد" د "ارم"
د وران ـــــــــــی تـــــــــــور اېښــــــــــی دی
د ماشــــــــــــــومانو تنــــــــــــــــــــې
پــــــــــه گولـــــــــو غـــــــــار پرتـــــــــې دي
د شـــــــــــاه زلمـــــــــــــو ککـــــــــــــری
پــــــــــه هـــــــــــره لار پرتـــــــــــــې دي
د پېغلوکــــــــــــــــو لــــــــــــــــــوپټې
بیخــــــــــي تــــــــــار تــــــــار پرتــــــــــې دي
چــــــــــې دا د چــــــــا وطــــــــــن دی
چــــــــــې دا د چــــــــا وطــــــــــن دی[٨٤]

یو شاعر په دې ارمان دی چې د پښتنو دا وران کور به کله جوړېږي او هغه "د وران کابل په نوم" داسې لیکي:

کلـــه بـــه بیرتـــه بیـــا ودان شـــي د افغـــان کـــوره
د پښـــتو وران کـــوره اللـــه دې مـــل شـــه
ســـتا چـــې دې وران تصـــویر تـــه گـــورم نـــو ژړا راشي
پـــه ســـوو غرونـــو بـــه دې بیـــا چرتـــه گیـــا راشي
پـــه ژړېـــدلو خلـــو بـــه بیـــا کلـــه خنـــدا راشي
ولـــې پـــه توپـــو تـــل نړېـــږي د افغـــان کـــوره
د پښـــتو وران کـــوره اللـــه دې مـــل شـــه
بچـــي دې لاړه در پـــه در خـــواره شـــو
څـــوک پښـــې ابلـــه پښـــې او سرتـــور سر خـــواره شـــو
څـــوک پـــه ســـحر څـــوک مـــازیگر خـــواره شـــو
د اســـتوگنې کلـــه بـــه جوگـــه شـــي د افغـــان کـــوره
د پښـــتو وران کـــوره اللـــه دې مـــل شـــه[85]

محمد نذیر شموزی په یو ازاد نظم کې داسې لیکي:

کـــــه روس کـــــه هندوســـــتان
غـــــاوره پـــــه افغـــــان
ســـزا بـــه یـــې پښـــتون خـــوري
غلطـــــــــي د پاکســـــتان
وســـــله لـــــه کـــــومې راغلـــــه
لـــــه چیرتـــــه طالبـــــان
عـــــوام دي کـــــه خـــــواص
پـــــه مـــــونږ شـــــو ظالمـــــان
زمـــــا زمکـــــه تبـــــاه شـــــوه
خنـــــدا کـــــوي اســـــمان
بـــس زه یـــې پـــه ژړا کـــړم
گـــدا کـــړي غلـــیمان
زمـــا مینـــه خـــر خیـــږي
پیســـې شـــماري جانـــان

خپـــــــــل خلـــــــــــق وژنـــــــــــو يـــــــــاره
مـــــــــونږ ډېـــــــــر يـــــــــــو غيرتيـــــــــان[٨٦]

په افغانستان د امريکې د وحشيانه بمبارۍ په وخت کې ډاکټر ديدار يوسفزی د "جبر" تر سر خط لاندې داسې ليکي:

رانـــه تـــاو شـــوي دي وحشـــيان ســـړي خـــواره چـــاپېره
پـــه هوســـناکو پنجـــو نـــولي مـــو مازغـــه چـــاپېره
پـــه شســـت يـــې نـــه دي د ځوانـــانو ککـــرۍ يـــواځې
وژني پـــه غـــولي کـــې زمـــونږه لـــوی واړه چـــاپېره
چـــې دې دپاســـه ورلـــه هـــم پـــه لاس کـــې لاس ورکـــوو
ورلـــه د خپلـــې بـــې حســـۍ ځـــومره احســـاس ورکـــوو
زمـــونږه پلونـــه پړاوونـــه يـــو پـــه ســـل ورانـــوي
هـــم مـــو اقـــدار هـــم مـــو اثـــار بـــس پـــه چـــل چـــل ورانـــوي
يـــو خـــوا شـــهيد يـــې کـــړه جـــمات د بـــابري د وختـــو
بـــل خـــوا زمـــونږ قبلـــه اول هـــم پـــه غوبـــل ورانـــوي
د دوی د لاســـــه هـــــر دېـــــوال دی نړېـــــدلی زمـــــونږ
د دوی د لاســـــه هـــــر ارمـــــان دی روړېـــــدلی زمـــــونږ
کلـــــه بغـــــداد د زور او ظلـــــم پـــــه يرغـــــل ورانـــــوي
کلـــــه خرطـــــوم ښـــــاريه هســـــې پـــــه اټکـــــل ورانـــــوي
کلـــــه يـــــې نخښـــــه تريپـــــولي کلـــــه يـــــې چيچنيـــــا وي
کلـــــه زمـــــونږ د بابـــــا کـــــور زمـــــونږ کابـــــل ورانـــــوي
خـــو د نـــړۍ پـــه بڼـــو ســـترگو لا پـــردې پرتـــې دي
پـــه خولـــه يـــې مهـــر دی پـــه فکـــر يـــې پهـــرې پرتـــې دي[٨٧]

رحيم شاه رحيم د "افغان کشاله" تر سر خط لاندې داسې ليکي:

مـــونږ کـــه يـــو خـــوا گـــورو پړانـــگ دی او کـــه بـــل خـــوا گـــورو ټانـــگ دی
پـــه دې ميـــنځ کـــې نـــور څـــه نشـــته پـــروت زمـــونږ پـــه اوگـــو ډانـــگ دی
چـــا پـــه غـــوږ کـــې راتـــه وېلـــې بـــې اودســـه مـــلا بانـــگ دی
چـــې انجـــام رانـــه نـــن پـــټ دی د ويتنـــام کـــه د هانـــگ کانـــگ دی

پـــه دې هســـــې نــــازک وخـــت کـــې د شـــاهين نظـــر پيـــدا کـــړئ
پـــــه ايـــران اورونــــه بـــل شـــو فلســـطين پـــه وينـــو ســـور دی
جرمنـــــــې دوه ټـــــوټې گـــــوره بنگلـــــه دېـــــش د زړه ناســــور دی
د لبنــــــان خــــــو راتــــــه وايـــــه اخــــر شــــوی څــــه قصـــور دی
پـــــه کشــــمير د کشـــــميريانو ژونــــــد اخــــر ولـــــې تنـــور دی
لــــــړ پــــــرواز د فکــــــر اوکــــــړئ د عقــــــاب وزر پيــــــدا کــــــړئ
امريکــــه روس تربــــوران دي دوی پــــه خپلــــو کــــې ښــــه وران دي
پښــــتانه د دوی پـــــه لاس کـــــې اخــــــر ولـــــې مـــــړزان دي
تربــــوري د دوی خپلــــه پــــه خپـــل ســـود کـــه پـــه خپـــل زيـــان دي
خـــــو پـــــه غــــولي کـــــې زمـــــونږه ولـــــې مشــــت او گرېبــــان دي[88]

رحيم شاه رحيم په يوه ملي نغمه کې افغان وطن داسې يادوي:

گــــران وطـــن افغـــان وطـــن زمـــونږ د زړه درمـــان وطـــن
تــــل دې وي قربـــان پـــه تـــا زمـــونږه دل و جـــان وطـــن[89]

بل ځای کې رحيم شاه رحيم د افغان ولس په نوم داسې پيغام ورکوي:

څــــوارلس کالــــه جنــــگ مــــو اوکــــړه سر شــــيندونکو افغانــــانو
نــــړۍ ستاســــو زور تســــليم کــــړه مــــاتی اوخــــوړ غليمانــــو
تاســـو نـــوی تـــاريخ ســـاز کـــړه کشـــيده پـــه خپلـــو وينـــو
يادگارونــــه مــــو قــــائم کــــړل پــــه جهــــان کــــې بــــاتورانو
ســـياسي مصـــلحت دا دی چـــې اوس خپـــل تعمـــير پکـــار دی
قـــام بېشـــکه زبـــون حـــال دی د دې قـــام تـــدبير پکـــار دی
خپـــل ذاتي اخـــتلاف پرېـــږدئ پـــه قـــامي جذبـــه کـــې ورک شـــئ
مســـــتقبل حېـــران ولاړ دی ورلـــه بـــل تقـــدير پکـــار دی[۹۰]

حکيم الله بريالی د افغان جنگ په باره کې داسې وايي:

دا خــــــوار وگــــــړي پــــــه کــــــوم تــــــور وژني
افغــــــان زلمــــــي چــــــې کــــــور پــــــه کــــــور وژني
ملگــــــــرو څــــــــه سر شــــــــته د دې خــــــــبرې
ورور پــــــه مــــــا وژني مــــــا پــــــه ورور وژني[۹۱]

او په بل ځای کې داسې وايي:

ککـــــرۍ بايلمـــــه مـــــيراث د خپـــــل تـــــاريخ ټينگـــــوم
خـــــو د ډگـــــر تېښـــــته يادېږمـــــه افغـــــان نـــــه کړمـــــه
تـــــر د هغـــــې دې وي ارام د ســـــوور غوښـــــه پـــــه مـــــا
چـــــې د غلـــــيم پـــــه وينـــــو ســـــور افغانســـــتان نـــــه کړمـــــه [۹۲]

قيس په يوه هايکو کې افغان جنگ طرف ته داسې اشاره کړې ده:

چـــــې کلـــــه روس راغـــــی پـــــه روس مـــــې خـــــرڅ کـــــړه
اوس پـــــه ډالـــــرو مـــــې بـــــدل کـــــړه افغـــــان
زه قـــــام پرســـــت يـــــم کـــــه قـــــام خرڅـــــه يمـــــه[۹۳]

د سوات د شاعرانو او ليکوالانو له دې احساساتو نه پته لگي چې د افغانستان جنگ د سوات پر پښتو ادب هم خپل اثرات مرتب کړي دي.

د سوات د امن په بربادۍ وير وينا

اگر که د پښتو په وخت کې په سوات کې د امن و امان په حواله څه لږ ډېر اړې گړې و، خو بيا له رياستي دور نه د سوات د امن و امان حالات ډېر ښه شوي وو او تر ۲۰۰٦ پورې دا حالات ښه برابر وو ، ځکه خو په ۲۰۰٦ کې رحيم شاه رحيم په "سوات نامه جواب نامه" کې داسې ليکي:

تـــــر ښايســـــت يـــــې ده قيصـــــه د امـــــن زياتـــــه
چـــــا ويـــــلي چـــــې ســـــوات ډک دی لـــــه فســـــاته[۹۴]

او بل ځای کې داسې وايي:

ســـــوات د امـــــن او راحـــــت يـــــو ښـــــه مثـــــال دی
پـــــه ښايســـــت د پښـــــتونخوا کـــــې د مـــــخ خـــــال دی[۹۵]

کله چې له ۲۰۰۷ نه د سوات امن تاله ترغه کړی شو او له جنت وطن سوات نه د بارودو لمبې پورته شوې، نو شاعرانو او ليکوالانو په دې حالاتو هم وير وينا کړې ده. په دې اړه صابر داسې وايي:

چينـې چنـار تـه پـه ژړا کـې ويـل پـه سـوات کـې ولـې فسـادونه اوشـو
ستا پـه گولـو تنـه سـورۍ سـورۍ ده زمـا پـه زړه کـې هـم غارونـه اوشـو

چنار ویل دا د پردو پـه لمسـه خپلـو د سـوات ښائسـت تـه اور پـورې کـړه
د سوات سـاده خلـق حېـران ولاړ وو چـې د ظـالم ځـامنو نـور پـورې کـړه
خانه جنګي یې مسلط کړه په دوی هم یې کړه مړه هم یې پرې تور پورې
کړه ـ د سوات په ښکلې او پر امن خاوره چې نه کېده هغه کارونه اوشو[96]

او بل ځای کې داسې وایي:

دا چـــا میـــدان جنـــګ جـــوړ کـــړه زمـــونږ د ښـــکلي ســـواته
زه چـــا تـــه قصـــور اوکړمـــه فـــوجي تـــه کـــه مـــلا تـــه
دا چـــا د امـــن ډکـــه ســـیمه داســـې جنـــګ زده کـــړه
د ســـوات پاکـــه فضـــا یـــې پـــه رنجکـــو الـــوده کـــړه
دا چـــا د ترقـــۍ پایـــه زمـــونږه بوتلـــه شـــاته[97]

په سوات چې د بارودو کوم اور بل شوی و، د هغې په باره کې یو شاعر په دې هایکو کې داسې وایي:

څـــو بـــه دې ژاړو خـــوار نصـــیبه زمـــونږ
د چـــا د تېلـــو د چینـــو د لاســـه
زمـــونږ د ســـوات پـــه واورو اور اولګېـــد[98]

د سوات پرهرونه یو شاعر داسې یادوي:

ســـواته دا ســـتا غـــم زه زغملـــی نـــه شـــم
پرهـــر پرهـــر دې نـــور لیـــدلی نـــه شـــم
ســـتا د ښایســـت ســـېنې چـــې څـــوک پرېکـــوي
پـــه دغـــه صـــف کـــې ودرېـــدلی نـــه شـــم
ســـتا د جبـــین نـــه چـــې خالونـــه ورانـــئ
لمبـــه لمبـــه شـــم صـــبرېدلی نـــه شـــم[99]

او بل ځای کې د سوات په باره کې داسې ټپې وایي:

ازار خـــو نـــه دی نظـــر ښـــکاري
ســـواته پـــه ســـپین جبـــین دې جـــوړ شـــولو جنګونـــه
زړګـــی مـــې داســـې اوس نـــري شـــه
ســـواته چـــې تـــا زه یـــادوم ژړا راځینـــه

پـــــه تـــــا مئـــــېن پــــــه تــــــا بـــــــه ژاړم
ســــواته کـــه ســـتا پـــه سر مـــــې دار تـــــه خېژوينـــــه[100]

شهر يار ظاهر "د سوات ناوې تر سرخط لاندې داسې ليکي:

دا چــــې د ښايســـت پـــه گلســـتان کـــې بـــې مثالـــه وه
دا چـــې پــــه خېـــوه کـــــې د ســــيالانو سره ســــياله وه
دا چــــې د گلونـــــو پــــه جــــامو کـــــې بـــــه ســــنباله وه
يــــا لکـــــه پـــــري د پرســــتان بــــــدري جمالـــــه وه
نـــــن هغـــــه د ســـــوات نــــاوې خــــزان ميراتـــــه کـــــړې ده
مـــــلا ورلـــــه حــــالاتو پــــه ځـــوانۍ کـــې ماتـــه کـــړې ده
دا چـــــې لکــــه ځانگـــــه د ســــپرلي پـــــه رنـــگ رنگينـــــه وه
گـــــل غـــــاړه غنـــــدل د خوشـــــبو ډکـــــه گـــــل ورينـــــه وه
جــــوړه د فطـــــرت د فــــــن پــــــه گوتــــــو ښــــه حســــينه وه
وړ وه د ســـــــتاينې زار شـــــــم ټولـــــه مينـــــــه مينـــــه وه
کيــــــږي نـــــن زمــــا د هغــــې نــــاوې پـــــه وربـــــل ډزې
دا لکـــــه دشــــمن کــــوي زمـــــا پـــــه دې گوگـــــل ډزې
ښــــتې وې د نــــاوې پـــــه اوربـــــل مـــــې د لښــــکرو جنـــــگ
غېــــږ تـــــه يـــــې د امـــــن، خدايـــــه راوړو جنـــــگ بــــبرو جنـــــگ
تـــــود دی د بـــــارودو او د توپـــــــو د مــــــاتړو جنـــــــگ
نــــــه ختميــــــږي اوس دا د ځنگـــــــل د ځنـــــاورو جنـــــــگ
نـــــن مـــــې حيـــــا داره د پښــــــتو نــــــاوې سر تـــــوره ده
وختــــه ســـتا د لاســـه پـــه دې شـــته کـــور کـــې بـــې کـــوره ده[101]

يو بل شاعر په سوات د بل شوي اور ذکر داسې کوي:

درتـــــه لا جــــوړ نـــــه يـــــم دلـــــبره او خنـــــدلی نـــــه شــــم
د ښــــــکلا گــــــانو پــــــــه ســـــــوات اور بليـــــــږي
زه دې لا غــــاړې لـــــه امېـــــل د گــــل راوړلـــــی نـــــه شـــــم
د ښــــــکلا گــــــانو پــــــــه ســـــــوات اور بليـــــــږي
د چينـــــو شـــــور د ابشــــارونو نغمــــې بنـــــدې شـــولې

د محبـــــــــت ســــــــــندرې ځنـــــــــګ ووايـــــــــم
د هـــــر ارمـــــان د بهـــــارونو نغمـــــې بنـــــدې شـــــولې
زه د ښـــــــکلا غزلـــــــــې ځنـــــــــګ ووايـــــــــم
جانانـــه خپـــل وطـــن جانـــان مـــې هېرولـــی نـــه شـــم
د ښـــــکلا ګـــــانو پـــــه ســـــوات اور بليـــــږي[۱۰۲]

محمد الياس ثاقب "د سوات حالات" تر سرخط لاندې داسې ليکي:

خنـــدا مـــو ورکـــه ده د هـــر کـــور نـــه ويرونـــه خيـــژي
قـــــلارۍ نشـــــته د توپونـــــو اوازونـــــه خيـــــژي
خـــوب بـــه مـــو څنـــګ اوشي چـــې دا رنګـــې ډزونـــه خيـــژي
د يـــو يـــو ډز سره خـــالص د خلقـــو زړونـــه خيـــژي
څـــوک د ملبـــو نـــه د لاشـــونو پـــه ويســـتو ســـتړي شـــو
څـــوک مقـــبرو کـــې پـــه قبرونـــو کنســـتو ســـتړي شـــو
څـــوک جنـــازو تـــه د نيتونـــو پـــه لوســـتو ســـتړي شـــو
خـــو هغـــه کلـــه د مـــارتړو پـــه ويشـــتو ســـتړي شـــو
يـــو وئ حيـــران يـــم چـــې دا ولـــې پـــه رکشـــه کـــې مـــړ دی
بـــل وئ کرفيـــو نـــه خـــبر نـــه وه پـــه دهوکـــه کـــې مـــړ دی
څـــوک وئ هـــيڅ پتـــه راتـــه نشـــته چـــې پـــه څـــه کـــې مـــړ دی
څـــوک وئ فلانـــی دې پېژنـــده پـــه دهماکـــه کـــې مـــړ دی[۱۰۳]

محمد ګل منصور د سوات د جنګ منظر نامه داسې بيانوي:

چـــې مـــې پـــه زمکـــه لـــوېټې د خپلـــو خويانـــدو ليـــدې
زمانـــــــه هـــــــر څـــــــه هېـــــــر شـــــــو
چـــې ماشـــومان بـــه مـــې د وېـــرې نـــه نختـــل پښـــو پـــورې
زمانـــــــه هـــــــر څـــــــه هېـــــــر شـــــــو
چـــې مـــې مـــزار پـــه مقـــبره کـــې د بابـــا ورانېـــده
زمانـــــــه هـــــــر څـــــــه هېـــــــر شـــــــو
چـــې مـــې د خـــاورې د شـــنو ونـــو نـــه لمبـــې ختلـــې
زمانـــــــه هـــــــر څـــــــه هېـــــــر شـــــــو

چـــې مشرـــانو مـــې نیـــولې وې شـــملې پـــه تـــرخ کـــې
زمانـــــه هـــــر څـــــه هېـــــر شـــــو
چـــې د انســـان د عظمتونـــو قتـــل گـــاه گرمـــه وه
زمانـــــه هـــــر څـــــه هېـــــر شـــــو
د لـــوی اخـــتر قربـــانې هـــم پـــه انســـانانو کېـــده
زمانـــــه هـــــر څـــــه هېـــــر شـــــو[١٠٤]

او کله چې د سوات خلک له سوات نه وویستلی شول، نو دغه منظر یو شاعر داسې بیان کړی دی:

وختونـــــو څـــــه راتـــــه اونـــــه ښـــودل
چـــــې مـــــې واړه ورونـــــه د کـــــلې وتـــــل
تمبـــــوان یـــــې واخســـــتل د ځانـــــه سره
هغـــــوی لـــــه کـــــلي چرتـــــه وتي نـــــه وو
هغـــــو پـــــه بلـــــه لهجـــــه څـــــه پوهېـــــدل
هغـــــوی خـــــو مـــــا نـــــازک نیـــــازبین ســـــاتلي
هغـــوی خـــو تـــل مســـتی، کـــې ژونـــد کـــړی وه
هغـــو خـــو تـــل یـــو نـــا جـــائزه ضـــد هـــم
پـــــه مـــــا منلـــــی وه، منلـــــی مـــــې وه
لکـــــه پـــــه پـــــاڼو کـــــې گـــــلان چـــــې اوسي
داســـــې مـــــې غېـــــږه کـــــې ســـــاتلي مـــــدام
نـــــن هغـــــو بـــــل کـــــلي کـــــې شـــــپې کـــــولې
پـــــه نااشـــــنا خلقـــــو نـــــا اشـــــنا کـــــلي کـــــې
هغـــــو پـــــه وېـــــره وېـــــره ژونـــــد تېـــــروه
هیڅـــــوک یـــــې نـــــه وو د تپـــــوس هلتـــــه کـــــې
خـــــیر دی پـــــه دې هـــــر څـــــه خفـــــه نـــــه یمـــــه
وخـــت بـــه هـــم تېـــر شي دا هـــر څـــه بـــه هـــم هېـــر شي
خـــــو زه بـــــه دا خـــــبره ځنـــــگ هېـــــره وم
چـــــې وړو ورونـــــو پـــــه تمبوانـــــو کـــــې مـــــې

په کـــوم یـــو کـــلي کـــې څـــو شـــپې کـــړي دي
هغـــــه یـــــو کلـــــی د خـــــوږ دوســــــت وه زمـــــا[۱۰۵]

تاریخ دا ښیي چې یو ځل د سوات خلک د اکبر باچا د فوځ له لاسه هم بې کوره شوي وو او ډېر یوسفزي له سوات نه پېښور او لاندې علاقو ته راغلي وو چې په دې کې اخوند دروېزه هم شامل و. په دې کې څه یوسفزي او نور خلک دولس کاله بعد سوات ته واپس لاړل او بعضې خلک په پېښور کې پاتې شول.[۱۰٦] رضا خان رضا د سوات د خرابو حالاتو په باره کې داسې وایي:

د وخـــت خـــدایانو ســـتا اولـــس کـــړه پـــه وتـــو مجبـــوره
چـــــې خپـــــل کورونـــــــه پرېـــــــږدي
کـــړه یـــې پـــه ډېـــرو لـــوړو تنـــدو ژړېـــدو مجبـــوره
چـــــې خپـــــل کورونـــــــه پرېـــــــږدي
پـــه څـــو څـــو رنګـــه ســـتا ازمېښـــت او امتحـــان کېـــده
ســـــــواته چـــــــا هـــــــیڅ اونـــــــه وې[۱۰۷]

د سوات په جنګي حالاتو کې د سوات د خلکو کډوال کېدل یوه لویه المیه وه، نو ځکه یې پر ادب باندې هم اثرات په نظر راځي، د سوات د کډوالو باره کې ډېرې ټپې هم خلکو ویلي دي، لکه د مثال په توګه دا ټپې:

د مالاکنـــــــډ پـــــــه سر نعـــــــرې شـــــــوې
د ســـــــوات پـــــــه سرو ګلونـــــــو اور اولګېدنـــــــه
پـــــــــه مالاکنـــــــــډ کـــــــــډې رااوړي
د درګـــــــۍ خلـــــــق ورتـــــــه اوښـــــــکې تویوینـــــــه
د مالاکنـــــــــډ پـــــــــه دنګـــــــــو لارو
پښـــــتنې پېغلـــــې پیـــــدل ځـــــې ژړا کوینـــــه[۱۰۸]

د سوات د خلکو د بې وسۍ او د سوات پر خلکو چې کوم ظلمونه شوي، د هغوی یادونه په یو بل نظم کې داسې شوې ده:

پـــه مـــونږ څـــوک څـــه کـــوي زیـــاتي یـــو مـــونږ تـــه څـــه پتـــه وه
ګـــوره! دا څـــومره لېـــوني یـــو مـــونږ تـــه څـــه پتـــه وه
پـــه مـــونږ ګـــولۍ راورېـــدې چـــا مـــو تپـــوس نـــه کـــا وه

په مونږ کوټې راغورځېدې چا مو تپوس نا کاوه
د هیچ چا خپل نه یو پردي یو مونږ ته څه پته وه
په جنگ مئېن څوک وو او څوک بدنامېده ورپکې
گناه د چا وه او دا څوک نیوی کېده ورپکې
قاتلان څوک وو او دا څوک قتل کېده ور پکې
داسې په نخښه د ښکاري یو مونږ ته څه پته وه
اوس به یې څنگه هېروو زهر څکلي دي مونږ
سرتور سرونه پښتنې خویاندې لیدلي دي مونږ
حلال مالونه د کلونو چې بایللي دي مونږ
څه انسانان نه یو څاروي یو مونږ ته څه پته وه
زما واړه واړه بچي یې معاف کړي نه دي
روغ خو پرېږده،لېوني یې معاف کړي نه دي
انسانان هم خیر دی څاروي یې معاف کړي نه دي
منصوره! گرم یو افغاني یو مونږ ته څه پته وه
گوره! دا څومره لېوني یو مونږ ته څه پته وه[109]

یو بل شاعر داسې وایي:

دا چا ټوټې ټوټې کسکر کسکر کړه زما سوات
دا چا د امن غېږ نه رابهر کړه زما سوات
شوې ډېرې پېغلې کونډې او بچي یتیمان شول
ډېر خلق بې درکه شول د ډېرو کلي وران شول
د ډېرو غېږ خالي شوه ډېر په ژوند پورې حیران شول
خپل ورور مې ورور د ورور سره په شر کړه زما سوات
دا چا د امن غېږ نه رابهر کړه زما سوات
بس سم یو قیامت جوړ وه په هر لور جوړه غوغا وه
سرې اوښکې بهېدلې واوېلا وه واوېلا وه
د سوات ښکلې غېږه څه وه خو بس سمه کر بلا وه
دا چا په لوی سازش د جنگ سنگر کړه زما سوات

دا چـــا د امــــن غېــــږ نــــه رابهــــر کـــړه زمـــا ســــوات
د غېـــر د اوره بـــچ نــــه شــــه دهقـــان وه کـــه مـــزدور وه
نـــو څنـــګ بــه بــچ کېـدل چــې دا خپــل کــور ورتــه تنــور وه
پـــه هـــر بشرــ تکلیـــف وه صـــحت یـــاب وه کـــه معـــذور وه
دا چــــا د وینــــو اوښــــکو ســـمندر کـــړه زمـــا ســــوات
دا چـــا د امـــن غېـــږ نـــه رابهـــر کـــړه زمـــا ســــوات
ســــکولونه، مدرســــې او مکتبونــــه زمـــونږ ړنـــګ شــــو
ورشــــې او ګلـــدرې پټـــې فصـــلونه زمـــونږ ړنـــګ شـــو
چینـــې او حجـــرې څـــه چـــې خپـــل کورونـــه زمـــونږ ړنـــګ شـــو
دا چـــا پـــه هـــر انـــدام پرهـــر پرهـــر کـــړه زمـــا ســــوات
دا چـــا د امـــن غېـــږ نـــه رابهـــر کـــړه زمـــا ســـوات
څـــادر یـــې د حیـــا کـــوز کـــړه زمـــونږ د خـــور د سر نـــه
محتـــاج یـــې پښـــتانه کـــړل د بـــل درتـــه د خپـــل در نـــه
هغـــه یـــې در پـــه در کـــړل چـــې وتـــلي نـــه وو د ور نـــه
دا چـــا د ســـوات د ســـیمې در پـــه در کـــړه زمـــا ســـوات
دا چـــا د امـــن غېـــږ نـــه رابهـــر کـــړه زمـــا ســـوات[۱۱۰]

له سوات نه د حسن او د امن په رخصتېدو یو بل لیکوال داسې فریاد کوي:

ای ســـواته ســـتا د حســـن ښـــکلا ګـــانې چرتـــه لاړې
خـــورې د امـــن ډکـــې هواګـــانې چرتـــه لاړې
پـــه غرونـــو پـــه ســـمونو دې ښایســـته شـــین څـــادر خـــور وه
د حســـن ښـــکلا ډک هـــره حجـــره، جماعـــت او کـــور وه
د ســـوات د امـــن غـــږ خـــور پـــه نـــړۍ کـــې لـــور پـــه لـــور وه
تیـــارې شـــوې د بـــارودو رڼـــا ګـــانې چرتـــه لاړې
ای ســـواته ســـتا د حســـن ښـــکلا ګـــانې چرتـــه لاړې[۱۱۱]

د سوات په مثالي امن کې چې کله ناخاپي خلکو دا ظلمونه او زیاتي ولیدل، نو ظاهره خبره ده چې هغوی به خپل دغه فرهاد کولو. د یادونې وړ ده چې ډېر لیکوالان داسې هم شته چې هغوی د سوات د دغه وخت د ظلمونو هغه اصلي ذمه واران هم نبغ په

نېغه په گوته کړي، خو د څه مجبوریو له کبله هغوی خپل لیکونه لا تر اوسه نه دي چاپ کړي، هیله لرو چې ډېر زر به د سوات د لیکوالانو په لیکونو کې دغه ټولې خبرې ښکاره شي او ټول قام به په دې خبره پوه شي چې په سوات کې دا لوبه چا گرمه کړې وه او د دې په شا مقاصد څه وو.

د امن غږ

کله چې د سوات خلکو د جنگ اور په خپلو سترگو ولید او خپل ځانونه او مالونه یې پکې وبایلل، نو هغوی د جنگ د تباکاریانو نه ډېر تنگ شو او د امن لپاره یې چغې وهل شروع کړه. د امن په باره کې یو لیکوال د "امن" تر سر خط لاندې داسې لیکي:

د قلـــم ژبـــه مـــې مـــدام امـــن لـــه غبـــږه ورکـــوي
مـــا محبـــت تـــه پخـــیر راغلـــی هـــر کلـــی ویلـــی
هغـــه اولـــس د گلســـتان پـــه غېـــږ کـــې ژوند تېـــروي
چـــې یـــې د خـــاورې نـــه یـــو جنـــگ او بـــل نفـــرت شـــړلی[۱۱۲]

د امن په باره کې د ضیاءالدّین یوسفزي د یو نظم "امن تینگ ساتل جهاد دی" نه یو دوه بندونه دا دي:

امن ژوند دی امن ساز دی
امن مینه ده، ښکلا ده

امن سپـــل دی د کونتـــرو | امـــن غرونـــه د نختـــرو
امن خوند دی د گور گـــورو | امـــن رنـــگ دی د گـــودرو
امن شـرنگ دی د پانزېبـــو | امـــن ترنـــگ دی د ســـندرو
امن گل گل سمـــــې غرونه | د خوشـــبو ډکـــه فضـــا ده
امن ژوند دی امن ســـاز دی | امـــن مینـــه ده، ښـــکلا ده
جنگ فتنه ده وسوســـــه ده | جنـــگ د کرکـــې نتېجـــه ده
د خپل سیوري نه به تختـــې | جنـــگ د وېـــرې اندېښـــنه ده
په رڼا پسې به ړوند شـــــې | جنـــگ یـــو تکـــه تـــوره شـــپه ده
جنگ هیڅ حل د شخړو نه دی | جنـــگ پـــه خپلـــه مســـئله ده
د انســـــــان په وینو پائي | جنـــگ هغـــه تـــوره بـــلا ده

امن ژوند دی امن ساز دی

امن مينه ده، ښكلا ده[113]

يو بل شاعر "د امن قاتل" تر سر خط لاندې داسې وايي:

قاتـــــل د امـــــن مـــــې د امـــــن پـــــه نـــــوم قتـــــل كـــــوي
زمـــــا ارمـــــان قتلـــــوي زمـــــا احســـــاس قتلـــــوي
دا قـــــاتلان دي ظالمـــــان مـــــې ماشـــــومان قتلـــــوي
دا څنـــــگ د امـــــن پيـــــامبر دي! امـــــن څـــــه تـــــه وايـــــي؟
امـــــن دې تـــــه وايـــــي چـــــې مـــــې د پېغلـــــو د سرونـــــو لـــــوپټې والـــــوتې
چـــــې مـــــې د مينـــــدو گرېوانونـــــه د حيـــــا څـــــيرې شـــــول
پكـــــې لاســـــونه پـــــه نكريـــــزو سره پـــــه وينـــــو سره شـــــول
هاغـــــه مســـــكا د شـــــونډو لاړلـــــه ســـــلگۍ پـــــرې راغلـــــې
زه دې تـــــه امـــــن نـــــه ويـــــم
زه دې تـــــه صـــــلح نـــــه ويـــــم
زه دې تـــــه مينـــــه نـــــه ويـــــم
ورتـــــه رهـــــبر هـــــم نـــــه ويـــــم
ورتـــــه خـــــير خـــــوا هـــــم نـــــه ويـــــم
ورتـــــه غمخـــــوار هـــــم نـــــه ويـــــم
ورتـــــه خـــــوددار هـــــم نـــــه ويـــــم[114]

قاسم سرحدي د امن په باره كې داسې ليكي:

امـــــن د امـــــن پـــــه مېـــــز يـــــا پـــــه مېـــــدان د امـــــن
جـــــوړ كـــــه داســـــتان د امـــــن، واخلـــــه ســـــامان د امـــــن
دنيـــــا مـــــه ځـــــان لـــــه گټـــــه، دنيـــــا نـــــه ځـــــان لـــــه گـــــټم
پـــــه حـــــق مـــــاموره تـــــه يـــــې، پـــــه حـــــق مـــــاموره زه يـــــم
د افريقـــــې نـــــه واخلـــــه تـــــر بدخشـــــان د امـــــن
امـــــن د امـــــن پـــــه مېـــــز يـــــا پـــــه ميـــــدان د امـــــن
كـــــه ســـــتا نـــــه امـــــن غـــــواړم، تـــــا لـــــه بـــــه امـــــن دركـــــړم
كـــــه مـــــا نـــــه امـــــن غـــــواړې، راكـــــوې امـــــن بـــــه تـــــه
نشـــــته دى بـــــل ځـــــاى داســـــې، چرتـــــه دكـــــان د امـــــن

امـــن د امـــن پـــه مېـــز يـــا پـــه ميـــدان د امـــن[115]

قيس د "جنګ" تر سرخط لاندې د امن تصور داسې وړاندې کوي:

نـــن مـــې د خپـــل ماشـــوم ګـــل ګـــل بچـــوړي
پـــه دې خـــبره زړګـــی تـــخ مـــخ شـــه چـــې
هغـــــه پـــــه نرمـــــه او معصـــــومه ژبـــــه
ځـــه عجيبـــه شـــان ســـوال زمـــا نـــه وکـــړه
پـــه مـــايې غـــونی زيـــګ زيـــګ اودرولـــو
زمـــــا احســـــاس يـــــې بيـــــا راولـــــړزاو
هغـــه خـــو ډېـــر پـــه معصـــوم تـــوب کـــې اووې
دادا تـــــه مالـــــه يـــــو ټوپـــــک خـــــو واخلـــــه
بيـــا مـــا تـــه ګـــوره چـــې زه ځـــه کوومـــه
د اغيـــــار سر کـــــې ابـــــه ځښـــــمه کنـــــه[116]

په دغه نظم کې هغه دغه ماشوم ته د ټوپک پر ځای د قلم د اوچتولو خبره کوي او په دې يې پوه کوي چې دا زمانه د قلم د جنګ ده نه د ټوپک د جنګ او کله چې ځوک د قلم جنګ وګټي نو ټوله دنيا بيا له هغه نه امن غواړي:

تـــه د قلـــم پـــه دې وړوکـــي ژبـــه
د ارتقـــا دغـــه جنـــګ اوګټـــې نـــو
بيـــا کـــه تـــه هـــر ځـــو نـــوم د جنـــګ اخلـــې خـــو
دنيـــا بـــه ټولـــه ســـتا نـــه "امـــن" غـــواړي[117]

د سوات د دې دور په پښتو ادب کې د امن موضوع د شاعرۍ اهمه موضوع ده او په دې موضوع شاعرانو په مختلفو اصنافو کې ليکل کړي او دنيا ته يې دا پيغام رسولی چې مونږ امن پسند خلک يوو او مونږ امن غواړو. دا کوښښ يې هم کړی چې په مونږه چې د دهشت ګردۍ او ترهګرۍ دا کوم لېبل لګول شوی، دا زمونږ د کلتور او رواياتو خلاف دی.

جنګي وسلې

د سوات د پښتو ادب له تجزيې نه د هر دور د وسلو اندازه ولګېدله، له دې نه دا پته هم ولګېدله چې په نړيواله توګه کومې نوې وسلې متعارف کېږي هغه د دې ځای په ادب

کې هم په څه نه څه شکل کې په نظر راځي. د دې دور په ادب کې د جدید دور د جنګي وسلو ذکر هم موندلی شي. د ایټمي دهماکو په باره کې یو شاعر داسې وایي:

خلـــک خوشـــحالېږي پاکســـتان دهماکـــې اوکړلـــې
چـــا د چـــا پـــه لمســـه چـــا پـــه ځـــان دهماکـــې اوکړلـــې
دا څـــه دهماکـــې دي مـــونږه هـــر وخـــت ډزېـــدلي یـــو
مـــونږ پـــه دې ډرامـــو کـــې کـــال پـــه کـــالې لوبېـــدلي یـــو[118]

د بم په باره کې داسې لیکي:

مـــونږه بـــم نـــه! مـــونږه خپلـــې خېټـــې لـــه ډوډۍ غـــواړو
یـــا خـــو جـــوړ ســـمه خاتمـــه د زنـــدګۍ غـــواړو[119]

او د مسایلو د زیاتېدو وجه یو شاعر د وسلو زغل ښایي:

چرتـــه غـــوري میزائېـــل څـــه پرتهـــوي میزائېـــل
داســـې پـــه چـــل ول کـــې مـــو زیـــاتوي مســـائېل[120]

له دې طنزیه شعرونو نه هم پته لګي چې د سوات خلک امن غواړي او په هېڅ صورت هم جنګونو او جدیدو وسلو ته خوشحالېږي نه. د دې وجه دا ده چې د سوات خلک په دې پوه شول چې دا وسلې زمونږه مسئلې حل کوي نه، بلکې لا یې زیاتوي. بله خبره دا ده چې د سوات خلک پخپله د دې خطرناکو جنګي وسلو ښکار شوي دي ځکه هغوی د هر قسمه وسلو د زغل خلاف دي.

سیاست

په دې دور کې چې د سوات خلکو کوم تکلیفونه او مشکلات ولیدل او په دې حالاتو کې ډېرو کمو سیاسي مشرانو د سوات له خلکو سره غمرازي کړې ده، نو همدغه وجه ده چې د سوات د خلکو د سیاست، سیاسي پارټیو او سیاسي مشرانو نه بې زاري د دې دور په پښتو ادب کې په نظر راځي. د دې دور په پښتو ادب کې سیاست او سیاسي لیډرانو ته په ښه نظر نه دي کتل شوي. برکت علي برکت د لیډر د احساس په باره کې په دی هایکو کې داسې وایي:

نـــــوم د احســـــاس چـــــې د لیـــــډر نـــــه واورم
شي زمـــا ټـــول وجـــود بـــې حســـه غونـــدې

چــــې څنـــــګ قصـــــاب سره شــــه غـــــم د څــــاروي[۱۲۱]

په سياست کې په اظهار خيال د پابندۍ په باره کې صابر داسې وايي:

خـــــولې بنـــــدول پــــه زور د خلقـــــو سياســـــت خــــو نــــه دی
ده بـــــدمعاشي، بــــد معـــــاشي جمهوريــــت خــــو نــــه دی[۱۲۲]

يو بل ځای کې صابر احمد د "سياست نامه" تر سرخط لاندې د سياست په باره کې داسې ليکي:

سياســــت څــــه دی خــــو دهوکـــه فرېـــب کـــول دي دروغ ويـــل دي
دروغ ويـــل دي خـــو ويـــل يـــې لـــږ پـــه چـــل دي دروغ ويـــل دي[۱۲۳]

رحيم شاه رحيم د سياست او سياسي ليډرانو په باره کې داسې ليکي:

سياســــت چـــې د دهوکـــو شـــه حکومـــت د دهماکـــو شــــه
د دې دواړو د عذابـــــه ملـــــک د ګوتـــــو د لکـــــو شــــــه
لــــــوی منصـــــب د وزارت وه د عــــــزت او د خـــــدمت وه
وزيــــر خپـــل فـــرائض هېـــر کـــړل بوخـــت پـــه شـــوکو او ډاکـــو شـــه
کـــه ډېـــر ښـــه سياســـتدان وه غـــټ يـــې نـــوم او خانـــدان وه
د ازمېښــــت مقـــام چـــې راغـــی د پيشـــاړو د خـــاکو شــــه
افـــرين پـــه اســـمبلو کـــې پـــه خرڅـــون د ممبرانـــــو
کـــه مضـــبوط لکـــه فـــولاد وه ارتـــاو هلتـــه پـــه پوکـــو شـــه[۱۲٤]

عبدالقهارمخلص ووتړ ته د هغه اهميت او مقام داسې ښيي:

ګـــــوره ای ووټــــره د اعــــلیٰ نــــه چـــې ادنیٰ نـــه شـــې
تـــه حکومـــت ســـاز يـــې هســـې نـــه چـــې وارخطـــا نـــه شـــې
دا نـــــاظم ممـــبر وزيـــــر او صـــــدر تـــــا جـــــوړ کـــړي دي
پـــام کـــوه چـــې تـــه د حيثيـــت خپـــل نـــا اشـــنا نـــه شـــې
تـــا تـــه دا مالـــدار حـــرام خـــواره د لالـــچ تـــال نيسيـــ
هســـې نـــه چـــې تـــه د ګنـــده خلقـــو سره ســـخا نـــه شـــې
دغـــه منـــافق خـــو اليکشـــن پـــورې دوســـتي ســـاتي
تـــه د منـــافقو خـــود غرضـــو هـــم نـــوا نـــه شـــې[۱۲۵]

د موجوده سياسي نظام په باره کې رحيم شاه داسې ليکي:

ځـــــه قـــــانون ځـــــه سیاســـــت
ځـــــه وطـــــن ځـــــه حکومـــــت
اســـــمبلۍ پکـــــې جـــــوړېږي
بیـــــا ســـــاعت لـــــره مـــــاتیږي
ممـــــبران پکـــــې خرڅیـــــږي
لیـــــډران پکـــــې بـــــدلیږي
نـــــه ټـــــاکلی ځـــــه ائـــــین شـــــته
نـــــه تمیـــــز د تـــــور او ســـــپین شـــــته
تـــــش پـــــه نـــــوم جمهوریـــــت دی
شـــــا تـــــه پـــــټ تـــــرې امریـــــت دی[۱۲٦]

له سیاسي لیډرانو نه د خلکو د اعتماد لرې کیدلو غټه وجه همدا ده چې دې خلکو د ذاتي مفادو او لالچ لپاره قوم په تیارو کې پرېښود او خپله یې په هر ځای کې خپلو مفادو ته ترجیح ورکړه. بله خبره دا ده هغه جمهوریت په کوم چې اصلي طاقت د عوامو په لاس کې وي هغه جمهوریت نشته، اګر که په ظاهره جمهوریت ښکاري خو په حقیقت کې یې په شا امریت ولاړ دی. په سیاسي لیډرانو د اعتماد د ختمېدلو په باره کې قیس داسې وایي:

پـــه رهبرانـــو مـــو نـــور ځـــای د بـــاور پـــاتې نـــه شـــه
مـــونږ بـــه پـــه یـــو رنـــګ کـــې لیـــدل هغـــه بـــه نـــور اوخاتـــه
اخـــر مـــو ســـپین ســـپین د انصـــاف کرســـۍ تـــه اوخېـــژول
نتېجـــه دا شـــوه دوی د تـــورو نـــه هـــم تـــور اوخاتـــه[۱۲۷]

نذیر شموزي "پاکستاني رهبر ته" داسې وایي:

د غریـــــب اوښـــــکې خـــــولې
فریادونـــــه، شـــــور، نـــــالې
نتېجـــــه یـــــې د غاصـــــب
د شراب ډکـــــې پیـــــالې
دې احســـــاس مـــــې پـــــه ســـــینه کـــــې
جـــــوړې کـــــړې دي چهـــــالې
مـــــا د ختـــــو کـــــور جـــــوړ نـــــه کـــــړه

تا ودانې کړې بنګلې
مونږ وې ملک به ټول اوچت کړې
خپله خېټه صرف پالې[۱۲۸]

امیر فیاض پیرخېل "اوسنی سیاست" داسې بیانوي:

دا وطن زمونږ وطن دی دا رښتیا ده
نن اغیارو جوړه کړې واوېلا ده
څوک رښتیا او څوک دروغ راسره کاندي
پښتونخوا کې د کانګرسو چغه بیا ده
دا وطن چې چا جوړ کړی دی خبر یم
چې ورکړې قرباني ورپکې چا ده
څوک پښتون او پنجابی بلوچ سندهی شي
مهاجر هندوستانی بله بلا ده
په دې ملک کې نخښانې د اسلام نشته
دا خو ډله د فوځي سرکار صفا ده[۱۲۹]

د ووټ په وخت کې د سیاسي خلکو حالات داسې بیانوي:

چې په ووټونو کې د هر یو تن په پښو پرېوتې
اوس خو ممبره ستا سره بې رخي خوند نه کوي
چې شي ووټونه چیندخان د پشکال پیدا شي
فیاضه دغه موسمي مشري خوند نه کوي[۱۳۰]

او بل ځای کې داسې وایي:

بیا د ووټونو زمانه شوه مداریان ښکاره شو
بیا لیوني او سپېلني په دې کوځه تېرېږي[۱۳۱]

او " د ووټ غل" تر سر خط لاندې داسې لیکي:

بیا انتخاب دی لیډران پیدا شول
بیا د غریبو همدردان پیدا شول
خدایه مونږ څه اوکړو ذرې ذرې شو
بیا مو د وچې مشران پیدا شو[۱۳۲]

لنډه دا چې له سیاسي لیډرانو نه خلکو ډېر زیات سر ټکولی او د دوی منافقت یې هر ځای په ډاګه کړی دی. په دې دور کې لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول چې خلکو باندې ډېرې سختې راغلې او سیاسي خلکو یې مرسته و نه کړه، بلکې ډېر تش په نوم سیاسي خلک خو هم د سوات د خلکو په دې عذابولو کې شریک هم وو، همدغه وجوهات دي چې د سوات د خلکو پر سیاست او سیاسي لیډرانو باندې اعتماد ختم شوی دی.

توهّمات

توهم پرستي د پښتو ادب په هر دور کې موندی شي، دغه رنګ په دې دور کې هم توهم پرستي په ادب کې لیدی شي. مثالونه یې دا لاندې ورکړل شوي دي.

بد نظر

پر یو ښایسته انسان یا بل یو څیز د بد نظر د اثر د مخنیوي مختلفې طریقې دي، لکه د نظر نه یو څیز پټ ساتل یا ورته تعویذ په غاړه کول او نور. په دې شعر کې هم د بد نظر ذکر شوی دی:

نــــــه لګـــــــي نظــــــــر د بـــــــد نظـــــــرو پـــــــرې
پـــــــټ مـــــــې کېښـــــــولی د زړه تـــــــل کـــــــې دی[۱۳۳]

کوډې

د دې دور په ادب کې د کوډو ذکر هم موندلی شي، کوډې جادو منتر او نورو ته ویلې شي. په دې ټپه کې د کوډو د مرۍ ذکر شوی دی:

ســــــــــترګې دې بــــــــــې اثــــــــــره نــــــــــه دي
لکــــــه د کــــــوډو مــــــرۍ برګـــــې برګـــــې دینـــــه[۱۳٤]

تعویذونه

لائق زاده لائق په یو ازاد نظم "تعویذ" کې د تعویذ په باره کې داسې وایي:

زمــــــــا پــــــــه غــــــــاړه تعویــــــــذ
ســــــــتا د غــــــــرور پــــــــه نامــــــــه
"هاغــــــــــــه مــــــــــــلا" لیکلــــــــــــی

چې ماشوم توب کې به مونږ
ورسره ناست وو دواړه
تا به سبق ویلو
ما به دې مخ ته کتل
ملا به زه وهلم
تا به خندل راپورې
زما په غورو کې اوس
هاغه خندا پرته ده
تا د ځوانۍ په درشل
ایله قدم ایښی دی
سبق له نه راځې اوس
زما بې صبره زړګی
هډو قرار نه کوي
زه یو تعویذ په غاړه
ستا په لټون ګرځمه
دغه باور لرمه
چې ستا غرور به یو ځل
دغه تعویذ ماتوي
ځکه په دې پوهه یم
دا عقیده لرمه
ملا که "هر څه" کوي
ولې دروغ نه وایي[۱۳۵]

د سوات په خاوره د کوډو تعویذونو او د جادو اثرات د دې دور په ادب کې هم په نظر راځي. جادو او کوډې په هندوانو کې هم شته نو له دې وجې ډېر خلک دا څیز په دې خاوره د هندویزم یوه اثر ګڼي، لکه څنګه چې د تاریخ نه هم په ډاګه دي چې په سوات د هندو شاهي حکومت تر کافي وخته پورې موجود و.

د اظهار پابندي

په دې دور کې هم ځينو خلکو د خپلو خيالاتو اظهار په ډاګه نه دی کړی، ځکه چې هغوی څه نه څه مجبوريانو پابند کړي وو. يو ليکوال د "پابندي" تر سر خط لاندې داسې اظهار کوي:

هـــــيڅ نـــــه شـــــم ويلـــــی پـــــه ويلـــــو پابنـــــدي ده
خـــــوار تـــــه پـــــه قـــــدم پورتـــــه کولـــــو پابنـــــدي ده[١٣٦]

له ٢٠٠٧ نه را په دېخوا چې په سوات کې کوم خراب حالات رامخې ته کړی شوي وو په دغه دوران کې هم ځينو طاقتونو خلک په ازادۍ سره د خيال اظهار ته نه دي پرېښودي او که چا څه لږ ډېر اظهار کړی هم دی نو هغوی ته ډېر ګران پرېوتی دی.

د ښځو ژوند

په دې دور کې د ښځو د ژوند او د حالاتو په حواله څه نه څه په ادب کې په نظر راځي او د ښځو په حقله په سوچ فکر کې هم بدلون ښکاري. فضل محمود روښان د يو څو پښتنو مېرمنو په کارنامو مشتمل يو کتاب "سره پښتنه په شنو جامو کې"[١٣٧] هم ليکلی دی. په پښتنه ټولنه کې يو ډېر خراب رسم د سورې و چې په دښمنۍ کې به يې لور خور ورکوله او روغه به يې وکړه. دا رسم ديدار يوسفزي په يو نظم "سوره" کې غندلی دی. د دغه نظم يو څو شعرونه دا دي:

د ادم ځـــــامن بـــــالا دي د هـــــر رنګـــــه بندشـــــونو
د حـــــوا مجبـــــوره لـــــور يـــــم ځکـــــه ښـــــکار د نفرتونـــــو
چـــــې اوبـــــه مـــــدام بهيـــــږي پـــــه کمـــــزورو ورخونـــــو
د ژونـــــدون پـــــه دې مېلـــــه کـــــې پـــــه ويړيـــــا بيعـــــه خـــــر څېـــــږم
چـــــې روانـــــه يـــــم لـــــه کـــــوره، د رواج ســـــولۍ تـــــه خېـــــژم
چـــــا تړلـــــې خويانـــــدې لوښـــــه، د انـــــا پـــــه زنځيرونـــــو
چـــــا د کـــــور عـــــزت بـــــايللی، د ژونـــــدون پـــــه خواهشـــــونو
چـــــا د عمـــــر نـــــازولي، قربـــــان کـــــړي پـــــه رســـــمونو
پـــــه منکـــــره روايـــــاتو، څـــــو څـــــو ځلـــــه قربـــــانېږم
چـــــې روانـــــه يـــــم لـــــه کـــــوره، د رواج ســـــولۍ تـــــه خېـــــژم

ځـــو بـــه کيـــږي پـــه جرګـــو کـــې، وېـــش زمـــونږ د تقـــديرونو
ځـــو پـــه نـــوم بـــه د واده ځـــي، جنـــازې د ارمـــانونو
ځـــو بـــه ځـــانګي نصـــيبونه، پـــه صـــليب د رواجونـــو[138]

پښتانه د لور په پيداکېدلو خفه کېږي او د زوی په پيدايښت خوشحالېږي او بيا زوی ته د لور په نسبت زياته توجه ورکوي، ځکه خو يوه لور له خپل پلار نه داسې ګيله کوي:

تـــه زمـــا ابـــو يـــې خـــو زه ســـتا نـــه ګيلـــه منـــه يمـــه
نـــن يـــې درتـــه وايمـــه چـــې ولـــې زه غمژنـــه يمـــه
زمـــا پـــه پيـــدائش بانـــدې خفـــه شـــوې او زهـــير شـــولې
کلـــه بـــه غصـــه شـــوې او غصـــې نـــه بـــه بـــاهر شـــولې
تـــا زمـــا وروركـــی پـــه انګلـــش ســـكول كـــې داخـــل كـــړی دی
تـــا خپـــل مســـتقبل دغـــې طـــرف تـــه مائـــل كـــړی دی[139]

قاسم سرحدي په پښتنه معاشره کې د ښځو د حالاتو عکاسي په يو نظم "د ادم لور" کې داسې کړې ده:

زه د ادم لـــــور يـــــم د دنيـــــا زېـــــب و زينـــــت يمـــــه
دلتـــه كـــې راحـــت يمـــه او هلتـــه كـــې جنـــت يمـــه
زه نـــــوم د طاقـــــت بهـــــادرۍ او د غـــــيرت يمـــــه
ګـــل يمـــه، ازغـــی يمـــه هـــم پانـــه د راحـــت يمـــه
وخـــت او رواجونـــو پـــه پنجـــرو كـــې بنـــدې كـــړې يـــم
ظلـــــم او زيـــــاتو زه د حـــــالاتو ژرنـــــده كـــــړې يـــــم
زه يـــــوه خاموشـــــه خـــــاموشي يـــــم د صـــــحرا هســـــې
ښـــكاري مـــې پـــه شـــونډو د حسرـــت ډكـــه خنـــدا هســـې
ژونـــد هســـې د رســـم پـــه تـــيرو كـــې تېرومـــه زه
يمـــه پـــه تـــيرو كـــې خـــو رڼـــا تـــل خورومـــه زه
زه هـــم يـــو طاقـــت يـــم خـــو تړلـــی بنـــد پـــه بنـــد يمـــه
څـــه اوکړمـــه ربـــه زه مجبـــور پـــه دغـــه ژونـــد يمـــه
مـــا پيغمـــبران او اوليـــا هـــم زېـــږولي دي
مـــا ډېـــر شـــهيدان پـــه خپلـــه غېـــږ كـــې ځنګـــولي دي

مـــــا همـــــــېش ورکـــــــړې قربـــــــاني انســـــــانیت لـــــــه ده
وینـــــه څـــــه؟ چـــــې مـــــا مینـــــه ورکـــــړې شـــــجاعت لـــــه ده
بیـــــا هـــــم زمـــــا ژونـــــد د رواجونـــــو زولنـــــو کـــــې دی
صرف زمـــــا حـــــق زمـــــا د دیـــــن پـــــه ســـــیپارو کـــــې دی[۱۴۰]

له ځینو رواجونو نه وتل خو واقعي د سړو لپاره هم ګران وي، خو په ښځو د رواج ډېرې پابندیانې پرتې دي، لکه مختیار بېګم چې وایي:

زه د رواج د وېـــــــرې نـــــــه شـــــــم درتلـــــــی
ســـــــتا د خـــــــاطره مـــــــې تـــــــول چـــــــم پرېښـــــــوده[۱۴۱]

په ښځو د شعر و ادب پابندیانې هم وې او که چا به پټ په پټه څه ولیکل نو هغه به یې بیا هم ضایع کول چې کوروالا ترې خبر نه شي. که د چا په کور کې مور یا ښځې به شاعري کوله نو سړو به دا د شرم خبره ګڼله او د بل چا په مخکې به یې د دې ذکر نه کولو.[۱۴۲] عبداللطیف شاهین "د مشرق پېغله" تر سرخط لاندې د مشرق پېغله د مغرب له پېغلې نه داسې غوره کوي:

مغـــــرب هغســـــې لاهوب دی پـــــه تیـــــارو کـــــې
د مشرـــــــقه نـــــــور ختلـــــــی دی صـــــــبا دی
د مغـــــــرب پېغلـــــــه اوده ده ســـــــترې ســـــــترې
د مشرـــــــق د پېغلـــــــې خـــــــوب خنـــــــدا دی
تـــــول مغـــــرب بـــــه یـــــې پـــــه یـــــو قـــــدم قربـــــان کـــــړم
د مشرـــــــق د پېغلـــــــې ژونـــــــد حیـــــــا حیـــــــا دی
زه شـــــاهین بـــــه فخـــــر ولـــــې پـــــه دې نـــــه کـــــړم
چـــــې ســـــاتلی یـــــې نـــــاموس د خپـــــل بابـــــا دی[۱۴۳]

د زنانه وو د پردې او برقعې په سر کولو ذکر قیس په دې هایکو کې داسې کوي:

بورقـــــــه کـــــــې پټـــــــه ده د پونـــــــدو پـــــــورې
خـــــــدای خـــــــبر تـــــــوره او کـــــــه ســـــــپینه بـــــــه وي
دې تجسّـــــــس کـــــــې یـــــــې ښـــــــکلا پټـــــــه ده[۱۴۴]

مولانا امیر رحمان "د زنانه وو بې ستري" داسې بیانوي:

بـــــې دینـــــي ډېـــــره شـــــوه د کـــــور ښـــــځې بهـــــر اوځـــــي

ښې رڼا سحر اوځي دا څنګه ایمان دی
په رڼا ورځ اوځي د کوره
اکثر په سر وي دا سرتوره
چغې خندا کړي دا په زوره
اوبه بهانه کړي دا په نیت خو د چکر اوځي
ښې رڼا سحر اوځي دا څنګه ایمان دی
څوک به بهانه کړي ځان له اور
ګشتونه کړي د هر یو کور
هر یو سړي ته وایي ورور
خاوند یې ملاست وي دا تړې پټه په هنر اوځي
ښې رڼا سحر اوځي دا څنګه ایمان دی
یا که شي غم ښادي د کلي
بیا به دا ټولې ښځې زغلي
هلته سړي د هر یو کلي
بهانه یې غم وي دا په زړه کې په اختر اوځي
ښې رڼا سحر اوځي دا څنګه ایمان دی
څوک به بابا ځانله بهانه کړي
خبر به ټولې زنانه کړي
نري جامې سر به شانه کړي
دا شي رخصت، په سړي ټوله ورځ نهر اوځي
ښې رڼا سحر اوځي دا څنګه ایمان دی
یا چې اختر رانزدې کیږي
ښځې جامو ته خوشحالیږي
خپلو سړو ته به قاریږي
جامې زړې دي څنګ په ما به دا اختر اوځي
ښې رڼا سحر اوځي دا څنګه ایمان دی[١٤٥]

په سوات مینګوره ښار کې د جینکو د ګرځېدو په باره کې فضل خالق فضل داسې لیکي:

ښـــــکلی د ســــــوات چینــــــــه بـــــــازار دی
پکـــــــې ســــــــېلونه خونـــــــــد کـــــــوي
د جینکــــــــــو پکـــــــــــې یلغـــــــــار دی
ســــــپین یـــــــې رنګونـــــــه خونــــــد کـــــوي
قطـــــــــار قطـــــــــار جینکــــــــــۍ راغلــــــــې
پـــــــه هــــــــره لار جینکــــــــــۍ راغلـــــــې
دا د بـــــــــازار جینکـــــــــــۍ راغلـــــــــې
چـــــال د هــــــوسي ســــــور یـــــــې رخســــــار دی
سره څادرونــــــــــــه خونــــــــــــد کــــــــوي
څـــــــوک ســــــودا ګــــــانو لـــــــه راغلـــــــې
څـــــوک خنــــــداګانو لـــــــه راغلـــــــې
څـــــوک خپـــــل یــــــارانو لـــــــه راغلـــــــې
دیـــــــدن پــــــــه هــــــــره یــــــوه لار دی
دا بازارونــــــــــــه خونــــــــــــد کـــــــــوي
دا یـــــــــــې ګنـــــــــاه ده د پلارانـــــــــــو
د بـــــــــــې غیرتـــــــــــه خاونـــــــــــدانو
د بـــــــــــې حیـــــــــاو مشرــــــــــــانو
دا د فضــــــــــل د خلـــــــــــې ګفتـــــــــار دی
رښـــــــتیا شـــــــعرونه خونـــــــد کـــــــوي[۱۴۶]

قاري امیر نواب په خپل نظم "د فحاشۍ خلاف" کې داسې لیکي:

پـــه کـــور د مســـلمان د فحاشـــۍ جـــوړې اډې شـــولې
څـــه بـــل شـــانې نخـــرې شـــولې
تبـــاه یـــې شـــو ایمـــان چـــې د وي سي آر چرچـــې خـــورې شـــولې
نـــو لـــرې یـــې برقعـــې شـــولې
نـــور بربنـــډ فوټـــوان راځـــي پـــه اخبـــاراتو رســـالو کـــې
جینکـــــۍ پکـــــې ګـــــډیږي
دا خـــــل شـــــو تبـــــاه کیـــــږي

په ماحول او معاشره کې ډمګیرۍ چغه خوره شوه
خرابه معاشره شوه
حیا زمونږ نه لاړه ډش انټینا زمانه شوه
هر کور کې ډم خانه شوه
نو مخلوط تعلیم شو عام په کالجونو یونیورسټو کې
بې شرمه نه شرمیږي[۱۴۷]

په دې شعرونو کې په اخبار، رساله، وي سي ار، ډش انټینا، مخلوط تعلیم باندې نیوکې شوي دي. له دې نه پته لګي چې دلته په هر وخت کې یوه طبقه داسې موجوده پاتې شوې، چې په هر قسمه ترقۍ یې تنقید کړی دی. د ټي وي د کټلو په باره کې داسې وایي:

ټي وي د هر کور مشعله جوړه شوه
چې پکې فلم ماشومان ګوري
اولاد سره د والدینو ناست وي
ځوانان لا څه چې بوډاګان ګوري
چې پېغلې ناست وي زلمي روڼو سره
پکې بربنډ فحاش فوټوان ګوري[۱۴۸]

نذیر شموزي د نن زمانې د پېغلې او د میوند د ملالې موازنه داسې کړې ده:

په مکېز مې یوه جل تېره شوه خوا کې
ما ته یاده د مونډ ملالۍ شوه
چورلوله یې بټوه خپله هوا کې
رنګینه مې په بیرغ د سوچ نرۍ شوه
ما وې ای د قام خورلڼې واوره پند
ستا د شونډو د لپ سټکو نشته خوند
ستا د وینې هغه رنګ د قدر وړ دی
چې عظمت د پښتنو ترې شي څرګند
هغه اوګوره نزدې و قندهار ته
پروت لمنه کې د غره ښکاري میوند

ملالـــــــــۍ د ننــــــــګ بــــــــیرغ پـــــــه لاس ولاړه
د وطـــــــن زلمـــــو تـــــه راز ښــــــایي د ژونـــــد
تـــــل ابـــــاد بـــــه پښـــــتانه وي پـــــه دنیـــــا کـــــې
دا ثبـــــوت مـــــې د میونـــــد یـــــوه جینـــــۍ شـــــوه
پـــــه مکېـــــز مـــــې یـــــوه جـــــل تېـــــره شـــــوه خـــــوا کـــــې
مـــــا تـــــه یـــــاده د میونـــــدو ملالـــــۍ شـــــوه[149]

ډاکټر امیر فیاض د "بې حیا معاشره" تر سر خط لاندې داسې لیکي:

راشـــــــه دا خلـــــــق بـــــــې وفـــــــا اوګـــــــوره
نیمـــــــې بربنـــــــډې بـــــــې حیـــــــا اوګـــــــوره
تـــــه پـــــه ملکونـــــو ګرځېـــــدلی بـــــه یـــــې
راشـــــــه د حســـــــن دا دنیـــــــا اوګـــــــوره[150]

د کلي او ښار ژوند

لائق زاده لائق د ښار له ژوند نه سر ټکوي او د کلیوال ژوند ستاینه کوي:

دلتـــــه ګـــــودر نشـــــته د پېغلـــــو تنورونـــــه نشـــــته
دلتـــــه کـــــې مســـــتې چینـــــې نشـــــته چنارونـــــه نشـــــته
دلتـــــه حجـــــرو کـــــې د یـــــارانو محفلونـــــه نشـــــته
دلتـــــه پیکـــــه مـــــازیګری دی ځـــــه چـــــې کـــــلي تـــــه ځـــــو
دلتـــه کـــې نـــه ســـړی دی ځـــه چـــې کـــلي تـــه ځـــو[151]

د کـلي او د ښـار د ژونـد د هـر یـو خپلـې خپلـې فایـدې او نقصـانونه شـته. پـه دې شعرونو کـې شاعر چې کومـو څیزونـو تـه اشـاره کـړې ده هغـه تنـور، ګـودر، چینـې، چینارونه، حجرې، محفلونه، د مازیګر سیلونه او نور دي.

مېلې

په بر سوات کې د یوې هفته وارې مېلې په باره کې وکیل حکیمزی وایي چې څه خواوشا شل دویشت کاله پخوا دا مېله د متې د بازار په مینځ کې شروع شوې وه. دا مېله به د هرې چارشنبې په ورځ کېدله، اوس دا مېله د سمبټ او د متې په مینځ کې د ملنګ خوړ په غاړه کېږي. په دې مېله کې به اول اول خلقو صرف څاروي خرڅول خو بیا پکې

سمه والو ټوکي او ګوړه خرڅول شروع کړل، نن صبا دا مېلې د ښارونو د جمعه بازار یا مینه بازار حیثیت لري. [۱۵۲] په سوات کې دوه ځایونه د "مېله ګاه" په نوم یاد دي. په بره درشخېله درشخېله کې یو بازار ورسره پلو په مېله ګاه مشهور دی، بل په کبل تحصیل کې د کوټلی په خوا کې مېله ګاه نومې کلی ودان دی.[۱۵۳] له دې زړو نومونو نه پته لګي چې په سوات کې د مېلو یو زوړ تاریخ موجود دی. نن صبا په مټه، خوازه خېله او مینګوره کې هفته وارې مېلې لګي. د خوازه خېلې مېله صرف د څاروو ده او دې نورو مېلو کې هر څه خرڅیږي. دلته په دې مېلو کې چې کوم څیزونه خرڅیږي په هغې کې چرګان، تیتر، خړتمیان،ایلی، کونترې ، طوطیان، زاړه استعمال شوي کوټونه،بنینونه، بوټان، څپلی، د پلاسټکو هر قسمه پېزار، مسالې، ټوکي، ګوړه، چای، لوښي، پیالې، د څاروو دارو، د بنیادمو د پاره د لارې کوڅې د پنساریانو دارو، د زراعت سامان، سبزیانې، مېوې او د دوی بوزغلي وغیره شامل دي. فالګر او مداریان پکې هم ناست وي خپل کرتبونه ښائي.[۱۵٤]

ګودر

د وخت په تېرېدو سره ګودرونه هم ختم شول، د ګودرونو په ختمېدو چې شاعرانو کوم ماتم کړی دی د هغې نمونې دا دي:

نــــه رنګـــــین ګلونـــــو نــــــه د جونـــــو پـــــرې ســــــیلونه
خـــــالي خـــــالي شـــــو زمــــــونږ د کــــــلي ګودرونــــــه[۱۵۵]

او یو بل شاعر داسې وایي:

پـــــــه ګودرونــــــــــو او چینــــــــو چـــــــې بــــــــه وو
اوس د منګــــــــو هغــــــــه غوبـــــــــل نـــــــه ویــــــــنم[۱۵٦]

کلـه چـې هـر کـلي او کـور تـه د اوبـو نلکـې ورسـېدلې، نـو بیـا ګـودر تـه د تللـو ضرورت پـاتې نـه شـو. د ګـودر خپلـې فایـدې وې او جینکـی بـه ګـودر تـه پـه دې خوشـحالېدلې چـې هلتـه بـه یـې لـه نـورو جینکـو سره خـبرې اتـرې کـولې، ګـودر تـه تلـل به یو قسم ته د تفریح ذریعه وه.

خان

خـان او ملـک د پښـتني ټـولنې اهـم جـز وي. دا پـه هـر دور کـې پـه څـه نـه څـه شـکل کـې پـه نظر راځـي. پـه تېـرو دورونـو کـې هـم د خـان ذکـر او د خـان د کـردار ذکـر

شوی دی. له هغو دورونو سره د موازنې لپاره دلته هم د خان ذکر په دې باب کې لټوو چې پته ولګي چې په مختلفو دورونو کې د خان په کار کردار او حیثیت کې څه ډول بدلون راغلی دی. د خان په باره کې قاسم سرحدي داسې لیکي:

منـزری د ځنګـل هلتـه خـان بهـادر دی
خـان زمـونږ د کـلي دلتـه پـه مـونږ نـر دی
پـه عـادت کـې نـه، خصـلت کـې سره یـو دي
منـزری زمـونږ د خانـه ډېـر بهـتر دی
منـزری چـې خېټـه ډکـه کـړي روان شي
زمـونږ خـان پـه ډکـه خېټـه کـې نهـر دی
منـزری چرتـه د یـخ سـوري د لانـدې
ځـان اوده کـړي بـس د هـر څـه بـې خـبر دی
منـزری پـه چـا بـې وجـې حملـه نـه کـړي
زمـونږ خـان دی چـې هـر وخـت حملـه اور دی
منـزری د ضـابطو سره پابنـد دی
ضـابطې دلتـه د خـان د خپـو ټـوکر دی[۱۵۷]

د سوات په معاشره کې خان او ملک داسې کردارونه دي چې له اول نه په نظر راځي خو ورو ورو د دوی په کار او اختیار کې کمی هم په نظر راځي. په دې دور کې که د خان ذکر راځي خو هومره اهمیت یې نه دی پاتې کوم چې په وړومبو دورونو کې و.

کسبګر

پراچه، نایي، اینګر، ترکاڼ، جالوان، زرګر او وغیره ته کسبګر ویلی شي. کسبګر دوه قسمه وي، یو قسم کسبګر له پخوا راهیسي د خلکو خدمت په یوه ټوټه زمکه یا په دانو کوي، لکه جالوان، اینګر، نایي، غوبه، پراچه، داروغه، دهوبي، ابو وړی او وغیره. دویم قسم هغه کسبګر دي چې د خلکو خدمت په دانو یا په زمکه نه کوي خو د خدمت په بدله کې نقدې پیسې اخلي، لکه زرګر، تیلي، درزي، ننداف، جولا، ډبګر، مسین ګر، کولال، شاخېل وغیره. ډبګر، ننداف، شاخېل، داروغه، دهوبي، غوبه، ابو وړی او کخی اوس نشته. دغه کسبګرو ته سوشل ګروپس ویل کېږي. دوی له یوې وینې سره تعلق نه لري او د قبیلې لوازمات نه شي پوره کولی او په تعداد کې کم وي نو ځکه د قبیلې په تعریف کې نه

راځي.[158] میاګان، پیر زادګان، صاحبزادګان، اخون زادګان او ملایان هم سوشل ګروپس دي خو قبیلې نه دي. هر څوک میا ملا، پیر زاده ، اخون زاده، صاحبزاده او کسبګر جوړېدی شي. د سوات تاریخ د دې خبرې ګواه دی چې دلته ډېر یوسفزي د دوتر په خلاسېدو غېر پښتانه شوي او کسبګر شوي دي. دغسې ډېر غیر یوسفزي په مالدارۍ، په دوتر اغستو او د پښتنو سره په خپلوۍ یوسفزي پښتانه شوي دي. دغه خلک نه یواځې د کورنو او د افرادو په شکل کې پښتانه شوي دي، بلکې لوی لوی خېلونه لکه سیبوجني کې دوه غټ خېلونه، په حسن خېل، نکره دین خېل کې دوه خېلونه او په مامت خېل کې یو خېل غېر یوسفزي وصلي یوسفزي شوي دي.[159]

ترقي پسند ادب

د ریاستي دور د ادب پر ضد د دې دور ادب ترقي پسند دی او د معاشرې د هرې طبقې خبره یې په څه نه څه رنګ کې کړې ده، لکه په دې نظم کې د یوې ماشومې شپونکۍ په باره کې یو شاعر داسې لیکي:

دا وړه اکـــــــه پکـــــــه ناســــــــته شــــــــپونکۍ ده
کــــه ســـــاتلې پــــه صـــــحرا کــــې چــــا هوســـــۍ ده
راتــــــه ښـــــــکاري د دې غرونـــــــو شـــــــهزادګۍ ده
یـــــا د باغـــــه شــــــوکولې چــــــا غـــــــوټۍ ده
خـــــدای خـــــبر چــــې دا د کــــوم بــــوډا نمســـــۍ ده
د خپـــــــل مـــــــور د ارمـــــــانونو دنیـــــاګۍ ده
د جهانــــــــه نــــــــا خــــــــبره لا کمکـــــــۍ ده
رڼــــــایي ورځینــــــي خیــــــژي جــــــوړ ســــــپوږمۍ ده
پــــــه دې غرونـــــو کـــــې مـــــې اولیـــــده یـــــواځې
لکــــــه ګـــــــل ځانلــــــه ولاړ وي پــــــه صـــــحرا کــــې
د خپـــــل ژونـــــد د شـــــب و روز نـــــه خـــــبر نـــــه شـــــوه
چــــې څــــه کیــــږي څــــه روان دي پــــه دنیــــا کــــې
دا دی وخـــــــت د دې د لوبـــــــــو خنـــــــــداګانو
غــــم د کــــور ورتــــه پــــه غــــاړه مجبــــورۍ کــــړې
د دې ورځـــــــــې د ســـــــــبق د مدرســـــــــو دي

ترینه پاتې داخبرې غریبۍ کړې
ډېرې جونه ماشومان په پښتونخوا کې
ژوند د غم او د خوارۍ تېروي داسې
څو به حال وي دا زما د قام د لوڼو
زمانه به یې تر څو زېروي داسې[١٦٠]

یو بل شاعر په دې هایکو کې د یوې غریبې پېغلې سترې او سخت ژوند ته داسې اشاره کړې ده:

څاروي دې سر وخوري ورشو ته مه ځه
واورې وریږي ده یخنې لېونۍ
یا مې شړۍ واخله ناجوړه به شې[١٦١]

د مزدور په باره کې رحیم داسې لیکي:

په دنیا کې که ښکلا ده
که څه حسن او ځلا ده
ودانې ده که ښادي ده
که ایجاد که ابادي ده
که زما او ستا ارام دی
یا د ژوند دا ټول نظام دی
کارخانې دي که تعمیر دی
دا نهرونه که بهیر دی
خوراکونه که غلې دي
که کورونه یا محلې دي
که یو ښکلی عمارت دی
یا د هر قسمه راحت دی
د دې ټولو نعمتونو
د دې عیش او عشرتونو
په شا لاس د یو مزدور دی
خو پخپله ډېر مجبور دی[١٦٢]

د سوات په پښتو ادب کې په ارتقائي انداز مونږ ته پته لګي چې ورو ورو د معاشرتي مسايلو او د عامو خلکو د مسايلو ذکر پکې په نظر راځي. په خصوصي توګه د رياستي دور په ادب کې دا قسمه موضوعات د نشت برابر دي.

واده

د واده د رسمونو ذکر په وړومبو بابونو کې هم شوی، خو د دې دور په ادب کې هم د واده بعضې رسمونه ياد شوي دي. اول په غوښتانه کې چې د جينۍ پلار يا مور له کومې روپۍ ورکوي هغې ته ګل وايي. له دې نه وروسته د هلک کورولا به په ګڼه د جينۍ کور ته لاړل او هلته به يې خوړل ښنبل وکړل، دې ته به يې خوږه ويله. بيا د واده نېټه وټاکلی شي، پخوا به يې "اوړی سېر يا تويانه" او د "جينۍ د سر پيسې" هم اخستې او دې عمل ته به بې "پرېکون" ويلو. پخوا به له واده نه يوه ورځ مخکې د هلک له کور نه د واده سامان لکه کټ، کرسۍ او نور لوښي لرګي به د جينۍ کور ته په دې غرض اوړلی کېدل چې صبا پرې د واده جنج درون ښکاره شي. ياده دې وي چې دا ټول څيزونه به د هلک کورولا اخستلي وو. اول اول دلته کې د جهيز او داج هيڅ رواج نه وه خو اوس موجود دی. پخوا به واده په ډولۍ کې اوړی شه، نائي به خپل "جلب" غوښته او د ناوې د رخصتۍ په وخت به د "نغري د برې غاړې" مطالبه کېدله. په ډولۍ پسې به په لارې ډول سرنا غږولی شول. پخوا به د واده په موقعه د چم ګاونډ او کلوېغۍ خلکو د واده کورولا ته چاې ډوډۍ کوله. نن صبا نکاح يا مخکې شوې وي او يا د واده په ورځ د هلک يا د جينۍ په کور کې وشي. د واده په اوومه ورځ به جينۍ يوې ورځې له د پلار کور ته تلله، دې ته به يې "وومه" ويله او د ځان سره چې به يې د خوراک څه څيزونه اوړل، نو دې ته به يې "خونی" ويلو. څه ورځې وروستو به جينۍ د خاوند د کور نه د پلار کره تله او هلته به يې يو څو ورځې تېرولې، دې ته به يې "خپه ارته" ويله. د واده نه پس په وړومبي ځل د هلک او جينۍ مېلاوېدلو ته به يې "سپخته" ويله. نن صبا چې کوم بدلون راغلی دی هغه په "پرېکون" کې دی، چې د پرېکون لانجه اوس نشته. البته "د واده نېټه" د دواړو کورنو په مشوره ټاکلی شي، جهيز او داج نن صبا ډېر عام شوی دی.[۱۶۳]

د هلک په پيدائش خوشحالي

پخوا به د هلک په کېدلو ډمامه کېدله، نايي ته به د خپلو نائکانو خپل خپلوان او

یاران دوستان معلوم وو، نو هغه به د هر چا په دروازه کې ډمامه وهله او دا به یې هم وې چې د فلاني ځوی شوی دی. اوس د هلک په کېدلو څوک ډمامې نه وهي خو که څوک خبر شي نو امبارکۍ له ورشي.[١٦٤]

د ماشوم سنت

پخوا به د هلک په سنتو هم ښادي کېدله، نایي به ډېر خوشحاله و، ځکه د هغه به څه سامان لکه پیاله، کنډولی، سلور، برېستن تولایي او جوړه جامې په لاس ورغلې. د ماشوم د سنت کولو په موقعه به ډمې هم ګډېدې، لکه یو شاعر چې وایي:

واده ســـــنت کـــــې چـــــې بـــــه ډمـــــې راغلـــــې
هغـــــه ربـــــاب، ســـــتار، تمبـــــل نـــــه ویـــــنم[١٦٥]

اوس خلک ماشوم په وړوکوالي په هسپتال کې سنت کړي او څوک هډو خبر نه شي.[١٦٦]

مړی او جنازه

پخوا به د مړي ماښامونه، جمعې، درېمې او تلینونه ډېر په اهتمام سره کېدل، خو اوس دې کې بدلون راغلی دی. خلک د مړو ماښامونه او جمعې نه کوي او له درېمې ورځې نه پس خیرات کوي. د چا د مرګ اعلان په ګرځنده لاوډ سپیکرو او یا په جماعتونو کې وشي، بیا د کلي خلک خپله چارې، کشۍ او بېلچه واخلي او قبر وکني او جنازه وشي، پخوا به په جنازه کې ډېر کم خلک ولاړ وو او نور به شاته ولاړ وو او جنازه به یې نه کوله خو نن صبا ټول خلک په جنازه ودرېږي.[١٦٧] بعضې خلک له جنازې نه اول یا وروسته اسقاط هم ورکوي. دا اسقاط په حاضره جمع کې هر سړي ته د دېرشو روپو نه واخله تر سلو روپو پورې ورکوي. تر درېو ورځو پورې د چم ګاونډ خلک د غم کوروالا ته ډوډۍ کوي او د هغوی د ټولو مېلمنو انتظام د چم ګاونډ خلک پخپله کوي.[١٦٨] اول به یې په اسقاط کې ګوړه او صابن هم ورکوه.

جامه پیزار

په ژوند د نوي دور د ترقۍ اثرات د خلکو په جامه پیزار کې هم په نظر راځي، لکه ځنګه چې یې په دې شعرونو کې اظهار شوی دی:

د پرتـــــــــوگ سره ټـــــــايي ترلـــــــــې گرځـــــــــي
مـــــا پــــه ســـــوات کـــــې داســـــې خلـــق اوليـــد يـــــاره
داســـــــــې وايــــــــي دا يـــــــــې شـــــــــغل د "والي" وه
ځکـــــه دوی پـــــرې عاشـــــقان شــــو بـــــې اختيــــاره[١٦٩]

پخوا به مشرانو سپين لټې (پټکی) ترلو او ښځې به يې په ښو کولې او د هلکانو به تېله دارې يا ساده ټوپۍ پر سر وې، خو اوس دغه درې واړه څيزونه په نظر نه راځي، زياتره خلک سرتور گرځي او د مشرانو نرۍ ټوپۍ پر سروي او په ژمي کې ډېر کم خلک پکول پر سرکوي. پټکی يا دستار د پښتون د شان يوه نخښه ده، دا د مشرۍ لپاره د علامت په توگه هم استعماليږي. خوشحال خان هم ويلي دي:

چـــــــــې دســــــــــتار تـــــــــــړي هـــــــــزار دي
د دســـــــــتار ســــــــــړي پـــــــــه شـــــــمار دي

پټکی د علميت يوه نخښه هم پاتې شوې، خو د وخت په تېرېدو سره خلکو پټکی هسې پر سر يوې چيررې ترلو ته ووې. او رنگ د پټکي وقار ختم شه. محمد گل منصور په دې هايکو کې پټکی داسې ياد کړی دی:

هســـــــې پــــــه سر بانــــــدې چـــــيرړه مــــــه تــــــړه
کـــــه دې "پټکـــــی" خـــــوښ وي نــــو دومـــــره وهـــــه
چــــــې دې بالښـــــــت تـــــه ضرورت نــــــه راځــــــي[١٧٠]

په اوړي د څرمنو سپکې څپلۍ او غريبان د پلاسټکو چپل يا څپلۍ او په ژمي کې د څرمنې يا د پلاسټکو بوټان د جرابو سره په خپو کوي. په ژمي کې زياتره خلک څادر، بلاوز، جرسي او کوټ اغوندي. د شړۍ رواج ختم شوی دی.[١٧١]

خوراک

پخوا د سوات د خلکو زيات خوراک وريژې وې ځکه خو دا متل مشهور دی چې " سواتی زوړ شي خو په وريژو موړ نه شي". له دې نه علاوه به يې د اوربشو ډوډۍ هم پخولې، د شوملو مستو نه علاوه به په اينگولو کې د باتينگڼو کړي او سابه وو، اوس ټول خلک سحر چای ډوډۍ خوري. غريبانان د بېگا نه پاتې د جوارو يا د غنمو سره ډوډۍ خوري او مالداران په سحر کې پراټه خوري. غرمه ټول خلک زياتره د غنمو ډوډۍ خوري او

ورسره سبزي، غوښه یا بل څه اینگولی وي. ماښام د سیند د غاړې خلک زیاتره وریژې پخوي او د درو خلک د غنمو یا د ژوارو ډوډۍ خوري. وربشې خو اوس د سره څوک خوري نه او د جوارو د ډوډۍ رواج هم کم شوی دی. د ښاروو د کموالي په وجه شوملې ماسته هم کم شوي دي خو د دې په ځای خلک سبزیانې، غوښې او نورو اینگولي خوري. د چای استعمال ډېر عام دی.[172] له دې نه علاوه شوملې، پیاز، گوړه، پیتي، دال او نور څیزونه هم د سوات د خلکو په خوراک کې شامل دي او په دې لاندینو شعرونو کې یې ذکر شوی دی.

سـړه روټـۍ خـوراک شـوملو، پیـازو او گـوړې سره
هغـه میرگـاټ، هغـه چینـدخ، هغـه گنـډل نـه ویـنم[173]

پیتي او دال په دې شعر کې ذکر شوي دي:

هغـه پیتـي او دال پـه جمـع چـې خـوړل بـه مـونږه
هغـه روټـۍ اوس شراکـت سره خـوړل نـه ویـنم[174]

د سوات په ثقافتي ارتقا کې د خوراکونو ارتقایي سفر هم شامل دی او دلته هم مختلف قسمه خوراکونه په هوټلو کې پخولی شي، خو په دې شعرونو او حوالو کې چې کوم خوراکونه ذکر شول دا د عامو خلکو خوراکونه دي او دا د سوات خپل کلتوري خوراکونه دي.

د مهیانو ښکار

د سوات سیند او ورسره خوا او شا ته واړه واړه خوړونه د مهیانو د ښکار د پاره ډېر مشهور دي، خو اوس خلکو د مهیانو ښکار په غیر قانوني طریقه شروع کړی دی او مهیانو ته د بجلۍ کرنټونه ورکوي او په دې طریقه مهیان ډېر کم شوي دي. د مهیانو په ښکار کې د ظلم زیاتي طرف ته د خلکو توجه راگرځولو باره کې هم لیکوالانو کوشش کړی دی. په دې حقله یوه کتابچه "ما ته غوږ شئ"[175] په نوم هم چاپ شوې، چې خلکو ته پکې د مهیانو مهیانو د ښکار په باره کې د بیدارۍ خبرې شوي دي.

فصلونه

د سوات مشهور فصلونه غنم، جوار او وریژې دي. نن صبا د اوبو لاندې زیاتره او څه نه څه د وچوبې زمکې هم د هر قسمه مېوه دارو ونو بوټو نه ډکې دي. هر ځای د منو، املوکو، الوچو، خوبانو او شلتالانو باغونه دي. له دې نه علاوه په غیر مېوه دارو ونو کې

سپېردار، شنډۍ، کيکر او ګيري وغيره شامل دي. د دې باغونو له وجې نه د شولو، جوارو او غنمو پيداوار کم شوی دی. په سبزو کې پياز، ټماټر، اوږه، تور باتينګڼ،بېنډۍ، مولۍ، الو، ټېپر، مټر، کدوان، کولت، او توری کرېلې هم کري. دلته به په يو وخت کې خلکو ګني او مالوچ هم کرل. مالوچ به يې په اشر راټولول او د خلکو کره به څرخې لګېدلې وې په هغې به يې ترې تارونه جوړول او بيا به جولاګانو خلکو ته د ضرورت نور څيزونه ترې جوړول. شولې به خلکو ټکولې خو اوس د شولو لپاره مشينان را اووتل، ګني او مالوچ اوس په سوات کې نشته.[۱۷۶] د سوات په تاريخ کې دا دور هم ډېر اهميت لري ځکه چې په دې دور کې د سوات خلک له ډېرو ستونزو سره مخامخ شول او سوات د ډېرو وجوهاتو په بنا د ټولې نړۍ د توجه مرکز وګرځېده.

د دې باب خلاصه

د یویشتمې پېړۍ په شروع کېدو چې په نړیوال سیاست، مواصلاتو، ساینس ټیکنالوجي او نورو حالاتو کې کوم بدلون راغی نو د دغه بدلون څه نه څه اثرات د سوات په پښتو ادب او ثقافت هم پرېوتل.

په دې دور کې د سوات په پښتو ادب کې افسانې او ناولونه د تېر شوو دورونو په نسبت زیات لیکل شوي، خو د ډرامې صنف په دې دور کې هیڅ ترقي نه ده کړې. د ادبي تحقیق په لړ کې د شاعرانو ، ادیبانو او د صوفیانو او ولیانو تذکرې لیکل شوي دي. د ماشومانو صوتونه او د ماشومانو لوبې هم په ادب کې څه نه څه ښکاري. په ادب کې اسلامي موضوعات دومره ډېر نه دي البته د نعتونو مجموعې کافي لیکل شوي او په ځینو مذهبي موضوعاتو ځانله جدا کتابونه لیکل شوي دي.

په دې دور کې صحافتي ادب هم ډېر پرمختګ کړی او د پښتو نوې نوې رسالې مینځ ته راغلې دي. په ادبي اصنافو کې غزل، نظم، ازاد نظم، چاربیته، سندره، لوبه، مرثیه او نور لیکل شوي دي. نوی جاپاني صنف "هایکو" چې پښتو ته راغلی، په دې دور کې یې په سوات کې هم ترقي کړې ده. د فرانسوي ژبې یو نوی صنف "درېواله" په دې دور کې په وړومبي ځل په پښتو ادب کې متعارف شوی دی. د دې دور پر ادب د انګرېزۍ ژبې او ادب او د انفارمېشن ټیکنالوجي ښکاره اثرات پرېوتلي دي. د مغربي ملکونو اثرات او د جدیدیت اثرات په ادب او کلتور ښکاره شوي دي. پښتو، پښتونولي، پښتو ژبه، له سوات او پښتونخوا سره مینه هم په دې دور کې ښکارېږي.

د سوات د ښځینه سندرغاړو ذکر په ادب کې موندل کېږي. د یوولسم ستمبر او د افغان جنګ اثرات هم د سوات پر ادب شوي دي. په ادب کې د سوات پر خرابو حالاتو ویر وینا شوې او د امن په ضرورت زور ورکړی شوی دی. د دې دور په ادب کې د کشمیر او فلسطین په باره کې هم شاعرانو او لیکوالانو د خپلو خیالاتو اظهار کړی دی، لکه د تېر دور په شان په دې دور کې هم له سیاست او سیاسي لیډرانو نه د نفرت اظهار شوی دی او د انقلاب چغه وهل شوې ده.

په توهماتو کې د بد نظر او کوډو تعویذونو ذکر شوی دی. په ټولنه د ماډرنیزم او د ټي وي او ډش اثراتو او په خصوصي توګه د ښځو په ازاد ګرځېدو او د هغوی په فېشن ډېرې نیوکې شوي دي. د ټولنې د مختلفو طبقو، یعنې د خان، مزدور او کسبګر ذکر په ادب کې

شوی دی. د غم ښادۍ رسم و رواج، خوراک، فصلونه، جامه پيزار، کلي کلوښۍ، اشر غوبل، د مېلو او نورو بحث هم د دې دور د ادب موضوعات دي. په دې دور کې د تېرو دورونو په نسبت د واده په رسمونو کې کافي بدلون ښکاري، لنډه خبره دا چې د دې دور په تهذيب او ثقافت کې چې څومره بدلون يا ترقي راغلې ده نو هغه تر ډېره حده په ادب کې ښکارېږي.

حوالې

[1] Sultan-i-Rome, *Crises and Reconciliation in Swat*, Pakistaniaat: A Journal of Pakistan Studies, Vol. ۳, No. ۱ (۲۰۱۱), p. ٦۰ available at www.Pakistaniaat.org/article/viewarticle/۷۹٦۹
[2] Sultan-i-Rome, *Swat A Critical Analysis*, New Delhi, Institute of Peace and Conflict Studies New Delhi India, IPCS Research Papers ۱۸, January ۲۰۰۹, p.۲.
[3] Ibid., p.۱۱.
[4] Ibid., p. ۸.

[5]شبنم، محمد ابراهیم خان. تغمې (افسانې)، ۲۰۰۲.

[6]حکیمزے، بدرالحکیم. دا مزے غوځول غواړي، ۲۰۰۵.

[7]لائق، لائق زاده. شلیدلي تارونه، پېښور، ډایریکټوریټ آف کلچر خیبر پښتونخوا، ۲۰۱۲.

[8]لائق، لائق زاده،.ماته آئینه (د افسانو مجموعه)، پېښور، د پښتونخوا د پوهنې دېره، ۲۰۰۹.

[9]خان، پائنده محمد. الله او بهګوان (ناول)، پېښور، باګرام پښتو ادبي جرګه، ۲۰۰۲.

[10]رحیم، رحیم شاه. سکندر اعظم، مینګوره، افغان اکېډمي، ۲۰۰۵.

[11]شبنم، محمد ابراهیم. ګلالۍ (ناول)،پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵.

[12]روغانے، عبدالرّحیم. کوربانه خیالونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۱۰، ۳ مخ.

[13]د یوسفزو ګلونه، دېولی، یوسفزی پښتو ادبي ټولنه دېولۍ سوات، ۲۰۱۰.

[14]حیدر، غلام حیدر. د صحرا ونه سعودي عرب، پښتو ادبي غورځنګ الریاض، ۲۰۰۴.

[15] منصور، محمد ګل. زما د لرې وطن یاره، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۸.

[16] د ایلم ګلونه، بریکوټ، ایلم پښتو ادبي ټولنه بریکوټ سوات، ۲۰۰۴.

[17] افغاني، ابوالعطاء مولوي عبدالبصیر نعماني حنفي. د تصوّف ځلانده ستوري خزینةالاولیاء، مینګوره، حق میډیا سروسز، ۲۰۰۲.

[18]قیس، محمد حنیف. نوي نعتونه، پېښور، زېب آرټ پبلشرز.

[19] لائق، لائق زاده. جلوې (نعتیه مجموعه)، پېښور، د پښتونخوا د پوهنې دېره، ۲۰۰۴.

[20]لائق، لائق زاده. ائے ګنبد خضرٰی، پېښور، د پښتونخوا د پوهنې دېره، ۲۰۰۹.

[21]لائق ، لائق زاده. رازونیاز (نعتیه مجموعه)، پېښور، میلاد هاوس، ۲۰۱۱.

[22]فاني، عبدالجمیل. و رفعنا لک ذکرک، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۱۳.

[23]طالب، عزیزالرّحمان عزیز. ګډ وډ لعلونه، ۲۰۱۳.

[24]طائر، محمد نواز. پروفېسر، په پښتو کښې د ماشومانو سندرې او صوتونه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۸، ۱۷مخ.

[25]یوسفزے،ډاکټر دیدار. زرغون زېري (د ماشو مانو نظمونه) ، پېښور، د پښتونخوا د پوهنې دېره، ۲۰۰۱.

[26]خاکي، شاه وزیر خان. د سوات لرغونې لوبې، مشموله، درے میاشتنی مینه، سوات، وړومبے جلد، دوېمه شماره، (کال ۲۰۰۴)، ۷۲ مخ.

[27]حکیمزے، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۸۴مخ.

[28]نادان، محمد اقبال. تیندکونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز، جون ۲۰۰٦، ۲۷مخ.

[29]همدغه اثر،۲۸ مخ.

[۳۰] همدغه اثر،۲۸ مخ.

[31] Yousafzai, Rafiullah, Journalism in Swat, (M.A. Thesis), Department of Journalism and Mass Communication, University of Peshawar, Session: ۲۰۰۲-۲۰۰۳, p ٤۰

[۳۲] ديناخيل، محمد علي. سوات کی ادبی تنظیمیں، مشموله، روزنامه چاند، سوات، جلد: ۱۱، شماره: ۱، (۲٦ دسمبر ۲۰۱۳)

[۳۳] دېولی، ابراهيم. د مورنو ژبو عالمي ورځ پښتو او پښتانه، مسموله، درېِ مياشتنۍ مينه، سوات، جلد: ۱، ګڼه: ۳ (مارچ ۲۰۰۵)، ۸۱ مخ.

[۳٤] ګلرنګزے، حميد اقبال. پاڅون او خلاصون، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۱۲، ۱۹۸مخ.

[۳۵] رضا، محمد رضا خان. ژوند په رېګزار، ۲۰۰۳، ۱۴۱مخ.

[۳٦] عظيم، فضل عظيم. د سوات د سيمې زدوکونکو ماشومانو ته (نظم) مشموله، درېِ مياشتنۍ مينه، سوات، جلد: ۱، شماره: ۱، (اکتوبر، نومبر، دسمبر ۲۰۰۳)، ۴۵مخ.

[۳۷] قيس، حنيف. بله شونتيې. مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز،۲۰۰۷، ۱۰۲مخ.

[۳۸] يوسفزے، ډاکټر ديدار. تاله مېدان. مينګوره، ګرافکس ورلډ، ۲۰۰۲، ۸۴ مخ.

[۳۹] منصور، محمد ګل. مونږ خو دواړه لېوني يو، ۲۰۰٦، ۳۸مخ.

[٤۰] ثاقب، محمد الياس. د منر په خيره، کبل سوات، جان کتاب کور، ۲۰۱۲، ۱۳۰مخ.

[٤۱] اختر، اختر حسين. ژوندي سازونه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۷، ۵۸ مخ.

[٤۲] همدغه اثر، ۵۲ مخ.

[٤۳] همدغه اثر،۸٦ مخ.

[٤٤] همدغه اثر،۱۲۳ مخ.

[٤۵] پيرخېل، ډاکټر امير فياض او فضل رازق شهاب. يو طرز دوه خيالونه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۷ ، ۳۰ مخ.

[٤٦] همدغه اثر، ۱۲۸مخ.

[٤۷] اختر، اختر حسين. ژوندي سازونه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۷، ۴۷مخ.

[٤۸] منصور، محمد ګل. اوس بنګړي چاله واخلم، ۲۰۱۰، ۴۸مخ.

[٤۹] شاه، سيد افضل. سي اېل آئي (نظم)، مشموله، درېِ مياشتنۍ مينه، سوات، جلد: ۱، ګڼه: ۴، (جون ۲۰۰۵)، ۴۱مخ.

[۵۰] ساجد، شيرزاده. چغه، فروری ۲۰۰۹، ٦۱مخ.

[۵۱] خان، شېر عالم. انسان د سفر په لاره، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۷، ۱۰۲، ۱۰۳ مخونه.

[۵۲] فضل، فضل خالق. پرخه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۳، ۱۷،۱۸ مخونه.

[۵۳] هلالي، مولوي محمد اکرم. د منزل نخښې، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز،۲۰۰۷، ۵۰ مخ.

[۵٤] برکت، برکت علي. مات وزرونه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۷،۱٦۴، ۱٦۵ مخونه.

[۵۵] ثاقب، محمد الياس. د منر په خيره، کبل سوات، جان کتاب کور، ۲۰۱۲، ۱۰مخ.

[۵٦] خاکي، شاه وزير خان. په ټپه کښې د سترګو هر اړخيز جاج، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۱۲، ۱۸ مخ.

[۵۷] همدغه اثر، ۲۷ مخ.

[۵۸]لائق، لائق زاده. لېونتوب، پېښور، دانش کتابتون، ۲۰۰۵، ۱۲۴، ۱۲۵ مخونه.
[۵۹]شموزے، محمد نذیر. د احساس اوازونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۱۰، ۱۲۷مخ.
[۶۰]ننګیالے، جمعه دوست. ننګیالے، ۲۰۰۶، ۵۸ مخ.
[۶۱]حسرت، طاهر شاه. دیوان حسرت، مینګوره، شعېب سنز پبلشرزاینډ بکسیلرز، ۲۰۰۴، ۳۶مخ.
[۶۲]شبنم، محمد ابراهیم خان. شبنم په ګلو، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، مئ ۲۰۰۴، ۷ مخ.
[۶۳] بریالے، حکیم الله. زرغون فکرونه، ۲۰۰۵، ۶۹مخ.
[۶۴]ګل رنګزی، حمید اقبال. نوے ساز نوې نغمه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۱۹۹۵، ۶۰مخ.
[۶۵]هلالي، مولوي محمد اکرم. د منزل نخښې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۷، ۸۵ مخ.
[۶۶]جمیل احمد، خادم. (پېشند ګلو)، مشموله د منزل نخښې، مصنف مولوي محمد اکرم هلالي، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۷، ۱۲مخ.
[۶۷]هلالي، مولوي محمد اکرم. د منزل نخښې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۷، ۱۷۹مخ.
[۶۸]لائق، لائق زاده. لېونتوب، پېښور، دانش کتابتون، ۲۰۰۵، ۳۱ مخ.
[۶۹]یوسفزے، ډاکټر دیدار. تاله مېدان. مینګوره، ګرافکس ورلډ، ۲۰۰۲، ۳۸ مخ.
[۷۰]محمود حاجی. چنار چې ګل شی، [۲۰۰۶]، ۳۵ مخ.
[۷۱]دولت خېل، بخت زر دریاب. موج، سعودي عرب، پښتو ادبي رڼا الرّیاض، ۲۰۱۳، ۱۳۶مخ.
[۷۲]یوسفزے، محمد ابراهیم شبنم. د اشاړي ګل، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۷، ۱۷۹مخ.
[۷۳]حکیمزے، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۷۹، ۲۸۰ مخونه.
[۷۴]لائق، لائق زاده. فنکار نه مري، پېښور، د پښتونخوا د پوهنې دېره، ۲۰۱۱، ۲۰۹،۲۱۰ مخونه.
[۷۵]همدغه اثر ۲۵۵- ۲۵۹ مخونه.
[۷۶]صدیقي، سیف الملوک. زۀ انتظار کومه ستا د سترګو، کبل، جان کتاب کور، ۲۰۱۱، ۲۷، ۲۸ مخونه.
[۷۷]یوسفزے، ډاکټر دیدار. تاله مېدان. مینګوره، ګرافکس ورلډ، ۲۰۰۲، ۶۰ مخ.
[۷۸]رحیم، رحیم شاه. زلزلې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۷، ۲۵ مخ.
[۷۹]شموزے، محمد نذیر. د احساس اوازونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۱۰، ۹۸،۹۹ مخونه.
[۸۰]همدغه اثر، ۱۷۲مخ.
[۸۱]پیرخېل، ډاکټر امیر فیاض. ژوندي خیالونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۶، ۴۲ مخ.
[۸۲]یوسفزے، سالار. په ساندو کښې سندرې، ۲۰۰۳، ۹۰ مخ.
[۸۳]خاکي، شاه وزیر خان. په ټپه کښې د سترګو هر اړخیز جاج، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۱۲، ۱۹مخ.
[۸۴]یوسفزے، ډاکټر دیدار. تاله میدان. مینګوره، ګرافکس ورلډ، ۲۰۰۲، ۱۲۶ مخ.
[۸۵]دلګیر، شیر بهادرخان. خوره دېوال، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز، ۲۰۰۷، ۱۳۲ مخ.
[۸۶]شموزے، محمد نذیر. د احساس اوازونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۱۰، ۲۰۸، ۲۰۹ مخونه.
[۸۷]یوسفزے، ډاکټر دیدار. تاله مېدان. مینګوره، ګرافکس ورلډ، ۲۰۰۲، ۱۱۵، ۱۱۶ مخونه.
[۸۸]رحیم، رحیم شاه. زلزلې، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۷، ، ۳۸، ۳۹ مخونه.
[۸۹]همدغه اثر، ۹۸مخ.

[٩٠] همدغه اثر، ۱۱۸مخ.

[٩١] بريالے، حکيم الله. زرغون فکرونه، ۲۰۰۵، ۱۲ مخ.

[٩٢] همدغه اثر، ۲۵ مخ.

[٩٣] قيس، حنيف. بله شونتې. مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز،۲۰۰۷، ۳۳مخ.

[٩٤] رحيم، رحيم شاه. سوات نامه جواب نامه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز،۲۰۰٦، ۲۳ مخ.

[٩٥] همدغه اثر، ۲۴ مخ.

[٩٦] صابر، صابر احمد. سپين رښتيا، مينګوره، شعېب سنزپبلشرز اينډ بلسيلرز،۲۰۱۲، ۲۱۸ مخ.

[٩٧] همدغه اثر، ۲۲۰ مخ.

[٩٨] ساجد، شيرزاده. چغه، فروری ۲۰۰۹، ۵۲ مخ.

[٩٩] ننګيالے، جمعه دوست. سوات پرهر پرهر، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز ، جنوری ۲۰۱۰، ۱۲مخ.

[١٠٠] همدغه اثر، ۱۴مخ.

[١٠١] ظاهر، شهريار. تا نۀ وې چې ګل راوړه، تانړه، تانړه ادبي ټولنه، ۲۰۱۲، ۲۵، ۲٦ مخ.

[١٠٢] دولت خېل، بخت زر درياب. موج، سعودي عرب، پښتو ادبي رڼا الرّياض، ۲۰۱۳، ۱۷۰مخ.

[١٠٣] ثاقب، محمد الياس. د منر په څيره، کبل سوات، جان کتاب کور، ۲۰۱۲، ۱۳۴، ۱۳۵ مخونه.

[١٠٤] منصور، محمد ګل. اوس بنګړي چاله واخلم، ۲۰۱۰، ۸۴، ۸۵ مخونه.

[١٠٥] همدغه اثر، ۹۷، ۹۸ مخونه.

[١٠٦] کاکا خېل، سيد محمدتقويم الحق. (مقدّمه)، مخزن، مصنّف: اخون درويزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۷/۱۹٦۹،ل مخ.

[١٠٧] رضا، محمد رضا خان. سواته چا هيڅ اونۀ وې، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۹، ۲۳، ۲۴ مخونه.

[١٠٨] ننګيالے، جمعه دوست. سوات پرهر پرهر، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز ، جنوری ۲۰۱۰، ۱۳مخ.

[١٠٩] منصور، محمد ګل. اوس بنګړي چاله واخلم، ۲۰۱۰، ٦٦مخ.

[١١٠] نادان، محمد اقبال. ستړے ژوند، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۱۳، ۱۵۷- ۱۵۹ مخونه.

[١١١] برکت، برکت علي. مات وزرونه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۷، ۲۹٦مخ.

[١١٢] دولت خېل، بخت زر درياب، موج، سعودي عرب، پښتو ادبي رڼا الرّياض، ۲۰۱۳، ۱۲۳مخ.

[١١٣] يوسفزے، ضياءالدّين. امن ټينګ ساتل جهاد دے (نظم)، مشموله، درې مياشتنۍ مينه، سوات، جلد: ۲، ګڼه: ۱ (اپرېل - جون ۲۰۰۷)، ۹۸مخ.

[١١٤] دولت خېل، بخت زر درياب. موج، سعودي عرب، پښتو ادبي رڼا الرّياض، ۲۰۱۳، ۱٦۳مخ.

[١١٥] سرحدي، قاسم. زېړون، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۹، ۱۴۷مخ.

[١١٦] قيس، حنيف. بله شونتې. مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز،۲۰۰۷، ۴۱مخ.

[١١٧] همدغه اثر، ۴۳مخ.

[١١٨] بريکوټي، حاجي محمد ابراهيم. سرې سکروټې، کراچۍ، سوات پښتو ادبي ګلونه، ۲۰۱۲، ۱۵۲مخ.

[١١٩] همدغه اثر،۱۵۴مخ.

[١٢٠] همدغه اثر، ۱۵٦مخ.

[١٢١] برکت، برکت علي. مات وزرونه، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، ۲۰۰۷، ۲۴۴مخ.

[۱۲۲]صابر، صابر احمد. سپین رښتیا، مینګوره، شعیب سنزپبلشرز اینډ بلسیلرز،۲۰۱۲، ۱٦۰مخ.

[۱۲۳]همدغه اثر، ۱٦۸مخ.

[۱۲۴]رحیم، رحیم شاه. زلزلې، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۷، ۱۰۸مخ.

[۱۲۵]مخلص، عبدالقهار. د حق چغه، پېښور، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۰۷، ۳۵۷مخ.

[۱۲٦]رحیم، رحیم شاه. زلزلې، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۷، ۵۲،۵۳ مخ.

[۱۲۷]قیس، حنیف. بله شونډې. مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۷، ۲۳مخ.

[۱۲۸]شموزے، محمد نذیر. د احساس اوازونه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۱۰، ۲٦۷مخ.

[۱۲۹]پیرخېل، ډاکټر امیر فیاض. ژوندي خیالونه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰٦، ۲۰، ۲۱مخونه.

[۱۳۰]همدغه اثر، ۴٦مخ.

[۱۳۱]همدغه اثر، ۵۸ مخ.

[۱۳۲]همدغه اثر، ۹۵مخ.

[۱۳۳]کسکر، سکندر حیات. ګله ګرے، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۹، ۹مخ.

[۱۳۴]خاکي، شاه وزیر خان. په ټپه کښې د سترګو هر اړخیز جاج، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۱۲، ۳۰مخ.

[۱۳۵]لائق، لائق زاده. لېونتوب، پېښور، دانش کتابتون، ۲۰۰۵، ۱۵۵، ۱۵٦ مخونه.

[۱۳٦]بریالے، حکیم الله. زرغون فکرونه، ۲۰۰۵، ۴۲ مخ.

[۱۳۷]روښان، فضل محمود. سره پښته په شنو جامو کښې، مینګوره، ګرافکس ورلډ، ۲۰۰۷.

[۱۳۸]یوسفزے، ډاکټر دیدار. تاله میدان. مینګوره، ګرافکس ورلډ، ۲۰۰۲، ۱٦مخ.

[۱۳۹]منیر، تاج منیر. ژوندے احساس، مینګوره، حق میډیا سروسز، ۲۰۰۲، ٦۱مخ.

[۱۴۰]سرحدي، قاسم. زېړون، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۹، ۲۰۱- ۲۱۱ مخونه.

[۱۴۱]ښېګم، مختیار. د ارمان چغه، ۱۴مخ.

[۱۴۲]همدغه اثر، ۱۱مخ.

[۱۴۳]شاهین، عبداللّطیف. اوګوره ته ماته ستا نظر کښې خنګه ښکارم، کبل، جان کتاب کور، ۲۰۱۱، ۱۰۳، ۱۰۴ مخونه.

[۱۴۴]قیس، حنیف. بله شونډې. مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۷، ۵۹ مخ.

[۱۴۵]اسلامپوري، مولانا امیر رحمان قادري. د ملغلرو کان (دیوان امیر رحمان)، اسلام پور سوات، حاجي محمد ظاهر جیولرز اینډ سنز، ۲۰۰٦، ۱۴۷مخ.

[۱۴٦]فضل، فضل خالق. پرخه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۳، ۲۵، ۲٦ مخونه.

[۱۴۷]امیر نواب، قاري. د وخت چغه (انقلابي نظمونه)، ۲۰۰۴، ۸ مخ.

[۱۴۸]همدغه اثر، ۲٦مخ.

[۱۴۹]شموزے، محمد نذیر. د احساس اوازونه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۱۰، ۱۴۵، ۱۴٦ مخونه.

[۱۵۰]پیرخېل، ډاکټر امیر فیاض. ژوندي خیالونه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰٦، ۷٦ مخ.

[۱۵۱]لائق، لائق زاده. تهٔ به ما یادوې، پېښور، د پښتونخوا د پوهنې دېره، ۲۰۱۲، ۱۷۵مخ.

[۱۵۲]حکیمزے، وکیل، د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۸۲مخ.

[۱۵۳]حکیمزے، وکیل. دغه زمونږ کلے دے، ۲۰۰۴، ۱۵۸مخ.

[154]حکیمزی، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۸۳مخ.

[155]دلګیر، شیر بهادرخان. خوره دېوال، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز، ۱۳۵،۲۰۰۷ مخ.

[156]نادان، محمد اقبال. تیندکونه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز، جون ۲۰۰٦، ۲٦ مخ.

[157]سرحدي، قاسم. زېږون، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۹، ۱۲٦مخ.

[158]حکیمزی، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۱۸۲مخ.

[159]همدغه اثر، ۱۸۳مخ.

[160]رحیم، رحیم شاه. زلزلې، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۰۷، ۱۰۳، ۱۰۴مخ.

[161]قیس، حنیف. بله شونټې. مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۰۷، ۹۱مخ.

[162]رحیم، رحیم شاه. زلزلې، ۴۸،۴۹ مخونه.

[163]حکیمزی، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۵۷- ۲٦۲ مخونه.

[164]همدغه اثر، ۲٦۴مخ.

[165]نادان، محمد اقبال. تیندکونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز، جون ۲۰۰٦، ۲۷ مخ.

[166]حکیمزی، وکیل، د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، مخ.

[167]همدغه اثر، ۲٦۷- ۲٦۹ مخونه.

[168]دیناخېل، محمد علي. د سوات د غرئیزو علاقو د غم رسم و رواج، مشموله، درې میاشتیني مشال، تخت بهائي، جلد: ٦، ګڼه: ۱ (مئي جون جولائي ۲۰۱۲)، ۴۸مخ.

[169]شموزی، محمد نذیر. مینه او غمونه، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز اینډ بکسیلرز،۲۰۱۲، ۱۸۸مخ.

[170]منصور، محمد ګل. اوس بنګړي چاله واخلم، ۲۰۱۰، ۱۲۵مخ.

[171]حکیمزی، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۵٦مخ.

[172]همدغه اثر،۲۷۰، ۲۷۱ مخونه.

[173]نادان، محمد اقبال. تیندکونه، مینګوره، شعېب سنز پبلشرز، جون ۲۰۰٦، ۲۸مخ.

[174]همدغه اثر، ۲۸مخ.

[175]یوسفزی، ضیاءالدّین. ماته غوږ شئ، سوات، پرائیوېټ سکول مینېجمنټ ایسوسي اېشن، ۲۰۰۳.

[176]حکیمزی، وکیل. د بر سوات تاریخ نسلي سیاسي او سماجي جوړښت، ۲۰۰۷، ۲۷۳، ۲۷۴ مخونه.

اتم باب

خلاصه

په تاريخي دستاويزاتو کې له ټولو نه اول د سوات ذکر يو يوناني تاريخپوه اريان (Arrian) کړی دی. د چين يو سيلاني هيون سانګ سوات د u-chang-na او Udyana په نوم ياد کړی دی. په رګ وېد کې سوات د سواستو په نوم ياد شوی دی. په ۳۲۷ ق ـ م کې سکندر اعظم پر سوات حمله کړې وه. له سکندر نه وړاندې راجه ارنس په ۳۳۳ قبل مسيح کې د سوات حاکم و. د يونانيانو له زوال نه بعد په ۳۲۱ ق. م کې دلته چندر ګپت موريه په اقتدار کې راغی. د اشوکا په دور کې بدهـ مت سوات ته راغی او ښه ترقي يې وکړه. اشوکا د چندر ګپت موريه لمسی و، فاهيان په ۴۰۳ عيسوي کې په سوات کې د بدهـ مت د عروج ذکر کړی، خو په ٦۳۰ عيسوي کې چې کله هيون سانګ راغلی، نو بدهـ مت بيا په زوال و. د منځنۍ اسيا يوې کډوالې قبيلې کشان هم په سوات کې حکومت کړی دی. په ۷۴۵ عيسوي کې سوات له ترکي شاهي سره تړل شوی و، له دې نه وروسته په سوات کې د هندو شاهي دور و، چې د محمود غزنوي له حملو سره پای ته ورسېد او ورسره دلته په ۱۰۰۲-۱۰۰۱کې د اسلام مذهب هم راغی.

له دې نه پته ولګېده چې سوات د مختلفو تهذيبونو کور پاتې شوی، چې پکې مشهور تهذيبونه يوناني، هندو تهذيب، بدهـ تهذيب،ايراني تهذيب، اسلامي تهذيب او نور دي. لکه څنګه چې وړاندې وويل شول چې د محمود غزنوي لښکر په ۱۰۰۲-۱۰۰۱ کې پر سوات حمله وکړه او دلته يې د اسلام بيرغ ښخ کړ او د سوات زاړه اوسېدونکي ګوجر او کوهستاني يې د سوات غرونو ته په تېښته مجبور کړل. د محمود غزنوي له لښکر سره دلته څه افغان قبيلې راغلې او په سوات کې ابادې شوې. دا سوات ته د پښتنو اولنی معلوم راتګ دی، په دې قبيلو کې له نورو نه علاوه دله زاک او دهګان مهمې قبيلې وې. په دې

وخت کې چې په سوات کومو حکمرانانو حکومت کولو هغوی په تاریخ کې په جهانګیري حکمرانانو یاد شوي دي. په دوی کې اخري بادشاه سلطان اوېس و. د سلطان اوېس په دور کې د شپاړسمې پېړۍ په اول کې یوسفزو پر سوات قبضه وکړه. په دغه وخت کې د سوات اوسېدونکي، یعنې دله زاک او دهګان (سواتي) زیاتره د سوات له میداني علاقو نه د سوات غرونو ته او څه د الايي، بټګرام، هزارې او نورو علاقو طرف ته لاړل. په سوات کې د پښتو ادب تحریري نخښې نښانې دلته د یوسفزو له راتګ نه وروسته په لاس راځي. د روښاني تحریک او د بایزید انصاري د کتاب خیرالبیان پر ضد اخون درویزه خپل کتاب"مخزن الاسلام" ولیکه. د دې کتاب دوباره ترتیب او تدوین د اخون درویزه اولاد په سوات کې کړی دی. د دې کتاب له لیکلو سره په سوات کې د پښتو ادب دروازه پرانستل شوه او دلته د علم او ادب یوه سلسله شروع شوه. پر سوات د یوسفزو له قبضې وروسته شېخ ملي د سوات د زمکو ګرځنده وېش متعارف کړ او په خپل دفتر کې یې خوندي کړ، خو د هغه دغه دفتر لا تر اوسه نه دی موندل شوی. دلته یوسفزو منظم حکومت جوړ نه کړی شه او په یو قبایلي طرز یې ژوند تېرولو. دا دور د وروسته راتلونکو دورونو په نسبت پسمانده او د جهالت دور و او د تاریخ په کتابونو کې ورته "د پښتو دور" ویلی شوی دی. له دښمن نه د بچ کولو او د خلکو په ژوند کې د ارام راوستلو په خاطر سیدو بابا دلته د حکومت جوړولو هڅه وکړه او د پیر بابا په اولاد کې یې یو کس سید اکبر شاه د ستهانې نه راوست او په ۱۸۴۹م کې یې د سوات باچاه کړ. دا څه منظمه باچاهي نه وه، نو ځکه کامیابه نه شوه او د ۱۸۵۷م کال د مې پر ۱۱ مه چې کله سید اکبر شاه وفات شو، نو دغه باچاهي هم ختمه شوه او له دې نه وروسته د ۱۹۱۵م کال د اپرېل پر ۲۴ مه سید عبدالجبار شاه د ریاست سوات باچاه مقرر کړی شو. هغه د ریاست بنیادي ډهانچه جوړه کړه او بیا د ۱۹۱۷م کال د ستمبر پر دویمه دی له باچاهۍ نه معزول کړی شو او د ۱۹۱۷م کال د ستمبر په دویمه هفته کې میاګل عبدالودود د سوات باچاه شو او د ۱۹۴۹م کال د دسمبر پر دولسمه هغه خپل زوی میاګل عبدالحق جهانزېب ته د سوات د ریاست واک اختیار ورکړ. په ۱۹۶۹م کې د ریاست سوات په پاکستان کې تر ادغام پورې هغه د سوات والي و. کله چې انګرېزان مالاکنډ ته نه وو راغلي نو د وادي سوات حدونه د طوطه کان (قلنګۍ) پورې غزېدلي وو. ښي طرف ته د دیر علاقه وه، ګس طرف ته د کاڼا غوربند او بونېر علاقې پرتې وې. کله چې مالاکنډ ته انګرېزان راغلل، نو د لنډاکي نه تر

قلنګۍ پورې دا علاقه يې په مالاکنډ ايجنسۍ کې شامله کړه او تر تالاش پورې د ادينزۍ علاقه يې د يوې معاهدې لاندې د دير نواب ته ورکړه. د سوات بادشاه مياګل عبدالودود تر اباسين کوهستان پورې دا علاقې او د بونېر علاقې قبضه کړې او په رياست سوات کې يې شاملې کړې. د ۱۹۶۹م کال د جولای پر ۲۸مه چې کله د رياست سوات په پاکستان کې د ضم کېدلو اعلان وشو او په باقاعده توګه د ۱۹۶۹م کال د اګس پر ۱۵مه په پاکستان کې ضم شو، نو سوات د رياست پر ځای يوه انتظامي ضلع جوړه شوه چې د رياست په حدونو مشتمله وه؛ بيا څه موده وروسته ترې د اباسين کوهستان، بونېر او د کاڼا غوربند علاقې بيلې کړل شوې او ځان ځانله انتظامي ضلعې جوړې شوې او له لنډاکي نه تر سوات کوهستان پورې د سين د ښۍ غاړې او ګسې غاړې علاقې د سوات په ضلع کې پاتې شوې.

له پېړو راهيسي له چليدونکي يو قبايلي نظام نه وروسته د يو رياستي حکومت په وجود کې له راتلو سره د خلکو په ژوند ژواک او ټولنيز تنظيم کې ډېر بدلون راغی او دغه رنګ تقريباً شپېته کاله يو رياستي حکومت وچلېده، چې قانون يې د پښتنو له رواج او د شريعت له امتزاج نه جوړ و. د داسې رياستي انتظام ناڅاپي ختمېدل او د يو نا اشنا قانون او انتظامي ډهانچې جوړېدو سره دلته په ټولنه کې يو ځل بيا بدلون راغی. د دې قانوني او انتظامي بدلون او د څه نورو عواملو له کبله څه ټولنيزې ستونزې راپورته شوې او ورسره څه تحريکونه را پيدا شول. په دې کې يو اهم تحريک "تحريک نفاذ شريعت محمدي" و. کله چې په ۲۰۰۱ کې امريکا پر افغانستان حمله وکړه، نو د دې هم پر سوات ډېر اثرات پرېوتل. په ۲۰۰۷ م کې دلته د طالبانو تحريک شروع شو او سوات د ټولې دنيا د توجه مرکز وګرځېد، له دې نه پته ولګېده چې د يوسفزو سوات ته له راتګ نه وروسته د سوات په تاريخ کې څلور مهم دورونه راغلي دي.

اولنی دور "د پښتو دور" يادېږي چې له شپاړسمې پېړۍ نه تر شلمې پېړۍ پورې دی، دويم دور رياستي دور دی چې د شلمې پېړۍ له دويمې لسيزې نه تر اوومې لسيزې پورې خور دی، دربيم دور د رياست سوات له ادغام نه د شلمې پېړۍ تر اختتام پورې دی او څلورم دور له يويشتمې پېړۍ نه شروع کېږي.

د دې هر دور د ادب له مطالعې نه د سوات د ثقافت د خدوخال او دلته د تهذيب او ثقافت د ارتقاء پته لګېدلی شي.

تهذیب او ثقافت له یو بل سره ډېر ژور تعلق لري، دغه وجه ده چې د تهذیب په تعریف کې د ثقافت او د ثقافت په تعریف کې د تهذیب لفظ استعمال شوی او د تهذیب او ثقافت تعریف له یو بل نه بغیر نه دی شوی، ځکه چې د تهذیب او ثقافت حدونه له یو بل نه پورې راپورې وتلي او د دوی په مینځ کې واضحه کرښه راښکل گران کار دی، خو د دواړو تعلق له انساني ژوند او ټولنې سره دی. ډاکټر جمیل جالبي د تهذیب او ثقافت معنې یو ځای کړي او د دوی لپاره یې د "کلچر" لفظ استعمال کړی، چې عامه معنا یې ثقافت کېدلی شي، ځکه د دې کتاب په سرلیک کې صرف ثقافت لفظ ولیکل شو، خو مراد ترې نه تهذیب او ثقافت دواړه دي.

په سوات کې د پښتو ادب تحریري مواد "د پښتو دور" یعنې په شپاړسمه پېړۍ کې په لاس راځي. د دې دور ادبي اسلوب او ژبه خپلې ځانگړتیاوې لري. په ادب کې د نورو ژبو او په خصوصي توگه د عربۍ او فارسۍ اثرات ډېر دي. د شاعرۍ په ادبي اصنافو کې چاربیته، بدله، غزل، مخمس، رباعي، مرثیه، نورنامه او نور په نظر راځي او دغه رنگ د الف نامو باقاعده روایت په دې دور کې لیدلی شي. په دې دور کې نثر ډېر کم دی او کوم چې موجود دی هغه مقفٰی او مسجّع نثر دی. په دې دور کې په سوات کې له عام مذهبي نثر نه علاوه نوي نثري صنفونه، لکه ناول، افسانه، ډرامه، سفرنامه او نور په نظر نه راځي. په دې دور کې د شاعرۍ په باره کې د عوامو عکس العمل ښه نه و، شاعرۍ ته به یې په ښه نظر نه کتل او دا به ورته د معاشرې د اوچتې طبقې کار نه ښکارېده، بلکې دا به ورته د ډمانو یا د عامو خلکو کار ښکارېده. په دې دور کې به په سوات کې د بیت بازۍ مقابلې هم کېدلې او شاعرانو به په شاعرۍ کې معمّې هم ویلې. په ادبي صحافت کې په دې دور کې د یو اخبار صرف ذکر موجود دی خو تر اوسه د دغه اخبار هېڅ نمونه په لاس نه ده راغلې. د دې دور په ادب کې د روښاني مکتب ذکر موندل کېږي، چې روښاني مکتب ته پکې ښه نه دي کتل شوي. تصوف هم د دې دور د ادب یوه ځانگړې موضوع ده. د تصوف د اثراتو له وجې د خلکو له پیرانو، ولیانو سره عقیدت دومره زیات و، چې له مرگ نه پس د دې قسمه خلکو له قبرونو سره به یې هم هغه عقیدت لره. همدغه وجه ده چې خلکو به د زیارتونو احترام کولو او له زیارتونو نه به یې ونې نه وهلې. په ادب کې د خلکو له عقیدې نه علاوه د پیرانو، ملیانو او خانانو ملکانو ذکر راځي.د مختلفو پېشو، هنرونو او کارونو ذکر هم په ادب کې شوی دی. د علم کیمیا، علم نجوم او د موسیقۍ حوالې پکې هم موندل

کېږي، اگر چې موسیقۍ ته یې په ښه نظر نه دي کتلي. د وسلو او سکو روپو نه علاوه د مادي ثقافت د نورو ډېرو څیزونو ذکر په ادب کې شوی دی. له دې نه علاوه د دې دور په ادب کې د خلکو د جامې پېزار، استوګنې، د غم ښادۍ د رسمونو، پښتونولۍ، ټل، ډلې، ګودر، د ښځو د ژوند، د اخترونو، د مېلو او د زمکو د وېش په حواله معلومات موندل کېږي. د زمکو د وېش چې کوم نظام په دې دور کې چلېده هغه ته به یې ګرځنده وېش یا واریز وېش ویلو. د ګرځنده وېش تر مخه به هر پینځه، اووه، نهه یا لس کاله بعد د خلکو زمکې بدلېدلې. د پښتونولۍ نور عناصر پر ځای وو خو د برامتې خلاف سیدو بابا فتوه ورکړې وه او له هغې نه وروسته به په سوات کې برامته نه کېدله. د ډمو ګډولو، چیلم څښلو او د موسیقۍ خلاف فتوې هم په دې دور کې جاري کړې شوې وې. په سوات کې د پښتو په دور کې پر ښځو ډېرې پابندیانې نه وې، البته په میراث کې به ښځو ته حصه نه ورکول کېده. د لور په واده به د هلک له کور والا نه روپۍ اخستل کېدې، اګر چې ټولې یا څه روپۍ به د هغې په واده بیا پلار لګولې. په دې دور کې به د کلي شریکه حجره وه او د ځان ځانله بېټکونو یا حجرو رواج نه و. په دې دور کې به چې د اخترونو په موقعه کومې د جهل مظاهرې کېدلې د هغوی ذکر هم په پښتو ادب کې شوی دی. خانانو، ملکانو به له کمزورو او غریبانو خلکو نه بیګار اخسته. په دې دور کې د عشر د راجمع کولو څه باقاعده نظام نه و، ځکه چې په دې دور کې دلته حکومت نه و.

د سوات د پښتو ادب دویم دور ته ریاستي دور ویل کېږي. په ۱۹۱۵م کې سوات ځانله یو جدا او ازاد ریاست جوړ شو، چې خپله جنډه، مونوګرام او قومي ترانه یې لرل. د ریاست له جوړېدو سره دلته په ټولنیز تنظیم کې ډېر بدلون راغی، دلته حکومتي قلاګانې جوړې شوې، ښوونځي (سکولونه)، روغتونونه(هسپتالونه) او ډاکخانې جوړې شوې، په دې دور کې په وړومبي ځل عدلیه، انتظامیه او نور په وجود کې راغلل، د رواج او شریعت مطابق باقاعده قوانین جوړ کړل شول، ټیلیفون او بجلي سوات ته راوغزولی شول. په دې دور (۱۹۱۵-۱۹۶۹) کې پښتو ژبې او ادب ته سرکاري سرپرستي مېلاو شوه. په دې دور کې د ۱۹۳۷م کال په جون کې پښتو سرکاري ژبه وګرځېده، په ریاستي دور کې به په سرکاري خرچ د پښتو مهم تاریخي، مذهبي او ادبي کتابونه چاپ کېدل او په خلکو به مفت وېشل کېدل. د دسمبر پر دولسمه او د جون پر پینځمه به د سوات د جشن په موقعه په سرکاري سرپرستۍ کې مشاعرې کېدلې او له ټولې پښتونخوا نه به پکې شاعرانو شرکت

